الفوائد رحمہ اللہ

د نفسونو تزکیه
د زړونو علم او د الله محبت

تألیف

ابی محمد امین الله البشاوری حفظہ اللہ



پښتو ترجمه

ابو سلمان حضرت محمد غفرله



مکتبہ محمدیہ

بیرون گنج گیٹ منگل مارکیٹ پېښور

الفوائد

ملك

د نفسونو تزکيه

د زړونو علم او د الله محبت

تاليف

فضيلة الشيخ ابو محمد امين الله البشاوري

حفظه الله تعالى



پښتو ترجمه

ابو سلمان حضرت محمد غفرله

مكتبه محمديه

بيرون گنج گيټ منگل مارکيټ پېښور

کتاب ——— الفو ائد دنفسو نوتزکیه
پښتو جلد (۲)

مؤلف ——— ابو محمد امین الله البشاوری حفظه الله

مترجم ——— ابو سلمان حضرت محمد غفرله

دریم ځل طباعت ——— ۲۰ محرم ۱۴۳۳ھ/ ۱۶ د سمبر ۲۰۱۱ء

راقم ——— ابو سلمان حضرت محمد غفرله

ناشر ——— مکتبه محمدیه پیښور ښار

ملاویدو پتے

(۱) مکتبه محمدیه بیرون گنج گیټ پیښور ښار

0301 8828402 ولی الله 0307 5924001 0302 5953513

(۲) ایوب اسلامی کیسټ مرکز ومکتبه قصه خوانی پیښور

(۳) معراج کتب خانه قصه خوانی پیښور ښار

(٤) همدرد کتب خانه جلال آباد اسحاق زئی مارکیټ

(٥) محمدیه کتب خانه تالاشئ چوك جلال آباد

(٦) گودر کتب خانه اسحاق ملرکیټ جلال آباد

(۷) نوروز کتب خانه صوابی اډه پاکستان 5682868 0300

(۸) مکتبة الکتاب والسنة نیو سلطان آباد حاجی کیمپ کراچی 03002615407

○○○○○○○



دَ نفسونو تزکيه، دَ زړونو علم
او دَ الله د محبت باره کښې فوائد

إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادى له، وأشهد أن لا اله إلا الله وأشهد أن محمداً عبده ورسوله. ﴿ يا أيها الذين آمنوا اتقوا الله حق تقاته ولا تموتن إلا وأنتم مسلمون ﴾.

يا أيها الناس اتقوا ربكم الذى خلقكم من نفس واحدة وخلق منها زوجها وبث منهما رجالا كثيرًا ونساء، واتقوا الله الذى تسائلون به والأرحام إن الله كان عليكم رقيبا.

يا أيها الذين آمنوا تقوا الله وقولوا قولا سديدا يصلح لكم اعمالكم ويغفر لكم ذنوبكم ومن يطع الله ورسوله فقد فاز فوزا عظيما ﴾.

أما بعد : دَ الله لاکهـ لاکهـ شکر دے چه دې کمزوری بنده له ئې ددے توفيق ورکړو چه څينے ايمانی فوائد راجمع کړی، کوم چه دَ کتاب الله او سنتِ نبوی (ﷺ) نه مستنبط دی۔

دَ الله په فضل سره ددے فوائد اول جلد چهاپ کيدو نه پس اوس دويم جلد هم ستاسو په خدمت کښے پيش کيږی۔

زهٔ د الله عز وجل نه غواړم چه په دے سره عربو او عجمو، ښاريانو او باندِ چيانو، نارينه او زنانو ټولو ته فائده ورکړی۔ او دا (مونږ دَ نيکو اعمالو په تله کښے واچوی۔ او په دے فوائدو سره مؤلف، ليکونکی او نورو نيك عمله خلقو ته اجر ورکړی۔

چونکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَذَكِّرْ فَإِنَّ الذِّكْرٰى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ [ذاريات : ۵۵]۔

(او نصیحت کوه ځکه چه نصیحت کول مؤمنانو ته نفع ورکوی)۔
دے وجے نه ما اراده اوکړه چه دَ دویم جلد فوائد راجمع کړم۔ او دا فوائد دوه قِسمه دی :
١ - یو په قرآن او حدیث کښے هغه ناشنا نکتے چه الله عز وجل ئے زما په زړهٔ کښے اچوی۔
٢ - دویم : کله زهٔ هغه ښوارهٔ وارهٔ حکمتونه او سُنهری اقوال راجمع کوم چه هغه بعضِ علماؤ لیکلی وی۔ دے دپاره چه په هغے کښے دَ عقل او دانش خاوندان سوچ اوکړی او دَ الله په توفیق سره ترې پند او نصیحت واخلی۔





۱ - فائده

جنت ته بوتلونکی خویونه

جنت یو عظیم نعمت دے چاته ئے چه الله ورکړی

او الله تعالیٰ د هر یو شئ دپاره سبب او وسیله پیدا کړیے، د جنت دپاره ئے هم ګنړ وسائل مقرر کړی، ځکه نعمت لوئے دے او ددے نه محرومیدل هم غټه خبره ده. لیکن الله رب دے، کریم او جواد دے، شفقت کونکے مهربان دے. الله تعالیٰ مونږ ته په خپل دے قول سره ترغیب راکړیے: ﴿ وفي ذلك فليتنافس المتنافسون ﴾ [مطففين : ٢٦].

(او په همدے نعمتونو کښ دے رغبت لرونکی رغبت اوکړی).

نو رغبت لرل په دے کښ واجب دی، او ددے غوښتنه لازمی ده، او کوشش کول ددے دپاره ضروری دی. نو عقلمند سره لائق دی چه ددے دپاره په خپلو زیزمو، خپلو اوښکو، خپلے وینے، خپل مال، خپل روح او خپلو تولو مملوکو څیزونو سره کوشش اوکړی. او دا تمام څیزونه دَ جنت دَیو چابك هومره څی په نسبت هیڅ شے هم نهٔ دے.

دے وجے نه اوس مونږ جنت ته د دخول چه کوم خویونه او صفتونه دی - چه په کتاب او سنت کښ ذکر دی - هغه ذکر کوو، چه دا زمونږ بعضِ وروڼو یعنی (شیخ عبد الهادی امین وقف الخیری، شمالی لبنان) راجمع کړی دی، مونږ دا نقل کوو، ځکه چه ددے ډیره زیاته فائده ده. لهذا تهٔ دا یاد کړه او په دے باندے عمل کوه، او مؤلف او ناقل دواړو ته دعاء کوه.

OOOOOOOOO

هغه خويونه چه جنت ته د داخليدو سبب ګرځي

○ **سهل** بن سعد ﷛ فرمائي: رسول الله ﷺ ارشاد فرمائي: «څوك چه ماته دَ هغه شيئ ضمانت راكړي چه هغه دده دَدواړو ژامو ترمينځه دے، او دَ هغه شيئ چه هغه دَدهٔ د دواړو خپو ترمينځه دے، نوزهٔ به ورله دَ جنت ضمانت وركړم».
(رواه البخاري: ٦٤٧٤).

○ **عبد الله** بن عمرو ﷛ فرمائي: رسول الله ﷺ اوفرمائيل: «چا چه خاموشي اختيار كړه، هغه كامياب شو». (صحيح الترمذي: ٢٠٣/١).

○ **عبد الله** بن بسر ﷛ فرمائي: رسول الله ﷺ اوفرمائيل: «دَ هغه چا دپاره خوشحالي ده چه هغهٔ خپله ژبه په قابو كښے كړه، او خپل كور ورله ځائے وركړو، او په خپلے ګناه ئے اوژړل».
(رواه الطبراني في الصغير وحسنه الألباني في صحيح الجامع: ٣٩٢٩).

○ **عقبه** بن عامر ﷛ فرمائي: ما عرض اوكړو، يا رسول الله! نجات به څنګه ملاويږي؟ وے فرمائيل: «خپله ژبه په ځان بنده اوساته، كور دے تاته فراخه شي او په خپلے ګناه باندے ژاړه». (صحيح سنن الترمذي ١٩٦١).

○ **انس** ﷛ فرمائي: رسول الله ﷺ اوفرمائيل: «درے څيزونه نجات وركونكي دي: په پټه او ښكاره د الله نه ويره، په فقيرئ او مالدارئ دواړو كښې درميانه روي، او په غضب او رضا دواړو كښې دَ عدل نه كار اخستل».
(قال المنذري في الترغيب: ١٦٢/١: رواه البزار والبيهقي وغيرهما وهو مروي عن جماعة من الصحابة، وأسانيده وإن كان لا يسلم شئ منها من مقال، فهوبمجموعها حسن إن شاء الله تعالىٰ).

○ **ابوهريره** ﷛ فرمائي: «رسول الله ﷺ نه تپوس اوشو، دا كوم يو شے دے چه زياتره ددے په وجه خلق جنت ته ځي؟ وے فرمائيل: تقوىٰ او ښائسته اخلاق».
(صحيح سنن الترمذي ١٦٣٠).

○ **ابو امامه** ﷛ فرمائي: رسول الله ﷺ اوفرمائيل: «زهٔ دَ هغه چا دپاره دَ جنت نه ګير چاپيره دَ كور ذمه واريم، چه هغهٔ جګړه پريخوده اګركهٔ په حقه وي. او دَ جنت په مينځ كښې دَ كور ذمه واريم دَ هغه چا دپاره چه هغهٔ دروغ پريخودل اګركهٔ په توقو كښې ولے نهٔ وي. او دَ هغه چا دپاره دَ جنت په اوچت طرف كښې دَ كور ذمه واريم چه دَ هغهٔ اخلاق ښهٔ

شو ». (صحیح سنن الترمذی : ٤٠١٥).

○ **ابو هریره** ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « **بیشکه د الله دپاره نهه نوی (۹۹) نومونه دی، چاچه دا زده کړل نو جنت ته به داخل شی** ». متفق علیه.

○ **عباده** بن صامت ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « **چاچه گواهی اوکړه چه د الله نه سیوا بل هیڅوك د عبادت لائق نشته، یوائے دے، هیڅ شریك نهٔ لری، او محمد (ﷺ) د الله بنده او رسول دے، او عیسیٰ (ﷺ) د الله بنده او رسول دے، او ددهٔ کلمه ئے مریم ته اچولے وه او دا دَ الله د طرفه روح دے، او جنت حق دے، او اور حق دے، نو که دے په هر عمل باندے وی، الله به ئے جنت ته داخل کړی** ». (متفق علیه).

○ **ابو هریره** ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « **زما هریو امتی به جنت ته داخلیږی سیوا د هغه چانه چه انکار اوکړی. صحابوؓ عرض اوکړو، څوك به انکار اوکړی؟ وے فرمائیل : چاچه زما تابعداری اوکړه هغه به جنت ته داخلیږی، او چاچه زما خلاف اوکړو نو هغهٔ (دَ جنت داخلیدو نه) انکار اوکړو** ». (متفق علیه).

○ **ابوهریره** ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « **چاچه په الله او د هغهٔ په رسول ایمان راوړو، دَ مانځه پابندی ئے اوکړه، دَ رمضان روژے ئے اونیولے، نو په الله باندے دا حق دی چه دے به جنت ته داخلوی. برابره خبره ده چه د الله په لاره کښې ئے جهاد کړے وی، اوکهٔ په خپله هغه زمکه ناست وی، په کومه چه پیدا شوے دے** ».

(بخاری : ۲۷۹۰).

○ **عبد الله** بن عمرو ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « **قرآن والا ته به وئیلے کیږی : لوله او خیژه، او داسے په مزه مزه قرآن لوله لکه څنگه چه په دنیا کښې به تاته په مزه مزه لوستلو. ځکه ستا مرتبه دَ هغه آخری آیت سره ده کوم چه تهٔ لولے** ».

(صحیح سنن الترمذی : ۲۳۲۹).

○ **عبد الله** بن عمرو ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « **روژے او قرآن دواړه به دَ بنده دپاره دَ قیامت په ورځ شفارس کوی، روژے به وائی : اے ربه ! ما دے دَ خوراك (څکاك) او مزوَ نه دَ ورځے بند کړے وو، نو ددهٔ په باره کښې زما شفارس قبول کړے. او قرآن به وائی : ما دے دَ شپے دَ خوب نه منع کړے وو، نو زما شفارس ددهٔ په باره کښې اومنے. نبی ﷺ فرمائی : نو د دواړو شفارس به قبول کړے شی** ».

(رواه أحمد ۱۷٤/۲، والحاکم : ٥٥٤/۱، وصححه ووافقه الذهبی).

○ **انس** ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: «دَ قرآن یو سورت دے چه دا صرف دیرش آیتونه دی، چه دے دَ خپل لوستونکی دَ طرفه جګړه کوله تردے چه هغه ئے جنت ته داخل کړو، او دا تبارك الذی سورت دے».

(رواه الطبرانی فی الأوسط وحسنه المحدث الألبانی فی صحیح الجامع: ٣٤٧٢).

○ **عائشه** رضی الله عنها فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: «دَ هغه سړی حالت چه قرآن لولی او هغه ئے یاد وی دابه دَ سفیرانو، عزتمنو، نیکانو ملائکو سره وی. او دَ هغه سړی حالت چه قرآن لولی او خیال ئے ساتی او دا په ده ګران وی نو ده ته دوه اجره دی». (متفق علیه).

○ **عصمه** بن مالك ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: «کۀ چرے قرآن په یوه څرمن کښې راجمع کړے شی نو الله به ئے په اور اونۀ سیزی».

(رواه البیهقی فی الشعب وحسنه الألبانی فی صحیح الجامع: ٥٢٦٦).

○ **ابوهریره** ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: «قرآن به د قیامت په ورځ راشی او وائی به: اے ربه! دۀ ته واغونده، نو دَ عزت تاج به ورته واغوستے شی، بیابه وائی: اے ربه! نور زیات ورته واغوندوه! نو دَ اکرام جوړه به ورته واچولے شی، بیا به اووائی: اے ربه! دۀ نه راضی شه، نو دَ هغۀ نه به راضی شی، نو ورته اوبه وئیلے شی چه لوله او خیژه او دَ هر یو آیت سره به ورته یوه نیکی زیاتولے شی».

(صحیح سنن الرمذی: ٢٣٢٨).

○ **انس بن مالك** ﷺ فرمائی: دَ انصارو یو سړی به په مسجدِ قباء کښې خلقو ته امامتی کوله، هغۀ به چه کله یو سورت شروع کولو چه دَوئ ته پرے مونځ اوکړی نو په ﴿قل هو الله احد﴾ سورت لوستلو سره به ئے شروع کوله، تردے چه ددے نه به فارغ شو. بیابه ئے ددے سره بل یو سورت هم لوستلو. او دا کار به دۀ په هر رکعت کښې کولو. نو ددۀ ملګرو د دۀ سره خبره اوکړه او ورته ئے اووئیل: تۀ دا سورت لولے بیا تۀ دا ګمان کوے چه دا ستا دپاره کافی نۀ دے نو بل سورت هم ورسره لولے، نو یا خو همدا لوله او یا دا پریده او بل یو سورت لوله. هغۀ وئیلے: زۀ دا نۀ پریدم، کۀ خوښه مو وی چه په دے درته امامتی اوکړم نو ښه ده، اوکۀ خوښه مو نۀ وی نو تاسو پریدم. او خلقو په خپلو کښې دا غوره ګڼړلو او دا ئے بده ګڼړله چه ددۀ نه سیوا بل څوك ورته مونځ اوکړی. چه کله دوئ نبی ﷺ ته راغلل او خبر ئے ورته ورکړو، نو وے فرمائیل: «اے فلانیه! تاته چه ستا ملګرو دَ کومے خبرے حکم

کولو نو ته د هغې نه څهٔ شئ منع کولے ؟ په تا باندے څهٔ باعث دے چه ته په هر رکعت کښې دا سورت لولے ؟ هغهٔ وئیلے : یا رسول الله ! زما ددے سورت سره مینه ده، نبی ﷺ اوفرمائیل : ددے محبت تالره جنت ته داخل کړو »۔

(رواه البخاری ۷۷٤، تعلیقًا مجزومًا به، والترمذی : ۳۰۷۷، والسیاق له).

○ انس رضی الله عنه فرمائی : « زهٔ دَ نبی ﷺ سره مخامخ راغلم نو هغوئ د یو سړی نه واوریدل چه ﴿ قل هو الله احد ﴾ ئے لوستلو، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : واجب شو، واجب شو، واجب شو۔ ما عرض اوکړو، څهٔ شے واجب شو ؟وے فرمائیل : جنت »۔

(صحیح سنن الترمذی : ۲۳۲۰).

○ عبد الله بن سلام رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « اے خلقو! سلام خوروئ، طعام ورکوئ، خپلولی پالئ او په داسے وخت کښې دَ شپے مونځ کوئ چه (عام) خلق اوده وی، نو تاسو به جنت ته په سلامتیا سره داخل شئ »۔

(صحیح سنن ابن ماجه : ۲٦۳۰).

○ انس رضی الله عنه فرمائی رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « شپږ خبرے زما قبولے کړئ زهٔ به ستاسو دپاره جنت قبول کړم۔ صحابوؓ عرض اوکړو، هغهٔ کومے دی ؟ وے فرمائیل : کله چه پتاسو کښې چا خبرے کولے، نو دروغ دے نهٔ وائی۔ او کله ئے چه وعده اوکړه نو وعده خلافی دے نهٔ کوی۔ او کله چه ورسره امانت کیخودے شی نو خیانت دے نهٔ کوی۔ او خپل نظرونه ښکته ساتئ، لاسونه بندوئ او د خپلو عورتونو حفاظت کوئ »۔

(رواه الحاکم ۳۵۹/٤، وحسنه المحدث الألبانی فی الصحیحة : ٤٥٥/۳).

○ معاذ بن جبل رضی الله عنه فرمائی : زهٔ د نبی ﷺ سره په یو سفر کښې ووم، نو یو ورځ زهٔ هغوئ ته ډیر نزدے شوم، او مونږ روان وو، نو ما عرض اوکړو، یا رسول الله !

ماته څه داسے عمل اوښایه چه ما جنت ته بوځی اود دوزخ داور نه مے محفوظ کړی؟، نبی کریم ﷺ اوفرمایل : حقیقت دادے چه تا د یو ډیر لوئے څیز تپوس اوکړو خو په چا چه ئے الله آسان کړی هغه دپاره آسان هم دے۔بیا ئے اوفرمایل : د الله تعالیٰ بندگی کوه، هغه سره څوك مه شریکوه، مونځ پابندئ سره ادا کوه، زکوٰة ورکوه، درمضان روژے نیسه اود خانه کعبے حج کوه۔ دے نه پس ئے بیا اوفرمائیل : اے معاذ ! آیا تاته دخیر او نیکئ دروازو اونه ښایم ؟ (نو واوره) روژه (یو داسے) ډهال دے (چه گناه نه سړے بچ کوی اود دوزخ داور نه ئے محفوظ کوی)، اود الله لار کښې خرچ کول گناه داسے رژوی څنگه چه اوبه اور وژنی۔

اودغسې شپه کښې د مومن مونځ کول ګناه ختموي.بیا نبي کریم ﷺ دا آیت تلاوت کړو (چه هغې کښې د تهجد ګذار اود شپې دعبادت کونکو فضیلت بیان شویدې) (اود هغې پوره آیت ترجمه داده: د هغې نیکانو مؤمنانو اړخ (د شپې) د بسترونه جدا وي او هغوی خپل رب خوف او امید سره یادوي اوکوم مال چه مونږ ورکړیدې هغې نه د الله لار کښې خرچ کوي، هیڅ یو کس ته معلومه نه ده چه هغه نیکانو مؤمنانو دپاره د سترګو د یخوالي کوم نعمتونه پټ ساتلې شویدي؟۔ دا دهغوی د اعمالو بدله ده چه هغوی به کول).[الم سجده: ۱۵، ۱۷] بیا نبي کریم ﷺ اوفرمائیل: آیا تاته دهغې څیز (یعنی دین) سر اود هغې ستن اود هغې داوچت قُب خبر در نه کړم؟، ما ورته عرض اوکړو، ولې نه یارسول الله! وې فرمایل: ددغې څیز سر اسلام دې اود هغې ستن مونځ دې اود هغې اوچت قُب جهاد دې، بیا ئې اوفرمایل: آیا تاته ددې تولو څیزونو جرړه اونه ښایم، ما عرض اوکړو اې دالله نبي! ضرور اوښائې.نبي کریم ﷺ خپله ژبه مبارکه اونیوله او هغې طرفته ئې اشاره اوکړه وې فرمایل: دا بنده ساته، ماعرض اوکړو، اې د الله نبي! آیامونږ دخپلې ژبې نه چه کوم لفظ اوباسو په هغې تولو به رانیولې کیږو؟ ۔ نبي ﷺ اوفرمایل: معاذ! ستا مور دې تا ورك کړي (مور دې بوره بور چنده شه – دا یوه محاوره ده چه د تعجب داظهار دپاره وئیلې شي) په دې پوهه شه چه خلق په دوزخ کښې پرمخې نه غورځوي مګر هغه (خرابې خبرې چه د هغوی ژبو لَوُکړي وي (د خولې نه ئې ویستلې وي)۔

(صحیح سنن الترمذی: ۲۱۱۰).

○ **ابوهریره** ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: « څوك چه په یوه لاره روان شو چه په هغې کښې ئې علم طلب کولو، نو الله به ددې په وجه دهٔ ته دَ جنت لاره هواره کړي »۔

(قطعة من حدیث رواه مسلم: ۲٦۹۹).

○ **ابودرداء** ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ ته یو سړي اووئیل: ماته یو داسې عمل را اوښایه چه جنت ته مې ننباسي! رسول الله ﷺ اوفرمائیل: « مهٔ غصه کیږه او تاله جنت دې »۔

(امام منذريؒ په ترغیب: ۳/٤٤٦، کښې فرمائي: طبراني په دوه سندونو سره روایت کړې چه په دې کښې یو صحیح دې)۔

○ **معاذ** ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: « چا چه غصه اوخوړله او دا دَ هغې په نافذولو قادر وو، الله به دهٔ لره دَ قیامت په ورځ دَ تول مخلوقاتو مخامخ راولي، او دهٔ ته به اووائي چه په دې غټو او ښائسته سترګو والا حُورو کښې دې کومه یوه خوښه وي، وائے

خله ».(صحيح سنن أبي داود : ۳۹۹۷).

○ **شداد بن اوس** ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « سید الاستغفار دادے چه بنده اووائی : اَللّٰهُمَّ اَنْتَ رَبِّیْ لَا اِلٰـهَ اِلَّا اَنْتَ خَلَقْتَنِیْ وَاَنَا عَبْدُكَ وَاَنَا عَلٰی عَهْدِكَ وَ وَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، اَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، اَبُوْءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَیَّ وَاَبُوْءُ لَكَ بِذَنْبِیْ فَاغْفِرْ لِیْ فَاِنَّهٗ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اَنْتَ.

ترجمه :اے الله اته څما رب ئے ستا نه سِوا بل لائق د عبادت نشته، تا زه پیدا کړے یم او زه ستا بنده یم او زه ستا په وعده بانده مضبوط یم څو پورے چه زما وَس وی، زه پناه غواړم پتا د شر د عمل زما نه، زه اقرار کوم ستا په نعمتونو په ما باندے او زه د خپلو گناهونو اقرار ستا دپاره کوم، پس بخښنه اوکړے ما ته زما د گناهونو، ځکه نشته بخښونکے د گناهونو سِوا ستا نه.

چا چه سحر دا استغفار په يقين سره اولوستلو او پدے ورځ مړ شو نو دا به ضرور جنت ته ځی او چا چه ماښام اولوستلو او د شپے مړ شو نو ضرور به جنت ته ځی۔ او چاچه دا دَ ورځے اولوستلو او په دے باندے يقين کونکے وو او په دغه ورځ دَ بیگاه کولو نه مخکښے مړ شو، نو دے به جنتی وی۔ او چاچه دَ شپے اولوستلو او په دے باندے يقين کونکے وو، او دَ صبا کولو نه مخکښے مړ شو نو دابه جنتی وی »۔

(بخاری – ۹۳۳/۲، مشکوة : ۲٤۰/۱).

○ **ابن عمر** ﷺ فرمائی : مونږ ته عُمرؓ په جابیه علاقه کښے خطبه راکړه۔ وے فرمائیل : اے خلقو ! زهٔ په تاسو کښے داسے اودریدم څنگه چه رسول الله ﷺ په مونږ کښے ولاړ وو۔ رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « زهٔ تاسو ته زما دَ ملگرو په باره کښے وصیت کوم، بیا دَ هغه کسانو په باره کښے چه دوئ پسے راځی۔ بیا هغه خلق چه دوئ پسے راځی۔ بیابه دروغ خوارهٔ شی تردے چه یو سړی نه به قسَم نهٔ وی غوښتلے شوی او هغه به قسَمونه کوی۔ او دَ یو سړی نه به گواهی کول نهٔ وی غوښتلے شوی او هغه به گواهی ورکوی۔ خبردار ! هیڅ یو سړے دَ پردئ ښځے سره نهٔ یواځے کیږی، مگر دَ دوئ دریم ملگرے شیطان وی۔ تاسو بانده لازم دی چه دَ مسلمانانو جماعت راتینگ کړئ۔ او دَ اختلاف کولو نه ځان اوساتئ۔ ځکه شیطان دَ یو کس سره وی، او شیطان دَ دوه کسانو نه ډیر لرے وی۔ څوك چه دَ جنت مینځ غواړی نو دَ مسلمانانو ډله دے راتینگه کړی۔ چاله چه خپله نیکی خوشحاله کوی او بدی ئے خفه کوی نو دا مؤمن دے »۔

(صحيح سنن الترمذی : ۱۷۵۸).

○ **عياض** بن حمار مُجاشعی ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ يو ځل په خطبه کښې اوفرمائيل : « دريے قِسمه خلق جنتيان دی : (۱) انصاف دار بادشاه چه صدقه کونکے او دَ نيکئ توفيق ورته ملاوېږی۔ (۲) هغه سړے چه دَ خپلوان او دَ هر يو مسلمان دپاره نرم زړے وی۔ (۳) او هغه پاکدامن سړے چه هغه دَ بال بچ خاوند وی او دَ پاکدامنئ کوشش کونکے وی »۔ (قطعة من حديث رواه مسلم : ۲۸٦٥).

○ **ابوهريره** ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمايل: « حياء دَ ايمان نه ده، او ايمان به په جنت کښې وی۔ او پوچ گوئی بدی ده او بدی به په اور کښې وی »۔

(صحيح سنن الترمذی : ١٦٣٤).

○ **ابوسعيد** خدری ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « چاچه :

رضيتُ باللّٰه ربًا، وبالإسلام دينًا، وبمحمدٍ رسولًا :

اووئيلو، نو دۀ دپاره جنت واجب شو »۔(صحيح سنن أبی داود : ۱۳۵۳).

○ **عبد الله** بن مسعود ﷺ نه روايت دے چه نبی کريم ﷺ فرمائی : « تاسو رشتيا وئيل لازم اونيسئ، ځکه رشتيا وئيل نيکو طرفته رهنمائی کوی او نيکئ جنت طرفته وړل کوی۔ او يو انسان به رشتيا وائی، او دَ رشتيا وئيلو کوشش به کوی، تردے چه د الله په نيز به ډير زيات رشتيا ويونکے اوليکلے شی۔ او دروغو نه ځان اوساتئ، ځکه دروغ وئيل نافرمانئ طرفته رهنمائی کوی او نافرمانی جهنم طرفته وړل کوی، او يو انسان به دروغ وائی او دَ دروغو وئيلو کوشش به کوی، تردے چه د الله په نيز به غټ دروغجن اوليکلے شی »۔ (رواه مسلم : ٢٦٠٧).

○ **ثوبان** ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلے : « زما دپاره به دا ذمه واری څوک واخلی چه دَ خلقو نه به هيڅ شے نۀ غواړی، او زۀ به هغۀ دپاره دَ جنت ذمه واريم ؟ ثوبان ﷺ وئيلے : زۀ۔ نو دۀ به دَ هيچانه هيڅ شے نۀ غوښتلو »۔

(صحيح سنن أبی داود : ١٤٤٦).

○ **عمر** بن خطاب ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمايۀ : « کله چه اذان کونکے الله اکبر الله اکبر اووائی۔ نو تاسو نه هم هر يو کس الله اکبر، الله اکبر اووائی بيا کله چه مؤذن اشهد ان لا اله الا الله اووائی نو تا سو نه هم هريو کس اشهد ان لا اله الا الله اووائی، بيا کله چه مؤذن اشهد ان محمدا رسول الله اووائی نو تاسو نه هم هريو کس اشهد ان محمدا

رسول الله اووائی بيا کله چه مؤذن حی علی الصلاة اووائی نو تاسو نه هر يو کس لا حول ولا قوة الا با لله اووائی، بيا کله چه مؤذن حی علی الفلاح اووائی نو تاسو نه هر يو کس لا حول ولا قوة الا بالله اووائی ـ بيا کله چه مؤذن الله اکبر الله اکبر اووائی نو تاسو نه هر يو کس الله اکبر الله اکبر اووائی او بيا کله چه مؤذن لا اله الا الله اووائی نو تاسو نه هر يو کس لا اله الا الله اووائی ـ څوك چه (د اذان په جواب کښے دا کلمات) د زړۀ په صدق سره اووائی نو هغه به جنت ته داخليږی »ـ (رواه مسلم).

○ **ابودرداء** ﷺ فرمائی : ما دَ رسول الله ﷺ نه واوريدل چه فرمائيل ئے : « جومات دَ هر يو متقی سړی کور دے، او دَ چا چه جومات کور وی، نو الله ددۀ دپاره دَ راحت او رحمت او په پُلِ صراط باندے دَ الله رضامندئ يعنی جنت طرفته دَ تللو ذمه واری اخستے ده »ـ

منذری ؒ وائی : دا حديث طبرانی په الکبير او الاوسط کښے او بزار روايت کړے ـ او ددے سند حسن دے ـ او خبره همدغسے ده ـ (الترغيب : ۱/۲۲۱).

○ **ابوموسیٰ** اشعری ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلے : « څوك چه دَ صبا په وخت جومات له لاړ او يا دَ بيگاه په وخت جومات له لاړ، نو الله به دۀ له په جنت کښے دَ بيگاه صبا تللو په وخت ميلمستيا تياره کړی »ـ

(بخاری، مسلم).

○ **انس** ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « چا چه الله دپاره څلويښت ورځے تکبيرِ اولیٰ سره دَ جَمعے مونځ اوکړو، نو دۀ دپاره به دوه بيزارئ اوليکلے شی ـ (۱) يوه دَ اور نه دَ خلاصيدو بيزاری ـ (۲) او بله دَ منافقت نه دَ خلاصيدو بيزاری »ـ

(صحيح سنن الترمذی : ۲۰۰).

○ **بُريده** اسلمی ﷺ فرمائی : نبی ﷺ ارشاد فرمائی : « هغه خلقو ته زيرے ورکړه چه هغوئ په تيارو کښے جوماتونو ته ځی چه دوئ له به الله دَ قيامت په ورځ پوره رڼړا ورکوی »ـ (صحيح سنن الترمذی : ۱۸۵).

○ **عبد الله** بن شداد ﷺ فرمائی : دَ بنی عُذره درے کسان نبی ﷺ ته راغلل او اسلام ئے قبول کړو ـ نو نبی ﷺ اوفرمائيل : ددے خلقو ساتنه به ماله څوك اوکړی ؟ طلحه ؓ اووئيل : زۀ به ئے اوکړم ـ نو دغه خلق دَ طلحهؓ سره ديره وو ـ دے کښے نبی ﷺ جهاد دپاره يو لښکر ليږلو، نو ددے کسانو نه يو کس هم په دے لښکر کښے اووتلو ـ او شهيد شو ـ بيا نبی ﷺ يو بل لښکر ليږلو نو په دغه کسانو کښے يو بل کس هم ورسره اووتلو ـ او شهيد

شو۔ بیا هغه دریم کس په بستره باندے په خپل مرګ باندے مړ شو۔ طلحهؓ وائی : نو ما دغه درے واړه کسان چه ماسره وو، په جنت کښے اولیدل۔ خو کوم کس چه په خپله بستره باندے مړ وو، هغه مے په هغوئ کښے دَ تولو نه مخکښے تلونکے اولیدلو۔ او کوم کس چه روستو شهید شوے وو، هغه مے وروسے اولیدلو۔ او کوم کس چه دَ تولو نه مخکښے شهید شوے وو، هغه مے دَ تولو نه روستو تلونکے اولیدلو۔ طلحهؓ وائی : ما تعجب اوکړو۔ نو زهٔ نبی ﷺ ته راغلم او دا واقعه مے ورته ذکر کړه۔ نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « تهٔ دا ولے ناشنا ګنړے ؟ دَ الله په نیز هیڅ یو کس دَ هغه مؤمن نه غوره نهٔ دے، کوم له چه په اسلام کښے دَ الله دَ تسبیح، تکبیر، او تهلیل دپاره عُمر ورکړے شی »۔

(رواه أحمد : ۱٤۰٤، بسند حسن).

○ عبدُ الله بن مسعود ؓ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « زهٔ دَ معراج په شپه ابراهیم علیه السلام سره ملاؤ شوم، نو هغهٔ اوفرمائیل : اے محمد ! په خپل امت باندے زما سلام وایه ! او دوئ ته خبر ورکړه چه دَ جنت خاوره پاکیزه ده او اوبهٔ ئے خوږے دی، او جنت ډاګونه دی چه په دے کښے کرونده کول : سبحان الله، الحمد لله، لا اله الا الله، الله اکبر دی »۔ (صحیح سنن الترمذی : ۲۷۵۵).

○ ابوهریره ؓ باندے رسول الله ﷺ په داسے حال کښے تیر شو چه هغهٔ وُنے کرلے۔ وے فرمائیل : « ابو هریره ! څهٔ شے کرے ؟ وائی : ما عرض اوکړو، زما څهٔ وُنے دی هغه کرم۔ وے فرمائیل : آیا زهٔ تاته ددے نه غوره وُنے کرل اونهٔ ښایم ؟ هغهٔ وئیلے : ولے نه یا رسول الله ! وے فرمائیل : سبحان الله، الحمد لله، لا إله إلا الله، الله أكبر : وایه چه ددے هرے یوے کلمے سره به تاله په جنت کښے یوه وُنه کرل کیږی »۔

(صحیح سنن ابن ماجه : ۳۰٦۹).

○ ابوهریره ؓ فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایهٔ : « تاسو خپل ډهال واخلئ۔ مونږ عرض اوکړو۔ یا رسول الله ! دشمن حاضر شوے دے ؟ وے فرمائیل : نه، بلکه دَ اور نه ډهال واخلئ۔ او هغه دادے : سبحان الله، الحمد لله، لا إله إلا الله، الله أكبر :

ځکه دا کلمات به دَ قیامت په ورځ نجات ورکونکی وی او مخے ته به روان راوی۔ او دا باقیاتِ صالحات دی »۔ یعنی باقی پاتے کیدونکی نیک عملونه دی۔

(رواه الحاکم : ۱/٥٤۱، وصححه ووافقه الذهبی).

○ جابر ؓ نه روایت دے، نبی ﷺ اوفرمائیل : « چاچه : سبحان الله العظیم وبحمده :

اولوستلو، نو دهٔ دپاره به په جنت کښې دَ کهجورې يوه وُنه ناله شي »۔
(صحيح سنن الترمذی : ۲۷۵۷).

○ **ابوموسیٰ** اشعری رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمايهٔ : « اے عبد الله بن قيس ! (دا دَ ابو موسیٰ اشعری خپل نوم دے) آيا زهٔ تاته دَ جنت دَ خزانو نه يوه خزانه اونهٔ ښايم ؟ دے وائی : ما عرض اوکړو۔ ولے نه يا رسول الله ! وے فرمائيل : لا حول ولا قوة إلا باللّٰه : وايه »۔(بخاری، مسلم).

○ **ابوهريره** رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « آيا زهٔ تاته يوه داسے کلمه نهٔ ښايم چه هغه دَ عرش نه لاندے دَ جنت دَ خزانو نه يوه خزانه ده ؟ او هغه : لا حول ولا قوة إلا باللّٰه :ده، الله عز وجل فرمائی : زما بنده تابع شو او غاړه ئے کيخوده »۔
(رواه الحاكم : ۱/۲۱، بسند صحيح).

○ **حذيفه** رضی الله عنه فرمائی : ما نبی ﷺ خپلے سينے ته تکيه کړے وو، وے فرمائيل : « چاچه : لا إله إلا اللّٰه : دَ الله دَ مخ تالاش کولو دپاره او وئيله، او په دے باندے ددهٔ خاتمه اوشوه، نو جنت ته به داخليږی۔ او چاچه دَ الله دَ مخ تالاش کولو دپاره يوه ورځ روژه اونيوله، او په دے باندے ددهٔ خاتمه اوشوه، نو جنت ته به داخليږی۔ او چاچه دَ الله دَ مخ تالاش کولو دپاره څهٔ صدقه اوکړه، او په دے باندے ددهٔ خاتمه اوشوه، نو جنت ته به داخليږی »۔
(رواه أحمد : ۲۲۸۱۳، بسند صحيح).

○ **اغر ابو مسلم** رحمه الله په ابو هريرة رضی الله عنه او ابو سعيد رضی الله عنه دواړو باندے گواهی کوی چه دے دواړو په رسول الله ﷺ باندے دا گواهی کړيده چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی : « کله چه بنده (لا الـه الا الله والله اکبر) اووائی، نو الله عز وجل فرمائی : زما بنده رشتيا اووئيل۔ مانه سيوا بل هيڅوك دَ بندگئ حقدار نشته، زهٔ يواځے دَ بندگئ حقداريم۔ او کله چه بنده : (لا الـه الا الله لا شريك لـه) اووائی : نـو الله فـرمائی : زما بـنـده رشتيا وائی۔ مانه سيوا بل هيڅوك دَ عبادت لائق نشتـه، زما هيڅوك برخه دار نشتـه۔ او کله چه بنده (لا الـه الا الله، لـه الملك، ولـه الـحـمـد) اووائی۔ نـو الله فـرمائی : زما بنده رشتيا اووئيل ۔ مانه سيوا بل هيڅوك د عبادت لائق نشته، يواځے ما دپاره بادشاهی او ثناء ده۔ او کله چه بنده (لا الـه الا الله ولا حول ولا قـوة الا بـالله) اووائی۔ نـو الله فـرمائی : زما بنده رشتيا وائی۔ مانه سيوا بل هيڅوك د عبادت لائق نشته، او دَ گناه نه اړول او دَ نيکئ توفيق صرف زهٔ ورکوم۔
چاته چه دا کلمات دَ مرگ په وخت ورنصيب شو، نو اور به ئے مسه نهٔ کړی »۔

(صحيح سنن ابن ماجه : ٣٠٦١).

○ **معاذ بن جبل** ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « دَ چا آخري خبره چه : لا إله إلا الله : وي نو جنت ته به داخليږي ». (صحيح سنن أبي داود : ٣١١٦).

معاذ ﷺ نه روايت دے، رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « چا چه دَ زړهٔ دَ اخلاصه : دَ لا اله الا الله گواهي اوکړه، جنت ته به داخليږي ».

(رواه أحمد : ٢١٥٥٥، بسند صحيح).

○ **عائشه** رضي الله عنها فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلے : « دَ آدم په اولاد کښے هر يو انسان په درے سوه شپيتهٔ جوړونو پيدا شوے دے، نو چا چه (الله اکبر) اووئيلو، او (الحمد لله) ئے اووئيله، او (لا اله الا الله) ئے اووئيله، او (سبحان الله) ئے اووئيله، او (استغفر الله) ئے اووئيله، او دَ خلقو دَ لارے نه ئے کاڼړے يا ازغے يا هډوکے لرے کړو. دَ نيکئ حکم ئے اوکړو، يا ئے دَ بدئ نه منع اوکړه. او دا کارونه ئے دَ دغه درے سوه شپيتو (٣٦٠) جوړونو په اندازه اوکړل، نو دا کس به په داسے حال کښے بيګاه کړي چه خپل ځان به ئے دَ اوره بچ کړے وي ». (رواه مسلم : ١٠٠٧).

○ **عبد الله** بن عمرو ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « څوك چه دا خوښوي چه اور نه لرے کړے شي او جنت ته داخل کړے شي، نو دهٔ ته دے په داسے حال کښے مرګ راشي چه په الله او په ورځ دَ آخرت ايمان لري. او خلقو سره دے هغه سلوك کوي کوم چه دَ ځان سره کول خوښوي ».

(قطعة من حديث رواه مسلم : ١٨٤٤).

○ **ابو هريره** ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « نن چا دَ روژے په حالت کښے صبا کړو؟ ابو بکر رضي الله عنه اووئيل : ما. نبي ﷺ اوفرمائيل : نن ورځ څوك جنازے پسے تلے دے؟ ابو بکرؓ اووئيل : زهٔ. وے فرمائيل : نن ورځ په تاسو کښے چا مسکين له خوراك ورکړے؟ ابو بکرؓ اووئيل : ما. وے فرمائيل : نن ورځ چا دَ مريض تپوس کړے؟ ابو بکرؓ وئيلے : ما. نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل : دا کارونه چه په کوم مسلمان بنده کښے راجمع شي نو خامخا به جنت ته ځي ». (رواه مسلم : ١٠٢٨).

○ **علقمه** بن وقاصؒ باندے يو شريف سړے تير شو. علقمهؒ ورته اوفرمائيل : ستا مونږ سره خپلولي هم شته او حق دے هم شته. زهٔ تا وينم چه تهٔ دغه اميرانو ته ورځے او هغه خبرے ورسره کوے کومے چه الله غواړي چه تهٔ ئے اوکړے. حال دا چه ما دَ رسول الله ﷺ دَ

یو صحابي بلال بن حارث مزنی ؓ نه آوریدلی دی، چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلي : « په تاسو کښې یو کس دَ الله دَ رضامندئ یوه خبره کوی، په هغې باندې دا گمان نۀ کوی چه گنې دابه دومره ځائې ته رسیږي. خو دَ قیامت ورځې پورې به دَ الله عز وجل په نیز ددۀ دپاره دَ هغې په وجه رضامندي اولیکلې شي. او په تاسو کښې به یو کس دَ الله دَ ناراضتیا یوه خبره اوکړی، ددۀ به دا گمان نۀ وی چه گنې دا خبره به دومره حده پورې رسي. حال دا چه ددۀ دپاره به دَ الله سره دَ ملاویدو پورې دَ الله غصه اولیکلې شي ».

عقلمه وائي : اوس تعجب دې په تا باندې تۀ اوگوره ! چه تۀ څۀ خبره کوې ! او تۀ په کومه خبره خُلۀ خوزوې ! ځکه ډیر کرته زۀ غواړم چه څۀ خبره اوکړم لیکن هغه حدیث مې منع کړی، کوم چه ما دَ بلال بن حارث ؓ نه آوریدلې دې.

(صحيح سنن ابن ماجه : ۳۲۰۵).

○ **ابوهریره** ؓ نه روایت دې نبي ﷺ اوفرمائیل : « بیشکه بنده دَ الله دَ خوشحالئ یوه خبره کوی، چه هغې له دومره اعتبار هم نۀ ورکوی، لیکن دَ هغې په وجه ئې الله درجات بلند کړي. او یو بنده دَ الله دَ خفگان یوه خبره کوی، دَ هغې دومره باك هم نۀ کوی، لیکن دَ هغې په وجه په جهنم کښې اورغورزیږي ». (بخاري).

○ **عمران** بن حصین ؓ نه روایت دې، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « زما دَ امت نه به آویا (۷۰) زره کسان بغیر دَ حساب نه جنت ته داخلیږي. صحابو ؓ عرض اوکړو. اې د الله رسوله! دابه څوك وی ؟ وې فرمائیل : دا هغه دی چه (۱) چانه دمونه نۀ طلب کوی. (۲) نۀ بدفالي نیسي. (۳) اونۀ داغونه لگوی. (٤) بلکه په خپل رب باندې توکل کوی ».

(رواه مسلم : ۲۱۸).

○ **بریده** ؓ فرمائي : نبي ﷺ اوفرمائیل : « قاضیان درې قِسمه دی : یو په جنت کښې دې او دوه په اور کښې. (۱) هغه کس چه په جنت کښې دې، نو دا هغه سړې دې چه حق ئې اوپیژندلو او فیصله ئې پرې اوکړه. (۲) او هغه سړې چه حق اوپیژني خو په ظلم سره فیصله اوکړي، نو دا په اور کښې دې. (۳) دارنگه هغه سړې چه خلقو دپاره په جهالت او ناپوهئ باندې فیصلې کوی. نو دا هم په اور کښې دې ».

(صحيح سنن أبي داود : ۳۰۵۱).

○ **عطاء** بن فروخ چه دَ قریشو آزاد شوې غلام دې، فرمائي : عثمان ؓ دَ یو سړي نه زمکه واخسته. بیا هغه سړي دَ پیسو په قبض کولو کښې تاخیر اوکړو، او بیا ورسره ملاؤ

شو۔ نو عثمانؓ ورته اوويل : دَ خپل مال قبض کولو نه څهٔ شی منع کړے ؟ هغهٔ وئيلے : تا مالـه تـاوان راکړے دے ۔ زهٔ چه دَ چا سره هم ملاويږم نو هغویٔ ما ملامته کوی۔ عثمانؓ ورتـه اوويـل : آيا همدا خبره دے منع کوی ؟ هغهٔ وئيلے : هاؤ۔ نو عثمانؓ اوفرمائيل : ستا خـوښـه ده چـه خپـلـه زمـکه اخلے او که خپل مال ! بيا ئے اوفرمائيل : رسول الله ﷺ ارشاد فـرمائيلے : « الله عـز وجـل يـو سړے جـنـت ته په دے وجه داخل کړو، چه هغه دَ اخستلو او خرڅو په وخت، او دَ ورکولو او اخستلو په وخت نرمی کونکے وو »۔
(رواه أحمد : ٤١٢، وحسنه الألبانی فی صحيح الجامع : ٢٤٣).

○ **ثوبان** ﷺ فـرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلے : « دَ چا دَ بـدن نه چه روح په داسے حـال کښے پرواز اوکړی چه هغه دَ درے کارونو نه بيزاره وی۔نو جنت ته به داخليږی۔ (۱) دَ کبر (۲) خيانت (۳) او قرض نه »۔
(صحيح سنن أبی داود : ١٩٥٦).

○ **علی** ﷺ فـرمـائـی : رسـول الله ﷺ ارشـاد فرمائيلے : « بيشـکـه پـه جـنـت کښے داسے بالاخانے دی چه دَ هغے بهر طرف دَ دننه طرفنه، او دننه طرف ئے دَ بهر طرفنه ښکاری۔ نو يو بـانـده چی پورته شو، وئيلے : اے د الله نبی ! دابه دَ چا وی ؟ وے فرمائيل : دا به دَ هغه چا وی چه خوږے خبرے کوی، په خلقو خوراك خوروی، پرله پسے (نفلی) روژے نيسی، او په داسے حال کښے دَ شپے (تهجد) مونځ کوی چه عام خلق اودهٔ وی »۔
(صحيح سنن الترمذی : ٢٠٥١).

○ **ابـوهـريره** ﷺ فـرمـائـی : رسـول الله ﷺ ارشـاد فـرمائيلے : « تـاسـو جـنـت تـه نشیٔ داخـلـيـدلے تردے چه مؤمنان شیٔ۔ او تاسو هغه وخته پورے نشیٔ مؤمنان کيدے ترڅو چه يـو بـل سره مينه اونهٔ کړئ۔ آيا زهٔ تاسو ته يو داسے شے اونهٔ ښايم چه کله هغه تاسو اوکړئ نو خپلو کښے به مو مينه پيدا شی ؟ هغه دا چه خپلو کښے سلام خوروئ »۔ (مسلم : ٥٤).

○ **محمد** بـن عـمرو بن حزم ﷺ نـه روايت دے، نبی ﷺ اوفرمائيل : « هيـڅ يو مؤمن داسے نشتـه چه هغه خپل يو وروړ ته په يو مصيبت کښے تسلی ورکړی، مگر الله سبحانه به دهٔ دَ قيامت په ورځ دَ عزت جوړه واغوندی »۔
(صحيح سنن ابن ماجه : ١٣٠١).

○ **عبد الله** بـن عـمـرو بن العاص ﷺ نـه روايت دے، رسـول الله ﷺ ارشـاد فرمائيلے : « څوك چه دَ خپل مال په دفاع کښے مظلوم مړ شو، نودهٔ دپاره جنت دے »۔

(صحيح سنن النسائي : ٣٨٠٨).

○ **ابن عمر** ﷺ نه روایت دے، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « چا چه دولس کله اذان اوکړو، دهٔ دپاره جنت واجب شو۔ او په هر یو اذان باندے ورله هره ورځ شپیتهٔ نیکئ دی۔ او په هر یو اقامت باندے ورله دیرش نیکئ دی »۔

(صحيح سنن ابن ماجه : ٥٩٤).

○ **حُصین بن محصن** ﷺ نه روایت دے چه ددهٔ یوه ترور نبی ﷺ ته دَ یو حاجت پسے راغله او دَ خپل حاجت نه فارغ شوه۔ نو نبی ﷺ ورته اوفرمائیل : « آیا تهٔ خاوند والا ښځه ئے ؟ هغے وئیلے : هاؤ۔ وے فرمائیل : تهٔ هغهٔ دپاره څنګه ئے ؟ هغے وئیلے : څومره چه زما وس رسی زهٔ دَ هغهٔ په خدمت کښے کوتاهی نهٔ کوم۔ مګر دا چه زهٔ دَ کوم څیز نه عاجزه شم۔ وے فرمائیل : نو تهٔ اوګوره چه ستا دَ هغهٔ سره څهٔ تعلق دے ! هغه خو ستا جنت او جهنم دے »۔

(رواه أحمد : ١٨٥٢٤، والحاكم : ٢/١٨٩، وصححه ووافقه الذهبي).

○ **ابوهریره** ﷺ نه روایت دے، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « کله چه ښځه خپل پنځه وخته مونځ کوی، دَ رمضان روژے نیسی، دَ خپل شرمګاه حفاظت کوی، او دَ خپل خاوند تابعداری کوی، نو دَ جنت دَ کومے دروازے نه چه غواړی، داخله دے شی »۔

(رواه ابن حبان : ١٢٩٦، وصححه الألباني في صحيح الجامع : ٦٦٠).

○ **ابو امامه** ﷺ نه روایت دے، نبی ﷺ فرمائی : « الله سبحانه وتعالیٰ فرمائی : اے دَ آدم ځویه ! که چرے تا دَ مصیبت په اوله صدمه کښے صبر اوکړو او دا دے ثواب اوګنړلو، نو دَ جنت نه سیوا زهٔ تاله په بل ثواب درکولو باندے نهٔ راضی کیږم »۔

(صحيح سنن ابن ماجه : ١٢٩٨).

○ **انس بن مالك** ﷺ فرمائی : ما دَ نبی ﷺ نه واوریدل چه فرمائیل ئے : « الله فرمائی : کله چه زهٔ په خپل بنده دَ دوه محبوبو څیزونو – یعنی دواړو سترګو اخستلو – آزمائش اوکړم، او بیا هغه صبر اوکړی، نو ددے دواړو په عوض کښے به ورته زهٔ جنت ورکړم »۔

(بخاري : ٥٦٥٣).

○ **قره بن ایاس** ﷺ نه روایت دے، چه یو سړے نبی ﷺ ته راغے او دَ هغهٔ سره خپل ځوئے هم وو۔ نبی ﷺ ورته اوفرمائیل : آیا تاته دا ګران دے ؟ هغهٔ وئیلے : الله دے تاسره داسے محبت اوکړی څنګه چه زهٔ ددهٔ سره مینه کوم۔ نو هغه ځوئے ئے مړ شو۔ او څهٔ وخت

دَ نبي ﷺ نه غائب شو۔ نبي ﷺ دَ هغهٔ باره کښې تپوس اوکړو۔ (کله چه ورسره مخامخ شو) نو ورته ئې اوفرمائيل: ((آيا تهٔ په دې خبره نهٔ خوشحاليږې چه کله تهٔ دَ جنت دَ دروازو نه يوې دروازې ته راځې نو هغه دَ هغې سره مومې، او هغه کوشش کوي چهٔ درته کهلاؤ ئې کړي))۔ (صحيح سنن النسائي: ١٧٦٤).

○ **ابوموسیٰ** اشعري رضی الله عنه نه روايت دې، رسول الله ﷺ اوفرمائيل: ((کله چه دَ بنده بچې مړ شي نو الله خپلو ملائکو ته وائي: تاسو زما د بنده بچې قبض کړو؟ هغوئ وائي: هاؤ۔ الله فرمائي: تاسو دَ هغهٔ دَ زړهٔ ميوه واخسته؟ هغوئ وائي: هاؤ۔ الله فرمائي: نو زما بنده څهٔ اووئيل؟ هغوئ وائي: ستا حمد او ثناء ئې اووئيله او اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّآ اِلَيۡهِ رَاجِعُوۡن ئې اووئيلو۔ نو الله فرمائي: زما بنده دپاره په جنت کښې يو کور جوړ کړئ او هغې له بيتُ الحمد نوم کيدئ))۔ يعنې دَ ثناء صفت کور۔
(صحيح سنن الترمذي: ٨١٤).

○ **عتبه** بن عبد السلمي رضی الله عنه فرمائي: ما دَ رسول الله ﷺ نه واوريدل چه فرمائيل ئې: ((هيڅ يو مسلمان داسې نشته چه دَ هغهٔ داسې درې ځامن مړهٔ شي چه لا ګناه (بلوغ) ته نهٔ وي رسيدلي، مګر هغوئ به دهٔ ته دَ جنت په آتهٔ واړو دروازو مخې ته راوځي۔ دې چه په کومه دروازه داخليدل غواړي داخل به شي))۔
(صحيح سنن ابن ماجه: ١٣٠٣).

○ **انس** بن مالك رضی الله عنه نه روايت دې، رسول الله ﷺ اوفرمائيل: ((په خلقو کښې هيڅ يو مسلمان سړې داسې نشته چه دَ هغهٔ درې بچي مړهٔ شي، چه هغوئ لا ګناه ته نهٔ وي رسيدلي، مګر الله به ئې ضرور جنت ته داخل کړي۔ دَ خپلې هغه مهربانئ په وجه چه دَ هغوئ دَ وجې نه ئې په دهٔ باندې کوي))۔ (رواه البخاري: ١٣٨١).

○ **ابوهريره** رضی الله عنه نه روايت دې، رسول الله ﷺ اوفرمائيل: ((الله تعالیٰ فرمائي: زهٔ چه په دنيا کښې دَ خپل مؤمن بنده محبوب ترين کس قبض کړم، او بيا هغه دا کار ثواب اوګنړي، نو ددهٔ ماسره دَ جنت نه علاوه بله هيڅ بدله نشته))۔
(رواه البخاري: ٦٤٢٤).

○ **علي** رضی الله عنه فرمائي: ما دَ رسول الله ﷺ نه واوريدل چه فرمائيل ئې: ((کوم مسلمان چه دَ صبا په وخت دَ يو مسلمان بيمار پښتنې له لاړ شي، نو ددهٔ دپاره اويا زره ملائك تر بيګاه پورې دعاء ګانې غواړي۔ اوکه په بيګاه کښې پښتنه اوکړي، نو ددهٔ دپاره تر صبا پورې اويا

زره ملائك دَ رحمت دعا غواړي ـ او دے به دَ جنت میوے شوکوی ».
(صحیح سنن الترمذی : ۷۷٤).

○ **ثوبان** ﷺ وائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « چا چه دَ یو بیمار تپوس اوکړو، نو دے همیشه دَ جنت په خُرفه کښے وی. عرض اوکړے شو. دَ جنت خُرفه څهٔ شے دے ؟ وے فرمائیل : دَ جنت میوے شوکول ».
(رواه مسلم : ۲۵٦۸).

○ **ابوهریره** ﷺ نه روایت دے، نبی ﷺ اوفرمائیل : « دَ یو سړی درجه به په جنت کښے پورته کړے شی، نو هغه به وائی : دا دَ کوم طرفه ؟ نو دهٔ ته به اووئیلے شی چه دا ستا دَ بچی دَ استغفار دَ وجے نه چه تاله ئے غوښتلے وو ».
(صحیح سنن ابن ماجه : ۲۹۵۳).

○ **ابودرداء** نه ﷺ روایت دے چه دهٔ ته یو سړے راغے، وئیلے : زما یوه ښځه ده، او زما مور ماته حکم کوی چه دا طلاقه کړه. نو زهٔ څهٔ اوکړم ؟ ابودراء اوفرمائیل : ما دَ رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه فرمائیل ئے : « مور پلار دَ جنت غوره دروازه ده، نو اوس که ستا خوښه وی نو دغه دروازه ضائع کړه، او یائے خیال اوساته ».
(صحیح سنن الترمذی : ۱۵٤۸).

○ **جاهمة السلمی** ﷺ نه روایت دے، چه یو سړے نبی ﷺ ته راغے، وئیلے : اے د الله رسوله ! زهٔ دَ جهاد کولو اراده لرم، تاله دَ مشورے دپاره راغلے یم ! ورته ئے اوفرمائیل : «آیا ستا مور ژوندئ ده ؟ هغهٔ وئیلے : هاؤ. وے فرمائیل : هغے سره لازم اوسیږه، ځکه جنت دَ هغے دَ خپو لاندے دے ». (صحیح سنن النسائی : ۲۹۰۸).

○ **عبد الله** بن عمرو ﷺ نه روایت دے، چه نبی ﷺ اوفرمائیل : « دَ رب خوشحالی دَ والدینو په خوشحالئ کښے ده، او دَ رب خفګان دَ والدینو په خفګان کښے دے ».
(صحیح سنن الترمذی : ۱۵٤۹).

○ **عائشه** رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « زهٔ اودهٔ شوم او په خوب کښے ما خپل ځان په جنت کښے اولیدلو، نو ما دَ یو قاری آواز واوریدهٔ چه قرآن ئے لوستلو. ما وئیلے : دا څوك دے ؟ خلقو وئیلے : دا حارثه بن نعمان ﷺ دے. نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل : ((نیکی هم دغسے جزاء لری، نیکی هم دغسے جزاء لری)). او دا دَ خپلے مور سره ډیر زیات احسان کونکے وو. (رواه أحمد : ۲٤۸۰۹، بسند صحیح).

○ **ابن عباس** رضی الله عنه وائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: «جنت والا هغه خلق دی چه الله دَ هغوئ غوږونه دَ خلقو دَ ښهٔ صفت آوریدو نه ډك كړی وی، په داسے حال كښے چه هغوئ دغه خپل صفت آوری۔ او اور والا هغه خلق دی چه خپل غوږونه ئے دَ خلقو دَ بد صفت نه ډك وی، په داسے حال كښے چه هغوئ ئے آوری»۔
(صحیح سنن ابن ماجه : ۳٤۰۲).

○ **انس** رضی الله عنه فرمائی: یوه جنازه تیره شوه نو خلقو دَ هغوئ ښهٔ صفت اوكړو۔ نو دَ الله نبی ﷺ اوفرمائیل: واجب شو، واجب شو، واجب شو۔ او یوه بله جنازه تیره شوه، نو خلقو دَ هغے بدی بیان كړه۔ نو نبی ﷺ اوفرمائیل: واجب شو، واجب شو، واجب شو۔ عمر رضی الله عنه عرض اوكړو، زمامور پلار درنه قربان شه! یوه جنازه تیره شوه، دَ هغے صفت اوكړے شو نو تاسو اوفرمائیل: چه: واجب شو، واجب شو، واجب شو۔ او یوه بله جنازه تیره شوه او دَ هغے بدی بیان شوه، نو تاسو آوفرمائیل: واجب شو، واجب شو، واجب شو؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل: «تاسو چه دَ چا ښهٔ صفت اوكړئ نو هغهٔ دپاره جنت واجب شو۔ او تاسو چه دَ چا بد صفت اوكړئ نو هغهٔ دپاره اور واجب شو۔ ځكه تاسو په زمكه كښے دَ الله گواهان یئ۔ درے ځله ئے اوفرمائیل»۔ (رواه مسلم : ۹٤۹).

○ **انس** بن مالك رضی الله عنه وائی: مونږ دَ رسول الله ﷺ سره ناست وو، رسول الله ﷺ اوفرمائیل: «اوس به تاسو ته یو جنتی سړے را ښكاره شی۔ نو دَ انصارو یو سړے را ښكاره شو چه دَ اودس كولو په وجه ئے دَ گیرے نه اوبهٔ څڅیدلے۔ او خپلے دواړه څپلئ ئے گس لاس ته زوړندے كړے وے۔ هر كله چه صبا شو نو نبی ﷺ همدغه خبره بیا اوكړه۔ او دغه سړے دَ مخكښے پشان بیا راښكاره شو۔ هر كله چه دریمه ورځ شوه نو نبی ﷺ بیا دَ خپلے مخكښے خبرے پشان خبره اوكړه۔ او هغه سړے بیا په خپل همغه حالت كښے را ښكاره شو۔ كله چه نبی ﷺ اودریدهٔ نو عبد الله بن عمرو بن العاص – رضی الله عنه – دغه سړی پسے شو۔ او ورته ئے اووئیل: زما دَ خپل پلار سره جګړه راغلے ده، او دا قسم مے كړے دے چه زهٔ به ورته درے ورځو پورے نهٔ راځم۔ نو كه ستا خوښه وی نو د درے ورځو پورے ماله تهٔ ځائے راكړه۔ هغهٔ وئیلے: صحیح ده۔ انس رضی الله عنه فرمائی: عبد الله به دا بیان كولو چه دهٔ هغه سړی سره دغه درے واړه شپے تیرے كړے۔ نو هغه ئے اونهٔ لیدلو چه دَ شپے په څهٔ حصه كښے پاسیږی او مونځ اوكړی۔ صرف دومره ده چه كله به دَ شپے را ویښ شو او خپل اړخ به ئے بدلولو نو دَ الله عز وجل ذكر به ئے كولو۔ او الله اكبر به ئے وئیلو۔ تردے چه دَ

صبا مونځ دپاره به را پاسیدهٔ۔ عبد الله وائی : البته هغهٔ نه ما دَ خیر نه علاوه بل هیڅ خبره نهٔ آوریدله۔ نو هر کله چه درې ورځې تیرې شوې، او زهٔ نزدې وومه چه ما دَ هغهٔ عمل سپك گنړلې وې۔ نو ما ورته اووئیل : اې د الله بنده ! زما او زما د پلار ترمینځه نهٔ څه دَ غصې خبره راغلې اونهٔ پرېښودل۔ خو ما دَ رسول الله ﷺ نه درې ځله واوریدل چه فرمائیل ئې : « اوس به تاسو ته یو جنتی سړې را ښکاره شي »۔ نو درې واړه ځله تهٔ راښکاره شوې۔ نو ما دا اراده اوکړه چه څه تاکره راشم او ستا عمل اوگورم او دَ هغې پشان عمل کول شروع کړم۔ خو ما تهٔ اونهٔ لیدلې چه تا څهٔ ډیر عمل کړې وی۔ نو دَ رسول الله ﷺ دې خبرې ته تهٔ څهٔ شئ رسولې ئې ؟ هغهٔ وئیلې : زما عمل خو هغه وو کوم چه تا اولیدلو۔ عبد الله وائی : کله چه زهٔ ترینه را روان شوم نو هغهٔ ماته آواز اوکړو۔ وئیلې : زما عمل خو بس همغه وو کوم چه تا اولیدلو۔ صرف دومره ده چه زهٔ په خپل زړهٔ کښې دَ هیڅ یو مسلمان دپاره تهکې، خیانت نهٔ ساتم۔ او نهٔ چاسره په هغه شئ حسَد کوم، چه الله ورته ورکړې وی۔ نو عبد الله وائی : بس همدا هغه خوئې دې چه ددې په وجه تهٔ دغه مرتبې ته رسیدلې ئې، او همدا هغه شې دې چه مونږ ددې طاقت نهٔ لرلو۔

(رواه أحمد ۱۲۲۸٦، بسند صحيح).

بعض علماؤ دیته ضعیف وئیلې، خو دا صحیح خبره نهٔ ده، ځکه امام زهری دَ انس بن مالك نه آوریدل کړی دی۔دا وجه ده چه دیته حافظ ابن حجرؒ او ابن کثیرؒ وغیره صحیح وئیلې دې۔

○ **ابوهریره** ﷺ نه روایت دې، نبی ﷺ اوفرمائیل : « یو سړی یو سپې اولیدلو چه دَ ډیرې تندې نه ئې په لمده زمکه خُله لگوله۔ نو دغه سړی خپله موزه واخسته او په هغې سره ئې سپی ته اوبهٔ اونیولې، تردې چه ښهٔ ئې سیراب کړو۔ نو الله ددهٔ ددې عمل قدر اوکړو، او جنت ته ئې داخل کړو »۔ (رواه البخاری : ۱۷٤).

○ **سهل** بن سعد ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « زهٔ او دَ یتیم پرورش کونکې به – په جنت کښې – داسې یو۔ او مسواکئ او مینځنئ گوتې سره ئې اشاره اوکړه، او ددې دواړو ترمینځه ئې لږ شان جدائی راوسته »۔ (رواه البخاری : ۵۳۰٤).

○ **عبد الله** بن بسر ﷺ وائی : نبی ﷺ اوفرمائیل : « هغه چا دپاره خوشحالی ده چه دَ هغهٔ په عملنامه کښې ډیر ډیر استغفار بیاموندې شي »۔ (صحيح سنن ابن ماجه : ۳۰۷۸).

○ **جابر** ﷺ نه روایت دې، چه یو سړی دَ رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو۔ په دې مې خبر

کړه که زهٔ پنځه وخت فرض مونځونه کوم، دَ رمضان روژے نیسم، حلال حلال گنړم، حرام حرام گنړم، او ددے عملونو نه سیوا بل هیڅ یو عمل اونهٔ کړم، نو آیا زهٔ به جنت ته داخلیږم ؟ نبی ﷺ اوفرمائیل : هاؤ۔ هغه سړی وئیلے : قسَم په الله ! زهٔ به په دے کارونو باندے هیڅ یو کار زیات نهٔ کړم۔ (رواه مسلم : ١٥).

○ **عبد الله** بن عمرو ﷺ نه روایت دے چه دے په معاذ بن جبل – رضی الله عنه – باندے په داسے حال کښے ورتیر شو چه هغهٔ په خپله دروازه ولاړ وو، او په خپل لاس سره داسے اشاره کوله تهٔ به وائے ځان سره خبرے کوی۔ عبد الله ورته اووئیل : ابو عبد الرحمن ! ولے ځان سره خبرے کوے ؟وے فرمائیل : څهٔ وجه ده مالره ! آیا دَ الله دشمن دا اراده لری چه ما دَ هغه خبرے نه غافله کړی کومه چه ما دَ رسول الله ﷺ نه آوریدلے ده۔ دا دشمن راته وائی : تهٔ اوس مشقت پورته کوے، چه خپل وخت په خپل کور کښے تیروے، آیا تهٔ مجلس ته نهٔ اوځے چه هلته خبرے اترے اوکړے ؟۔ ما دَ رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه « څوك دَ الله په لاره کښے جهاد کوی نو ددهٔ ذمه واری الله اخستے ده، او څوك چه دَ بیمار پښتنه کوی نو ددهٔ ذمه واری الله اخستے ده، او څوك چه صبا یا بیگاه جومات ته روان شو، نو ددهٔ ذمه واری الله اخستے ده۔ او څوك چه یو امیر ته ورداخل شو اودَ هغهٔ تقویت ئے کولو، نو ددهٔ ذمه واری الله اخستے ده۔ او څوك چه په خپل کور کښے کیناستهٔ چه دَ هیچا غیبت نهٔ کوی نو ددهٔ ذمه واری الله اخستے ده »۔ نو اوس د الله دشمن غواړی چه ما دَ خپل کور نه مجلس طرفته اوباسی۔

(رواه ابن خزیمة : ١٤٩٥، والحاكم : ٢١٢/١، بسند حسن).

○ **ابو امامه** باهلی ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « درے کسان دی چه دَ تهولو ذمه واری الله اخستے ده۔ (١) هغه سړے چه دَ الله په لاره کښے غازی اووتلو، نو ددهٔ ذمه واری الله اخستے ده، تردے چه وفات ئے کړی او جنت ته ئے داخل کړی۔ او یائے په اجر او غنیمت سره بیرته را واپس کړی۔ (٢) هغه سړے چه جومات ته روان شو۔ نو ددهٔ ذمه واری الله اخستے ده، تردے چه دهٔ لره وفات کړی نو جنت ته به ئے داخل کړی۔ او یا به ئے دَ اجر او غنیمت سره کورته واپس کړی۔ (٣) او هغه سړے چه خپل کورته په سلام اچولو سره داخل شو۔ نو ددهٔ ذمه واری هم الله اخستے ده »۔

(صحیح سنن أبی داود : ٢١٧٨).

○ **عقبه** بن عامر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « چاچه اودس اوکړو، او بیا ئے

أشهد أن لا إله إلاّ اللّٰه وحده لا شريك له، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله [اللهم اجعلني من التوابين واجعلني من المتطهرين] :

اولوستلو، نو دۀ ته به دَ جنت آته واړه دروازے پرانستے شي، په کومه ئے چه زړۀ غواړي داخل دے شي »۔

(رواه مسلم : ۲۳٤، والترمذی : ۵۵، والزيادة له وهی صحيحة).

○ **ابوهريره** ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ بلال ته اوفرمائيل : « اے بلاله ! ماته خپل هغه عمل اوښايه چه هغه په اسلام کښے ستا په نيز ډير دَ اميد لرلو قابل وی۔ ځکه چه ما ستا دَ څپلو کشار خپلے مخے ته په جنت کښے واوريدۀ ! هغۀ وئيلے : ماخو داسے عمل نۀ دے کړے چه هغه زما په نيز ډير دَ اميد لرلو قابل وی، مګر دا چه ما کله هم دَ ورځے يا شپے اودس کړے دے نو په دغه اوداسۀ سره مے څومره مونځ چه الله غواړی اداء کړے دے »۔ (بخاری، مسلم).

○ **عقبه** بن عامر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلے : « هيڅ يو مسلمان نشته چه اودس اوکړي او ښائسته اودس اوکړی او بيا پاسيږی دوه داسے رکعته اوکړی چه په هغے کښے په خپل زړۀ او مخ دواړو سره پوره توجه اوکړی، مګر دۀ دپاره به جنت واجب شی »۔(مسلم : ۲۳٤).

○ **ربيعه** بن کعب اسلمی ﷺ وائی : « ما به د رسول الله ﷺ سره شپه تيروله، نو يو ځل مے ورته د اوداسۀ اوبۀ او دَ ضرورت څيز راوړو۔ نو ماته ئے اوفرمائيل : څۀ رانه اوغواړه ! نو ما وئيلے : زۀ تاسره په جنت کښے ملګرتيا غواړم۔ وے فرمائيل : دے نه علاوه نور څۀ غواړے ؟ ماوئيلے : بس همدغه غواړم۔ وے فرمائيل : نو ماسره په ډيرو ډيرو سجدو لګولو باندے دَ خپلے دعاء دَ قبليدو دپاره مدد »۔ (مسلم : ٤۸۹).

○ **معدان** بن طلحه يعمرِیؒ فرمائی : زۀ دَ ثوبان ﷺ سره چه دَ رسول الله ﷺ آزاد کړے غلام دے ملاؤ شوم، نو ما ورته اووئيل : ماته يو داسے عمل را اوښايه چه په هغے سره الله ما جنت ته داخل کړی ! او يا وائی : ما ورته داسے اووئيل چه : داسے عمل راته راأوښايه چه دَ ټولو اعمالو نه الله ته ډير خوښ وی ! نو هغه غلے شو۔ ما ترے بيا تپوس اوکړو، نو هغه بيا غلے شو۔ بيا مے په دريم ځل ترے تپوس اوکړو، نو هغۀ اوفرمائيل : دے باره کښے ما دَ رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو، نو هغوئ اوفرمائيل : « په تا باندے لازم دی چه الله ته ډيرے ډيرے سجدے لګوے، ځکه تۀ الله ته هيڅ سجده نۀ کوے مګر دَ هغے په وجه الله ستا

يوه درجه پورته کوي، او دَ هغې دَ وجې تانه يوه گناه رژوي ». معدان" وائي : بيا زهٔ دَ ابو درداء" سره ملاو شوم، او هغهٔ نه مې هم دغسې تپوس اوکړو، نو هغهٔ هم ماته هغه شان خبره اوکړه، څنګه چه راته ثوبان" کړې وه »۔ (مسلم : ٤٨٨).

○ **ابوموسیٰ** اشعري ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلي : « چا چه دَ څاښت څلور رکعته اوکړل، او دَ ماسپخين نه مخکښې ئې څلور رکعته اوکړل، نو دهٔ دپاره به په جنت کښې کور جوړ کړې شي »۔

(رواه الطبراني في الأوسط، وحسّنهُ الألباني في الصحيحة : ٢٣٤٩).

○ **ام حبيبه** رضي الله عنها دَ نبي ﷺ بي بي فرمائي : ما دَ رسول الله ﷺ نه واوريدل چه فرمائيل ئې : « چا چه ماسپخين مونځ نه مخکښې څلور رکعته، او دَ ماسپخين مونځ نه پس څلور رکعته پابندئ سره اوکړل، الله به ئې په اور باندې حرام کړي »۔

(صحيح سنن الترمذي : ٣٥٢).

○ **ابودرداء** ﷺ نه روايت دې، رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « پنځه کارونه دي، چه څوك دا دَ ايمان سره اوکړي، جنت ته به داخليږي : (١) پنځه مونځونه دَ اوداسهٔ، رکوع، سجدې او خپل خپل وخت باندې پابندئ سره اداء کړي۔ (٢) رمضان روژې اونيسي۔ (٣) دَ بيت الله حج اوکړي۔ که هغې ته دَ تللو وس ئې وي۔ (٤) دَ زړهٔ په خوشحالئ سره زکوٰة ورکړي۔ (٥) او امانت اداء کړي۔ عرض اوشو : يارسول الله ! امانت اداء کول څهٔ شې دې ؟ وې فرمائيل : دَ جنابت غسل کول۔ څکه الله تعالىٰ انسان لره په خپل دين کښې په بل هيڅ يو شئ باندې امانتدار نهٔ دې ګڼړلې سيوا ددې نه »۔

امام منذري" فرمائي : دا حديث طبراني په جيّد سند سره روايت کړې۔

(الترغيب : ١/٣٤١).

○ **عماره** بن رويبه ﷺ فرمائي : ما دَ رسول الله ﷺ نه واوريدل چه فرمائيل ئې : « هيڅ کله به هغه څوك اور ته داخل نشي، چه هغه دَ نمر خاتهٔ نه مخکښې او دَ نمر پريواتهٔ نه مخکښې مونځ کوي »۔ (يعنې : سَحر او مازيګر)۔

(رواه مسلم : ٦٣٤).

○ **ابوموسیٰ** اشعري ﷺ نه روايت دې، رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « چا چه دوه يَخ مونځونه اوکړل، جنت ته به داخليږي »۔ (بخاري، مسلم).

○ **حنظلة الكاتب** ﷺ فرمائي : ما دَ رسول الله ﷺ نه واوريدل چه فرمائيل ئې : «

چا چه دَ پنځو مونځونو پابندی اوکړه۔ دَ هغې رکوع، سجده، اودس، او وختونو اهتمام ئې اوکړو۔ او په دې پوهه وو چه دا دَ الله دَ طرفه حق دی۔ نو جنت ته به داخلیږی۔ او یائې داسې اوفرمائیل چه : جنت ورله واجب شو۔ او یائې اوفرمائیل چه : په اور باندې حرام شو »۔
(امام منذریؒ فرمائی : دا حدیث امام احمدؒ په جید سند سره روایت کړې، او ددې راویان دَ بخاري راویان دی۔ الترغیب : ۱/۲٤۷).

○ **عباده** بن صامت ﷺ فرمائی : ما رسول الله ﷺ نه واوریدل چه فرمائیل ئې : « پنځه مونځونه دی چه الله په خپلو بندګانو فرض کړی دی۔ چا چه دَ دې دَ حق سپك ګنړلو دَ وجې نه په دې کښې هیڅ یو مونځ ضائع نهٔ کړو : نو دَ الله په نیز به ددهٔ دپاره دا لوظ وی چه دې به جنت ته ننباسی۔ او چا چه دا مونځونه رانهٔ وړل، نو دهٔ دپاره دَ الله سره هیڅ لوظ نشته۔ که خوښه ئې شی عذاب به ورکړی، اوکه اوغواړی، جنت ته به ئې داخل کړی »۔
(صحیح سنن النسائی : ٤٤۷).

○ **عبد الله** بن عمرو ﷺ نه روایت دې، نبی ﷺ اوفرمائیل : « دوه خویونه دی چه په دې باندې هیڅ یو مسلمان پابندی نهٔ کوی مګر جنت ته به ضرور داخلیږی۔ او دا دواړه آسان هم دی۔ خو په دې باندې عمل کونکی خلق کم دی۔ هغه دا چه (۱) دَ هر فرض مانځه نه پس به لس ځله سبحان الله، لس ځله الحمد لله، لس ځله الله اکبر، وائی۔ نو دا په ژبه باندې یو نیم سل ځله شو (۱۵۰) لیکن په تله کښې یو نیم زر دی۔ (۲) او کله چه اودهٔ کیږی نو څلور دیرش ځله به الله اکبر، درې دیرش ځله الحمد لله، اودرې دیرش ځله سبحان الله وائی۔ نو دا په ژبه سل ځله شو۔ لیکن په تله کښې زر ځله دی »۔

○ **عبد الله** بن عمرو ﷺ وائی : « ما رسول الله ﷺ اولیدلو چه په خپل لاس سره ئې شمارل۔ صحابوؓ عرض اوکړو۔ اې د الله رسوله ! دا دواړه کارونه څنګه آسان دی او په دې باندې عمل کونکی خلق کم دی ؟ وې فرمائیل : پتاسو کښې یو کس ته شیطان دَ خوب په وخت کښې راشي او ددې دَ وئیلو نه ئې مخکښې مخکښې اودهٔ کوی۔ دارنګه په مانځه کښې ورته راشي او ددې دَ وئیلو نه مخکښې مخکښې ورته نور حاجتونه وریاد کړی »۔
(صحیح سنن أبی داود : ٤۲۳۳).

○ **ابو امامه** ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایهٔ : « چا چه هر فرض مانځه نه پس آیت الکرسی اولوستله، نو جنت ته د داخلیدو نه به ئې دَ مرګ نه علاوه بل هیڅ شی منع نهٔ کړی »۔ یعنی مړ کیدو سره به جنت ته داخلیږی۔

(رواه النسائی فی عمل الیوم واللیلة وصححه الألبانی فی صحیح الجامع : ٦٤٦٤).

○ **نعمان** بن سالم دَ عمرو بن اوس ؒ نه، او هغه دَ عنبسه بن ابی سفیان ؒ نه، او هغه دَ نبی ﷺ دَ بی بی، ام حبیبې رضی الله عنها نه روایت کوی، فرمائی : ما دَ رسول الله ﷺ نه واوریدل چه فرمائیل ئے : « کوم مسلمان بنده چه الله دپاره هره ورځ دولس (۱۲) رکعته نفل اوکړی، نو الله به ورله په جنت کښې کور جوړ کړی : څلور رکعته دَ ماسپخین مونځ نه مخکښې او دوه رکعته روسته۔ دوه رکعته دَ ماښام مونځ نه پس۔ او دوه رکعته دَ ماسخوتن مونځ نه پس۔ او دوه رکعته دَ سَحر مونځ نه مخکښې »۔

ام حبیبه ؓ وائی : څۀ وخت نه چه ما دَ رسول الله ﷺ نه دا آوریدلی دی نو ما دا نۀ دی پریښی۔ عنبسه ؒ وائی : څۀ وخت نه چه ما دا دَ ام حبیبه ؓ نه آوریدلی دی، نو ما نۀ دی پریښی۔ عمرو بن اوس ؒ وائی : دَ څۀ وخت نه چه ما دا دَ عنبسه ؒ نه آوریدلی دی نو ما نۀ دی پریښی۔ نعمان بن سالم ؒ وائی : دَ څۀ وخت نه چه ما دا دَ عمرو بن اوس ؒ نه آوریدلی دی نو ما نۀ دی پریښی۔

(رواه مسلم : ۷۲۸، ترمذی : ٤١٥، والزیادة له).

○ **ابن عباس** ؓ فرمائی : ما دَ رسول الله ﷺ نه واوریدل چه فرمائیل ئے : « دوه سترګو ته به اور اونۀ رسیږی (۱) هغه سترګه چه دَ الله دَ ویرې نه اوژاړی۔ (۲) هغه سترګه چه په جهاد کښې دَ څوکیدارئ په حالت کښې شپه تیره کړی »۔

(صحیح سنن الترمذی : ۱۳۳۸).

○ **ابوهریره** ؓ فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے : « هغه سړے هیچرے اور ته نۀ داخلیږی چه هغۀ دَ الله دَ ویرې نه اوژړل، تردې چه پئ په غولانزه کښې بیرته واپس شی۔ او دَ الله دَ لارې دوړه او دَ جهنم لوګے نۀ یوځائے کیږی »۔

(صحیح سنن الترمذی : ۱۳۳۳).

○ **ابودرداء** ؓ نه روایت دے، نبی ﷺ اوفرمائیل : « چا چه دَ خپل ورور دَ عزت دفاع اوکړه، الله به دَ قیامت په ورځ دَ دۀ دَ مخ نه اور واړوی »۔

(صحیح سنن الترمذی : ۱۵۷۵).

○ **سلمان فارسی** ؓ فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایۀ : « چا چه دا دعاء اووئیله : اللهم إنی أشهدك وأشهد ملائكتك وحملة عرشك، أشهدُ مَن فی السموات ومن فی الأرض أنك أنت الله، لا إله إلا أنت وحدك لا شريك لك، وأشهَدُ أن محمدًا عبدك رسولك :

چاچه دا یو ځل اووئیله، الله به دهٔ دریمه حصه دَ اوره آزاد کړی، او چاچه دوه ځله اووئیله، الله بـه دهٔ دوه برخې دَ اوره آزادې کړی۔ او چاچه دری ځله اووئیله، الله به دے ټول دَ اوره آزاد کړی»۔

(رواه الحاکم: ۱/۵۲۳، وصححه ووافقه الذهبی).

○ **ابـوهریره** ﷺ فـرمـائـی: رسـول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے: «څـهٔ وخت چـه انسان دَ سـجدے آیت اولـولـی او بیـا سـجـده اوکـړی، نو شیطان یو طرفته شی ژاړی، وائی: هائے افسـوس دے مـالره! انسان ته دَ سجدے امر اوکړے شو، نو هغهٔ سجده اوکړه نو دهٔ له جنت دے۔ او ماته دَ سجدے حکم شوے وو لیکن ما انکار اوکړو، نو ماله اور دے»۔ (مسلم: ۸۱).

○ **ابوهریره** ﷺ نـه روایت دے، نبی ﷺ اوفرمائیل: «روژے ډهال دے او دَ اور نه دَ بچ کیدو دپاره یوه مضبوطه قلعه ده»۔

(رواه أحمد وحسّنه الألبانی فی صحیح الجامع: ۳۸۸۰).

○ **عثمان** ﷺ فـرمـائـی: ما دَ رسول الله ﷺ نه واوریدل چه فرمائیل ئے: «روژے دَ اور نه داسے بچ کونکے ډهال دے، څنګه چه ډهال تاسو دَ جنګ نه بچ»۔

(رواه أحمد: ۱۵۸٤٤، بسند صحیح).

○ **ابو امامه** باهلی ﷺ نه روایت دے، نبی ﷺ اوفرمائیل: «چاچه دَ الله په لاره (جهاد) کښے یوه روژه اونیوله، نو الله به دهٔ او دَ اور ترمینځه داسے خندق جوړ کړی لکه دَ آسمان او زمکے ترمینځه فاصله»۔

(صحیح سنن الترمذی: ۱۳۲۵).

○ **ابوسعید** خدری ﷺ فرمائی: ما دَ نبی ﷺ نه واوریدل چه فرمائیل ئے: «چاچه دَ الله په لاره کښے یوه ورځ روژه اونیوله، الله به اویا کاله دَ دهٔ مخ دَ اور نه لرے کړی»۔

(بخاری، مسلم).

○ **ابوامامه** ﷺ نـه روایت دے چـه دهٔ عرض اوکړو، اے د الله رسوله! ماته یو داسے عمل اوښایـه چـه په هغے سره زهٔ جنت ته داخل شم! وے فرمائیل: «تا باندے لازم دی چه روژے نیسی، ځکه ددے مثل نشته»۔ نـو دَ ابـو امـامهؓ دا حال وو چه دهٔ په کور کښے به دَ ورځے لوګے نهٔ لیدل کیدهٔ، مګر کله به چه دوئ کره میلمه راغے۔

(رواه ابن حبان: ۹۲۹، والحاکم: ۱/٤۲۱، وصححه ووافقه الذهبی).

○ **حریث** بـن قبیصـهؓ وائی: زهٔ مدینے ته راغلم۔ او دا دعاء مے اوکړه، چه یا الله! ماته یو

نیك عـمله ملګرے را نصیب کړے ! نو زهٔ ابوهریره ﷺ سره کیناستم، او ما وئیلے : ما دَ الله نـه دا دعـاء غوښتلے ده چه ماته یو نیك ملګرے را نصیب کړی۔ نو تهٔ ماته یو داسے حدیث بیـان کړه چـه هـغه تا دَ رسول الله ﷺ نه آوریدلے وی، کیدے شی چه الله په هغے سره ماته نـفـع راکړی۔ هغهٔ وئیلے : ما دَ رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه فرمائیل ئے : « دَ ټولو نه مـخـکښے چـه دَ بنده سره په څهٔ کښے حساب کیږی، هغه ددهٔ مونځ دے۔ که چرے دا جوړ شـو نـو دے کامیاب شو او خپل مقصد ته اورسیدهٔ۔ اوکه چرے دا خراب را اووتهٔ، نو یقینًا چه دے نا امیده او ناکام شو »۔

(صحیح سنن النسائی : ٤٥١).

○ **ابو ایوب** انصاری ﷺ نـه روایت دے، چه یو سړی عرض اوکړو اے د الله رسوله ! ماته یو داسے عمل را اوښایه چه جنت ته مے داخل کړی ! نو نبی ﷺ اوفرمائیل : « دَ الله عبادت کوه، هغهٔ سره هیڅ شے برخه دار مهٔ ګنړه، مانځه پابندی کوه، زکات ورکوه، او صله رحمی پاله »۔ (بخاری، مسلم).

○ **هانئ** ﷺ نـه روایت دے، چه کله دے رسول الله ﷺ ته راغے، نو عرض ئے اوکړو۔ اے د الله رسولـه ! کـوم یـو شے جنت واجبوی ؟ وے فرمائیل : « تـا بـانـدے لازم دی چـه ښائسته خبرے کوے او په خلقو خوراك خوروے »۔

(رواه البخاری فی خلق أفعال العباد : ٢٤٦، والحاكم : ١/٢٣، وقال: حديث مستقيم ليس له علة قادحة ووافقه الذهبی).

○ **ابو ایوب** انصاری ﷺ نـه روایت دے، چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « څـوك چه په داسے حـال کښے راغے چه د الله بنده ګی ئے کوله، هغهٔ سره ئے هیڅ برخ دار نهٔ وو جوړ کړے، دَ مانځه پابندی کوی، زکات ورکوی، دَ رمضان روژے نیسی، دَ غټ ګناهونو نه ځان ساتی : نـو دهٔ دپاره جنت دے »۔ خـلـقـو تپوس اوکړو۔ غټ ګناهونه کوم کوم دی ؟ وے فرمائیل : الله سره شـرك کـول، مسلـمـان نـفـس وژل، او کـافـرانـو سره دَ جنګ پـه وخت میدان نـه تختیدل»۔(رواه أحمد : ٢٢٩٩١، بسند جيد).

○ **انس** ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے : « کوم بنده چه دَ خپل یو دینی ورور لاقـات دپاره لاړ شی، نـو دَ آسمان نه یو آواز کونکے آواز کوی چه : تهٔ هم مزیدار ئے او ـاره جنـت هم مزیدار دے۔ او الله دَ خپل عرش په بادشاهت کښے اوفرمائی : زما بنده ـاره زیـارت کوی، او ددهٔ میلمستیا زما په ذمه ده، نو زهٔ ددهٔ دپاره دَ جنت نه علاوه په

بله میلمستیا نهٔ راضی کیږم».

(رواه أبو يعلیٰ فی مسنده : ۱۰۲٤/۳، والبزار : ۳۸۸/۲، وجود إسناده الحافظ المنذری فی الترغيب : ۲۳۹/۳، وصححه الألبانی فی الصحيحة).

○ **ابو هریره** ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلی : « چاچه دَ یو مریض تپوس اوکړو، یا دَ الله دپاره دَ خپل یو ورور ملاقات له لاړ، نو یو آواز کونکے آواز کوی چه : تهٔ هم ښهٔ ئے او ستا تلل هم ښهٔ دی اوتا په جنت کښے ځان دپاره ځائے جوړ کړو».

(صحيح سنن الترمذی : ٥٠٢).

○ **ابو امامه** ﷺ فرمائی : ما دَ رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه په حجة الوداع کښے ئے خطبه فرمائیله. په هغے کښے ئے اوفرمائیل : « الله نه یریږئ چه ستاسو رب دے. خپل پنځه وخته مونځ کوئ. دَ رمضان روژے نیسئ. دَ خپلو مالونو زکوٰة اداء کوئ. او دَ خپلو امیرانو فرمانبرداری کوئ. نو تاسو به دَ خپل رب جنت ته داخل شئ».

(صحيح سنن الترمذی : ٥٠٢).



۲ - فائده

دیني علم یو عظیم نعمت دے

دا وجه ده، الله سبحانه وتعالیٰ ددے دَ زیات حاصلولو حکم کړے، لکه فرمائی : ﴿وقل رب زدني علمًا﴾ [طه : ۱۱٤]. (او وایه، اے ربه ! زما علم زیات کړے).

حال دا چه دَ بل هیڅ شئ دَ زیات حاصلولو امرئے نهٔ دے کړے. نو دے نه معلومیږی چه دا په ټولو نعمتونو کښې غوره نعمت دے. او ایمان هم په علم کښې داخل دے. امام احمدؒ فرمائی : علم سره هیڅ شے برابر نهٔ دے خو کله چه په دے سره د الله تعالیٰ رضا طلب کړے شي. (کتاب العلم دَ ابن عثیمینؒ).

دَ علم فضائل په قرآن، سُنت مطهره او اقوالو دَ سلفِ صالحینؒ کښې مشهور دی.

دلته مقصد زمونږ دادے چه علمِ شرعی دوه قِسمه دے :

۱ - دَ کتاب او سنت او احکامِ شرعیه ؤ دَ **ظاهر** علم.

۲ - دَ شریعت دَ **رازونو** او هغه عظیمو حکمتونو علم، کوم چه په کتاب او سُنتِ مطهره کښې پراتهٔ دی. او دیته په دے قول دَ الله تعالیٰ کښې اشاره شوے :

﴿ ولما بلغ أشده آتيناه حكما وعلمًا ﴾ [یوسف : ۲۲].

(او هر کله چه ځوانئ ته اورسیدهٔ نو مونږ ورته فیصلے او علم ورکړو). نو دلته ئے دَ فیصلو سره دَ علم تذکره کړے ده.

دارنګه په دے قول دَ الله تعالیٰ کښې هم ورته اشاره ده :

﴿ ولما بلغ أشده واستوىٰ آتيناه حكمًا وعلمًا وكذلك نجزى المحسنين ﴾ [قصص : ۱٤].

(او هر کله چه ځوانئ ته اورسیدهٔ نو مونږ ورته حکم او علم ورکړو او دغسے بدله مونږ هر نیک عمله خلقو ته ورکوو).

ابن مسعود ﷺ فرمائی :

من أخلص لله أربعين يومًا ظهرت ينابيع الحكمة من قلبه على لسانه.

(چا چه څلویښت ورځے په اخلاص سره دَ الله عبادت اوکړو، نو دهٔ په ژبه به ددهٔ دَ زړهٔ نه دَ

حکمت خبرے راښکاره شی)۔

دا مرفوع هم روایت شوے۔ (ترغیب : ۱)۔

○ بیا دَ **ظاهری** علم حاصلولو طریقه داده چه په خپل ځان باندے پنځه کارونه لازم کړی (۱) استماع (آوریدل)۔ (۲) انصات (خاموشی)۔ (۳) فهم او تدبر۔ (٤) حفظ۔ (٥) په خلقو کښ علم خورول۔

سفیان ثوری رحمه الله فرمائی : دَ علم اول آوریدل دی، بیا خاموشی اختیارول۔ بیا په **هغے** کښ سوچ کول، بیا دَ **هغے** یادول، او بیا دَ **هغے** خورول۔ (جامع بیان العلم وفضله)۔

دَ الله په کتاب کښ ددے دلیل دادے :

﴿ وإذا قرئ القرآن فاستمعوا له وأنصتوا لعلكم ترحمون ﴾ [اعراف : ٢٠٤].

(کله چه قرآن لوستے کیږی نو تاسو غوږ کیدئ او خاموشی اختیار کړئ دے دپاره چه په تاسو رحم اوکړے شی)۔

نو دلته ئے استماع او انصات دواړه ضروری کړی دی۔ او فرمائی :

﴿ فاستمع لما يوحىٰ ﴾ [طه :]. (دَ کوم شئ چه تاته وحی کیږی هغے ته غوږ کیده)۔

او فرمائی : ﴿ أفلا يتدبرون القرآن ﴾ [محمد : ٢٤]. (آیا دوئ په قرآن کښ سوچ نۀ کوی)۔

او فرمائی : ﴿ أفلم يدبروا القول ﴾ [مؤمنون : ٦٨]. (آیا دوئ په دے قرآن کښ سوچ نۀ دے کړے)۔

او فرمائی : ﴿ سنقرئك فلا تنسىٰ ﴾ [اعلىٰ].

(زر دے چه مونږه به ئے درته اولولو، نو تۀ به ئے نۀ هیروے)۔

او فرمائی : ﴿ ادع إلى سبيل ربك بالحكمة ﴾ [النحل : ١٢٥].

(دَ خپل رب لارے ته خلق په حکمت سره رابله)۔

او ددے ټولو دپاره بنیادی شے، دَ اوقاتو حفاظت کول دی، چه تانه عبث تیر نشی، یا په معمولی څیزونو کښ درنه اونۀ لګی۔

حديث شریف کښ دی : نعمتان مغبون فيهما كثير من الناس: الصحة والفراغ. (بخاری)۔

(دوه نعمتونه دی چه ډیر خلق په دے کښ تاوانیان دی : یو صحت او بل فراغت)۔

او مونږ دَ اوقاتو په حفاظت کښ یوه مستقله فائده ذکر کوو۔ ان شاء الله تعالىٰ۔

○ او هر چه دَ شریعت دَ **رازونو** او انوار قلبیه ؤ علم دے، نو دا په پنځو کارونو سره دے :

(۱) اتباعِ سُنت. (۲) دَ الله لحاظ ساتل. (۳) نفس دَ شهواتو (خواهشاتو) نه ساتل. (٤) نظر ښکته ساتل. (٥) او حلال خوړل.

شجاع کرمانی فرمائی: چاچه خپل ظاهر په سُنت برابر کړو، او خپل باطن ئې دَ الله په همیشه لحاظ ساتلو سره برابر کړو، او خپل ځان ئې دَ خواهشاتو نه بند کړو، او نظرئې دَ حرامو نه بچ کړو، او حلال خوراك ئې کولو، نو ددهٔ فراست به هیڅ کله خطاء نشي.

او فراست یو لدُنی علم دے چه الله سبحانه وتعالیٰ ئې بعضِ مؤمنانو ته ورکوی. لکه حدیث کښې دی: اتقوا فراسة المؤمن فإنه ينظر بنور الله. (ترمذی).

(دَ مؤمن دَ فراست (دَ زړهٔ هوښیارتیا) نه ځان اوساتئ ځکه چه دا دَ الله په نور سره کتل کوی).

او په دے پنځه واړه کارونو باندے دلیل، دَ الله تعالیٰ دَ کتاب او دَ نبوی سُنت نه دادے:

۱ - الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ يا أيها الذين آمنوا اتقوا الله وآمنوا برسوله يؤتكم كفلين من رحمته ويجعل لكم نورًا تمشون به ويغفر لكم ﴾ [حدید: ۲۸].

(اے ایمان والو! الله نه یریږئ او دَ هغهٔ په رسول باندے ایمان راوړئ، دَ خپل رحمت نه به درله دوه اندې درکړی او داسے رڼا به درکړی چه تاسو به دَ هغې په ذریعه ژوند تیروئ او بخښنه به درته اوکړی).

نو څوك چه په رسول الله ﷺ باندے ایمان اولری او دَ هغهٔ اتباع کوی، نو الله سبحانه وتعالیٰ به ورته رڼا ورکړی، چه دا نفع مند علم دے.

او الله فرمائی: ﴿ لتخرج الناس من الظلمات إلى النور ﴾ [ابراهیم: ۱].

(مونږ تاته کتاب دے دپاره نازل کړے چه تهٔ خلق دَ تیرو نه رڼا طرفته اوباسے).

نو رسول الله ﷺ خلق په خپلو پاکیزه سنتو سره دَ تیرو نه رڼا طرفته اوکاږی. او علم هم رڼا ده.

او نبی ﷺ فرمائی: تركتكم على المحجة البيضاءِ ليلها و نهارها سواء. (ابن ماجه).

(تاسو ما په لویه او واضحه لاره باندے پریخودئ چه دَ هغې شپه او ورځ یو برابر ده).

نو څوك چه نبی ﷺ پسے روان شو نو هغه په رڼا باندے روان دے، او دا هغه کس دے چه دَ نفع مند او ضروری څیزونو علم لری. او دروغ او رشتیا او نافرمانی پیژنی. په اتباعِ سُنت کښې چه کومے فائدے دی هغه مونږ روستو ذکر کوو، ان شاء الله.

۲ - او الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ ولما بلغ أشده آتيناه حكما وعلمًا ﴾ [یوسف: ۲۲].

(او هرکله چه یوسف ﷺ ځوانئ ته اورسیدهٔ نو مونږ ورته فیصلې او علم ورکړو)۔
﴿ ولما بلغ أشده واستوى آتيناه حكما وعلمًا ﴾ [قصص : ۱٤].
(او کله چه موسیٰ ﷺ ځوانئ ته اورسیدهٔ او برابر شهٔ، مونږ ورته علم او حکمت ورکړهٔ)۔
نو په احسان سره عجیب علمونه حاصلیږی، لکه چه دیته دا آیتِ کریمه اشاره کوی۔
او دَ احسان نه مراد په هر حالت، زمانه او هر قول او فعل کښې دَ الله لحاظ ساتل دی۔ لکه چه دا کار یوسف ﷺ کړے وو۔ دے چه دَ کومے ښځے په کور کښې وو، هغې ددهٔ نه غلطه مطالبه اوکړه، نو دهٔ وئیلی : په الله پورے پناه ! او د الله جلال او دلیل ئے رایاد کړو، او دا خبره چه ظالمان نشی کامیابیدلے۔ نو همدیته احسان وئیلے کیږی چه انسان په هر زمان او مکان کښې دَ الله لحاظ اوساتی۔ او په دے سره په انسان باندے علمونه پرانستے کیږی او زړونه روښانه کیږی۔
او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ واتقوا الله ويعلمكم الله ﴾ [بقره : ۲۸۳].
(الله نه یریږئ او الله تاسو له علم درکوی)۔
بعضو وئیلی دی چه : څوك تقویٰ اختیاروی یعنی دَ الله لحاظ ساتی، نو الله ورته علم ورکوی۔
په حدیث کښې دی : أفضل الإيمان أن تعلم أن الله معك حيثما كنت. (كنز).
(بهتر ایمان دادے چه تهٔ دا اوپیژنې چه کوم ځائے چه تهٔ ئے نو الله در سره دے)۔
نو کله چه بنده دا علم حاصل کړی چه چرته زهٔ یم، الله را سره دے، نو واقعی چه دے سړی حقیقی علم حاصل کړو۔
په **حدیث** کښې دی : ثلاث من كن فيه فقد طعم طعم الإيمان : وفيه .. وزكى نفسه. قيل : وما تزكية المرأ نفسه ؟ قال : يعلم أن الله معه حيث كان. (ذكره ابن كثير فى سورة الحديد).
(درے څیزونه دی چه په چا کښې دا وی نو دهٔ دَ ایمان خوند اوڅاکهٔ۔ یو په کښې دا څیز ذکر شوے چه دَ خپل ځان تزکیه اوکړی۔ چا عرض اوکړو، چه یو سړے به دَ خپل ځان تزکیه (پاکوالے) څنګه اوکړی ؟ وے فرمائیل : چه دا عقیده اولری چه الله ددهٔ سره دے چرته دے وی)۔
او ایمان تصدیق دے او تصدیق علم دے۔ نو دَ الله لحاظ ساتل علم او سبب دَ علم دے۔
○ او **علم** په درے قِسمه دے : روایت، درایت، رعایت۔ ﴿ فما رعوها حق رعايتها ﴾ [حديد ۲۷/۰

نو دَ الله لحاظ ساتل دا علم الرعایت دے۔

۳ - او الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ أفرأيت من اتخذ إلهه هواه وأضله الله علىٰ علم وختم على سمعه و قلبه وجعل على بصره غشاوة فمن يهديه من بعد الله ﴾ [جاثيه : ۲۳].

(آیا تا دَ هغه چا په باره کښې سوچ کړے چه خپل خواهش ئے اله جوړ کړو، او سره دَ علمه الله بے لارے کړے دے او ددهٔ په غوږونو او زړهٔ ئے مُهر لګولے، او ددهٔ په سترګو ئے ناشنا پرده اچولے، نو دَ الله دَ ګمراه کولو نه پس به دهٔ ته څوك هدایت اوکړی ﴾۔

نو دَ خواهش تابعداری کول ګمراهی اوپه زړهٔ او غوږونو باندے دَ مُهر لګولو سبب، او په سترګو باندے دَ پردے اچولو ذریعه ده۔ نو دے کس ته به بیا څنګه هدایت، معرفت او صحیح علم حاصل شی؟

دَ علم دَ حاصلولو درے طریقے دی: فکر، استماع او نظر۔ او دا ټولے طریقے په دے مسکین باندے بندے شوے۔ په الله پورے پناه!

او الله تعالیٰ دَ هغه عالم په باره کښې چه هغه دَ خپل صحیح علم نه واوړیدهٔ فرمائی:

﴿ واتبع هواه فمثله كمثل الكلب ﴾ [اعراف : ۱۷٦].

(دهٔ دَ خواهش تابعداری اوکړه نو ددهٔ مثال لکه دَ سپی دے)۔

نو دا یو جاهل او دَ سپی پشان لالچی اوګرزیدهٔ۔

دَ لوط علیه السلام په قصه کښې دی چه هغهٔ خپل قوم ته اوفرمائیل:

﴿ بل أنتم قوم تجهلون ﴾. (نمل). (بلکه تاسو یو جاهل قوم ئے)۔

نو دوئ ته ئے جاهل اووئیل او زورنه ئے ورکړه چه تاسو چه خواهشاتو پسے لګیا ئے نودا قبیح جهالت دے۔

دے وجے نه څوك چه خاص دَ الله عز وجل دپاره خپل خواهشات پریدی، نو الله به ورته ناشنا علم ورکړی۔

٤ - په حدیث کښې دی: النظر سهم مسموم من سهام إبليس، فمن تركها من مخافتي، أبدلته إيمانًا يجد حلاوته في قلبه.

(نظر دَ ابلیس دَ غشو نه یو زهریله غشے دے، نو چاچه دا زما دَ ویرے پریخودهٔ، زهٔ وربه ددے په عوض کښې داسے ایمان ورکړم چه دَ هغے خوند به په خپل زړهٔ کښې بیامومی)۔

دا حدیث خلال او اصحاب السنن روایت کړے، او شیخ الاسلام ورته حسن وئیلے۔

نو ایمان دَ ټولو علمونو نه افضل علم دے۔

ابن قیم رحمه الله دَ نظر ښکته ساتلو په فائدو کښې فرمائی : نظر ښکته ساتل انسان باندې دَ علم او معرفت دروازه پرانیزی، ځکه جزاء دَ عمل دَ جنس نه وی۔ چه څوك دَ حرامو نه خپلې سترګې پټوی، الله به ددهٔ دَ زړهٔ سترګې پرانیزی، او دومره حقائق او رازونه به اووینی چه هغه ددهٔ دپاره دَ دُنیا او مافیها نه هم بهتر دی۔ نظر ښکته کول زړهٔ روښانه کوی او مضبوطوی ئې، و الحمد لله۔

او زمونږ په دې دور کښې نظر ښکته ساتل ډیر ګران کار دې، ځکه فتنې ډیرې شوی او فاحشات او بې حیائی زیاته شویده۔ په الله پورې پناه ! والله المستعان.

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وقل للمؤمنین یغضوا من أبصارهم ویحفظوا فروجهم ذلك أزكىٰ لهم والله خبیر بما یصفون ﴾ [نور : ۳۰].

(مؤمنانو سرو ته اووایه چه خپل نظرونه ښکته ساتی او دَ خپلو عورتونو حفاظت کوی، دا کار د دوئ دپاره ډیره پاکیزه دې، او الله په هغه څهٔ خبردار دې کوم چه دوئ بیانوی)۔

نو په نظر ښکته لرلو او دَ شرمګاه په حفاظت کښې دَ مؤمنانو دپاره لویه تزکیه ده۔

شرعی علمونه او قرآنی رازونه صرف په پاك او پاکیزه نفسونو باندې را کھلاویږی، نهٔ په نجس او خبیث نفسونو باندې۔

امام زرکشیؒ په البرهان کښې فرمائی : دَ قرآن علم او رازونه په هغه چه نهٔ پرانستې کیږی دَ چاپه زړهٔ کښې چه دَ دُنیا محبت وی، لکه چه ددې تفصیل به مونږ ان شاء الله روستو اوکړو۔ او دَ ټولو خواهشاتو سر دَ دُنیا محبت دې۔

۵ – او په دې خبره دلیل چه حلال خوړل په صحیح علم او عمل باندې انسان سره مدد کوی : دا قول دَ الله تعالیٰ دې :

﴿ یا أیها الرسل كلوا من الطیبات واعملوا صالحًا إنی بما تعملون علیم ﴾ [مؤمنون : ۵۱].

(اې رسولانو ! تاسو پاکیزه څیزونه خورئ او نیك عمل کوئ بیشکه چه زهٔ ستاسو په عملونو خبردار یم)۔

سهلؒ فرمائی : څوك چه حرام خوری، که دې غواړی که نهٔ غواړی، د الله نافرمانی به کوی، او څوك چه حلال خوری، دې غواړی کهٔ نهٔ غواړی دَ الله اطاعت به کوی۔
(الدین الخالص : ۵، ابن کثیر).

او حرامو سره زړهٔ پلیت او خیرن کیږی نو دابه څنګه دَ دینی علومو او اِلهی رازونو ځائې جوړ شی۔ او هر هغه غوښه چه دَ حرامو نه راټوکیدلې وی نو دَ هغې سره اور ډیر لائق دې۔

په **حدیث** کښې دي : ألا إن في الجسد مضغة إذا صلحت صلح الجسد كله، وإذا فسدت فسد الجسد كله، ألا وهي القلب. (بخاری، مسلم).

(خبردار! بیشکه په بدن کښې یوه ټکړه ده، چه هغه کله روغه وي نو ټول بدن روغ وي، او چه خرابه شي نو ټول بدن خرابیږي، او هغه زړهٔ دے)۔

نو په دے حدیث کښې ئې دَ زړهٔ دَ جوړوالي او خرابوالي تذکره دَ حرامو او حلالو او شبهاتو ذکرکولو نه پس کړیده، لکه چه دا دَ دغه حدیث دَ مخکښو جملو نه معلومیږي۔

نو په دے کښې دیته اشاره ده چه دَ زړهٔ جوړ والے په حلال خوړئ سره دے، او ددے خرابي په حرامو او مشتبه څیزونو خوړلو سره ده۔ او دا معلومه ده چه کله زړهٔ روغ شي نو دا دَ انوارو، حِکمتونو او اسرارو ځائے دے۔ او کله چه خراب شي نو بیا دے سره صرف غم، همّ، افسوس، حیرانتیا او اور لائق دے۔

○ بیا زمونږ په دے دور کښې درے **علمونه** ورك شوي دي :

(۱) علم الخشوع۔ (۲) علم بعلم الله عز وجل۔ (۳) علم تدبر القرآن۔

۱ - نو دَ خشوع او رب العالمین ته دَ عاجزئ علم ډیر زیات ضروري دي، په دے سره دَ معرفت او ایمان دروازے کهلاویږي، او دَ ایمان سره دَ مؤمن ایمان زیاتیږي۔

بیا خشوع په ناسته پاسته کښې، په مزل کښې، په سورلئ کښې، په لباس کښې، په خبرو کښې، په مانځه کښې، په نظر کښې، او خلقو سره په ملاقات ټولو کښې وي۔ او دا وي په زړهٔ کښې خو اثرئے په بدن باندے راښکاره کیږي۔

لکه امام طبري ؒ دَ ابو الدرداء ﷺ نه روایت کوي چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : أول شئ يرفع من هذه الأمة الخشوع، حتى لا ترى فيها خاشعًا.

(اولنے څیز چه ددے امت نه به پورته کیږي، خشوع ده، تردے چه ته به په دوئ کښې هیڅوك خشوع کونکے نهٔ مومے)۔

(صحيح الجامع : ۱/۵۰۲، رقم : ۲۵۶۹). او دا صحیح حدیث دے۔

او په سنن ترمذي (۲/۹۴) کښې دَ عبادة بن صامت ﷺ نه روایت دے چه دا جبیر بن نفیرؒ ته فرمائي : ابو الدرداء رښتیا وئیلي دي، کهٔ ستا خوښه وي نو زهٔ به تاته اولنے هغه علم اوښایم چه هغه به دَ خلقو نه پورته کیږي، هغه خشوع ده۔ نزدے ده چه ته به یو جامع مسجد ته ننوځے او په هغے کښې به درته خشوع کونکے سړے ملاؤ نشي)۔

واقعي چه زمونږ نبي ﷺ او ابو الدرداء او عباده بن صامت - رضي الله عنهما - ټولو

رشتیا وئیلي۔ خشوع زمونږ نه تلے ده۔ نۀ دا په مانځه کښې شته اونۀ په بل یو عمل کښې۔ حال دا چه دا دَ مؤمنانو دَ صفاتو نه یو مهم صفت دے۔ الله تعالیٰ فرمائي :

﴿ والخاشعين والخاشعات ﴾ [احزاب : ۳۵].

(او خشوع کونکي نارینه او خشوع کونکي زنانه)۔

۱ - او نبي ﷺ به دَ خوراك دپاره په بستره باندے نۀ کیناستۀ او نۀ به په پړلتيئ سره کیناستۀ، اونۀ به ئے په دے وخت تکیه وهله۔ او په میز او تیبل به ئے هم خوراك نۀ کولو۔ نبي ﷺ فرمائي : لا آكل متكئاً. (بخاري، مسلم).

(زۀ تکیه لګولو سره خوراك نۀ کوم)۔

او امام بخاريؒ دَ انس ﷺ نه روایت کوی چه : نبي ﷺ هیڅ کله په میز باندے خوراك نۀ دے کړے۔ (مشکاة : ۳۶۳/۲).

دا هرڅۀ رب العالمین ته دَ تواضع او عاجزئ کولو دپاره وو۔

دا وجه ده چه خپله فرمائي : آكل كما يأكل العبد وأجلس كما يجلس العبد، فإنما أنا عبد.

(زۀ دَ الله عاجز بنده یم، دَ مرئي پشان خوراك کوم او دَ مرئي پشان ناسته پاسته کوم)۔

(رواه في شرح السنة، صحيح الجامع، مشكاة : ۵۲۱/۲).

عائشه رضی الله عنها فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : «اے عائشه ! کۀ تۀ غواړے نو ماسره به دَ سرو زرو غرونه روان شي۔ ماته یو داسے ملائك راغے چه دَ هغۀ بډه دَ کعبے سره برابره وه او راته ئے اووئیل : ستا رب په تا سلام کوی او دا وائي چه تۀ بنده نبي جوړیدل غواړے اوکۀ ملائك نبي ؟ نو ما جبرئیل ﷺ ته اوکتل، نو هغۀ ماته اشاره اوکړه چه خپل ځان ښکته کړه۔ په بل روایت کښې دی : رسول الله ﷺ جبرئیل علیه السلام ته اوکتل لکه چه دَ هغه نه مشوره غواړی، نو جبرئیل په خپل لاس سره اشاره اوکړه چه تواضع اوکړه۔ نو ما اووئیل : زۀ بنده نبي جوړیدل غواړم۔ نو دے نه پس به رسول الله ﷺ په تکیه لګولو سره خوراك نۀ کولو۔ او فرمائیل به ئے زۀ داسے خوراك کوم لکه څنګه چه بنده خوراك کوی، او داسے ناسته کوم څنګه چه بنده کیني)۔

(رواه في شرح السنة وهو في المشكاة : ۵۲۱/۲).

نو اوګوره دَ نبي ﷺ تواضع ته چه په ناسته پاسته وغیره کښې ئے اختیار کړیده۔

او نبي ﷺ به په مسجد کښې دَ احتباء په شکل کیناستۀ۔

(احتباء دیته وائي چه ګُناټے اولګوی او دواړه ګودے اودروی)۔

او دَ قيله بنت مخرمه رضي الله عنها په حديث کښې دي چه دے رسول الله ﷺ په مسجد کښې اوليدلو چه دَ قُرفصاء په شکل ناست وو. دا وائي : کله چه ما رسول الله ﷺ دَ عاجزئ په شکل ناست اوليدلو نو دَ ويرے نه اورپيدم).
(أبو داود، بإسناد صحيح، المشكاة : ٢/٤٠٤).
او دا قانون دے چه څوک الله ته عاجزي کوي نو خلق دَ هغهٔ نه يريږي. او نبي ﷺ به هميشه دپاره په خپله ناسته پاسته کښې دَ خشوع خيال ساتلو.
او نبي ﷺ فرمائيلي : لا يقيم الرجل الرجل من مجلسه ثم يجلس فيه، ولكن توسعوا وتفسحوا . (بخاري، مسلم).
(يو کس دے بل کس دَ خپل ځائے نه نهٔ پاسوي چه بيا په کښې پخپله کيني، بلکه فراخي او کشادگي پيدا کوئ).
ځکه دا کار کول تکبر او لوئي ده.

٢ - په مزل کښې هم خشوع ضروري ده :

دا وجه ده چه نبي ﷺ باره کښې راځي چه کله به دوئ مزل کولو نو ښکته به مائله وو، گوياکه دا ښکته کوزيږي.(ترمذي).
او نبي ﷺ به فرمائيل : من تعظم في نفسه أو اختال في مشيته، لقي الله وهو عليه غضبان. (صحيح الجامع).
(چاته چه په خپل زړهٔ کښې ځان لوئے ښکاره شو، او يائے په خپل مزل کښې تکبر اوکړو، نو الله سره به په داسے حال کښې ملاؤ شي چه هغه به ورته غصه وي).
او نبي ﷺ به فرمائيل : بينما رجل يتبختر في بردين وقد أعجبته نفسه، خُسف به الأرض فهو يتجلجل فيها إلى يوم القيامة. (بخاري، مسلم عن أبي هريرة).
(يو ځل يو سړے په لنگ او څادر کښې په کبرسره روان وو چه خپل ځانته غرّه وو، هغه په زمکه اوتومبلے شو، نو دا به قيامته پورے په کښې روان وي).
په ترمذي (٢/٢٥٦) کښې صحيح حديث دے نبي ﷺ فرمائي : إذا مشت أمتي المطيطاء، وخدمتهم أبناء الملوك أبناء فارس والروم، سلط الله شرارها على خيارها.
(کله چه زما امت دَ نخرے مزل شروع کړي او دَ روم او فارس بادشاهانو اولاد دَ دوئ خدمت کوي، نو الله به دَ دوئ په بهترينو خلقو باندے دَ دوئ بدترين خلق مسلط کړي).

مطيطاء : داسې مزل چه په هغې کښې سينه را اوباسي او دواړه لاسونه خوزوي او په تکبر روان وي. چه ددې مزل کولونه په دې حديث کښې سخته منع راغلې، ولې چه دا دَ متکبرانو خلقو مزل دې.

نو اوګوره ! رسول الله ﷺ مونږ ته په مزل کولو کښې څنګه په خپل قول او عمل دواړو سره تعليم راکوي ؟ الله تعالیٰ دې هغوئ ته زمونږ او دَ الله دَ دين دَ طرفه غوره بدله ورکړي !

او حديث کښې دي : نبي ﷺ به دا بده ګڼړله چه دَ هغوئ پسې روستو څوك روان وي، بلکه ښي او ګس طرفته به ترينه روان وو. (الصحيحة، رقم : ١٢٣٠).

دغه شان نبي ﷺ به چه کله روان وو، نو دَ هغوئ ملګري به هغوئ نه مخکښې روان وو، او دَ هغوئ (ﷺ) شا به ئې ملائکو ته پريخودله. (الصحيحة، رقم : ٢٠٨٧).

٣ - په سورلئ کښې دَ خشوع تعليم ورکول :

عبد الله بن شداد ﷺ دَ نبي کريم ﷺ دا ارشاد مبارك نقل کوي، چه هغوئ فرمائي :

من لبس الصوف واعتقل الشاة - أي ليحلبها - وركب الحمار وأجاب دعوة الرجل الدون أوالعبد : لم يكتب عليه من الكبر شئ.

(چا چه وړينه کپړه واغوسته، او دَ شلولو پاره ئې ګډه بزه اوتړله، او په خرهٔ باندې ئې سورلی کوله، او دَ ښکته سړي يا دَ مرئي دعوت ئې قبلولو. نو په دهٔ باندې به دَ تکبر نه هيڅ حصه اونهٔ ليکلې شي). (أخرجه أحمد في الزهد، ص : ٢٠).

ددې حديث سند ضعيف دې، مګر حديث صحيح دې.

شيخ الباني په الصحيحة (رقم: ٢٢١٨) کښې دَ ابو هريره ﷺ حديث نقل کړې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل :

ما استكبر من أكل معه خادمه وركب الحمار بالأسواق واعتقل الشاة فحلبها.

(هغه څوك متکبر نهٔ دې چه خادم ورسره شريك خوراك کوي، په بازارونو کښې په خرهٔ سورلی کوي، او دَ لشلو دپاره ګډه بزه تړي).

په الرحيق المختوم (ص : ٤٠٣) کښې دي : رسول الله ﷺ روان شو، تردې چه ذي طوىٰ مقام ته اورسيدهٔ. او دَ نبي ﷺ دا عادت مبارك وو، چه کله به ئې اوليدل چه الله تعالیٰ په فتح سره دَ دوئ عزت اوفرمايهٔ، نو خپل سر به ئې الله تعالیٰ ته په عاجزئ باندې په سورلئ کيخودلو، تردې چه دَ دوئ دَ ګيرې مبارکې ويښتان به نزدې وو چه دَ پالان درمياني لرګي

سره اولګی۔

ابن عباس ﷺ فرمائی : « نبی ﷺ نه به خلق نهٔ دهکه کولے شو او نهٔ به ترے وهلے شو»۔ (الصحیحة، رقم : ۲۱۰۷).

حدیث کښې دی : قدامه بن عمار ﷺ فرمائی : « ما رسول الله ﷺ په داسے حال کښې اولیدلو چه دَ صفا مروه ترمینځه ئے په اوښ باندے سعی کوله، چه نهٔ ترے څوك وهلے شړلے شو، او نهٔ دا وینا وه چه : اخوا شئ دے خوا شئ »۔

(رواه فی شرح السنة والمشکاة : ۲۲۸/۱).

ثمامه ﷺ فرمائی : انس ﷺ په یوه سورلئ حج اوکړو، حال دا چه دا څهٔ بخیل نهٔ وو۔ بلکه دهٔ دا بیان اوکړو چه نبی ﷺ په یوه سورلئ حج کړے وو، چه په همدے سورلئ باندے دَ نبی ﷺ سامان هم پروت وو۔ (بخاری : ۲۰۵/۱).

یعنی : الله ته دَ عاجزئ دَ وجے نه ئے په یو پالان (سورلئ) باندے حج اوکړو، سره ددے چه دَ عُمده سورلئ طاقت ئے هم لرلو۔

او نبی ﷺ دَ سرو ریښمینو په ګدیو باندے دَ سوریدو نه منع فرمائیلے، دارنګه دَ درنده ګانو په څرمنو باندے دَ سوریدو نه ئے منع فرمائیلے۔ ځکه چه دا دَ کبرجنو خلقو کار دے۔

٤ - په لباس کښې دَ خشوع او تواضع بیان :

دے باره کښې ډیر احادیث او آثار راغلی۔ مونږ دَ هغے نه بعضِ ذکرکوو :

انس الجهنی ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے : من ترك اللباس – وفی روایة : لبس ثوب جمال – تواضعًا لله وهو یقدر علیه : دعاه الله یوم القیامة علی رؤس الخلائق حتی یخیّرهُ من أیّ حلل الإیمان شاء یلبسها.

(چاچه الله ته دَ تواضع او عاجزئ دَ وجے نه ښائسته جامه اغوستل پریخودل، حال دا چه دا په دے قادر وو، نو الله تعالیٰ به ئے دَ قیامت په ورځ دَ ټولو مخلوقاتو مخامخ را اوبلی او دا اختیار به ورکړی چه دَ ایمان کومه جوړه اغوستلے شے وائے غونده)۔

(حاکم، ترمذی، أحمد : ٤٣٩/٣).

یعنی: دَ جنت هغه جوړے چه ایمان والا به ئے آغوندی۔

نو دا په لباس کښې تواضع ده او دا په اصل کښې دَ الله نه حیاء کول دی، لکه په بل حدیث کښې دی : دَ الله نه لائقه حیاء اوکړئ۔ او په دے کښې دا الفاظ دی : او دَ دنیا ډول ډهال ئے

پریخودلو۔ (چه دا حدیث په اولنی جلد کښ تفصیلًا تیر شوے)۔

او نبی ﷺ فرمائی : ألا تسمعون ؟ ألا تسمعون ؟ إن البذاذة من الإيمان، إن البذاذة من الإيمان. (أبوداود : ٤١٦١).

(آیا تاسو نهٔ آورئ ؟ آیا تاسو نهٔ آورئ ؟ چه بیشکه عُمده جامے پریخودل دَ ایمان نه دی، ښائسته جامے آغوستل پریخودل دَ ایمان نه دی)۔

بذاذت : زیګوالے اختیارول، او ډیر زیات ډول او فاخر لباس پریخودل۔

او زیګوالے دَ ایمان حصه ګرځولو کښ یو ناشنا راز دے، او هغه دا چه کله سړے زیګوالے اختیار کړی سره ددے چه دا په فاخر لباس آغوستلو باندے قادر وی، نو دا ددے خبرے دلیل دے چه دا سړے دَ الله دَ نظر نه حیاء کوی، او الله دپاره تواضع اختیاروی۔ او ایمان هم دے استحضار، احسان، او دَ الله لحاظ ساتلو ته وائی۔ والله المستعان.

دا وجه ده چه نبی ﷺ دَ لنګ، قمیص او پټکی زوړندولو نه منع فرمائیلے۔ دارنګه دَ ریښمین او شهرت والا لباس آغوستلو نه ئے منع فرمائیلے۔ او فرمائی :

من لبس الشهرة فی الدنیا، ألبسه الله ثوب مذلة یوم القیامة.

(چا چه په دنیا کښ دَ شهرت جامه واغوستله، الله تعالیٰ به دَ قیامت په ورځ دهٔ ته دَ ذلت جامه واچوی)۔ (أصحاب السنن).

دارنګه نارینه ئے دَ سرو وغیره نه منع کړی، ځکه چه دا دَ خشوع، تواضع او عبودیت نه خلاف دی۔

ابن عباس رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل :

بينما رجل فی حلة له ینظر فی عطفیه، إذ خسف الله به فهو یتجلجل فیها إلی القیامة.

(یو ځل یو سړی یوه جوړه اچولے وه او - دَ تکبر دَ وجے نه ئے - خپلو دواړو اوګو ته کتل، چه ناګهانه الله په مزکه اومنډلو، چه قیامته پورے به په هغے کښ روان وی)۔

(الصحیحة، رقم : ١٥٠٧).

او الله دا کار دَ قارون سره کړے وو، چه هغه خپل قوم ته په خپل ډول او ښائست کښ را اووتلو۔ نو الله فرمائی : ﴿ فخسفنا به وبداره الأرض ﴾ [قصص : ٨١].

(نو مونږ دے او دهٔ کور په زمکه اومنډلو)۔

او په زمکه منډل دَ متکبرانو نخره بازو سره مناسب دی۔ په الله پورے پناه !

٥- په خبرو اترو کښې خشوع او تواضع :

په خبرو اترو کښې هم خشوع ډیره ضروري ده، ځوك چه ددے نه غافل وی، نو دَ هغهٔ په تباهئ کښې شك نشته. علماء فرمائی : مؤمن له پکار دی چه دَ «زهٔ» او «ما سره» او «زما دپاره» الفاظو نه ځان اوساتی. ځکه چه «زهٔ» کلمه دَ ابلیس ده.

﴿ قال : أنا خير ﴾ [اعراف : ١٢]. (ابلیس وئیلی : زهٔ ددهٔ نه غوره یم).

او «ما سره» دَ قارون خبره وه. ﴿ قال إنما أوتيته على علم عندى ﴾ [قصص : ٧٢].

(قارون وئیلی : دا خزانے ماله دَ هغه علم په وجه راکړے شوی دی کوم چه ماسره دے).

او «زمادپاره» دَ فرعون بکواس وو، چه هغه وئیلی وو :

﴿ أليس لى ملك مصر وهذه الأنهار تجرى من تحتى ﴾ [زخرف : ٥٦].

(آیا زما دپاره دَ مصر بادشاهی نهٔ ده او دا نهرونه زما په تصرف کښې نهٔ بهیږی ؟).

په حدیث کښې دی : « موسیٰ عليه السلام تـه اووئیلے شو : آیا تاته دَ خپل ځان نه بل زیات پوهه معلوم دے ؟ هغه وئیلی : نه. نو الله تعالیٰ ته دا خبره خوښه ښکاره نشوه، ولے چه هغهٔ الله تـه علـم واپس نـکړو. (چه الله دَ هرچانه زیات پوهه دے). نو الله اوفرمائیل : هاؤ. زمونږ بنده خضر تاته زیات پوهه دے.. الحدیث». (بخاری).

دَ صهیب رضي الله عنه په حدیث کښې دی : « رسول الله ﷺ بـه چه کله مونځ اوکړو، نو په داسے خبرو بـه ئے خُـلـه خوزوله چه زهٔ بـه پرے نهٔ پوهیدم اونهٔ بـه ئے مونږ تـه دَ هغے خبر راکولو. وے فرمائیل : آیا تاسو په ما پوهه شوی یئ ؟ مونږ وئیلے : هاؤ. وے فرمائیل : ما په انبیاؤ کښې یـونبی رایاد کړو چـه هغهٔ تـه ددهٔ دَ قوم نه ډیرے لښکرے ورکړے شوے وے - په بل روایت کښې دی : هغه دَ خپل امت په کثرت خوشحاله شو - او وے فرمائیل : دوئ سره بـه څـوك بـرابـر شی ؟ - یـا دوئ تـه بـه څوك تینګ شی ؟ - نو الله ورتـه وحی اوکړه چه دَ خپل قـوم دپاره پـه درے کـارونو کښې یو کار غوره کړه. یا خو به مونږ دَ دوئ نه غیر بل څوك په دوئ باندے مسلط کوو. او یابه په دوئ لوږه یا مرګ مسلط کوو. نو هغه نبی دَ خپل قوم سره پـه دے بـاره کښې مشوره اوکړه. نو هغوئ ورتـه اووئیل : تهٔ دَ الله نبی ئے، دا ټولے خبرے تـاتـه سپارلے شوی دی، تهٔ مونږ له په دے کښې یوه غوره کړه. نو هغه مونځ تـه اودریدهٔ. او دَ هـغـوئ دا عـادت وو چـه کله بـه خوفزده شو، نو مونځ تـه بـه ئے منډه کړه. نو الله چه څومره مـونـځ غـوښـتـلـو هـغـه ئے اوکړو، او بیائے دعاء اوغوښته : اے ربه! دَ دوئ نه سیوا بل څوك

دشمن خو په دوئ مهٔ مسلط کوه- دارنګه لوږه هم پرې مهٔ مسلط کوه- البته مرګ مسلط کړه- نو الله په دوئ مرګ مسلط کړو، او دَ دوئ نه په يوه ورځ کښې اويا زره کسان مړهٔ شول- نو زما هغه خبره چه زهٔ په هغې باندې خُله خوزوم، هغه داده چه زهٔ وايم :

اللهم بك أحول، وبك أصول وبك أقاتل. وفي رواية : ولا حول ولا قوة إلا بك.

(اې الله ! زهٔ پتاسره طاقت حاصلوم، او پتا سره حمله کوم، او پتا سره جنګ کوم- په بل روايت کښې دي : او نشته ګرځيدل دَ ګناه نه، اونهٔ طاقت ورکول په طاعت باندې مګر په تاسره دي)- (الصحيحة، رقم : ٢٤٥٩).

نو دې حديث نه قولي او قلبي دواړه خشوع معلوميږي، او داسې خبره چه دَ هغې نه دَ خودَ پسنديُ خطره وي نو دَ هغې نه ځان ساتل پکار دي، لکه څنګه چه دا کار نبي ﷺ اوکړو-

قتاده ؒ نه نقل دي چه دهٔ يو ورځ اوفرمائيل : مانه هيڅ يو شے نهٔ دے هير شوے- نو لږ ساعت پس ترې دواړه څپلئ چه په لاس کښې ئے نيولې وې هيرې شوې-او شاګرد ته ئے اووئيل : زما څپلئ څهٔ شوې ؟ هغهٔ وئيلې : ستا په لاس کښې دي-

ابن قيم رحمه الله فرمائي : دَ دعوو کولو نه زياته پرده دَ الله او دَ بنده ترمينځه نشته، او نهٔ هغهٔ ته دَ فقر نه علاوه بله نزدې لاره شته- (مدارج)-

داوجه ده چه زمونږ دپاره ئې په هره خبره کښې دا مشروع کړې دي چه مونږ : ان شاء الله اووايو- الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ ولا تقولن لشيئ إني فاعل ذلك غدًا إلا أن يشاء الله ﴾ [كهف : ٢٣].(او دَ هيڅ شيئ په باره کښې داسې مهٔ وايه چه زهٔ به صباله دا کوم مګر داچه کهٔ الله ئې اوغواړي)-

٦ - په مانځه کښې دَ خشوع بيان :

په مانځه کښې هم خشوع ډيره زياته ضروري ده- تردې چه په کوم مونځ کښې خشوع نهٔ وي نو هغه مونځ له هيڅ اعتبار نشته- خشوع خو دَ مانځه روح دے- الله تعالىٰ فرمائي :

﴿ قد أفلح المؤمنون الذين هم في صلاتهم خاشعون ﴾ [مؤمنون : ١، ٢].

(بيشکه مؤمنان مُراد ته اورسيدل چه دوئ په خپلو مونځونو کښې خشوع کونکي دي)-

نو څوك چه په مانځه کښې خشوع نهٔ کوي، دَ هغهٔ هيڅ مونځ نشته-

او نبي ﷺ فرمائي: مامن مسلم تحضره صلاة مكتوبة فيحسن وضوؤها وخشوعها وركوعها إلا كانت كفارة لما قبلها من الذنوب، مالم يؤتَ كبيرة وذلك الدهر كله. (مسلم).
(كوم مسلمان بانديے چه دَ مانځه وخت راشي او هغه ددے دپاره ښۀ اودس، خشوع او ركوع اوكړي، نو دا مونځ به ددۀ دَ مخكنو گناهونو كفاره جوړه شي، ترڅو پورے چه غټے گناه ته راتګ اونۀ كړي، او دا كار توله زمانه جاري وي).
په اوله جلد كښ په مانځه كښ دننه د خشوع بيان په تفصيل سره په فائده نمبر (٥٧) كښ تير شوے دے.

٧ - په نظر كښ دَ خشوع بيان:

په نظر كښ خشوع داده چه بغير دَ ضرورت نه ښي او كس طرفته نۀ گوري، اونۀ په بے فائدو څيزونو كښ نظر گرځوي. ځكه چه فضول نظرونه كول لكه دَ فضول خبرو غونته ضرري دي. سلفو به فضول نظرونه كول بد گنړل. تردے چه په دوئ كښ بعضو دا هم بده گنړلے چه دَ خوښولو دَ وجے نه دَ مالداره خلقو بنګلو ته اوكتلے شي. الله فرمائي:
﴿ولا تمدن عينيك إلى ما متعنا به أزواجًا منهم زهرة الحياة الدنيا لنفتنهم فيه﴾ [طه ١٣١].
(او خپلے دواړه سترگے هغه څۀ ته مه اوږدوه چه په هغے سره مونږ هَم شكله خلقو ته دَ دوئ نه فائده وركړے چه هغه دَ دنيوی ژوند تازگی ده، دا دے دپاره ده چه مونږ په دوئ بانديے په دے كښ آزمائش اوكړو).

محمد بن عبد الله العابد رحمه الله فرمائي: چاچه فضول نظر پريخودۀ نو دۀ ته به دَ خشوع توفيق وركړے شي، او چا چه كبر پريخودۀ، نو دَ تواضع توفيق به ورته وركړے شي، اوچاچه فضول خبرے پريخودے، نو دَ حكمت توفيق به ورته وركړے شي، اوچاچه فضول خوراك پريخودۀ نو دَ عبادت دَ خوند توفيق به ورته وركړے شي، اوچاچه توقے پريخودے نو دَ تازگئ او رونق توفيق به ورته وركړے شي. اوچاچه خندا پريخوده، نودَ هيبت توفيق به ورته وركړے شي، او چاچه رغبت پريخودۀ، نو دَ محبت توفيق به ورته وركړے شي - يعني چاچه دَ خلقو نه طمع قطع كړه، نو خلق به ورسره مينه اوكړي - اوچاچه جاسوسي پريخوده، نودَ خپلو عيبونو دَ اصلاح توفيق به ورته وركړے شي. او چاچه دَ الله په صفاتو كښ وهمونه كول پريخودل، نو دَ شك او نفاق نه به ورته نجات وركړے شي.
او دا ډير زيات عُمده كلام دے. دا په (التنبيه: ٢١٥/١) كښ ذكر شوے. او مخكښ دَ

خوف په فائده نمبر (۶۰) کښې ذکر شوے۔
نو فضول نظر پریخودل خشوع پیدا کوی۔ په مانځه کښې ددهٔ سست والے تواضع دے، او دَ غټو خلقو مخامخ ددهٔ سستوالے حیاء ده۔

۸ - خلقو سره دَ ملاویدو په وخت خشوع او تواضع :

دَ خلقو په ملاقات کښې خشوع داده چه د دوئ خدمت اوکړے شی او دوئ سره په فراخ تندئ سره ملاقات اوکړی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ ولا تصعّر خدك للناس ولاتمش فی الأرض مرحًا، إن الله لا یحب کل مختال فخور، واقصد فی مشیك واغضض من صوتك إن أنکر الأصوات لصوت الحمیر ﴾ [لقمان : ۱۹].

(او خلقو سره دَ خبرو کولو په وخت خپل مخ مهٔ اړوه۔او په زمکه په تکبرسره مهٔ ګرځه بیشکه الله دَ هیڅ متکبر فخر کونکی سره مینه نهٔ کوی، او په خپل مزل کښې میانه روی کوه او خپل بعضِ آوازونه ښکته ساته بیشکه چه دَ ټولو نه زیات بد آواز دَ خرهٔ دے)۔

نو دا ټول آداب تواضع ده۔ چه په دے کښې سوچ اوکړه۔

او نبی ﷺ به دَ کنډو رنډو سره هم تللو تردے چه یو ے وینځې به دَ هغوئ لاس اونیولو۔

نو نبی ﷺ به ورته اوفرمائیل : اے دَ فلانی مورے ! په کومه کوځهٔ کښې تهٔ غواړے چه حاجت دے پوره کړم۔

او نبی ﷺ دَ خلقو عزت کولو او کله به ئے چه چاسره مصافحه اوکړه نو دَ هغهٔ دَ لاس نه به ئے خپل لاس نهٔ اوخکلو تردے چه هغهٔ به دَ نبی ﷺ لاس پریخودلو۔

دارنګه تواضع داده چه دَ حاجت والو دَ حاجت نه ځان پټ نهٔ کړی۔ او هرچه دَ فضولیاتو والو او دَ وخت ضائع کونکو نه پرده کولَ دی، نو دا خو لازم دی۔

او نبی ﷺ فرمائی : البادئ بالسلام برئ من الکبر.
(په سلام باندے شروع کونکے دَ کبر نه بیزاره دے)۔
(أخرجه البیهقی فی شعب الإیمان، المشکاة : ۲).

او دَ نبی کریم ﷺ صحابوؓ او سلفِ صالحینوؒ به دَ خشوع او تواضع ډیر زیات اهتمام کولو۔ دَ عمر بن خطاب ﷺ نه نقل دی چه دهٔ دَ خپل وفات کیدو په وخت خپل ځوئے ته اووئیل : زما سر دَ خپل پتون په ځائے په زمکه کیده۔ او دا به ئے وئیل : کهٔ چرے عمر ته بخښنه اونشوه نو دهٔ له دے تباهی وی۔ (البدایة، بخاری).

اويو څل منبر ته اوختلو نو وے فرمائيل : اے عمر! ته خو هغه سړے ئے چه ګډے بزے به دے څرولے او (خپل پلار) خطاب به وهلے، اوس ته امير المؤمنين جوړ شوے !! او دَ منبر نه راکوز شو۔ چا ورته اووئيل : دا تا څه اوکړل ؟ تا خو دَ خپل ځان بدی اووئيله ! هغه اوفرمائيل : دا ما دے دپاره اوکړل چه مانه خود پسندی ختمه شی۔

امام احمدؒ په کتاب الزهد (ص : ٢٢٨) کښې دَ عبد الله بن حنظله نه نقل کړی چه عبد الله بن سلام ﷺ په بازار کښې په داسے حال کښې تير شو چه دَ لرګو پيټے ئے پسر کړے وو۔ چا ورته اووئيل : الله تعالىٰ ته ددے نه بے پرواه کړے نه ئے ؟ هغه وئيلے : ولے نه۔ خو زه غواړم چه په ذے سره تکبر لرے کړم۔ ما دَ رسول الله ﷺ نه آوريدلی چه فرمائيل ئے : هغه څوك جنت ته نشی تلے دَ چا په زړه کښې چه دَ وړی دَ دانے هومره تکبر وی)۔

نو اوګوره دوئ ته ! دوئ به څنګه ددے باب اهتمام کولو ؟

او خشوع دَ الله تعالىٰ مخامخ دَ زړه اودريدل دی په خاطر جمعئ او خضوع او انقياد سره۔ چه ددے اثر په اندامونو باندے راښکاره کيږی۔

او دا په دوه قسمه ده۔ (١) دَ منافقت خشوع۔ (٢) دَ ايمان خشوع۔

دَ منافقت خشوع داده : چه بدن خشوع کونکے ښکاری او زړه نافرمانه۔

او دَ ايمان خشوع داده : چه زړه دَ الله مخامخ په اطمينان، خضوع او انقياد سره اودريږی۔

٢ - او هرچه دَ الله په علم باندے علم حاصلول دی :

نو هغه دا چه انسان دا عقيده اولری چه الله په هر څيز باندے عالم دے کوم چه په آسمان او په زمکه کښې دی، او په هر هغه خبره باندے کومه چه په سينو کښې ده، او هغه په هر څيز پوهه دے۔ او دا عقيده په خپل ذهن کښې هميشه دپاره حاضره اولری۔

او دا بهترين ايمان دے۔ لکه نبی ﷺ فرمائی :

أفضل الإيمان أن تعلم أن الله معك حيثما كنتَ

(غوره ايمان دادے چه ته دا عقيده اولرے چه ته چرته ئے نو الله درسره وی)۔

او دا علم الله تعالىٰ په خپل کتاب کښې بے شماره کرته ذکر کړے۔ لکه فرمائی :

﴿ الله الذى خلق سبع سموات ومن الأرض مثلهن يتنزل الأمر بينهن لتعلموا أن الله على كل شئ قدير وأن الله قد أحاط بكل شئ علمًا ﴾ [طلاق : ١٢].

(الله هغه ذات دے چه اووه آسمانونه او ددے پشان (اووه) زمکے ئے پيدا کړی، ددے

ترمينځه خپل امر راليږي، دے دپاره چه ستاسو علم راشي چه الله په هر شئ قادر دے او دا چه الله په هر شئ باندے عالم دے).

دَ الله قدرت او دَ هغهٔ علمِ محيط ئې دَ خلق او امر غايه او غرض گرځولے ده. معلومه شوه چه دا يو مهم شے دے چه ددے دَ وجے نه آسمانونه او زمکه پيدا شوي او ددے ترمينځه امر هم ددے دپاره نازليږي.....او الله تعالىٰ فرمائي :

﴿ جعل الله الكعبة البيت الحرام قيامًا للناس والشهر الحرام والهدى والقلائد ذلك لتعلموا أن الله يعلم ما فى السموات وما فى الأرض وأن الله بكل شئ عليم ﴾ [مائده : ۹۷].

([الله كعبے لره چه دَ ادب كور دے دَ خلقو دَ قائم پاتے كيدو سبب گرځولے دے او دَ عزت والا مياشتو لره ئې هم او په حرم شريف كښے قربانيدونكي ځناورو لره هم او هغه ځناورو لره ئې هم دَ خلقو دَ قائم پاتے كيدو ذريعه گرځولے دَ كومو په غاړه كښے چه پټئ وي، دا ددے دپاره چه ستاسو علم په دے خبره پيدا شي چه الله پو هيږي په هغه څۀ چه په آسمانونو كښ دي او په هغه څۀ چه په زمكه كښ دي، او الله په هر شئ پو هه دے).

نو دلته الله تعالىٰ علم بعلم الله دَ شريعتونو غايه او غرض اوگرځولو.

او الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ ألم يعلم أن الله يرىٰ ﴾ [اقرأ : ۱۴].

(آيا دۀ ته پته نشته چه الله ليدل كوي).

اوفرمائي : ﴿ ألم تر أن الله يولج الليل فى النهار ويولج النهار فى الليل وسخر الشمس والقمر كل يجرى إلى أجل مسمى، وأن الله بماتعملون خبير ﴾ [روم : ۲۹].

(آيا تۀ نۀ گورے چه بيشكه الله شپه په ورځ كښ او ورځ په شپه كښ ننباسي او نمر او سپوږمئ ئې تابع كړي دي، داټول دَ يوے مقررے نيتے پورے روان دي، او الله ستاسو په عملونو خبردار دے).

او فرمائي : ﴿ وهومعكم أين ما كنتم والله بما تعملون بصير ﴾ [حديد : ۴].

(او تاسو چه چرته هم ئې هغه درسره دے، او الله ستاسو عملونه ليدونكے دے).

او الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ ألم تعلم أن الله يعلم ما فى السموات وما فى الأرض ما يكون من نجوى ثلاثة إلا هو رابعهم ولا خمسة إلا هوسادسهم ولا أدنى من ذلك ولا أكثر إلا هومعهم أين ما كانوا ثم ينبئهم بما عملوا يوم القيامة إن الله بكل شئ عليم ﴾ [مجادله : ۷].

(آيا تۀ نۀ گورے چه بيشكه الله پو هيږي په هغه څۀ چه په آسمانونو كښے دي او هغه څۀ چه په زمكه كښے دي، درے كسه جرگه نۀ كوي مگر څلورم ئې هغه وي، او نۀ پنځه كسه

مګر شپږم ئې هغه وی، او نۀ ددې نه کم او نۀ ددې نه زیات مګر هغه ورسره وی چرته چه دوئ وی، بیابه ورته دَ قیامت په ورځ دَ خپلو عملونو خبر ورکړی، بیشکه الله په هر یو شئ باندې پوهه دې)۔

او الله فرمائی : ﴿ وما تكون فی شأن وما تتلوا منه من قرآن ولا تعملون من عمل إلا كنا عليك شهودًا إذ تفيضون فيه وما يعزب عن ربك من مثقال ذرة فی الأرض ولا فی السماءِ ولا أصغر من ذلك ولا أكبر إلا فی كتاب مبين ﴾ [يونس : ٦١].

(او نۀ ئې تۀ په یو کار کښې اونۀ تۀ دَ الله د طرفه څۀ قرآن لولې اونۀ تاسو څۀ عمل کوئ مګر مونږ په تاسو ګواهان یو هر کله چه تاسو په دې کښې ننوځئ او ستا دَرب نه دَ ذرې هومره شې نۀ په زمکه غائبیدې شی اونۀ په آسمان کښې اونۀ ددې نه وړوکې اونۀ ددې نه غټ مګر دا هر څۀ په یو ښکاره کتاب کښې دی)۔

او دا داسې آیت دې چه ددینه دَ هغه مؤمنانو چه د الله نه یریږی، غوښې زیګ کیږی۔ دا تول آیتونه دَ الله نه حیاء پیدا کوی، او دَ الله سخت لحاظ او په هر حالت او عمل کښې دَ ځان سره حساب پیدا کوی۔

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ قل بلىٰ وربی عالم الغيب والشهادة لا يعزب عنه مثقال ذرة فی السموات ولا فی الأرض ولاأصغر من ذلك ولا أكبر إلا فی كتاب مبين ﴾ [سبأ : ٣].

(ورته اووایه هاؤ، قسم دې په رب زما، چه عالم دې په پټو او په ښکاره، دَ هغۀ نه دَ ذرې هومره شې نۀ په آسمانونو کښې پټیږی اونۀ په زمکه اونۀ ددې نه وړوکې اونۀ غټ مګر دا هرڅۀ په یو ښکاره کتاب کښې دی)۔

او الله فرمائی : ﴿ إن الله عالم غيب السموات والأرض إنه عليم بذات الصدور ﴾ [فاطر : ٣٨]. (بیشکه الله دَ آسمانونو اوزمکې په پټو خبرو پوهیږی، واقعی چه هغه دَ سینو په پټو خبرو پوهه دې)۔

او الله فرمائی : ﴿ وعنده مفاتح الغيب لا يعلمها إلا هو ويعلم ما فی البر والبحر وما تسقط من ورقة إلا يعلمها ولا حبة فی ظلمات الأرض ولا رطب ولا يابس إلا فی كتاب مبين، وهو الذی يتوفاكم بالليل ويعلم ما جرحتم بالنهار ثم يبعثكم فيه ليقضى أجل مسمى ثم إليه مرجعكم ثم ينبئكم بما كنتم تعملون ﴾ [انعام : ٦٠].

(او خاص د هغۀ سره دَ غیبو چابیانې دی چه دَ هغۀ نه سیوا په هغې بل هیڅوك نۀ پوهیږی او هغه پوهیږی په هر هغه شئ باندې چه په اوچه کښې دی او په سمندر کښې

دی، او هیڅ یوه پانړه نهٔ راغورزیږی مګر هغه پرے پو هه دے اونهٔ کومه دانه دَزمکے په تیارو کښے اونهٔ څهٔ اوچ اونهٔ لامدهٔ مګر دا تول په یو ښکاره کتاب کښے دی۔ خاص الله هغه ذات دے چه تاسو د شپے وفات کوئ او دَ ورځے ستاسو په عملونو باندے پو هه دے، بیابه تاسو راپورته کوی دے دپاره چه یوه معلومه نیتی پوره کړے شی، بیابه تاسو واپسی هغهٔ طرفته وی او تاسو ته به دَ هغه شئ خبر درکوی کوم چه تاسو کولو)۔

او الله فرمائی : ﴿ واعلموا أن الله يعلم ما في أنفسكم فاحذوره ﴾ [۲۳۵].

(او پو هه شئ چه الله په هغه خبرو پو هیږی کومے چه ستاسو په زړونو کښں دی، نو د الله نه اویریږئ)۔ او الله فرمائی : ﴿ وهو بكل شئ عليم ﴾.(او هغه په هر څیز پو هه دے)۔

او الله فرمائی : ﴿ ولو أن ما في الأرض من شجرة أقلام والبحر يمده من بعده سبعة ابحر ما نفدت كلمات الله إن الله عزيز حكيم، ما خلقكم ولا بعثكم إلا كنفس واحدة، إن الله سميع عليم ﴾ [لقمان : ۲۷] . (په زمکه چه څومره ونے دی که دا قلمونه شی او اووه سمندرونه ددے سیاهی شی نو د الله کلمات به ختم نشی، واقعی چه الله غالب او حکمتونو والا دے، ستاسو پیدائش او راپاسول نهٔ دی مګر دَ یو نفس دَ راپورته کولو پشان۔ بیشکه چه الله آوریدونکے، پو هه دے)۔

دَ الله تعالیٰ په کتاب کښں د الله علمِ محیط بار بار راغلے، دارنګه دَ هغهٔ سمع او بصر چه هر آواز او لیدلے شوی څیز ته شامل دے بار بار راغلے۔ نو دے نه معلومیږی چه الله ددے علم ډیر زیات اهتمام فرمائیلے۔ دے دپاره چه انسان دا علم حاصل کړی چه په خپل علمِ محیط او قدرت شامله کامله سره الله ددهٔ سره دے۔

او نبی ﷺ فرمائی : إحفظ الله يحفظك واحفظ الله تجده تُجاهك. (ترمذی).

(تهٔ د الله لحاظ ساته الله به ستا لحاظ ساتی، تهٔ د الله لحاظ ساته، تهٔ به هغه خپلے مخے ته بیامومے)۔

★ بیا په دے علم کښں بے شماره **فوائد** دی، بعضِ دادی :

۱ – دے سره دَ الله دَ عظمت نه زړهٔ ډکیږی۔

۲ – دے سره دَ الله دَ جمال او کمال نه زړهٔ ډکیږی۔ ولے چه علم جمال او کمال دواړه دے۔

۳ – دے علم سره په عباداتو او اعمالِ صالحه ؤ کښں احسان پیدا کیږی۔ ځکه چه انسان ته کله دا معلومه شی چه الله دے وینی ګوری او ددهٔ په حال او زړهٔ باندے عالِم دے، نو دا به خامخا دَ احسان مرتبے ته رسیږی۔

٤ – **بله دا چه**: کله تهٔ دا یقین اولرې چه ستا په زړهٔ کښې په راتلونکو خبرو باندې الله سبحانه وتعالیٰ پو هه دې، نو دا ضروري ده چه تهٔ به په خپل خلوت او خپلو ټولو احوالو کښې ادب اختیارونکې ئې۔ لکه دَ هغه چا پشان چه هغه دَ یو عظیم بادشاه مخامخ ناست وي او هغه ورته ګوري۔

۵ – **بله دا چه**: دې علم سره حیاء، خوف، انکسار، ذلت، استکانت، خضوع، احسان او دَ ښائسته اخلاقو یوه مجموعه پیدا کیږي۔ او دا اخلاق یو اوچت قِسم طاعات پیدا کوي۔

لنډه دا چه: دَ الله په علم باندې یقین کول او ددې استحضار ساتل دَ وُنې پشان دي۔ او دا اخلاق دَ هغې څانګې دي۔ او کوم طاعات چه ددې اخلاقو نه صادریږي هغه ددې میوې دي۔

او همدا علم – دَ کوم په سلسله کښې چه مونږ لګیا یو – دَ ایمان، احسان او تقویٰ بنیاد دې۔ او په همدې سره په انسان باندې قِسما قِسم علوم او خیرات پرانستې کیږي۔

دا علم دَ انسان نه انسان جوړوي، او دَ انسانیت درجې ته ئې پورته کوي۔ والله المستعان.

دَدې دپاره په دې جلد کښې دَ یقین مستقله فائده کتل غواړي۔

۳ – دَ قرآن کریم دَ تدبر علم :

دا علم دَ هر علم او حکمت او فضیلت سرچشمه ده۔ الله تعالیٰ دا په خپلو دشمنانو باندې نهٔ پرانیزي، او الله تعالیٰ دا صرف خپلو هغه مخلصینو او هغه بندګانو ته ورکوي چه هغوئ په خپل ایمان او احسان او دَ الله په رضامندئ کښې دَ اوچتې درجې خاوندان دي۔ لکه چه ددې تفصیل به مونږ دَ انتفاع بالقرآن په فائده کښې اوکړو۔ ان شاء الله۔

الله تعالیٰ فرمائي :

﴿ أفلا يتدبرون القرآن ولو كان من عند غير الله لوجدوا فيه اختلافاً كثيرًا ﴾ [نساء : ۸۲].

(آیا دوئ په قرآن کښې سوچ نهٔ کوي اوکه چرې دا دَ الله نه سیوا د بل چا د طرفه وې نو دوئ به په کښې ډېر زیات اختلاف موندلې وې)۔

او فرمائي : ﴿ أفلا يتدبرون القرآن أم على قلوب أقفالها ﴾ [محمد : ۲٤].

(آیا دوئ په قرآن کښې سوچ نهٔ کوي اوکه نه په زړونو باندې ددې تالې لګیدلي دي)۔

او فرمائي : ﴿ أفلم يدبروا القول ﴾ [مؤمنون : ٦٨]. (آیا دوئ په دې وینا سوچ نهٔ کوي)۔

او فرمائي : ﴿ كتاب أنزلناه إليك مبارك ليدبروا آياته وليتذكر أولو الألباب ﴾ .

(دا داسې کتاب دې چه مونږ تاته نازل کړې، برکت والا دې، دې دپاره چه دوئ ددې په

آیتونو کښې سوچ اوکړی او دے دپاره چه عقلمند خلق پند او نصیحت قبول کړی)۔
حسن بصریؒ فرمائی : قرآن دَ سوچ دَپاره نازل شوے وو، نو خلقو دَ تلاوت دپاره اوګرځولو۔ (مفتاح دار السعادة : ۱/۲۳۶). سفیانؒ هم ددے پشان خبره کړے۔
ابن قیم رحمه الله فرمائی :
فتدبر القرآن إن رُمتَ الهدی فالعلم عند تدبر القرآن
(کۀ هدایت دِے مقصد وی نو قرآن کښې سوچ اوکړه، ځکه علم دَ قرآن په سوچ کښې دے)۔
ابن عباس ﷺ فرمائی : رکعتان مقصتدتان بتدبرٍ خیر من قیام لیلة.
(دوه رکعته درمیانه مونځ خو چه په سوچ سره وی، دا دَ ټولے شپے دَ عبادت نه بهتر دی).
(مفتاح دار السعادة : ۱).
علی ﷺ فرمائی : دَ سوچ نه بغیر تلاوت کولو کښې هیڅ فائده نشته۔ (أخلاق العلماء).
خلاصه دا چه : په سوچ او تدبر سره دَ قرآن دَ تلاوت کولو نه سیوا بل هیڅ یو شے دَ زړۀ دَپاره نفع مند نشته۔ ځکه چه دا دَ سائرینو دَ منازلو او دَ عاملینو دَ احوالو او دَ عارفینو دَ مقاماتو دپاره راجمع کونکے دے۔ او همدا هغه شے دے چه محبت، خشیت، خوف، شوق، رجاء، انابت، توکل، رضا، الله ته کارونه سپارل، شکر، صبر، او ټول هغه احوال پیدا کوی چه په هغے سره دَ زړۀ ژوند او کمال دے۔ دارنګه دَ ټولو ګناهونو او دَ بدو صفاتو او افعالو نه بندول کوی، چه دے ځیزونو سره دَ زړۀ تباهی اوبربادی راځی۔
نو که خلقو ته هغه شے معلوم شی نو کوم چه دَ قرآن کریم په تدبر کښې دے، نو خامخا به دوئ په دے مشغول شی او بَل هریو شے به پریدی۔
کله چه دَ قرآن کریم په هغه آیتونو ورتیریږی چه دے دَ خپل زړۀ په شِفاء او علاج کښې هغے ته محتاج دے، نو هغه دے بار لوئی، اګرکۀ سل ځله یا ټوله شپه لوستل هم وی۔ یو آیت په سوچ او فکر سره لوستل دَ هغه ختم نه بهتر دے چه بغیر دَ سوچ او فکر نه وی۔ چه دا دَ زړۀ دپاره ډیر نفع مند او دَ ایمان او دَ قرآن دَ تلاوت دَ ذوق حاصلولو طرفته ډیر دعوت ورکونکے ځیز دے۔
دَ سلفوؒ هم دا عادت وو چه دوئ کښې به بعضو کله یو آیت تر صبا پورے تلاوت کولو۔ لکه نبی ﷺ دا آیتِ کریمه ټوله شپه تلاوت کړه : ﴿ إن تعذبهم فإنهم عبادك ﴾ [مائده : ۱۱۸] الآية.
او تمیم داری ﷺ دا آیتِ کریمه تر صبا پورے تلاوت کړه : ﴿ أم حسب الذین اجترحوا

السيئات أن نجعلهم كالذين آمنوا وعملوا الصالحات سواء محياهم ومماتهم ساء ما يحكمون ﴾ [جاثيه : ٢١] .(كوم خلقو چه دَ ګناهونو ارتکاب کړے نو آيا د دوئ دا ګمان دے چه دوئ به مونږ دَ ايمان او عمل صالح والو پشان جوړ کړو، چه د دوئ ژوند او مرګ به برابر وی ؟ دا خو ډيره بده فيصله ده چه دوئ ئے کوی)۔

ابن مسعود ﷺ فرمائی : لا تهذوا القرآن هذًا، ولاتنثروه نثرَ الدقل، وقفوا عند عجائبه، وحرّكوا به القلوب، ولا يكن همُّ أحدكم آخر السورة.

(قرآن کريم زر زر مهٔ لولئ اومهٔ ئے داسے خورئ لکه څنګه چه ردی کجورے خورولے شی، اودرے دَ عجائبو سره اودرېږئ۔ په دے سره زړونو له حرکت ورکړئ۔ اوتاسو سره دے دا غم پيدا نشی چه دَ سورت آخرته به کله رسيږو)۔

ابو جمرهؒ فرمائی : ما ابن عباس ﷺ ته اووئيل : زهٔ په تلاوت کولو کښې ډيرتيز يم۔ په درے شپو کښې ختم کوم۔ ابن عباسؓ اوفرمائيل :

لأن أقرأ سورة من القرآن في ليلةٍ وأرتاحها أحبُّ إليَّ من أن أقرأ القرآن كما تقرأ.

(په يوه شپه کښې دَ قرآن کريم يو سورت لوستل چه زهٔ په کښې سوچ اوکړم او په مزه مزه ئے اولولم، دا ماته په هغه طريقه لوستلو نه زيات غوره دی څنګه ئے چه تهٔ لولے)۔

په قرآن کښې فکر کول دوه قسمه دی :

(۱) دے دپاره پکښې فکرکول چه دَ الله مراد معلوم کړی۔ (۲) په هغه څيزونو کښې فکرکول چه په هغے کښې فکر کولو ته ئے خپلو بندګانو ته دعوت ورکړے۔

نو اول قِسم فکر په تلاوت شده آيتونو کښې وی۔ او دويم قِسم فکر په ليدلے شوو آيتونو کښې وی۔

دارنګه اول په کتاب (مکنون) کښې فکر کول دی، او دويم : په کتاب (مفتوح) کښې فکر کول دی۔ چه دا ټول کائنات دی۔ او معلومه خبره ده چه بے شماره علوم او معارف او دَ ايمان خوند چه پيدا کيږی نو دا په قرآن کښې په سوچ او فکر کولو سره پيدا کيږی۔ نهٔ په تيز قرأت کولو سره۔ والله المستعان۔

(دا دَ هغے محاضرے خلاصه ده چه ما په جامعه رحمانيه کراچی کښې دَ رجب دَ مياشتے په ١٤٢٦/٧/٢٥ هـ کښې کړے وه)۔



۳ - فائده

مؤمن به همیشه په جهاد کښې وی

کوم مؤمن چه الله طرفته روان وی هغه به ضرور تر مرګه پورے په همیشه جهاد کښې وی۔ ځکه هغه منازل او لارے چه دے ئے په دے مزل کښې قطع کوی نو دے به په هغې کښې روان وی او په همدے مزل کښې به دَ خپل ژوند په دے راتلونکو لارو باندے ورځی:

(۱) شبهات (۲) شهوات (۳) بیا دَ نفس پټ بد صفتونه (٤) بیا دَ عبادت آفتونه (۵) بیا دَ ایمان، احسان او دَ عباداتو په انواعو کښې ترقی کول۔

نو دَ شبهاتو نه تر آفتونو دَ عبادت پورے به ددے څیزونو په دفع کولو کښې کوشش کوی، او دَ مقاماتو او دَ طاعاتو په انواعو حاصلولو کښې به سعی اوکوشش کوی۔

۱ - هر چه **شبهات** دی: نو دا انسان ته په خپل اولنی مزل کښې راپیښیږی، لکه دَ یقین کمزوری، وسوسے او اسلام او قرآن او سنت باندے اعتراضونه۔ یا لکه دَ مقلدینو او منکرینو شبهات۔ او دا څیزونه به دَ زړهٔ څهٔ حصه نیسی او هغه به خړوی او مزل به کمزورے کوی او یا به دا ختموی - والعیاذ بالله -.

او ددے ډیرے څانګے دی، خو کوم مؤمن چه الله طرفته سیر او مزل کوی هغهٔ له مناسب دی چه خپل زړهٔ دَ شبهاتو دپاره ماویٰ او آرامګاه اونهٔ ګرځوی۔ بلکه په دهٔ لازم دی چه دا دفع کړی او په دے باره کښې دِے دَ خپل مولیٰ نه مدد غواړی او صرف هغهٔ ته دِے آواز کوی۔ او دا شبهات دَ بصیرت دَ کمزوریٔ نه پیدا کیږی۔ والله المستعان۔

۲ - او هرچه **شهوات** (خواهشات) دی نو دا هم ډیر دی:

لکه حرام خوړل، دَ ریاست او مشریٔ سره مینه لرل، او دَ خیټے او شرمګاه دَ سرکشیٔ خواهشات۔ لکه نبی ﷺ فرمائی:

إنی أخاف علیکم شهوات الغیّ فی فروجکم وبطونکم ومضلات الفتن.

(زهٔ پتاسو باندے ستاسو په شرمګاهونو او خیټو کښې دَ ګمراهیٔ دَ خواهشاتو او دَ ګمراه کونکو فتنونه یریږم)۔ (أخرجه ابن الجوزی فی ذم الهویٰ بإسناد صحیح).

او يا لکه دَ ډيرو لباسونو، کارخانو، عمارتونو او قِسما قِسم ګاډو او دَ دُنيا دَ تازګئ او دَ خوراکونو څکاکونو دَ فراخئ خواهشات شو.

نو دا او ددے پشان نور خواهشات مزل قطع کوی او يائے کمزورے کوی، او که دا هم نۀ وی نو کم ازکم خروی خو ئې خامخا.

دا وجه ده، نبی ﷺ او دَ هغوئ صحابه کرامو او سلفِ صالحينو به ددے فانی او ختميدونکی ژوند نه په لږ شان څيز باندے اکتفاء کوله.

٣ - او هر چه دَ نفس پټ **خوبيونه** دی:

نو دا هغه بد صفات او خراب اخلاق دی کوم چه په نفس کښ پټ دی. نو کله چه ددے وخت راشی نو دا راښکاره شی او نفس تباه کړی. لکه تکبر، خود پسندی، حسد، حرص، لالچ، بُزدلی، غفلت، دَ زړۀ سختيا، سستی، دَ يقين کمزوری، سپکيدل، بخل، دَ دُنيا محبت او دَ آخرت هيرول، او دَ هغه الله نه استغناء او بے پرواهی کول چه دَ هغۀ نه دَ سترګے دَرَپ هومره وخت دَ انسان خلاصون او پناه ګاه نشته. او بنده دَ هريو څيز نه هغۀ ته په هر وخت کښ ډير زيات محتاج دے.

او يا لکه تادی کول، دَ زړۀ نه ويره ختميدل، او دَ زړۀ ژوند او رڼرا ختميدل - په الله پورے پناه - او ددے پشان نور څيزونه. نو په مؤمن باندے واجب دی چه ددے بدو صفتونو په دفع کولو کښ او ددے نه په لرے کيدلو کښ کوشش اوکړی.

٤ - او هرچه دَ عباداتو **آفتونه** دی:

نو دا لکه اخلاص نۀ کول، رياء کول، خلقو ته خپل عملونه آورول، رياست او شهرت خوښول، دَ خلقو مدح تالاش کول، او يا لکه په اعمالِ صالحه و باندے دُنيا او اُجرت طلب کول، مثلاً په اذان، امامت او علم وغيره باندے اجرت اخستل. او يالکه په دے کښ خشوع نۀ کول او بے ادبی اختيارول. او يا هغه شے نۀ پيژندل چه دا عبادات خرابوی، او يا داسے کارونه کول چه دا عبادتونه برباد کړی. په الله پورے پناه!

نو عاقل مؤمن به په دے مزل کښ دَ خپلِ تولو اعمالو او عباداتو تزکيه کوی.

٥ - او هرچه په مقاماتو کښ **ترقی** کول دی:

نو هغه دا چه هره ورځ په اخلاص، خشوع خضوع، عاجزئ، دعاء، احسان، توکل، خشيت، انابت، صبر، شکر، دَ نفس په حساب، دَ اوقاتو په حفاظت، په توبة النصوح، په ذکر او قرآن لوستلو او ددے پشان په نورو عباداتو کښ ترقئ اوکړی.

نو دابه همیشه دپاره په جهاد کښې وي، دا وجه ده چه جهاد دَ ایمان شعبه ده۔ او هر انسان به هر وخت او په هره زمانه کښې ددے جهاد سره لازم وي۔

او پاتے شو غافل سرے نو هغه خو ددے کارونو نه په ډډه دے، او اکثر خلق خو په دے خبرو هډو پوهیږي هم نهٔ۔ بلکه په گمراهئ، غفلت او دهوکه کښې سرگردانه دي۔

نو اے عقلمند مؤمنه! تاله پکار دي چه دا پړاوونه قطع کړے او رحمٰن، رحیم، غالب او حکیم ذات ته دَ رسیدو دَ نزدے والي امید اولرے۔

خو ددے کارونو دپاره **دوه** څیزونه ضروري دي :

١ – اول : ددے دَ قطع کولو پوخ عزم او پخه اراده۔

لکه الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ لمن شاء منكم أن يستقيم ﴾ [كورت ٢٨].

یعني : څوك چه په تاسو کښې استقامت غواړي، نو قرآن دَ هغهٔ دپاره نصیحت دے۔

٢ – دویم : د الله عز وجل رحمت او اراده او مشیت۔ څکه هغه چه څهٔ غواړي هغه به کیږي، او څهٔ چه نهٔ غواړي هغه نهٔ کیږي۔ ﴿ وما تشاؤن إلا أن يشاء الله رب العالمين ﴾ [كورت : ٢٩].

(او تاسو اراده نهٔ کوئ مگر کهٔ الله اراده اوکړي چه دَ ټولو مخلوقات رب دے)۔

او کهٔ ته غواړے چه دَ الله رحمت او اراده بیامومے، نو تاله تضرع، دعاء، هغهٔ ته عاجزي او دَ هغهٔ په مخکښې انکسار پکار دے۔ څکه څوك چه دَ کریم ذات دروازه ټکوي نو هغه پرانیزي۔

او په دغه مذکوره دواړو آیتونو کښې همدے ته اشاره شوے۔

والله المستعان، وعليه التكلان ولا حول ولا قوة إلا بالله.



٤ - ډیره زیاته مهمه فائده

دَ منافقانو اودَ ضعیف یقین والو په زړهٔ کښې دَ منافقت دَ سرایت کولو اسباب پیژندل

نو یاده ساته چه ددے دپاره درے اسباب دی :

۱ - اول سبب : دا چه ایمان لکه دَ اور پشان بلیږی، نو اور دَ بلولو او تازه ساتلو دپاره ماده غواړی او هغه ماده لرگی، گیس او پټرول وغیره دی۔ نو څوك چه اور بغیر دَ مادے نه پریدی، هغه به مړ کیږی او دَ هغے رڼړا به ختمیږی، چه ددے خاوند ددے نه هیڅ فائده نشی اخستے۔۔۔۔نو دغه شان ایمان هم ماده غواړی، او هغه علم نافع او عملِ صالح دے۔ نو څوك چه دا بیکاره پریدی او ددے په ماده کښې کوشش نهٔ کوی، نو دَ دے ایمان رڼړا به ختمه شی او ددے په ځائے به په دے کښې منافقت ځائے اوکړی۔

لکه هم دے خبرے ته قرآن کریم په خپل رشتینے مثال کښې اشاره کړے۔

﴿ مثلهم كمثل الذى استوقد نارًا فلما أضاءت ماحوله ذهب اللّٰه بنورهم وتركهم فى ظلمات لا يبصرون ﴾ [بقره : ۱۷].

(د دوئ مثال دَ هغه سړی پشان دے چه هغه اور بل کړی او کله چه اور ددهٔ گیر چاپیره علاقه رڼړا کړی نو الله دَ دوئ رڼړا بوځی او دوئ په تیارو کښې پریدی چه څهٔ نهٔ وینی)۔

نو دے خلقو دَ ایمان اور بَل کړو او بیائے ددے اور پوره لحاظ او نهٔ ساتلو، نو ددے اور رڼړا ختمه شوه او سوزول ئے پاتے شو۔

دے وجے نه، دَ ایمان دَ اور په بلولو او رڼړا کولو کښې علمِ نافع او عملِ صالح ته ضرورت دے۔ نو څوك چه ددے اهتمام نهٔ کوی، دَ هغهٔ ایمان به ختمیږی۔

۲ - دویم سبب : دَ ایمان مثال دَ هغے شنے وُنے دے، چه دَ هغے میوے گلونه وی، او ستهٔ او ځانگے او مزیدار بوئے لری۔ نو وُنه دیته محتاج ده چه ددے ستهٔ صفا اوساتلے شی، او دَ زیاتو گیاگانو وغیره نه - کوم چه دا کمزورے کوی - پاکه کړے شی۔ دارنگه دیته وخت په وخت خالصے اوبهٔ ورکول او دَ غلو او دشمنانو نه ددے ساتل ضروری دی۔

نو دغه شان ایمان هم دا غواړی چه انسان دا دَ وحی په اوبو سره سیراب کړی۔ دیته دَ کتاب او سنت دَ حکمت اوبهٔ واچوی، او وخت په وخت ئے دَ عمل صالح په اوبو خړوبه

کړي، او دَ توبة النصوح په ذریعه دَ شبهاتو، بدعاتو او ګناهونو دَ فساد نه ددے دَ بچ ساتلو خیال اوساتي، او دَ افراط او تفریط نه ددے تهذیب اوکړي۔
نو بیابه دا وُنه پاتے وي چه ددینه به په دنیا او آخرت کښې ددے خاوند نفع حاصلوي۔ اوکهٔ دا کار اونهٔ کړي، نو دابه دَ ګیاه نه هم زیاته اوچه شي، او دَ زړو هلوکو نه به هم دا زیاته کمزورے وي۔ او ددے دَ حفاظت دپاره دَ الله عز وجل معرفت ضروري دے۔
اے الله! زمونږ دَ ایمانونو حفاظت اوکړے او ددے خواږهٔ مونږ ته رانصیب کړے!
او هم دے **مثال** ته قرآن کریم اشاره کړے: ﴿ألم تر كيف ضرب الله مثلاً كلمة طيبة كشجرةٍ طيبة أصلها ثابت وفرعها في السماءِ﴾ [ابراهيم: ٢٤] الآية.
(آیا تهٔ نه ګورے چه الله یو مثال بیان کړے، کلمه طیبه دَ پاکیزه وُنے پشان ده چه ددے ستنه په زمکه کښې مضبوطه ده او څانګے ئے بره طرفته دي)۔
٣ - دریم سبب: مؤمن سړے به هیڅ کله دَ الله عز وجل ذکر نهٔ پریدي، اګرکه ددهٔ زړهٔ سست، مکدر، سخت او تنګ ولے نهٔ وي۔ نو دابه همیشه دپاره دَ الله دَ حکم او امر په تعمیل کښې وي۔ دے وجے نه منافقت ددهٔ زړهٔ ته لار نشي کولے۔ او هرچه منافق دے چه دهٔ لره شان رنړا موندلے ده، نو ددهٔ زړهٔ چه کله رنړا کوي نو نیك عمل کوي، اوکه هغه خیرن شي نو بیائے داسے پریدي چه هیڅ پراه ئے نهٔ کوي۔ نو په دے وخت کښې ددهٔ زړهٔ ته منافقت لاره کوي او هغے ته داخلیږي حال دا چه دهٔ ته هډو پته هم نهٔ وي او نهٔ دا محسوسوي، تردے چه کله پکښې دا پوخ شي نو بیا ددے آثار راښکاره کیږي۔نو ددهٔ دَ ذکر ار عمل صالح دپاره دوام نهٔ وي بلکه کله چه دے دَ خلقو په شور او زوګ کښې وي او خلق ورته ګوري نو بیا تیزئ سره عمل کوي او کله چه یواځے وي او صرف دَ الله مخامخ وي نو بیا ناراست وي نو دهٔ ته دَ ددهٔ سستیا او دَ الله نه دَ حیاء نهٔ کولو په عذاب کښې منافقت راشي۔ لکه چه په دے آیت کریمه کښې ورته اشاره شوے ده:
﴿كلما اضاء لهم مشوا فيه واذا اظلم عليهم قاموا﴾ [بقره: ٢٠].
(کله چه دوئ ته لاره رنړا شي نو روان وي پکښې او کله چه په دوئ تیارهٔ شي نو اودریږي)۔
ابن کثیر رحمه الله په خپل تفسیر کښې فرمائي: یعنی هر کله چه دوئ ته دَ ایمان نه څهٔ شے ښکاره شي نو هغے سره مانوس شي او هغے پسے روان وي او کله دوئ ته شکوك اوشبهات راپیښیږي نو د دوئ زړونه تیارهٔ کړي او بیا حیران پاتے وي۔
په اول جلد کښې دَ منافقت تفصیلي بحثونه تیر شوي دي هغه کتل پکار دي۔

٥ - فائده

دَ آخرت په معامله کښې غم او خفګان کول

او دا فائده په نيك عمل کولو کښې مدد کوي، دارنګه دَ اوقاتو په غنيمت ګنړلو او دَ ګناهونو او مخالفتونو نه په ډير کوشش سره په ځان بچ کولو کښې انسان سره مدد کوي.

لکه رسول الله ﷺ فرمائي :

من جعل الهموم هما واحدا همّ آخرته، كفاه اللّٰه همّ دنياه (وآخرته). ومن تشعبت به الهمومُ احوالُ الدنيا لم يبال اللّٰه فى أىّ أوديتها هلك.

(رواه ابن ماجه رقم : ٤١٠٦، وفيه : (فى أىّ أوديته هلك، وليس فيه (آخرته). وهو حديث حسن).

(چا چه دَ خپل ټولو غمونو نه يو غم جوړ کړو يعني دَ آخرت غم، نو الله به دده دَ دنيا او آخرت دَ غمونو نه کافي شي، او دَ چا ذهن لره چه دَ دُنيا غمونو (احوالو) تيت و پره کړو، نو الله دا باك نهٔ کوي چه دے دَ دنيا په کومو کندو کښې تباه شو).

دا ډير ښائسته، مزيدار او رشتينے حديث دے، دے وجے نه ددے متعلق مونږ لږ وضاحت کوو : نو مونږ وايو چه :

الله عز وجل هغه خلق ملامته کړي دي چابه چه په دنيا کښې خوشحالي کوله او دوئ باندے ئے په قرآن کريم کښې عيب وئيلے، او دا خبرئے ورکړے چه الله تعالىٰ داسے خلق نهٔ خوښوي. او په دنيا کښې دَ خوشحالئ والا په اصل کښې دهوکه خوړونکي خلق دي. لکه الله فرمائي : ﴿ وأما من أوتى كتابه وراء ظهره فسوف يدعو ثبورا ويصلىٰ سعيرًا إنه كان فى أهله مسرورًا إنه ظن أن لن يحور بلىٰ إن ربه كان به بصيرًا ﴾ [انشقاق : ١٥].

(او چا ته چه خپل عملنامه دَ خپل شا دَ خوانه ورکړے شوه نو زر دے چه دابه هلاکت رابلي او ګرم اور ته به داخليږي، ځکه چه دے په خپل اهل (دنيا) کښې خوشحاله وو، دده دا خيال وو چه دابه (الله ته) واپس نشي، هاؤ ! دده رب په دهٔ باندے ډير زيات خبردار وو).

نو مسرور (خوشحاله) شخص دا ګمان کوي چه دابه الله عز وجل ته واپس نشي، حال دا چه دده رب دهٔ لره وينې ګوري نو مناسب داوه چه دَ هغهٔ نه ئے شرم او حياء کړے وے خو دهٔ

دا کار اونهٔ کړو۔
دارنګه دَ کفارو په باره کښې ئے ذکر کړې دې چه ﴿ وإذا انقلبوا إلى أهلهم انقلبوا فكهين ﴾ [مطففين : ٣١].
(او کله چه به دوئ خپل اهل ته واپس کيدل نو په خوشحالئ سره به واپس شو)۔
يعني هغه عمل ته به غاوره وو کوم به چه دوئ کولو، او په دنيا کښې به خوش عيشي کونکي وو۔او الله فرمائي :
﴿ إذ قال له قومه لا تفرح إن الله لا يحب الفرحين ﴾ [قصص : ٧٦]. (کله چه قارون ته ددهٔ قوم اووئيل : تهٔ خوشحالي مهٔ کوه ځکه چه الله خوشحالي کونکي نهٔ خوښوي)۔
او الله فرمائي : ﴿ ولا تمش فى الارض مرحا إن الله لا يحب كل مختال فخور ﴾ [لقمان : ١٨]. (او په زمکه باندے په تکبر سره مهٔ ګرځه ځکه چه الله هر هغه تکبر کونکے نهٔ خوښوي چه خپل صفتونه شماري)۔
او الله فرمائي : ﴿ ولا تمش فى الأرض مرحاً إنك لن تخرق الأرض ولن تبلغ الجبال طولا ﴾ [لقمان : اسراء : ٣٧]. (لقمان حکيمؒ خپل ځوئے ته اوفرمائيل : تهٔ په زمکه خوشحالئ سره مهٔ ګرځه ځکه تهٔ نهٔ زمکه شلولے شے او نهٔ دَ غرونو اوږدوالي ته رسيدلے شے)۔
امام راغبؒ فرمائي : (مرح) سختے خوشحالئ او فراخئ ته وئيلے کيږي۔
او الله فرمائي : ﴿ ذلكم بما كنتم تفرحون فى الارض بغير الحق وبما كنتم تمرحون ﴾ [مؤمن : ٧٥]. (دا په دے وجه چه تاسو به په زمکه باندے په ناحقه خوشحالي کوله او په دے وجه چه تاسو به تکبر کولو)۔
(فرح) ديته وائي چه په تادئ سره کوم خوند حاصل شي په هغے باندے دَ انسان سينه پرانستے شي، او دا اکثره په بدني خوندونو او لذتونو کښې وي۔ دے وجے نه الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ ولا تفرحوا بما آتاكم ﴾ [حديد : ٢٣].
(او په هغه شي – دَ حد نه زيات – مهٔ خوشحاليږئ کوم ئے چه تاسو ته درکړے)۔
او فرمائي : ﴿ وفرحوا بالحياة الدنيا وما الحياة الدنيا فى الآخرة إلا متاع ﴾ [رعد : ٢٦].
(اودا خلق په دنيوي ژوند خوشحاله دي حالانکه دَ آخرت په مقابله کښې دُنيوي ژوندون خو صرف دَ يو معمولي سامان حيثيت لري)۔
او فرمائي : ﴿ حتى إذا فرحوا بما أوتوا أخذناهم بغتةً ﴾ [اعراف].
(تردے چه کله دوئ په هغه څيزونو خوشحاله شو کوم چه دوئ ته ورکړے شوي وو نو

ناګهانه مونږ را اونیول)۔
او فرمائی : ﴿ فرحوا بما عندهم من العلم ﴾ [احقاف].
(دا کافر خلقو په خپلو هغه علمونو خوشحاله شول کوم چه دوئ سره دے)۔
امام راغبؒ فرمائی : الله تعالیٰ په خوشحالی کولو کښې اجازت نهٔ دے ورکړے مګر په خپل دے قول سره چه : ﴿ فبذلك فليفرحوا ﴾ [یونس : ٥٨].
(پس په همدے قرآن سره دے دا خلق خوشحالی اوکړی)۔
او الله فرمائی : ﴿ ويومئذٍ يفرح المؤمنون بنصر اللّٰه ﴾ [روم : ٤].
(او په دغه ورځ به مؤمنان خلق دَ الله په امداد باندے خوشحالی کوی)۔
زهٔ وایم : ددے وجه داده چه فرح (خوشحالی) دَ محبوب څیز حاصلولو په وجه په زړه کښې خوند او لذت دے۔

بیا خوشحالی په دوه قسمه ده :

۱ - په دینی نعمتونو خوشحالی :

لکه اسلام، ایمان، قرآن او سنت او عمل صالح۔ نو په دے څیزونو خوشحالی کول جائز څهٔ چه واجب دی۔ او دا دَ مؤمن سړی دَ ایمان دَ قوت علامه ده۔
لکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ فبذلك فليفرحوا ﴾ [یونس : ٥٨].
(پس په همدے قرآن سره دے دا خلق خوشحالی اوکړی)۔
او الله فرمائی : ﴿ ويومئذٍ يفرح المؤمنون بنصر اللّٰه ﴾ [روم : ٤].
(او په دغه ورځ به مؤمنان خلق دَ الله په امداد خوشحالی کوی)۔
او په حدیث کښې دی : إذا سرتك حسنتك وسائتك سيئتك فأنت مؤمن.
(کله چه تاله ستا نیکی خوشحالی کړی او تاله ستا بدی خفه کړی نو پوهه شه چه تهٔ مؤمن یے)۔
او لکه انس ﷺ فرمائی : صحابوؓ چه دا حدیث واوریدهٔ نو دَ اسلام نه سیوا دوئ په بل هیڅ یو شئ دومره نهٔ وو خوشحاله شوی څومره چه په دے حدیث باندے خوشحاله شو۔
یعنی په دے حدیث : أنت مع من أحببت. (رسول الله ﷺ یو کس ته اوفرمائیل : چه تهٔ به په قیامت کښې دَ هغه چاسره یے چاسره چه په دنیا کښې مینه لرے)۔
او لکه رسول الله ﷺ فرمائی :
فأخبرني – يعني تميم الداري – عن الدجال خبرًا منعني القيلولة من الفرح وقرة العين.

(ماته تميم داريؓ دَ دجال په باره کښې دَ سترګو ليدلے يو داسے خبر راکړو چه په دے خبر باندے دَ سختے خوشحالئ او دَ سترګو دَ يخوالی په وجه ئے زهٔ دَ قيلولے نه منع کړم).

(رواه أحمد : ٣٧٣/٦، ابن ماجه : ٢/٣٣٠).

او لکه په حديث کښې دی : وهمّ المسلمون أن يفتتنوا في صلاتهم فرحًا بالنبي ﷺ.

(او مسلمانان نزدے وو چه په نبی ﷺ باندے دَ خوشحالئ دَ وجے نه په خپلو مونځونو کښې په فتنه کښې پريوځی).

دارنګه عبد الله بن مسعود رضی الله عنه انتهائی خوشحاله شو هر کله چه ددهٔ اجتهاد دَ حديث سره موافق شو. (مسند أحمد : ٣٠/٥).

او الله فرمائی : ﴿ والذين آتيناهم الكتاب يفرحون بما أنزل اليك ﴾ [رعد : ٣٦].

(او کومو خلقو له چه مونږ کتاب ورکړے، دوئ په هغه شئ خوشحاليږی کوم چه مونږ تاته نازل کړے).

٢ - په دُنيوی نعمتونو خوشحالی کول :

داسے خوشحالی چه بنده متکبر، سخت زړے او خپل رب هيرونکے، خود پسندی کونکے او په خپلو ملګرو باندے فخر کونکے جوړ کړی، نو دا قِسم خوشحالی کول حرام دی. الله تعالیٰ دا په قرآن کريم کښې حرامه کړيده، لکه الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ إنه لفرح فخور ﴾.(بيشکه دا کس خوشحالی او فخر کونکے وی).

دغه شان په مخکنو آيتونو کښې دا مضمون تير شو.

دا قِسم خوشحالی زړهٔ خرابوی او دَ انسان نه آخرت هيروی.

٣ - په دنيوی نعمتونو خوشحالی کول :

خو داسے خوشحالی چه انسان نهٔ غافل جوړ کړی او نهٔ سخت زړے او نهٔ دَ خپل رب دَ شکر نه اعراض کونکے، بلکه دَ خپل رب شکر او ذکر او دَ هغه مخے ته په سجدے کولو او دَ هغهٔ نه راضی کيدو طرفته ئے راکاږی. نو دا خوشحالی جائز ده بلکه دَ نبی کريم ﷺ او دَ هغوئ دَ ملګرو نه ثابت ده.

لکه دا قول دَ نبی کريم ﷺ چه :

للصائم فرحتان يفرحهما : فرحة عند فطره، وفرحة عند لقاءِ ربه.

(روژه دار دپاره دوه خوشحالئ دی چه په دے سره هغه خوشحالی کوی، يو دَ روژه ماتی په وخت خوشحالی او بل دَ خپل رب سره دَ ملاقات کولو په وخت خوشحالی).

نو دا په روژه ماتی باندے خوشحالی ده چه دا دَ دُنيا سره تعلق لری۔

او يا لكه دا قول دَ عمرو بن سلمه ﷺ، هر كله چه دهٔ خلقو ته دَ ماشوم والی په وخت امامتی كوله او خلقو ورله قميص واخستهٔ نو دهٔ اووئيل : « په بل هيڅ يو شئ زهٔ دومره نهٔ يم خوشحاله شوے څومره چه په دغه قميص باندے خوشحاله شوم »۔

يا لكه دَ عائشے رضی الله عنها دا وينا چه :

« خلق كله وريځ اووينی نو خوشحاله شی »۔ (بخاری، مسلم).

يا لكه دا وينا دَ رسول الله ﷺ چه : « آيا پتاسو كښې څوك په دے خبره خوشحاليږی چه خپل كور ته دوه لنګے اوښے بوځی ؟ »۔ (مسند أحمد : ٢ / ٣٥٠).

يا لكه دَ صحابه كرامؓ دا وينا چه : « مونږ به دَ جُمعے په ورځ راتلو باندے دَدے په وجه خوشحاليدلو۔ يعنی په دے وجه چه يوے بوډئ ښځے به مونږ له په دے ورځ چقندر پخول»۔

په حديث كښې دی چه : «څوك دا دُعاء اووائی نو الله به دَ هغهٔ غم او خفګان په خوشحالئ باندے بدل كړی۔ يعنی : اللهم إنی عبدك وابن عبدك وابن امتك... تر آخره پورے »۔

صحيح بخاری كتاب المغازی كښې دی : « په دينی خبرو كښې به هيڅ يوه خبره داسے نهٔ وه چه صحابهؓ به په هغے باندے ډير زيات خوشحاليدل او نهٔ به دا دَ هغوئ په زړونو كښې ډيره زياته لويه ښكاريدله، دَ هغے خبرے په نسبت كومه به چه دوئ ته نبی كريم ﷺ اوفرمائيله »۔

٤ - په الله عز وجل خوشحاليدل :

نو دا په اول قِسم خوشحالئ كښې داخل ده، ځكه دا خوشحالی كله په ايمان سره وی او كله په قرآن سره او كله دَ يقين په مضبوطيدو سره او كله دَ رحمٰن ذات په تعلق سره وی۔

○ دَ خوشحالئ ددے اقسامو پيژندلو نه پس هغه آيتونو، حديثونو او آثارو ته اوګوره، كوم چه دَ آخرت دَ غم او خفګان په باره كښې راغلی۔

الله تعالیٰ دَ جنتيانو قول ذكر كوی فرمائی : ﴿ الحمد لله الذی أذهب عنا الحزن ﴾ [فاطر ٣٤].

(هغه ذات له حمد او ثناء ده چه مونږ نه ئے غم او خفګان لرے كړو)۔

او فرمائی : ﴿ قالوا انا كنا فی أهلنا مشفقين فمن الله علينا ووقانا عذاب السموم ﴾ [طور :

٢٦، ٢٧].

(دویٔ به وائی : بیشکه مونږ په خپل بال بچ کښې په دُنیا کښې یریدونکی وو، نو الله په مونږ احسان اوکړو او مونږ ئې دَ گرم اور دَ عذاب نه اوساتلو)۔

ابراهیم تیمیؒ چه لوئې واعظ وو فرمائی : څوك چه په دنیا کښې غم نهٔ لری نو ماسره دا ویره ده چه هغه به جنت ته داخل نشی۔ او څوك چه خوف نهٔ لری نو ماسره دا ویره ده چه هغه به دَ اهلِ جنت نه نهٔ وی، بیا ئې دغه پورتنی دواړه آیتونه تلاوت کړل۔

بعض حکماؤ وئیلی دی : فکر کول غفلت ختموی او په زړهٔ کښې خشیت پیدا کوی، لکه څنګه چه اوبهٔ فصل راتوکوی، او دَ زړونو په صفا کولو کښې دَ غم پشان بل هیڅ شے نشته، اونهٔ ددے په روښانه کولو کښې دَ فکر پشان بل څیز شته۔

(تفسير السراج المنير : ١/٤٢٨).

الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ فليضحكوا قليلا وليبكوا كثيرًا جزاء بما كانوا يكسبون ﴾ [توبه ٨٢].

(نو دویٔ له پکار دی چه لږ او خاندی او ډیر اوژاړی، دَ وجے دَ بدلے دَ هغه عملونو نه چه دویٔ به کول)۔

نو دُنیا توله لږه ده، او په دے آیت کښې په دے ډیر سخته رټنه ورکړے شوے۔

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ أفمن هذا الحديث تعجبون وتضحكون ولا تبكون وأنتم سامدون ﴾ [نجم : ٥٩، ٦١]. (نو آیا دَ همدے قرآن نه تاسو تعجب کوئ او خاندئ او ژړا نهٔ کوئ او تاسو غافل او ناخبره ئې)۔

نو دَ الله سبحانه وتعالیٰ دَ کتاب آوریدو نه پس انسان له ژړا او خفګان پکار دے، نهٔ خندا، خوشحالی، غفلت او شور او زوګ۔

او **نبی** کریم ﷺ فرمائی : « په هغه ذات مے دِے قسَم وی، دَ چا په لاس کښې چه زما روح دے ! کهٔ چرے تاسو ته هغه څهٔ معلوم شی کوم چه ماته معلوم شوی دی، نو خامخا به تاسو کم خندلی وے او ډیر به مو ژړلی وے۔ اوکهٔ چرے تاسو ته هغه شے معلوم شی کوم چه ماته معلوم شوے نو خامخا به تاسو صحراوونو ته اووځئ او الله ته به چغے فریادونه کوئ او په خپلو سرونو به خاورے اچوئ او په خپلو ښځو به په بسترو باندے خوندونه وانخلئ »۔ ابو ذر ﷺ وائی : هائے افسوس چه زهٔ یوه ونه وے چه پریکړے شوے وے۔ (ترمذی، حاکم).

نو دا حدیث شریف مونږ یروی او زمونږ خوشحالی ختموی او مونږه له یو پاکیزه فکر

راکوي او دَ الله سره مو تعلق جوړوي.
او نبي کريم ﷺ فرمائي : « هغه چا دپاره هلاکت دے چه خلقو ته خبرے کوي او په هغے کښ دے دپاره دروغ وائي چه خلق پرے اوخندوي. ددهٔ دپاره هلاکت دے، ددهٔ دپاره هلاکت دے ددهٔ دپاره هلاکت دے. درے ځله ئے اوفرمائيل ».
(رواه النسائي والترمذي وأبوداود بإسناد صحيح عن بهز بن حكيم عن أبيه عن جده).
اوس دا قِسم خلق ځومره ډير دي ! الله دے دوئ ډير نهٔ کړي او الله نه غواړو چه مونږ ددے قِسم خلقو نه بچ کړي.
دَ ابو هريره ﷺ په يو صحيح حديث کښ دي :
« ډير مهٔ خانده ځکه چه ډيرے خندا سره زړهٔ مړ کيږي ».
او دا ښکاره خبره ده او دا دَ نبي کريم ﷺ دَ زړونو په ژور علم او ژوندون باندے دلالت کوي. ○ په يو اثر کښ راغلي چه : کله الله يو بنده سره مينه کول غواړي نو ددهٔ په زړهٔ کښ ژړا واچوي، او کله چه يو بنده سره بُغض کوي نو دَ هغهٔ په زړهٔ کښ تنګ تکور واچوي. (مدارج : ١/٥٠٧).
○ **بيا دَ غم درے مرتبے دي :**
١ – دَ عامو خلقو غم : او دا په خدمت کښ په کوتاهي کولو، په بے وفايئ کښ دَ زياتي کولو او دَ ورځو شپو په ضائع کيدلو باندے غم کول وي.
٢ – دَ اهلِ اراده غم : او دا په پراګندګئ باندے دَ زړهٔ په تعلق سره وي، او دَ شهود نه دَ نفس په مشغوليدو باندے وي، او دَ غم نه په تسلي کولو باندے وي. ځکه دا کس دَ نهٔ يريدو نه يريږي او دَ ژړا نهٔ راتلو نه ژاړي.
فإن كنت لا تدري فتلك مصيبة ○ وإن كنتَ تدري فالمصيبة أعظم
(کهٔ نهٔ پو هيږے نو دا يو مصيبت دے، اوکهٔ پو هيږے نو بيا خو مصيبت نور لوئے دے).
٣ – دَ راپيش کيدونکو خبرو دَ وجے نه غم کول : يعني زړهٔ ته کله اميد راځي نو ځهٔ وخت لا نهٔ وي تير شوے چه بيا ورته خوف راشي. او دارنګه ددے برعکس هم. دارنګه اُنس ورته راشي او ځهٔ وخت لا نهٔ وي تير شوے چه هيبت ورته راشي. چه ددے مختلفو را پيش کيدونکو ځيزونو دَ وجے نه ددهٔ خفګان پيدا شي.
دارنګه دَ قصدونو معارضات اودَ احکامو اعتراضونه : او ددے معنىٰ داده چه مؤمن الله ته رسيدل غواړي نو دهٔ ته دوه لارے راپيښے شي چه دا پته ورته نهٔ لګي چه په دے دواړو

کښې به الله ته کومه يوه زياته خوښه او محبوبه وي، نو ددې په وجه دې غمژن وي.
○ او دَ احکامو اعتراضونه دادي چه کله دَ مؤمن په زړهٔ کښې دَ تقدير په احکامو او کله په ديني اوامرو باندې اعتراضونه راځي نو په دې وجه دا غمژن کيږي.
ددې تفصيل په المدارج کښې اوګوره: (١/٥٠٨).
او نبي ﷺ فرمائي: «د خوندونو ماتونکې څيز چه مرګ دې ډير ډير يادوئ».
(رواه ابن حبان في صحيحه).
○ موسیٰ ﷺ چه کله دَ خضر ﷺ نه جدا کيدهٔ نو موسیٰ ﷺ ورته اووئيل: ماته نصيحت اوکړه. هغهٔ اوفرمائيل: دَ جګړې نه ځان ساته او بغير دَ حاجت نه چرته مهٔ ځه او بغير دَ تعجب نه مهٔ خانده، او په ګنهګار باندې تعجب مهٔ کوه.
○ په بل روايت کښې دي: اې دَ عمران ځويه! خطاء کيدونکو خلقو له دَ هغوئ په خطاء کيدو باندې پيغور مهٔ ورکوه او په خپلې ګناه باندې ژاړه. په هغه خندا کونکي باندې تعجب دې چه خاندي او اورئ مخې ته دې، او په هغه خوشحالئ باندې تعجب دې چه مرګ ئې مخې ته دې.
○ حسن بصريؒ په يو ځوان هلك تير شو او هغهٔ خندل، ورته ئې اوفرمائيل: ځويه تهٔ په صراط پُل باندې پوريوتې ئې؟ هغهٔ وئيلې: نه. وې فرمائيل: آياته دا ښکاره شوې چه تهٔ به جنت ته ځې او که جهنم ته؟ هغهٔ وئيلې: نه. وې فرمائيل: نو بيا ولې خاندې؟ راوي وائي: دغه ځوان ددې نه پس بيا هيڅ کله چا په خندا اونهٔ ليدلو.
○ ابن عباس ﷺ فرمائي: چا چه يوه ګناه اوکړه او خندا ئې کوله نو دابه په داسې حال کښې اور ته داخل شي چه ژاړي به.
○ يحيیٰ بن معاذ الرازيؒ فرمائي: څلور څيزونه دي چه مؤمن له ئې نهٔ خندا پريخي اونهٔ خوشحالي. (١) دَ آخرت غم (٢) دَ معاش غم (٣) دَ ګناهونو غم (٤) د مصيبتونو راتللو غم. يعني مؤمن له پکار دي چه په دې څيزونو باندې مشغول وي، دې دپاره چه دَ خندا او خوشحالئ نه ئې منع کړي.
ابن مسعود ﷺ فرمائي: حاملِ قرآن له پکار دي چه په خپله شپه باندې اوپيژندلې شي هر کله چه خلق اودهٔ وي. او په خپل ورځ باندې اوپيژندې شي هر کله چه خلق بوزه وي. او په خپل خفګان باندې اوپيژندې شي هر کله چه خلق خوشحاله وي، او په خپل ژړا اوپيژندې شي هر کله چه خلق خاندي. او په خپلې خاموشئ اوپيژندې شي هر کله چه

خلق بکواس کوی۔ او په خپلے خشوع اوپيژندے شی هر کله په خلق کبر کوی۔ او قرآن والا لـه پکار دی چه غمژن، بردبار، وقار او آرام والا وی۔ او مناسب نهٔ ده چه سخت، يا غافل يا چغے وهونکے يا تيز طبيعته وی۔

شقيق بن ابراهيم رحمه الله فرمائی : دَ بنده دپاره دَ غم او خوف نه سيوا بل هيڅ شے غوره ملګرے نشته۔ دَ مخکنو ګناهونو غم اودَ راتلونکی عمر په باره کښ خوف چه پته نشته په دهٔ به څهٔ نازليږی۔

بعض حکماؤ وئيلی دی : څوك چه ددے درے څيزونو نه سيوا دَ بل شئ **غم** کوی نو دا کس غم او خوشحالی نهٔ پيژنی : (۱) دَ ايمان غم چه ددهٔ آخره خاتمه به په دے راشی اوکه نه (۲) دَ الله دَ حکم غم کول چه دابه ئے پوره کړی اوکه نه (۳) دَ جګړه مارو غم – دَ چا حقونه چه دهٔ وهلی دی – چه دابه دَ هغوئ نه خلاص شی اوکه نه ؟

كعب الاحبارؒ فرمائی : دَ الله دخشيت دَ وجے نه چه زهٔ دومره اوژاړم چه زما اوښکے زما په اننګو باندے اوبهيږی، دا ماته ددے نه غوره دی چه زهٔ دَ خپل ځان برابر سرهٔ زر صدقه کړم۔ او هيڅ يو کس داسے نشته چه هغه د الله دَ خشيت دَ وجے نه اوژاړی تردے چه دَ هغهٔ دَ اوښکونه يو څاڅکے په زمکه اوغورزيږی، چه بيا دے دهٔ ته اور اورسيږی، تردے چه دَ آسمان نه را بهيدونکے څاڅکے بيرته آسمان ته واپس شی، اودا نهٔ واپس کيږی۔ نو لکه څنګه چه دَ آسمانه را بهيدونکے څاڅکے بيرته آسمان ته هيڅ کله نهٔ واپس کيږی، دغه شان څوك چه په دنيا کښ د الله دَ ويرے نه اوژاړی نو دابه هيڅ کله اور ته نهٔ داخليږی۔

ابن عباس ﷺ فرمائی : هيڅ يو سترګه نهٔ ده لمده شوے مګر دَ الله په فضل سره، او دَ هيڅ يو سری سترګه اوښکه نهٔ کوی تردے چه ملائك دَ هغهٔ زړهٔ مسح کړی۔

عمر بن عبد العزيز رحمه الله به دَ شپے دا آيت لوستلو :

﴿ إذ الأغلال فی أعناقهم والسلاسل يسحبون ﴾ [مؤمن : ۷۱]الآية.

(کله چه دَ دوئ په څټونو کښ طوقونه وی او په زنځيرونو کښ راښکلے شی)۔

دا آيت به ئے بار بار لوستلو اوژړل به ئے۔

تميم داری ﷺ بـه دا آيت کريمه بار بار لوستله اوژړل به ئے : ﴿ أم حسب الذين اجترحوا السيئات أن نجعلهم كالذين آمنوا وعملوا الصالحات سواء محياهم ومماتهم ساء ما يحكمون ﴾ [جاثيه : ۲۱] .(آيا کومو کسانو چه ګناهونه کړی دی مونږ به دوئ دَ هغه خلقو يشان اوګڼو چه هغوئ ايمان راوړے او نيك عملونه ئے کړی چه د دوئ ژوند او

مرگ دواړه به برابر وی، ډیره بده ده هغه فیصله چه دا خلق ئے کوی)۔
په کتاب اوسنت کښې دَ الله دَ خشیت دَ وجې نه ژړا طرفته ډیر زیات ترغیب راغلے۔ لکه دا حدیثونه په ریاض الصالحین وغیره کتابونو کښې اوگوره۔ دے باره کښې آیتونه او حدیثونه مشهور دی۔
دَ **عیسیٰ** ؈ په مخکښې چه به دَ قیامت تذکره اوشوه نو چغه به ئے کړه او، وئیلے به ئے : دَ مریم دَ ځوئے دپاره دا مناسب نهٔ دی چه دهٔ په خوا کښې دے دَ قیامت تذکره کیږی او دا دے خاموش وی۔ او دهٔ به چه کله وعظ واوریدهٔ دَ بورے بور چندے ښځے پشان به ئے چغے وهلے۔ او دوئ فرمائیلی دی : دَ مؤمن په زړهٔ کښې دَ دُنیا او دَ آخرت محبت داسے نهٔ یو ځائے ځنګه چه اوبهٔ او اور په یو لوښی کښې نهٔ یو ځائے کیږی۔ او فرمائی : دَ دُنیا خوږ والے دَ آخرت تریخ والے دے، او دَ دنیا تریخوالے دَ آخرت خوږ والے دے۔ او دَ الله بندګان خوش عیشه او مزے کونکی نهٔ وی۔ زهٔ تاسو ته حقه خبره کوم چه : پتاسو کښې بدترین خلق هغه دی چه هغهٔ تر ټو پورے خپل خواهش په خپل علم باندے مقدم کړے نهٔ وی دا خوښوی چه ټول خلق دهٔ پشان شی.......یو شاعر فرمائی :

أری رجـالا بـأدنی الدین قد قنعوا ○ ولا أراهـم رضـوا بـالعیش بـالدون
فـاستغـن بـالدین عـن دنیا الـملوك ○ كـمـا استغنـی الملوك بالدنیا عن الدین

(زهٔ ځهٔ سړی وینم چه دوئ په خپل کمزوری دین باندے قناعت کړے دے، حال دا چه زهٔ نهٔ وینم چه دوئ په خپل ښکته ژوند باندے راضی شوی وی۔ ★ نو تهٔ په دین سره دَ دنیا دَ بادشاهانو نه خپل ځان بے پرواه کړه، لکه ځنګه چه بادشاهانو په دنیا سره دَ دین نه ځان بے پرواه کړیدے)۔
او **عیسیٰ** ؈ فرمائی : زهٔ ددرے خلقو نه تعجب کوم۔ (۱) دَ دُنیا دَ طالب نه حالانکه مرگ دهٔ په طلب کښې دے (۲) دَ بنګلو جوړونکی نه حالانکه قبر دهٔ کور دے۔ (۳) او دَ هغه چانه چه په ډکه خُله خاندی حالانکه اور دهٔ مخامخ دے۔ اے دَ آدم ځویه ! نهٔ په ډیر شئ تهٔ مړیږے، نه په لږ شئ تهٔ قناعت کوے۔ تهٔ خپل مال هغه چا دپاره جمع کوے چه ستا صفت نهٔ کوی، او تهٔ په داسے رب ور روان ئے چه هغه تا معذوره نهٔ ګڼړی۔ تهٔ بس صرف دَ خپلے خیټے او شهوت بنده ئے۔ تهٔ به خپله خیټه هله ډکه کړے چه کله خپل قبر ته داخل شے او تهٔ به خپل جمع شوے مال اووینے چه دَ بل چا په تله کښې به وی۔
او یو ځل ئے خپلو ملګرو ته اوفرمائیل : تاسو دَ زمکے مالګه ئے نو کله چه تاسو خراب

شئ نو ستاسو علاج نشته، او پتاسو کښې دَ جهالت دوه خویونه دی: یو دَ تعجب نه بغیر خندل او بل دَ یے خوبئ نه بغیر دَ صبا په وخت اودهٔ کیدل۔ (البداية والنهاية : ۸۱/۲).

ځینې هوښیارانو وئیلی دی: عقلمند مؤمن له پکار دی چه دَ پنځو څیزونو غم اوکړی:

۱ - دَ تیر شوو گناهونو غم چه ددے نه به ورته معافی شوی وی اوکه نه ؟

۲ - دَ نیکیو غم چه دابه قبولے شوے وی اوکه نه ؟

۳ - دَ تیر شوے زندگئ غم چه دا پته نهٔ لگی چه باقی ژوند به څنگه وی ؟

٤ - ددے خبرے غم چه دَ الله دوه کورونه دی، پته نشته دے به کوم یو ته ورځی ؟

۵ - او ددے خبرے غم چه دا پته نشته چه الله ددهٔ نه راضی دے اوکه نه ؟

زهٔ وایم: دا عجیب او لازم غمونه دی۔ عقلمند سړے په دے کښې واقع کیدونکے دے، دا وجه ده، وئیلے کیږی چه: په دنیا کښې دَ تولو نه زیاته مزه اخستونکے شخص هغه دے چه په دوئ کښې دَ ټولو نه زیات کم عقل دے۔ او دَ ټولو خلقو نه زیات عقلمند هغه کس دے چه هغه په دوئ کښې زیات غم والا وی۔او مخکښې تیر شو چه څوك خندا پریدی نو دهٔ ته به دَ هیبت او رُعب توفیق ورکړے شی۔ لکه په اول جلد فائده نمبر (٦٠) کښې تیر شوی۔

ثابت بنانیؒ فرمائی: دَ مؤمن خندا ددهٔ دَ غفلت نه حسابیږی۔

یحییٰ بن معاذ الرازیؒ فرمائی: تهٔ داسے خوشحالی طلب کړه چه په هغے کښې هیڅ غم نهٔ وی، په داسے غم سره چه په هغے کښې هیڅ خوشحالی نهٔ وی۔

بعض هوښیاران وائی: درے څیزونه زړهٔ سختوی: دَ تعجب نه بغیر خندل۔ دَ لوږے نه بغیر خوراك کول۔ دَ ضرورت نه بغیر خبرے کول۔

ابراهیم نخعیؒ فرمائی: یو سړے یوه خبره په دے وجه دَ خُلے نه راوباسی چه خوا او شاته ناست خلق پرے اوخندوی، نو الله پرے ناراضه شی او دهٔ ته دَ الله ناراضتیا اورسی نو گیر چا پیره خلق په مزو کښې وی۔ او یو سړے یوه خبره دے دپاره دَ خُلے نه را اوباسی چه الله پرے خوشحاله کړی نو دهٔ ته رحمت اورسیږی، او دا رحمت گیر چاپیره خلقو ته هم شامل شی۔

عمر بن الخطاب رضی الله عنه فرمائی: «دَ چا خندا چه ډیره شوه، هیبت به ئے کم شی۔ او څوك چه مزاح کوی نو دهٔ پورے به تهوتے کیږی۔ څوك چه یو کار ډیر کوی، په هغے به مشهوریږی۔ څوك چه ډیرے خبرے کوی، غلطی به ئے ډیریږی۔ دَ چا غلطیانے چه ډیرے شوے دَ هغهٔ حیاء کمیږی، او دَ چا چه حیاء کمه شی، دَ هغهٔ تقویٰ کمه شی، او دَ چا تقویٰ چه کمه شی نو دَ هغهٔ زړهٔ مړ شی، او دَ چا زړهٔ چه مړ شی نو دهٔ سره اور ډیر لائق دے»۔

په **خندا او خوشحالئ** کښې ډير ضررونه دي :
۱ – علماء او عُقلاء به دے بدي بيان کړي۔
۲ – کم عقل خلق به دربانده زړور شي۔
۳ – دا سبب دے دَ گناهونو دَ هيرولو۔
٤ – دا سبب دے دَ مرگ دَ هيرولو۔
٥ – په راتلونکي وخت کښې په گناهونو باندے دَ زړورتيا سبب دے۔
٦ – دَ هغه چا گناه به هم ستا په غاړه وي، چاچه ستا په خندا سره اوخندل۔
۷ – کۀ تۀ ناپوهه ئے نو ناپوهي به دے زياته شي اوکه عالم ئے نو علم به دے کم شي۔ لکه امام اوزاعيؒ فرمائي : عالم سړے چه کله اوخاندي نو علم توئے کړي۔
۸ – په دنيا کښې خندا په آخرت کښې دَ ژړا سبب گرځي :
﴿ فليضحكوا قليلا وليبكوا كثيرا ﴾ [توبه : ۸۲].(لږ دے اوخاندي او ډير به اوژاړي)۔
خوشحالي او خندا دَ زړۀ دَ سخت والي او دَ آخرت دَ هيرولو نه پيدا کيږي۔ دارنگه په مهمو کارونو کښې دَ انسان دَ نۀ مشغوليدو او دَ الله او دَ هغۀ دَ حقونو دَ نۀ پيژندلو نه پيدا کيږي۔ دارنگه ددے دَ پيدا کيدو سبب، په مسلمانانو باندے دَ شفقت او رحمت نۀ کول دي کوم چه په مختلفو مصيبتونو کښې اخته دي۔ والله المستعان!
الله تعالىٰ دَ اور والو په صفاتو کښې فرمائي : ﴿ وأما من أوتي كتابه وراء ظهره فسوف يدعو ثبورًا ويصلى سعيرًا إنه كان في أهله مسرورًا ﴾ [انشقاق].
نو په دنيا کښې خوشحالي کول دَ کفارو او اور والو کار دے۔
★ او ددے دَ پيدا کيدو دوه **قبيح سببه** دي :
۱ – **يو** آخرت نه انکار او ددے عدمِ استحضار، دارنگه دَ الله عز وجل مخے ته اودريدل هيرول۔
۲ – **دويم** : هر وخت دَ الله عز وجل په ليدلو کتلو باندے ايمان نۀ لرل۔ لکه الله سبحانه وتعالىٰ دے خبرے ته اشاره کوي فرمائي : ﴿ إنه ظن أن لن يحور ﴾ [انشقاق : ۱٤].
(بيشکه چه دۀ دا گمان کولو چه دابه الله تعالىٰ ته را اونۀ گرځي)۔
﴿ بلىٰ إن ربه كان به بصيرًا ﴾ [انشقاق:۱٥].
(ولے نه ! بيشکه چه ددۀ رب په دۀ ښۀ عالم دے)۔
او دے کس په دغه لوئے عالم او ليدونکي ذات باندے ايمان نۀ لرلو، نو دے وجے نه کفر يا

ګناهونو سره ئې په خوشحالۍ کښې ژوند کولو۔ او په انجام کښې ئې هیڅ سوچ اونۀ کړو۔ څوك چه دَ انجام سوچ کوی نو دۀ شپې بې خوبه کیږی، خوب ئې آلوزی او غمونه خفګانونه ئې زیاتیږی۔

حسن بصریؒ فرمائی : هیڅ یو کس په قرآن ایمان نۀ دے راوړے مګر هغه به غمژن وی، ویلی کیږی به، ستړے او ستومانه کیږی به۔

دنیا دَ مزو او خوشحالو ځائے نۀ دے۔ دا خو دَ غمونو، خفګانونو او دَ آخرت دپاره دَ توښے تیارولو ځائے دے۔دے وجے نه په دنیا کښې خفه اوسیږه، کیدے شی چه الله تاته دَ همیشه جنت خوشحالۍ درنصیب کړی !

اے الله ! مونږ په خپل فضل او کرم سره ددے اهل اوګرځوه۔ یا رب العالمین !

امام ابن القیم رحمه الله په خپل ناشنا قصیده کښې فرمائی :

یا معرضًا عمّا یُراد به وقد	جدّ المسیر فمنتهاه دان
جذلان یضحك آمنًا متبخترًا	فکأنه قد نال عقد أمان
خلع السرور علی اوفی حلة	طردت جمیع الهم والأحزان
یختال فی برد المسرة ناسیًا	ما بعدها من حلة الأکفان
ما سعیه إلا لطیب العیش فی الدنیا	ولو أفضیٰ إلی النیران
قد باع طیب العیش فی دار النعیم	بذا الحطام المضمحل الفان

(ترجمه : اے هغه سړیه چه هغه دَ هغه شۍ نه مخ اړونکے دے کوم چه دۀ نه غوښتلے شی حالانکه دۀ مزل تیز کړے دے نو منزلِ مقصود ئې رانزدے دے ★ دا خوشحاله دے خاندی، بیغمه او تکبر کونکے دے، تۀ به وائې چه عهدِ امان ئې حاصل کړے دے۔ ★ دۀ خوشحالی لرے کړیده او هغه لباس ئې اغوستے دے چه هغې ټول غمونه او خفګانونه شړلی دی۔ ★ دے دَ خوشحالۍ په څادر کښې تکبر کوی حالانکه دۀ ددے نه پس دَ کفنونو جوړه هیره کړیده۔ ★ دے صرف په دنیا کښې دَ خوش عیشۍ په طلب کښې دے، اګرکۀ دائے اورونو ته اورسوی۔ ★ دۀ په جنت کښې مزیدار ژوند په دے فنا کیدونکی دنیوی سامان باندے خرڅ کړیدے)۔ تر آخره پورے۔ دیر ښۀ شعرونه دی، چه کتل ئې پکار دی۔



٦ - فائده

دَ دُعاء نۀ قبلیدو وجه

انسان دعاء غواړي، ژړا کوي، تضرع او عاجزي کوي، په خپله دعاء کښې اخلاص کوي، او دَ الله تعالیٰ نه هدایت او توفیق غواړي، او ددې هر څۀ باوجود ددۀ دُعاء نۀ قبلیږي۔ او دا په خپل بدعت او خرافاتو او گمراهیو کښې ډوب وي۔ نو ددې بنیادي دوه وجهې دي :

۱ - اوله وجه : دا کس دَ الله دپاره په خپل ځان باندې هیڅ حق نۀ مني، بلکه الله چه کوم عظیم نعمتونه دۀ ته ورکړي هغه سپك گڼړي۔

په یو اثر کښې راغلي چه موسیٰ علیه السلام په یو سړي تیر شو چه دعاء ئې غوښتله او عاجزي ئې کوله، نو رحم ئې پرې راغې او عرض ئې اوکړو : اې ربه ! په دې سړي رحم اوکړه، ځکه چه زما پرې هم ترس راغې۔ حال دا چه تۀ ارحم الراحمین ئې ! الله عز وجل ورته اوفرمائیل : اې موسیٰ ! کۀ ددۀ ټول طاقتونه په دعاء کښې ختم شي نو زۀ به ددۀ دعاء قبوله نۀ کړم۔ ځکه چه دې په خپل ځان باندې زما هیڅ حق نۀ مني۔

۲ - دویمه وجه : الله عز وجل دَ هر یو مطلب دپاره اسباب مقرر کړي، او دَ هر مقصد دپاره ئې وسائل مقرر کړي چه دَ هغې اختیارول ضروري دي، نو کله چه بنده دغه اسباب پریږدي او په خپل اختیار سره ئې بیکاره کړي نو بیا په دې وخت کښې ددۀ دعاء له هیڅ اعتبار نشته اونۀ ئې دعاء قبلیږي۔

دعاء خو صرف هغه چاته فائده رسوي څوك چه دَ خپل مقصد دپاره هغه صحیح اسباب اختیار کړي، چه الله تعالیٰ ددې دپاره مقرر کړي دي، نو بیا ددۀ دعاء فائده کوي او قبلیږي۔

الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ أوفوا بعهدي أوف بعهدكم ﴾ [بقره : ٤٠].

(تاسو زما لوظ پوره کړئ زۀ به ستاسو لوظونه پوره کړم)۔

نو اول د الله لوظونه پوره کول واجب دي، بیا دَ الله تعالیٰ دا طریقه ده چه هغه دَ خپلې وعدې خلاف نۀ کوي او هغه درله دعاء قبلوي او مقصد درله درکوي۔

ددې مثالونه :

۱ - یو سړے دے چه دَ امت دَ کامیابئ او کامرانئ او په کافرانو باندې دَ غالب کیدو او دَ

کافرانو دَ شکست او ذلت دپاره په تضرع، عاجزئ او اخلاص او محبت سره دعا ګانے غواړی۔ لیکن دے نهٔ دَ الله په لار کښې جهاد کوی اونهٔ قتال، بلکه دَ جهاد خلاف کوی او دے سره عناد لری، او دا وائی چه : دا دَ کامیابئ لار نهٔ ده۔ بلکه دَ کامیابئ لار – ددهٔ په نیز – صُوفیانه دعوت او بدعی عملونه دی۔ نو ددے سړی دا دُعاء به څنګه قبوله شی ؟ کهٔ دا سړے دومره دعاګانے اوغواړی چه اندامونه او څټ ئے هم قطع شی نو ددهٔ دعاء به قبوله نشی، مګر که الله اوغواړی۔ ولے چه دهٔ دَ کامیابئ دپاره صحیح اسباب نهٔ دی تالاش کړی۔

۲ – دارنګه یو سړے چه دَ خپل ځان دپاره دَ هدایت او اتباعِ سُنت دعاء غواړی۔ حالانکه دا بدعتی او ګمراه او دَ حق سره عناد کونکے وی، او دَ اهل الحق والسنت او اهل الحدیث والقرآن سره بُغض لری۔ او کله چه ورته حق بیان شی نو غاړه نهٔ ګدی بلکه عناد او تکبر او اعراض کوی۔ نو دَ قرآن ختمولو یا درس ختمولو نه پس چه دا دعاء غواړی نو ددهٔ دا دعاء به څنګه قبوله شی ؟

۳ – دارنګه یو سړے دَ خپل زړهٔ دَ اصلاح، ددے دَ هدایت، ددے دَ نورانیت، ددے دَ تقویٰ او ژوند دپاره دُعاء غواړی، حالانکه دا په ګناهونو کښې بوخت دے چه زړهٔ خیرنوی او مړ کوی ئے او یائے دَ مزل او پاڅیدو نه کمزورے کوی۔ لکه یو کس حرام خوری او یا زنا کوی او یا دَ غیر محرم ښځو نه نظر نهٔ ښکته کوی او یا لغوه، مزاح او خندا ګانے ډیرے ډیرے کوی، او یا دَ پردو ښځو سره خبرے اترے کوی، او یا دَ بیوقوفانو او کم عقلو خلقو ملګرتیا کوی : نو آیا ددهٔ دا دعاء به دهٔ له فائده ورکړی ؟ په داسے حال کښې چه دے دا کارونه کونکے دے او توبه ترے نهٔ اویاسی ؟

٤ – دارنګه یو سړے دَ علمِ نافع او عملِ صالح دپاره دعاء غواړی او علم نهٔ زده کوی اونهٔ دَ زده کړے دپاره علماؤ ته کینی او نهٔ دَ قرآن کریم مطالعه کوی او نهٔ پکښې فکر کوی : نو د علم دپاره دعاء غوښتل به دهٔ له څهٔ فائده ورکړی !

آیا دهٔ ته به علمِ لَدُنی ورکولے شی اوکه نه وحی به ورته کیږی ؟ نه ! بلکه کهٔ ده هغه اسباب اختیار کړل چه دَ هغے په ذریعه انسان علم حاصلوی او بیائے دعاګانے غوښتلے نو ان شاء الله چه ددهٔ دعاء به نهٔ رد کیږی بلکه قبلیږی به۔

٥ – دارنګه یو سړے دَ رعیت دَ اصلاح، امن، کامیابئ او دَ عذابونو او فتنو نه دَ نجات دپاره دعاء غواړی۔ خو دے په کتاب او سنت باندے فیصلے نهٔ کوی، اونهٔ په شریعتِ لامی باندے حکم کوی۔ بلکه دَ شریعت خلاف کوی او دے سره عناد لری او سپک ئے

ګنړي : نو آیا ددهٔ دا دعاء به قبوله شي ؟ او که نه په دهٔ به د الله غضب او عذاب نازلیږي ؟

٦ – دارنګه یو سړے دَ امامانو او دَ واکدارو خلقو د اصلاح دپاره په حرم کښې او بهر دَ حرم شریف نـه دعـاګـانـے غـواړي۔ حـال دا چـه په دویٔ کـښې اکثره خلقو دَ الله شرع پریښے او امـریـکـایـانو او نورو کافرانو سره ئے دوستانه تعلقات قائم کړي وي، نو آیا د دویٔ دا دعاء به قبولـه کـړے شي ؟ نه۔ دا نهٔ قبلیږي، دا قِسم دعاګانے مونږ دَ څلویښتو کالو راسے آورو چه هیڅ اثر نهٔ لري۔

۷ – دارنـګـه یو سړے دَ اسلام او سـنـت دَ خـورولـو دپاره دعـاګـانے غواړي، خو پـه خپل درسـونـو، خـطـبـو، وعـظـونـو او کتابونو سره الله طرفته دعوت نهٔ ورکوي، نو آیا صرف په دعاء سره به اسلام او سنت خوارهٔ شي ؟

۸ – دارنګه یو سړے دَ خپلې مدرسے او جامعے او دَ طالبانو دَ اصلاح دپاره دعاګانے غواړي او ددے په باره کښې کوشش هم کوي، اِو ددے باوجود دَ دغه مدرسے اکثر طالبان فاسقان وي او پـه دویٔ بـانـدے دَ فسـق او فـجـور او غـفـلت او دَ سنت دَ مخالفت آثار ښکاري۔ ددے وجه داوي چـه دهٔ دا مـدرسه دَ دُنیا طلب کولو دپاره جوړه کړے وي۔ او یائے ددے دپاره جوړه کړے وي چـه پـه دے کـښې بـه سـنـدونـه او شهادتونه ملاویږي چه په دے سره به خلق حکومتي مـنـصبـونـو او یا بهر ملکونو ته سفرونه کوي۔ نو طالب دَ دغه غرضونو دپاره په مدرسه کـښې داخـلـه اخلـي او دَ خپل نفس دَ اصلاح او دَ خپلو مرضونو دَ لرے کولو هیڅ خیال نهٔ لري۔ نو ددے مُدیر دعاء به دَ دغه طالب په حق کښې څنګه قبوله شي ؟

سره ددے چه دَ فساد سبب خپل طالب او ددهٔ قبیح نیت او اراده ده وي !!

دے کـښې فکر اوکړه، څکه چه دا کار مونږ لیدلے، په مشاهده کښې راغلے او تجربه مو پرے کړیده !

۹ – پـه مـحسـوساتو کښې ددے مثال دادے چه : یو سړے دَ ولـد پـیـدا کیدو دپاره دعاګانے غواړي خو وادهٔ نهٔ کوي او نهٔ وینځه ساتي نو آیا ددهٔ دعاء به قبوله شي ؟

او دغسے بـاقـي څیـزونـه هـم واخله۔ ددے قاعدے خیال ساتل ضروري دي، ولے چه په دے کښې ډیرے فائدے دي۔

څـکـه ډیر خـلـق – خـاصـکـر زنـانـه او عوام خلق – ډیر لویٔ دیني حاجتونه په معمولي مـعـمـولـي دعـاګـانـو او ذکرونو سره غواړي، حال دا چه دَ هغے دپاره چه کوم اسباب لازمي طور سره اختیارول پکار دي، هغه نهٔ اختیاروي !

بیا چه دَ دویٔ دعاء قبوله نشي نو په دعاء، ذکر او قرآن باندے بدګماني شروع کړي، بلکه په الله عز وجل باندے بدګماني کوي چه هغه دَ چا دعاء نهٔ قبلوي. حالانکه دویٔ خپله په خپل ځان باندے دَ قبولتیا دروازه بنده کړے وي، چه ددے کوم مشروع اسباب دي هغه نهٔ اختیاروي. او دا دَ الله جاري عادت دے په خلقو کښې.

او دا قاعده غالباً په دیني مقاصدو او روحاني مطلبونو کښې استعمالیږي ځکه چه په دے کښې مجاهده شرط وي، نهٔ دنیوي مالونه. ولے چه دا کله بغیر دَ سبب او مجاهدے نه هم ملاویږي. مجاهده خو صرف دَ اول قِسم مقصدونو دپاره شرط ده.

لکه علماء فرمائي : دَ الله عز وجل او دَ هغهٔ دَ رسول (ﷺ) محبت دَ کسبي امورو سره تعلق لري، نهٔ یواځے دَ وهبي امورو سره. یعني ددے دَ حاصلولو دپاره مجاهده شرط ده، یواځے په زړهٔ کښې اچولو سره نهٔ حاصلیږي. والله تعالیٰ اعلم.

نو دَ چاچه څهٔ حاجت او مقصد وي، او هغے دپاره دعاګانے غواړي او قبلیږي نهٔ، نو هغهٔ له پکار دي چه دوباره اسباب استعمال کړي، او کارونه تازه کړي او علام الغیوب ذات رغبت اوکړي، نو ددهٔ دعاء به ان شاء الله قبوله شي.

بیا دغه مذکوره دوه سببونه چه مونږ ذکر کړل، دا هله فائده ورکوي، چه دعاء په خپلو هغه شرطونو سره اوکړے شي کوم چه په سُنت کښې راغلي دي. چه هغه مونږ دَ اسم اعظم په فوائدو کښې روستو ذکر کړي دي.

(یوم الفطر شوا : ١/١٠/١٤٢٦).



۷ - فائده

دَ دُنيوي او اخروي عذاب دفع كولو اسباب

الله تعالىٰ په خپل رحمت سره انسان له دَ خپلو عذابونو نه دَ بچ كولو دپاره ګڼړ اسباب مقرر كړي دي. چه بعضِ دَ هغې نه دادي :

اول سبب : په يو ځائے كښ دَ رسول الله ﷺ وجود : لكه الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ وما كان الله ليعذبهم وأنت فيهم ﴾ [انفال : ٣٣].

(او نهٔ دے الله چه دوئ له عذاب وركړي په داسے حال كښ چه تهٔ په دوئ كښ موجود ئے).

دويم سبب : د رسول الله ﷺ سره رشتينے محبت چه دا په زړهٔ سره وي او دَ هغوئ دَ امرونو او سنتونو په اتباع سره وي، نهٔ په يواځے دعوو سره. لكه څنګه چه اهلِ بدعت دَ رسول الله ﷺ دَ محبت دعوىٰ كوي او دَ سنتو مخالفت كوي بلكه هغے سره جګړے كوي.

امام ابن قيم رحمه الله فرمائي : هر كله چه دَ كافرو په مينځ كښ دَ رسول الله ﷺ دَ موجودګئ په وجه عذاب نهٔ راځي نو دَ مؤمن په زړهٔ كښے چه دَ هغوئ ﷺ محبت وي نو آيا په دے سره به عذاب نهٔ دفع كيږي ؟ دا خو ددے ډير لائق دے چه الله ورله عذاب ورنهٔ كړي، او دا په ګوني او شرعي طور واقع هم دے. (بدائع التفسير).

دريم سبب : اَستغفار او توبه : الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ وما كان الله معذبهم وهم يستغفرون ﴾ [انفال : ٣٣] .(او نهٔ دے الله چه دوئ له په داسے حال كښ عذاب وركړي چه دوئ بخښنه غوښتونكي وي).

دَ تفسير په كتابونو كښ راغلي چه ابن عباس رضى الله عنهما فرمائي : الله تعالىٰ په دے امت كښ دوه اَمانونه مقرر كړي دي. چه دَ هغے دواړو په وجه به خلق دَ عذابونو نه هميشه محفوظ وي تر څو چه هغه دَ دوئ ترمينځه موجود وي. (١) يو هغه امان دے چه الله واخستلو. (يعني رسول الله ﷺ). (٢) او بل هغه امان چه هغه پتاسو كښ پاتے دے، يعني دا قول دَ الله تعالىٰ چه : ﴿ وما كان الله معذبهم وهم مستغفرون ﴾ [انفال : ٣٣].

امام ترمذيؒ په خپل سند سره دَ ابو موسىٰ اشعري رضى الله عنه نه روايت كوي چه

رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « الله تعالیٰ په ما باندے زما دَ امت دپاره دوه امانونه نازل کړی : (او هغه دادی) : ﴿ وما كان الله ليعذبهم وأنت فيهم ﴾. ﴿ وما كان الله معذبهم وهم مستغفرون ﴾. (نۀ دے الله چه دوئ له عذاب ورکړی په داسے حال کښې چه تۀ په دوئ کښې موجود ئيے)۔(او نۀ دے الله چه دوئ له په داسے حال کښې عذاب ورکړی چه دوئ بخښنه غوښتونکی وی)۔

نو کله چه (نبی ﷺ فرمائی) زۀ لاړم شم نو په دوئ کښې به تر قيامته پورے استغفار پريدم »۔ (ابن كثير : ٢/ ٤٠٤).

څلورم سبب : صحيح ايمان لرل۔

پنځم سبب : د الله تعالیٰ په نعمتونو باندے شکر کول :

دا دواړۀ هم عذاب دفع کوی، او عافيت او سلامتيا راولی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ ما يفعل الله بعذابكم إن شكرتم وآمنتم وكان الله شاكرا عليمًا ﴾ [نساء : ١٤٧].

(الله تعالیٰ ستاسو په عذاب څۀ کوی ؟ کۀ چرے تاسو شکر اوکړو او ايمان مو اولرلو، او الله دَ عملونو قدر کونکے او پوهه ذات دے)۔

نو الله تعالیٰ ديته اشاره کوی چه هغه هيچاله عذاب ورکولو ته حاجت نۀ لری او نۀ په دے کښې خپل ځانته فائده لټوی۔ خو رحمتِ الهي يو ځائے غواړی چه دَ رحمت قابل وی، او هغه دا چه انسان دَ ايمان او شکر په حال کښې وی۔ او کله چه ددے نه خالی شی نو بيا خو پرے الله خپل عذاب راليږی۔

نو څوك چه دَ خپل ځان دَ نجات اراده لرونکے وی هغۀ له ضروری دی چه خپل ځان دَ ايمان او شکر په زينت سره ډولی کړی۔

شپږم سبب : اصلاح کول او دَ ټولو فسادونو نه منع کول :

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ فلولا كان من القرون من قبلكم أولو بقية ينهون عن الفساد فی الأرض إلا قليلا ممن أنجينا منهم ﴾ [هود : ١١٦].(نو ولے نه ده چه په تيرو شوو پيړو کښې داسے عقلمند خلق وے چه هغوئ دَ فساد نه منع کولے، مګر کم دَ هغه خلقو نه چه هغوئ له مونږ په دوئ کښې نجات ورکړو)۔

نو الله سبحانه وتعالیٰ هغه خلقو له نجات ورکړو چه هغوئ به خلق دَ فساد نه منع کول، نۀ نورو لره۔ او الله فرمائی : ﴿ أنجينا الذين ينهون عن السوءِ وأخذنا الذين ظلموا بعذاب بئيس بما كانوا يفسقون ﴾[اعراف : ١٦٥].

(مونږ هغه خلقو له نجات ورکړو چه هغوئ به دَ گناه نه منع کوله او ظالمان خلق مو په خراب عذاب کښې راگير کړل په سبب دَ هغه عملونو چه دوئ به کول).
او الله فرمائي : ﴿ وما كان ربك ليهلك القرىٰ بظلم وأهلها مصلحون ﴾ [هود : ۱۱۷].
(او ستا رب داسے نهٔ دے چه کلي والا په ظلم سره هلاك کړي حال دا چه دوئ اصلاح کونکے وي).
مصلحانو خلقو باندے خو الله تعالىٰ کلي او بندگان دواړه آبادوي.
البته نيکان خلق دَ دنيوي عذاب نه نشي بچ کيدلے. لکه حديث کښې دي :
أنهلك وفينا الصالحون ؟ قال : نعم، إذا كثر الخبثُ. (بخاري).
(آيا مونږ به په داسے حال کښې هم هلاکيږو چه په مونږ کښې نيکان خلق موجود وي ؟ نبي ﷺ اوفرمائيل : هاؤ. کله چه خباثت يعني گناهونه ډير شي).
په حديث کښې دي : إن الله لا يعذب العامة بعمل الخاصة حتى إذا رأوا المنكر بين ظهرانيهم وهم قادرون على أن ينكروا فلا ينكروا فإذا فعلوا ذلك عذب العامة والخاصة. (شرح السنة).
(الله تعالىٰ عامو خلقو له دَ خاصو خلقو په عمل سره عذاب نهٔ ورکوي، ترديے چه کله دوئ په خپل مينځ کښې خلافِ شرع کارونه اووينى او دوئ دَ هغے په منع کولو قادر هم وي او هغه منع نهٔ کړي. نو کله چه دوئ دا کار اوکړي نو عامو او خاصو ټولو له عذاب ورکوي).
اووم سبب : الله تعالىٰ نه په تضرع او عاجزئ سره دَ نجات دعاء غوښتل.



۸ - فائده

ایمان بربادونکی څیزونه

دے دپاره چه هغه مؤمن چه په خپل ایمان باندے غیرت کوی، ددے نه ځان اوساتی، ولے چه مؤمن به ددے کار نه په خپل ځان باندے یریږی. په الله پورے پناه غواړو!

امام بخاری رحمه الله په کتاب الایمان کښې فرمائی: باب دے په بیان دَ خوف دَ مؤمن کښې ددے نه چه ددهٔ عمل به برباد شی او دهٔ ته به پته هم نهٔ وی.

زهٔ دلته هغه ایمان بربادونکی څیزونه ذکر کوم چه په کتاب سنت او دَ علماؤ په اقوال کښې ما موندلی وی، کیدے شی چه ددے په ذکر کولو سره الله تعالیٰ مونږ ټولو ته نفع راکړی. ځکه نصیحت ایمان والو ته فائده ورکوی.

۱ - دَ الله تعالیٰ او دَ هغهٔ دَ رسول (ﷺ)، دَ هغهٔ دَ کتاب او دَ هغهٔ د دین بے ادبی کول:

بے ادبی کولو سره عمل بربادیږی. الله تعالیٰ فرمائی:

﴿ یا أیها الذین آمنوا لا ترفعوا أصواتکم فوق صوت النبی ولا تجهروا له بالقول کجهر بعضکم لبعض أن تحبط أعمالکم وأنتم لا تشعرون ﴾ [حجرات: ۱].

دا آیتِ کریمه دَ ابو بکر صدیق او عمر - رضی الله عنهما - په باره کښې نازل شوے، کله چه دَ دویٔ آوازونه دَ نبی کریم ﷺ په مجلس کښې اوچت شول، نو نبی ﷺ اوفرمائیل: نزدے وه چه دَوه غوره سری تباه شوی وے. (بخاری).

نو دا دهمکی هغه چاته ده چه هغهٔ دَ بے ادبئ اراده نهٔ وه کړے، نو دَ هغه چا باره کښې به څهٔ وائے چه هغهٔ ددے اراده کړے وی؟ الله پورے پناه غواړو!

۲ - رسول الله ﷺ پورے یا دَ الله په آیتونو یا دَ هغهٔ په دین پورے توقے کول:

الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ ولئن سألتهم لیقولن إنما کنا نخوض ونلعب قل أبالله وآیاته ورسوله کنتم تستهزؤن لا تعتذروا قد کفرتم بعد إیمانکم ﴾ [توبه: ۶۵، ۶۶].

(که تهٔ دَ دویٔ نه تپوس اوکړے نو خامخا وائی چه مونږ خو ګپ لګوو او خپل ځان مشغولوو، ورته اووایه آیا الله او دَ هغهٔ آیتونو او دَ هغهٔ په رسول پورے تاسو توقے کوئ، بهانے مهٔ کوئ تاسو د خپل ایمان نه پس کفر کړیدے).

مفسرین فرمائي : منافقانو اوویل : مونږ ددې قاریانو نه علاوه بل هیڅوك داسې نۀ دي لیدلي چه هغوئ په خیټو کښې ډیر رغبت لرونکي او په جنګ کښې ډیر بُزدله وي۔ او، وئیلې : اوګورئ دې سړي ته چه دَ شام بنګلې فتح کوي او دَ رومیانو قلعې نیسي ! نو الله تعالیٰ خپل نبي ﷺ له په دې خبره اطلاع ورکړه او هغۀ اوفرمائیل : تاسو دا خبرې کړي دي ؟ نو هغوئ قسَم اوکړو چه مونږ خو ګپ لګولو او توقې مو کولې۔ نو نبي ﷺ ورته اوفرمائیل : آیا تاسو په الله، دَ هغۀ په آیتونو او دَ هغۀ په رسول پورې توقې کوئ ؟ (قرطبي).

په دې باب کښې توقې او رشتیا دواړو سره سړے کافر کیږي۔

۳ – په ایمان باندې شکر نۀ اوخکل۔

٤ – دَ ایمان تللو نه نۀ یریدل۔

٥ – مؤمنانو له تکلیف ورکول۔

دَ بعضِ علماؤ – لکه ابو القاسم الحکیمؒ – نه نقل دي چه دَ هغۀ نه تپوس اوشو : څۀ داسې ګناه شته چه دَ بنده نه ایمان ختموي ؟ وې فرمائیل : هاؤ۔ درې څیزونه دي چه دَ بنده نه ایمان ختموي :

۱ – په اسلام باندې شکر نۀ کول۔

۲ – دَ اسلام دَ تللو نه نۀ یریدل۔

۳ – په مسلمانانو باندې ظلم کول۔

دا خبره مخکښې په اول جلد (۱/ ٤۱۱) کښې هم تیره شوې۔

٦ – **دَ الله تعالیٰ** قابلِ احترام څیزونه په بې باکئ سره ماتول۔

ثوبان ﷛ نه روایت دې چه نبي ﷺ اوفرمائیل : « ماته زما په امت کښې ډیر داسې خلق معلوم دي چه دَ قیامت په ورځ به دَ تهامې (عربستان) دَ غرونو هومره سپینې نیکئ راوړي۔ نو الله تعالیٰ به هغه دَ ګرد او غبار پشان والوزوي۔ ثوبانؓ عرض اوکړو، یا رسول الله ! ددې خلقو بیان مونږ ته اوکړه، دا خلق مونږ ته واضحه کړه ! هسې نۀ چه مونږ دَ دوئ نه شو او مونږ ته به پته هم نۀ وي۔ وې فرمائیل : خبردار ! دوئ به ستاسو ورونه وي، اوستاسو قوم قبیلې سره به تعلق لري۔ او دَ شپې په حصه کښې به عبادت هم کوي څنګه چه تاسو عبادت کوئ۔ خو دوئ به داسې خلق وي چه کله یواځې شي نو دَ الله دَ حرام کړي څیزونو پرده به ماتوي »۔

(ابن ماجه، رقم: ٤٢٤٥، بإسناد صحيح، الصحيحة: ١٨/٢، ٥٠٥).

نو دا حديث ډير قابلِ خوف حديث دے۔ اے الله! پتا پورے پناه!

۷ - مسلمانانو سره هيڅ بے هيڅ جنګيدل:

نبي ﷺ فرمائي: «مسلمان ته کنځل کول نافرماني ده او جنګ کول ورسره کفر دے»۔ (بخاري، مسلم).

دا حديث امام بخاري دَ ايمان دَ ختميدو دَ ويرے په باب کښ ذکر کړے۔ په دے کښ ديته اشاره ده چه جنګ کول او په دے باندے هميش والے کول ددهٔ دَ ظلم په وجه کله انسان کفر ته رسوي او اسلام نه ئے اوباسي۔

۸ - په ظاهري او باطني ګناهونو باندے هميش والے کول:

په داسے حال کښ چه انسان ته پته وي چه دا ګناه ده او بيا پرے هم اصرار کوي، نو دے سره کله دا انسان کفر ته هم رسي۔ چه په دے سره الله دهٔ له عقوبت ورکوي۔ ځکه د الله عقوبت (عذابونه) کله مالي وي اوکله بدني، کله په اولاد او محبوبو خلقو کښ وي، او کله په دين او ايمان کښ وي۔

نبي کريم ﷺ فرمائي: «هغه خلقو له تباهي ده چه هغوئ سره دَ پوهے په خپلو ګناهونو باندے هميش والے کوي»۔(رواه أحمد مرفوعًا، فتح الباري: ٩٢/١).

امام بخاريؒ فرمائي: دَ توبے نه بغير په جګړو او نافرمانيو باندے هميش والے په دے وجه حرام دے چه الله فرمائي: ﴿ولم يصروا على مافعلوا وهم يعلمون﴾ [آلعمران: ١٣٥].

(اودوئ په خپلو کړو باندے هميش والے نهٔ کوي په داسے حال کښ چه دوئ پو هه وي)۔

دارنګه دَ الله تعالىٰ په دے قول کښ ورته هم اشاره ده: ﴿فلما زاغوا أزاغ الله قلوبهم﴾ [صف: ٥] (کله چه دوئ کاږهٔ شو، الله تعالىٰ د دوئ زړونه کاږهٔ کړل)۔

دارنګه دا قول دَ الله تعالىٰ:

﴿ونقلب أفئدتهم وأبصارهم كما لم يؤمنوا به أول مرة ونذرهم في طغيانهم يعمهون﴾ [انعام: ١١٠]. (او مونږ د دوئ زړونه او نظرونه اړوو لکه څنګه چه دوئ په دے (قرآن) باندے اول ځل ايمان رانهٔ وړو، او مونږ دوئ په خپله سرکشئ کښ سرګردانه پريدو)۔

او فرمائي: ﴿أولم يهد للذين يرثون الأرض من بعد أهلها أن لو نشاء أصبناهم بذنوبهم ونطبع على قلوبهم فهم لا يسمعون﴾ [اعراف: ١٠٠].

(آيا نهٔ ده ښکاره شوے هغه خلقو ته چه دوئ په ميراث کښ کتاب وړي روسته دَ اهل

ددے نـه چه کۀ مونږ اوغواړو نو دوئ ته به دَ دوئ دَ گناهونو په وجه رسيدل اوکړو او د دوئ په زړونو به مُهر اولگوو نو دوئ به هيڅ نۀ آوری).
او د الله دے قول ته اوگوره :
﴿ كـلا بـل ران على قلوبهم ما كانوا يكسبون ﴾ [مطففين : ١٤] .**(هيـڅ کله داسے نۀ ده ! بلکه الله دَ دوئ په زړونو باندے دَ دوئ دَ عملونو په وجه زنگ وهلے دے).**
نـو دا او ددے پشـان نور آيتونه، کۀ تۀ په دے کښ سوچ اوکړے نو تاته به معلومه شی چه کلـه پـه هـغـه فـاسـق مسـلـمـان باندے هم عذاب نازليږی چه هغه دَ خپل ايمان لحاظ نۀ ساتـی، بـلـکه په خپله گناه باندے هميش والے کوی، چه ددۀ نه ايمان واخستے شی۔ په الله پورے پناه !
۹ – مؤمنانو **سره دوستی نۀ کول، او کافرانو سره دشمنی نۀ کول :**
مـؤمـنـانو سره دشمنی کول او کافرانو سره دوستی کول، يا دواړه کاره نۀ کول، لکه څنگه چه دَ اکثرو خلقو حالت دے چه په دوئ کښ په خپل دين باندے هيڅ غيرت نۀ وی۔ دَ دوئ دوستی دُشمنی صرف په دنيا باندے وی۔
الله تـعـالیٰ فرمائی : ﴿ يـا أيهـا الـذيـن آمـنـوا من يرتد منكم عن دينه فسوف يأت الله بقوم يحبهم ويحبونه أذلة على المؤمنين أعزة على الكافرين .. الآية ﴾ [مائده : ٥٤].
(اے ايـمـان والـو ! څـوك چـه پـتـاسـو کښ د خپل دين نه واوړيدۀ نو زر دے چه الله به داسے خـلـق راولـی چـه الله بـه دوئ سره مينه کوی اودوئ به الله سره مينه کوی، مؤمنانو سره به نرمی او کافرانو سره به سختی کونکی وی).
دا خبرۀ الله هـغـه وخت ذکر کړه کله ئے چه دَ منافقانو نه په دے وجه د دوئ ايمان واخستلو چـه دوئ مـؤمـنـانو سره دوستی او کافرانو سره دُشمنی اونۀ کړه۔ نو په دے کښ ديته اشاره ده چه په دے کار سره دَ انسان نه ايمان اخستے کيږی۔
او په دے قول دَ الله تعالیٰ کښ دے خبرے ته واضحه اشاره ده :
﴿ أتـريدون أن تجعلوا لله عليكم سلطانا مبينا ﴾ [نساء : ١٤٣].**(آيا تاسو غواړئ چه دَ الله دپاره په خپلو ځانونو باندے ښکاره حجت قائم کړئ).**
۱۰ – کافرانو **سره دَ هـغوئ په لباس، اخلاق او چال چلن کښ مشابهت اختيارول او دَ هغوئ نه متأثره کيدل۔ نبی ﷺ فرمائی : « هـغـه څوك زمونږ نه نۀ دے چه هغه زمونږ نه سيوا دَ بل چاسره ځان مشابه کوی »۔**

۹ - فائده

دَ الله دَ عذاب، او دَ خراب تقدیر نه دَ بچ کیدو اسباب

مونږ دَ زیارت په ورځ په ذی القعده (۳۷/ ۱۱/ ۱٤۲٦) هـ کښې دَ مشکوٰة درس اوکړو، نو ماته الله په زړهٔ کښې واچول چه دَ الله دَ عذاب او دَ بد تقدیر او بدے خاتمے نه بچ کیدل په یو څو کارونو سره دی۔ کهٔ چرے انسان دا بیکاره نهٔ کړی نو الله تعالیٰ ئے نهٔ ضائع کوی اونهٔ په دهٔ باندے خراب تقدیر جاری کوی۔ څکه تقدیر خو د الله په لاس کښې دے۔ څهٔ اضطراری څیز نهٔ دے۔

هغه کارونه دادی :

۱ -اول کار : الله تعالیٰ ته په عاجزه او انابت کونکی زړهٔ سره همیشه دپاره زاری کول، او هغهٔ ته التجاء کول او دَ هغهٔ د دروازے په درشل باندے سر بسجود کیدل۔ او هم ددے مقصد دپاره دَ څیزونودَ هدایت او گمراهئ او دَ کفر او ایمان تقدیر مقرر شوے دے، دے دپاره چه انسان الله تعالیٰ ته عاجزی اوکړی، چه هغه پرے بنائسته تقدیر جاری کړی او دَ بدبختیا دَ اسبابونه ورله نجات ورکړی۔ دا وجه ده، حدیث کښې دی : لا یرد القدرَ إلا الدُّعاءُ. (مشکاة). (تقدیر بس صرف دعاء رد کولے شی)۔

دے کښې دیته اشاره ده چه دَ تقدیر په رد کولو کښې کثرتِ دعاء ډیره زیاته مؤثره ده۔

نبی کریم ﷺ به فرمائیل : « بیشکه زړونه دَ رحمٰن ذات دَ دوو گوتو ترمینځه دی، لکه دَ یو زړهٔ غوندے ئے کوم طرفته چه اوغواړی، اړوی راړوی۔ بیابه ئے فرمائیل : اے دَ زړونو اړونکیه راړونکیه ! زمونږ زړونه په خپل طاعت باندے راواړوه »۔ او نبی ﷺ به دا دعاء ډیره ډیره کوله : یا مقلب القلوب ثبت قلبی علی دینك.

(اے د زړونو اړونکیه ! زما زړهٔ په خپل طاعت باندے ټینګ کړه)۔

دَ پاخهٔ علم والو په باره کښې الله تعالیٰ فرمائی چه دوئ داسے دعاء کوی :

﴿ ربنا لا تزغ قلوبنا بعد إذ هديتنا وهب لنا من لدنك رحمة إنك أنت الوهاب ﴾ [آلعمران : ۸]. (اے ربه زمونږ ! زمونږ زړونه روسته ددے نه چه تا ورته هدایت اوکړو، مهٔ اړوے او مونږ له دَ خپل طرفه رحمت راکړے بیشکه چه تهٔ ډیر زیات بخشش کونکے ئے)۔

نو په دے دعاګانو کښې اشارت او بشارت دواړه شته دے۔ اشارت خو ديته دے چه تضرع کول په دے باره کښې فائده ورکوی۔ او بشارت داسے دے چه زړونه په ښے طريقے سره الله تعالیٰ ته اوړی۔ چه ددے وضاحت په راتلونکے وجے سره کيږی۔

۲ - دويم کار : الله تعالیٰ ته دَ ټولو نه زياته نزدے لاره، فقر، خشوع او انکسار اختيارول دی۔ او دَ بنده او دَ هغهٔ دَ رب ترمينځه دَ ټولو نه زياته سخته پرده دعوے، تکبر او فخر کول دی۔ نو چا چه په خپل ځان باندے الله طرفته دَ فقر دروازه پرانستله، نو دهٔ ته به دَ رحمت او قرب دروازه پرانستے شی۔

۳ - دريم کار : دَ الله دَ غضب او عذاب نه خوف کول : نو څوك چه يريدونکے وی نو الله سبحانه وتعالیٰ په خپل فضل او کرم سره پرے احسان کوی او دَ هغه څيز نه ورله نجات ورکوی دَ کوم نه چه خوف او خطره، اضطراب او پريشانی محسوسوی۔ په دے باندے دَ الله تعالیٰ دا قول دلالت کوی چه دَ اهلِ جنت په باره کښې فرمائی :

﴿ إنا كنا قبل في أهلنا مشفقين فمن اللّٰه علينا ووقانا عذاب السموم انا كنا من قبل ندعوه إنه هو البر الرحيم ﴾ [طور : ۲۶، ۲۷، ۲۸].

په دے آيتِ کريمه کښې سوچ اوکړه چه الله څنګه دَ هغهٔ نه دَ ويرے او دعاء په نتيجه کښې خپل احسان او ښيګړه ورکړه۔ ددے نه صرف همدا معلوميږی چه دا دواړه څيزونه دَ خراب تقدير په واپس کولو او دَ ښهٔ تقدير په راښکلو کښې فائده کوی۔ ځکه الله تعالیٰ همدے طرفته اشاره اوکړه چه اهلِ جنت چه جنت ته داخل شو نو دا صرف په دے وجه چه دوئ به دَ الله نه خوف کولو او دعاګانے به ئے غوښتلے۔

نو ددے دعاء استعمالول پکار دی ولے چه په دے کښې دَ الله په حکم سره علاج پروت دے۔

٤ - څلورم کار : ښائسته اخلاق او دَ الله تعالیٰ بندګانو ته نفع رسول او دوئ باندے شفقت کول خاصکر په دوئ کښې خپلوانو او مسلمانانو باندے ترس کول۔ او دوئ ته تکليف نهٔ رسول۔ ځکه دا دَ ښائسته تقدير او ښائسته انجام راښکلو دپاره مجربه نسخه ده۔ دَ ښائسته اخلاقو نه مراد - عبد الله بن مبارك ؒ فرمائی - خرچ کول، چاته تکليف نهٔ ورکول او فراخ تندی ده۔

نو تاله مناسب دی چه تهٔ نرم زړے، نرم خويه او دَ الله بندګانو سره احسان او ښيګړه کونکے جوړ شے اګرکهٔ دوئ تاله ضرر درکوی او تانه اعراض کوی۔ دا وجه ده، نبی ﷺ فرمائی : ألا أخبركم بمن يحرم على النار أو بمن تحرم عليه النار ؟ على كل قريب هين سهل.

(آیا زۀ تاسو ته دَ هغه چا په باره کښې خبر درنۀ کړم چه هغه په اور حرام وی او یا اور په هغۀ حرام وی؟ دا هر هغه کس دے چه خلقو ته نزدے، نرم خویه او نرم زړے وی)۔
(الصحيحة رقم: ٩٢٨).

نو اور په هر هغه کس باندے حرام دے چه هغه نرم زړے او نرم خویه او دَ الله بندګانو سره احسان کونکے وی۔ نو تاله پکار دی چه په دے کښې کوشش اوکړے۔

اے الله! مونږ هم دَ دوئ نه جوړ کړه!

په حدیث کښې دی: «هغه کس برباد او تاوانی دے چه الله تعالیٰ دَ هغۀ په زړۀ کښې دَ خلقو دپاره رحم وانۀ چولو»۔ (الصحيحة: ٤٥٦).

او نبی ﷺ فرمائی: «تاسو په زمکے والو رحم اوکړئ، آسمان والا به پتاسو رحم اوکړی، رحم کونکو خلقو باندے رحمٰن تبارك وتعالیٰ رحم کوی»۔ (الصحيحة رقم: ٩٢٥).



۹ - فائده

نيکيو ته دَ شوق او رغبت کولو طريقه

تهٔ به نيکيو ته په څهٔ سره شوق اوکړے ؟
او په دے کښې رغبت کول به تاته څنګه حاصل شی ؟

څکه هر سړے وائی چه په نيکيو کښې دَ دُنيا او آخرت ډير زيات خير دے، خو ددے باوجود دوئ په نيکيو کښې رغبت نهٔ لری او نهٔ ددے شوق کوی۔ او کله چه دَ دوئ نه دا فوت شی نو خفه کيږی نهٔ۔ سيوا دَ لږو بندګانو دَ الله تعالیٰ نه۔

نو راشه هغه اسباب اختيار کړه چه په هغے سره به تهٔ نيکيو ته شوق او رغبت اوکړے۔ دَ نيکيو دَ توفيق او آسانئ اسباب مونږ په اولنی جلد صفحه (۳۷) فائده نمبر (۳) کښې ذکر کړی۔

نيکيو ته دَ شوق او رغبت کولو اسباب

۱ - اول سبب : نيکی به سپکه نهٔ ګڼړے اګرکهٔ هر څومره وړه ولے نهٔ وی۔ بلکه څومره چه درنه کيدے شوه نو هغه مهٔ پريده۔ نبی ﷺ فرمائی: « هيڅ يوه نيکی سپکه مهٔ ګڼړه اګرکهٔ ستا خپل ورور سره په فراخ تندئ ملاويدل هم وی »۔

(الصحيحة : ۱۸٦۸، مجردة).

نو په دے کښې سوچ اوکړه چه څنګه ئے دَ نيکيو دَ سپك ګڼړلو نه منع اوفرمائيله۔ ذوق او تجربے نه ددے ناشنا والے معلوميږی۔

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ ومن يقترف حسنة نزد له فيها حسنا ﴾ [شورى : ۲۳].

(چا چه يوه نيکی اوکړه مونږ به په هغے کښې ورله ښائست واچوو)۔

هغه داسے چه توفيق به ورکړو او ددے پشان په بله نيکئ کښې به رغبت ورکړو، او يا به ورله اجر دوچند کړو۔ او الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ من كان يريد حرث الآخرة نزد له فى حرثه ﴾ [شورى : ۲۰].

(او څوك چه دَ آخرت فصل غواړی نو مونږ به ورله ددهٔ په فصل کښې زياتے اوکړو)۔

۲ – دويم سبب: په ټولو احوالو او اقوالو کښې رشتيا وئيل:

نبي ﷺ فرمائي: عليكم بالصدق فإن الصديق يهدى إلى البر وإن البر يهدى إلى الجنة ولا يزال الرجل يصدق ويتحرى الصدق حتى يكتب عند الله صديقًا. وإياكم والكذب فإن الكذب يهدى إلى الفجور وإن الفجور يهدى إلى النار، ولا يزال الرجل يكذب ويتحرى الكذب حتى يكتب عند الله كذابًا. (بخاري وغيره).

(پتاسو باندې رشتيا وئيل لازم دي، ځکه رشتيا وئيل نيکئ ته رسول کوي او نيکي جنت ته رسول کوي، او يو سړې به هميشه رشتيا وائي او دَ رشتيا وئيلو خيال به ساتي، تردې چه دَ الله په نيز ډير زيات رشتينې اوليکلې شي. او دَ دروغو نه ځان اوساتئ ځکه دروغ نافرمانئ طرفته رسول کوي او نافرماني اور طرفته رسول کوي، او يو سړې به دروغ وائي او دَ دروغ وئيلو کوشش به کوي تردې چه دَ الله په نيز ډير زيات دروغژن اوليکلې شي).

نو پتا لازم دي چه ددې ښائسته خوئې اهتمام اوکړې.

۳ – دريم سبب: دَ نيکو عملونو فضائلو ته غورِ کيده، دابه تاله په دې کښې رغبت درکړي. دا وجه ده چه په قرآن او سنت کښِ ډير ډير فضائل ذکر کيږي. دَ عمل نه مخکښې ددې استحضار کوه نو دَ الله په فضل سره دابه تاله ډير زيات شوق درکړي. او دا مجربه خبره ده.

٤ – څلورم: دَ وخت قدر او قيمت پيژندل، او اميدونه لنډول. ځکه اوږدهٔ اميدونه زړهٔ سختوي او آخرت هيروي او دَ نيکو اعمالو نه انسان بندوي.



۱۱ - فائده

دَ الله تعالیٰ بے انتهاء رحمت

دَ الله رحمت دَ اویا (۷۰) میندو دَ رحم نه هم زیات دے۔
الله تعالیٰ په خپلو بندګانو باندے دَ دویٔ دَ میندو او پلرونو او تولو ملګرو نه هم زیات مهربان دے۔ بعضِ وائی : دَ هغهٔ رحمت دَ اویاؤ میندو دَ رحمت نه هم زیات دے۔
زهٔ وایم : بلکه دَ هغهٔ رحمت دَ تول مخلوق دَ رحم نه زیات دے، ځکه په صحیح حدیث کښې ثابت دی۔ ابو هریره – رضی الله عنه – دَ رسول الله ﷺ دا ارشاد مبارك نقل کوی :
إن لله تعالیٰ مائة رحمة أنزل منها واحدة، وبها یتراحم الخلق حتی إن الفرس لترفع رجلها مخافة أن تطأ ولدها، فإذا کان یوم القیامة أکملها بتسعة وتسعین رحمة.
(دَ الله تعالیٰ سل رحمتونه دی چه دَ هغے نه ئے دنیا ته یو رحمت رالیږلے، چه ددے په ذریعه خلق خپلو کښې په یو بل رحم کوی، تردے چه اس خپله خپه په دے وجه پورته کوی چه هسے نهٔ په خپل بچی باندے ئے کیدی۔ او کله چه دَ قیامت ورځ شی نو هغه یو رحمت به په نهه نوی (۹۹) رحمتونو سره پوره کړی)۔ (بخاری، مسلم).
نو په دئے حدیث شریف کښې سوچ اوکړه چه څنګه یو رحمت په تول مخلوق باندے تقسیم شوے ! نو دَ الله رحمت چه کله راجمع شی نو هغه به دَ مخلوق دَ رحمت نه څومره ډیر زیات لوئے او فراخه وی ؟ نو دَ الله دَ رحمت دَ میندو دَ رحمت سره موازنه کول څهٔ درجه لری ؟ حال دا چه هغه خو ارحم الراحمین دے ؟ مونږ دَ الله دَ دومره رحمت مشاهده کړے چه هغه دَ شمار نه بهر دے۔ ولے چه دَ هغهٔ رحمت هر شئ ته فراخه دے۔
لیکن ددے باوجود الله تعالیٰ حکیم او علیم ذات دے، خپل رحمت صرف په هغه ځائے کښې ګدی کوم ځائے چه ورله مناسب وی، او صرف هغه چاله ئے ورکوی څوك چه ددے اسباب اختیار کړی۔ الله دا غواړی چه په خپلو بندګانو باندے خپل رحمت را خور کړی او خپل فضل ورته فراخه کړی۔ دے وجے نه خپلو بندګانو ته ئے داسے کارونه او عملونه خودلی چه په هغے سره دَ هغهٔ رحمت او رضامندی ملاویږی۔ نو څوك چه دغه اسباب اختیار کړی نو ضرور به پرے الله رحمت کوی، ځکه چه الله ددے وعده فرمائیلے، او الله

وعدے خلاف نهٔ کوی۔

لکه الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ ورحمتی وسعت کل شیٔ فساکتبها للذین یتقون ویؤتون الزکاة والذین هم بآیاتنا یؤمنون الذین یتبعون الرسول النبی الأمی الذی یجدونه مکتوبا عندهم .. الآیة ﴾ [اعراف : ۱۵۷].

(او زما رحمت هر یو شیٔ ته فراخه دے، دا به زهٔ خامخا هغه خلقو دپاره لیکمه چه هغوئ دَ الله نه یریږی او زکوٰة ورکوی او هغه کسان چه هغوئ زمونږ په آیتونو ایمان لری۔ دا هغه خلق دی چه دَ رسول او نبی امی پسے روان دی، دَ کوم تذکره چه دوئ دَ ځان سره لیکلے مومی)۔

نو الله تعالیٰ اشاره کوی چه دَ هغهٔ رحمت هغه چا دپاره لیکلے شوے چه څوك څلور صفتونه لری : (۱) تقویٰ (۲) زکوٰة اداء کول (۳) په آیتونو ایمان لرل (٤) او دَ آخری پیغمبر ﷺ تابعداری کول۔

بلکه په حدیث کښ راغلی « زما دے په هغه ذات قسَم وی چه زما روح دَ هغهٔ په لاس کښ دے ! الله تعالیٰ خپل رحمت صرف په هغهٔ کس باندے کوی چه هغه په بل چا رحم کوی۔ صحابوؓ عرض اوکړو۔ په مونږ کښ خو هر سړے رحم کوی۔ وے فرمائیل : په خپلو ملګرو باندے رحم کول مراد نهٔ دی، بلکه چه په ټولو خلقو رحم کوی »۔

(الصحیحة المختصرة : ٨٤).

ما په سورتِ مریم کښ فکر اوکړو نو ماته معلومه شوه چه الله تعالیٰ خپل رحمت خپلو هغه نیکو بندګانو باندے کوی چه په هغوئ کښ **ښائسته صفات** وی، چه هغه صفات دَ شپیتو نه زیات دی۔ دارنګه الله په دغه سورت کښ دَ نیکانو خلقو قیصے ذکر کوی او دَ هغهٔ رحمت تذکره پکښ کوی کوم ئے چه په هغوئ کړے وو۔ په دے کښ اشاره کوی دے خبرے ته چه څوك دغه صفات اختیار کړی نو دَ الله رحمت ورته شامل شی۔ ولے چه دَ الله رحمت همیشه دپاره وی، ددے دپاره ختمیدل نشته او نهٔ دا دَ یو مخصوصے ډلے پورے خاص دے۔

هغه ښائسته صفتونه دادی :

۱ – دعاء غوښتل : په عاجزی کونکی زړهٔ او په پټ آواز سره دعاء غوښتل په دے شان چه الله ته دَ خپل نفس دَ کمزورئ سره وسیله نیوونکے او دَ خپل مهربانه رب دَ قبولتیا امید لرونکے وی۔ نو بیا په دغه وخت کښ دَ الله دَ رحمت انتظار کوه چه دا به خامخا

نازلیږي، الحمد لله.

۲ – صبا او بیګاه په تسبیح او تقدیس سره دَ الله تعالیٰ ذکر کول. ځکه دَ الله رحمت ذکر کونکو سره وي.

نبی کریم ﷺ ښځو ته اوفرمائیل: «تاسو غفلت مهٔ کوئ ګنې دَ رحمت نه به هیرې شئ». (أبو داود وغیره).

۳ – دَ الله تعالیٰ په کتاب باندې عمل کول او په قوت سره ئې نیول، دَ هغې سره تعلق لرل، دَ هغې تلاوت کول، اودَ هغې تعلیم او تعلم کول.

٤ – دَ الله په بندګانو شفقت کول او ترس خوړل. ځکه څوك چه د الله په بندګانو رحم کوي الله په هغهٔ رحم کوي. «تاسو په زمکې والو رحم اوکړئ پتاسو به آسمان والا رحم اوکړي». «څوك چه په بل رحم نهٔ کوي، په هغهٔ به هم رحم نهٔ کیږي».

٥ – دَ خرابو اخلاقو نه دَ خپل نفس پاکول.

٦ – تقویٰ اختیارول، او دَ الله دَ حکمونو رعایت کول.

۷ – مور پلار سره احسان کول دَ هغوئ په ژوند او مرګ دواړو کښې، په مال، نفس او علم او عمل تولو سره.

۸ – دَ الله په بندګانو باندې جباریت، سختي او کبر نهٔ کول.

۹ – څو مره چه کیدې شي دَ ګناه نه ځان ساتل، ځکه دَ الله رحمت دَ جبارین، زرورو او ګنهګارانو نه لرې وي. په الله پورې پناه!

۱۰ – په حقیقي حکمت سره خبرې کول، نهٔ په سوالي. ځکه اول بیخي نفعمن دې، ولې چه هغه دَ ژوندي زړهٔ نه راوځي. نهٔ دویم. ولې چه دا کله صرف په ژبه وي. او حکمت هر هغه خبرې ته وائي چه تاته وعظ اوکړي او یا دې دَ منکر نه منع کړي، او یا دې یو ښهٔ کار طرفته راوبلي. لکه چه ابن درید رحمه الله فرمائي.

۱۱ – دَ الله او دَ هغهٔ دَ عبادت دپاره یواځې والې اختیارول، او ددې دپاره دَ شریعت موافق یو طرفته کیدل. لکه څنګه چه به نبي ﷺ دا کار کولو. شریح بن هانئ – رحمه الله – فرمائي: ما عائشې – رضی الله عنها – ته عرض اوکړو، آیا رسول الله ﷺ به کله بهر ته وتلو؟ وې فرمائیل: هاؤ. هغوئ به دغه دیرکو ته وتلو.

(أخرجه البخاری فی الأدب المفرد وهو حدیث صحیح).

او دیته بداوت وائي. او ددې معنیٰ ده دَ الله دَ ذکر، دَ هغهٔ دَ مناجات او هغهٔ سره دَ تعلق

دپاره بادیه (صحراء) ته وتل. ددې خوند صرف هغه مؤمن زړونه پیژني چه انتهائی عاجزي او محبت کونکي وي. الله تعالیٰ دې دا مونږ ته په خپل فضل او کرم سره رانصیب کړي. او دا بداوت اوس دَ الله په بندګانو کښې ډیر کم کوز خلق پیژني.

او دا خِلوت دَ زړونو په نرمولو او کرامتونو او نیکو خویونو کښې فائده ورکوي.

۱۲ – دَ احسان په طریقه دَ الله تعالیٰ پاك او صفا عبادت کول، چه دا هغه آخرنې مقصد دې چه ددې دپاره ټول کائنات پیدا شوي دي.

۱٤ – دَ انسان مبارك جوړیدل. او دا هغه انسان دې چه ددهٔ نه – هر چرته چه وي – خیر خوریږي، دَ نیکۍ حکم کوي او دَ بدئ نه منع کوي.

۱۵ – تر مرګه پورې دَ مانځه پابندي کول.

۱٦ – زکوٰة ورکول.

۱۷ – دَ بدبختیا اسباب پریښودل. چه ددې تذکره به مونږ عنقریب اوکړو، ان شآء الله.

۱۸ – شرك پریښودل.

۱۹ – ګمراهي پریښودل.

۲۰ – غفلت پریښودل. ځکه چه دا ټول دَ الله دَ غضب اسباب دي، او ددې برعکس څیزونه دَ هغهٔ دَ رحمت اسباب دي.

۲۱ – دَ انسان په زړهٔ کښې کامل یقین او تصدیق راتلل.

۲۲ – دَ شرکونو رد کول.

۲۳ – دَ شرکي کور او مشرکانو خلقو نه هجرت کول.

۲٤ – په عاجزئ سره دَ الله نه دعاء غوښتل او دَ هغهٔ عبادت کول. ځکه دعاء کله په معنیٰ دَ نداء (آواز) سره وي او کله په معنیٰ د عبادت سره.

۲۵ – مسلمانانو دپاره خیر خواهي غوښتل خاصکر دَ ورونو او خویندو دپاره.

۲٦ – وعده پوره کول.

۲۷ – مانځه باندې حکم کول.

۲۸ – زکوٰة باندې حکم کول ټولو مسلمانانو ته خاصکر خپل اهل او اولاد ته.

۲۹ – دَ الله عز وجل دَ آیتونو نه تأثر اخستل، ځکه الله تعالیٰ په هغه چا رحم کوي څوك چه ددې نه تاثر واخلي.

۳۰ – او اوژاړي.

۳۱ – او خپل رب ته سجده اوکړی۔
۳۲ – دارنګه رشتينې توبه اوخکل۔
۳۳ – او صحيح ايمان لرل۔
۳٤ – او په نيکيو باندې هميش والے کول۔
۳٥ – دارنګه تقویٰ اختيارول۔ ځکه دا دَ الله تعالیٰ دَ رحمت سبب دے۔
۳٦ – دَ الله عبادت کول او په دے باندے ډير زيات تينګ پاتے کيدل، ولے چه دا نۀ اداء کيږی مګر په کامل صبر سره۔
۳۷ – دَ الله رب العالمين دپاره خپل خواهشات پريښودل۔
۳۸ – د مونځونو پابندی کول۔
۳۹ – باقيات الصالحات اختيارول۔
٤۰ – ايمان سره دَ :
٤۱ – عمل صالح نه۔ ځکه الله تعالیٰ دَ ايمان والو دپاره محبت پيدا کوی۔
او دا ټول ځيزونه دَ سورتِ مريم عليها السلام نه اخستے شوی دی، ديته رجوع کول او په دے کښ سوچ کول پکار دی، ولے چه په دے کښ ډيره زياته فائده ده۔ دا وجه ده، په دے سورت کښ بار بار لفظ دَ (رحمٰن) پنځلس ځله ذکر شوے۔ او رحمت په کښ (٥) پنځه ځله ذکر شوے۔ او دَ سورت په شروع کښ ئے ﴿ ذكر رحمة ربك ﴾ [مريم : ۱] وئيلے دے۔
په دے کښ اشاره ده اسبابو دَ رحکمت ته، او ديته چه رب ډير رحمٰن او رحيم دے، په خپلو بندګانو رحم کوی ځوك چه دغه اسباب اختيار کړی۔
٤۲ – دَ رحمت بل سبب : احسان دے۔ ځکه د الله رحمت نيك عمله خلقو ته نزدے دے۔ او دَ احسان معنیٰ معلومه ده، او هغه دا چه تۀ دَ الله داسے عبادت کوے ګوياکه تۀ هغه وينے، اوکه دا نۀ وی نو هغه خو دے وينی۔
٤۳ – پرهيزګاری اختيارول۔
٤٤ – زکوٰة ورکول۔
٤٥ – په آيتونو باندے ايمان لرل۔
٤٦ – دَ رسول الله ﷺ تابعداری کول چه هغه دَ ډيرو خيرونو او ښيګړو نبی دے۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ فساكتبها للذين يتقون ويؤتون الزكاة والذين هم بآياتنا يؤمنون الذين يتبعون الرسول النبي الأمي ﴾ [اعاف : ۱٥٦، ۱٥۷].

(دا رحمت به زۀ خامخا هغه خلقو دپاره ليکمه چه هغوئ دَ الله نه يريږی او زکوٰة ورکوی او هغه کسان چه هغوئ زمونږ په آيتونو ايمان لری۔ دا هغه خلق دی چه دَ رسول او نبی امی پسے روان دی)۔

٤٧ – دَ الله تعالیٰ په لاره کښی شهيد کيدل۔ الله تعالیٰ دے دا زمونږ نصيب کړی!

الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ ولئن قتلتم فی سبيل الله أو متم لمغفرة من الله ورحمة خير مما يجمعون ولئن متم أو قتلتم لإلی الله تحشرون ﴾ [آلعمران: ۱۵۷، ۱۵۸].

(اوکه چرے تاسو دَ الله په لاره کښی قتل کړے شئ او يا په خپل مرگ مړۀ شئ نو خامخا دَ الله دَ طرفه مغفرت او رحمت دَ هغه څيزونو نه بهتر دے کوم چه دوئ راجمع کوی، اوکه چرے تاسو مړۀ شئ او يا قتل کړے شئ نو خامخا به الله طرفته ورکړځئ)۔

يعنی ستاسو ورتگ هغۀ طرفته دے او هغه دَ هر چا نه په تاسو زيات مهربان دے۔

٤٨ – دَ الله او رسول (ﷺ) اطاعت کول: الله تعالیٰ فرمائی:

﴿ وأطيعوا الله والرسول لعلکم ترحمون ﴾ [آلعمران: ۱۲۳].

(دَ الله او رسول خبره منئ دے دپاره چه پتاسو رحم اوکړے شی)۔

٤٩ – قرآن کريم آوريدل او هغے ته غوږ کيښودل:

﴿ وإذا قرئ القرآن فاستمعوا له وأنصتوا لعلکم ترحمون ﴾ [اعراف: ۱۰٤].

(او کله چه قرآن لوستلے کيږی نو هغے ته غوږ کيدئ او خاموشی اختيار کړئ دے دپاره چه پتاسو رحم اوکړے شی)۔ او دا دَ الله دَ رحمت مضبوط سبب دے۔

۵۰ – استغفار غوښتل: الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ لولا تستغفرون الله لعلکم ترحمون ﴾ [نحل: ٤٦]. (تاسو ولے دَ الله نه استغفار نۀ غواړئ دے دپاره چه پتاسو رحم اوکړے شی)۔

دا هم بنۀ پوره سبب دے۔

۵۱ – دَ الله دَ دنيوی او اخروی عذاب نه يريدل: الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ لينذرکم ولتتقوا ولعلکم ترحمون ﴾ [اعراف: ٦۳]. (دے دپاره چه تاسو اويروی او دے دپاره چه تاسو تقویٰ اختيار کړئ او دے دپاره چه پتاسو رحم اوکړے شی)۔

او الله فرمائی: ﴿ وإذا قيل لهم اتقوا ما بين أيديکم وما خلفکم لعلکم ترحمون ﴾ [يس ٤۵]. (اوکله چه دوئ ته اوويلے شی چه دَ هغه څۀ نه اويريږئ چه ستاسو مخے ته دے او هغه چه ستاسو شاته دے دے دپاره چه تاسو باندے رحم اوکړے شی)۔

۵۲– دَ مؤمنانو ترمينځه جوړ جاړے کول۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ فأصلحوا بين أخويکم

واتقوا الله لعلكم ترحمون ﴾ [حجرات : ١٠].(نو تاسو دَ خپلو ورونو ترمينځه جوړ جاړے کوئ او الله نه يريږئ، دے دپاره چه تاسو باندے رحم اوکړے شي).

٥٣ – په مصيبتونو باندے صبر کول : الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ أولئك عليهم صلوات من ربهم ورحمة وأولئك هم المهتدون ﴾ [بقره : ١٥٧].

(دا خلق دي چه په دوئ باندے دَ خپل رب د طرفه شاباسئ او رحمت دي، او همدا خلق کامياب دي).

نو د الله رحمت صبر کونکو باندے نازليږي او دَ هغهٔ مدد دَ دوئ شاملِ حال وي.

٥٤ – الله باندے ايمان لرل او په هغهٔ باندے منګولے لږول. يعني په هغهٔ توکل کول او يا دَ هغهٔ دين په مضبوطيا سره نيول.

الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ فأما الذين آمنوا با واعتصموا به فسيدخلهم في رحمة منه ﴾ [نساء : ١٧٥].(او هغه خلق چه په الله باندے ايمان لري او په هغهٔ منګولے لږوي نو زر دے چه په خپل طرفنه رحمت کښ به ئے داخل کړي).

٥٥ – دَ ايمان سره دَ الله په لاره کښ جهاد کول : الله تعالىٰ فرمائي :

﴿يبشرهم ربهم برحمة منه ورضوان وجنات لهم فيها نعيم مقيم ﴾ [توبه : ٢١].

(زيرے ورکوي دوئ ته رب د دوئ په خپل طرفه رحمت او رضامندئ سره او په هغه جنتونو سره چه دوئ دپاره به په هغے کښ هميشه نعمتونه وي).

٥٦ – په رسول الله ﷺ باندے ايمان لرل او د الله نه يريدل :

الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ يا أيها الذين آمنوا اتقوا الله وآمنوا برسوله يؤتكم كفلين من رحمته ويجعل لكم نورًا تمشون به ويغفر لكم والله غفور رحيم ﴾ [حديد : ٢٨].

(اے ايمان والو ! الله نه اويريږئ او دَ هغهٔ په رسول باندے ايمان اولرئ، دربه کړي تاسو ته دوه اندي دَ خپل رحمت نه او تاسو له به داسے رڼا مقرر کړي چه تاسو به دَ هغے په ذريعه ژوند تيروئ او بخښنه به درته اوکړي او الله بخښونکے مهربانه دے).

٥٧ – په حديث کښ دي: « په رحم کونکو باندے رحمٰن رحم کوي، تاسو په زمکے والو رحم کوئ آسمان والا به په تاسو رحم اوکړي ». (أبو داود، ترمذي).

« څوك چه په بل چا رحم نهٔ کوي، په هغهٔ به رحم اونهٔ کړے شي ». « الله تعالىٰ په خپلو بندګانو کښ صرف په هغه چا رحم کوي، څوك چه په بل چا رحم کونکي وي ».

(بخاري، مسلم).

۵۸ – په دے الفاظو سره دعاء غوښتل چه : ﴿رب اغفر وارحم وأنت خير الراحمين﴾ [مؤمنون].
دارنګه په دے دعاء سره دعاء غوښتل : ﴿ربنا آتنا من لدنك رحمة وهيأ لنا من أمرنا رشدًا﴾ [كهف]. (اے ربه زمونږ! مونږ له دَ خپل طرفه رحمت راكړه او مونږ له دَ خپل دين نه تياره رهنمائي راكړه).
دارنګه دا دعاء : ﴿ربنا لا تزغ قلوبنا بعد إذ هديتنا وهب لنا من لدنك رحمة إنك أنت الوهاب﴾ [آلعمران]. (اے ربه زمونږ! مهٔ اړوے زړونه زمونږ روسته ددے نه چه تا مونږ ته هدايت اوكړو، او راكړے مونږ ته دَ خپل طرف نه رحمت بيشكه چه تهٔ ډير زيات بخشش كونكے ئے).
نو دا قبولے شوے دعاګانے دی، ددے اهتمام كول پكار دی.
۵۹ – دَ بيمار پښتنه كول : څكه په حديث كښ راځی : «چا چه دَ يو مريض تپوس اوكړو نو هميشه به په رحمت كښ وی ترڅو چه واپس شی، او كله چه كينی نو په رحمت كښ به ډوب شی». (أحمد : ۳/۳۰٤).
۶۰ – دَ قرآن كريم درس ته راجمع كيدل :
رسول الله ﷺ فرمائی : هيڅ يو قوم دَ الله دَ كورونو نه په كور كښ نهٔ راجمع كيږی چه دوئ د الله كتاب لولی او خپل مينځ كښ دَ هغے مذاكره كوی، مګر په دوئ باندے سكينه (آرام) نازليږی، رحمت دوئ لره پټوی، ملائك په دوئ راګورځی او الله دَ دوئ تذكره دَ هغه چا په خوا كښ كوی، كوم چه دَ الله سره دی. او چالره چه خپل عمل روستو پاتے كړو نو دهٔ لره به ددهٔ نسب مخكښ بونهٔ څی. (مسلم).
نو الهی رحمت هغه چالره پټوی څوك چه دَ الله كتاب لولی او مذاكره (درس او تدريس) ئے كوی.
۶۱ – په جوماتونو كښ كيناستل: په يو صحيح حديث كښ راغلی : «دَ مسجد دپاره څهٔ ميخونه دی چه ملائك دَ هغوئ مجلسيان دی، كهٔ چرے هغوئ غائب شی نو ملائك ئے تپوس كوی، اوكهٔ بيمار شی نو ملائك ئے بيمار پښتنه كوی، اوكهٔ يو كار كوی نو هغوئ ئے مدد كوی. او فرمائی : په مسجد كښ ناست كس په درے خويونو دے : (۱) داسے ورور چه دَ هغهٔ نه څهٔ فائده حاصله كړے شی (۲) او يا دَ حكمت كلمه (په بل روايت كښ دی، محكمه) كلمه زده كړے شی.-(۳) او يا داسے رحمت چه دَ هغے انتظار كيدے

شي». (الصحيحة، رقم: ۳٤۰۱).
نو په مسجد کښې ناست شخص دَ الله دَ رحمت په انتظار کښې وي.
٦٢ - دَ رمضان مياشت: په يو صحيح حديث کښې دي:
«کله چه دَ رمضان اوله ورځ شي نو دَ رحمت دروازے پرانستے شي».
٦٣ - دَ مازيگر مونځ نه مخکښې څلور رکعته مونځ کول:
په صحيح حديث کښې راغلي، نبي ﷺ فرمائي: «الله دے په هغه سړي رحم اوکړي چه دَ مازيگر مانځه نه مخکښې څلور رکعته نفل اوکړي». (أبوداود).
نو دا قبوله شوے دعاء ده چه په دے کښې هيڅ شك نشته. الله تعالیٰ فرمائي: ﴿لا تجعلوا دعاء الرسول بينکم کدعاء بعضکم بعضًا﴾ [نور: ٦٣]. (دَ رسول الله ﷺ دعاء خپل مينځ کښې داسے مهٔ گنړئ څنگه چه تاسو يو بل ته دعاء کوئ).
٦٧ - په يو اثر کښې راغلي: موسیٰ ﷺ دَ خپل هجرت په موقعه عرض اوکړو، اے ربه! ماته وصيت اوکړه. ورته ئې اوفرمائيل: ته ماسره هيڅ شے مهٔ برابروه، مگر ماله په هغے بانديے غوره والے راکوه، څکه زهٔ په هغه چا رحم نهٔ کوم او نهٔ ئې پاکوم چه هغه دغسے نهٔ وي. (أحمد في الزهد، ص: ۸۷).
او دا اثر په اول جلد کښې هم تير شوے. (۱/۲۲٤).



۱۲ - فائده

دَ رزق پشان اخلاق هم تقسیم شوی دی

الله تعالیٰ لکه څنګه چه په خپل فضل او کرم سره رزقونه تقسیم کړی، نو دغه شان ئے اخلاق هم تقسیم کړی.

دا وجه ده چه علمونه ئے هم تقسیم کړی ○ نو په بعضِ خلقو باندے دَ عبادت دروازه راِ پرانیزی ○ په بعضو باندے دَ جهاد دروازه ○ په بعضو باندے دَ علم او دعوت او دَ خلقو دَ هدایت دروازه ○ او په چا باندے دَدے نفسِ اماره دَ تزکیئے او دَ هغے نه دَ خیرو او ګندونو لرے کولو دروازه راپرانیزی. او دغسے نورے دروازے واخله.

نو مؤمن سړے به ددے ټولو څیزونو دپاره منډه وهی او ددے ټولو دروازو حاصلولو کوشش به کوی، لکه څنګه چه دا کار ابو بکر صدیق رضی الله عنه او ددۀ پشان نورو خلقو کړے وو. لکه حدیث کښې دی چه ابو بکر رضی الله عنه عرض اوکړو :

« آیا یو کس دَ دغه ټولو دروازو نه رابللے شی ؟ نبی ﷺ ورته اوفرمائیل : زما امید دے چه تۀ به دَ دوئ نه ئے ». (بخاری، وغیره).

لیکن کله چه انسان په دغه دروازو کښې په یوه دروازه داخل شو خو دَ نورو دروازو سره - کومے چه الله طرفته ورغلی دی - عناد نۀ لری نو دا کس به هم کامیابی بیامونده‌نکے وی، و الحمد لله.

لکه نبی ﷺ په یو پاکیزه حدیث کښې دیته اشاره فرمائیلے : « چا چه دَ یو څیز دوه جوړے صدقه کړے نو دے به دَ جنت دَ دروازو نه رابللے شی، او دَ جنت دپاره ډیرے دروازے دی. نو څوک چه دَ مونځ والا وی نو دۀ ته به دَ مانځه دَ دروازے نه آواز کیدے شی. او څوک چه جهاد والا وی نو دۀ ته به دَ جهاد دَ دروازے نه آواز کیدے شی. او څوک چه دَ صدقے والا وی نو دۀ ته به دَ صدقے دَ دروازے نه آواز کیدے شی. او څوک چه روژو والا وی نو دۀ ته به دَ ریّان دروازے نه آواز کیدے شی. نو ابوبکرؓ عرض اوکړو. چاته چه د دغه دروازو نه آواز اوکړے شو نو هغۀ ته څۀ ضرورت نشته، نو آیا داسے څوک هم شته چه ددے ټولو دروازو نه به ورته آواز کیدے شی ؟ نبی ﷺ اوفرمائیل : هاؤ، او زما امید دے چه تۀ

به دَ دویٔ نه ئې ››۔ (بخاري، مسلم).

نو په دې حدیث کښې اشاره ده چه په چا باندې ددې خویونو نه یو خوئې غلبه کړې وي نو دا سړې به جنتي وي، په دې شرط چه دا دَ نورو خویونو سره عناد اونهٔ لري او نهٔ ئې سپك اوګنړي۔

په صحیح حدیث کښې دي: ‹‹ الله تعالیٰ لکه څنګه چه ستاسو رزقونه تقسیم کړي، نو دغه شان ئې ستاسو اخلاق هم تقسیم کړي ››۔

او دا تقسیم دَ الله غالب او حکمت والا ذات دَ طرفه واقع شوې، کوم ذات چه داسې پوره حکمت والا دې چه په هغې او دَ هغې په اسرارو او رازونو باندې دَ هغهٔ نه علاوه بل هیڅوك نشي خبریدلې۔

ددې خبرې وضاحت هغه خبرې سره کیږي، کومه چه مؤرخینو ذکر کړې چه:

○ **عبد الله** بن عبد العزیز مشهور عابدٌ امام مالك رحمه الله ته خط اولیکلو چه په دې کښې ئې هغهٔ له دَ تعلیم او تعلم پریخودلو او انفرادیت او عمل کولو دپاره فارغیدو ته ترغیب ورکولو۔ نو امام مالك رحمه الله ورته اولیکل:

‹‹ الله تعالیٰ عملونه داسې تقسیم کړي څنګه ئې چه رزقونه تقسیم کړي، نو ډیر کرته به یو سړې وي چه په هغهٔ به دَ مانځه دروازه پرانستې شوې وي لیکن دَ روژې دروازه به پرې نهٔ وي پرانستې شوې۔ او بل یو کس به وي چه په هغهٔ به دَ صدقې دروازه پرانستې شوې وي، لیکن دَ روژې دروازه به پرې نهٔ وي پرانستې شوې۔ او یو بل کس به وي چه په هغهٔ به دَ جهاد دروازه پرانستې شوې وي لیکن دَ مانځه دروازه به پرې نهٔ وي پرانستې شوې۔ او په کوم کار کښې چه زهٔ مشغول یم چه هغه دَ علم ښودنه او خورونه ده نو دا په نیکو عملونو کښې بهترین عمل دې۔ او زهٔ په هغه څهٔ باندې خوشحاله یم دَ کوم دروازه چه په ما باندې الله راپرانستې ده۔ او زهٔ چه په کوم عمل کښې یم، دا زهٔ دهغه عمل نه ښکته نهٔ ګنړم په کوم کښې چه تهٔ ئې۔ او زما امید دې چه په مونږ او تاسو کښې به هر یو په خیر او نیکئ باندې وي، او په مونږ او تاسو ټولو باندې واجب دي چه په هغه شئ باندې راضي اووسیږي، کوم چه ددهٔ په قسمت کښې رسیدلې دې۔ والسلام ››۔

زهٔ وایم: دا دَ یو عالم او فقیه کلام دې، او بعینه همدې ته فقه وئیلې کیږي۔ دَ الله ثناء ده په دې باندې چه هغهٔ خپلو بندګانو دپاره دغه دروازې آسانې کړې دي۔

هر چه دَ جنت دروازې دي نو هغه آتهٔ دي، او دَ هر یو نیك کوشش او عمل دپاره جدا

دوازه ده. او هغه دروازے دادي : (۱) دَ مانځه دروازه (۲) دَ صدقې دروازه (۳) دَ جهاد دروازه (٤) دَ ريـان (روژے) دروازه (٥) دَ تـوبے دروازه (٦) دَ غـصـه خـوړونكو دروازه (۷) پـه تقدير بـانـدے دَ رضا كـيـدونـكـو دروازه (۸) هغه ښي اړخ ته دروازه چه په هغے باندے به آويا زره خلق بغير دَ حساب او كتابُ نه داخليږي، چه په دوئ كښې به دَ هر زرو كسانو سره آويا زره كسان وي.

په بل روايت كښې دي : دَ هر يو كس سره به اويا زره كسان وي. (فتح الباری).

او دا دروازے او ددے نومونه امام نوويؒ په شرح دَ مسلم كښې ذكر كړي دي.

بعضے وائي يو په كښې باب الضحىٰ دے، چه دا دَ ثابت مونځ كونكو دپاره ده.

(كما فى الحاويِ للسيوطى : ١/٤٣، وكنز : ٢١٥٢١).

دَ ابودرداء ﷺ نـه نـقـل دي چـه پـه دے كـښې يوه دروازه دَ هـغـه ذاكـرينو ده چه الله ډير ډير يادوي، دوئ به په خندا خندا جنت ته داخليږي.

(رواه الإمام أحمد فى الزهد، ص : ١٦٩).

(اوګوره زمونږ كتاب : الحق الصريح شرح مشكاة المصابيح).

خو هلته دَ دروازو ذكر نشته.

په الحاوى (٢/١٠٦) كښې دي : ابن ابى حاتم په خپل تفسير كښې د ابن عباس ﷺ نه نقل كړي دي چـه هـغـه فـرمائي : دَ جنت آتهٔ دروازے دي. (۱) دَ مونځ ګذارو دروازه (۲) دَ روژه دارو دروازه (۳) دَ حـاجيـانـو دروازه (٤) دَ مـعـتـمـريـنـو دروازه (٥) د مجاهدينو دروازه (٦) دَ ذاكرينو دروازه (۷) دَ صابرينو دروازه (۸) او دَ شاكرينو دروازه.

زهٔ وايم : دا هم كيدے شي چه بعضِ دروازے په بعضو كښې داخلے كړے شي. والله اعلم.



۱۳ - فائده

دَ ټولو نه غوره او الله ته زیات خوښ عملونه

دارنګه دَ ټولو نه غوره او الله تعالیٰ ته ډیر محبوب خلق پیژندل۔
کیدے شی چه الله تعالیٰ مونږ ته دا رانصیب کړی او مونږ په دغه خلقو کښې حساب کړی!
او ددے فائدے په خوند صرف هغه مؤمنان خلق پوهیږی چه عملونو سره مینه محبت کونکی وی۔
۱ - **ابوهریره** ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: « هیڅ یو انسان دَ مانځه، دَ خپل مینځنی اصلاح او دَ ښائسته اخلاقو نه سیوا بل غوره شے نۀ دے کړے »۔
(أخرجه البخاری فی التاریخ کما فی الصحیحة رقم: ۱۴۴۸).
۲ - **ابن المنکدرؒ** نبی کریم ﷺ پورے دا حدیث رسوی چه: « په ټولو عملونو کښې بهترین عمل، مسلمان ته خوشحالی رسول دی، چه ته دَ هغۀ نه قرض اداء کړے، حاجت ورله پوره کړے، پریشانی ترینه لرے کړے »۔
سفیانؒ فرمائی: ابن المنکدرؒ ته اووئیلے شو چه: دَ خوندورو څیزونو نه کوم یو شے پاتے دے؟ وے فرمائیل: په ورونو باندے مهربانی او خرچه کول۔
۳ - **ابن عمر** ﷺ فرمائی: یو سړے نبی ﷺ ته راغے او عرض ئے اوکړو، اے د الله رسوله! په ټولو خلقو کښې کوم یو کس الله ته زیات محبوب دے؟ او په ټولو عملونو کښې کوم یو عمل الله ته زیات خوښ دے؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل: « الله تعالیٰ ته په ټولو خلقو کښې محبوب ترین هغه کس دے چه خلقو ته دَ هر چانه زیاته نفع رسونکے وی۔ او په ټولو عملونو کښې الله تعالیٰ ته غوره عمل، مسلمان ته خوشحالی رسول او یا دَ هغۀ نه پریشانی ختمول، او یا دَ هغۀ قرض اداء کول او یا دَ هغۀ نه لوږه ختمول دی۔ او چه زۀ دَ یو ورور سره دَ هغۀ په حاجت کښې هغۀ سره لاړ شم، دا ماته ددے نه زیاته خوښه ده چه زۀ په دے جومات کښې پوره میاشت اعتکاف اوکړم »۔
(أخرجه الطبرانی فی الکبیر: ۳/۲۰۹).

او دا حدیث مونږ مخکښې په اولنې جلد (۱/۴۳۵) کښې ذکر کړے۔ او دا ډیر زیات فائده مند حدیث دے۔

ابوهریره ﷺ دَ نبی کریم ﷺ دا ارشاد مبارك نقل کوی: « په ټولو عملونو کښې بهترین عمل دادے چه تهٔ خپل یو مؤمن ورور ته خوشحالی اورسوے، او یا دَ هغهٔ دَ طرفه قرض اداء کړے او یا پرے روټئ اوخوروے »۔

(ابن أبی الدنیا، صحیح الجامع : ۱۰۹۶).

۳ - **ابوذر** فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « په ټولو عملونو کښې بهترین عمل، الله دپاره محبت ساتل او الله دپاره بُغض ساتل دی »۔

(أبو داود، والبخاری معلقاً).

٤ - **امام** احمدؒ د ابن عباس ﷺ نه روایت کوی چه دهٔ دَ ابو ذر - رضی الله عنه - نه تپوس اوکړو، دَ ایمان کومه یوه کړئ ډیره زیاته مضبوطه ده؟ هغهٔ وئیلے : الله او رسول پرے ښهٔ پوهیږی! ابن عباسؓ اوفرمائیل : الله دپاره دوستی کول، او الله دپاره دشمنی کول، الله دپاره مینه کول او الله دپاره بُغض کول ۔

٥ - **عبد الله** بن عمرو ﷺ نه روایت دے « رسول الله ﷺ نه تپوس اوشو، په ټولو خلقو کښې بهتر څوك دے؟ وے فرمائیل : هر مخموم القلب او رشتینے ژبے والا۔عرض اوشو یا رسول الله! رشتینے ژبے والا خو مونږ پیژنو، لیکن مخموم القلب څوك دے؟ وے فرمائیل : هر پرهیزګاره او صفا زړهٔ والا چه په هغے کښې نه ګناه وی، نه حسد، نه کینه او نه ضد۔ هغوئ عرض اوکړو : دهٔ نه نزدے کس څوك دے یا رسول الله! وے فرمائیل : هغه څوك چه دنیا سره بغض لری او آخرت سره مینه۔ هغوئ وئیلے : په مونږ کښې داسے کس مونږ دَ ابو رافعؓ نه علاوه چه دَ رسول الله ﷺ آزاد کړے غلام دے، بل هیڅوك نه پیژنو۔ هغوئ بیا عرض اوکړو : دهٔ نه نزدے بل څوك دے؟ وے فرمائیل : ښائسته اخلاقو والا مؤمن شخص »۔

(رواه ابن ماجه ۴۲۱۶، وابن عساکر بأتم منه، الصحیحة ۶۶۹/۲).

حدیث کښې دی : « دَ ټولو نه زیات بهتر عبادت دعاء ده »۔

(رواه الحاکم عن ابن عباس مرفوعًا. صحیح الجامع ۱۱۲۲، والصحیحة : ۱۵۷۰).

حدیث کښې دی : « په ټولو عملونو کښې بهترین عمل، دَ الله په وحدانیت ایمان لرل، بیا جهاد، بیا حج مبرور دے چه دَ ټولو عملونو نه داسے غوره دے لکه دَ نمر ختلو نه تر نمر

پريواتۀ پورے منځو مانه ورځ ››۔
(رواه الطبراني عن ماعز، كما في صحيح الجامع : ۱۰۹۱).
ابن مسعود ﷛ وائي : ما دَ رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو: ‹‹کوم يو عمل الله ته ډير زيات خوښ دے ؟ وے فرمائيل : په خپل وخت مونځ کول۔ ما بيا عرض اوکړو، بيا کوم يو ؟ وے فرمائيل : مور پلار سره احسان کول۔ ما بيا عرض اوکړو، بيا کوم يو عمل ؟ وے فرمائيل : الله په لاره کښ جهاد کول۔ ابن مسعودؓ وائي : رسول الله ﷺ ماته دا بيان کړل خو کۀ چرے ما ترينه نور زياتي عملونه تپوسلي وے نو نورئے هم راته ذکرکول ››۔
(بخاري، مسلم).
دَ ترمذي په روايت کښ دي : ‹‹ په خپل اولني وخت کښ مونځ کول ››۔
(وصححه الألباني في صحيح الجامع).
امام طبرانيؒ دَ عمران بن حصين ﷛ نه دَ رسول الله ﷺ دا ارشاد نقل کوي : ‹‹ دَ الله تعالیٰ په بندګانو کښ دَ قيامت په ورځ دَ ټولونه زيات غوره هغه خلق دي چه هغوئ دَ الله حمد او ثناء ويونکي دي ››۔
دَ امام احمدؒ په روايت کښ ئے الفاظ دادي : ‹‹ ياد ساته چه دَ قيامت په ورځ دَ الله تبارك وتعالیٰ په بندګانو کښ دَ ټولو نه زيات غوره خلق، حمد ويونکي دي››۔
(٤/٤٣٤، الصحيحة رقم : ١٥٨٤).
امام بخاريؒ دَ ابو سعيد ﷛ نه روايت کوي چه : ‹‹يو سړے نبي ﷺ ته راغے،عرض ئے اوکړو، دَ ټولو نه زيات غوره کس څوك دے ؟ وے فرمائيل : دَ ټولو خلقونه غوره کس هغه مجاهد سړے دے چه دَ الله په لاره کښ په خپل مال او ځان سره جنګ کوي، بيا هغه مؤمن دے چه دَ درونه په يوه دره کښ دَ خپل رب عبادت کوي او خلق دَ خپل شر نه محفوظ ساتي ››۔ (الصحيحة، رقم : ١٥٣١).
لکه دا حديث دَ اول جلد (۱/۱۱۱) فائده نمبر (۱۵) کښ دَ غوره بندګانو په فهرست کښ تير شوے دے۔ چه دَ هغوئ په باره کښ نبي ﷺ دا ګواهي ورکړے ده چه دوئ غوره بندګان دي۔
مثلاً : ○ هغه څوك چه دَ هغۀ نه د خير اميد لرے کيږي او دَ شر نه ئے خلق بيغمه وي۔
○ او لکه هغه څوك چه کله اوليدلے شي نو انسان ته الله رايادېږي ○ او لکه هغه څوك چه خلق دَ هغۀ صفتونه کوي او دے ئے آوري۔ ○ او هغه څوك چه دَ مال او عطيه وغيره نه

بغیر ورسره مینه لري. نو دغه فائدې ته رجوع اوکړه ځکه چه دا به تا ته غوره او ښائسته عملونه اوښائي، که چرې ته د دې شوقین یې!

په یو صحیح حدیث کښې دي: «یو سړې نبي ﷺ ته راغې، وئیلې: اې د الله نبي! کوم یو عمل ډیر غوره دې؟ وې فرمائیل: الله باندې ایمان او تصدیق لرل او دَ هغهٔ په لاره کښې جهاد کول. هغه سړي وئیلې: اې دَ الله رسوله!: زهٔ د دې نه آسان غوارم. وې فرمائیل: صبر او سَخا. هغه سړي وئیلې. اې د الله رسوله! زهٔ د دې نه آسان عمل غوارم. وې فرمائیل: الله تبارك وتعالىٰ چه تا له دَ څهٔ شيءٔ فیصله کړیده نو تهٔ په هغې کښې په هغهٔ تهمت مهٔ لګوه».

(أحمد: ٣١٨/٥، وإسناده صحيح، وهو في الصحيحة: ٣٣٤/٧).

په صحیح حدیث کښې دي: ابو درداء ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: «آیا تاسو ته ستاسو په اعمالو کښې بهترین عمل نه درښایم چه هغه ستاسو د بادشاه په نزد ډیر خیر والا وي او ستاسو درجې اوچتونکې وي او تاسو دپاره د سرو او سپینو د خرچ کولو نه زیات بهتر وي او د دې نه هم ډیر بهتر وي چه تاسو خپلو دشمنانو سره ملاؤ شيءٔ پس هغوی ستاسو څټونه اووهي او تاسو د هغوی څټونه اووهيءٔ؟ صحابو عرض اوکړو: ولې نه؟ نبي ﷺ اوفرمائیل: د الله ذکر».

(ترمذي رقم ٣٤٣٧) ابن ماجه رقم ٣٧٩٠- بسند صحيح).

عبد الله بن بسر ﷺ فرمائي: یو بانډه چي رسول الله ﷺ ته راغې، وئیلې: کوم سړې ډیر غوره دې؟ نبي ﷺ اوفرمائیل: «هغه چاله خوشحالي ده چه دَ هغهٔ عُمر اوږد او عمل يې ښائسته وي. هغهٔ وئیلې: اې د الله رسوله! کوم عمل ډیر زیات غوره دې؟ وې فرمائیل: چه تهٔ دَ دُنیا نه په داسې حال کښې سفر اوکړې چه ستا ژبه دَ الله په ذکر لمده وي».

(رواه أحمد والترمذي والحديث صحيح).

په بخاري او مسلم کښې دَ عبد الله بن عمرو ﷺ نه روایت دې، یو سړي دَ رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو. کوم مسلمان ډیر غوره دې؟ وې فرمائیل: «هغه څوك چه نور مسلمانان دَ هغهٔ دَ ژبې او لاس نه په امن وي».

دَ ابو درداء ﷺ په صحیح حدیث کښې دي، رسول الله ﷺ اوفرمائیل: «آیا زهٔ تاسو ته دَ روژو، صدقې او مانځه نه بهتر درجې والا عمل اونهٔ ښایم؟ ابو درداء ؓ وائي. مونږ عرض اوکړو. ولې نه. وې فرمائیل: خپل مینځ کښې جوړ جارې ساتل. ځکه چه خپل مینځي

تعلقات خرابيدل دين خرونکے څيز دے »۔
(وإسناده صحيح، وهو في المشكاة : ٢).
په حديث کښې دي : « ښائستـه اخـلاق او اوږده خـامـوشي لازم اونيسه، زما دے په هغه ذاتِ قسَـم وي چه زما روح دَ هـغـهٔ پـه لاس کـښې دے : مـخـلـوقاتو ددے پشان عمل نهٔ دے کړے»۔ (رواه أبو يعلىٰ وهو في المشكاة : ٢، بإسناد صحيح).
علي ﷺ فرمائي : « دَ ټـولـو نه بهترين عمل، دَ نيکئ حکم کول اودَ بدئ نه منع کول او فاسق سره بُغض لرل دي »۔ (التنبيه : ١/ ٩٧).
عقبه بن عامر ﷺ نه روايت دے دا وائي : « زهٔ دَ رسول الله ﷺ سره مخامخ شوم، او ما دَ هـغـوئ لاس اونيـولو، او عرض مے اوکړو، اے د الله رسوله ! نجات به په څهٔ شي ملاويږي ؟ وے فرمائيل : اے عقبه ! خپله ژبه چاړا کړه، خپل کور دے تاله ځائے درکړي او په خپله ګناه بـانـدے ژاړه۔ عـقبهؓ وائـي : زهٔ بيـا ورسـره مـخامخ شوم، نو هغوئ زما لاس اونيولو او وے فـرمـائيـل : اے عـقبه ! آيا زهٔ تاته درے داسے سورتونه اونهٔ ښايم چه هغه په تورات، انجيل، زبور او قرآنِ عظيم (ټولو کښې) نازل شوي دي ؟ ما وئيلے : ولے نه يا رسول الله ! الله دے ماتانه قـربـان کـړيَ ! عـقبهؓ وائي : نو ماته ئے آخري درے سورتونه اولوستل۔ او بيا ئے اوفرمائيل : اے عقبه ! دا سورتونه مهٔ هيروه اوتر هغے پورے دَ شپے مهٔ ځمله چه دا دے لوستلي نهٔ وي۔ عـقبهؓ وائـي : زهٔ بيـا رسـول الله ﷺ سره مخامخ شوم او اول شروع ما اوکړه، دَ هغوئ لاس مے اونيولو، او عرض مے اوکړو۔اے د الله رسوله ! ماته دَ بهترينو عملونو خبرراکړه۔ نو وے فـرمـائيـل : اے عـقـبـه ! څـوك چـه تـاسره کټ کوي هغهٔ سره خپلولي ساته، او څوك چه تا محرومولي هغهٔ له ورکوه، او چاچه په تا ظلم اوکړو، هغهٔ ته معافي کوه »۔
(أخرجه أحمد وهو في تفسير ابن كثير : ٤/ ٧٣٩، وإسناده صحيح).
په حديث کښې دي : « الله تعالىٰ ته هيڅ يو شے دَ دوه څاڅکو او دوه نښو نه زيات محبوب نـهٔ دے۔ (١) يو دَ اوښکو څاڅکے چه د الله دَ ويرے نه اوبهيږي (٢) او بل دَ وينے هغه څاڅکے چـه دَ الله پـه لاره کښې تويئے شي۔ او هر چه دوه نښے دي (١) نو يو دَ الله په لاره کښې په انسان نښه لګيدل (٢) او بل دَ الله دَ فرائضو نه دَ يو فريضے په اداء کولو کښې نښه لګيدل دي »۔
(رواه الترمذي وقال : حديث حسن وهو كذلك، وذكره النووي في رياض الصالحين).
په حديث کښې دي : ابو ذر ﷺ فرمائي : ما عرض اوکړو، اے دَ الله رسوله ! کوم يوعمل دير غـوره دے ؟ وے فرمائيل : «پـه الله ايـمـان لـرل اودَ هغهٔ په لاره کښې جهاد کول۔ ما اووئيل :

کوم یو مرئے آزادول ډیر غوره دی ؟ وې فرمائیل : چه دَ خپل اهل په نیز ډیر عمده او ګران قیمت والا وی۔ ما اووئیل : نو که زهٔ دا کار اونهٔ کړے شم ؟ وې فرمائیل : دَ کاریګر سره مدد کوه او یا یے تجربے سړی له کار جوړوه۔ ما اووئیل : اے د الله رسوله ! که زهٔ ددے بعضِ عمل نه هم کمزورے شم ؟ وې فرمائیل : خپل شر دَ خلقو نه بند کړه، ځکه چه دا هم ستا د طرفه صدقه ده چه تهٔ ئے په خپل ځان کوے »۔(بخاری، مسلم).

په دے مضمون باندے ډیر زیات احادیث راغلی چه هغه په ریاض الصالحین، مشکوٰة او شعب الایمانِ کښې اوګوره۔ والله المستعان۔



۱۴ - فائده

په کم وخت کښې ډیر زیات نیك عملونه راجمع کول

کۀ تۀ غواړې چه په لږو اوقاتو کښې ډیر زیات نیك عملونه اوکړې او تۀ دَ قیامت په ورځ دَ ټولو خلقو نه زیات مالداره شې: نو تا باندې لازم دی چه راتلونکی عملونه اوکړې. کوم چه دَ رسول الله ﷺ نه صحیح ثابت شوی دی.

خو دې فائده صرف هغه ژوندو زړونو والو محسوسوی، چه دَ هغوئ دَ زړۀ بصیرت رڼرا کوی او غواړی چه دَ عزیز او حکیم ذات قرب حاصل کړی.

نو که چرې ستا زړۀ ژوندې وی نو بیا خو دا عملونه مضبوط اونیسه:

۱ - عبادة بن صامت ﷺ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل:

« چا چه نارینه او زنانه مؤمنانو له استغفار اوغوښتلو، الله تعالیٰ به ورله دَ هر مؤمن سړی او دَ هڅې مؤمنې ښځې په عوض یوه نیکی ورکړی ».

(الطبرانی، کما فی المجمع: ۱۰/۲۱۰، وصحیح الجامع رقم: ۶۰۲۶).

ددې حدیث سند حسن دې.

نو څوك چه ټولو نارینه او زنانه، ژوند او مړو مؤمنانو دپاره بخښنه اوغواړی، نو دې به څومره نیکئ حاصلې کړی؟ زما په خیال ددې تعداد به دَ ملیارونو نه هم زیات وی.

۲ - ابن عمر ﷺ نه روایت دې، رسول الله ﷺ اوفرمائیل: « څوك چه بازار ته داخل شو او دا دعاء ئې اووئیله: (لا إله إلا الله وحده، لاشریك له، له الملك وله الحمد، یحیي ویمیت، وهو حيّ لا یموت، بیده الخیر، و هو علی کل شئ قدیر:

نو الله به ورله لس لکهه نیکئ اولیکی، او لس لکهه گناهونه به ترې اوړژوی، او لس لکهه درجې به ورله اوچتې کړی، او په جنت کښې به ورله کور جوړ کړی ».

(أخرجه الترمذی: ۲، ورواه الحاکم فی مسنده وهو فی صحیح الجامع: ۲۰۹۳/۲، وحسنه الشوکانی فی تحفة الذاکرین والمبارکفوری فی المرعاة: ۱۸۴/۸).

دا حدیث حسن دې، او دیته چه چا ضعیف وئیلی، نو دا صحیح نۀ ده.

محمد بن واسعؒ قتیبةؒ ته اوفرمائیل: ما تاته هدیه راوړې، بیائې ورته دا حدیث بیان کړو،

نو هغهٔ به په خپله دله کښې په سورلۍ سور شو او بازار ته به راتللو او دغه دعاء به ئې وئیله او بیابه واپس شو۔

نو اوګوره سلفو – رحمهم الله – ته چه څنګه په حدیث باندې اهتمام سره عمل کوی !

(رواه الحاكم : ۱/۵۳۸).

او دا خومره رشتینې حدیث دې !

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ رجال لا تلهيهم تجارة ولا بيع عن ذكر الله وإقام الصلاة وإيتاء الزكاة يخافون يومًا تتقلب فيه القلوب والأبصار ﴾ [نور].

(په دې مسجدِ قباء کښې داسې سړی دی چه دَ الله دَ ذکر، دَ مانځ دَ پابندئ او دَ زکوٰة ورکولو نه دوئ لره نهٔ تجارت مشغولوی او نهٔ اخستل خرڅول۔ دوئ دَ داسې ورځې نه یریږی په کومه کښې به چه زړونه او نظرونه آوړوی راوړی)۔

نو تاله پکار دی چه په هر هغه بازار کښې دغه دعاء اولولې په کوم کښې چه اخستل او خرڅول کیږی۔ خومره ډیر غافل خلق شته چه ددې قیمتی نعمت نه محروم دی ؟ یا الله معاف کړه !

۳ – ابو امامه ﷺ فرمائی : « نبی ﷺ زهٔ په داسې حال کښې اولیدم چه ما خپلې شونډې خوزولې۔ نو ماته ئې اوفرمائیل : ابو امامه ! په څهٔ شی شونډې خوزوې ؟ ما وئیلې : یا رسول الله ! دَ الله ذکر کوم۔ وې فرمائیل : آیا زهٔ تاته ستا دَ ورځې او شپې دَ ذکر نه غوره او زیات بهتر څیز اونهٔ ښایم ؟ ماوئیلې : ولې نه یا رسول الله ! په بل روایت کښې دی : آیا زهٔ تاته دَ یو داسې شئ خبر درنهٔ کړم چه کله تهٔ هغه اووائې او بیا په ورځ او شپه کښې خپل ځان ستړې کړې نو هغې ته نشې رسیدلې ؟ ما وئیلې : ولې نه یا رسول الله ! وې فرمائیل : الحمد لله او سبحان الله وایه۔ دا خپله زده کړه او خپلو بچو ته ئې وراوښایه کوم چه ستانه پس راځی »۔

(أخرجه الطبراني في الكبير : ۸/۲۳۸، وابن حبان : ۳/۱۱۲).

ددې حدیث سند صحیح دې۔

نو دا لږ عمل دې خو دَ ټولې شپې او ورځې دَ عمل سره برابر دې۔ الحمد لله چه الله خپلو بندګانو دپاره داسې موقعې ورکړې دی !

٤ – قرآن کریم لوستل : چه دا سراسر اجر دې په مانځه کښې وی اوکهٔ دَ مانځه نه بهر۔

نبی کریم ﷺ فرمائی : « چا چه دَ الله دَ کتاب نه یو حرف اولوستلو نو ددهٔ دپاره به یو

نیکی اولیکلے شي۔ زۀ نۀ وایم چه (الم) یو حرف دے، بلکه الف څانله حرف دے، لام څانله حرف دے او میم څانله حرف دے۔ او یوه نیکی په لس چنده ده »۔ (رواه أهل السنن).

دارنګه فرمائی : « قرآن لولئ تاسو ته به ددے اجر او ثواب ملاویږی۔ خبردار ! زۀ دا نۀ وایم چه (الم) یو حرف دے۔ بلکه الف لس نیکئ دی، لام لس نیکئ دی او میم لس نیکئ دی نو دا ټولے دیرش نیکئ شوے »۔ (الجامع رقم : ۱۱٦٤).

نو څوك چه ټول سورتِ آلعمران اولولی نو ددۀ دپاره یو لکهه، پنځه څلویښت زره او دوه سوه (۱٤٥۲۰۰) نیکئ لیکلے کیږی۔ څکه دَ سورتِ آلعمران ټول حروف (څوارلس زره پنځه سوه شل) حرفه دی۔

٥ – ام هانئ بنت ابی طالب – رضی الله عنها – فرمائی : « ما باندے رسول الله ﷺ تیر شو نو ما عرض اوکړو، اے د الله رسوله ! زۀ بو ډئ شوے او کمزورے شوے یم، ماته یو داسے عمل اوښایه چه زۀ ئے په ناسته کووم۔ وے فرمائیل : نسل څله (سبحان الله) وایه۔ څکه دا ستا دپاره دَ هغه سلو غلامانو آزادولو سره برابر دی کوم چه دَ اسماعیل علیه السلام دَ اولاد نه وی۔ او سل څله (الحمد لله) وایه، دا ستا دپاره دَ سلو اسونو سره برابر ثواب لری چه هغے باندے زین او واګے دواړه وی، او په هغے باندے تۀ څوك دَ الله په لاره کښ سور کړے۔ او سل څله (الله اکبر) وایه، دا ستا دپاره دَ هغه سلو اوښانو سره برابر دی چه هغے ته قلاده وراچولے شوے او قبول کړے شوی وی۔ او سل څله (لا اله الا الله) وایه – ابن خلفؒ راوی وائی: زما خیال دے چه داسے ئے اوفرمائیل چه – دا ستا دپاره دَ زمکے او آسمان ترمینځه علاقه ډکوی۔ او په دغه ورځ به هیڅوك ددے عمل نه اوچت عمل اونۀ کړی، مګر څوك چه ستا ددے عمل پشان عمل اوکړی »۔

(أحمد : ٣٤٤/٦، الصحيحة : ٣٠٣/٣).

٦ – دَ عمرو بن شعیب په سند سره دَ عبد الله بن عمرو بن العاص ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « چاچه صبا بیګاه « سبحان الله » اوویٔیله نو دا داسے دے لکه چه څوك سل حجه اوکړی۔ او چاچه سل څله بیګاه صبا « الحمد لله » اوویٔیله، نو دا داسے دے لکه چه څوك دَ الله په لاره کښ چاله سل آسونه ورکړی۔ او یائے داسے اوفرمائیل چه : سل غزاګانے اوکړی۔ او چاچه سل څله صبا بیګاه « لا اله الا الله » اوویٔیله، نو دا داسے ده لکه چه څوك دَ اسماعیل علیه السلام دَ اولاد نه سل غلامان آزاد کړی۔ او چاچه سل څله بیګاه صبا « الله اکبر » اوویٔیلو، نو هیڅوك به ددۀ نه زیات عمل اونۀ کړی، مګر هغه څوك چه

ددۀ پښان ئے اووائی او يا ددۀ دَ وينا نه ئے ډير اووائی »۔
(الترمذی : ۳۱۸/۲، وقال : حسن غريب).
زۀ وايم : ددے په سند کښې ضحاك بن حمزة دے، دۀ ته ابن حبانؒ، ابن شاهينؒ، اسحاقؒ او ترمذیؒ ثقه وئيلی۔ او امام دارقطنیؒ فرمائی : دے قابلِ اعتبار دے۔ خو نورو علماؤ لکه امام بخاریؒ، امام نسائیؒ، ابن حجرؒ، ابن معينؒ او ذهبیؒ ورته ضعيف وئيلی۔ ابن عدیؒ فرمائی : ددۀ حديثونه حسن او غريب دی۔ (الکامل : ۱٤۱٦).
شيخ البانیؒ په (الضعيفة : ۱۳۱٥) کښې ديته ضعيف وئيلی، خو هلته ددۀ تحقيق په دے باره کښې کم دے۔ او دا حديث صاحب مشکاة (۲۰۲/۱) هم ذکر کړے۔ مبارکفوریؒ په المرعاة کښې فرمائی : په دے حديث کښې ضحاك راوی دے او په دۀ کښې خبرے اترے شوی۔
زۀ وايم : ددے حديث سند اګرکۀ دَ محققينو په نيز ضعيف دے، مګر دا دَ امام ترمذیؒ، اسحاق بن راهويهؒ او ابن شاهينؒ په نيز حسن دے۔ او مخکنے حديث هم ددے مجموعی لحاظ سره تائيد کوی۔ ښۀ سوچ اوکړه !
۷ – ابو هريره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « چاچه : لا إلٰه إلا الله وحده لاشريك، له الملك وله الحمد وهو علی کل شئ قدير :
دَ ورځے سل ځله اووئيلو، نو دۀ ته به دَ لسو غلامانو آزادولو هومره ثواب ملاويږی، او سل نيکئ به ورله اوليکلے شی، او سل ګناهونه به ئے معاف شی، او په دغه ورځ به تر مابنامه پورے دَ شيطان نه محفوظ وی، او هيڅوك به ددۀ ددے غوره عمل پښان عمل اونۀ کړی، مګر هغه څوك چه ددۀ نه زيات دغه کلمات اولولی »۔ (بخاری، مسلم).
نو دا بهترين عملونه دی، لږ عملونه دی او ثواب ئے ډير زيات دے۔ په دے باندے سوچ کول پکار دی۔
۸ – امام مسلمؒ په خپل صحيح کښې دَ سعد بن ابی وقاص ﷺ نه روايت کوی چه مونږ دَ رسول الله ﷺ سره ناست وو، نو وے فرمائيل : « آيا په تاسو کښې يو کس ددے نه عاجز دے چه هره ورځ زر نيکئ اوکړی ؟ نو په ناستو خلقو کښې ترے يو کس تپوس اوکړو : په مونږ کښې به يو کس څنګه زر نيکئ اوکړی ؟ وے فرمائيل : چه سل ځله سبحان الله اووائی نو زر نيکئ ورله ليکلے کيږی، او يا ترے زر ګناهونه رژيږی »۔
دَ مسلم او احمد په بعضِ روايتونو کښې دَ (ويحط) الفاظ دی۔ يعنی زر نيکئ ئے کيږی او زر ګناهونه ئے رژيږی، دواړه کاره کيږی۔ دَ الله فضل ډير فراخه دے۔

خو دا حدیث دوه درې راویانو په (واؤ) سره روایت کړې، او دوه راویانو په (او) سره روایت کړې۔ او دَ یحیىٰ نه په دې باره کښې مختلف روایتونه راغلي۔ بعضِ علماؤ دَ (واؤ) والا روایت ته راجح وئیلي او بعضو دَ (أو) والا روایت ته راجح وئیلي۔ او ملا علي قاريؒ وئیلي دي چه دلته (واؤ) په معنىٰ دَ (أو) سره دې۔ (انظر المرعاة بالتفصیل : ۴۵۶/۷).

نو د الله په مدد او توفیق سره تهٔ په پنځه مینتهه کښې زر نیکۍ ګټلې شې !!

اې الله ! مونږ له زیات راکړې نهٔ کم، او زمونږ په زړونو کښې دَ ایمان او نیکیو محبت واچوې۔

الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ ولذكر الله أكبر ﴾ [عنكبوت : ٤٥].

(او خامخا دَ الله ذکر ډیر لوئې شې دې – یعني دَ هر عملِ صالح نه)۔

۹ – اوس بن اوس ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « چاچه دَ جُمعې په ورځ په خپل کور والو غسل واړولو او خپله ئې غسل اوکړو، او بنهٔ وختي اووتلو او پیدل لاړو او سور نشو او امام ته نزدې کیناست او غوږ ئې کیخودهٔ او لغوه کارئې اونهٔ کړو۔ نو په هر یو قدم به ورته دَ کال عمل هومره ثواب ملاؤ شي، یعني دَ هغې دَ روژو او دَ هغې دَ تهجدو »۔

(أبو داود بإسناد صحيح، ورواه الترمذي، وانظر صحيح أبي داود : ۷۰/۱، رقم : ۳٤٥).

۱۰ – ابو هریره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « چاچه صبا او بیګاه سل ځله : سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ : اولوستلو نو دَ قیامت په ورځ به هیڅوك دهٔ دې عمل پشان غوره عمل رانهٔ وړي، مګر هغه څوك چه دهٔ پشان ئې دا کلمات اووئیل او یائې ددې نه زیات اووئیل »۔ (بخاري، مسلم).

۱۱ – دَ ابوداود په صحیح حدیث کښې دي : « چاچه دَ هر فرض مانځه نه پس لس ځله : سُبْحَانَ اللهِ اووئیله۔ لس ځله الحمد لله، او لس ځله الله اکبر۔ دارنګه دَ اودهٔ کیدو په وخت ئې درې دیرش ځله سبحان الله، درې دیرش ځله الحمد لله او څلور دیرش ځله الله اکبر اووئیلو۔ نو دهٔ دپاره به دوه نیم زره نیکۍ اولیکلې شي »۔(مشکاة : ۲۱۱/۱).

۱۲ – د ځابنت مونځ دَ درې سوه شپیتهٔ (۳۶۰) نیکیو سره برابر دې۔

(صحیح مسلم، مشکاة : ۱۱۶/۱).

۱۳ – ابو هریره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « څوك چه دَ یو مسلمان په جنازې پسې دَ ایمان او ثواب ګنړلو په نیت روان شي تردې چه په هغې باندې جنازه اوکړې شي او دَ هغې دَ دفن نه فارغ شي، نو دهٔ دپاره به دوه قیراطه ثواب اولیکلې شي، او چاچه

صرف مونځ اوکړو او بیا واپس شو نو ده دپاره به یو قیراط اولیکلے شی، او قیراط دَ اُحُد دَ غرهٔ هومره دے»۔ (صحیح بخاری).

نو دا یو عظیم اجر دے په ډیر زیات معمولی عمل باندے۔

دا وجه ده چه کله ابن عمر رضی الله عنه دا حدیث واوریدهٔ نو وے فرمائیل: «مونږ خو ډیر قیراطونه ضائع کړی دی۔ یا مونږ خو په ډیرو قیراطونو کښ کوتاهی کړیده»۔

او دینه معلومیږی چه صحابه کرامو - رضی الله عنهم - به دَ نیکیو سره څومره ډیره مینه لرله، او دَ هغے دپاره به ئے څومره ډیر کوشش کولو!

۱٤ - ابو هریره رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: «چا چه دَ پاکیزه مال نه دَ کهجورے هومره صدقه ورکړه، او الله خو صرف دَ پاکیزه مال صدقه قبلوی۔ نو الله تعالیٰ دا په خپل ښی لاس سره قبلوی او بیا ئے ددے خاوند دپاره داسے تربیت کوی لکه څنګه چه په تاسو کښ یو کس دَ خپل اس دَ بچی تربیت کوی، تردے چه هغه دَ غرهٔ نه هم غټه شی»۔ (بخاری، مسلم).

نو اوګوره! دَ غرهٔ هومره کهجورے به دَ څومره روپو اشرفو سره برابریږی؟ ددے په اندازه لګولو باندے انسان په میاشتو او کلونو کښ هم قادر نهٔ دے۔

دا وجه ده، ژوندی زړهٔ والا او په نیکیو کښ رغبت لرونکی مسلمان له مناسب دی چه هره ورځ څهٔ صدقه اوکړی۔ بعضِ سلفو به هره ورځ یو شے خامخا صدقه کولو، اګر کهٔ یو ککوړے به وو۔ دے دپاره دهٔ له دا اجر عظیم اولیکلے شی۔

اے الله مونږ له هم دا اجر عظیم اولیکه!

۱۵ - ابو سعید خدری رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: «په مسجد حرام کښ یو مونځ کول داسے دی لکه په نورو مسجدونو کښ یو لاکهه مونځونه کول»۔

(أخرجه عبد الرزاق فی المصنف).

په صحیحینو کښ دی: «زما په دے جُوماتٔ کښ یو مونځ کول، په نورو جوماتونو کښ دَ زرو مونځونو سره برابر دے۔ سیوا دَ مسجدِ حرام نه»۔

نو څوک چه دَ مکے یا مدینے والا وی، او یا هلته اوسیږی او یا زیارت له ورغلے وی، نو هغوئ له پکار دی چه دا عظیم اجر غنیمت اوګنړی او ددے اهتمام او په دے کښ رغبت اوکړی۔ څکه انسان ددے وس نهٔ لری چه په خپل ټول عُمر کښ یو لاکهه مونځونه اوکړی، مګر ډیر کم کوز - حال دا چه هلته دا عظیم اجر ورته په یوه ورځ بلکه په یو مانځه سره

ملاویږي. نو کله چه انسان سل مونځونه اوکړي نو ګویاکه دهٔ شل ملیونه مونځونه اوکړل. الله اکبر! څومره ډېر خلق دي چه په دے کښې کوتاهي کونکي دي! او خپل هغه مونځونه ضائع کونکي دي چه دا په ټولو څیزونو کښې دهٔ دپاره داټولے دُنیا نه قیمتي څیز دے! دهٔ دَ اهل، ملګرو او قوم او قبیلے نه هم. لیکن دا خبرے ایمان او احسان غواړي، او په دے څیزونو کښې مونږ څومره کمزوري یو؟ اے الله معاف کړه!

۱٦ - ابو هریره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: «څوك چه دَ ایمان او ثواب ګنړلو دَ وجے نه قیامِ رمضان اوکړي، نو دهٔ مخکني ګناهونه به معاف شي». (بخاري).

الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ لیلة القدر خیر من الف شهر ﴾ [قدر: ۳].

(لیلة القدر دَ زرو شپو نه غوره ده).

نو څوك چه په لیلة القدر کښې په یو مونځ، تلاوت، ذکر، دعاء، رغبت، ویرے، صدقے وغیره سره دَ الله عبادت اوکړي، نو ګویا دهٔ څلور اتیا (۸٤) کاله دَ الله عبادت اوکړو. ځکه دَ زرو میاشتو تقریباً همدا اندازه ده. نو دا شپه ضائع کول نهٔ دي پکار. ګنے بیا به تهٔ دَ رسول الله ﷺ دَ ښکاره الفاظو مطابق دَ محروم انسانانو نه جوړ شے. اوکهٔ چرے تهٔ دغه شپے نشے رونړولے، نو کم از کم لږه حصه خو ئے رونړه کړه. والله المستعان.

۱۷ - ابو هریره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: «کله چه تهٔ اودس کوے نو: بِسْمِ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلهِ وایه ځکه ملائك همیشه ستا په نیکیو لیکلو لګیا وي تردے چه تهٔ دَ دغه اودس نه بے اودسه شے».

(أخرجه الهیثمي کما في المجمع: ۱/ ۲۲۰، وقال: إسناده حسن).

زهٔ وایم دا حدیث طبراني په صغیر (۷۳) او اوسط کښې ذکر کړے او ددے حدیث سند حسن درجے ته رسیږي ان شاء الله، ځکه په دے کښې عمرو بن ابي سلمه رشتینے راوي دے خو اوهام لري.

۱۸ - په هر مسلمان باندے - کهٔ پیژنے اوکه نهٔ - سلام اچول:

ځکه السلام علیکم ورحمة الله و برکاته سره انسان دپاره دیرش نیکئ لیکلے کیږي.

ابن عمر ﷺ به صبا وخت کښې بازار ته تللو. نو دَ اُبيّ بن کعبؓ ځوئے طفیل ورته اووئیل: دلته مونږ سره کینه تهٔ څهٔ کوے چه بازار ته ځے، ځکه تهٔ هلته نهٔ سودا سره اودریږے او نهٔ په بازار کښې څهٔ شے اخلے. ابن عمرؓ ورته اووئیل: اے خیټو! مونږ خو دَ سلام اچولو دَ وجے نه هلته صبا وخت ځو. (ذکره النووي في الأذکار).

نو دا بغیر د مشقت او تکلیف نه په مُفته کښې نیکئ دی۔
نـو پـه ټـولـو خلقو کښې بخیل ترین سړے هغه څوك دے چه په سلام کښې بُخل کوی۔ او بعضِ خلق دَ مغرب او یُورَپ والو نه متاثر وی، چه دَ ملاقات په وخت صرف مُسکے شی او سلام نـهٔ اچوی گویـا دا یـو سپے دے چـه دَ بـل سپـی سره ملاؤ شو او داړے ئے ورتـه اوخودلے۔ والله المستعان۔
۱۹ – جهاد کول۔ ځکه دا سراسر نیکی ده۔
۲۰ – شرعی علم طلب کول۔
۲۱ – الله طرفته خلق رابلل۔
۲۲ – اوکهٔ تهٔ غواړے چه تهٔ په خپله بستره پروت ئے او دَ سابقینو نه هم مخکښې شے : نو دَ رحمٰن ذات محبت را تینگ کره۔
۲۳ – مونځ کول۔ ځکه کله چه بنده په مانځه اودریږی، نو نیکی او رحمتونه ددهٔ په سر باندے را دوریږی۔ والله المستعان۔
۲٤ – په نبی ﷺ باندے درود وئیل : چه په دے کښې دَ ځلویښتو نه زیاتے فائدے دے۔



۱۵ - فائده

د شکر حقيقت او ديته د انسان د رسيدلو طريقه

الله تعالىٰ په انسانانو بے شماره نعمتونه کړی، او الله سبحانه وتعالىٰ به دَ هغے په باره کښ تپوس کوی : ﴿لتسئلن يومئذ عن النعيم﴾ [تكاثر].
(بيابه تاسو نه دَ نعمتونو په باره کښ تپوس کيږی)۔
نو په عقلمند مؤمن باندے واجب دی چه دالله هميشه شکر او حمد کوی۔
خو دَ شکر حقيقت څهٔ دے ؟ او بنده به ديته څنگه اورسيږی ؟ خاصکر چاته چه الله کتاب او حکمت ورکړی - په داسے حال کښ چه مونږ ته هم الله سبحانه وتعالىٰ ددے نه پوره برخه راکړے والحمد لله - نو مونږ خو دَ هر چانه ډير زيات ددے عظيم نعمت شکر کولو ته محتاج يو۔
نو اوس زهٔ دَ **شکر حقيقت** او دَ الله په فضل سره ديته دَ بنده دَ **رسيدلو طريقه** ذکر کووم۔
او دا يو داسے فائده ده چه دا لازم نيول او ددے شکر کول واجب دی۔
الله تعالىٰ فرمائی : ﴿ولقد آتينا لقمان الحكمة أن اشكر لله ومن شكر فإنما يشكر لنفسه ومن كفر فإن الله غني حميد﴾ [لقمان : ۱۲].
(او يقيناً مونږ لقمان ته حکمت ورکړے وو، چه تهٔ دَ الله شکر کوه او څوك چه شکرکوی نو فائده ئے د ځان ده، او څوك چه ناشکری کوی نو بيشکه چه الله بے پرواه او ستائيلے شوے دے)۔
په دے آيتِ کريمه کښ اشاره ده دے خبرے ته چه په هر نعمت باندے شکر کول واجب دی، خاصکر په حکمت باندے، چه دَ ټولو حکمتونو نه مطلقاً لوئے حکمت : دَ الله عز وجل کتاب دے۔ ﴿تنزيل من حكيم حميد﴾ [حم سجده : ۴۲].
(نازلول ددے کتاب دَ حکيم او ستائيلے شوی ذات دَ طرفه دے)۔
نو ياد ساته چه دَ **شکر اووه ارکان او اجزاء دی :**
۱ - شکر کړے شوی سره دَ شکر کونکی دَ زړهٔ رشتينے محبت۔
۲ - کوم نعمتونه ئے چه ورته ورکړی دی، په هغے باندے دَ هغهٔ ثناء وئيل او په هر حالت

کښې دَ هغهٔ ذکر کول.

۳ - دَ هغهٔ په نعمتونو باندې اقرار کول.

٤ - ددې نعمتونو په مدد سره دَ هغهٔ رضا تالاش کول، یا داسې اووایه چه : دا نعمتونه دَ هغهٔ په رضا کښې استعمالول.

٥ - دَ هغهٔ عبادت او خدمت کول.

٦ - شکرکړې شوی ته دَ شکر کونکی عاجزی کول.

۷ - په داسې څیزونو کښې نعمتونه نهٔ استعمالول چه هغه ئې بد ګڼړی.

(کذا فی القاسمی وبصائر ذوی التمیز، وعدة الصابرین، ص : ۱٤۹، ونحوه فی المدارج : ۲/ ۲٤٤).

او ددې څیزونو وضاحت په قرآنی آیتونو، نبوی حدیثونو او سلفی آثارو سره کیږی. چه مونږ ددې نه څهٔ حصه ذکر کوو.

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ لئن شکرتم لأزیدنکم ولئن کفرتم إن عذابی لشدید ﴾ [ابراهیم : ۷].

(که تاسو شکر اوکړو نو زهٔ به نور زیاتی درکړم، او که ناشکری مو اوکړه نو بېشکه چه زما عذاب سخت دې).

نو شکر دَ الله په نعمتونو باندې اقرار کولو ته وائی لکه دَ سورتِ ابراهیم دغه آیت ورته اشاره کوی. او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ ذریة من حملنا مع نوح إنه کان عبدًا شکورًا ﴾ [اسراء ۳].(اې دَ هغه چا اولاده چه هغه مونږ دَ نوح ﷺ سره - په کشتئ کښې - بار کړې وو، واقعی چه هغه شکر ګذار بنده وو).

مجاهد ؒ فرمائی: نوح ﷺ به چه کله هم خوراك کولو نو دَ الله حمد به ئې کولو، او چه کله به ئې هم څهٔ شې څکلو نو دَ الله حمد به ئې وئیلو، او چه کوم یو څیز به ئې هم رانیولو نو دَ الله حمد به ئې وئیلو، نو الله ځکه ددهٔ دا صفت اوکړو چه دا ډیر زیات شکر ګذار بنده وو.

نو په دې کښې اشاره ده دیته چه مونږ له هم دَ هغهٔ پشان جوړیدل پکار دی.

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ ولعلکم تشکرون ﴾ [بقره : ۱۸۵].

(او دې دپاره چه تاسو شکر ګذار جوړ شئ).

یعنی : دې دپاره چه تاسو دَ شپې او ورځې عبادت ګذار جوړ شئ.

او الله فرمائی : ﴿ لمن أراد أن یذکر أو أراد شکورًا ﴾ [فرقان : ٦۲].

(دَ شپې او ورځې تلل راتلل دَ هغه چا دپاره دی چه هغه دَ نصیحت قبلولو او شکر کولو اراده لری). یعنی دَ عبادت کولو اراده لری.

په صحیح حدیث کښې دي: « نبي ﷺ به دَ شپے دومره عبادت کولو چه دَ هغویٔ قدمونه اوچودل، نو عرض ورته اوکړے شو، آیا تاسو دا کار کوئ حال دا چه الله خو ستاسو مخکني او روستني گناهونه معاف کړي دي! وے فرمائیل: آیا زهٔ شکر گذار بنده جوړ نشم؟ ». (بخاري، مسلم).

په بل حدیث کښې دي: « دوه خویونه دي په چاکښې چه وي الله به ئے شکر گذار او صبر کونکے اولیکي، او په چا کښې چه نهٔ وي نو الله به ئے شکر گذار او صبر کونکے نهٔ لیکي: (۱) چا چه په خپل دین کښې دَ ځان نه پورته کس ته اوکتل او دَ هغهٔ اقتداء ئے اوکړه. (۲) او چا چه په خپله دنیا کښې دَ خپل ځان نه لاندے کس ته اوکتل او دَ الله حمد ئے اووئیلو چه په دهٔ باندے ئے فضل کړیدے. نو الله به ئے صابر او شاکر اولیکي. او چا چه په خپل دین کښې دَ خپل ځان نه ښکته کس ته اوکتل او په دنیا کښې ئے دَ خپل ځان نه پورته کس ته اوکتل او په هغه شئ غمژن شو، کوم چه ددهٔ نه فوت شویدے، نو الله به ئے صابر او شاکر اونهٔ لیکي».

ددے حدیث په اسناد کښې دَ المثنی بن صباح دَ وجے نه خبرے اترے شوی. او دا حدیث ابن مبارك په همدے سند سره روایت کړے. (عدة الصابرین، ص: ۱٤٦).

ددے حدیث نه دَ بخاري او مسلم حدیث بے پروائي راولي هغه دا چه: « هغه چاته گوریٔ څوك چه تاسو نه ښکته دے، او هغه چاته مهٔ گوریٔ چه تاسو نه پورته دے، ځکه دا ډیره لائقه ده چه تاسو به دَ الله هغه نعمت چه په تاسو ئے کړیدے، سپك اونهٔ گڼړیٔ ».

په حدیث کښې دي: « بیشکه الله دَ بنده نه راضي کیږي کله چه خوراك کوي نو په هغے باندے دَ هغهٔ حمد وائي. او کله چه څکاك کوي، نو په هغے باندے دَ هغهٔ حمد وائي ». (صحیح مسلم، ترمذي).

عائشه رضي الله عنها فرمائي: نبي ﷺ اوفرمائیل: « په کوم بنده چه الله یو نعمت اوکړي او هغه دا اوپیژني چه دا د الله د طرفه دے، نو الله به دهٔ له دَ هغے شکر اولیکي. او الله ته چه دَ کوم بنده نه په گناه باندے خپیمانتیا معلومه شي نو دَ بخښنے غوښتلو نه مخکښې ورته الله بخښنه کوي. او یو سړے په یوه اشرفئ جامه اخلي او هغه آغوندي او د الله حمد کوي نو هغه لا دَ هغهٔ گوډو ته نهٔ وي رسیدلے چه الله ورته بخښنه اوکړي». (کتاب الشکر رقم: ٤٧).

ددے حدیث په سند کښې خبرے اترے شته دے.

حسن بصريؒ فرمائي : تاسو دا نعمتونه ډېر ډېر يادوئ ځکه چه ددے ذکر کول شکر دے.
الله تعالىٰ دَ خپل بنده نه دا خوښوی چه په دهٔ باندے دَ خپل نعمت اثر اووينی، ځکه چه دا په لسان الحال سره دَ نعمت شکر کول دی. لکه دے باره کښې ډېر حديثونه راغلی.
فضيل بن عياضؒ فرمائي : چاچه په زړهٔ سره دَ الله نعمتونه اوپيژندل، او په ژبه سره ئے دَ الله حمد او ثناء اوونيله، نو دابه ئے پوره کړے نهٔ وی تردے چه زياتی نعمتونه به اووينی.
ځکه الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ لئن شكرتم لأزيدنكم ﴾ [ابراهيم : ٧].
(کهٔ چرے تاسو شکر اوکړو، زهٔ به خامخا زياتی درکړم).
او فرمائي چه دَ نعمت شکريه داده چه هغه بيان کړے شی.
حسنؒ فرمائي : ﴿ إن الإنسان لربه لكنود ﴾ [عاديات : ٦].
(بيشکه انسان دَ خپل رب ډېر ناشکره دے) : چه مصيبتونه شماری او نعمتونه هيروی.
او نبی ﷺ خبر ورکړے چه په اور کښې به اکثره اوسيدونکی ښځے وی، ددے وجه داده چه دوئ دَ خاوند ناشکري کوی. نو دَ هغه چا به څهٔ حال وی چه هغه دَ الله عز وجل دَ نعمت ناشکری کوی ؟ ښځه وائی : ما تانه هيڅ کله خيز اونهٔ ليدهٔ.
عبد الله بن سلامؓ فرمائي : موسىٰؑ اوفرمائيل : اے ربه ! هغه کوم شکر دے چه ستا دَ شان سره مناسب وی ؟ وے فرمائيل : هغه دا چه ستا ژبه هميشه زما په ذکر لمده وی.
امام احمدؒ په خپل سند سره دَ ابو الخلدؒ نه نقل کړی دا وائی : دَ داؤد ؑ په سوالونو کښې ما لوستلی چه هغهٔ اوفرمائيل : اے ربه ! دا څنګه کيدے شی چه زهٔ ستا شکر اوکړم حال دا چه زهٔ ستا شکر ته هم صرف ستا په نعمت سره رسيدلے شم ؟ نو وحی ورته راغله چه اے داود ! آيا تا ته دا پته نشته چه کوم نعمتونه پتا شوی دی نو هغه زما دَ طرفه دی ؟ هغهٔ وئيلې : ولے نه اے ربه ! وے فرمائيل : بس زهٔ په همدے شکر سره تانه راضی کيږم.
نبی ﷺ اوفرمائيل : « نعمت بيانول شکر دے او ددے بيان پريخودل ناشکری ده، او څوك چه دَ کم څيز شکر نهٔ کوی هغه دَ ډېر څيز هم شکر نهٔ کوی. او څوك چه دَ خلقو شکر نهٔ کوی هغه دَ الله شکر هم نهٔ کوی. او جماعت برکت دے او جدائی عذاب دے ».
(أخرجه ابن أبي الدنيا بإسناد صحيح).
مسعرؒ فرمائي : کله چه آلِ داؤد ته اووئيلے شو : ﴿ اعملوا آل داود شكرًا ﴾ [سبأ : ١٣].
(اے دَ داؤد ؑ خاندانه ! تاسو شکر کوئ).
نو په دوئ به هيڅ داسے ساعت نهٔ راتلو چه په دوئ کښې به يو مونځ کونکے نهٔ وی.

په حديث کښې دي : « په کوم بنده باندې چه الله تعالىٰ دَ هغهٔ په اهل او مال او يا بچو کښې يو نعمت اوکړي او بيا : مَا شَاءَ اللّٰهُ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ : اووائي، نو په دې نعمت کښې به مرګ نه علاوه بل هيڅ آفت اونهٔ وينى »۔(رواه أبو يعلىٰ وابن كثير : ١١٥/٣).
ددې په سند کښې خبرې اترې شته دې۔
(كما فى ضعيف الجامع ٥٠٢٨، وعمل اليوم والليلة لابن السنى رقم : ٣٥٧).
داؤد ﷺ فرمائي : اې ربه ! زهٔ به ستا دَ شکر طاقت څنګه اولرم حال دا چه هم تهٔ هغه ذات ئې چه په ما نعمتونه کوې، بيا تهٔ په نعمت باندې ماله شکر رانصيب کړې، بيا تهٔ ماله دَ يو نعمت پسې بل نعمت زياتي راکوې، نو نعمت هم ستا د طرفه دې، او شکر هم ستا دَ طرفه دې، نو زهٔ به څنګه ستا شکر اوکړم ؟ الله اوفرمائيل : اوس دې زهٔ اوپيژندلم اې داود ! (ذكره أحمد فى الزهد).
ابوخلدؒ فرمائي : موسىٰ ﷺ اوفرمائيل : اې ربه ! زهٔ به ستا دَ شکر کولو څنګه طاقت اولرم حال دا چه تا چه کوم دَ ووړوکې نه ووړوکې نعمت په ما باندې کړې نو زما تول عمل دَ هغې بدله نشي پوره کولې ؟ نو هغهٔ ته وحي راغله چه اې موسىٰ ! اوس تا زما شکر اوکړو۔
عبد الملك بن مروان وائي : هيڅ يو بنده يوه کلمه نهٔ ده وئيلې چه الله ته ډيره خوښه او په شکر کښې آخر سرته دَ هغهٔ په نيز رسيدونکې وي، ددې نه چه بنده داسې اووائي : الحمد لله الذى انعم علينا وهدانا للاسلام۔(ټول ثناء صفت هغه ذات له دې چه مونږ له ئې نعمتونه راکړي او اسلام طرفته ئې زمونږ رهنمائي کړې)۔
حسن بصريؒ فرمائي : موسىٰ ﷺ اوفرمائيل : اې ربه ! آدم څنګه کولې شي چه ستا دَ هغه نعمتونو شکر اداء کړي کوم چه تا په هغهٔ باندې کړي دي ؟ تا هغه په خپل لاس سره پيدا کړو، او دَ خپل روح نه دې پکښې پوك کړو، او جنتِ کښې دې اووسولو، ملائکو ته دې حکم اوکړو چه سجده ورته اوکړي نو هغوئ ورته سجده اوکړه ! وې فرمائيل : اې موسىٰ ! هغهٔ ته پته اولګيده چه دا کار زما د طرفه دې نو هغهٔ زما حمد اووئيلو نو دا دَ هغه نعمتونو شکريه شوه، چه ما په هغهٔ باندې کړي وو۔
مخلد بن حسينؒ فرمائي : پخوا به خلقو دا وئيلې چه شکر ګناهونه پريخودلو ته وائي۔
ابو حازمؒ فرمائي : هر هغه نعمت چه الله ته انسان نزدې نهٔ کړي نو دا مصيبت دې۔
ذاذانؒ فرمائي : په کوم کس باندې چه نعمت شوې وي، په هغهٔ واجب دي چه ددې نعمت په ذريعه ګناه ته ځان اونهٔ رسوي۔

په صحيح حديث کښې دي : الله تعالىٰ فرمائي : « بيشکه مؤمن زما په نيز په پوره خير سره دے، په داسے حال کښې هم زما حمد کوي چه زهٔ دَ هغهٔ د دواړو اړخونو نه روح اوباسم»۔ (الصحيحة).

ابـو العاليـةؒ فـرمـائـي : زما اميد دے چه بنده به دَ دوه څيزونو ترمينځه هلاك نشي (۱) داسے نعمت چه په هغے باندے د الله شکر کوي (۲) او داسے ګناه چه دَ هغے بخښنه غواړي۔

ابـن ابي الدنيا فرمائي : ماته دَ بعضِ علماؤ نه دا خبره رارسيدلے چه هغه وئيلي : عالِم له مـناسب دي چه الله ددهٔ نه کوم دنيوي خواهشات راغونډ کړي دي، په هغے دَ الله داسے حمد اوکړي څنګه چه په هغه څهٔ دَ هغهٔ حمد کوي کوم ئے چه ورته ورکړي دي۔ او کوم څيز چه الله دهٔ له ورکړيدے په داسے حال کښې چه دَ هغے به ورسره حساب کوي، دا چرته رسيدلے شي هغـه شـئ تـه چـه دَ هغے نه ورله الله عافيت ورکړے او په هغے باندے ئے نهٔ دے مبتلىٰ کړے چه ددهٔ زړهٔ دے په هغے مشغول شي او ددهٔ اندامونه دے ستومانه شي، نو دَ الله شکر دے کوي دَ خپل زړهٔ په سکون او خاطر جمعئ باندے۔

ابـو حازمؒ فرمائي : په سترګو، غوږونو، لاسونو، خپو، خيټه او شرمګاه باندے شکر کول واجب دي۔ نـو دَ سـترګو شکر دادے چه تهٔ په هغے باندے خير اووينے نو هغه ښکاره کړے۔ اوکـهٔ شـر پـرے اووينے نو هغه پټ کړے۔ او دَ غوږونو شکر دادے چه دَ خير خبره پرے واورے نـو يـاده ئے کـړے اوکه دَ شر خبره پرے واورے نو دفع ئے کړے۔ او دَ لاسونو شکر دادے چه په دے دواړو بـانـدے هغه شے اونهٔ نيسے چه نيول ئے پکار نهٔ وي، او دَ الله هغه حق منع نهٔ کړے کـوم چه په دے کښې دے۔ او دَ خيټے شکر دادے چه لاندے طرفته ئے خوراك او بره طرفته ئے عـلـم وي۔ او دَ شـرمـګـاه شـکـر دادے چـه دَ خپلے ښځے او وينځے نه علاوه بل هر چانه ئے اوساتے۔ او دَ خپو شکر دادے چه که تهٔ دَ يو مړي په باره کښې په يوه خبره باندے اوپسخيږے نـو دا دواړه دَ هـغے پـه کـولـو کـښې اولـګـوے۔ اوکـهٔ هغه بدے اوګنړے نو دَ هغهٔ دَ عمل نه اعـراض اوکـړے پـه داسے حـال کښې چه تهٔ شکر کونکے ئے۔ پاتے شو هغه څوك چه هغه په ژبـه شـکـر کوي او په خپلو ټولو اندامونو سره شکر نهٔ کوي، نو ددهٔ مثال لکه دَ هغه سړي دے چـه دَ هغهٔ يو څادر وي، او دَ هغے يو طرف را اونيسي او ټول وانهٔ غوندي، نو دا به ورتـه دَ ګرمئ يخنئ او واورے باران په دفع کولو کښې څهٔ فائده ورکړي۔

يـو ورځ نـجـاشي په خاورو باندے کيناستهٔ او هغهٔ زړے جامے اچولے وے، نو جعفر صادقؓ ورته اووئيل : دا کار دے ولے اوکړو ؟ وے فرمائيل : څکه چه الله په بدر کښې دَ خپل نبي مدد

کړے دے۔ او الله تعالیٰ په عیسیٰ ﷺ باندے دا خبره نازله کړیده چه: کله الله خپلو بندګانو له څۀ نعمت ورکړی نو دویٔ دپاره لائقه ده چه الله ته عاجزی اوکړی۔ نو هر کله چه الله زما دپاره دَ خپل نبی سره مدد اوکړو، نو ما الله دپاره دا تواضع اوکړه۔

په یو حدیث کښې دی: « رسول الله ﷺ ته چه به کله دَ خوشحالیٔ خبره راغله نو دَ شکر په طور به الله ته په سجده پریوتلو »۔ (أحمد).

دَ نوی نعمت ملاویدو په وخت دَ سجدۀ شکر کولو په باره کښې ډیر زیات حدیثونه راغلی دی۔ چه هغه ما په فتاویٰ «الدین الخالص» پنځم جلد کښې ذکر کړی۔

ابن قیم رحمه الله په (عدة الصابرین) کښې په نوی نعمتونو باندے دَ سجدۀ شکر کولو حکمت ذکر کړے دے۔ هلته ئے اوګوره، ص: (۱۳۷)۔

بعضِ پوهانو وئیلی دی چه: الله دَ بندګانو نه په شکر کښې په حمد کولو باندے راضی شوے دے۔

په بعضِ هغه کتابونو کښې چه الله نازل کړی دی دا فرمائیلی دی چه: زما مؤمن بنده خوشحاله کړیٔ څکه چه دۀ ته به چه کله هم څۀ شے راغے نو (الحمد لله ماشاء الله) به ئے وئیله۔ بیا وائی: زما مؤمن بنده منع کړیٔ څکه چه دۀ ته به چه کله هم څۀ مکروه خبره ورپیښه شوه نو (الحمد لله، الحمد لله) به ئے وئیله۔ نو الله تبارك وتعالیٰ فرمائی: زما بنده چه کله زۀ منع کړم نو هم زما حمد وائی، لکه څنګه چه کله ئے زۀ خوشحاله کړم نو زما حمد وائی۔ زما بنده زما دَ عزت کور ته داخل کړیٔ لکه څنګه چه په هر حالت کښې دے زما حمد وائی۔

موسیٰ ﷺ اوفرمائیل: اے ربه! بهترین شکر کوم یو دے؟ وے فرمائیل: دا چه تۀ زما شکر په هر حالت کښې کوے۔

بکر بن عبد الله فرمائی: ما خپل یو ورور ته اووئیل: ماته وصیت اوکړه! وے فرمائیل: زۀ حیران یم چه تاته څۀ اووایم؟ البته دومره خبره ده چه دے بنده له پکار دی چه دَ حمد او استغفار نه ستومانه نشی، څکه انسان دَ ګناه او نعمت ترمینځه دے، او نعمت سره مناسب څیز حمد دے، او ګناه سره مناسب څیز استغفار اوتوبه ده۔ هغۀ وئیلے: په دے خبره سره دے زما په علم کښې فراخی پیدا کړه۔

سهم بن سلمة فرمائی: ماته دا خبره بیان شوے چه کله سړے دَ خوراك په شروع کښې دَ الله نوم واخلی او دَ الله ذکر اوکړی او په آخره کښې ئے حمد اوکړی، نو ددۀ نه به ددۀ خوراك دَ

نعمت په باره کښې تپوس نۀ کيږي۔

ابو هريره ﷺ به فرمائيل : يوه دعاء ده چه ما دَ رسول الله ﷺ نه ياده کړيده : اللهم اجعلني أعظم شكرك، وأكثر ذكرك وأتبع نصيحتك وأحفظ وصيتك.

(اے الله ! ماداسے جوړ کړے چه زۀ ستا شکر ډير کوم، او ستا ذکر زيات کوم، او ستا دَ نصيحت ډيره خير خواهي کوم، او ستا دَ وصيت ډير حفاظت کوم۔

(المشكاة : ۱/ ۲۲۰).

الله تعالىٰ موسىٰ ﷺ ته اوفرمائيل : بيدار شه او دَ خپل ځان دپاره ياران اولټوه، او هر هغه يار چه تاسره زما په خوشحالئ باندے موافقت نۀ کوی نو هغۀ سره مۀ ملګرے کيږه، ځکه چه دا ستا دشمن دے، دابه ستا زړۀ سخت کړی۔ او زما ذکر ډير ډير کوه ترد ے چه تۀ دَ شکر مستحق شے او زياتی نعمت پوره کونکے جوړ شے۔ (أحمد).

په حديث کښې دی : « چاچه دَ صبا په وخت دا دعاء اوکړه :

اللهم ما أصبح بي من نعمةٍ أو بأحد من خلقك، فمنك وحدك لا شريك لك (فلك الحمد ولك الشكر) :

نو دۀ خامخا دَ دغے ورځے شکر اداء کړو۔ او چاچه دَ بيګاه په وخت دا دعاء اولوستله نو دۀ دَ خپلے دغے شپے شکر اداء کړو »۔ (مشكوٰة : ۱).

ددے حديث په سند کښې معمولی شان کلام شته دے۔

په صحيح الجامع رقم (۵۵۶۲) کښې دی : « په کوم بنده چه الله تعالىٰ څۀ نعمت اوکړی او دے په هغے باندے دَ الله حمد اووائی، نو دغه حمد به دَ دغه نعمت نه افضل وی »۔

دارنګه فرمائی : «کوم بنده باندے چه الله يو نعمت اوکړی او هغه : اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ : اووائی، نو کوم نعمت ئے چه حاصل کړے دَ هغے نه به هغه شکر ډير افضل وی کوم ئے چه اداء کړو»۔ (رواه ابن السني وغيره، والحديث صحيح).

وهب بن منبة فرمائی : دَ نعمتونو جرړے درے دی : (۱) اول : دَ اسلام نعمت چه هيڅ يو نعمت نۀ پوره کيږی مګر په دے سره (۲) دويم دَ عافيت (روغوالی) نعمت۔ چه ژوند نۀ مزيدار کيږی مګر په دے سره۔ (۳) دريم : دَ مالداریٔ نعمت، چه ګذران نۀ پوره کيږی مګر په دے سره۔

سعيد الجريری دَ حج نه راغلے نو فرمائيل ئے : الله تعالىٰ مونږ سره زمونږ په دے سفر کښې دا دا نعمتونه اوکړل۔ بيائے اوفرمائيل : نعمتونه شمارل شکر کول دی۔

په حديث مرسل کښې دي: « کله چه الله په يوه بنده باندې يو نعمت اوکړي او دَ هغې سره بنده دَ الله حمد او ثناء اووائي، نو يقيناً چه دهٔ دَ هغې شکر اداء کړو »۔
(رواه ابن أبي الدنيا في الشكر رقم (١٧٥، وإسناده فيه جهالة وإرسال، ورواه الحاكم وصححه ورده الذهبي).
دا حديث ضعيف دې خو ددې تائيد مخکښې تير شو۔
حديث کښې دي: « نبي ﷺ به چه کله په شيشه کښې اوکتل نو فرمائيل به ئې: ټول ثناء صفت دَ کمال الله لره دي چه زهٔ ئې پيدا کړم او زما اخلاق او پيدائش ئې ښائسته اوکړو، او په ما کښې ئې هغه شې ښائسته کړو کوم ئې چه په بل کښې عيبجن کړې »۔
دا حديث بيهقي او ابن ابي الدنيا روايت کړې، او ددې حديث په سند کښې خبرې اترې شته۔ البته دَ شيشې دَ ذکر کولو نه بغير دا حديث صحيح دې۔ (الإرواء).
ابن ابي الدنيا دَ علي ﷺ نه روايت کوي چه: کله بختنصر دانيال ﷺ قيد کړو نو دوه زمرې ئې اوږې کړل او دَ هغوئ دواړو سره ئې دا په کنده کښې واچولو، او په دهٔ او په هغه دواړو زمرو باندې ئې پنځه ورځې ختې اومړله، بيائې دَ هغهٔ دروازه پرانستله، نو ناګهانه هغه ولاړ وو چه مونځ ئې کولو۔ او دواړه زمرې دَ کندې په يو طرف کښې وو۔ چه هيڅ تعرض ئې ورته نهٔ وو کړې۔ نو بختنصر اووئيل: تا څهٔ شې وئيلې دي چه دَ هغې په وجه تا نه دا تکليف لرې شو؟ هغهٔ وئيلې: ما دا الفاظ وئيلي دي: « ثناء ده هغه الله لره چه څوک ئې ياد کړي نو هغه نهٔ هيروي، ثناء ده هغه الله لره چه څوک ترې اميد اولري نو نهٔ ئې نا اميده کوي، ثناء ده هغه الله لره چه څوک پرې توکل اوکړي نو بل چاته ئې نهٔ سپاري، ثناء ده هغه الله لره چه زمونږ پرې بهروسه ده هر کله چه زمونږه نور چلونه ختم شي، ثناء ده هغه الله لره چه زمونږ اميد دې په هغه ورځ چه زمونږ ګمانونه په خپلو اعمالو باندې بد شي، ثناء ده هغه الله لره چه زمونږ دَ پريشانئ دَ وجې نه مونږ نه مصيبت لرې کوي، ثناء ده هغه الله لره چه دَ احسان په بدله کښې احسان ورکوي، ثناء ده هغه الله لره چه دَ صبر په بدله کښې نجات ورکوي »۔
دا حديث ابن ابي الدنيا په داسې سند سره ذکر کړې چه په دې کښې خبرې اترې شته دې۔
ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ اوفرمائيل: « چا چه يو مصيبت زده اوليدلو او دا دعاء ئې اوکړه: الحمد لله الذي عافاني مما ابتلاك به وفضلني على كثير ممن خلق تفضيلاً: نو دې کس دَ دغه نعمت شکر اداء کړو »۔

(البیهقی والطبرانی کما فی المجمع : ۱۰/۱۳۸).
دے حدیث ته هیثمی حسن وئیلے، خو ددے په سند کښې العمری دے او ددهٔ حافظه خرابه وه۔ ددے حدیث نه زیات صحیح حدیث هغه دے کوم چه امام ترمذیؒ روایت کړے چه په هغې کښې دَ شکر اداء کولو په ځائے دا الفاظ دی: « نو دغه مصیبت به دهٔ ته هیڅ کله اونهٔ رسیږی »۔ او دیته شیخ البانیؒ صحیح وئیلی۔
بعضِ علماء فرمائی: پاکی ده هغه ذات لره چه دَ هغهٔ دَ نعمتونو دَ ادراك نه کوتاهی پیژندل ئے شکر ګرځولے دے۔ ﴿ و إن تعدوا نعمة الله لا تحصوها ﴾ [ابراهیم: ۳٤].
(که چرے تاسو دَ الله دَ نعمتونو شکر کول شروع کړئ نو سرته به ئے اونهٔ رسوئ)۔
او پاکی ده هغه ذات لره چه دَ هغهٔ دَ معرفت نه کوتاهی ئے ایمان ګرځولے۔
عبد الله بن عمرو ﷺ فرمائی: څلور څیزونه داسے دی چه څوك ئے اوکړی نو الله به ورله په جنت کښې کور جوړ کړی: (۱) دَ چا دَ ټولو کارونو حفاظت چه: لا اله الا الله شی۔ (۲) او کله چه ورته مصیبت اورسی نو: انا لله وانا الیه راجعون وائی۔ (۳) اوکله چه ورته څهٔ ورکړے شی نو: الحمد لله وائی۔ (٤) اوکله چه ګناه اوکړی نو: استغفر الله وائی۔
ابن قیمؒ فرمائی: په بنده باندے دَ الله تعالیٰ دوه قِسمه حقونه دی چه دے دَ هغې نه نهٔ جدا کیږی (۱) یو دَ هغهٔ امر او نهی ده چه دا دواړه په دهٔ باندے دَ هغهٔ خالص حق دے۔ (۲) او بل دَ هغهٔ دَ هغه نعمتونو شکریه کول، کوم ئے چه ورته ورکړی دی۔ نو الله سبحانه وتعالیٰ ددهٔ نه دَ خپلو نعمتونو دَ شکر مطالبه کوی او ددهٔ نه دَ خپلو امرونو دَ اهتمام کولو مطالبه کوی۔ نو په دهٔ باندے چه کوم شے واجب دے، نو دهٔ ته په هغې کښې همیشه کوتاهی او تقصیر ښکاری، او دا چه دے دَ الله مغفرت او عفوے ته محتاج دے، کهٔ چرے هغه ئے په خپلے عفوے او مغفرت سره تدارك اونهٔ کړی نو تباه کیږی۔ او څومره چه دے دَ الله په دین کښې زیات پوهه وی نو دَ خپل واجب څیز خیال به ډیر ساتونکے وی۔ او دَ خپلے کوتاهئ به ډیر اعتراف کونکے وی۔ او دین یواځے دَ ظاهری محرماتو پریخودلو نوم نهٔ دے، بلکه دے سره سره هغه کارونه کول کوم چه الله تعالیٰ ته خوښ دی، لکه جهاد، امر بالمعروف، نهی عن المنکر، الله او دَ هغهٔ رسول (ﷺ)، دَ هغهٔ کتاب او دَ هغهٔ دَ دین دپاره خیر خواهی کول۔ نو دا یو داسے واجبات دی چه دَ ډیرو دیندارو په زړونو باندے تیریږی هم نهٔ، پاتے لا دا چه دوئ دا اوکړی۔ او په خلقو کښې دَ هغه چا دین ډیر کم دے او الله ته ډیر مبغوض دے، څوك چه دا واجبات پریدی اګرکهٔ په ټوله دنیا کښې دے بے رغبته هم وی۔ او هغه څوك ډیر

کم دی چه دَ الله په باره کښې دَ هغهٔ مخ متغیره کیږی۔ آهـ

او هر چه دَ نعمت حضور دے نو دا کس خپلے یوے نیکئ ته هم نهٔ گوری اگرکهٔ دا دَ جن او انس هومره عملونه هم اوکړی، ځکه د الله نعمتونه دَدهٔ دَ اعمالو نه ډیر زیات دی، نو بنده له مناسب دی چه دَ الله په هغه حق کښې همیشه دپاره نظر کوی، کوم چه په دهٔ باندے دے۔

دے وجے نه دَ بنده نعمت او واجب لیدل، دهٔ لره نعمت نیکئ لیدلو ته نهٔ پریدی۔ او همیشه دپاره په خپل نفس باندے عیب لگونکے وی او هغه سپك گنړونکے وی۔ او کله چه دے دواړو مشهدونو ته دے خپل حق ورکړی نو بیا دَ الله رحمت ته ډیر زیات نزدے وی۔

نو دَ پورتنو آثارو، احادیثو او اقوالو نه معلومه شوه چه :

۱ – شکر دَ الله په نعمتونو باندے اقرار کولو ته وائی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وما بکم من نعمة فمن اللّٰه ﴾ [نحل : ۵۳].

(او پتاسو چه کوم نعمت شوے نو هغه دَ الله دَ طرفه دے)۔

۲ – په دے باندے دَ الله حمد او ثناء وئیل۔

۳ – دَ الله سبحانه وتعالیٰ عبادت کول، هغهٔ ته سجده کول، هغهٔ دپاره مونځ کول، بلکه ټول طاعات دا دَ شکر نه دی۔

٤ – دغه نعمت دَ هغهٔ په رضا کښې استعمالول، او په هغے سره دَ الله نافرمانی نهٔ کول۔

۵ – همیشه دپاره الله یادول۔

٦ – په دغه نعمت سره الله تعالیٰ ته عاجزی کول۔

۷ – څوك چه دَ خلقو شکر کوی هغه به دَ الله شکر هم کوی۔

۸ – په دین کښې دَ خپل ځان نه پورته خلقو ته کتل، او دَ دنیا په باره کښې دَ خپل ځان نه ښکته خلقو ته کتل شکر دے۔

۹ – نعمت ښکاره کول او بیانول۔

۱۰ – نعمتونه شمارل۔

۱۱ – دَ الله دَ نعمتونو دَ پیژندلو نه په کوتاهئ باندے اقرار کول۔

۱۲ – دا اقرار کول چه دا بنده دَ الله ددے جلیل القدر نعمتونو لائق نهٔ دے، ځکه چه دا ډیر زیات حقیر، کمزورے او ضعیف دے۔ خو الله محض په خپل فضل او کرم سره دهٔ ته ورکړی دی۔ اوکله چه انسان دا اونهٔ پیژنی نو دا دَ الله شاکر بنده نشی جوړیدے۔

۱۳ – دَ الله سره ډیره زیاته مینه اولري، ځکه شکر ددے نه بغیر نهٔ پوره کیږي.

۱٤ – دَ الله عز وجل نه راضي اوسیدل او په هغهٔ باندے دَ هغهٔ په کړي کارونو کښې هیڅ اعتراض نهٔ کول، ځکه اعتراض کونکے کنود او ناشکره دے.

۱۵ – ددے ټولو نعمتونو نسبت الله تعالیٰ کول، برابره خبره ده که دا نعمتونه ورته دَ چا په ذریعه رسیدلے وي او که ډارك وي. ځکه څوك چه په دے کښې دَ نعمت نسبت هم بل چاته اوکړي نو دا دَ الله شاکر نهٔ دے. بلکه ددهٔ یقین کمزورے دے.

دا وجه ده چه بعضِ سلفو به فرمائیل: شکر دیته وائي چه دَ انعام کونکي په نعمت باندے دَ عاجزئ په طور اقرار اوکړے شي.

بعضو وئیلي دي: شکر، په احسان کونکي باندے دَ هغهٔ دَ احسان په یادولو سره ثناء وئیلو ته وائي.

بعضِ وائي: شکر، دَ چا په مخکښې همیشه دپاره دَ هغهٔ احترام ساتلو ته وائي.

جنیدؒ وائي: شکر دیته وائي چه ته خپل ځان دَ دغه نعمت لائق اونهٔ ګڼړے.

(إحیاء: ٤/٧٣).

بعضِ حکماؤ وئیلي دي: څوك چه نعمت پټ کړي نو دهٔ دَ هغے ناشکري اوکړه. او چا چه ظاهر او خور کړو نو دهٔ دَ هغے شکر اوکړو.

په المدارج (۲/٤٤٢) کښې دي: دَ شکر حقیقت دادے چه دَ الله دَ نعمت اثر دَ بنده په ژبه باندے په ثناء او اعتراف سره، او ددهٔ په زړهٔ باندے په حضور سره، او ددهٔ په اندامونو باندے په انقیاد او طاعت سره راښکاره شي. او شکر لکه څنګه چه په محبوبو څیزونو سره وي، نو دغه شان په هغه څیزونو باندے هم وي کوم چه په نفس باندے مکروه او نابرداشته لګي کوم چه الله تعالیٰ په دهٔ باندے جاري کړے وي. نو دے په هغے اول راضي شي او بیا په هغے سره دَ الله شکر اوکړي.

نو مؤمن باندے واجب دي چه ددے لوئے رب او حقیقي مُنعِم په شکرکولو کښې ښهٔ کوشش اوکړي، ځکه چه شکر دَ ایمان په مقاماتو کښې اعلی ترین مقام دے، بلکه دا نیمائي ایمان دے، او دَ ایمان په مضبوطونکو څیزونو کښې دے. لکه دیته په دے آیتِ کریمه کښې اشاره ده: ﴿ما یفعل اللّٰه بعذابکم إن شکرتم وآمنتم﴾ [نساء: ۱٤۷].

(الله تاسو له په عذاب درکولو باندے څهٔ کوي که چرے تاسو شکر اوکړو او ایمان مو اولرلو). نو دلته ئے شکر په ایمان باندے مخکښې کړو، اشاره ده دیته چه بنده کله دَ الله په

ظاهري او باطني نعمتونو کښې فکر اوکړي، نو په دهٔ کښې شکر پیدا کوي، او شکر په دهٔ کښې په الله باندې ایمان، دَ هغهٔ شهود، معرفت، او محبت پیدا کوي، لکه دا واقعي خبره ده۔

نو دَ الله په کتاب کښې فکر اوکړه، تاته به په دې کښې پوره شِفاء معلومه شي۔ والله المستعان۔

اللهم أعني على ذكرك وشكرك وحُسن عبادتك.

﴿ ربّ أوزعني أن اشكر نعمتك التى أنعمت عليّ وعلى والديّ وأن أعمل صالحًا ترضاه، وأصلح لي في ذريتي إني تبتُ إليك وإني من المسلمين ﴾.

په دې آیتِ کریمه کښې اشاره ده چه شکر دادې چه نیك عمل اوکړې شي۔



۱۶ - فائده

دَ نیك بخته او بدبخته بنده علامات

دا خبره یاد لرل پکار دی چه الله تعالیٰ په بنده باندے شقاوت اوسعادت دَ خپل حکمتِ کامله او علمِ محیط سره مقرر کړیدے۔ او دا ئے په تقدیر کښ لیکلے او بیائے دَ مور په خیټه کښ لیکلے۔ لکه په صحیح بخاری کښ دی: « نو الله ددهٔ عمل، نیته، رزق او نیك بختیا او بدبختیا اولیکی۔۔ الحدیث »۔

لیکن الله تعالیٰ په هیچا باندے ظلم نهٔ کوی، هغه دَ ظلم نه منزه دے، بلکه الله سبحانه و تعالیٰ همیشه دپاره دَ خپلو بندګانو سره احسان کونکے دے، کله نا کله ورسره عدل اوکړی، او ظلم خو هیڅ کله نهٔ کوی۔

﴿ وما ربك بظلام للعبيد ﴾ [ق] (او ستا رب په بندګانو هیڅ کله ظلم نهٔ کوی)۔

نو الله تعالیٰ چه دَ بنده دپاره شقاوت مقرر کړے نو دا په داسے اسبابو باندے دے کوم چه دَ بنده نه صادرېږی، چه په هغے باندے الله تعالیٰ ددهٔ دَ پیدائش نه مخکښ عالم دے، نو ځکه ئے پرے شقاوت لیکلے دے۔ نو که یو بنده دَ شقاوت دَ اسبابو ارتکاب اونهٔ کړی بلکه خپل رب ته رجوع او انابت اوکړی او هغهٔ نه دعاء او استغفار اوغواړی، او هغهٔ طرفته التجاء او زاری اوکړی نو هیڅ کله ئے بدبخته نهٔ لیکی۔

ځکه الله تعالیٰ ددے نه ډیر زیات عزتمند دے چه خپل بنده دے په شقاوت باندے مبتلیٰ کړی، په داسے حال کښ چه هغه دهٔ ته رجوع او انابت کونکے وی، په هغهٔ باندے ایمان لرونکے او په پټ او ښکاره دَ هغهٔ عبادت کونکے او په هر حالت کښ دَ هغهٔ رضا تالاش کونکے وی۔

نو اوس دَ سعادت او شقاوت اسباب اوګوره، بیا خپل ځان په دے باندے اوتله چه آیا ته نیك بخته ئے اوکه بدبخته ؟ دَ الله تعالیٰ په فضل او کرم سره دَ شقاوت نه پناه غواړو۔

دَ سعادت او شقاوت اسباب :

۱ – دَ سترګو اوچیدل، یعنی دَ الله دَ خوف او خشیت دَ وجے نه نهٔ ژړل۔

۲ – دَ زړهٔ سختیدل، چه دَ الله ذکر او دَ هغهٔ کتاب ته نهٔ نرمیږی.
۳ – اوږدهٔ امیدونه کول.
٤ – په دنیا باندے حرص کول.
په دے باره کښ یو حدیث راغلے، چه هغه امام منذریؒ په الترغیب کښ ذکر کړے، خو په سند کښ ئے ضعف دے، لکه په (الضعيفة : ١٥٢٢/٤، ورواه أبو نعيم فى الحلية : ١٧٥/٦).
بعضِ حکماؤ وئیلی دی چه : دَ شقاوت یولس علامات دی :
۱ – چه دَ مال په جَمع کولو حرص کونکے وی.
۲ – ددهٔ غټ مقصد په دنیا کښ مزے او خوندونه اخستل وی.
۳ – فحش وینا کونکے او ډیرے خبرے کونکے وی.
٤ – په مونځونو کښ سستی کونکے وی.
۵ – خوراک ئے دَ حرامو او مشتبه څیزونو نه وی، او ملګرتوب ئے دَ بدکارو سره وی.
٦ – بد اخلاقه وی.
۷ – کبر او تکبر او فخر کونکے وی.
۸ – دَ خلقو نه خپله فائده منع کوی.
۹ – مسلمانانو باندے شفقت کم لری.
۱۰ – کنجوس وی.
۱۱ – مرګ هیرَونکے وی. (تنبیه : ۲۰۸/۱).
۱۲ – په حدیث کښ دی : سعد ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « دَ انسان نیک بختیا داده چه الله ددهٔ دپاره څهٔ فیصله کړے وی په هغے خوشحاله وی، او دَ بنده بدبختیا داده چه دَ الله نه دَ خیر طلب نهٔ کوی. (۱۳). دارنګه دَ بنیادم شقاوت دادے چه الله ددهٔ دپاره څهٔ فیصله کړے وی په هغے خفه وی».
(رواه أحمد والترمذى وإسناده فيه مقال، فيه محمد بن أبى حميد، وحسنه الحافظ، انظر الضعيفة : ١٩٠٦).
۱٤ – دَ امام احمدؒ په روایت کښ دی : «دَ انسان سعادت دادے چه د الله نه طلب دَ خیر کوی، دارنګه ددهٔ سعادت دادے چه الله ددهٔ دپاره څهٔ مقرر کړی وی، په هغے راضی وی».
(أحمد : ١٦٨/١).
۱۵ – سعد ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « درے څیزونه دَ انسان دَ سعادت

دی، او درې څیزونه دَ هغهٔ دَ شقاوت دی۔ دَ انسان دَ نیك بختیا نه نیکه ښځه، ښهٔ کور او ښه سورلی ده۔ او دَ انسان بدبختیا : بد اخلاقه ښځه، خراب کور او خرابه سورلئ ده »۔

دا حدیث احمد روایت کړیے، او ددې په سند کښ دَ محمد بن ابی حمید په وجه خبرې اترې شته دے۔

ددې نه زیات صحیح حدیث هغه دے کوم چه ابن حبانؒ روایت کړے۔

(کما فی الصحیحة : ۲۸۲/۱).

« چه څلور څیزونه دَ نیك بختیا دی : نیکه ښځه، فراخه کور، ښهٔ ګاونډی او نرمه سورلئ۔ او څلور څیزونه دَ بدبختیا دی : خراب ګاونډی، بدخویه ښځه او تنګ کور »۔

(دغسې په روایت کښ دی، او کیدې شی چه راوی څلورم څیز هیر کړے وی او هغه : بد خویه سورلئ ده)۔

بعضِ حکماؤ وئیلی دی چه : دَ **نیک بختیا** یوولس علامات دی :

۱ – په دنیا کښ بے رغبتی او په آخرت کښ رغبت لرونکے وی۔

۲ – چه ددهٔ همت عبادت او تلاوتِ قرآن وی۔

۳ – غیر ضروری خبرې کمے کوی۔

٤ – دَ مونځونو پابندی کونکے وی۔

۵ – دَ حرامو نه – لږ وی که ډیر – پرهیز کونکے وی۔

٦ – ملګرتیا ئے دَ نیکانو سره وی۔

۷ – عاجزی کونکے وی، تکبر کونکے نهٔ وی۔

۸ – سَخی او فیاض وی۔

۹ – دَ الله تعالیٰ په مخلوق رحم کونکے وی۔

۱۰ – خلقو ته فائده رسونکے وی۔

۱۱ – مرګ یادونکے وی۔

بعضِ سلفو وئیلی دی : څلور څیزونه دَ بنده دَ نیك بختیا نه دی : (۱) چه ښځه ئے نیك عمله وی (۲) اولاد ئے نیکان وی (۳) ملګری ئے صالحان وی۔ (٤) او رزق ئے په خپل ښار کښ وی۔

دا خبرې چا بطورِ حدیث هم نقل کړی، مګر هغه ډیر سخت ضعیف حدیث دے۔

(کما فی الضعیفة : ۷۵۹/۲، ضعیف الجامع).

په بل حديث کښې دي : « پنځه څيزونه دي چه چاته ورکړے شي نو دَ آخرت دپاره په عمل نۀ کولو کښې معذوره نۀ دے : (۱) نيکه ښځه۔ (۲) نيك عمله اولاد۔ (۳) خلقو سره ښۀ گډون کول۔ (٤) چه کار کسب ئے په خپل ښار کښې وی۔ (۵) او دَ محمد ﷺ دَ خاندان سره مينه محبت کوی »۔

ددے حديث سند ضعيف دے، کما فی ضعيف الجامع ۲۸۵٦۔

دَ بدبختيا علامه : اهلِ حقو پورے توقے او مسخرے کول۔ دَ هغوئ په اعمالو او په حق باندے ټينگ پاتے کيدو پورے خندا کول۔ ﴿ قالوا ربنا غلبت علينا شقوتنا ﴾ [مومنون ۱۰٦]

(دوئ اووئيل : اے ربه زمونږ ! په مونږ باندے زمونږ بدبختيا غالبه شوے وه)۔

او دا دَ ايمان، هدايت، سعادت، دَ حق دَ پيژندلو او په هغے باندے دَ عمل کولو نه دَ محرومتيا يو قوی سبب دے۔

نيك بختيا داده چه دَ الله دَ کتاب سره په تعليم، تعلم او قرائت سره تعلق اولری۔ ﴿ ما أنزلنا عليك القرآن لتشقىٰ ﴾ [طه : ۱۲۳].

(دا قرآن مونږ په تا باندے ددے دپاره نۀ دے رالیږلے چه تۀ بدبخته شے)۔

﴿ فمن اتبع هداى فلا يضل ولا يشقىٰ ﴾ [طه : ۲].

(څوك چه زما دَ هدايت پسے روان شی نو په دنيا کښې به گمراه او په آخرت کښې به بدبخته نشی)۔

ابن عباس ﷺ فرمائی : څوك چه د الله کتاب زده کړی او بيا په دے کښې چه څۀ دی په هغے پسے روان شی، نو الله به ورته هدايت اوکړی، چه په دنيا کښې به گمراه نشی او په آخرت کښې به بدبخته نشی۔ (مشکاة : ۱).

دَ سعادت نه دا هم ده : چه سړے دَ الله يواځے عبادت کونکے وی، په هغے باندے ليواله وی، دَ هغے نه نۀ ستړے کيږی څومره چه ددۀ وس وی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وأدعو ربى عسىٰ أن لا أكون بدعاءِ ربى شقيًا ﴾ [مريم : ٤۸]

(او زۀ خپل رب رابلم کيدے شی چه زۀ به دَ خپل رب په رابللو سره بدبخته نۀ شم)۔

دَ شقاوت نه دا هم ده : چه دَ الله دَ مواعظو او دَ هغۀ دَ آيتونو نه اعراض اوکړے شی او هغے طرفته هيڅ توجه اونۀ کړے شی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ ويتجنبها الأشقى الذى يصلى النار الكبرى ﴾ [اعلى : ۱۱، ۱۲].

(او زردے چه ددے نه به هغه غټ بدبخته ډډه اوکړی چه هغۀ لوئے اور ته ننوځی)۔

یعنی دَ الله تعالیٰ په آیتونو باندې دَ نصیحت اخستلو نه به هغه څوك په دده شی چه هغه دَ تولو نه زیات بدبخته وی۔

د شقاوت نه دا هم ده: چه دَ الله تعالیٰ دَ آیتونو او دَ انبیاء کرامو - علیهم السلام - دَ معجزاتو پرده مباته کړی او دَ الله تعالیٰ شعائرو احترام اونهٔ لری۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ إذ انبعث أشقاها ﴾ [شمس: ۱۲] (کله چه راپورته شو ډیر بدبخته په دویٔ کښې)۔

دَ جابر رضی الله عنه په حدیث کښې دی: ما دَ رسول الله ﷺ نه واوریدل چه فرمائیل: «دَ انسان نیك بختیا داده چه عمرئې اوږد وی او الله ورته انابت ورکړې وی»۔

(رواه الحاکم ۳/۳۳۲، وأحمد: ۳/۱۲۵، وغیرهما).

په بل روایت کښې دی: «بیا پوره سعادت، دَ الله په طاعت کښې اوږد عمر دې»۔

(مسند الشهاب).

عبد الله بن شوذب دَ ایوب سختیانیؒ نه نقل کوی چه دهٔ اوفرمائیل: دَ هلك او عجمی سړی سعادت دادې چه الله دې دواړو ته دَ یو نیك عمله اهلِ سنت توفیق ورکړی۔

(إعتقاد أهل السنة: ٤/٦٢٠).

په حدیث کښې دی: «دَ سړی نیك بختیا ښائسته اخلاق دی، او دَدهٔ بدبختیا بد اخلاقی ده»۔ (کنز، رقم: ۵۰۳۷، مسند الشهاب: ۱/۱۹۹).

په حدیث کښې دی: «دَ انسان دا نیك بختیا بس دې چه دَ دین په کارونو کښې په دهٔ باندې خلق باور کوی»۔ (مسند الشهاب: ۲/۳۰۵).

په بل روایت کښې دی: «چه ددهٔ دَ دین او دنیا په کارونو کښې په دهٔ باندې خلق باور کوی»۔

(کنز رقم: ٤٣٤٧٠).

په حدیث کښې دی، علی رضی الله عنه فرمائی: «رسول الله ﷺ نه ددې قول دَ الله تعالیٰ په باره کښې تپوس اوشو: ﴿ یمحو الله ما یشاء الله ویثبت وعنده أم الکتاب ﴾ [رعد: ۳۹]

نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل: زهٔ به خامخا تا په دې خوشحاله کړم او تهٔ به په دې سره زما نه پس زما امت خوشحاله کړې: په صحیح طریقه صدقه کول او دَ مور پلار فرمانبرداری کول او دَ نیکئ کارونه کول شقاوت په سعادت بدلوی او په عمر کښې زیاتے پیدا کوی»۔ (ذکره فی الکنز رقم: ٤٤٤٤، ٤٤٤٥٠).

او ددې حدیث دپاره ګنړ سندونه دی، بهترین سند په کښې هغه دې کوم چه ابو نعیم په حلیه (۱٤۵/٦) او بغیه (۳٦۸/۲) کښې ذکر کړې۔ په دې کښې ابراهیم راوی دې چه دا دَ

اهلِ شام شيخ او دَ اوزاعیؒ شاګرد دے۔ بعضِ وائی دا مجهول دے۔
په بل حديث کښ دی: «لوړه زما دَ صحابو دَپاره سعادت دے، او په آخره زمانه کښ دَ مؤمن دپاره مالداری سعادت دے»۔ (کما فی الکنز، رقم: ٦٣٣٨).
ذو النون مِصریؒ فرمائی: دَ سړی پوره سعادت اووه خويونه دی: (۱) صفا توحيد۔ (۲) قوتِ عقلی۔ (۳) کامل اخلاق۔ (۵) ښائسته خوئے۔ (٦) خفيف روح۔ (۷) پاکيزه ولادت۔ (۸) او رشتينے تواضع۔ (ذکره فی شعب الإيمان: ٦/٢٩٧).
په حديث کښ دی: «نيك بخته سړے هغه څوك دے چه دَ فتنو نه بچ کړے شی، او څوك چه پکښ مبتلا شی او صبر اوکړی نو هغه خو ډير قابلِ تعجب دے»۔
(رواه أبو داود بإسناد صحيح).
په **حديث** کښ دی: «درے خبرے دَ سعادت دی او درے دَ شقاوت۔ دَ سعادت خبرے دادی: (۱) نيکه ښځه، چه ته ورته اوګورے نو خوشحاله دے کړی، اوکه ترے غائب شے نو ته دَ هغے نه دَ هغے دَ نفس او مال باره کښ بيغمه ئے۔ (۲) نرمه سورلۍ چه تا ملګرو ته اورسوی۔ (۳) او کور چه فراخه او ډيرو فائدو والا وی۔
او دَ شقاوت څيزونه دادی: (۱) داسے ښځه چه ته ئے اووينے نو خفه دے کړی او دَ هغے ژبه په تا حمله کوی۔ اوکه دَ هغے نه غائب شے نو دَ هغے نه دَ هغے د نفس او مال په باره کښے خاطر جمع نۀ ئے۔ (۲) او بدخويه سورلۍ چه که هغه وهے نو تا ستړے کوی، اوکه پريدے ئے نو ملګرو سره دے نۀ يوځائے کوی۔ (۳) او کور چه تنګ او کمو فائدو والا وی»۔
(رواه الحاکم: ٢٧٣١، عن سعد، وإسناده قوی، کما فی الصحيحة).
په حديث کښ دی: «رحم صرف دَ هغه چانه اوخکلے شی چه هغه پوره بدبخته وی»۔
(رواه الترمذی وأحمد وغيرهما بإسناد حسن: ٢/١٨٠، صحيح الترمذی).
نو د الله په بندګانو رحم کول دَ نيك بختيا دَ غټو اسبابو نه يو عظيم سبب دے، بلکه دا خپله يو سعادت دے، او الله په خپلو بندګانو کښ صرف په هغه چا رحم کوی څوك چه په بل چا رحم کوی۔
او نيك بخته هغه څوك دے چه دَ بل چانه پند او نصيحت اخلی۔
(کما رواه مسلم فی باب القدر وابن ماجه رقم: ٤٧).
زۀ وايم: دَ شقاوت لوئے سبب – په الله پورے پناه ده –:
۱ – **د الله تعالیٰ** نه اعراض کول او غير الله ته توجه کول دی، سره ددے چه رب نزدے،

قبلونکے، رحم کونکے، مینه کونکے دے۔ او دَ الله نه غیر بل څوك لرے دے، قبولتیا نشی کولے، نهٔ رحم کوی او نهٔ مینه۔ دے وجے نه مشرك دَ ټولو خلقو نه زیات بدبخته دے په دنیا کښ هم او په آخرت کښ هم۔ نهٔ ددهٔ په عبادت کښ خوند وی او نهٔ ددهٔ په اعمالو کښ، او نهٔ ورله په آخرت کښ ښه بدله وی۔ ځکه چه دهٔ دَ خپل رب او مالك او حق معبود نه اعراض کړیدے۔

ابراهیم علیه السلام اوفرمائیل : ﴿ عسیٰ أن لا أكون بدعاءَ ربی شقیًا ﴾ [مريم : ٤٨]

(امید دے چه زهٔ دَ خپل رب په دعاء سره بدبخته نهٔ یم)۔

نو الله سره په تعلق لرلو، دَ هغهٔ په عبادت کولو، او هغهٔ ته په اخلاص کولو کښ دَ انسان دپاره په دنیا او آخرت کښ پوره سعادت دے۔

۲ - دَ الله عز وجل نه او دَ هغهٔ دَ ذکر، عبادت، او دَ هغهٔ دَ دین او دَ هغهٔ دَ کتاب دَ زده کړے نه بے پروائی کول۔ لکه ډیر خلق به ته وینے چه نهٔ به خپل رب یادوی، نهٔ به ئے عبادت کوی او نهٔ به هغوئ دَ خپل دین دَ مسائلو په باره کښ تپوسونه کوی۔ بلکه یو واعظ عالِم به ددهٔ دَ کلی په مسجد کښ موجود وی او دے به ترے فائده نهٔ اخلی او نهٔ به دَ هغهٔ قیمتی درسونو ته کینی، نهٔ به ورته غوږ ګدی۔ نو دا کس دَ الله عز وجل نه په خپل زړهٔ سره بے پرواه دے، او په خپلو ټولو حالاتو کښ ورته محتاج دے، خو دے په خپلے فقیرئ باندے هم پو هیږی۔

﴿ وأما من بخل واستغنى وِ كذب بالحسنىٰ فسنيسره للعسرى ﴾ [ليل : ٨، ٩، ١٠].

(او چا چه بخل اوکړو او بے پرواه شو او دَ ښے خبرے تکذیب ئے اوکړو، نو زر دے چه مونږ به دهٔ ته ګرانه لاره آسانه کړو)۔

نو دَ الله عز وجل نه بے پرواهی کول پوره تباهی او کامل شقاوت دے۔

دا وجه ده چه دَ صحیح بخاری په حدیث کښ دی : نبی ﷺ په یو حلقه کښ ناست وو، دے کښ درے کسان را غلل۔ په دوئ کښ یو کس په حلقه کښ کیناست، او دویم دَ حلقے نه شاته کیناست، او دریم کس روان شو۔ نو نبی ﷺ اوفرمائیل : « آیا زهٔ تاسو ته دَ دغه درے کسانو په باره کښ خبر درنهٔ کړم ؟ هر چه په دوئ کښ یو کس دے نو هغهٔ الله طرفته پناه یوړه نو الله هم ورله ځائے ورکړو، او هغه بل کس شرم اوکړو، نو الله هم دَ هغهٔ نه حیاء اوکړه، او هر چه دریم دے نو هغهٔ اعراض اوکړو، نو الله هم ترے مخ واړولو »۔

نو چا چه دَ ذکر او دَ وعظ او دَ قرآن کریم دَ درسونو دَ مجلس نه بغیر دَ عُذر نه اعراض

اوکړو، نو ددهٔ سزا داده چه ددهٔ رب او مالك او معبود به هم ددهٔ نه اعراض کوی۔

۳ — د شقاوت غټ سبب :

تکبر او لوئی او حق ته غوږ نهٔ کیخودل دی۔ متکبر سړے دَ هدایت، ایمان او ټولو نیکیو نه محرومیږی۔ او همدے خبرے ته قرآن اشاره کوی :

﴿ سأصرف عن آياتي الذين يتكبرون في الارض بغير الحق، وإن يروا كل آية لا يؤمنوا بها وإن يروا سبيل الرشد لا يتخذوه سبيلاً، وإن يروا سبيل الغي يتخذوه سبيلاً ﴾ [اعراف : ١٤٦]

(خامخا به زهٔ دَ خپلو آیتونو نه هغه څوك اړووم چه هغوئ په زمکه باندے ناحقه تکبر کوی، کهٔ چرے دوئ هر یوه معجزه اووینی نو ایمان پرے نهٔ راوړی، اوکه چرے دَ هدایت لار اووینی نو هغه لاره نهٔ اختیاروی، اوکه دَ گمراهئ لاره اووینی نو هغه اختیاروی)۔

نو سوچ اوکړه ! الله عز وجل په خپلو آیتونو باندے دَ ایمان لرلو، په هغے باندے دَ نفع او هدایت حاصلولو نه هغه څوك محروموی، دَ چا په زړهٔ کښ چه تکبر وی۔ تکبر حق پټولو او خلق سپك گنړلو ته وائی۔ لکه څنگه چه په حدیث کښ راغلی۔

دا وجه ده، علماء فرمائی : الله تعالیٰ ته په ټولو لارو کښ ډیره نزدے لاره، فقر، ذلت او سنت ټینگ نیول دی۔ او غټه پرده چه دَ الله او دَ بنده ترمینځه ده، نو هغه دعویٰ ده، ځکه چه دا په تکبر باندے دلالت کوی۔

زهٔ وایم : نیك بخته هغه څوك دے چه په خپل علم، عمل او تصدیق سره ئے توحید اوپیژندلو، او په هر وړوکی او غټ څیز کښ ئے دَ سنتِ نبویه اتباع کوله۔ او څومره چه کیدے شی دَ خپل رب ذکر همیشه دپاره کوی۔ او خپل رب ته زاری کوی او هغهٔ ته ځان محتاج گنړی، او دَ هغهٔ دَ عبودیت دَ دروازے په درشل باندے خپل تندے گدی او هغهٔ نه دعاگانے غواړی۔ ځکه الله عز وجل دے نا امیده نهٔ پریدی اونهٔ ئے بدبخته کوی ان شاء الله۔

څوك چه دَ کریم ذات دروازه اوټکوی، هغه کهلاویږی۔ دارنگه دا کس دے سره سره دَ عبودیت په آدابو باندے راتگ کوی۔ ځکه څوك چه بے ادبی اوکړی نو هغه به دَ بسترے نه دروازے ته اوخکلے شی، او څوك چه په دروازه کښ بے ادبی اوکړی، نو هغه به غوجل ته واپس کړے شی۔ والله المستعان۔

او ددے سره سره دَ بندگانو سره هم ښهٔ خوئے چلوی، په هغوئ رحم کوی او هغوئ دپاره خیر خواهی لټوی، ځکه چه دا دَ نیك بختیا راز دے۔

ابن قیم رحمه الله فرمائی : په دنیا او آخرت کښ دَ بنده دَ سعادت دپاره دوه بنیادی څیزونه

دی: (۱) تصدیق الخبر۔ (۲) طاعة الامر۔ او دے پسے دوه نور څیزونه دی (۱) شبهات دفع کول۔ (۲) شهوات پریخودل۔

نوشبهات دَ تصدیق نه منع کول کوی، او شهوات (خواهشات) دَ امر دَ طاعت نه منع کول کوی۔ او ددے برعکس کارونه دَ شقاوت دی۔
(ملخصًا من مفتاح دار السعادة: ۱/۵۳).

دارنګه فرمائی: دَ سعادت نښه داده چه دَ بنده نیکئ دَ هغهٔ شاته وی او ګناهونه ئے دَ سترګو مخامخ وی۔ او دَ شقاوت نښه داده چه نیکئ ئے دَ سترګو مخامخ وی او بدئ ئے شاته وی۔ یعنی هغه نهٔ ذکر کوی بلکه دَ فخر او خوشحالئ دپاره خپلے نیکئ ذکر کوی۔

بیا فرمائی: بنده چه کله دَ خپل رب سره په خپل ځان باندے دَ ګناه، خطاء او کوتاهئ ګواهی کوی، سره ددے چه په هره لمحه کښې دَ الله تعالیٰ دهٔ سره ډیر زیات احسانات دی، دهٔ سره ئے ډیرے ښیګړے کړی، ددهٔ نه ئے ډیر مصیبتونه دفع کړی، او دے خپل رب ته ډیر زیات محتاج دے، دَ هغهٔ نه یوه لمحه هم بے پرواه کیدے نشی۔ او دَ خپل رب سره ددهٔ دا حالت وی، نو دے ددے طمع څنګه کوی چه خلق به ددهٔ سره هغه شان چلیږی څنګه چه دے خوښوی؟ او خلق دهٔ سره خالص دَ احسان معامله اوکړی حال دا چه دهٔ د خپل رب سره دغه معامله نهٔ ده کړے؟ او دے څنګه طمع لری چه ددهٔ خادم، او ښځه او بچی ددهٔ هره خبره اومنی او ددهٔ خلاف دے نهٔ کوی او نهٔ دے ددهٔ په حقونو کښې نقصان کوی، حال دا چه دے دَ خپل رب سره داسے نهٔ دے؟ دا خبره ددهٔ دپاره دا خبره واجبوی چه دے دَ هغوئ ګنهګار ته بخښنه کوی او هغهٔ نه درګذر کوی او هغهٔ سره چشم پوشی کوی، او دَ هغهٔ نه پوره طور سره دَ خپل حق مطالبه اونهٔ کړی۔ (مفتاح دار السعادة: ۱/۳۷۱).

نو دا آثار وغیره چه بنده دَ ګناه نه صبر کړی نو دا ددے خبره علامه ده چه دا ددهٔ په حق کښې رحمت دے۔ او په چا کښې ئے چه ددے اضداد پیدا کړل او دَ هغه څیزونو برعکس څیزونه ئے پکښې پیدا کړل کوم چه مونږ ذکر کړل، نو دا ددهٔ دَ شقاوت علامه ده۔ او دا ددے نښه ده چه دے په الله باندے دومره سپك دے او دَ هغهٔ دَ سترګو نه دومره پریوتے دے چه الله دے خپلو ګناهونو او معصیتونو ته پریښے دے، دے دپاره چه په دهٔ باندے په خپل عدل او انصاف سره حجت قائم کړی، او دَ استحقاق مطابق ورله عذاب ورکړی، او دَ ګناه نه ګناه پیدا شی، او داسے پسے ورځه۔ آیا دا شقاوت نهٔ دے څهٔ؟
(مفتاح دار السعادة: ۱/۳۷۱، ملخصاً).

۱۷ - فائده

دَ قیمتي اوقاتو حفاظت کول او هغه لګول

تهٔ به خپل قیمتي اوقات څنګه ساتې ؟ او په څهٔ شئ کښې به ئې لګوې ؟
او دا ډیره زیاته مهمه فائده ده۔
نو دلته مونږ څلور خبرې ذکر کوو، ان شاء الله تعالیٰ :
۱ - دَ وخت دَ قیمت په باره کښې آیتونه او حدیثونه۔
۲ - دَ نیکانو خلقو قیصې په دې باره کښې۔ چه دوئ څنګه دَ خپلو اوقاتو اهتمام کړے ؟
۳ - تهٔ به دَ خپلو اوقاتو حفاظت څنګه کوې ؟ ددې اسباب او مؤیدات۔
٤ - خپل قیمتي وخت به په څهٔ کښې لګوې ؟
او کـه تـا پـه دې فائده باندې سوچ اوکړو، او دا دې په سکون او اطمینان سره اولوستله، نو په دې کښې به ډیر خیر بیاموې، ان شاء الله۔
الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ والعصر، إن الإنسان لفى خسر إلا الذين آمنوا وعملوا الصالحات .. ﴾ الآية.[العصر].
(قسَم دې پـه زمانه، چه بیشکه انسان خامخا په تاوان کښې دې، مګر هغه خلق چه ایمان ئې راوړو او نیك عملونه کوي)۔
صحابه کرامو رضی الله عنهم به دا سورت خپلو کښې دَ ملاویدلو په وخت لوستلو، چه دَ اختـصار سره سره په دې سورت کښې ډیر زیات وعظ او نصیحت پروت دې۔ امام شافعي رحمه الله فرمائي : کهٔ چرې خلقو په دې سورت کښې سوچ اوکړو، نو دا ورله کافي دې۔
دې نه معلومیږي چه امام شافعي رحمه الله ددې سورت په مقاصدو پوره معرفت لرو۔
په دې سورت کښې الله تعالیٰ په زمانه باندې قسَم کړې چه دا زمانه دَ انسان عُمر او دَ ژوند وخـت دې، څـکه چه دا یو اَهم شے دے ۔ څکه الله چه په کوم شئ قسَم کوي نو هغه خامخا لـوئې او مهم او قیمتي شے وي۔ نو الله تعالیٰ دا خبر ورکړو چه انسان په تاوان کښې دې، نو دا ددهٔ مـرض دې، او سبب دَ مـرض عُـمر ضائع کول دي، او ددې علاج په څلورو څیزونو سره دې، چه روسته ددې تذکره مونږ کوو، ان شاء الله۔

او دَ وقت دَ قدر او قيمت دَ وجے نه الله تعالىٰ په دے باندے په مختلفو سورتونو کښ قسَم کړيدے: لکه فرمائى: ﴿ والفجر وليال عشر والشفع والوتر والیل إذا يسر ﴾ [الفجر]
(او قسَم دے په صبا او - دَ رمضان په آخرى - لسو شپو، او په تاك او په شپه باندے هركله چه روانه شى)۔
او فرمائى: ﴿ والشمس وضحاها والقمر إذا تلاها والنهار إذا جلاها والیل إذا يغشاها ﴾.
(قسَم دے په نمر او ددے په څاښت باندے، او په سپوږمئ باندے کله چه نمر پسے شى او په ورځ باندے کله چه نمر روښانه کړى او په شپه باندے کله چه نمر پټ کړى)۔[الشمس]
او فرمائى: ﴿ والليل إذا يغشى والنهار إذا تجلى ﴾ [الليل].
(او قسَم دے په شپه کله چه را خوره شى او په ورځ کله چه واضحه شى)۔
او فرمائى: ﴿ والضحى والليل إذا سجى ﴾ [الضحى]
(او قسَم دے په څاښت او په شپه باندے کله چه تيارهٔ شى)۔
او الله تعالىٰ په ډيرو سورتونو کښ دَ وخت دَ قيمت په باره کښ فرمائيلى دى: ﴿ وسخر لکم الليل والنهار ﴾ [إبراهيم :]
(او تابع کړيده تاسو دپاره ورځ او شپه)۔
او فرمائى: ﴿ ومن رحمته جعل لکم الليل والنهار لتسکنوا فيه ولتبتغوا من فضله ولعلکم تشکرون ﴾ [قصص : ۷۳]
(او دَ الله دَ رحمت نه دى دا چه گرځولے ئے ده شپه اورځ دے دپاره چه تاسو په دے کښ آرام اوکړئ او دے دپاره چه دَ الله فضل او مهربانئ په کښ تالاش کړئ او دے دپاره چه تاسو شکر اوکړئ)۔
دَ (شکر کولو) معنىٰ ده: په دے اوقاتو کښ دَ هغهٔ عبادت او هغهٔ طرفته نزديکت۔
او الله تعالىٰ فرمائى: ﴿ أولم نعمرکم ما يتذکر فيه من تذکر وجاء کم النذير ﴾ [فاطر : ۳۷]
(آيا مونږ تاسو له دومره عمر نهٔ وو درکړے چه په هغے کښ يو نصيحت کونکے نصيحت اخستے شى او تاسو ته ويرونکے هم راغلے وو)۔
نو الله سبحانه خبر ورکړو چه همدا عُمر دے چه په دے کښ انسان نصيحت اخلى او دَ خپل رب عبادت کوى او په اعلىٰ جنتونو حاصلولو کښ دَ انسان مدد کوى۔ والله الموفق۔
او الله فرمائى: ﴿ والذين هم عن اللغو معرضون ﴾ [مؤمنون : ۳]

(او مؤمنان هغه خلق دي چه دوئ دَ لغوے نه مخ اړونکي دي)۔
حسنؒ فرمائي : الله چه دوئ ته دَ څهٔ حکم کړے، په هغے کښې دَ کوشش کولو په وجه دوئ دَ لغوے نه مشغوله دي۔ او دَ الله تعالىٰ ددے قول په باره کښې فرمائي :
﴿ وأصحاب المشئمة ﴾ [واقعه] (او خاوندان دَ گس لاس)۔ فرمائي : دا هغه خلق دي چه خپل عمرونه ئے دَ الله په نافرمانئ کښې لگولي دي۔
او الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ هذا ما توعدون لكل أواب حفيظ ﴾ [ق : ۳۲]
(دا هغه شے دے چه دَدے وعده تاسو سره کیدے شي، دپاره دَ هر هغه کس چه هغه ډیر زیات رجوع کونکے او ساتونکے وي)۔
حفیظ : هغه څوك چه دَ الله دَ حدودو او دَ خپل عمر دَ اوقاتو ساتونکے وي، هغه په لایعنی څیزونو کښې نهٔ لگوي۔
او الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ وهو الذی جعل الليل والنهار خلفة لمن أراد أن يذكر أو أراد شكورًا﴾ [فرقان : ٦٢] (او خاص الله هغه ذات دے چه شپه او ورځ ئے دَ يو بل نه روستو راتلونکے گرځولے، دپاره دَ هغه چا چه دَ نصيحت اخستلو اراده لري او يا دَ شكر كولو)۔
او الله فرمائي : ﴿ وسبحوه بكرة وأصيلا ﴾ [احزاب : ٤٢]
(او صبا بیگاه دَ الله پاکي بیانوئ)۔
او اشاره کوي چه الله طرفته لاره نیول، دَ شپو په شوگیرے سره راځي، لکه فرمائي :
﴿ فمن شاء اتخذ إلى ربه سبيلا ﴾ [مزمل : ۱۹]
(څوك چه غواړي چه خپل رب ته لاره اونیسي)۔
بیا ئے وړیسے دا خبره کړے : ﴿ إن ربك يعلم أنك تقوم أدنى من ثلثي الليل.. الآية ﴾ [مزمل]
(بیشکه ستا رب ته معلومه ده چه ته دَ شپے دَ دوه حصو نه په کمه حصه کښې اودرېږے)۔
او دَ آخرت والو په باره کښې فرمائي : ﴿ أن تقول نفس يا حسرتا على ما فرطت في جنب الله وإن كنتُ لمن الساخرين ﴾
(دے دپاره چه يو نفس اونهٔ وائي چه هائے افسوس ! په هغه کوتاهئ باندے کومه چه ما دَ الله په اړخ کښې کړیده او بیشکه چه زهٔ دَ توقو کونکو نه ووم)۔
او الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ بما أسلفتم في الأيام الخالية ﴾ [حاقه : ٢٤]
(دا نعمتونه په سبب دَ هغه عملونو دي، کوم به چه تاسو په تیرو شوو ورځو شپو کښې کول)۔

بخاري کښې دَ ابو هریره ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « الله عز وجل دَ هغه سړی عُذر ختم کړو چه دَ هغهٔ عُمر ئے روسته کړو تردے چه شپیتو کالو ته ئے اورسولو ».

امام احمد په خپل مسند (۲/٤۱۷) کښې مرفوعًا روایت کوی : « چاله چه الله شپیتهٔ کاله عمر ورکړی نو دَ عُمر په باره کښې ئے ددهٔ عُذر ختم کړو ».

څکه شپیتهٔ کاله یو داسے عُمر دے چه په دے کښے په انسان باندے دَ صحت، مرض، فقیرئ، مالدارئ، ځوانئ او بوډاوالی مختلف حالتونه راځی. نو کله چه انسان په دے موده کښې را بیدار نشو نو بیابه کله رابیداریږی ؟ دهٔ لره صرف اور رابیداروله شی !

په صحیح بخاري کښې دَ ابن عباس ﷺ نه روایت دے چه : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « دوه نعمتونه دی چه ډیر خلق پکښې په تاوان کښې پراتهٔ دی : صحت او فراغت ».

په دے حدیث کښې دَ صحت او فراغت ډیر اهمیت بیان شوے. چه په دے باندے صرف خاص خلق او هغه کسان نفع مومی چه الله ورته توفیق ورکړے وی. اللهم اجعلنا منهم !

په حدیث کښې دی : « دَ بنده دواړه قدمونه به تر هغه وخته پورے دَ خپل ځائے نه اخوا نشي تر څو چه ددهٔ نه دَ پنځو خبرو تپوس اونشي : (۱) دَ عُمر په باره کښې چه په څهٔ کښې ئے ختم کړو. (۲) دَ ځوانئ په باره کښې چه په څهٔ کښې ئے زړه کړه. [(۳) دَ جسم په باره کښې چه په څهٔ کښې ئے وروست کړو.] (۵) دَ مال په باره کښې چه دَ کوم ځائے نه ئے اوګټلو او په څهٔ کښې ئے اولګولو. (٦) او دَ علم په باره کښې چه په دے باندے ئے څومره عمل اوکړو ؟ ».

(رواه أصحاب السنن).

دا حدیث زړونه خوزوی، او په دے کښې ددے خبرے بیان دے چه عُمر هغه شے دے چه دَ قیامت په ورځ به ددے په باره کښې دَ بنده نه دَ هر څهٔ نه مخکښې تپوس کیږی. بیابه دَ ځوانئ دَ زمانے په باره کښې تپوس کیږی چه دا دَ قوت، قدرت او عمل زمانه ده.

نوائے نیك عمله وروره ! کله چه تانه ستا دَ ساهاګانو په باره کښې او ددے دَ مصرف په باره کښې تپوس اوشی، نو ستا جواب به څهٔ وی ؟ اے الله ! دَ خلقو دماغو ته خبره تهٔ رسوے او توفیق ورکونکے تهٔ ئے.

او نبی ﷺ اوفرمائیل : « دَ انسان ښائسته اسلام دادے چه نازیبا کارونه پریدی ».

(رواه الترمذی وغیره).

نو کامل مؤمن خپل وختونه په ګناه کښې نهٔ ضائع کوی اونهٔ په غفلت او سستئ او هغه

ځیزونو کښې وختونه لګوي چه مناسب نۀ وي۔

او نبي ﷺ فرمائي: «پنځه ځیزونه دَ پنځو نه مخکښې غنیمت اوګڼره۔ (۱) ځواني دَ بوډا والي نه مخکښې۔ (۲) صحت دَ مرض نه مخکښې۔ (۳) مالداري دَ فقیرۍ نه مخکښې۔ (٤) اُوزګارتیا دَ مشغولتیا نه مخکښې۔ (٥) او ژوند دَ مرګ نه مخکښې»۔

(رواه الترمذی والخطیب فی الاقتضاء بإسناد صحیح، رقم: ۱۷۰).

د وخت د حفاظت په باره کښې د نیکانو خلقو قیصې:

حسن بصري رحمه الله فرمائي: ما داسې خلق اولیدل چه هغوئ به په خپلو اوقاتو باندې ډیر حرص کونکي وو، په نسبت دَ حرص ستاسو په خپلو روپو او اشرفیو باندې۔

(إرشاد العباد ۳۳، رأس مالك الوقت، ص: ۱۲).

امام شافعي رحمه الله فرمائي: زۀ دَ صوفیانو سره ملګرې شوم، دَ هغوئ نه ما هیڅ فائده وانۀ خسته، سیوا دَ دوه خبرو نه۔ یوه خبره دَ هغوئ داده چه: وخت توره ده، کۀ تا پریکړه نو بنه ده ګنې تا به پریکړي۔ دویمه خبره: که تا خپل نفس په حق کښې مشغول کړو، نو بنه ده ګنې تابه په باطل کښې مشغول کړي۔

(الجواب الکافي، ص: ۲۰۸، مدارج السالکین).

ابن قیم رحمه الله فرمائي: دَ غیرت درجه: په تیر شوي وخت باندې غیرت کول، او دا وژونکې غیرت دې، ځکه وخت ډیر زر ختمیدونکې، خپل اړخ لرونکې او په قلاره را واپس کیدونکې شې دې۔ او وخت دَ عابد په نیز دَ عبادت، ذکر اذکار وخت دې۔ او دَ مرید په نیز، الله ته دَ رامخامخ کیدو او په هغۀ سره دَ زړۀ جمعې او په ټول زړۀ سره دَ هغۀ په دربار کښې په اعتکاف کولو سره دې۔ او وخت ډیر عزتمند شې دې، په دې غیرت کولے شي چه ددغه کارونو نه بغیر تیر شي۔ کله چه ددۀ نه وخت تیر شي نو ددې را موندل ډیر ګران دي۔ آهـ

بیا فرمائي: او راتلونکي ځیزونه دَ وریځې نه هم ډیر زر ختمیږي، او وخت چه دَ خپلو فائدو سره تانه تیر شو نو ددې نه تاته دَدې دَ اثر او حکم نه سیوا بل هیڅ شې نۀ را واپس کیږي۔ نو تۀ دَ خپل ځان دپاره خپل وخت تیار ساته۔

دَ عامر بن عبد قیس نه – چه دا یو زاهد تابعيّ دې – نقل دي، چه یو سړي ورته اووئیل: ماسره خبرې اوکړه۔ عامر ورته اوفرمائیل: نمر بند کړه چه خبرې درسره اوکړم۔

(قیمة الزمن، ص: ۲٦).

ابن مسعود ﷺ فرمائي: زۀ په هیڅ یو شي نۀ یم ملامته شوې، ځنګه چه په هغه ورځ

خپیمانتیا کوم چه دَ هغئ نمر پریوځی، چه په هغې کښې زما نیته کمه شوه او عمل مې پکښې زیات نشو۔

عمر بن عبد العزیزؒ فرمائی : اې انسانه ! تهٔ خو دَیو څو ورځو نوم ئې، کله چه یوه ورځ تیره شی نو ستا بعضِ حصه لاړه۔

حماد بن سلمهؒ ته به که اووئیلې شو چه : تهٔ به صباله مرې، نو هغه به په دې قادر نهٔ وې چه په خپل عمل کښې زیاتې پیدا کړی۔ دَ وجې دَ ډیر عمل دَ هغهٔ نه۔

موسیٰ بن اسماعیلؒ فرمائی : که زهٔ تاسو ته اووایم چه ما حماد بن سلمهؒ په خندا نهٔ دې لیدلې نو زهٔ به رشتیا وایم۔ هغه به ډیر زیات مشغول وو۔ یا خو به ئې حدیثونه بیانول، اویابه ئې قرأت کولو، او یابه ئې تسبیح وئیله، او یابه ئې مونځ کولو۔ خپله ټوله ورځ ئې په دې باندې تقسیم کړې وه، او مرګ هم ورله په داسې حال کښې راغې چه په مانځه کښې وو۔

خلیل بن احمدؒ فرمائی : په ټولو ټیمونو کښې په ما باندې درونډ ټیم هغه وی، په کوم کښې چه زهٔ خوراك کوم۔

سعید بن المسیبؒ فرمائی : آرمان دې چه زما خوراك په وړو وړو کاڼرو خوړلو کښې مقرر وې، ځکه زهٔ دَ خپل رب نه شرمیږم چه بار بار بیت الخلاء ته ننوځم۔ (الحلیة).

محمود بن عبد الرحمن بن احمد اجهانيؒ به دَ ډیر خوراك نه بندیدلو، دې دپاره چه اوبو ته ئې حاجت پیدا نشی چه بیابه بیت الخلاء ته ننوتو ته محتاج شی او وخت به ئې ضائع شی۔

ابو البرکات بن تیمیه رحمه الله به چه کله بیت الخلاء ته داخل شو، نو خپل شاګرد ته به ئې حکم اوکړو چه په زوره قرأت کوی، دې دپاره چه دننه ئې واوری۔ هسې نه چه وخت ئې ضائع نشی۔ (ذکره فی آخر نیل الأوطار).

دَ نافعؒ ځوئې ته اووئیلې شو : ابن عمرؓ به په کور کښې څهٔ کول ؟ وې فرمائیل : هر مانځه دپاره اودس کول، او دَ دوارو مونځونو ترمینځه به مصحف پروت وو۔ (الوقت عمار او دمار، ص : ۹٤).

مخکنو خلقو به دا وئیلې : دَ بنده دَ مبغوض کیدو علامه داده چه وخت به ترې ضائع کیږی۔ او سلفوؒ به دَ یو حالت نه دَ بل ښهٔ حالت ته دَ منتقل کیدو کوشش کولو۔ او په دوئ کښې به یو کس وئیلې : دَ چا نن ورځ چه دَ پرون پشان شوه نو دا تاوانی دې، او دَ چا نن ورځ چه دَ پرونئ ورځې نه بدتره شوه نو دا لعنتی دې۔

او دوئ به په ورځ يا نيمائي ورځ يا په يو معمولي شان وخت باندے ډير زيات حرص كولو، په دے كښې به دوئ دَ علمِ نافع، عملِ صالح، يا دَ نفس دَ مجاهدے او يا بل ته دَ فائدے وركولو كوشش كولو- دے دپاره چه اعمال ضائع او بيكاره لاړ نشي او دوئ ته به پته هم نهٔ وي-

يو زاهد فرمائي : ماته هيڅ داسے كس نهٔ دے معلوم چه هغه په جنت او جهنم باندے ايمان لري او په هغهٔ يو ساعت راځي او په هغے كښې هغه په ذكريا مونځ يا تلاوت او يا احسان كولو سره دَ الله طاعت نهٔ كوي- نو يو سړي اووئيل : ماله ډيره زياته ژړا راځي- نو وے فرمائيل : كه چرے تهٔ په داسے حال كښې اوخاندے چه تهٔ په خپلے گناه باندے اقرار كونكے ئے، نو دا ستا دپاره ددے نه غوره ده چه تهٔ په داسے حال كښې اوژاړے چه تهٔ خپل عمل ته غاوره ئے- ځكه دَ غاوره كيدونكي عمل دَ دهٔ دَ سر نه نهٔ پورته كيږي- هغهٔ وئيلے : ماته وصيت اوكړه، وے فرمائيل : دنيا دنيا دارو ته پريده، او په دنيا كښې لكه دَ شاتو مچئ غوندے جوړ شه چه كه هغه خوراك كوي نو پاكيزه څيزَ خوري، او كه بل له خوراك وركوي نو پاكيزه څيز وركوي- او كه په يو شئ باندے را پريوځي نو نهٔ ئے ماتوي او نهٔ ئے زخمي كوي- (الوقت عمار او دمار، ص : ۷۷).

يو هوښيار وائي : چا چه دَ خپل عمر يوه ورځ داسے تيره كړه چه په هغے كښې ئے نهٔ يو حق اداء كړو، نهٔ ئے يو فرض اداء كړو، نهٔ يو شرافت حاصل كړو، نهٔ ئے څهٔ حمد حاصل كړو، نهٔ ئے دَ خير څهٔ بنياد كيخودهٔ او نهٔ ئے څهٔ علم حاصل كړو، نو دهٔ دَ خپلے ورځے نافرماني اوكړه او په خپل ځان ئے ظلم اوكړو- (الوقت في حياة المسلم، ص : ۹۵).

إذا مرّ بي يوم ولم أقتبس هدىً ○ ولم أستفد علمًا فما ذاك من عمري

(حواله سابقه).

ابن عقيل ؒ فرمائي : ما دپاره حلال نهٔ دي چه زهٔ دَ خپل عمر يو ساعت ضائع كړم تردے چه كله زما ژبه دَ مذاكرے يا مناظرے نه بيكاره شي، او زما نظر دَ مطالعے نه پاتے شي، نو زهٔ دَ خپل راحت په حالت كښې خپل فكر پكار اچوم او زهٔ يو طرفته پروت يم، نو زهٔ لا پاسيدلے نهٔ يم چه زما په زړهٔ كښې هغه څهٔ تير شي كوم چه زهٔ ليكلے شم- او زهٔ اوس دَ اتيا كالو يم خو دَ علم سره مے دَ هغه وخت نه هم زيات شوق دے په كوم كښې چه زهٔ دَ شلو كالو ووم- او د عقلاؤ په نيز ډير جليل القدر شے حاصلول وخت دے- دا يو داسے غنيمت دے چه په دے كښې فرصتونه غنيمت گنړلے كيږي او تكليفونه خو ډير دي- او زهٔ دَ خپل خوراك

وختونه هم کموم. (قیمة الزمن ملخصًا، ص : ۳۵).

عباس بن الحسن العلويّ فرمائي : یاد ساته چه ستا رائے هر یو شئ ته نشي فراخیدلے، نو کوم کار چه مهم وي هغې ته ئې اوزګاره کړه. او ستا مال تولو خلقو ته نشي رسیدلے، نو په دے باندے حقدار خلق خاص کړه. او ستا اکرام تولو خلقو ته نشي عام کیدلے، نو په دے سره نوموړي خلق خوشحاله کړه. او ستا ورځ، که هر څومره ځان ستړے کړے، ستا حاجتونه نشي راګیرولے، نو دَ خپل کار او دَ خپل راحت ترمینځه ددے ښهٔ تقسیم اوکړه.

یو ځل شریح رحمه الله دَ اختر په ورځ څهٔ خلقو ته را اووتلو او هغوئ لوبے کولے، نو هغوئ ته ئې اوفرمائیل : لوبے ولے کوئ؟ هغوئ وئیلے : مونږ اوزګار یو. وے فرمائیل : آیا په دے باندے تاسو ته امر شوے اوکه اوزګار ته شوے؟ بیا ئې دا قول دَ الله تعالیٰ اولوستلو :

﴿ فإذا فرغت فانصب وإلى ربك فارغب ﴾ [انشراح]

(کله چه تهٔ فارغ شے نو ځان ستړے کړه او خپل رب ته رغبت کوه).

حسن بصريّ فرمائي : یوے خبرے زهٔ زخمي کړم چه ما هغه دَ حجاج نه آوریدلے ده، ما دَ هغهٔ نه واوریدل چه دَ منبر دپاسه ئې اووئیل : که دَ یو سړي دَ عمر یو ساعت په غیر دَ هغه مقصد نه تیر شو، دَ کوم دپاره چه دے پیدا شوے دے، نو هغه ددے لائق دے چه دَ قیامت په ورځ ددهٔ آفسوس اوږد شي. او دا دَ نبي ﷺ ددے قول مصداق دے. « جنتیان به دَ هیڅ یو شئ افسوس نهٔ کوي مګر دَ هغه وخت چه په دوئ باندے په داسے حال کښې تیر شو چه دوئ پکښې دَ الله عز وجل ذکر اونهٔ کړو». (صحیح الجامع).

اودا دَ هغه جنتیانو آفسوس دے چه دوئ نهٔ بیکاره خلق وو او نهٔ جاهلان، نو دَ هغه چا به څهٔ حال وي چه خپل تول وختونه ئې ضائع شي آیا دا به آفسوس نهٔ کوي؟

معاویه بن قرهؒ فرمائي : دَ قیامت په ورځ به دَ تولو خلقو نه زیات سخت حساب والا هغه سړے وي چه روغ رمټ او اوزګار وي.

(اقتضاء العلم العمل للخطیب، رقم : ۱۷۵، وروی مرفوعًا بإسناد ضعیف).

ابو درداء ﷺ سلمان ﷺ ته اولیکل : اے وروره! تهٔ خپل صحت او فراغت مخکښې ددینه غنیمت اوګڼړه چه په تا باندے هغه مصیبت نازل شي، چه هیڅوك تانه هغه نشي واپس کولے. (الاقتضاء، رقم : ۱۷۶).

سفیان ثوريّ فرمائي : عطاءؒ اوفرمائیل : مونږ ناست یو او ورځ خپل کار کوي. سفیانؒ وائي : ما اووئیل : زهٔ ان شاء الله په خیر کښې یم، هغهٔ وئیلے : صحیح ده، لیکن دا جلتي

کونکے ده۔ آهـ (الاقتضاء، رقم : ۱۷۸).

ابن سماكؒ په داسے حال کښ ابو بکر نهشلیؒ ته ورغے چه دَ مرگ په حالت کښ وو، او دَ خپل سر په اشارے سره ئے مونځ کولو۔ نو ابن سماكؒ اوویل : سبحان الله ! په دے حال باندے ! ابو بکر ورته اوفرمائیل : اے ابن سماکه ! زهٔ دَ صحیفے دَ نغښتو نه مخکښ تادی کوم۔ (الاقتضاء).

سلمان بن خلف اندلسیؒ فرمائی : کله چه ماته په علمِ یقینی سره معلومه ده چه زما تهوله زندگی دَ یو ساعت پشان ده، نو بیا ولے زهٔ په هغے حرص نهٔ کوم او هغه په خپل صلاح او طاعت کښ اونهٔ لگوم۔ (الاقتضاء).

عبد الله بن المعتزؒ فرمائی : څومره چه کیدے شی چه موقعه غنیمت اوگنړه او دَ صبا انتظار مهٔ کوه، ځکه دَ صبائیٔ واقعے کیدو ذمه واری څوك اخستلے شی۔

علی رضی الله عنه فرمائی : دَ هر ورځے دپاره هغه کار کوه چه په هغے کښ ستا نفع وی۔ (الاقتضاء للخطیب).

ابو الجلدؒ فرمائی : ما په بعضِ کتابونو کښ لوستلی دی چه : (سوف) کلمه دَ ابلیس لښکر دے۔ (سوف : یعنی زهٔ به په راتلونکی وخت کښ دا کار کوم)۔ (الاقتضاء).

او هرچه دَ وخت دَ حفاظت طریقے دی :

نو هغه ډیرے زیاتے دی۔ الحمد لله۔

۱ - **اول : صحیح نیت کول :** په هر هغه عمل کښ چه تهٔ په هغے کښ مشغولیږے، برابره خبره ده که هغه عبادت وی، که عادت، دنیوی کار وی اوکه دَ مسلمان ملاقات وی، یا دَ بیمار پښتنه وی، یا خوراك څکاك ، خوب، سفر یا خلوت اوجلوت وغیره وی۔ چه تهٔ په دے ټولو کارونو کښ دَ الله دَ رضا تالاش کولو نیت اوکړے او دَ هغهٔ دَ امر او حکمِ شرعی دَ اداء کولو نیت اوکړے، نو دا هر څهٔ ستا دپاره دَ الله په توفیق سره عبادت جوړیږی۔

لکه علماؤ دَ (انما الاعمال بالنیات وانما لامرئٍ ما نویٰ) حدیث په تشریح کښ لیکلی۔

دویٔ وائی : په حدیث کښ دویمه جمله دَ مباحو عملونو په باره کښ راغلے، چه دا دَ نیت په وجه عبادت گرځی۔ لکه یو کس خوب په دے نیت کوی چه په دے سره به صحت حاصل شی او ددے نه پس به دَ الله طاعت او عبادت کښ تازه شی، نو ددهٔ دا خوب عبادت شو۔

امام ابن قیم رحمه الله دَ ابرارو، نیکانو او پخوانو خواصو خلقو دَ اعمالو په باره کښ

فرمائی چه: مباح کارونه هم ددے خلقو په حق کښې په نیت سره طاعات گرځیدلی دی۔ (المدارج وطریق الهجرتین).

زهٔ وایم: په دے باره کښې دَ بیکاره تاویلونو نه ځان ساتل پکار دی، ځکه بعضِ خلق دَ سیاحت اراده لری او دیته دَ دعوت الی الله نوم گدی۔ او مقصد ئې ډیرے خبرے وی او دیته دعوت او علمی مناظره وائی۔ نو دا کمزورے تاویل دے، او الله تعالیٰ دَ زړونو په مقاصدو باندے عالم دے۔

او بعضِ خلق دَ پیسو جمع کولو دپاره دکان جوړ کړی او دیته اسلامی مدرسه وائی، حال دا چه په دے کښې دَ پیسو جمع کولو نه علاوه بل هیڅ شے نهٔ وی۔

نو رشتینے او صحیح نیت اوقات میوه دار او آباد جوړوی او اعمال ښهٔ کوی۔ دا وجه ده، په صحیح حدیث کښې راغلی، چه څوک دَ تهجدو اراده لری او بیا پرے خوب غلبه اوکړی، نو الله تعالیٰ دهٔ له دَ تهجدو ثواب لیکی او ددهٔ خوب په دهٔ باندے صدقه شوه۔ لکه دا حدیث امام منذریؒ په الترغیب کښې دَ عائشے رضی الله عنها نه او دغه شان ابوداود او نسائی په صحیح سند سره روایت کړے۔

او الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ ومن يخرج من بيته مهاجرًا الى اللّٰه ورسوله ثم يدركه الموت فقد وقع أجره على اللّٰه و كان اللّٰه غفورًا رحيما ﴾ [نساء]

(او څوک چه الله ته دَ هجرت کولو په نیت د خپل کوره اووتلو او بیا مرگ رالاندے کړو نو یقیناً چه ددهٔ اجر په الله ثابت شو، او الله ډیر زیات بخښونکے مهربان دے)۔

نو دے سړی دَ هجرت اراده اوکړه خو هغے ته اونهٔ رسیدهٔ بلکه په لاره کښې مړ شو نو الله ددهٔ په باره کښې خبر ورکړو چه الله ددهٔ دَ صحیح نیت په وجه اجر نهٔ ضائع کوی۔

دارنگه څوک چه دَ غزا اراده اوکړی او موقعه ورته برابره نشی نو الله تعالیٰ ئې دَ منافقت دَ صفت نه بیزاره کوی۔ ځکه ارشاد دے: « چا چه غزا اونهٔ کړه اونهٔ ئې زړهٔ سره په دے باندے خبرے اوکړے، نو دا دَ منافقت په یوه حصه باندے مړ شو »۔ (أبوداود وغیره).

۲ - دَ وخت دَ حفاظت دپاره دویم شے :

امیدونه لنډول او نیکیو طرفته تادی کول:

او دا کار دَ وخت او دَ زندگئ دَ حفاظت دپاره ډیر زیات مهم شے دے۔ الله تعالیٰ فرمائی:

﴿وسارعوا إلى مغفرة من ربكم وجنة عرضها السموات والأرض أعدت للمتقين ﴾ [حديد ۲۱]

(او تادی اوکړئ دَ خپل رب دَ طرفنه مغفرت او هغه جنت طرفته چه دَ هغے پلنوالے دَ

آسمانونو او زمکے په اندازه دے چه متقینو دپاره تیار شوے)۔

او فرمائی: ﴿ فاستبقوا الخيرات ﴾ [بقره: ١٤٨]

(نو تاسو نیکیو طرفته دَ یو بل نه مخکښ والے کوئ)۔

استباق: نیکیو طرفته تادی کولو او دَ تولو نه اهم څیز مخکښ کولو او هغه په ښائسته طریقه کولو ته وائی۔

ابن عمر ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ زما دواړه اوګے اونیولے او وے فرمائیل: « په دُنیا کښ داسے اوسیږه لکه مسافر یا لاروے »۔ ابن عمرؓ به فرمائیل: کله چه تهٔ بیګاه کړے نو دَ صبا انتظار مه کوه، او کله چه صبا کړے نو دَ بیګاه انتظار مهٔ کوه، او دَ خپل مرض دپاره دَ خپل صحت نه څهٔ اخله او دَ خپل مرګ دپاره دَ خپل ژوند نه څهٔ اخله۔ (بخاری).

او دا ډیره عجیبه نسخه ده، چه څوك پکښ سوچ اوکړی۔

معاذ بن جبل ﷺ فرمائی: ما عرض اوکړو، یا رسول الله! ماته وصیت اوکړئ۔ وے فرمائیل: «دَ الله داسے بندګی کوه ګویا تهٔ هغه وینے، او خپل ځان په مړو کښ حساب کړه، او دَ هر کانړی بوټی سره دَ الله ذکر کوه، او کله چه تهٔ څهٔ ګناه اوکړے نو دَ هغے سره نیکی اوکړه، که پټه دے کړے وی نو په پټه او که ښکاره دے کړے وی نو په ښکاره نیکی اوکړه »۔

(أخرجه الطبرانی بإسناد جيد كما فی الترغيب وصححه الألبانی فی الصحيحة).

او نبی ﷺ فرمائی: « دَ داسے فتنو راتللو نه مخکښ مخکښ نیك اعمال اوکړئ چه هغه به دَ توری شپے دَ ټکړو پشان وی۔ سړے به په هغے کښ دَ صبا په وخت مؤمن او دَ بیګاه په وخت کافر شی۔ او په بیګاه کښ مؤمن او په صبا کښ به کافر شی۔ خپل دین به دَ دنیا په سامانانو باندے خرڅ کړی »۔ (صحيح مسلم).

نو اعمالو کښ په تادئ کولو سره به تهٔ دَ فتنو نه محفوظ شے، لکه په اول جلد کښ تیر شوی۔

په حدیث کښ دی: « هوښیار هغه څوك دے چه خپل ځان سره حساب اوکړی او دَ مرګ نه پس زندګئ دپاره عمل اوکړی، او کمزورے هغه څوك دے چه خپل ځان ئے خواهشاتو پسے اولګولو او په الله باندے آرزوګانے کوی »۔

(أخرجه ابن ماجه والترمذی بإسناد فيه أبو بكر بن أبی مريم، ورواه الطبرانی فی الكبير من وجه آخر، ولكن فيه السكسكی فالحديث متكلم فيه).

دے حدیث کښ ضعف شته دے۔

بعض سلف فرمائي: اے دَ آدم ځویه! ستا عُمر خو درے ورځے دی: (۱) یو هغه ورځ چه تیره شوه چه هغه تاته هیڅ کله نهٔ راګرځی۔ (۲) او دَ راتلونکی صبا ورځ چه تاته پته نهٔ لګی چه هغه به په تا راشي اوکه نه۔ (۳) او هغه ورځ چه تهٔ پکښ اوس ئے، نو دا ستا عمر دے دا مهٔ ضائع کوه۔

او دا یو ناشنا مثال دے چه څوك ئے اوپیژنی۔ نو زمونږ دپاره صرف هغه ورځ ده په کومه کښ چه مونږ اوس یو۔ او تاله پکار دی چه تهٔ دَ کاملینو او سابقینو خلقو ثواب رایاد کړے، حال دا چه تهٔ خپله ناقص او کوتاه ئے۔ او خپلے مخے ته دا قول دَ الله تعالیٰ ساته چه:

﴿هنالك تبلو كل نفس ما أسلفت﴾ [یونس: ۳۰]

(دلته به هر نفس ته هغه عمل رابښکاره شي کوم ئے چه مخکښ کړے وو)۔

دارنګه دا قول دَ الله تعالیٰ: ﴿أن تقول نفس يا حسرتىٰ على ما فرطتُ في جنب الله﴾.

(هسے نه چه یو نفس اووائی: هائے آفسوس ماله په هغه کوتاهیٔ باندے چه ما دَ الله په حق کښ کړے ده)۔

او دا قول دَ الله تعالیٰ: ﴿وأنذرهم يوم الحسرة إذ قضي الأمر وهم في غفلةٍ وهم لا يؤمنون﴾ [مریم: ۳۹] (او ویروه دویٔ دَ ورځے دَ آفسوس نه کله چه دَ کار فیصله اوکړے شی او دویٔ به په غفلت کښ وی او دویٔ ایمان نهٔ لری)۔

نو امیدونه لنډول دَ وختونو آبادولو دپاره دَ الله په فضل او توفیق سره یو کامیاب علاج دے۔

۳ - دریم شے: تعلقات کمول:

ددے په وجه هم وخت میوه دار جوړیږی۔ څکه څوك چه دَ خلقو سره ډیر تعلقات لری نو دهٔ وختونه بیکاره تیریږی، دا وجه ده چه دَ تنهایئ ډیر ترغیبات راغلی دی، مګر هغه تعلقات چه دَ هغے نه خلاصے نهٔ وی۔

امام ترمذیؒ دَ عقبه بن عامر ﷛ نه روایت کوی۔ دهٔ عرض اوکړو، اے د الله رسوله! نجات به څنګه حاصل شی؟ وے فرمائیل: «خپله ژبه په قابو کښ ساته، او کور دے تاله ځائے درکړی، او په خپلے ګناه باندے ژاړه»۔

او الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ولا تطع من أغفلنا قلبه عن ذكرنا واتبع هواه وكان أمره فرطا﴾ [کهف: ۲۸] (او دَ هغه چا خبره مهٔ منه چه دَ هغهٔ زړهٔ مونږ دَ خپل ذکر نه غافله کړے او هغه دَ خپل خواهش پسے روان دے او دَ هغهٔ کار دَ حد نه تجاوز کول وی)۔

نو په دې آیت کښې اشاره ده چه دې قسمه خلقو سره ترك تعلق پکار دې.
ابو سعید خدري ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ نه تپوس اوشو، دَ تولو نه غوره کس څوك دې؟ وې فرمائیل: «هغه سړې چه په خپل نفس او مال سره جهاد کوي، او بل هغه سړې چه هغه په یوه دَره کښې وي، چه دَ خپل رب بندګي کوي او خلق دَ خپل شر نه محفوظ ساتي». (بخاري، مسلم).
ابن مسعود ﷺ فرمائي: «تاسو دَ علم چینې او دَ شپې ډیوې، دَ کورونو تراتونه، تازه زړونو والا، او زړو جامو والا جوړ شئ. چه آسمان والا مو پیژني او زمکې والو نه پټ یئ». (مختصر منهاج القاصدین، ص: ۱۳۵).
نبي کریم ﷺ هم دیته اشاره کړیده چه تعلقات کمول دَ پسخیدو قابل څیز دې. لکه امام ترمذيؒ په صحیح سند سره روایت کړې دې چه نبي ﷺ اوفرمائیل: «زما په نیز زما په تولو دوستانو کښې ډیر دَ پسخیدو قابل هغه مؤمن دې چه سپك دستې وي، او دَ مانځه نه پوره حصه لري، دَ خپل رب ښائسته عبادت کوي او په پټه کښې دَ هغهٔ اطاعت کوي، او په خلقو کښې پټ وي، چه په ګوتو سره ورته اشارې نهٔ کیږي. او ددهٔ رزق ګذارې والا وي او په دې باندې صبر کوي. بیا نبي ﷺ په خپل لاس باندې تونګه اووهله او وې فرمائیل: ددهٔ مرګ په تادئ سره راشي، ددهٔ میراث کم وي او په دهٔ باندې ژړیدونکې ښځې کمې وي».
نو دې حدیث نه ثابته شوه چه شهرت او ګوتو سره اشارې انسان له ضرر ورکوي، او ګمنامي او عدمِ شهرت دَ وختونو میوه دار جوړولو دپاره انسان دپاره فائده مند دې.

٤ - ګمنامي او نامشهورتیا:

څکه شهرت، دَ خلقو سره دَ ډیر ملاویدو او دې فائدې میلمنو دَ کثرت سبب دې. او دا زړهٔ، وقت، مال او بدن تول خرابوي. والله المستعان.
په دې باندې دلیل هغه حدیث دې کوم چه مخکښې ذکر شو. هغه په دې موضوع باندې ښکاره دلیل دې.
او نبي ﷺ فرمائي: «الله تعالیٰ هغه متقي بنده خوښوي چه هغه دَ زړهٔ مالداره اوګمنامې وي». (مسلم).
دَ خلقو سره په بې ځایه ملاقاتونو کښې ډیر ضرورنه دې، دا وجه ده چه علماؤ ذکر کړې دي چه خلق په څلور قِسمه دي:
اول قسم: هغه څوك دي چه دَ هغوئ ګډون او اختلاط لکه دَ خوراك پشان ضروري

دي، چه ددې نه په شپه او ورځ کښې بې پروائي نشي راتلې۔ نو کله چه دَ هغوئ نه خپل حاجت پوره کړي نو بيا دې ګډون پريږدي، او بيا چه کله ورته محتاج شي نو ګډون دې کوي، او دغسې دې هميشه دپاره کوي۔ او دا قِسم خلق لکه دَ جواهرو پشان قيمتي دي، او دا دَ الله معرفت لرونکي علماء او دَ هغهٔ دَ کتاب او دَ هغهٔ دَ نبي ﷺ دَ سنت دپاره خير خواه خلق دي۔

دويم قسم : هغه څوك دي چه هغهٔ سره ګډون کول لکه دَ دوائي پشان وي، چه هغې ته دَ بيمارئ په وخت انسان محتاجه وي۔ او تر څو پورې چه تندرست وي نو بيا هغهٔ سره دَ ګډون کولو څهٔ حاجت نهٔ وي۔ او دا دَ کار کسب او تجارتونو والا دي۔

دريم قسم : هغه څوك دي چه دَ هغوئ سره ګډون کول لکه دَ مرض غونته وي، چه په هغې کښې ډير قِسمونه وي، څينې کمزوري وي او څينې قوي۔ نو په دوئ کښې به څوك ستا دين او دنيا دواړه تباه کوي، او څوك به صرف ستا دين تباه کوي۔ او څوك به ستا صرف دنيا تباه کوي او قيمتي اوقات به درله ضائع کوي۔

څلورم قسم : هغه څوك دي چه دَ هغوئ سره ګډون زهرِ قاتل اوسراسر تباهي ده۔ او دا اهلِ بدعت او ضلالت دي، چه د الله دَ لارې نه خلق اړوي او دَ رسول الله ﷺ دَ سُنت نه خلق منع کوي، ددې خلاف طرفته دعوت ورکوي۔ سنت ته بدعت او بدعت ته سُنت وائي۔ مُنکر ته مَعروف او معروف ته منکر وائي !! الله دِ دوئ زيات نهٔ کړي !!

ابن قيم رحمه الله فرمائي : هرِ آفت چه بنده ته رسيږي نو ددې سبب زړهٔ ضائع کول دي۔ او دَ زړهٔ ضائع کول دادي چه دَ الله حق ضائع کړي۔ دا وجه ده بعضِ شيوخو وصيت کړې چه : دَ هغه چا سره دَ اختلاط نه ځان ساتئ چه دَ هغهٔ اختلاط سره وخت ضائع کيږي، زړهٔ خرابيږي۔ ځکه چه ددې دواړو څيزونو ضائع کيدل دَ تولو کارونو ضائع کيدل دي۔

﴿و لا تطع من أغفلنا قلبه عن ذكرنا واتبع هواه وكان أمره فرطا﴾ [كهف : ۲۸] آهـ

بعضِ عقلاؤ ته اووئيلې شو، تهٔ دَ خلقو نه ولې ډډه کوې ؟ وې فرمائيل : ماسره ويره ده چه مانه به زما دين واخستې شي اوماته به پته هم نهٔ وي۔ (إيقاظ همم أولى الأبصار العالية).

لقمانؑ خپل ځوئې ته اوفرمائيل : اې ځويه ! هغه خلقو سره کينه چه هغوئ الله يادوي۔ کهٔ چرې تهٔ کامل يې نو ستا علم به تاته نفع درکړي، اوکه جاهل يې نو هغوئ به تاته تعليم درکړي۔ اوکه په هغوئ رحمت يا رزق نازليږي نو په هغې کښې به ورسره تهٔ شريك شې۔ اې ځويه ! هغه خلقو سره مهٔ کينه چه هغوئ دَ الله ذکر نهٔ کوي۔ کهٔ چرې ته ناپوهه يې نو ستا

ناپوهي به نوره زياته کړي، اوکۀ تۀ پوهه ئے نو ستا علم به تاته هيڅ فائده درنۀ کړي۔ اوکه په هغوئ باندے لعنت يا غصه نازليږي نو تۀ به ورسره پکښې شريك شے۔
(إيقاظ).

په دے کښې دا هم دي: بعضِ علماؤ به وئيلے: کله چه شپه را مخامخ شي نو زۀ خوشحاله شم او وايم چه اوس به زۀ دَ خپل رب سره خِلوت کوم۔ او کله چه زۀ صبا راختلے اووينم نو دا ويره راسره پيدا شي چه هسے نه داسے کس سره ملاقات اوکړم چه هغه مے دَ خپل رب نه مشغوله کړي!

۵ - دنيوي کارونه کمول:

ځکه دَ چا کارونه چه ډير وي نو غواړي که نۀ غواړي، دَ هغۀ وختونه ضائع کيږي۔
په حديث کښې دي: « چا چه دَ خپلو ټولو غمونو نه يو غم جوړ کړو، يعنی دَ آخرت غم، نو الله به ددۀ دَ آخرت د غم نه کافي شي۔ او چالره چه دَ دنيا غمونو او حالتونو ګډ وډ کړو، نو الله دا باك نۀ کوي چه دے دَ دنيا په کومه کنده کښے تباه شو »۔
(رواه البيهقي في شعب الإيمان وهو في المشكاة: ۱).

نو دَ چا چه مثلًا لس دکانونه وي، نو هغه به دَ هغه چانه زيات مشغول وي، دَ چا چه يو دکان وي۔ او دَ چا چه يو پټے وي نو هغه به دَ هغه چانه زيات اوزګار وي چه دَ هغۀ لس پټي وي۔ دغه شان دَ يو ګاډي او ډيرو ګاډو، دَ يوے ښځے او دَ ډيرو ښځو، دَ يو کار او دَ ډيرو کارونو، دَ يو غم او دَ ډيرو غمونو، دَ يو ټيليفون او ډيرو ټيليفونونو، دَ يو موبائيل او ډيرو موبائيلو، دَ يو اخبار او دَ ډيرو اخبارونو، دَ يو کتاب او دَ ډيرو کتابونو، او داسے نور څيزونو خبره شوه۔ او تجربه هم په دے باندے شاهدِ عدل ده۔

نو که چرے تۀ خپل اوقات قيمتي ګنړل غواړے نو بيا خپل دنيوي کارونه کم کړه۔ خو دے سره دا ضروري ده چه په خپل وخت به حرص کوے او هغه به په مهمو کارونو کښې لګوے، نۀ په ګپ شپ کښې۔

٦ - په کور يا مسجد وغيره کښې ډير کيناستل:

او دَ ضروري څيزونو نه علاوه دَ بل کار دپاره ډير نۀ وتل۔ ځکه ډير وتل دَ وخت دَ ضائع کيدو سبب دے۔ دا وجه ده صحيح حديث کښې دي: نبي ﷺ نه تپوس اوشو: « اے د الله رسوله! نجات به څنګه ملاويږي؟ وے فرمائيل: خپله ژبه په قابو کښے کړه، کور کښے کينه او په خپلو ګناهونو ژاړه »۔(رواه الترمذي).

په دې حديث کښې فکر کول پکار دي.

په بل صحيح حديث کښې دي: «دَ الله تعالىٰ په نيز دَ ټولو نه مبغوض ترينې زمکې بازارونه دي، او په ټولو کښې ورته خوښې زمکې جوماتونه دي».

(مسلم، ونحوه في ابن حبان، كما في المشكاة: ۱).

نو دَ بازار زمکه الله تعالىٰ ته مبغوض ترينه زمکه ده. ځکه چه دا دَ ګناه، دهوکې، بې شرمئ، غلط نظرئ، خرابو فکرونو او دَ ابليس او دَ هغهٔ دَ لښکرو ځائې دې. نو څوك چه ديته ننوانهٔ نو خامخا به ورته څهٔ نه څهٔ حصه ملاويږي. البته دَ چا حفاظت چه الله کړې وي نو هغه بيله خبره ده. صحيح مؤمن دې په دې تجربه اوکړي.

او هر چه مسجد دې نو دا دَ مؤمن دپاره ډيره ښه عبادت خانه ده. په دې کښې هر خير شته دې. ځکه په مسجد کښې ناسته اجر دې، په دې کښې مونځ کول، علم زده کول، دَ شر نه لرې کيدل، دَ قرآن تلاوت کول، دَ مسلمانانو اجتماعيت ساتل وغيره دا ټول نيك اعمال دي. او دغه شان کور هم دې، چه انسان په دې کښې دَ شر نه محفوظ وي، او ددهٔ شر بل چاته نهٔ رسيږي، او دَ عبادت دپاره پکښې فارغ وي، دَ نظر او د ژبې حفاظت پکښې کيږي دَ غيبت او دَ پغلئ وغيره نه.

۷ - دَ شپې او ورځې ډير خوب او استراحت نهٔ کول:

اونهٔ ډير خوراك څکاك او خبرې کول. ځکه چه دې سره هم دَ بنده نه ډير اوقات ضائع کيږي. بلکه زمونږ په زمانه کښې دَ زنانو ټول عمرونه په اخلى پخلى، خوب او ملاقاتونو کښې تيريږي. والله المستعان.

ځکه زنانه چه سَحر رابيداره شي، نو يا ورسره دَ خوب غم وي او يا دَ چائې. بيا ورسره دَ غرمې دَ خوراك غم وي، بيا دَ روټئ پسې قهوه، بيا دَ ماښام روټئ دپاره تيارې، بيا چائې، بيا لوښي وينځل، بيا خوب. او ډير کرته ددې ترمينځه دَ خپلو خپلوانو زيارت له او يا بازارونو ته ځي. نو فکر اوکړه، ددې ښځې او سړي عمر په دې معمولي څيزونو کښې لګيا دې ضائع کيږي.

دَ عائشې - رضى الله عنها - په حديث کښې دي، چه دې دَ ورځې دوه ځله خوراك اوکړو، نو نبي ﷺ ورته اوفرمائيل: «ستا ټول غم دې دَ خيټې سره نهٔ وي».

الله تعالىٰ فرمائي: ﴿ وهو الذى جعل الليل والنهار خلفة لمن أراد أن يذكر أو أراد شكورًا ﴾ [فرقان: ٦٢]

(الله هغه ذات دے چه دَ شپے او ورځے تلل راتلل دَ هغه چا دپاره مقرر کړی دی چه هغه دَ نصیحت قبلولو او شکر کولو اراده لری)۔

او ډیرو خلقو خو الهی مقررات هم بے ځائے کړی دی۔ توله شپه ویښ وی خو چه کله دَ تهجدو وخت راشی نو اودهٔ شی۔ نو تهجد پریدی او دَ سَحر مونځ ضائع کړی۔ اوکهٔ وے هم کړی نو دَ خوب، غفلت او سستیٔ په حالت کښ ئے اوکړی۔ او بیا دَ صبا مانځه نه پس تر لسو بجو پورے اودهٔ وی۔ او دغه شان نور کارونه واخله۔

۸ – ډیرو دعوتونو ته ئهٔ تلل :

ځکه دے سره وخت ضائع کیږی۔ خاصکر علماؤ او هغه خلقو ته چه په زهد او تقویٰ سره مشهور وی۔ ځکه خلق کله دَ ولیمے دعوت کوی، کله دَ عقیقے، کله دَ صدقے، کله دَ مینے محبت او کله نور دعوتونه کوی۔ او هغوئ راغواړی او کله چه هغوئ دغه دعوتونو ته حاضریږی نو دَ دوئ ډیر قیمتی اوقات ضائع کیږی، او ډیر کرته داسے هم اوشی چه لرے لرے ځایونو ته په دے پسے لاړ شی۔ نو دَ یو څو نورو په وجه عُمرونه ضائع شی۔

دَ رسول الله ﷺ ملګرو به دا قِسم تکلفات نهٔ کول۔

عبد الرحمن بن عوف ﷺ وادهٔ اوکړو نو نبی ﷺ ته ئے خبر ورنهٔ کړو، اونهٔ ئے ورله دعوت ورکړو، سره ددے چه هغه نزدے وو او محبت ئے هم ورسره وو۔

دارنګه جابر بن عبد الله ﷺ وادهٔ اوکړو او نبی ﷺ ته ئے نهٔ خبر ورکړو نهٔ دعوت، سره ددے چه نزدے هم وو او ډیره مینه ئے هم ورسره وه۔

او همدا دَ نبی ﷺ ددے حدیث معنیٰ ده چه : « مونږ دَ تکلف نه منع شوی یو »۔

(کمافی الصحیحة، رقم : ۲۳۹۲)۔

نو عوامو مسلمانانو له پکار دی چه دوئ دَ خپلو علماؤ او متقیانو اوقات دَ معمولی څیزونو نه محفوظ کړی۔ او علماؤ له هم پکار دی چه دوئ خلقو له په دے باندے تنبیه ورکړی۔ چه دا ډیره ضروری خبره ده۔ په دے باندے تجربه شویده۔

۹ – دعاء غوښتل : ځکه په دے باره کښ دعاء هم نفع ورکوی۔ تاله مناسب دی چه تهٔ دَ الله تعالیٰ نه دعاء اوغواړے چه هغه ستا وختونه محفوظ کړی، ځکه دَ وخت حفاظت نشی کیدلے مګر دَ الله سبحانه وتعالیٰ په مدد سره۔ او دعاء په نازل شوی او غیر نازل شوو دواړو مصیبتونو کښ کار ورکوی۔ او دا دَ هرے بیمارئ علاج دے، دنیوی وی که اخ

او دا یو داسې نسخه ده چه دَ الله په مخلوق کښې ددې نه هیڅوك بې پرواه کیدې نشي۔

۱۰ - تقویٰ او پرهیز ګاري : څکه تقویٰ دَ ټولو نیکیو واګې دې۔ او الله تعالیٰ دَ خپلو متقینو بندګانو عمرونه او وختونه محفوظ ساتي، او دوئ بیکاره نهٔ پریدي۔ بلکه په خپل عبادت کښې ئې استعمالوي۔ لکه حدیث کښې دي : « الله چه کله یو بنده باندې دَ خیر اراده اوفرمائي نو هغه استعمال کړي۔ عرض اوشو، اې دَ الله رسوله ! څنګه ئې استعمال کړي ؟ وې فرمائیل : دَ مرګ نه مخکښې ورله دَ نیك عمل توفیق ورکړي »۔

(رواه الترمذی).

﴿ ومن یتق الله یجعل له مخرجًا ﴾ [طلاق : ۲]

(څوك چه د الله دَ حدودو لحاظ ساتي، الله به ورله لاره اوباسي)۔

۱۱ - دَ فرض او نفل مونځونو د وختونو حفاظت کول :

څوك چه دَ فرض او نفل مونځونو حفاظت کوي نو الله دهٔ دَ ټول عمر دَ وختونو حفاظت کوي۔ ان شاء الله۔ او الله سبحانه وتعالیٰ په دې اوقاتو کښې ډیر عجیبه رازونه ایښې دي۔

مثلًا : یو سړې دَ شپې په آخره حصه کښې پاسیدهٔ او دوه رکعته مونځ ئې اوکړو، نو الله ئې په غافلینو کښې نهٔ شماري۔ لکه حدیث کښې دي۔ او دَ شپې عبادت به دهٔ لره دَ ورځې دَ ګناهونو نه منع کړي۔ او دَ صبا مونځ دَ نیمائي شپې دَ تهجدو ثواب لري، بلکه دَ ټولې شپې دَ تهجدو۔ بیا په صبائي اذکارو کښې ډیر زیاتې فائدې دي، چه دا د یوې ورځې دپاره هم نهٔ دي پریخودل پکار۔ او دا په خشوع او خضوع سره لوستل پکار دي، نهٔ یواځې ددې قرأت کول۔ او عاقل مؤمن له پکار دي چه دَ صبائي مونځ نه پس اودهٔ نشي څکه چه دا خوب ډیر ضرري دې۔ چه ددې تشریح ما په « الدین الخالص : ۲ » کښې کړیده۔

په حدیث کښې دي : « زما دَ هغه خلقو سره ناسته چه هغوئ دَ صبائي دَ مانځه نه دَ الله ذکر کوي تردې چه نمر را اوخیژي، دا ماته ددې نه غوره ده چه زهٔ دَ اسماعیل ﷺ دَ اولاد نه څلور مرئیان آزاد کړم۔ او زما دَ هغه خلقو سره ناسته چه هغوئ دَ مازیګر نه دَ نمر ډوبیدو پورې ذکر کوي، دا ماته ددې نه غوره ده چه زهٔ څلور مرئیان آزاد کړم »۔

(الترمذی، صحیح الترغیب).

او نبي ﷺ به چه کله دَ صبا مونځ اوکړو، نو په خپل مجلس کښې به ئې پرلتې اووهله تردې چه نمر به ښهٔ را اوختهٔ۔ (أبوداود، وغیره).

دا زمونږ دَ نبي ﷺ طریقه وه۔ نو آیا مونږ له دَ هغوئ تابعداري پکار نهٔ ده ؟

سهل بن معاذ ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « څوك چه دَ صبائي مونځ كولو نه پس په خپله مصلیٰ كيناستهٔ تردے چه دَ څاښت دوه ركعته اوكړي، چه دَ خير نه علاوه بل هيڅ خبره اونهٔ كړي۔ نو ددهٔ گناهونه به اوبخښلے شي اگركه دَ سمندر دَ زگ نه هم زيات وي »۔

(أحمد). او دَ ابو يعلیٰ په روايت كښ دي : « ددهٔ دپاره جنت واجب شو »۔

حافظ ابن حجرؒ فرمائي : دا حديث ابوداود، ترمذي او نسائي په حسن سند روايت كړے۔

ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ يو لښكر اوليږلو چه هغوئ غنيمت حاصل كړو او ډير زر را واپس شو۔ نو يو سړي اووئيل : اے د الله رسوله ! مونږ خو داسے فوج نهٔ دے ليدلے چه هغه ډير زر واپس شوے وي او ډير زيات غنيمت حاصلونكے وي، ددے فوج په نسبت۔

نو نبي ﷺ اوفرمائيل : « آيا زهٔ تاسو ته هغه څوك اونهٔ ښايم چه د دوئ نه په تادئ باندے واپس كيدونكے او ډير غنيمت راوړونكے وي ؟ هغه سړے دے چه ښائسته اودس ئے اوكړو، بيا جومات طرفته روان شو او هلته ئے دَ صبا مونځ اوكړو، بيا ئے پسے دَ څاښت مونځ اوكړو۔ نودے په تادئ سره واپس شو او لوئے غنيمت ئے حاصل كړو »۔

(ذكره المنذري كما في صحيح الترغيب).

نو كله چه تهٔ په دے سنت باندے عمل اوكړے، نو تهٔ دَ خيري نه پاك شوے او ستا عملنامه دَ گناهونو نه صفا شوه، نو اوس به خپل كار ته دَ ستركو په يخوالي او تازگئ سره اووځے۔

او نبي ﷺ ددے وخت دپاره دعاء هم غوښتلے، لكه فرمائي :

اللهم بارك لأمتي في بكورها. (اے الله ! زما امت له په وختي تللو كښ بركت واچوے)۔

او څوك چه په دے وخت كښ اودهٔ كيږي نو دوئ دَ ډير خير نه محروميږي۔ بلكه دا په تجربے سره ثابته ده چه څوك خپل صباتي وخت ضائع كړي نو دَ دهٔ دَ ورځے وخت به هم ضائع كيږي۔ او څوك چه په صباتي مانځه كښ سستي كوي نو ددهٔ نه به دَ مازيگر وغيره مونځ هم ضائع كيږي۔

دَ سَحَر مانځه نه پس په مسجد كښ دَ كيناستو اهم فوائد :

۱ - څوك چه دَ صبا مانځه نه پس تر نمر ختهٔ پورے كيني نو الله تعالیٰ ورله په ورځ او وخت كښ بركت اچوي۔

۲ - دا كس دَ يو حج او عُمرے او دَ الله په لاره كښ دَ څلورو غلامانو آزادولو ثواب حاصلوي۔

۳ – دَ صبا اذکار په خاطر جمعئ او حضورِ قلبی او بغیر دَ تادئ نه په خشوع سره لولی۔
٤ – څوك چه دَ خپل مانځه په ځائے کښې ناست وی نو ملائك په هغهٔ باندے رحمتونه رالیږی او دَ هغهٔ دپاره استغفار او دَ رحمت دعاګانے غواړی، تر څو پورے چه بے اودسه شوے نهٔ وی، او تر څوئے چه چاته تکلیف نهٔ وی ورکړے۔ لکه په حدیث دَ صحیح بخاری کښې دی، ملائك داسے دعاء غواړی : اللهم اغفر له اللهم ارحمه اللهم تب علیه.
(اے الله ! دا اوبخښه، اے الله ! په دهٔ رحم اوکړه، اے الله ! ددهٔ توبه قبوله کړه)۔
٥ – دَ څاښت مونځ اوکړی چه دا دَ درے سوه شپیتهٔ (۳٦۰) جوړونو دَ طرفه د صدقے کولو نه کافی کیږی، او دا دَ اوّابینو (الله ته رجوع کونکو) مونځ دے۔
٦ – دَ اشراق څلور رکعته مونځ اوکړی، چه په دے کښې دَ ټولے ورځے دَ کافی کیدو زیرے دے۔ لکه په حدیث کښې دی : « اے دَ آدم څویه ! دَ ورځے په شروع کښې ما دپاره څلور رکعته مونځ اوکړه، زهٔ به ددے په آخره کښې تاله کافي شم »۔
(رواه أهل السنن).
او دَ راجح قول مطابق ددے حدیث نه مراد دَ اشراق مونځ دے۔
۷ – په هرو دوه هفتو او یا میاشت کښې قرآن کریم لوستل :
او دا وخت دَ حفظ او تکرار دپاره موقع ده۔
۸ – په دے کښې دَ وخت منظم کول او کار ته وختی وتل راځی، چه انسان دَ تازګئ، قوت او په الله باندے دَ اعتماد او باور نه ډك وی۔
(او ګوره : إغتنام الأجر في المكث في المصلي بعد صلاة الفجر).
۹ – په دے کښې دَ سنتو تابعداری راځی، ځکه نبی ﷺ به دَ صبانه پس کیناستهٔ۔
۱۰ – په دے سره دَ الله په کتاب باندے عمل راځی، ځکه الله تعالیٰ دَ نمر ختهٔ نه مخکښې په ذکر کولو باندے امر کړے۔
۱۱ – په دے سره په رزق کښې برکت راځی۔
۱۲ – ددے په وجه دَ انسان اخلاق ښائسته کیږی۔
ځکه څوك چه په دے وخت کښې دَ خوب سره عادت شی، نو ددهٔ اخلاق خرابیږی۔
۱۳ – په دے وخت کښې زمکه دَ خلقو دَ اودهٔ کیدونه الله تعالیٰ ته شکایت کوی۔
دارنګه په دے کښې نورے فائدے هم شته۔
بیا دے دَ څاښت مانځه دپاره تیارے اونیسی ځکه چه په دے کښې ډیر خیر دے۔

پس دَ ماسپخین مانځه او دَ ماسپخین مانځه نه مخکښې دَ سنتو اهتمام دے اوکړی، ځکه چه دا یو داسې ساعت دے چه په دے کښې دَ آسمان دروازې پرانستې شی۔ (حدیث).
بیا متقی مسلمان له مناسب دی چه قیلوله اوکړی، ځکه چه ددے ډیرې فائدې دی۔ دا عقل زیاتوی۔ او دَ شپې په پاسیدو کښې مدد کوی۔ او شیطانان په دے وخت کښې قیلوله نهٔ کوی۔ نو په دے کښې دَ شیطانانو مخالفت دے۔ بیا ددے نه پس دے دَ مازیګر دَ مانځه وختې کولو تیارې اوکړی، ځکه مازیګر کښې تاخیر کول دَ منافقانو، دارنګه دَ جامد مقلدینو کار دے۔
او دا وخت ډیر زیات مهم دے۔
دا وجه ده چه په نبوی احادیثو کښې دَ مازیګر مونځ وختې راغلے دے۔ او الله تعالیٰ هم په دے وخت باندې قسَم کړے۔ اوکۀ څوک تا دَ مازیګر نه مخکښې څلور رکعته نفل اوکړل، نو پتا باندې دَ الله رحمت دے۔ ځکه نبی ﷺ هغه چاته دَ رحمت دعاء کړے، څوك چه دَ مازیګر مانځه نه مخکښې څلور رکعته نفل اوکړی۔ (سنن أبی داود وغیره).
بیا دَ مازیګر نه پس یا خو دَ قرآن تلاوت کوه او دَ الله ذکر کوه، او یا بیمار پښتنې یا جنازې له لاړ شه، او یا دَ درس او تعلیم په حلقه کښې کینه۔
او دَ بیګاه دَ وخت ذکرونه مۀ هیروه۔ بیا دَ ماښام مونځ کوه، بیا ماښام نه پس نوافل کوه۔ د ماښام وخت هم ډیر زیات مهم دے۔ دا وجه ده چه په دے وخت کښې په دعاء کولو باندې امر راغلے۔ بیا دَ ماسخوتن مونځ له تیارې نیسه۔او بیا په اوداسهٔ کښې وَختی اودهٔ کیږه۔
او تاله جائز نۀ دی چه تهٔ دَ ماسخوتن نه پس قیصې کوې او یا په ټیلویژن، ریډیو او یا بې فائدې خبرو سره خپل وخت ضائع کړې۔ ځکه دا ډیر ضرری څیز دے۔
زړۀ سختوی او د عباداتو نور ختموی او تهجد یا دَ سحَر جَمعه فوت کوی۔
دا وجه ده، نبی ﷺ دَ ماسخوتن نه پس قیصه ګوئی بدې ګنړله۔ مګر په علم کښې او یا دَ اهل سره او یا دَ میلمه سره او یا دَ مسلمانانو په کارونو کښې خبرې کول جائز دی۔
خلقو اوس په دے باره کښې الٰهی قوانین بدل کړی دی، یوه بجه به اودهٔ شی نو بیا تهجدو یا سحر جَمعې دپاره څنګه پاسی ؟
او دا بد عادت دَ کافرو دَ طرفه راغلی، دارنګه دَ بجلۍ او دنیوی فتنو دَ پیدا کیدو نه راغلے۔ په صحیح حدیث کښې دی : « کوم مسلمان چه په اوداسهٔ کښې اودهٔ شی او بیا دَ شپې را ویښ شی، نو دَ الله تعالیٰ نه چه څۀ سوال کوی، نو الله ئې قبلوی، دنیوی حاجت وی

اوکه اخروی»۔ (صحيح الترغيب : ١/١٤٥).

په حدیث کښې دی : «څوك چه خپلې بسترې ته راغلې او دۀ دا اراده وه چه دَ شپې به مونځ کوی، خو سترګې ئې تر صبا پورې پټې شوې، نو دۀ چه دَ څۀ نیت کړې وی، هغه به دۀ له اولیکلې شی او خوب به په دۀ باندې دَ دۀ دَ رب دَ طرفه صدقه شی»۔ (حواله سابقه).

نو مسلمان باندې واجب دی چه دَ خپل عبادت دَ اوقاتو حفاظت اوکړی۔ الله به دَ دۀ دَ ټول عُمر حفاظت اوکړی، ان شاء الله ـ او الله تعالیٰ غیرتی ذات دې څوك چه دَ هغۀ دپاره دَ هغه اوقاتو حفاظت کوی، کوم چه الله مقرر کړی دی، الله تعالیٰ ورله دَ ټول عُمر دَ اوقاتو حفاظت کوی۔ او دا په تجربه کښې راغلې خبرې ده چه څوك دَ صبا وخت ضائع کړی، نو دَ سزا په طور دۀ نه دَ مازیګر وخت هم ضائع کیږی۔ مګر په دې سزا باندې هم صرف هغه اوچتو همتونو والا خلق پوهیږی چه دَ هغوئ بصیرت رڼرا کونکې وی۔ والله المستعان۔

۱۱ - خپل وخت په تقسیمِ اوقات سره په اعمالِ صالحه ؤ برابرول :

ولې که وخت په نیکو اعمالو باندې تقسیم نۀ کړې شی، نو غالباً ضائع کیږی۔ او مؤمن له مناسب دی چه کوم وخت دَ کوم عمل تقاضا کوی، هغه اوپیژنی، که هغه دَ زړۀ عمل وی اوکه دَ اندامونو۔ او دَ هغې په ډیر ښائسته انداز سره اهتمام اوکړی۔ مثلاً دَ بنده صرف څلور وختونه دی : (۱) دَ نعمت وخت (۲) دَ مصیبت وخت (۳) دَ طاعت وخت (٤) دَ ګناه وخت۔

او دَ الله په تا باندې په هر وخت کښې عبادت دې۔ نو دَ نعمت په وخت عبادت شکر کول دی۔ او دَ مصیبت په وخت عبادت صبر کول دی۔ او دَ ګناه په وخت عبادت توبه، او استغفار او دَ هغې نه رجوع کول دی۔ او دَ طاعت په وخت عبادت دَ هغې په ښۀ شان اهتمام کول څنګه چه دَ الله دَ جلال سره لائق وی۔ او دا خبره په اولنی جلد کښې تیره شویده۔

حسن بصریؒ نه نقل دی چه دۀ یو عبادت ګذار سړې اولیدلو، ورته ئې اوفرمائیل : اې دَ الله بنده! خلقو سره دَ کیناستو نه څۀ شی منع کړې ئې؟ وئیلې : کوم څیز چه زۀ دَ خلقو سره دَ کیناستو نه مشغول کړې یم، هغه اوږد شې دې۔ ورته ئې اوفرمائیل : نو بیا حسنؒ ته دَ راتلو نه څۀ شی منع کړې ئې؟ وئیلې : دَ حسنؒ نه زۀ ډیر زیات کارونو مشغوله کړې یم۔ ورته اوفرمائیل : هغه کوم کار دې چه تۀ ئې دَ حسنؒ نه مشغوله کړې ئې؟ هغۀ وئیلې : زۀ دَ ګناه او نعمت ترمینځه بیګاه کومه او صبا کومه، نو زما خیال راغلو چه زۀ خپل ځان دَ ګناه دپاره په استغفار باندې او دَ الله دَ طرفه په نعمت باندې په شکر کولو باندې مشغوله کړم۔

ورته ئې اوفرمائيل : تهٔ زما په نيز دَ حسنؓ نه زيات فقيه ئې۔ (إرشاد العباد، ص : ۱۰۷).
نو بيا تاله پکار دی چه ستا وخت دې اوزګار نهٔ وی، بلکه په اعمالِ صالحهٔ و سره ئې ډک کړه۔

إذا كنتُ أعلم علمًا يقينًا ... بأن حياتي يكون كساعهُ
فَلِمُ لا أكون ضنينًا بها ... وأجعلها في صلاح وطاعهُ

(کله چه ماته يقينی معلومه وی چه زما توله زندګی د يو ساعت پشان ده، نو بيا ولې زهٔ په دې بخل اونهٔ کړم او دا ولې په صلاح او طاعت کښې اونهٔ لګوم)۔

٤ - او هر چه د وخت لګول څنګه دی :

نو په تا باندې لازم دی چه دا په ډير زيات مهمو کارونو کښې اولګوې :

۱ - دَ شرعی علم په طلب کښې۔

۲ - په عباداتو کښې، هر يو عبادت چه وی۔

۳ - په فکر او عبرت کښې۔

٤ - دَ مخلوق په خدمت او هغوئ سره په احسان کولو کښې۔

٥ - دَ ايمان په زياتولو کښې۔

٦ - رحمٰن ته په دعوت ورکولو کښې۔

۷ - دَ نفس سره په حساب کولو کښې۔

۸ - په زده کولو دَ ظاهری او باطنی ښائسته اخلاقو کښې، چه دا ډير زيات وخت اخلی۔

۹ - دَ خپل نفس، کور والو او خپل خپلوانو په حاجتونو پوره کولو کښې۔

۱۰ - دَ شر نه په بنديدلو کښې۔

۱۱ - الله سره په خِلوت کولو کښې۔ چه دا دَ ټولو نه قيمتی شے دے۔

۱۲ - په بداوت کښې۔ يعنی دَ خلقو نه په يواځې والی او بهر ته وتلو کښې۔

ددې ټولو تفصيل داسې دے :

۱ - هر چه **شرعی علم** دے، نو تاله پکار دی چه کوم زيات نفعمن وی هغه حاصل کړه۔

لکه منقول دی چه يو سړی ابودرداء - رضی الله عنه - ته اوليکل : ماته دَ علم په باره کښې څهٔ اوليکه۔ وې فرمائيل : علم ډير دے، او وخت کم دے، نو تاله پکار دی چه کوم علم تاته دَ ټولو نه زياته نفع درکوی هغه واخلې۔

(رواه ابن عبد البر في جامع بيان العلم وفضله، حياة الصحابة : ۳).
او دَ شريعت په علمونو کښې بهترين علم : دَ قرآن کريم دَ تدبر علم دے۔ بيا دَ سُنتِ نبويه زده کړه۔ دارنګه دَ احکامِ شرعيه ؤ زده کړه۔ دَ خشوع علم، دَ الله دَ ذات او صفاتو علم، دَ جزاء علم، او دَ شرعي اسرارو علم۔ دَ شريعت علمونه ډير زيات دي، نو تاله پکار دي چه کوم درته ډيره نفع درکوي هغه زده کړے۔ نو تهٔ خپل قيمتي وختونه په معمولي علمونو کښې مهٔ خرچ کوه، لکه رياضي، منطق، فلسفه او انګريزي وغيره زده کول۔ څکه ددے فائده ډيره کمه ده، او يا ضرر لري۔

۲ - **او هرچه عبادات دي** : نو ددے ميدان ډير زيات فراخه ده۔ مونږ ددے دپاره پيدا شوي يو، او علم ددے دپاره وسيله ده۔ نو په دے کښې اهم عبادات، فرض مونځونه دي، بيا قرآن او شرعي اذکار لوستل۔ اوږدے سجدے کول او دَ نفلونو کولو اهتمام کول۔ خاصکر دَ فرائضو نه مخکښې دَ مقررو سُنتونو اهتمام کول، چه ددے عجيب تاثير دے۔ نبي ﷺ دَ الله نه روايت کوي، حديث قدسي دے : « اے دَ آدم څويه ! زما عبادت له وخت ورکړه، زهٔ به ستا سينه دَ مالدارئ نه ډکه کړم او ستا فقيري به ختمه کړم۔ اوکه دا کار دِے اونهٔ کړو، نو لاسونه به دے دَ کار نه ډک کړم او فقيري به دے ختمه نهٔ کړم »۔ (رواه أحمد).

او نبي ﷺ به دَ شپے اوږد مونځ کولو تردے چه دواړه قدمونه ئے اوچودل۔

او هغوئ (ﷺ) به دَ سورتِ بقرے په اندازه اوږده سجده کوله، نو آيا تا دَ اوږدے سجدے خوند څکلے دے ؟ او دا ډير زيات وخت اخلي، چه بيا تهٔ دَ خلقو دَ ملاقات او دَ لهو او لعب دپاره نشے فارغيدے !!

۳ - **او هرچه فکر او عبرت دے** : نو دا هم مستقل عبادت دے، او ددے ډيرے زياتے فائدے دي، چه مونږ به ئے ان شاء الله په مستقله فائده کښې ذکر کړو۔

خو دلته مقصد دا چه انسان څينے وخت په دے څيزونو کښې فکر کولو ته ورکړي :

(۱) دَ الله په عظمت او لويئ کښې فکر کول۔ (۲) په کائناتو کښې فکر ۔ (۳) په مرګ او مرګ نه روستو احوالو کښې فکر۔ (٤) دَ الله په کارونو او راتلونکو حوادثو کښې فکر۔ (۵) په قرآن او په احکامو دَ الله تعالیٰ کښې فکر۔ (٦) په ګناهونو کښې فکر۔ (۷) دَ اعمالو په صحيح کولو کښې فکر۔ (۸) دَ حقونو په اداء کولو کښې فکر۔ اوداسے نور۔

٤ - **او هرچه دَ خلقو خدمت دے** : نو په دے کښې بيمار پُښتنه، جنازو پسے تلل، لار ښودنه، دَ مظلوم مدد او دَ محتاج سره امداد وغيره شامل دي۔

٥ - او هر چه هره ورځ ايمان زياتول دی :
نو دا يو ناياب شے دے چه دَ ډيرو خلقو ورته سوچ نشته بلکه دَ ډيرو خلقو دا خيال دے چه گنے ايمان دَ غرهٔ غوندے مضبوط شے دے چه هيڅ تغير پکښ نهٔ راځی اگرکهٔ په دے باندے تيزے هواگانے را والوزی او يا پرے گنړ سيلابونه راشی. حال دا چه دے مسکين ته دا معلومه نهٔ ده چه ايمان په غفلتونو او لغوياتو سره کميږی، پاتے لا په گناهونو سره. او دَ ايمان دَ زياتوالی معنیٰ داده چه مونږ دَ الله سبحانه وتعالیٰ ذکر اوکړو، دَ هغهٔ تسبيح او تحميد اووايو، او زمونږ په زړونو کښ دَ هغهٔ خشيت، عظمت او احسان وی.
او دَ ايمان نقصان دادے : چه ددے مذکوره څيزونو نه غفلت اوکړے شی. په دے کښ فکر اوکړه، او ددے دپاره دَ اولنی جلد فائده نمبر (٤٧) اوگوره.
٦ - او هر چه الله طرفته دعوت ورکول دی :
نو دا دَ الله دَ فرائضو نه يوه فريضه ده او دَ ايمان دَ څانگو نه يوه څانگه ده، او ددے اهتمام صرف کامل انسانان کوی. کومو ته چه الله رب العزت په خپل دے قول کښ کامياب وئيلی دی : ﴿ وأولئك هم المفلحون ﴾ [بقره : ٥] (او همدا خلق کامياب دی).
او دَ دویٔ دَ وينا مدح او صفت ئے کړے. ﴿ ومن أحسن قولًا ممن دعا إلى الله وعمل صالحاً وقال : إنني من المسلمين ﴾ [حم سجده : ٣٣]
(او څوك دے ډير ښائسته خبرے والا دَ هغه چانه چه هغه الله طرفته دعوت کوی او نيك عمل کوی او وائی زهٔ دَ مسلمانانو نه يم).
دارنگه دَ دعوت اهتمام صرف هغه څوك کوی چه دَ الله معرفت لری او گناهونه پيژنی او نيك عملونه پيژنی، دَ طاعت خوند او دَ گناه تريخ والے پيژنی او ددے اضداد پيژنی.
نو تا باندے واجب دی چه تهٔ خپل وخت څومره چه کيدے شی په دے کښ صرف کړے.
٧ - او هر چه نفس سره حساب دے : نو دَ مؤمن دپاره دا ډير ضروری دے، ځکه که خپل نفس سره حساب اونهٔ کړی نو وختونه به ئے ضائع شی او مقامات به ترے فوت شی.
وهب بن منبهؒ فرمائی : دَ آلِ داؤد په حکمت کښ ليکلی وو چه : عاقل باندے لازم دی چه دَ څلورو څيزونو نه غفلت اونهٔ کړی : (١) داسے ساعت چه په هغے کښ دَ خپل رب سره مناجات کوی. (٢) داسے ساعت چه په هغے کښ خپل ځان سره حساب کوی. (٣) داسے ساعت چه په هغے کښ دَ خپلو ورونو سره يو ائے کيږی. چه هغویٔ دهٔ ته ددهٔ دَ

عیبونو خبر ورکړي او ددهٔ دَ نفس په باره کښې ورته هغویٔ رشتیا اووائي. (٤) او داسې ساعت چه په هغې کښې دَ خپلو حلالو او قابلِ مدح خوندونو ترمینځه یواځې والې اوکړي، ځکه دا ساعت به دَ دغه ساعتونو دپاره مدد ګار جوړ شي او په دې سره به ورته خاطر جَمعي حاصله شي. او عاقل له مناسب دی چه خپل ځان اوپیژني، دَ خپلې ژبې حفاظت اوکړي، خپل کار ته توجه اوکړي.

داسې خبره په ابن احبانؒ او الترغیب والترهیب کښې هم ذکر ده.

حسن بصريؒ فرمائي : مؤمن دَ خپل ځان نګهبان دې، دَ الله عز وجل دپاره دَ خپل نفس سره حساب کوي. او په قیامت کښې به حساب صرف هغه خلقو ته آسان وي چه هغویٔ په دُنیا کښې دَ خپلو ځانونو سره حساب کوي. او په قیامت کښې به حساب صرف هغه خلقو ته ګران وي چه هغویٔ په دې معامله کښې هیڅ حساب نهٔ کوي.

یو هوښیار وائي : تهٔ صرف په هغه شئ باندې غمژن کیږه چه صباله تاته ضرر درکوي. او په هغه شئ مهٔ خوشحالیږه چه صباله دې نهٔ خوشحالوي. او دَ تولو نه زیات نفعمن خوف هغه دې چه تا دَ ګناهونو نه بند کړي، او کوم طاعت چه تا نه فوت شو په هغې باندې دې غم اوږد کړي. او په راتلونکي عمر کښې درته فکر درواچوي. (إيقاظ).

بعضِ عابدانو اوژړل. نو چا ورته اووئیل : ولې ژاړې ؟ وې فرمائیل : روژه دار خلق روژه نیسي او زهٔ دَ هغې نه نهٔ یم. ذکر کونکي ذکر کوي، او زهٔ دَ هغویٔ نه نهٔ یم. مونځ ګذار مونځونه کوي او زهٔ دَ هغویٔ نه نهٔ یم.

میمون بن مهرانؒ فرمائي : یو سړې تر هغه وخته پورې متقي نشي جوړیدې تر څو چه دَ خپل شریك نه هم دَ ځان نه سره زیات حساب کوي.

حساب بن سنانؒ په یوه بنګله تیر شو، وې فرمائیل : دا کله جوړه شوې ؟ بیا خپل ځان ته متوجه شو، وئیلې : ستا څهٔ کار دې چه دَ بې فائدو خبرو په باره کښې تپوس کوې. زهٔ به خامخا تاله دَ یو کال په روژو نیولو سره سزا درکړم. بیا ئې هغه روژې اونیولې.

(مختصر منهج القاصدين).

دَ حساب کولو طریقه :

داده چه اول دَ خپل نفس سره په فرائضو حساب اوکړي، که په هغې کښې ورته څهٔ نقصان ښکاره شي نو دَ هغې په قضائي یا اصلاح سره دَ هغې تدارك اوکړي. بیا دې په منع شوو کارونو سره دَ هغې سره حساب اوکړي، نوکه ورته معلومه شوه چه ددهٔ څهٔ منع شوې کار

کړے دے، نو په توبے او استغفار او محوه کونکو نیکیو سره دِے دَ هغې تدارك اوکړی۔ بیا دے دَ خپل ځان سره په غفلت کولو حساب اوکړی، نو دَ کوم څیز دپاره چه پیدا شوے دے، که په هغے کښې ئے غفلت کړے وو، نو په ذکر او الله ته په توجه کولو سره به ئے تدارك اوکړی۔ بیا به دَ ځان سره دَ خبرو په باره کښې حساب اوکړی، دارنګه دَ هغه څیز په باره کښې چه هغې ته ددهٔ خپو مزل کړے وی، یائے لاسونو رانیولے وی، یا ئے غوږونو آوریدلے وی چه په دے کارونو کښې ستا مقصد څهٔ وو؟ دا کارونه تا ولے اوکړل؟ او څنګه دے اوکړل؟ چه اولنے سوال دَ اخلاص په باره کښې دے، او دویم سوال دَ متابعت دَ سنت په باره کښې دے۔

او نفس سره حساب کول دوه قسمه دی :

اول : دا چه تهٔ دَ عمل کولو نه مخکښې دَ ارادے په وخت اودریږی او په عمل کولو باندے تادی اونهٔ کړی تردے چه دَ هغې په نهٔ پریخودلو باندے دَ هغې کول ورته غوره معلوم شی۔

حسن بصریؒ فرمائی : الله دے په هغه بنده رحم اوکړی چه دَ خپلے ارادے په شروع کښې اودریږی، که دَ الله دپاره وی نو وے کړی او که دَ غیر الله دپاره وی نوروستو شی۔

دویمه : دَ عمل نه پس محاسبه ده۔ او دا درے قِسمه ده :

۱ – یو محاسبه ده په هغه طاعت باندے چه په هغې کښې ئے کوتاهی اوکړه، او په هغه طریقه ئے اونهٔ کړو، په کوم باندے چه کول پکار وو۔

۲ – په هغه کار باندے محاسبه چه دَ هغې دَ کولو نه دَ هغې پریخودل غوره وو۔

۳ – په مباح یا عادی کار باندے محاسبه، چه په دے سره ئے دَ الله او دَ آخرت اراده وه؟ چه بیا دے ګټه کونکے دے، اوکه دَ دنیا اراده ئے وه چه بیا دے دَ ګټے په ځائے تاوان کونکے دے۔

او ددے دپاره به مونږ ان شاء الله مستقله فائده قائمه کړو۔

۸ – او هرچه ښهٔ اخلاق زده کول دی :

نو دا هم ډیر زیات مهم دی۔ لکه صبر، سَخا، وقار، خشوع، خاموشی، تواضع وغیره۔ چه په دے باندے ډیر وختونه او عمرونه لګیږی۔ او خلق ددے نه غافله دی۔

۹ – او هرچه حاجتونه دی : نو انسانی نفس لکه دَ سورلئ پشان محتاج پیدا شوے دے۔ که هغې ته ګیاه واچوے نو فائده به ترے واخلے، ورنه په لاره کښې به درته اودریږی۔ دغه شان انسان له مناسب دی – خاصکر زمونږ په زمانه کښې – چه خپل نفس له بعضِ جائز خواهشات ورکړی، چه دَدے نه پس به دَ الله په توفیق سره طاعت ته غاړه کیدی۔ او کله چه دا دَ ټولو خواهشاتو نه پریکړے نو مړ به شی او بند به پاتے شی۔ او په

باب النیة کښې بـه دَ علـی رضـی الله عـنـه دا قول راشی چه : تاسو خپلو زړونو له راحت ورکوئ ځکه چه کله په دې باندې زبردستی کیږی نو ړندیږی.

۱۰ – او هر چه دَ الله سره خلوت کول دی :

نـو دا هـم دَ زړونو او دَ ذکر او فکر دَ اصلاح او درست کولو دپاره یو مهم شے دے. او په دے کښې ډیرې فائدې دی.

۱۱ – دغه شان دَ شر نه بندیدل هم دَ انسان دپاره صدقه ده. (حدیث).

۱۲ – او هر چه بداوت دے : نو امام بخاری په الادب المفرد کښې دَ شریح بن هانئ نه روایت کوی دا وائی : ما دَ عائشې رضی الله عنها نه تپوس اوکړو: آیا رسول الله ﷺ به بهر صحراء ته وتلو ؟ وې فرمائیل : هاؤ. هغوئ به دغه ډیرکو ته بهر وتلو.

او دا صحیح حدیث دے. ابوداود په باب الهجرت کښې ذکر کړے.

او بـداوت : باندې ته دَ الله سره دَ تعلق قائمولو، هغهٔ سره دَ خبرو کولو، دَ هغهٔ دَ ذکر کولو، هغهٔ نه د دعاء غوښتلو، او دَ زړهٔ صفا او روښانه کولو دپاره تنها وتلو ته وائی.

او بداوت سیاحت (چکرو) ته نهٔ وائی، لکه چه دَ بعضِ صوفیهؤ کار دے.

او پـه دے تـولـو ځیـزونـو یـو اوږد کتاب لیکل غواړی، لیکن مونږ په اشاراتو سره اکتفاء کوو. ځکه ددې تفصیل په مختلفو فائدو کښې راځی، ان شاء الله تعالیٰ.



۱۸ - قابل تعجب فائده

انسان باندے دَ شیطان دَ مسلط کیدو حکمتونه

الله تعالیٰ په انسان باندے شیطان دَ ډیرو حکمتونو دَ وجے نه مقرر کړیدے :

۱ - په انسان باندے آزمائش کول غرض دی :

چه دے دَ الله خبره منی اوکه دَ هغهٔ دَ دشمن خبره؟ او په دے سره به رشتینے دَ دروغژن نه او لائق به دَ نا لائق نه بیل معلوم شی۔

۲ - دے دپاره چه انسان خپل خالق او پیدا کونکی ته ورمنده کړی او دَ خپل دشمن نه هغهٔ پورے پناه اونیسی۔

او همدا کار الله دَ خپل بنده نه غواړی۔ ﴿ قل أعوذ برب الناس ملك الناس إله الناس من شر الوسواس الخناس .. ﴾ الآیات.[الناس]

(ورته اووایه : پناه غواړم په رب دَ خلقو، په بادشاه دَ خلقو، په معبود دَ خلقو، دَ شر دَ وسوسے اچونکی او دَ الله دَ ذکر په وخت دَ روسته کیدونکی نه)۔

نو الله سبحانه وتعالیٰ هغهٔ ته په پناه وړلو او هغهٔ ته په التجاء کولو باندے امر کړیدے ددے ښکاره دشمن نه، چه دهٔ خپله دشمنی ښکاره کړیده۔ او تهٔ به ډیر خلق وینے چه ددے پټ او ښکاره دشمنئ والا لوئے دشمن نه به خپل رب ته التجاء نهٔ کوی۔ بلکه دَ هغهٔ دشمنی هم نهٔ پیژنی۔

۳ - بلے داچه بنده هغه اسباب اختیار کړی چه په هغے سره ددے دشمن نه محفوظ شی۔ او دا اسباب الله تعالیٰ دَ خپل رحمت دَ وجے نه خپلو بندګانو ته ښودلی دی۔

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ إن الشيطان لكم عدو فاتخذوه عدوًا ﴾ [الفاطر : ٦]

(شیطان ستاسو دشمن دے نو په دشمنئ باندے ئے اونیسئ)۔

بعض علماؤ ته اووئیلے شو، مونږ به شیطان څنګه په دشمنئ اونیسو ؟ او دَ هغهٔ دَ شر نه به څنګه خلاص شو ؟ وے فرمائیل : یاد لره چه الله تعالیٰ دَ هر مؤمن دپاره **اووهٔ قلعے** پیدا کړی دی :

۱ - اوله قلعه دَ سرو زرو ده : او دا دَ الله معرفت دے۔

۲ – او دديے نه ګير چاپيره دَ سپينو زرو قلعه ده : او هغه په الله ايمان لرل دي۔
۳ – او دديے نه ګير چاپيره دَ اوسپنے قلعه ده : او هغه په الله توکل کول دي۔
٤ – او دديے نه ګير چاپيره دَ کاڼړي قلعه ده : او هغه شکر او دَ هغهٔ نه رضا کيدل دي۔
٥ – او دديے نه ګير چاپيره دَ کودونړي قلعه ده : او هغه امر بالمعروف او نهی عن المنکر او دديے اهتمام کول دي۔
٦ – او دديے نه ګير چاپيره دَ زمردو قلعه ده : او هغه صدق او اخلاص دے الله تعالىٰ ته۔
۷ – او دديے نه ګير چاپيره دَ لوندو ملغرو قلعه ده : او هغه دَ نفس ادب دے۔
نو مؤمن سريے په دے قلعو کښې دننه دے، او ابليس دديے نه اخوا داسے غپيږي لکه څنګه چه سپے غپيږي۔ مؤمن په دهٔ باندے هيڅ باك نهٔ کوي، ځکه چه دهٔ په دے قلعو کښې ځان محفوظ ساتلے دے۔ او مؤمن له مناسب دي چه په خپلو ټولو احوالو کښې دَ نفس ادب پريے نهٔ ږدي اونهٔ دا معمولي اوګڼړي۔ ځکه څوك چه دَ نفس ادب پريږدي او دا معمولے اوګڼړي نو بيا دے رسوا کيږي، ځکه دهٔ دَ الله سبحانه وتعالىٰ سره ښائسته ادب پريښودلو۔
او ابليس هميشه ددهٔ په تاك کښې ناست وي او ددهٔ نه طمع لري او دهٔ ته راتلل کوي تردے چه ددهٔ نه ټولے قلعے اونيسي او کفر ته ئے – والعياذ بالله – واپس کړي۔
او شيطان کله په ځينے قلعو باندے قبضه واچوي او انسان فسق يا دَ ايمان کمزورئ ته واپس کړي۔
زهٔ وايم : يوه بله قلعه هم شته او هغه :
۸ – قلعه ده : الله تعالىٰ پورے دَ پناه نيولو، هغهٔ ته دَ زارئ کولو، په هغهٔ باندے توکل کولو۔ او دا يوه ډيره مهمه قلعه ده لکه مخکښې تير شو۔
دارنګه کله چه دَ انسان سره دوه کاملے قلعے وي نو شيطان په دهٔ باندے تسلط نشي کولے دَ الله په توفيق سره : او هغه دوه قلعے دادي :
۱ – صحيح ايمان۔
۲ – کامل توکل۔
او همدے ته قرآن کريم کښې په خپل دے قول سره اشاره کړے :
﴿ إنه ليس له سلطان على الذين آمنوا وعلى ربهم يتوكلون إنما سلطانه على الذين يتولونه والذين هم به مشركون ﴾ [النحل : ۹۹، ۱۰۰]
(دَ ابليس دپاره په ايمان والو او په خپل رب باندے دَ توکل کونکو باندے هيڅ غلبه نشته،

دده غلبه خو صرف په هغه خلقو ده چه دوستي ورسره کوي او په هغه خلقو چه دوئ الله سره شرك کونکي دي)۔
او دَ ايمان په قلعه کښې مذکوره تولے قلعے داخلے دي، ځکه قرآن کښې چه کوم مطلق ايمان ذکر شي، نو دَ هغے نه کامل ايمان مراد وي۔
دا وجه ده، الله سبحانه وتعالىٰ دا ايمان په قرآن کريم کښې بار بار تکراروي۔
(انظر حياة الحيوان للدميري : ١/٣٠٠).
او دا خبره په اول جلد (١/٢٠٧) کښې مجمل طور سره تيره شويده۔
نو ادب النفس هغه اولنئ دروازه ده چه شيطان ددے نه داخليږي، نو تاله پکار دي چه په دے کښې څوکئ اوکړے۔
او څه نورے مهمے قلعے هم شته۔ لکه ګناهونه پريخودل، قرآن کريم کښې سوچ کول۔ دَ ايمان دَ قوت اسباب۔ او دا شل اسباب دي، لکه په اولني جلد کښې تير شوي دي۔ نو دا تولے دَ الله تعالىٰ په توفيق سره مضبوطے قلعے دي۔



۱۹ - فائده او حکمت

په عبادت کښې خوند، په طاعت کښې رنړا او دَ نیك عمل میوه او نتیجه

کله چه تهٔ غواړے چه په خپل عبادت کښې خوند او په خپل طاعت کښې رنړا او دَ نیك عمل میوه او نتیجه بیامومے: نو تاله یو څو کارونه ضرور ګکار دی:

۱ - اول: دا چه تهٔ دَ ټولو بدو خویونو او قبیحو صفتونو - لکه دروغو، چغلئ، بخل، حرص، امیدونو، ډیرو خبرو، تادئ، بے وقارئ، بے آرامئ، کنجوسئ، کبر، خود پسندئ، ریاء حسد وغیره بدو صفتونو - نه خپل نفس اوساتے، او ددے نه رشتینے توبه اوباسے، او خپل نفس دَ بدو اخلاقو نه په ساتلو باندے عادت کړے۔ او بیا:

۲ - په مانځه، ذکر، تلاوت، حج او عمرے، روژے او صدقے وغیره سره دَ الله عز وجل عبادت کوے۔

۳ - او دے سره سره په خپل ظاهر او باطن دواړو کښې دَ سنتِ نبویه لحاظ ساتے: نو ان شاء الله چه تهٔ به یو عجیب کیفیت بیامومے۔

او دے خبرو ته په دے قول دَ الله تعالیٰ کښې اشاره ده۔

﴿ قد أفلح من تزكىٰ وذكر اسم ربه فصلىٰ ﴾ [الأعلى: ١٤، ١٥]

(بیشکه هغه څوك کامیاب شو چه هغهٔ خپل ځان پاك کړو او دَ خپل رب نوم ئے واخستهٔ او مونځ ئے اوکړو)۔

او فرمائی: ﴿ إنما تنذر الذين يخشون ربهم بالغيب وأقاموا الصلاة ومن تزكى فإنما يتزكى لنفسه ﴾[الفاطر: ١٨] (بیشکه ستا ویرول خو هغه چاته فائده ورکوی چه هغوئ دَ خپل رب نه یره کوی او دَ مانځه پابندی کوی۔ او څوك چه خپل ځان پاکوی نو دَ هغے دَ پاکئ فائده به ددهٔ نفس ته وی)۔

او فرمائی: ﴿ قد أفلح من زكاها ﴾ [الشمس: ٩]

(بیشکه هغه څوك کامیاب شو چا چه نفس پاك کړو)۔

او په دې څیزونو باندې عمل کول صرف هغه چا دپاره ممکن دی چه هغه په دنیا باندې آخرت له ترجیح ورکوي، او دَ رحمٰن ذات نه په غیبو باندې یریږي.
او څوك چه دَ آخرت نه اعراض کوي او په دې باندې دنیوي ژوند غوره کوي او دَ الله نه خشیت نهٔ کوي، نو هغه په دې کارونو باندې عمل خو پریده چه دا پیژندلې هم نشي.
والله المستعان، ولا حول ولا قوة إلا الله. (١٤٢٧/٢٥).



۲۰ - فائده

دَ ښائسته اخلاقو بیان

اودا یو داسې مزیداره فائده ده چه په غوړونو، سترګو او زړونو تولو باندې ښه لګی او په دین او دنیا دواړو کښې فائده رسوی. او ددې منفعت واضح دې. په ایمان کښې فائده ورکوی او دَ هر انسان محبوبه ده. نو ددې مطالعه او ددې پیژندل او ددې مطابق خپل حال جوړول ضروری دی.

نو اول مونږ - د الله په توفیق سره - دَ ښائسته اخلاقو **فضائل** ذکر کوو، بیا ئې **ارکان** او بیا دَدې دَ **حاصلولو** طریقه ذکر کوو:

الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وإنك لعلىٰ خلق عظيم ﴾ [القلم: ٤]

(او بیشکه چه تهٔ د اخلاقو په یوه لویه اندازه باندې ئې).

نو دا یوه عظیمه مدح ده چه الله دَ خپل نبی ﷺ کړې ده. نو څوك چه په دې کښې دَ هغوئ تابعداری اوکړی نو هغهٔ ته به په دنیا او آخرت کښې ددې اخلاقو نه یوه لویه حصه ملاو شی.

او الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ خذ العفو وأمر بالعرف وأعرض عن الجاهلين ﴾ [اعراف: ۱۹۹]

(عفو باندې عمل کوه او دَ نیکئ حکم کوه او دَ ناپوهانو نه درګذر کوه).

علامه قرطبیؒ فرمائی: دا آیت دَ ښائسته اخلاقو ډیر زیات جمع کونکې دې، او تول قرآن په دې کښې پروت دې.

عائشه - رضی الله عنها - فرمائی: دَ نبی ﷺ خوئ قرآن وو. (مسلم).

او نبی ﷺ فرمائی: «زهٔ ددې دپاره رالیږلې شوې یم چه ښائسته اخلاق پوره کړم».

په بل روایت کښې دی: «نیك اخلاق پوره کړم». (الصحيحة، رقم: ٤٥، عن أبي هريرة).

او نبی ﷺ فرمائی: «په میزان کښې دَ تولو نه زیات درونده شې ښهٔ خوئ دې».

(الصحيحة رقم: ٨٧٦، عن أبي الدرداء رضي الله عنه).

ابن عمر ﷺ فرمائی: نبی ﷺ نه تپوس اوشو، دَ تولو نه زیات غوره څوك دې؟ وې فرمائیل: «هغه څوك چه په دوئ کښې زیات ښائسته اخلاقو والا وی».

(الصحيحة، رقم : ۱۸۲۷).

اسامة بن شريك ﷺ فرمائي : مونږ دَ نبي ﷺ سره ناست وو، ته به وائې چه زمونږ په سرونو بانديے مارغان وو، مونږ كښې هيڅوا خبرے نهٔ كولے. ناګهانه مونږ ته څهٔ خلق راغلل، او وئيلے : دَ الله په بندګانو كښې الله ته څوك ډير زيات خوښ دي ؟ نبي ﷺ اوفرمائيل : «په دوئ كښې دَ تولو نه زيات ښائسته اخلاقو والا».
(الطبراني، الصحيحة ٤٣٢).

ابو سعيد خدري ﷺ دَ رسول الله ﷺ ارشاد نقل كوي : « په مؤمنانو كښې كامل ايمان والا هغه څوك دي چه دَ هغوئ اخلاق دَ تولو نه ښائسته وي، نرمو اوګو والا وي، چه هغوئ دَ خلقو سره مينه كوي، او خلق دَ هغوئ سره مينه كوي، او په هغه چا كښې هيڅ خير نشته چه نهٔ بل سره مينه كوي او نهٔ دهٔ سره مينه كيدے شي ».
(الصحيحة، رقم : ۷۵۱).

ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « په تولو مؤمنانو كښې كامل ايمان والا هغه څوك دے چه دَ تولو نه ئے اخلاق ښائسته وي، او ستاسو كښې غوره هغه څوك دي چه هغوئ دَ خپلو ښځو دپاره غوره وي ».
(رواه أحمد والترمذي، كما في الصحيحة : ۲۸٤).

دَ ابن مسعود ﷺ په حديث كښې دي : » آيا تاسو ته دَ هغه چا په باره كښې خبر درنهٔ كړم چه په اور باندے حرام وي، او يا اور په دهٔ باندے حرام وي ؟ په هر هغه نزدے سرى باندے چه نرم او آساني كونكے وي ».
(رواه مسلم، كما في الصحيحة : ۹۳۸).

په حديث كښې دي : « په مؤمنانو كښې دَ ايمان په لحاظ كامل هغه څوك دے چه په دوئ كښې دَ تولو نه زيات ښائسته اخلاقو والا وي، او بيشكه ښائسته اخلاق دَ روژے او مونځ درجے ته رسول كوي ». (الصحيحة، رقم : ۱۵۹۰).

عائشه – رضى الله عنها – فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « يو سړے دَ خپلو ښائسته اخلاقو په وجه دَ هغه سړي مرتبه موندلے شي چه هغه توله شپه تهجد كونكے او هره ورځ روژه نيونكے وي ».

په بل روايت كښې دي : « دَ هغه چا درجه موندلے شي چه دَ شپے بے خوبه وي او په غرمه كښې تږے وي ». (أبو داود : ٤۷۹۸، ابن حبان : ۱۹۲۷، وغيرهما).

او صحابه كرامو ﷺ به دَ نبي ﷺ دَ اوداسهٔ نه پاتے اوبهٔ په خپلو ځانونو باندے راښكلے، نو نبي ﷺ ورته اوفرمائيل : دا كار ولے كوئ؟ هغوئ وئيلے : يا رسول الله! تاسو سره مينه كوو، كيدے شي چه الله تعالىٰ مونږ سره مينه اوكړي. نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل : «كه چرے تاسو دا غواړئ چه الله او دَ هغهٔ رسول تاسو سره مينه اوكړي، نو د درے خويونو خيال ساتئ. (۱) دَ رشتيا خبرو. (۲) دَ امانت اداء كولو. (۳) او دَ ښائسته گاوند. ځكه گاونډي له تكليف وركول داسے نيكئ ختموي لكه څنگه چه نمر په زمكه باندے نمي (لوندوالے) ختموي».

(رواه الخلعي في الفوائد والطبراني في الأوسط بإسناد صحيح، كما في السلسلة رقم : ۲۹۹۸.

جابر ﷺ نه روايت دے، رسول الله ﷺ او فرمائيل : پتاسو كښے د تولو نه ماته زيات محبوب او په قيامت كښے راته په مجلس كښے د تولو نه زيات نزدے هغه څوك دے چه پتاسو كښے د تولو نه ښه اخلاقو والا وي. او په تاسو كښے ماته د تولو نه زيات ناخوښ او د قيامت په ورځ راته ډير لرے هغه څوك دے چه قرتو، تكلف سره خبرے كونكے او د تكبر په وجه وخكو فراخولو سره خبرے كونكے وي. صحابوؓ عرض اوكړو : يا رسول الله! قرتو او تكلف سره خبرے كونكے خو مونږ پيژنو، ليكن دا متفيقهون څوك دي؟ وے فرمائيل : تكبر كونكي. (ترمذي، حسن).

(ثرثار : قرتو او تكلف سره خبرے كونكے. متشدق : خپل ځان فصيح او اعلىٰ خبرے كونكے ښودلو دپاره خلقو سره اوگدے خبرے كونكے. مُتفيهق : ددے اصل فهق دے، چه ددے معنىٰ ده : ډكونكے. دا هغه كس دے چه د خبرو كولو په وخت خوله ډكوي او په هغے كښے فراخي پيدا كوي، او په خلقو باندے د خپلے لويئ او پورته والي خودلو دپاره متكبرانه انداز سره عجيب او غريب خبرے كونكے – مترجم).

(رواه الترمذي بإسناد صحيح).

هانئ ﷺ نه روايت دے، دهٔ عرض اوكړو، اے دَ الله رسوله! كوم يو څيز جنت واجبوي؟ وے فرمائيل : «ښائسته خبرے لازمے اونيسه او خوراك خوروه».

(رواه ابن أبي الدنيا في الصمت وسنده صحيح).

ابو ذر ﷺ فرمائي : زهٔ دَ رسول الله ﷺ سره مخامخ شوم، نو وے فرمائيل : «اے ابو ذر! آيا زهٔ تاته يوه دوه خوئ اونهٔ ښايم چه هغه په شا باندے سپك او په ميزان كښ دَ هر يو څيز نه ډير درانهٔ دي؟ هغهٔ وئيلے : ولے نه يا رسول الله! وے فرمائيل : ښائسته اخلاق او

اوړده خاموشي راتينګ کړه. ځکه قسم په هغه ذات چه دَ هغهٔ په لاس کښ زما ساه ده ! هيڅ يو مخلوق ددے دواړو پشان عمل نهٔ دے ››.
(رواه أبو يعلىٰ وابن أبی الدنيا في الصمت بإسناد صحيح).

عائشه رضی الله عنها نه روايت دے : نبی کريم ﷺ ديته اوفرمائيل : ‹‹ بيشکه چاله چه خپله حصه نرمی ورکړے شوه، نو واقعی چه دهٔ ته خپله حصه دَ دنيا او آخرت خير ورکړے شو. او صله رحمی پالل او ښائسته اخلاق او ښائسته ګاونډتوب کورونه آبادوی او عمرونه زياتوی ››. (رواه أحمد وهو حديث صحيح).

ابو هريره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ نه تپوس اوشو، دا کوم يو څيز دے چه دَ هغے په وجه انسان جنت ته ډير داخليږی ؟ وے فرمائيل : ‹‹ الله نه يره او ښائسته اخلاق. او اکثر هغه څيزونه چه دَ هغے په وجه انسان جهنم ته ځی : خُله او شرمګاه ده ››.
(رواه الترمذی والإمام أحمد : ۲۶۱/۲، بإسناد صحيح).

عمرو بن حبيب، سعيد بن خالد ته اوفرمائيل : آيا تاته پته نشته چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی : ‹‹ هغه بنده نا اميده او تاوانی شو چه دَ هغهٔ په زړهٔ کښ الله تعالیٰ دَ انسانانو دپاره رحمت وانهٔ چولو ››. (رواه الدولابی کما في السلسلة : ٤٥٦).

او نبی ﷺ عائشے رضی الله عنها ته اوفرمائيل : ‹‹ نرمی کوه ځکه په کوم څيز کښ چه نرمی راشی نو هغه ورسره ښائسته کيږی، او دَ کوم شئ نه چه اوخکلے شی نو هغه عيبژن کوی ››. (رواه أبو داود بإسناد صحيح).

په حديث کښ دی : ‹‹ هيڅ يو خاندان ته نرمی نهٔ ده ورکړے شوے مګر هغوئ ته ئے نفع رسولے، او دَ هيڅ يو خاندان نه نرمی نهٔ ده منع شوے مګر هغوئ له ئے ضرر ورکړے ››.
(رواه الطبرانی في الکبير وهو في المشکاة : ۲، بلفظ قريب منه).

په حديث کښ دی : ‹‹ په هغه چا کښ هيڅ خير نشته چه هغه ميلمستيا نهٔ ورکوی ››.
(الصحيحة : ٢٤٣٤).

په حديث کښ دَ رسول الله ﷺ ارشاد دے : ‹‹ زهٔ دَ هغه چا دپاره دَ جنت په خوا اوشا کښ دَ کور ذمه وار يم چه هغهٔ جګړه پريخودله اګرکه په حقه هم وی. او دَ جنت په مينځ کښ دَ کور ذمه واريم دَ هغه چا دپاره چه هغهٔ دروغ پريخودل اګرکه په توقو کښ ولے نهٔ وی. او دَ جنت په اوچت طرف کښ دَ کور ذمه واريم دَ هغه چا دپاره چه دَ هغهٔ اخلاق ښهٔ وی ››.
(رواه أبو داود بإسناد صحيح عن أبی أمامة الباهلی رضی الله عنه.

په حديث کښې دي : «نيکي دَ ښائسته اخلاقو نوم دے او ګناه هغه شے دے چه ستا په سينه کښې تيره شي او ته بد اوګنړے چه خلق په هغے خبر شي».
(رواه مسلم مرفوعًا عن النواس بن سمعان رضي الله عنه).

ابودرداء ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : «دَ قيامت په ورځ دَ مؤمن په تله کښې هيڅ يو شے دَ ښائسته اخلاقو نه زيات درونډ نۀ دے، او بيشکه چه الله پوچ ګويه او بدګو انسان سره بُغض لري». (رواه أبو داود بإسناد صحيح).

احنف بن قيس فرمائي : آيا زۀ تاسو ته دَ ټولو مصيبتونو نه دَ غټ مصيبت په باره کښې خبر درنۀ کړم ؟ خلقو وئيلے : ولے نه۔ وے فرمائيل : پريوتے خوئے او فحش ګويه ژبه۔
(أدب الدنيا).

ابن قيم رحمه الله فرمائي : نبي کريم ﷺ دَ الله نه يره او ښائسته اخلاق يو ځائے ذکر کړي دي، ځکه تقوىٰ دَ الله او د بنده ترمينځه معامله سموي، او ښائسته اخلاق دَ بنده او دَ نورو خلقو ترمينځه معامله سموي۔ نو دَ تقوىٰ په وجه دۀ دپاره د الله محبت پيدا کيږي، او ښائسته اخلاق، خلقو ته دۀ دَ محبت دعوت ورکوي۔

زۀ وايم : دا دَ الله او دَ بنده ګانو دواړو محبوب وي، نو دۀ کار او دۀ حال به څومره ښۀ وي ؟ الله تعالىٰ دے په خپل فضل او مهربانۍ سره زمونږ نصيب کړي۔

دَ ښائسته اخلاقو ارکان او اجزاء :

دَ ښائسته اخلاقو يو څو ارکان دي :

۱ – ښيګړه خرچ کول۔ يعني دَ الله بندګانو ته نفع رسول۔

۲ – دَ دوئ نه ضرر دفع کول۔ چه نور مسلمانان دۀ دَ ژبے او لاس نه په امن وي۔

۳ – هر مؤمن سره په فراخه تندي مخامخ کيدل۔ نۀ مبتدع او فاجر سره۔

٤ – دَ خلقو تکليف برداشت کول او په دے باندے صبر کول۔

۵ – چه په دۀ کښې دَ ايمان عام خويونه او ځانګے موجودے وي۔ لکه صبر، شکر، بردباري، احسان، عبادت، خدمت، تواضع، وقار، سکينه، غصه وغيره نۀ کول۔

٦ – چه دا ټول کارونه صرف او صرف دَ الله دَ وجے نه کوي، نۀ خلقو ته دَ ځان ښودئ او دوئ دَ صفت دَ وجے نه۔ والله المستعان۔

علي رضي الله عنه فرمائي : ښائسته اخلاق په درے څيزونو کښې دي : (۱) حرامو څيزونو نه ډډه کول۔ (۲) حلال تالاش کول۔ (۳) او په بال بچ فراخي راوستل۔

(كما في الإحياء ونضرة النعيم : ٥٨٤/٥).

حسن بصريؒ فرمائي : ښائسته اخلاق : سخاوت، خرچ کول او برداشت کولو ته وائي۔
(جامع العلوم والحكم : ١٦٠).

عبد الله بن المبارکؒ فرمائي : ښائسته اخلاق، فراخ تندئ، ښيګړه ورکولو او ضرر بندولو ته وائي۔

دارنګه فرمائي : ښائسته اخلاق دادي چه دَ خلقو نه چه څهٔ تاته رسي هغه برداشت کړې۔

امام احمدؒ فرمائي : ښائسته اخلاق دادي چه تهٔ نهٔ غصه کوې او نه حسَد۔ (حواله بالا).

محمد بن نصرؒ فرمائي : بعضِ اهلِ علم فرمائي : ښائسته اخلاق، الله دپاره غصه خوړلو او دَ مبتدع او فاسق نه سيوا نورو مسلمانانو ته تندے فراخول، او دَ لغزش کونکو لغزش معاف کول، مګر دَ ادب دپاره او دَ حد قائمولو دپاره جدا خبره ده۔ دارنګه هر مسلمان او ذمي ته تکليف نهٔ ورکول، مګر دَ نهي عن المنکر په صورت کښ يا بغير دَ ستومانه کولو نه دَ چانه دِ مظلوم حق اخستل۔ (جامع العلوم والحكم : ١٦٠).

بعضِ بليغانو وئيلي دي : ښائسته اخلاقو والا هغه څوك دے چه دَ هغهٔ نفس په راحت کښ وي او خلق ترينه په سلامتيا کښ وي۔ او دَ بد خويه نه خلق په مصيبت کښ وي او دے په خپله مشقت کښ وي۔ (أدب الدنيا والدين، ص : ١٣٦).

★ **بعضِ علماؤ دَ ښائسته اخلاقو علامات داسے راجمع کړي دي چه :**

چه انسان ډيرے حياء والا وي، کم تکليف ورکولو والا، ډير صلاحيت والا، دَ ژبے رشتيني، کمو خبرو والا، ډير عمل والا، کم لغزش والا، کم بيهودګئ والا، نيك عمله، صله رحمي پالونکے، صبرناك، شکر کونکے، راضي، بردبار، نرم، پاکدامن، شفقت کونکے وي۔ نهٔ لعنت وېونکے وي، نهٔ کنځل کونکے، نهٔ چغلخور، نهٔ غيبت کونکے، نهٔ تادي کونکے، نهٔ کينه لرونکے، نه کنجوس او نهٔ حسَد کونکے وي۔ تر او تازه وي۔ الله دپاره محبت لري او الله دپاره بغض لري، الله دپاره خوشحاليږي او الله دپاره غصه کوي۔ نو داسے کس دَ ښائسته اخلاقو خاوند دے۔

(الزواجر، إحياء العلوم، نضرة النعيم).

زهٔ وايم : دَ ښائسته اخلاقو علامه داده چه کله تهٔ دَ خلقو نه غائب شے يا ترے بل ښار ته لاړ شے نو هغوئ پتا پسے ژاړي، او دا آرزو لري چه کاش تهٔ دوئ سره پاتے وے !

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ فما بکت علیهم السماء والأرض ﴾ [دخان : ۲۹]
(نو په دوئ باندې آسمان او زمکې اونۀ ژړل)۔
په حدیث کښې دی : « دَ هر مؤمن دپاره دوه دروازې وی، دَ یوې دروازې نه دَدۀ عملونه خیژی۔ او دَ بلې دروازې نه دۀ له رزق راځی۔ نو کله چه مؤمن مړ شی نو دغه دواړه دروازې پرې ژاړی۔ لکه دَ الله تعالیٰ په دې قول کښې دی : ﴿ فما بکت علیهم السماء والأرض ﴾ »۔
(ترمذی، مشکاة : ۱/۱۵۱)۔

زۀ وایم : دَ ښائسته اخلاقو بله نښه داده چه دَ نصیحت او خیر خواهئ نه علاوه په هیڅ مسلمان باندې عیب اونۀ وائی۔ او دَ هیچا سره حسَد اونۀ کړی۔ ځکه دَ مسلمان په تحقیر کولو کښې لوئې شر دې۔ او هیچا پورې توقې اونۀ کړی اونۀ ورپورې مسخرې اوکړی۔ اونۀ په چا پسې شا عیب اووائی اونۀ ښکاره، نۀ چغې او سورې وهونکې وی۔ بلکه ښائسته ادب والا وی۔

امام قزوینی رحمه الله په مختصر شعب الایمان (ص : ۱۱۶) کښې فرمائی :
دَ ښائسته اخلاقو مطلب : په ډیر نرم او قابلِ مدح کارونو باندې دَ نفس سلامتیا۔ او کله دا دَ الله دَ ذات په باره کښې وی۔ اوکله دَ خلقو ترمینځه وی۔ دَ الله دَ ذات سره چه متعلق وی نو دادی چه بنده دَ الله په امر او نهی سره خپله سینه فراخه کړی۔ دَ الله اوامر دَ نفس په خوشحالئ سره کوی او هغې طرفته په روانئ سره ورځی۔ او الله چه څۀ حرام کړی وی، هغې نه په خوشحالئ سره بندیږی نۀ په تنګسیا سره، او دَ خیر او نفلو په زیاتولو کښې رغبت لری او دَ الله دَ مخه ډیر جائز کارونه پریدی هر کله چه دۀ دا ګمان وی چه ددې دَ کولو په نسبت ددې پریخودل عبادت ته زیات نزدې وی۔ اودا کار په خوشحالئ سره کوی، ددې نه تنګیږی نۀ۔

او هرچه دَ خلقو په معاملاتو کښې : نو هغه دا چه دَ خپلو حقونو په باره کښې سَخا کونکې وی، خلقو نه دَ هغې مطالبه نۀ کوی، او په دۀ باندې چه کوم واجب حقونه وی نو هغه پوره کوی۔ نو که بیمار شی او چائې تپوس اونۀ کړو، یا دَ سفر نه راشی او چائې ملاقات اونۀ کړو، او ئې سلام واچولو او چا ورله جواب ورنۀ کړو، او یائې خبرې اوکړې او چا ورته غوږ کینۀ خود، او یا میلمه شو او چائې اکرام اونۀ کړو، او یائې اجازت اوغوښتۀ او اجازت ورته اونشو، او یائې چا ته دَ نکاح پیغام اولیږلو او هغه قبول نشو، او یائې قرض روستو کول اوغوښتل نو قرض ورته روستو نشو، او یائې دَ هغۀ نه دَ کموالی مطالبه اوکړه خو هغۀ کم

نهٔ کړو، او داسې نور کارونه شو، نو په دې تولو کارونو باندې غصه نشو اونهٔ ئې چاله سزا ورکړه او نهٔ ددهٔ په حالت کښې څهٔ بدلون او تغیر راغې اونهٔ په خپل نفس کښې دا محسوسه کړې چه ګنې په دهٔ ظلم او وحشت اوکړې شو۔ اونهٔ ئې په زړهٔ کښې دا راغلل چه که موقع مونډهٔ کړې نو ددې پشان کارونه به دې هم کوی۔ بلکه په زړهٔ کښې ئې دا راشی چه دا هيڅ خبره نهٔ ده او ددې په ځائې به ددې نه ښهٔ او نيکئ او تقویٰ ته ډير نزدې او افضل کارونه کوم۔ او بیا هغه حقونه هم پوره کوی کوم چه ددهٔ په ذمه وی۔

نو کله چه ددهٔ مسلمان ورور بيمار شی نو دَ هغهٔ بيمار پښتنه کوی، اوکه هغه ورله په شفارس کښې راشی نو شفارس ئې قبلوی اوکه ددهٔ نه دَ قرض روسته کولو مطالبه اوکړی نو پوره کوی ئې او که څهٔ مدد ته محتاج وی نو ورسره کوی ئې، اوکه په يوه سودا کښې ورسره چشم پوشی کول اوغواړی نو چشم پوشی کوی۔ او دې خبرې ته نهٔ ګوری چه مخکښې دهٔ ما سره څنګه معامله کړې، بلکه دَ تولو نه په ښې خبرې باندې عمل کوی او هغهٔ دَ خپل ځان دپاره پیشوا ګرځوی۔ (نضرة النعيم : ۱۵۷۱/۱).

ماوردیؒ فرمائی : ښهٔ خوئې والا هغه څوك دې چه هغه نرم خويه، نرم اړخې، فراخ تندې، کم نفرت کونکې او پاکيزه خبرې والا وی۔

(أدب الدنیا و الدین، ص : ۲۳۷).

امام ابن قيمؒ په تهذيب السنن (۳/ ۱۳۰) کښې ذکر کړی چه بعضِ علماؤ وئيلی : ښائسته اخلاق په دوه قِسمه دی :

يو دَ الله عزّوجل سره : او هغه دا چه تهٔ دا اوپيژنې چه ستا دَ طرفه څهٔ کيږی نو هغه تول دَ عذر بيانولو قابل دی، او دَ الله دَ طرفه چه هر يو څيز کيږی نو هغه شکر لازموی۔ نو تهٔ هميشه دَ هغهٔ شکرکونکې او هغهٔ ته عذر کونکې، هغهٔ طرفته ورتلونکې، دَ هغهٔ فضل او احسان کتونکې او دَ خپل نفس او اعمالو عيب ليدونکې ئې۔

دويم : ښائسته اخلاق دَ خلقو سره : ددې خلاصه دوه خبرې دی : يو په قول او عمل دواړه سره نيکی خورول۔ او بل په قول او عمل دواړو سره تکليف نهٔ ورکول۔ او دا په پنځه ارکانو باندې ولاړه ده : علم، سَخا، صبر، پاکيزګی او صحيح اسلام سره۔ او صحيح اسلام خو دَ هر ښهٔ خوئې صحيح کونکې دې، نو څومره چه دَ بنده ايمان قوی وی او دَ الله په وعده باندې ئې قوی تصديق وی نو په دهٔ باندې ددې تولو برداشت کول آسان وی۔ ملخصًا۔

بعضِ ارکان ئې دا هم دی : ادب، ښائسته وضع قطع، ښهٔ ګمان، ښائسته معامله، تواضع،

پاکیزه خبره، نظر ښکته کول، مینه محبت کول، نیکي کول، ښائسته سلوك کول، دَ بُغض او چغلئ، توقو، مسخرو، کړو خبرو، حسد، خیانت، تکئ، بدئ، بیهودګئ او کم عقلئ وغیره نه ځان ساتل.

پاتې شوه دَ ښائسته اخلاقو حاصلولو طریقه :

نو دا په یو څو کارونو سره دی :

۱ - اول مجاهده کول : ځکه څوك چه په یو شئ کښ فائده اووینی او بیا دَ هغې په حاصلولو کښ مجاهد نهٔ کوی نو هغهٔ ته یواځې په پیژندلو سره نهٔ حاصلیږی. ډیر خلق دا ګمان لری چه ددې صرف پیژندل به ددې په حاصلولو کښ کافی وی. حال دا چه معامله داسې نهٔ ده. ځکه دَ علم او حالت جوړولو ترمینځه ډیر فرق دې. والله المستعان.

۲ - دویم داچه : نرم زړې او انابت کونکې وی :

ځکه دَ انسان زړهٔ چه کله نرم شی نو اخلاق ئې ښهٔ کیږی. او کله چه سخت زړې وی نو بد اخلاقه وی. او زړهٔ په ذکر، دعاء، تلاوت، خِلوت، فکر او عبادت وغیره سره نرمیږی. نو ستا دَ زړهٔ نرمی به تا عظیمو اخلاقو او نیکو اعمالو ته راکاږی. کهٔ څوك په دې تجربه کول غواړی نو اودې کړی.

۳ - دریم : دَ ښائسته اخلاقو حاصلولو لویه ذریعه :

په ظاهر او باطن او خِلوت اوجلوت، په اقوالو، احوالو او اعمالو ټولو کښ دَ نبی ﷺ اتباع کول. ځکه نبی ﷺ په دې باره کښ لویه نمونه ده.

نو نبی ﷺ به دَ خپل ځان خدمت کولو، دَ خپل کور والو خدمت به ئې کولو، دَ وینځې او غلامانو دعوت به ئې قبلولو. معمولی شان هدیه به ئې هم قبلوله او نعمت به ئې غټ ګنړلو. اوکله به چه دَ مانځه وخت شو نو هغې طرفته به پاسیدهٔ او هر یو شې به ئې پریخودهٔ. او نبی ﷺ به خپلو بیبیانو سره ښیګړه کوله او دَ هُغوئ سره به ئې ښهٔ سلوك کولو او هغوئ ته به ئې معافی کوله.

او نبی ﷺ به ډیر ډیر مُسکې کیدلو، خو هیڅ کله ئې په برق برق نهٔ دی خندلی. او نهٔ ئې دَ خپل د مجلس ملګری مخامخ خپې خورې کړی. او کله به ئې چه چاچه سره مصافحه اوکړه نو تر څو پورې به چه هغه سړی لاس نهٔ وو راخکلې، نبی ﷺ به خپل لاس نهٔ راخکلو.

او نبی ﷺ به بیمار پښتنه کوله، جنازې ته به حاضریدلو او میلمنو له به ئې میلمستیا

ورکوله۔ او هغویٔ به دَ خپلو ملګرو او تولو خلقو سره دَ نرمیٔ او شفقت معامله کوله۔
او ډیر زیات به ئے دَ الله دَ ویرے نه ژړل۔ او کله به ئے چه خبرے کولے نو بندے بندے خبرے به ئے نهٔ کولے۔ او په ماشومانو به ئے سلام اچولو۔ او په سلام به ئے شروع کوله۔ او دَ هغویٔ خبرے جدا جدا وے، تادی به ئے نهٔ کوله۔ او هغویٔ ډیر پاك او صفا وو۔
او ډیر زیات عبادت به ئے کولو، اودَ الله په باره کښې به ئے دَ هیڅ یو ملامتګر ملامتیا له اعتبار نهٔ ورکولو۔او هغویٔ (ﷺ) به ماشومان سره مزاح کول۔ او هغویٔ به خلقو له ډیر ښائسته تعلیم ورکولو، نهٔ به غصه کیدلو او نهٔ به ئے څوك رټلو، اونهٔ بے حیاء وو، اونهٔ پوچ ګویه اونهٔ سختی کونکے۔
او په هغویٔ باندے به چه کله ماشوم متیازے اوکړے نو نهٔ به غصه کیدهٔ او نهٔ به ئے دَ هغهٔ نه نفرت کولو، بلکه درګذر به ئے کولو۔
او هغویٔ به هدیه قبلوله او دَ هغے عوض به ئے ورکولو، او خپل امت ته ئے هم حکم کړے چه کله دویٔ دَ هدیئے بدله بیانهٔ مومی نو هدیه کونکی له دِے دعاء غواړی۔
او هغویٔ به چه کله په څهٔ وجه هدیه رد کړه نو دَ هغے عذر به ئے پیش کولو او سائل به ئے دغسے نهٔ واپس کولو۔
انس ﷺ فرمائی : ما دَ نبی ﷺ لس کاله خدمت اوکړو، لیکن ماته هغویٔ اُف قدرے نهٔ دے کړے۔ اونهٔ ئے دَ یو شئ په باره کښې چه مابه کړے وو، دا فرمائیلی چه دا دے ولے نهٔ دے کړے، اونهٔ ئے دَ یو شئ په باره کښې چه مابه کړے وو، دا وئیلی چه دادے ولے پریښے ؟
او هغویٔ به خپل اولاد ښکلول۔ او هغویٔ دَ پیغلے جینئ نه هم زیات شرمیدلو۔ او کله به ئے چه یو څیز اولیدلو چه بد به ئے ګڼړلو، نو دَ هغویٔ په مخ کښې به اثر اوشو۔ او هغویٔ به هیڅوك ښکاره نهٔ ملامته کولو، مګر کم کوز دَ مصلحت دَ وجے نه۔
یو ځل یو بانده چی په تیزه راخکلو نو هغویٔ ورته اوخندل او هغهٔ له ئے دَ څهٔ ورکولو حکم اوکړو۔ او هغویٔ هیڅ کله په خوراك کښې عیب نهٔ دے وئیلے۔ که زړهٔ به ئے ورته کیدلو نو خوړلو به ئے اوکه نهٔ به کیدلو، نو پریخودلو به ئے۔
او هغویٔ به نهٔ خپلے بیبیانے وهلے اونهٔ ملګری او خادمان، مګر دَ الله په حدودو کښې۔
او هغویٔ به دَ خپل ځان دپاره بدله هم نهٔ اخستله۔ او کله به ئے چه چاته غوږ کیخودلو نو دَ هغهٔ نه به ئے سر نهٔ اړولو۔ او کله به ئے چه مزل کولو نو دَ سر ښکته کولو په حالت کښې به ئے روان وو۔ اوکله به ئے چه کتلے نو یو طرفته به ئے کتلے۔او هغویٔ په دنیا کښې بے

رغبته، ډیرے تواضع او خاموشۍ والا وو۔
او هغوئ ډیر وفاء دار وو، تردے چه دَ خدیجې ؓ ملګروته به ئې دَ هغې دَ مرګ نه روسته غوښه په هدیه کښې لیږله۔
او هغوئ (ﷺ) به خپل امت ته حکم کولو چه دوه کسان دے دَ دریم نه بغیر جرګه نهٔ کوی تردے چه تول دَ خلقو سره شریك شی۔ او هغوئ اشج عبد القیسؓ ته اوفرمائیل: په تاکښې دوه داسے خویونه دی چه الله ئې خوښوی: یو برد باری او بل استقامت۔ او هغوئ فرمائیلی دی: هیڅوك دِ ئې په بل چا فخر نهٔ کوی اونهٔ دے څوك په چا زیاتے کوی، او هغوئ دَ نیك ملګری سره دَ ناستے ترغیب ورکړے او دَ بد ملګری دَ ناستے نه ئې منع فرمائیلے۔
او هغوئ به دَ الله تعالیٰ په دے قول کښې فرمائیل:
﴿ خذ العفو وأمر بالعرف وأعرض عن الجاهلين ﴾ [اعراف : ۱۹۹]
یعنی چه څوك دِرسره تعلق پریکوی هغهٔ سره تعلق ساته، او څوك چه درباندے ظلم اوکړی هغهٔ معاف کړه، او څوك چه دے محرومه کړی هغهٔ له څهٔ ورکړه۔
او هغوئ به صله رحمی پالله، بوجونه به ئې پورته کول، په آسمانی آفتونو کښې به ئې دَ خلقو سره مدد کولو، نیستمند له به ئې کار کسب جوړولو او میلمه له به ئې میلمستیا ورکوله۔ او هغوئ به دَ نرمۍ او آسانۍ حکم کولو، او دَ پوچ ګویۍ، سختۍ او ترولو نه به ئې منع فرمائیله۔ او هغوئ به دَ نیك اعمالو ترغیب ورکولو او دَ شر نه به ئې منع فرمائیله او ددے نه د منع کیدلو ترغیب به ئې ورکولو۔ او دَ تولو نه بهتر عمل ئې دا ګرځولے دے چه یو مسلمان خوشحاله کړے شی۔
او هغوئ به په تهولو ښائسته اخلاقو باندے حکم کولو۔ او هغوئ دَ تولو ښائسته اخلاقو سرچشمه وه، او دَ هغوئ سنت دَ تهولو ښائسته اخلاقو ذمه اخستے ده۔
نو څوك چه غواړی چه ښائسته اخلاقو والا جوړ شی نو هغهٔ له پکار دی چه په سفر او حضر کښې، په ولاړه او ناسته او روانه، په اقوالو او افعالو، حرکاتو او سکناتو، وقار اوسکینه، علم او حلم، ظاهری او باطنی تولو صفاتو کښې دَ هغهٔ دَ سنت تابعداری اوکړی۔
٤ - او دا تهولے خبرے ممکنے نهٔ دی مګر دَ الله عز وجل په مدد سره۔ نو تاله مناسب دی چه خپل خالق ته دَ ښائسته اخلاقو په حاصلولو کښې التجاء او دعاء اوکړے۔ ځکه چه دا ډیره مهمه ده۔ اے الله! زهٔ پتا سره دَ بدبختیا، منافقت او بدو اخلاقو نه پناه غواړم۔ اے الله!

زۀ پتا پورے دَ خرابو اخلاقو، اعمالو او خواهشاتو نه پناه غوارم۔
اے الله ! مونږ تـه دَ ښائسته اعمالو او ښائسته اخلاقو رهنمائی اوکړے، ښائسته کارونه صرف تۀ خلقو ته ښائے۔ او مونږ دَ خرابو اعمالو او بدو اخلاقو نه بچ کړے، ددے نه بچ کول صرف تۀ کوے۔ اے الله ! دا خو لیکل دی، مونږ تانه په دے باندے موصوف کیدل غوارم۔

۵ – او دلتـه یو بل څیز هم دَ اخلاقو ښۀ کولو دپاره په حدیثو کښ ذکر دے۔ دے دپاره چه تـانـه کـوم مسلمان ورور ستا په تادئ سره خفه نشی، او هغه دا چه : تۀ دَ غم او خفگان یا دَ سختے ستـو مانتیا یا غصے یا په یو څیز کښ دَ ډیر فکر او سوچ کولو په حالت کښ هیڅا سره مـۀ مـلاویـږه۔ ځـکـه چه تۀ په دے حالتونو کښ چا سره ملاؤ شے، نو کیدے شی چه غیر مناسب خبره دے دَ خُلے نه اوخیژے، او یا غصه شے او تندے تریو کړے۔

او نبی ﷺ بـه چـه کـلـه دَ سفـر نه راغے نو دَ مدینے نه بهر نزدے به ئے شپه تیره کړه، دے دپاره چـه خپـل ښـار تـه پـه آرام سره ننوځی۔ او کله به چه هغوئ (ﷺ) خپلو بیبیانو ته غـصه شو، نو هیڅاته به ئے دَ دننه راتلو اجازت نۀ کولو۔ او نبی ﷺ یو ځل خپلو بیبیانو تـه غـصه شوے وو، نو په دے کښ عمر – رضی الله عنه -- اجازت اوغوښتلو، نو هغۀ ته ئے اجـازت ورنـۀ کـړو مگر دَ درے ځلو نه روستو۔ او هغوئ به چه کله چاته په جلتئ کښ څۀ سـختـه خبـره اوکـړه، نـو ددے نـه فـورًا روستـه بـه ئے دَ هغۀ سره احسان کولو۔ او کله به چه هـغـوئ چـاتـه غـصـه شـو، نـو دَ هغۀ نه به پاسیدۀ، لکه یو ځل دَ ابو بکر رضی الله عنه نه پـاسیـدۀ۔ دارنـگـه چـه غـصـه بـه شو، نو خاموش به شو، تردے چه دَ هغوئ په مخ کښ به غـصـه ښکاره شوه۔ او په دے باره کښ هغوئ خپل امت ته دَ اعوذ بالله وئیلو وغیره تعلیم ورکـړے۔ او دا ډیـره ضـروری خبـره ده چـه دَ غم او خفگان او غصے په وخت چاسره ملاقات اونۀ کړے شی۔ په دے خبرو باندے فکر او سوچ کول پکار دی۔



۲۱ - فائده

دَ حق پیژندلو او دَدے دَ پټ پاتے کیدلو اسباب

حق لکه دَ نمر غوندے واضح دے، او ددے باوجود کله په ډیرو خلقو باندے پټ پاتے کیږی، نو ددے څهٔ سبب دے ؟ دارنګه حق تالاش کول دَ انسان دپاره ضروری دی، ګنے په باطل کښ به پریوځی او دنیا او آخرت به ئے تباه شی۔

ابو بکر صدیق ﷺ فرمائی : « دَ چا دَ عملونو تلے چه دَ قیامت په ورځ درنیږی نو دا په دے وجه درنیږی چه دویٔ دَ حق تابعداری کړیده، او په کومه تله کښ چه حق کیخودے شی، نو هغے دپاره لائق دی چه هغه درنه شی۔ او دَ چا دَ عملونو تلے چه سپکے شوے، نو دا په دے وجه چه دویٔ دَ باطل تابعداری کړیده، او په کومه تله کښ چه باطل واچولے شی، هغے دپاره لائق دی چه هغه سپکه شی »۔

(ذکره البغوی فی معالم التنزیل فی سورة الاعراف : ۷).

او دَ الله تعالیٰ په ټولو نعمتونو کښ په انسان باندے بهترین نعمت دادے چه ددهٔ په طبیعت کښ عدل او ددے محبت، او حق او ددے غوره کول واچوی۔ لکه چه دا خبره علامه ابن حزمؒ په مداواة النفوس ص : ۳۱ کښ کړیده۔

دَ حق پیژندلو طریقه :

داده چه انسان اولنی فطرت ته رجوع اوکړی څکه چه دا دَ حق سره موافق وی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ فطرة الله التی فطر الناس علیها لا تبدیل لخلق الله ذلك الدین القیم ﴾ [روم ۳۰]

(دَ الله هغه فطرت چه خلق ئے په دے باندے پیدا کړی دی، دَ الله د پیدائش دپاره هیڅ بدلون نشته، همدا نیغ دین دے)۔

علماء فرمائی : نفسونه چه کله په فطرت باندے پاتے وی نو دا دَ حق نه علاوه بل شے نهٔ طلب کوی او حق واضح دے هیڅ پټوالے پکښ نشته۔

معاذ بن جبل – رضی الله عنه – فرمائی : دَ حق دپاسه رڼړا وی۔

(رواه الحاکم : ٤/٤٦٠).

شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ فرمائی : حق په فطرتونو کښ محبوب څیز دے او دا ورته ډیر

خوښ دے او ډیر ورته قابلِ قدر او ډیر خوندور دے په نسبت سره هغه باطل ته چه دَ هغے هیڅ حقیقت نهٔ وی، ځکه فطرت نهٔ خوښوی مګر حق لره۔ او فطرت حق طلب کوی۔
الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ ربنا الذی أعطی کل شیٔ خلقه ثم هدی ﴾ [طه : ٥٠]
(زمونږ رب هغه ذات دے چه هر یو څیز ته ئے پیدائش ورکړو او بیائے ورته هدایت اوکړو)۔
دَ حق یوه طریقه دا هم ده چه الله ته انابت اوکړے شی۔ ﴿ وأن الله یهدی من ینیب ﴾.
(او الله هغه چاته هدایت کوی چه الله ته انابت او رجوع کوی)۔
دارنګه دَ حق پیژندلو دپاره یوه طریقه دا هم ده چه دَ حق معرفت دپاره د الله نه دعاء اوغوښتلے شی۔ دارنګه بله طریقه ئے دا هم ده چه: همیشه کتاب اوصحیح سنت ته رجوع اوکړے شی۔
★ او دَ حق دَ پیژندلو بله طریقه داده چه : دَ حق نه اړونکی څیزونه اوپیژندلے شی :
او دَ حق نه اړونکی څیزونه ډیر زیات دی، چه مونږ یو څو څیزونو ته اشاره کوو :

حق نه اړوونکی څیزونه

۱ - اول : جهل او ناپوهی :
او دا دَ حق نه دَ آوریدلو دپاره یو لوئے مصیبت دے۔ الله تعالیٰ فرمائی :
﴿ بل أکثرهم لا یعلمون الحق فهم معرضون ﴾.
(بلکه په دوئ کښ زیات خلق حق نهٔ پیژنی نو ځکه ترے اعراض کونکی دی)۔
نو څوك چه حق نهٔ پیژنی نو هغه دَ حق دُشمن وی۔ علماء فرمائی : باطل په هغه چا رائج کیږی چه هغهٔ ته دَ کتاب او سنت دَ نصوصو، او د صحابوٌ او سلفِ صالحینوٓ د اقوالو علم نهٔ وی اونهٔ ددے اهتمام کوی۔
شیخ الاسلامؒ فرمائی : تهٔ به هیڅوك بیانهٔ مومے چه هغه په بدعت کښ پریوتے وی، مګر په دے وجه چه هغهٔ به په علم او عمل دواړو کښ په اتباع دَ سنت کښ کوتاهی کړے وی۔ (شرح حدیث : لا یزنی الزانی، ص : ٣٥).
کنے څوك چه په سُنت باندے عالم وی او دَ هغے تابعدار وی نو دهٔ سره به داسے شے نهٔ وی چه هغه ئے بدعت طرفته راکاږی، ځکه په بدعت کښ هغه څوك پریوځی چه دَ سُنت نه

ناخبره وی۔
او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ بل کذبوا بمالم یحیطوا بعلمه ولما یأتهم تأویله ﴾.
(بلکه دوئ دَ هغه شئ تکذیب اوکړو چه هغه ئې په خپل علم کښې نهٔ دے راګیر کړے او تراوسه پورے دوئ ته دَ هغې انجام نهٔ دے راغلے)۔ (یونس : ۳۹).
او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ حتی إذا جاء وا قال أكذبتم بها ولم تحیطوا بها علما أماذا كنتم تعملون ﴾
(تردے چه دوئ راشی نو الله به اوفرمائی : آیا تاسو دیته دروغژن وئیلے وو او دا مو په خپل علم کښې نهٔ وو راګیر کړے، اوکه تاسو کوم عمل کولو)۔
بلکه سورتِ نمل ټول په دے دلالت کوی چه ناپوهی او بے علمی دَ حق نه اړونکے سبب او دَ باطل اختیارولو لویه ذریعه ده۔

۲ - دا عقیده لرل چه حق پټ او مشتبه دے :

ډیر خلق دا عقیده لری چه ګنے حق صرف مجتهد پیژنی او دوئ دَ مطلق اجتهاد دپاره ډیر شرطونه لګولی دی چه کیدے شی دغه شرطونه په ابو بکر او عمر - رضی الله عنهما - کښې هم موجود نهٔ وی۔ پاتے لا بل څوك۔ په دے وجه دوئ حق نهٔ پیژنی اونهٔ ئې تالاش کوی۔ سره ددے چه حق واضح دے او دَ اجتهاد ذرائع آسانے دی۔ خاصکر زمونږ په دے زمانه کښې۔
او همدے معنیٰ ته په دے قول دَ الله تعالیٰ کښې اشاره شوے : ﴿ وقالوا قلوبنا فی أكنةٍ مما تدعونا إلیه وفی آذاننا وقر ومن بیننا وبینك حجاب فاعمل إننا عاملون ﴾. (السجدة : ۵).
نو دا خبره کول چه حق یو پټ څیز دے، خلق ئې نهٔ پیژنی، دا دَ هغه مشرکانو وینا ده چه هغوئ دَ رسول الله ﷺ دَ ژبے نه په حق باندے پوهه شو او اقرارئې پرے کړے وو۔
او دا لکه دَ مقلدینو ددے خبرے پشان ده :
چه دوئ وائی : د کتاب او سنت پیژندل ډیر ګران دی، دا خو صرف او صرف مجتهد پیژنی۔ حال دا چه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ ولقد یسرنا القرآن للذکر ﴾ [القمر]
(یقیناً چه مونږ قرآن دَ نصیحت دپاره آسان کړیدے)۔
نو هر کله چه ګران شو نو بیا ددے نه به نصیحت څنګه واخستلے شی ؟ اصل خبره داده چه شیطان دا خلق دَ حق نه په دغه بے بنیاده شبهے سره بند کړی دی۔

۳ - دَ حق په تالاش کښې کوتاهی کول :

ډیر خلق دی چه په خپلو عقیدو او عملونو باندے خوشحاله وی، او کله دویٔ ته دَ مخالف قول معلوم هم شی لیکن په هغے باندے هیڅ باك اونهٔ کړی، او کله داسے هم اوشی چه دَ خپل مخالف دَ طرف نه ورته دا هم معلومه شی چه هغهٔ دهٔ ته گمراه وئیلے، خو ددے باوجود تحقیق او تدقیق نهٔ کوی۔

نو تحقیق نهٔ کول دَ حق نه دَ آوریدو سبب دے۔

الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ فإما يأتينكم منى هدىً فمن تبع هداى فلا يضل ولا يشقىٰ ومن اعرض عن ذكرى فإن له معيشةً ضنكًا ونحشره يوم القيامة أعمىٰ قال رب لم حشرتنى أعمى وقد كنتُ بصيرًا قال: كذلك أتتك آياتى فنسيتها وكذلك اليوم تنسىٰ ﴾ [طه: ۱۲٤ – ۱۲٦]

(نو که راشی تاسو ته زما دَ طرفه هدایت نو څوك چه زما دَ هدایت پسے روان شو نو نهٔ به گمراه شی او نهٔ به بدبخته، او چاچه زما دَ ذکر نه اعراض اوکړو نو دهٔ به ژوند تنگ وی او په قیامت کښې به ئے مونږ روند راپورته کړو، دے به وائی اے ربه! تازهٔ ولے روند راپورته کړم حال دا چه زهٔ خو لیدونکے ووم، الله به اوفرمائی: دغه شان تاته زما آیتونه راتلل او تا به هیرول (یعنی پریخودل) نو دغسے تهٔ هم په عذاب کښې پریخودلے کیږے)۔

ابن عباس – رضی الله عنهما – فرمائی: چاچه د الله کتاب اولوستلو او بیا دَ هغه څیز پسے روان شو کوم چه په دے کښې دے، نو الله به ورته دَ گمراهئ نه هدایت اوکړی او په آخرت کښې به بدبخته نشی۔

او الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ فتبينوا ﴾ [نساء: ۹٤] (نو تاسو تحقیق کوئ)۔

په حدیث کښې دی: « او چاچه ددے – قرآن – نه علاوه په بل یو شئ کښې هدایت طلب کړو، نو الله به ئے گمراه کړی »۔

شیخ الاسلامؒ فرمائی: په دے باب کښې چه عام خلق گمراه شوی دی نو په دے وجه چه دویٔ دَ حق په پیژندلو کښې کوتاهی کړے۔ نبی ﷺ په کوم څیز باندے راتگ کړے دَ هغے تابعداری ئے نهٔ ده کړے او هغه فکر او استدلال ئے پریښے دے کوم چه ددے معرفت طرفته رسونکے دے، نو هر کله چه دویٔ دَ الله دَ کتاب نه مخ واړولو نو گمراه شو۔

(درء تعارض العقل والنقل: ۱/ ٥٤)۔

صدیق حسن خانؒ فرمائی: حق صرف هغه څوك پیژنی چه پنځه صفتونه پکښې وی۔ (۱) لوئے څیز اخلاص دے۔ (۲) فهم (۳) انصاف (٤) او څلورم څیز چه دا ډیر کم موجودیږی او ډیر زیات نایاب دے او هغه: دَ حق په پیژندلو باندے حرص کول او دیته

سخت دعوت ورکول دی۔ آھ
نو تهٔ به یو یهودی یا نصرانی وینې چه حق به ورته ښکاره شي، دَ هغې باوجود به هم په خپل دلیل کښې فکر نهٔ کوی۔ دغه شان عام بدعت، گمراهئ او تقلید والا هم دی چه دوئ دَ حق تالاش نهٔ کوی او نهٔ ئې طلب کوی، اوکه طلب ئې اوکړی نو خامخا ئې مومی۔
الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ والذین جاهدوا فینا لنهدینهم سبلنا وإن الله لمع المحسنین ﴾ [عنکبوت]. (او هغه خلق چه زمونږ دپاره کوشش کوی نو خامخا به ورته مونږ لارے پرانیزو او الله خامخا دَ نیك عمله خلقو ملگرے دے)۔
نو په دے کښې عجیب اشارات دی۔
٤ - باطل پرستو خلقو نه یریدل :
دَ حق نه اړونکے دا سبب په ډیرو خلقو کښې موجود دے، ځکه په دوئ کښې ډیر خلق سره ددے چه حق پیژنی، دَ حق تابعداری نهٔ کوی، ځکه په خپلو ځانونو او مالونو او مرتبو باندے یریږی۔ او دا گمان لری چه اهلِ باطل به راته ردے بدے اووائی اویابه راسره جنگ او جګړه اوکړی۔
الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ الیوم یئس الذین کفروا من دینکم فلا تخشوهم واخشون ﴾ [مائده : ۳] (نو تاسو دَ خلقو نه مهٔ یریږئ بلکه مانه اویریږئ نن ورځ کافران خلق ستاسو دَ دین نه نا امیده شوی دی نو تاسو دَ دوئ نه مهٔ یریږئ، مانه اویریږئ)۔
او الله فرمائی: ﴿ فما آمن لموسیٰ إلا ذریة من قومه علی خوف من فرعون وملأهم أن یفتنهم ﴾. الآیة.(نو په موسیٰ باندے ایمان رانهٔ وړو مگر یو څو کسانو دَ هغهٔ د قوم نه، سره دُ ویرے دَ دوئ دَ فرعون او دَ هغهٔ دَ درباریانو نه چه دوئ به په فتنه کښې واچوی)۔
نو کله چه الله فرعون غرق کړو، نو دَ موسیٰ ﷺ په قوم کښې دَ حق تابعدار خلق زیات شو۔
دارنګه هرقل حق اوپیژندلو لیکن دَ رومیانو نه اویریدلو نو حق ئې پریخودلو۔
(کما فی البخاری : ۵/۱).
اوددے علاج : په رحمٰن او رحیم ذات باندے توکل کول دی۔ او دا یقین لرل چه الله ماسره په باطل کښې امداد کولو نو اوس چه زهٔ دَ هغهٔ په حق دین باندے ولاړ یم نو ولے به راسره مدد نهٔ کوی۔
لکه ښته په دے قول دَ الله تعالی کښې اشاره ده :

﴿ وقالوا إن نتبع الهدى نتخطف من أرضنا أولم نمكن لهم حرماً آمنًا ﴾ [قصص : ۵۷]
(او وئيلے دوئ : كه چرے مونږ ستا په تابعدارئ كښې حق قبول كړو نو مونږ به دَ خپلے دے زمكے نه اوتختولے شو، آيا مونږ دوئ دپاره حرم امن والا نۀ دے جوړ كړے)۔
يعنى سره دَ كفر دَ دوئ نه مونږ دوئ له امن او ميوے غلے وركړى، نو څنګه به دوئ له دا نۀ وركوم هر كله چه دوئ په ما او زما په رسول (ﷺ) ايمان اولرى ؟

۵ - دَ رياست او مرتبے او اوچتوالى سره مينه كول :

دا كار هم انسان دَ حق نه منع كوى۔ ډير مُليان، مشران او مالداره خلق به تۀ وينے چه دوئ دَ خپلے مشرئ ختميدو دَ ويرے نه حق ته غاړه نۀ ګدى۔
بلكه دَ حق خلاف كوى او حق سره بُغض كوى ځكه چه دا دَ هغوئ دَ خواهش خلاف وى۔ الله تعالىٰ فرمائى : ﴿ ولا تشتروا بآيتى ثمناً قليلا ﴾ [بقره : ۴۱]
(او تاسو زما دَ آيتونو په مقابله كښې دُنيا مۀ غوره كوئ)۔
او دا ځكه چه دَ بنى اسرائيلو مُليانو په خلقو باندے آرے مقرر كړے وے نو دوئ سره دا غم پيدا شو چه كه دوئ په محمد ﷺ باندے ايمان راوړى نو دغه څيزونه به ئے ختم شى۔
لكه چه دا خبره مفسرينو په دے آيت كښې ليكلے ده۔
او يهوديانو به دا وئيلے : كه مونږ په حق باندے ايمان راوړو، نو مونږ به لكئ (يعنى تابع) جوړ شو، روسته ددے نه چه مونږ مشران وو۔
او ابو جهل اوددۀ پشان نورو كافرانو دَ حق مخالفت صرف او صرف دَ رياست او مشرئ سره دَ مينے دَ وجے نه كولو۔
لكه دَ سيرت په كتابونو كښې راځى چه ابو جهل اووئيل : مونږ او (زمونږ تربوران) بنو هاشم مونږ دواړه دَ مقابلے دَ آسونو پشان وو۔ نو دوئ اووئيلے : په مونږ كښې نبى دے چه وحى ورته كيږى، نو ددے مقابله څوك كولے شى ؟ دے وجے نه مونږ په دۀ ايمان نۀ راوړو۔
حال دا چه دے جاهلانو ته دا معلومه نۀ وه چه رياست، مرتبه او اوچتوالے دا خو دَ حق په اتباع كښې دے۔

۶ - تقليد كول :

دَ ډيرو خلقو دَ حق او هدايت نه دَ اعراض دپاره سبب تقليد دے۔ بلكه عام كافران چه دَ حق نه محرومه دى نو دَ تقليد په وجه۔ او اكثر اهلِ مذاهب په خپلو عامو مسائلو كښے دَ همدے په وجه دَ حق نه محروم دى۔ لكه دا خبره دَ هغه چانه پټه نۀ ده چه هغه سوچ

اوکړي او دَ تعصب نه کار وانخلي۔
الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ بل قالوا انا وجدنا آبائنا علی أمة وإنا علی آثارهم مهتدون وكذلك ما أرسلنا من نذير إلا قال مترفوها إنا وجدنا آبائنا علی أمة وإنا علی آثارهم مقتدون ﴾.
(زخرف : ۲۲، ۲۳).
(بلکه دوئ اووئیل : مونږ خپل پلار نیکهٔ په یو دین موندلی دی او مونږ دَ دوئ په لاره باندې روانیدو سره هدایت موندونکي یو، او دغه شان مونږ په هیڅ یو کلي کښې هیڅ یو ویرونکے نهٔ دے لیږلے مګر دے مالدارو خلقو وئیلي دی چه مونږ خپل پلار نیکهٔ په یوه طریقه موندلی دی او مونږ دَ هغوئ پسے اقتداء کونکي یو)۔
نو دَ خپل پلار نیکهٔ تقلید ته ئے دَ هدایت نوم ورکړو۔ او په همدے وجه ئے حق پریخودلو نو الله په همدے وجه غرق او تباه کړل۔
او مقلد ته سلفو اِمّعه وئیلے دے۔ (یعني دَ یو کس دَ هرے خبرے التزام کونکے، یا هر چا خان)۔ او مقلد هم په تمامو مسائلو کښې دَ یو عالم دَ قول التزام کوی۔ او دا خبره یقیني ده چه دهٔ ورته دَ عصمت درجه ورکړه اودهٔ ته پته نشته۔ حال دا چه حق خو دَ رسول الله ﷺ سره ګرځي راګرځي۔ او مجتهد له خو خطاء او رسَا دواړه شته۔
ابن حزم رحمه الله فرمائي : مقلد په دے خوشحاله شو چه خپل عقل ئے تاواني کړو۔
شیخ الاسلام رحمه الله فرمائي : تقلید په انسان کښې کم عقل توب زیاتوی۔
(منهاج السنة : ۲۸۱/۵).
زهٔ وایم : مقلد تیارهٔ زړهٔ والا او دَ خپل بصیرت ړنړا ختمونکے وی۔ خپل ځان ئے په زوره جاهل کړے وی او حق ئے خپل شاته غورزولے وی۔
دَ ټولو نه زیات دَ حق نه اړونکے څیز : تقلید دے :
او څوك چه ددے تصدیق کول غواړي نو تجربه دے اوکړي او دَ احنافو متاخرینو کتابونه او دَ نصوصو تحریفات دے اوګوري، کوم چه دوئ دَ امام ابوحنیفهؒ دَ قول اوچتولو دپاره کړي دی۔ امام ابوحنیفهؒ دوئ ته په آخرت کښې نهٔ نفع رسولے شي اونهٔ ضرر۔
وزیر بن هبیرهؒ فرمائي : دَ شیطان په چالونو کښې یو چل دادے چه هغه معنوي طور سره بُوتان اودروي چه دَ هغے عبادت دَ الله نه سیوا کیږي، لکه یو سړی ته حق ښکاره شي او هغه وائي : دا زمونږ مذهب نهٔ دے۔ دا خبره دَ یو غټ امام دَ مذهب دَ وجے نه کوئ چه هغه ئے په حق باندے قادر کړیدے۔ (لوامع الأنوار : ۴۶۵/۲).

عبد القادر بن بدران الدمشقيؒ فرمائي : تقليد انسان دَ حق نه لرے کوی او باطل رائج کوی۔ (المدخل، ص : ٤٩٥).
دا خبره یاد لره چه یو تقلید دے او یو استعانت دے په فهم او علم دَ یو عالم باندے۔ دواړو کښې فرق دے خو مقلدين نهٔ پو هيږي۔

۷ - عُجب او خود پسندي (ځانته غره کیدل) :

او هغه دا چه سړے خپل ځان لوئے ګڼړي تردے چه دهٔ سره کوم حق دے په هغې خوشحاله وي، فخر کوی۔
الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ فلما جائتهم رسلهم بالبينت فرحوا بما عندهم من العلم وحاق بهم ما كانوا يستهزئون ﴾ [حم سجده : ۸۳] (هر کله چه دوئ ته دَ دوئ پيغمبرانو واضح دلائل راوړل نو دوئ خوشحاله شو په هغه علمونو باندے کوم چه د دوئ سره وو، او راګیر کړو دوئ لره هغه شئ کوم پورے چه دوئ توقے کولے)۔
په حديث کښې دي : « هر کله چه تهٔ خواهش اووینے چه دَ هغې تابعداری کیږي، او داسے بخل چه دَ هغې خبره منلے کیږي، او داسے دنيا چه هغې له ترجيح ورکړے کیږي، او دَ هر يو سړي چه کومه رائے ده هغه په هغې باندے خوشحاله اووینے، نو بيا تاله خاص دَ خپل ځان فکر کول پکار دي »۔
(أخرجه أبوداود والترمذی والحاكم وصححه ووافقه الذهبی).
فضيل بن عياضؒ فرمائي : که چرے يو مبتدع دَ الله کتاب او دَ نبی ﷺ سنت ته تواضع اوکړي نو خامخا به ددے دواړو تابعدار جوړ شي او بدعت به پريګدی۔ ليکن هغه په خپله رائے باندے خوشحاله دے نو ځکه دَ خپلے خود ساخته رائے پسے روان دے۔
(التذکرة فی الوعظ، ص : ۹۷).
ابن حِبان په روضة العقلاء کښې فرمائي : انسان هغه وخته پورے تکبر نهٔ کوی تر څو چه خپل ځانته غاوره شوے نهٔ وي او هغه ورته دَ نورو خلقو نه غوره نهٔ وي ښکاره شوے۔
ابن قيمؒ فرمائي : هر چه تکبر دے نو دا يو اثر دے دَ آثارو دَ خود پسندئ او دَ ظلم نه۔ چه دا دَيو داسے زړهٔ نه راوځي چه هغه دَ ناپو هئ او ظلم نه ډك شوے وي او دَ هغې نه عبوديت تلے وي۔ (الروح : ۲/۷۰۳).

۸ - تکبر : او دا دَ حق نه دَ آوريدلو لويه ذريعه ده، بلکه دَ حق سره چه څوك هم عناد لري نو هغه متکبره خلق وي۔ الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ ساصرف عن آياتي الذين يتكبرون في

الارض بغير الحق ﴾ [اعراف ١٤٦] (زر دے چه زۀ به دَ خپلو آيتونو دَ پوهے نه هغه څوك واړوم چه هغوئ په زمکه ناحقه تکبر کوی)۔۔۔۔نو دا دوئ عذاب شو۔
شيخ الاسلامؒ فرمائی : دا وجه ده، تۀ به يهود مومے چه هغوئ به په خپل باطل باندے ټينګ ولاړ وی، ځکه دَ هغوئ په نفسونو کښې کبر، حسَد او سختی پرته ده۔
(نقض المنطق، ص : ٣٧).
تكبر : خلق سپك ګنړلو او حق لـه ديکه ورکولو ته وائی۔ لکه دا تفسير دَ مسلم په روايت کښې دَ نبی ﷺ نه نقل دے۔
امام راغبؒ فرمائی : د خلقو دا خبره چه حق تريخ دے، نو دا دَ هغه چا په اعتبار سره تريخ دے چه هغۀ خپل نفس نۀ وی صفا کړے، او څوك چه کامل وی نو هغه حق خوږ او مزيدار شے ګنړی اګرکۀ دروند ولے نۀ وی۔
٩ - **حسَد** : او دا اولنئ ګناه ده چه په آسمان او زمکه کښې پرے دَ الله نافرمانی شويده۔
الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ أم يحسدون الناس على ما آتاهم الله ﴾ [نساء : ٥٤]
(آيا دوئ خلقو سره په هغه شئ حسَد کوی چه الله دوئ له ورکړے دے)۔
او فرمائی : ﴿ حسدًا من أنفسهم ﴾ [بقره : ١٠٩]
(دا کار دَ دوئ دَ نفسونو دَ حسد دَ وجے نه دے)۔
نو دا دَ يهودو مرض دے او ډير خلق دے اووژل۔
دَ سورتِ يوسف نه معلوميږی چه دا يو تباه کونکے بيماری ده چه حسدګر لـه هيڅ فائده نۀ ورکوی۔ او دا يو خراب خوئے دے او زياتره په طالب علمانو او علماءِ سوء کښې موجود وی۔
١٠ - **پارټيانے او تنظيمونه جوړول، او هغے طرفته خپل ځان منسوبول**
دا کار دَ حق نه اړول کوی، اوکه په بله پارټئ او تنظيم کښې حق وی نو هغه نۀ منی، يا پکښې تاويل کوی او يا ورته منسوخ وائی۔
دَ پارټئ بازئ خراب آثار دی چه مونږ په خلقو کښې دَ هغے تجربه کړيده او په هغے باندے مو بار بار رد کړے۔ والحمد لله۔ دے دپاره اوګوره : فتاویٰ (الدين الخالص : ٦ جلد).
١١ - **ګناهونه** : دا هم دَ حق نه انسان بندوی۔ دَ ګناهونو او نافرمانيو سپيرۀ والے معلوم دے او په زړۀ باندے ددے غټ غټ ضررونه دی۔ ددے په وجه په زړۀ زنګ راځی، عقل، رائے او بصيرت کمزورے کوی۔ چه ددے خاوند بيا دَ حق دَ تصور نه ډير زيات لرے وی، پتے لا

داچه دَ هغې طلب او اراده اوکړي.
الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ کلا بل ران علی قلوبهم ما کانوا یکسبون ﴾ [مطففین: ١٤]
(هیڅ کله داسې نهٔ ده! بلکه دَ دوئ په زړونو باندې هغه ګناهونو زنګ راوستے دے کوم به چه دوئ کول).
او فرمائی: ﴿ أولم یهد للذین یرثون الأرض من بعد أهلها أن لو نشاء أصبناهم بذنوبهم ونطبع علی قلوبهم فهم لا یسمعون ﴾ [اعراف: ١٠٠]
(آیا نهٔ ده ښکاره شوې هغه خلقو ته چه زمکه دَ هغې دَ اهل نه روستو په میراث کښې وړي چه که مونږ اوغواړو نو دوئ ته به دَ دوئ دَ ګناهونو په وجه مصیبت اورسوو او دَ دوئ په زړونو به مُهر اولګوو نو بیا به دوئ هیڅ نهٔ آوري).
همدا وجه ده، تهٔ به یو سړے وینې چه هغه به په قِسما قِسم فنونو کښې ماهر وي او ددے باوجود به هم هغه دَ حق سره عناد لري! حال داچه هغه به دینی کتابونه او شرعی علمونه درس کړے وي، نو ددے څهٔ سبب کیدے شی؟ ددے سبب دادے چه ددهٔ په زړهٔ باندې ګناهونو، حسَد، تکبر او قسوت غلبه کړیده. والعیاذ بالله!
الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ فلما زاغو أزاغ الله قلوبهم ﴾ [صف: ٥]
(هر کله چه دوئ کاږهٔ شو نو الله دَ دوئ زړونه کاږهٔ کړل).

۱۴ - دَ هدایت غوختلو نه غفلت کول:

دَ ډیرو خلقو دَ ګمراهئ وجه داده چه دوئ په خپل ذکاوت (او هوښیارتیا) اعتماد کوي او داګمان کوي چه دوئ په هدایت باندې روان دي، نو دَ الله عز وجل نه دَ هدایت سوال نهٔ کوي نو ځکه ګمراه شوي دي.
الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وقالوا الحمد لله الذی هدانا لهذا ﴾ [اعراف: ٤٣]
(او وائی به جنتیان: ثناء ده هغه الله لره چه مونږه ئې دے ځائې ته را اورسولو).
او فرمائی: ﴿ إهدنا الصراط المستقیم ﴾ [فاتحه: ٦] (یا الله! مونږ ته سمه لاره اوښایه).
په حدیث کښې دي: « اے زما بندګانو! تاسو ټول ګمرهان ئې مګر هغه څوک چه زهٔ ورته هدایت اوکړم نو تاسو مانه هدایت غواړئ زهٔ به تاسو ته هدایت کوم».
او نبی ﷺ به دَ الله نه په تهجدو کښې هدایت غوښتلو، فرمائیل به ئې:
إهدنی لما اختلف فیه من الحق بإذنك.
(یا الله! په کومو څیزونو کښې چه دَ حق نه اختلاف شوے دے په هغې کښې په خپل

توفیق سره ماته هدایت اوکړې)۔
نو دَ حق طلبګار له پکار دی چه دَ هدایت ډیرې ډیرې دعاګانې غواړی۔
۱۳ - کله چه سړے خلقو ته دَ هدایت دعوت نهٔ ورکوی، نو خپله ترے محرومه شی، والعیاذ بالله۔ حال دا چه دَ علم او حق تبلیغ کول واجب دی۔
او دَ یهودیانو خوئے دا وو چه هغویٔ به په علم باندے بخل کولو۔
الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ الذين يبخلون ويأمرون الناس بالبخل ﴾ [نساء: ۳۷].
(دا هغه خلق دی چه خپله هم بخل کوی او خلقو ته هم دَ بخل کولو حکم کوی)۔
او فرمائی: ﴿ سيطوقون ما بخلوا به يوم القيامة ﴾ [آل عمران: ۱۸۰]
(زر دے چه دَ قیامت په ورځ به دویٔ ته په غاړه کښې هغه څیزونه واچولے شی په کوم باندے چه دویٔ بخل کړے وو)۔
عبد الله بن مبارکؒ فرمائی: چاچه په علم باندے بخل اوکړو، نو په درے مصیبتونو به ګرفتار شی۔ (۱) یا خو به مړ شی او علم به ئے ختم شی۔ (۲) او یا به ترے هیر شی۔ (۳) او یا به ترے دَ بادشاهانو درباری جوړ شی۔
(ډیره فائده منه خبره ده)۔
ابن قیمؒ فرمائی: چاچه خپل علم خزانه کړو او هغه ئے خور نهٔ کړو او نهٔ ئے چاته اوښودلو، نو الله تعالیٰ به ئے دَ هغے په هیرولو او دَ هغے په ختمولو سره ګرفتار کړی، او دا جزاء دَ جنس دَ عمل ددهٔ ده۔ او دا یوه داسے خبره ده چه حِس او وجود ددے ګواهی ورکوی، لکه څنګه چه بل چاته ورخودل او ددے خیر خواهی کول، ددهٔ دپاره دَ هدایت دروازه پرانیزی۔ څکه جزاء دَ جنس دَ عمل نه وی، نو دا به هادی او مهدی جوړ شی۔
۱٤ - په خبره کم پوهیدل او دَ هغے کم ادراک کول:
دا هم کله دَ حق نه انسان اړوی۔ امام راغبؒ فرمائی: کله چه دَ طلب کونکی عقل پوره نهٔ وی نو ددهٔ بصیرت به ړوند وی نو ددهٔ حکم او مرتبه دَ هغه سړی پشان ده چه دَ هغهٔ نظر ړوند وی، چه تللو طرفته ددهٔ هیڅ لاره نهٔ وی۔ (الذريعة، ص: ۲٦۳).
او خلق په خپل مینځ کښې په پوهه کښې دَ یو بل نه فرق لري۔
علی رضی الله عنه فرمائی: « مونږ سره هیڅ خاص شے نشته، مګر هغه پوهه چه یو سړی ته دَ الله په کتاب کښې ورکړے شی »۔
او نبی ﷺ فرمائی: « اے الله! دهٔ ته - یعنی ابن عباسؓ ته - دَ کتاب او سنت علم

ورکړې»۔

اويو ځل نبي ﷺ دَ يو بنده تذکره اوکړه چه هغهٔ ته دَ الله او دَ آخرت ترمينځه اختيار ورکړے شو، نو هغهٔ هغه شے غوره کړو کوم چه دَ الله سره دے۔ نو په دے خبره ابو بکر صديق رضی الله عنه په ژړا شو۔ او ابو بکر په مونږ کښې دَ ټولو نه زيات پو هه وو۔

(رواه البخاري بمعناه).

سوال: ډير زيرکه خلق شته چه سمه لارئے خطاء کړے او دَ حق نه جدا شوی او دَ باطل التزام ئے کړے، نو ددے راز څهٔ دے؟

جواب: دوئ په داسے لاره تلی دی چه هغه مقصد ته رسوونکے نهٔ ده، او دَ دوئ باطن په خباثت، عناد او تکبر باندے مشتمل دے، چه دَ دوئ او دَ حق موندلو ترمينځه رکاوټ واقع شويدے۔

دَ محضِ علم او دَ هدايت موندلو ترمينځه فرق دے۔ ډير علم والا شته چه هغوئ ته هدايت نهٔ وی شوے، ځکه هدايت دَ الله په لاس کښې دے چاته چه ئے خوښه شی ورکوی ئے۔

۱۵ - ماحول عادت او آموخت:

دا هم انسان دَ حق نه اړوی، ځکه ډير خلق دی چه هغوئ دَ هغه عقيدو اعتقاد لری کوم اعتقاد چه دَ دوئ کلی او ماحول والا لری او دَ هغه شئ نه متاثره وی په کوم باندے چه ددهٔ قوم ولاړ وی۔ او دَ خلقو مثال لکه دَ مارغانو دَ سيل دے چه ځينے ځينو نورو پسے روان وی۔ بلقيس - چه دَ مملکتِ سبأ بادشاهنړه وه - دَ عقل او رائے والا ښځه وه، او ددے باوجود ئے دَ خپل قوم دَ تقليد او رسم رواج دَ وجے نه دَ نمر عبادت کولو۔

﴿ وصدها ما كانت تعبد من دون الله إنها كانت من قوم كافرين ﴾ [نمل: ٤٣].

(او بند کړے وو دے لره هغه څيز چه دَ الله نه سوا ئے دَ هغهٔ عبادت کولو، بيشکه چه دا دَ کافر قوم نه وه)۔

او نبي ﷺ فرمائی: « هر يو بچے په اسلامی فطرت پيدا کيږی، نو روسته ئے مور او پلار يهودی، نصرانی او مجوسی جوړوی »۔

يعنی دَ عادت پطور کافر جوړيږی۔

او عادت لکه دَ طبيعتِ ثانيه پشان دے، ددے نه بل طبيعت طرفته منتقل کيدل ډير گران دی مګر هغه چاته آسان دی چه الله ورته هدايت کړے وی۔

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وإن كانت لكبيرة إلا على الذين هدى الله ﴾ [بقره : ١٤٣].
(او دا ډیر ګران کار دے مګر په هغه خلقو چه الله ورته هدایت کړے).
امام احمدؒ فرمائی : بوډا سړے ډیر کم اسلام قبلوی، او ځوان سړے اسلام ته ډیر نزدے وی. (المغنی : ٤٧٧/٢).
عبد الرحمن معلمیؒ فرمائی : دَ چا واسطه چه ډیر وخته پورے دَ یو مذهب سره راغلی وی، او په دے باندے هغه راتوکیدلے وی، نو دے دا یقین کوی چه دا صحیح دے او ددے مخالف باطل دے.

١٦ - دَ حق څخه برخه رد کول او دَ شریعت نه څه شی پریخودل :

لکه څنګه چه دَ مقلدینو او پارټیانو والا کار دے. چه دا دَ حق نه دَ محرومتیا یو عظیم سبب دے.
ځکه بنده دَ ټول شریعت په التزام باندے مامور دے څومره چه ددهٔ په وس کښ وی، او همدا دَ الله حقیقی عبودیت او عاجزی ده. او همدا هغه اسلام دے چه په دے سره به انسان دینداری کوی، ځکه دَ اسلام حقیقت استسلام دے، یعنی اسلامی شریعت ته په ظاهر او باطن دواړو کښ غاړه ږدل.
الله تعالیٰ فرمائی :
﴿ ادخلوا فی السلم كافة ﴾ [بقره : ٢٠٨]. (تاسو په پوره اسلام کښ داخل شئ).
او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وما آتاكم الرسول فخذوه او ما نهاكم عنه فانتهوا ﴾ [حشر : ٧].
(څهٔ شے چه تاسو ته رسول (الله ﷺ) درکړی، هغه واخلئ او دَ کوم شئ نه مو چه منع کړی، هغے نه منع شئ).
او فرمائی : ﴿ فليحذر الذين يخالفون عن أمره أن تصيبهم فتنة أو يصيبهم عذاب أليم ﴾ [نور : ٦٣] (کوم خلق چه دَ هغهٔ دَ امر نه خلاف کوی، هغوئ دے ددے نه اوویرېږی چه دوئ ته به په دنیا کښ فتنه او په آخرت کښ دردناك عذاب اورسیږی).
او په ټولو څیزونو او عملونو کښ دَ رسول الله ﷺ تابعداری کول انسان هدایت طرفته راکاږی او ګمراهئ نه ئے لرے کوی. الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وإن تطيعوه تهتدوا ﴾.
(او که چرے تاسو ددهٔ خبره اومنئ نو هدایت به بیاموموئ).
دَ رسول الله ﷺ ملګری هم پوره طور سره دَ حق تابعدار خلق وو.
حدیث کښ دی : ابو بکر صدیق ﷺ فرمائی : ماسره دا ویره ده، کهٔ ما دَ نبی ﷺ یو حکم

پريخودلو نو زۀ به ګمراه شم۔ (رواه البخاري).
او دَ عمر ﷺ عادت دا وو چه دابه دَ الله دَ كتاب سره اودريدلو۔ (البخاری).
الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ فلما زاغوا أزاغ الله قلوبهم ﴾ [صف : ٥].
(كله چه دوئ كاږۀ شول الله دَ دوئ زړونه كاږۀ كړل)۔
نو دَ حق دَ بعضو خبرو نه كړيدل دَ زړونو كږيدل دی۔
امام احمد رحمه الله فرمائی : څوك چه دَ نبی ﷺ ځينے خبرے رد كړی، نو كيدَے شی چه ددۀ په زړۀ كښ څۀ كوږ والے راشی، نو الله به ددۀ زړۀ كوږ كړی او تباه به ئے كړی۔
(تيسير العزيز الحميد، ص : ٥٤٥).
دَ مؤمنانو په صفتونو كښ يو صفت دادے چه : ﴿ والذين إذا ذكروا بآيات ربهم لم يخروا عليها صما وعميانًا ﴾ [فرقان : ٧٣] (دا هغه خلق دی چه كله دوئ ته دَ خپل رب په آيتونو سره نصيحت اوكړے شی نو په هغے باندے كاڼۀ او ړاندۀ نۀ وړپريوځی)۔
په دے سره به تۀ دَ بعضِ خلقو ګمراهی معلومه كړے چه هغوئ خپل ځانونه په شريعت باندے حاكمان مقرر كړی دی، كومه خبره چه دَ دوئ دَ مذهب او دِلے سره موافق ده، دَ هغے التزام كوی، او كومه چه دَ دوئ سره موافقت نۀ كوی نو په هغے كښ تاويل كوی او يائے منسوخ ګرځوی۔ والله المستعان۔
نو په دے كښ هيڅ شك نشته چه دَ همدے قِسم خلقو په باره كښ الله تعالیٰ فرمائی :
﴿ أفتؤمنون ببعض الكتاب وتكفرون ببعض ﴾ [بقره : ٨٥].
(نو آيا تاسو دَ كتاب ځينے برخه منئ او ځينے نوره ئے نۀ منئ)۔
او دَ مقلدينو طريقه هم داده چه كله دوئ يو آيت يا حديث اووينی چه دَ دوئ دَ مذهب سره موافق وی نو دَ هغے تعظيم كوی او وائی : دا زمونږ دليل دے۔ او كۀ ضعيف حديث وی نو دَ هغے دَ قوی كولو او صحيح كولو كوشش كوی، او كله چه دَ دوئ دَ امام مخالف قول راشی نو دَ دوئ دَ زړونو رنځ جوړ شی، او هغه دَ تاويل او تحريف په ذريعه لكه دَ حمله آور حيوان غوندے ديكه كړی۔ والله المستعان۔

۱۷ – په فضول مباح څيزونو كښ مشغوليدل :

دا هم كله دَ حق بلكه دَ الله نه انسان اړوی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ زين للناس حب الشهوات من النساءِ والبنين والقناطير المقنطرة من الذهب والفضة والخيل المسومة والأنعام والحرث ذلك متاع الحياة الدنيا والله عنده حسن المآب ﴾ [آل عمران : ١٤].

(ښائسته شوي دي خلقو ته مينه دَ خواهشاتو، لکه دَ ښځو، ځامنو او دَ سرو او سپينو زرو جمع کړے شوے خزانے او نښه دار آسونه او فصلونه، دا دَ دنيوي ژوند سامان دے او الله سره ښائسته انجام دے).

په دے آيت کښ اشاره ده چه دا مباح څيزونه عام طور سره دَ (حُسن المآب، يعني جنت) نه اړول کوي.

په حديث کښ دي: (هيڅ يو انسان دَ خيټے نه سيوا بل بدترين لوښے نهٔ دے ډک کړے). (مسند أحمد).

يعلى بن عبيدؒ فرمائي: مونږ په ابن سوقهٔ باندے ورغلو نو هغهٔ وئيلے: اے ورارهٔ! زهٔ تاسو ته يو حديث بيانوم، کيدے شي چه تاسو له نفع درکړي، ولے چه ماله ئے نفع راکړے. مونږ ته عطاء بن ابي رباحؒ اوفرمائيل: تاسو نه مخکښ خلقو به دَ الله دَ کتاب او دَ امر بالمعروف او نهيُ عن المنکر، يا دَ کار کسب دَ ضروري خبرو نه سيوا نورے ټولے خبرے فضول ګڼړلے.

او په هر يو شئ کښ فضول څيز که انسان په شر کښ اخته نهٔ کړي نو دَ خير نه ئے خو محروموي.

۱۸ – خوک چه دَ حق خبره کوي، نو کله دَ هغهٔ حالت خپله خراب وي او هغه خپله په بعضِ ګناهونو کښ اخته وي، نو ددهٔ دا کار دَ بعضو خلقو دپاره دَ حق نه دَ آوريدو سبب جوړ شي. او هغه وائي: دے دَ خپل ځان اصلاح نهٔ کوي نو بيا نورو ته ولے دَ حق خبرے حکم کوي. حالانکه دا ناپوهي او زياتے دے.

ابن مسعود – رضي الله عنه – فرمائي: دا لويه ګناه ده چه يو سړي ته دا اووئيلے شي چه فلانے کار اوکړه، نو هغه اووائي: تهٔ اول دَ خپل ځان غم اوکړه. بلکه دا خبره په يو مرفوع حديث کښ هم راغلے کوم چه شيخ البانيؒ په الصحيحة کښ ذکر کړے.

او دا کار فرعون هم کړے وو، څکه ددهٔ موسىٰ ﷺ ته اووئيل: تهٔ څنګه ماته دَ حق خبرے حکم کوے حال دا چه تا خو هغه کار کړے کوم چه تا کړيدے او تهٔ پرے منکرئے.

او کله چه مهدي را اووځي نو بعضِ خلق به دَ هغهٔ تابعداري نهٔ کوي څکه چه دَ هغهٔ مخکني حالات به ورته معلوم وي.

په حديث کښ دي: « الله به په يوه شپه کښے دَ هغهٔ اصلاح اوکړي ».
(الصحيحة: ۴۸۲/۵).

او دا څوك دے چه دَ ټولو ګناهونو او مصیبتونو نه بیخی پاك دے، سیوا دَ انبیاء کرامو – علیهم السلام – نه۔
دا خبره یاده ساته ! چه کله دَ غلطۍ، لغزش او ګناه په وجه انسان دَ عدالت نه نهٔ اوځی۔
امام ماوردیؒ فرمائی : په دے باندے دَ خلقو عادت جاری شوے چه دویٔ یو انسان ته عادل وائی نو دَ هغهٔ غالبو حالتونو او کارونو له اعتبار ورکوی اګرکه کله نا کله ګناه کوی۔ او دویٔ یو کس فاسق ګڼړی دَ هغهٔ په غالبو کارونو باندے اګرکه کله نا کله هغه نیکی کوی۔
الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ إن تجتنبوا كبائر ما تنهون عنه نكفر عنكم سيئآتكم ﴾ [نساء].
(که چرے تاسو دَ هغه غټو ګناهونو نه بچ شیٔ دَ کومو نه چه تاسو منع شوی یئ نو مونږ به ستاسو ګناهونه معاف کړو)۔
ابن قیم رحمه الله فرمائی : خو کله انسان دَ عدالت په مسمیٰ کښې غلطیږی او دا ګمان کوی چه دَ عادل نه مراد هغه څوك دے چه هیڅ ګناه نهٔ کوی، حال دا چه داسے نهٔ ده۔
(مفتاح دار السعادة : ١٦٣/١).
په حدیث کښې دی : « صاحبِ حیثیت خلقو ته دَ هغویٔ لغزشونه معاف کویٔ »۔
(رواه أبوداود : ٥٤٠/٤، رقم : ٤٣٧٥، عن عائشة رضى الله عنها مرفوعًا).
دلته یوه لطیفه ده : هغه دا چه الله تعالیٰ دا حکم نهٔ دے کړے چه تاسو دَ فاسق سړی خبره بالکل رد کویٔ۔ بلکه ددے خبرے حکم ئے کړے چه دَ هغهٔ په خبره کښې تحقیق کویٔ۔
او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ فأما من ثقلت موازينه ﴾ [قارعه].
(او دَ چا دَ عملونو تلے چه درنے شوے)۔
یعنی چه نیکیٔ ئے په ګناهونو باندے درنے شوے، نو ددهٔ ژوند مزیدار دے۔
نو دا ټولے خبرے ددے دلائل دی چه دَ حق ویونکی دپاره دا لازم نهٔ ده چه هغه دے معصوم وی۔ او نهٔ دا جائز دی چه صرف په دے وجه حق خبره رد کړے شی چه ویونکی خپله په دے عمل نهٔ دے کړے۔
۱۹ – چه باطل سره لږ شان حق ملګرے کړے شی، نو په بعضِ خلقو باندے دا چلیږی۔ خاصکر په هغه خلقو باندے چه دغه حق خبرے دَ هغویٔ په فکرونو باندے داسے غلبه کړے وی چه دَ هغے نه سیوا ورته بل هیڅ شے نهٔ ښکاری۔
او همدا دَ ټولو اضافی بدعتونو دَ رائج کیدلو وجه ده۔ ځکه چه ددے اصل خو مشروع وی لیکن دا په اعتبار دَ یو وصف سره بدعت وی۔ دا وجه ده چه الله تعالیٰ دَ تلبیس نه منع

کړیده. لکه فرمائي:

﴿لم تلبسون الحق بالباطل وتكتمون الحق وأنتم تعلمون﴾ [آل عمران: ۷۱].

(تاسو ولې حق دَ باطل سره ګډوئ او حق ولې پټوئ حالانکه تاسو ښهٔ پوهه ئې).

دا وجه ده چه تهٔ به باطل پرست خلق وینې چه دوئ به حق ښکاره کوي او کوم باطل ئې چه دَ حق سره ګډ کړیدې هغه به پټوي. یا خو دَ ناپوهئ دَ وجې نه، او یا دَ خواهش دَ وجې نه. په الله پورې پناه!

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمائي: باطل هله په خلقو کښې چلیدې شي چه څهٔ نه څهٔ درجه کښې ورسره حق ګډ کړې شي. (مجموع الفتاوی: ۲۵/۱۹۰).

او همدې باطل ته چه دَدې سره حق ګډ کړې شوې دې، شبهه وئیلې کیږي.

نو ضروري ده چه حقیقتونه څرګند کړې شي او دَ الفاظو نه اخوا په معانیو کښې نظر اوکړې شي، او دَ هغه زینت نه پرده اوچته کړې شي کوم چه دَ ګمراهیو دَپاسه کیخودلې شویدې، او هغې ته ئې په ظلم او بهتان سره دَ حق لباس اچولې دې.

دا وجه ده، الله تعالیٰ په خپل کتاب کښې دَ محکم او متشابه دواړو ذکر کړې، دې دپاره چه حق پرست خلق متشابه محکم طرفته واپس کړي. او اهلِ بدعت ددې الټه کار کوي.

۴۰ - باطل پرستو سره ګډون او اختلاط کول:

څوك چه دَ چا سره تعلق لري نو ددهٔ په اخلاقو، عقائدو او عاداتو باندې دَ هغهٔ ډیر تاثیر وي، تردې چه انسان دَ څناورو نه هم تاثیر اخلي کله ئې چه دَ هغې سره واسطه وي.

لکه نبي ﷺ فرمائي: «فخر او تکبر په اوښانو والو کښې وي، او سکینه او وقار په ګډو بزو والو کښې وي». (بخاري).

او کله چه یو طالب علم دَ بریلیانو په مدرسه کښې داخله واخلي، نو مشرك ګرځي، مګر هغه څوك چه الله پرې رحم اوکړي.

او کله چه دَ دیوبندیانو په مدرسه کښې داخله واخلي نو کټر حنفي او کټاس ماتریدي جوړیږي.

او کله چه دَ تبلیغیانو په مدرسه کښې داخله واخلي، نو صُوفي او عنادګر ترې اووځي، مګر هغه څوك چه الله پرې رحم کړې وي. ځکه دَ اختلاط دپاره ډیر تاثیر دې.

بعضِ اهلِ حدیثو دَ دوئ په مدرسو کښې داخله واخسته نو هغوئ په سُنت باندې عمل پریخودهٔ، چه دا دَ الله دَ طرفه دَ دوئ سزاء شوه، چه دوئ خپل ځانونه دَ خاربښتیانو پورې

مرلو۔

دغه شان ډیرو مسلمانانو دَ نصاراؤ او هندوانو دَ عاداتو نه تاثر واخستهٔ هر کله ئے چه دَ هغوئ سره کډون راغے۔ والله المستعان۔

دا وجه ده، الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ فلا تقعدوا معهم حتى يخوضوا في حديث غيره إنكم إذا مثلهم ﴾ [نساء : ١٤٠].

(نو تاسو دَ دوئ سره مهٔ کینئ تاسو به هم په دے وخت کښ دَ دوئ پشان شئ)۔

او فرمائی : ﴿ وإذا رأيت الذين يخوضون في آياتنا فأعرض عنهم ﴾ [انعام : ٦٨].

(او کله چه تهٔ هغه خلق اووینے چه هغوئ زمونږ په آیتونو کښ بکواس کوی نو دَ دوئ نه مخ واړوه)۔

او نبی ﷺ دَ نیك ملګری مثال دَ عطر فروش سره ورکړے، او دَ بد ملګری مثال ئے دَ آهنګر سره ورکړے۔

بغداد بن حسین ؒ فرمائی : دَ بدعتیانو سره ملګرتیا، دَ حق نه اعراض پیدا کوی۔ (سیر أعلام النبلاء : ١٠٩/١٦).

امام مالك ؒ فرمائی : باطل ته نزدیکت تباهی ده، او په باطل کښ خبره کول انسان دَ حق نه منع کوی۔ (ذم الكلام : ٧٤/٥).

فضیل رحمه الله فرمائی : څوك چه دَ بدعتی سره کیناستهٔ نو دهٔ ته به حکمت ورنهٔ کړے شی۔ (شرح السنة : ١٣٤/١).

ابن قیم رحمه الله فرمائی : دَ خلقو ډیر اختلاطات داسے دی چه عذاب ئے راښکلے، او نعمت ئے ختم کړے وی، مشقت ئے نازل کړے وی، عطیه ئے بیکاره کړے وی، مصیبت ئے نازل کړے وی، او انسان ئے په آفت ګرفتار کړے وی۔ او دَ خلقو آفت ګنے خلق نهٔ دے څهٔ ؟ او دَ ابو طالب دَ وفات کیدو په وخت هغهٔ ته بدو ملګرو څومره ضرر ورکړو ؟ وریورے نبښتی وو، تردے چه دَ هغه کلمے وئیلو نه ئے منع کړو، چه په هغے کښ دهٔ دَ تولے زندګئ سعادت پروت وو۔ (مدارج السالكين : ٤٨٩/١).

۲۱ - دَ مخالفینو په اقوالو ښې نظر نهٔ کول :

دا وجه ده، چه تهٔ به دَ باطل مشران وینے چه هغوئ به خپل رعیت او کشرانو ته دا حکم کوی چه تاسو دَ حق پرستو خلقو خبره مهٔ منئ او مهٔ ورسره کینئ۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿وقال الذين كفروا لا تسمعوا لهذا القرآن والغوا فيه لعلكم تغلبون ﴾ [حم سجده : ٢٦].

(او اوويليے كافرانو چه تاسو دے قرآن ته غوږ مۀ ګدئ بلكه په دے كښې شور كوئ دے دپاره چه زورور شئ)۔

نو باطل پرست خلق خو اول حق پريدى نۀ، او كله چه دَ حق رنړا ښكاره شى نو په قِسما قِسم بهتانونو ترلو سره خلق ددے نه منع كوى۔

رسول الله ﷺ به دَ عكاظ او ذى المجاز په ميله كښې فرمائيل : « څوك به ماله پناه راكړى، څوك به زما مدد اوكړى، دے دپاره چه زۀ د خپل رب پيغام اورسوم او هغۀ دپاره به جنت وى ؟ تردے چه دَ يمن يا دَ مُضر يو سړے به را اووتلو، نو هغۀ ته به خپل قوم ورغے او ورته به ئے اووئيل : دَ قريشو دَ دغه هلك نه ځان اوساته، چرته ګمراه دے نۀ كړى! »۔
(رواه أحمد : ۳/۳۲۲).

او قريشو ابن الدغنه ته اوويليے : ابو بكر دے قرآن ښكاره نۀ لولى، ځكه مونږ سره دا ويره ده چه زمونږ ښځے او بچى به په فتنه كښې پريوځى۔ اوګوره ! دَ ابو بكر صديق ﷺ په باره كښې دا خبره كوى !

ياد لره ! چه دَ مخالفينو په اقوالو كښې دَ نظر كولو معنىٰ ده : دَ هغه مسلمانانو په اقوالو كښې نظر كول، كوم چه په كتاب او سنت سره معروف او مشهور دى۔ او دا مطلب دانۀ دے چه ګنے دَ تولو مخالفينو په اقوالو كښې نظر كول، ځكه چه دا هم دَ ډيرو خلقو دَ ګمراهئ سبب ګرځى۔

دَ مخالفينو په اقوالو كښې دَ نظر كولو شرط دادے چه نظر كونكے به په خپل دين كښې پوره بصيرت لرى، او په خپل دين كښې به جاهل نۀ وى۔ ګنے په زندقت كښې به پريوځى۔

نبى ﷺ دَ دجال په باره كښې فرمائى : « څوك چه دَ دجال په باره كښې واورى، نو هغۀ دے دَ دجال نه لرے لاړ شى »۔

۲۲ – دَ باطل پرستو كثرت او ډيروالے :

ډير خلق داسے دى چه هغوئ دَ حق نه په دے وجه بنديږى چه باطل پرست خلق ډير دى۔ او دَ خلقو مثال لكه دَ مارغانو دَ سيل دے چه يو بل پسے روان وى۔ او دا دَ تولو باطل پرستو او مقلدينو دليل دے چه دوئ په كثرت باندے دليل نيسى۔ حال دا چه دا خبره فرعون كړے وه۔ ﴿ فما بال القرون الأولى ﴾ [طه : ٥١].

(دَ اولنو پيړو څۀ حالت دے ؟)۔

او وائى : ﴿ إن هؤلاءِ لشرذمة قليلون ﴾ [شعراء : ٥٤].

(دا بنی اسرائیل یوه وړه شان ډله ده).

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وإن تطع أكثر من في الأرض يضلوك عن سبيل الله ﴾ [انعام ۱۱٦].

(او که ته په زمکه باندې دَ اکثرو خلقو خبره اومنې نو هغوئ به دِ دَ الله دَ لارې نه واړوی).

ابن مسعود ﷺ فرمائی : پټاسو کښې دې هیڅ یو کس اِمّعه نهٔ جوړیږی، چه دا وائی : زهٔ دَ خلقو سره یم. (هغوئ چه څهٔ کول زهٔ به ئې هم کوم) بلکه خپل نفس دې په دې باندې مضبوط کړی چه که نورو خلقو کفر هم کولو نو دې به ایمان لری.

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وما أكثر الناس ولو حرصت بمؤمنين ﴾ [یوسف : ۱۰۳].

(او زیات خلق ستا دَ حرص باوجود ایمان نهٔ راوړی).

او فرمائی : ﴿ وقليل من عبادي الشكور ﴾ [سبأ : ۱۳]

(او زما په بندګانو کښې لږ خلق شکر کونکی دی).

او نبی ﷺ دَ غرباؤ په باره کښې فرمائی : « دا یو څو نیکان خلق دی چه دَ دوئ مخالفت کونکی ډیر دی، او خبره منونکی ئې کم دی ». (الصحیحة).

ابن مسعود ﷺ فرمائی : « جماعت دیته وائی چه دَ حق سره موافق وی اګرکهٔ ته یواځې ئې ». (الوجیز، ص : ۱۵).

۲۳ - دَ نفس نفرت کول :

ددې مطلب دا چه دَ بعضِ خلقو مزاج غیر معتدل وی. ابن عقیلؒ فرمائی : کله چه نفس نفرت اوکړی نو زړهٔ ړوند شی او په زړهٔ کښې راتلونکی څیزونه مړهٔ شی او دَ فائدو دروازې بندې شی. دا وجه ده چه شریعت د غصې په حالت کښې دَ فیصلې کولو نه منع فرمائیلې.

او نبی ﷺ به دا دعاء کوله : « اې الله ! زهٔ تا نه په رضا او غصې دواړو حالتونو کښې دَ حق خبرې سوال کوم ».

بعضِ سلفو به فرمائیل : دَ هغه چا پشان مهٔ جوړیږه چه کله هغه خوشحاله وی نو خوشحالی ئې په باطل کښې غورزوی، او کله چه غصه وی، نو غصه ئې دَ حق نه اوکاړی.

او انسان دَ سختې خوشحالئ په وجه خطاء کیږی، لکه داسې اووائی : « اې الله ! تهٔ زما بنده ئې، او زهٔ ستا رب یم ». (بخاری).

څکه چه ددهٔ مزاج غیر معتدل وی، داوجه ده چه دَ باطل قبول والې چه کوی نو دا اکثره څوانان وی، څکه چه دَ دوئ په مزاج کښې اعتدال نهٔ وی. او کله په دوئ کښې دَ بعضو خلقو دَ بعضِ داعیانو نه نفرت وی، یا دَ هغهٔ دَ آواز نه، او یا دَ هغهٔ دَ مرتبې وغیره نه. نو دا

ددۀ دپاه دَ حق نه دَ آوریدو سبب اوگرځي۔
صحابه کرامو ﷺ چه کله دَ نبي ﷺ دَ مرگ آواز واوریدۀ، نو دَ ډیر خوف په وجه ترے دَ الله تعالیٰ دا قول هیر شو : ﴿ وما محمد إلا رسول ﴾ [آل عمران : ۱٤٤]
(او نۀ دے محمد ﷺ مگر دَ الله رسول دے)۔
تردے چه ابو بکر صدیق ﷺ دوئ ته ددے خبر ورکړو۔
دا وجه ده چه علماؤ دَ جنگ او جگړو په ذریعه حق طلب کول مکروه گنړلي دي، مگر دَ ضرورت په وخت۔ ځکه غالباً جگړے کول غصه را پاروي او دَ ښۀ شعور او ارادے نه انسان منع کوي۔

۲٤ – مخکښې عقیده لرل او بیا استدلال کول :

بعضِ خلق په دے وجه دَ حق نه آوړي چه اول یوه عقیده اولري، او بیا دَ خپلے دے عقیدے دپاره دلیلونه تالاش کوي، نو دا غالباً دَ حق سره سمون نۀ خوري۔
بلکه مسلمان باندے واجب دي چه ددۀ به تر هغه وخته هیڅ قول، اعتقاد او مذهب نۀ وي ترڅو چه الله او رسول (ﷺ) دَ هغے بیان نۀ وي کړے۔ لکه الله تعالیٰ فرمائي :
﴿ یا أیها الذین آمنوا لا تقدموا بین یدی الله ورسوله ﴾ [حجرات : ۱].
(اے ایمان والو ! تاسو دَ الله او رسول نه مۀ مخکښې کیږئ)۔

★ دَ اهلِ حق او اهلِ بدعت ترمینځه غټ فرق :

دادے چه اهلِ حق دَ کتاب او سنت نه مخکښې هیڅ نۀ وائي۔ په خلاف دَ اهلِ بدعت نه چه دوئ دَ یو قول او مذهب اعتقاد لري، او بیا چه کله دلیل موندۀ کړي چه ددوئ دَ قول سره موافق وي، نو بیا وائي : زمونږ دلیل دادے۔ اوکله چه یو صریح دلیل موندۀ کړي چه هغه دَ دوئ دَ قول خلاف وي، نو دَ هغے تاویل کوي، منسوخ ورته وائي او دَ هغے دَ ضعیف کولو کوشش کوي۔ او دا تقریباً دَ تولو مقلدینو مرض دے ! الله دے دوئ ډیر نۀ کړي !!
امام شاطبیؒ فرمائي : دَ مبتدع سري اولنے مقصد ددۀ خواهش وي، او دلیلونه تبعًا اخلي۔ (الاعتصام : ۱/۱۳٤).
امام شاطبیؒ ډیره ښه خبره کړے ۔ دا وجه ده چه بدعتیانو ته خواهش پرست وائي، ځکه دوئ دَ خپلو خواهشاتو پسے روان وي، شرعي دلائل دَ اعتماد او افتقار په طور نۀ اخلي چه دَ هغے نه مسئله صادره کړي، بلکه خپل خواهشات ئے را مخکښے کړے وي او په خپلو رائے گانو ئے اعتماد کړے وي، بیا ددے نه پس په دویمه درجه کښے شرعي دلائلو ته گوري۔

نو کوم مسلمان چه دَ خپل ځان خیر خواه دے، هغهٔ له پکار دی چه هیڅ قول او اعتقاد تر هغه وخته پورے اونهٔ لری تر څو چه په دے باندے ښکاره دلیل نهٔ وی موجود، نو که دا کار ئے اوکړو او بیا ورته دلیل ښکاره شو، نو هغه اول قول او اعتقاد به پریدی او حق ته به رجوع اوکړی۔ خو دا په خلقو کښې ډیر کم کوز ملاویږی۔ والله المستعان۔

۲۵ - دَ باطل پرستو او دَ هغوی دَ مذاهبو نه ناخبرتیا :

دَ ډیرو خلقو دپاره دَ حق نه دَ آوړیدو یو عظیم سبب دادے چه دوئ اهلِ باطل او دَ هغوئ عقائد او مقالات نهٔ پیژنی، نو په دے وجه دَ هغوئ په باطل کښې پریوځی۔

عمر بن خطاب ﷺ فرمائی : دَ کعبے په رب مے قسَم دے ! ماته معلومه ده چه کله به عرب تباه کیږی، کله چه دَ دوئ واکدار او اختیارمند هغه څوك جوړ شی چه هغه نهٔ دَ رسول الله ﷺ سره ملګرے شوے اونهٔ ئے دَ جاهلیت په واك او اختیار کښې تجربه شته۔ (رواه ابن سعد فی الطبقات : ۱۲۹/٤، والحاکم : ٤٢٨/٤).

حذیفه ﷺ فرمائی : خلقو به دَ رسول الله ﷺ نه دَ خیر په باره کښې تپوس کولو او مابه ترے د شر په باره کښې تپوس کولو، چه هسے نهٔ ما رالاندے کړی۔ (بخاری).

دا وجه ده، امام بخاریؒ دَ جهمیه ؤ او دَ دوئ دَ کُفر په باره کښې ډیره سخته خبره کړے۔ فرمائی : ما دَ یهودو او نصاراؤ په خبرو سوچ اوکړو، نو ماته دَ جهیمه ؤ نه زیات ګمراه بل څوك ښکاره نشو، او زهٔ هغه سړی ته ناپوهه وایم چه دوئ ته کافر نهٔ وائی، مګر څوك چه دَ دوئ په کفر باندے پوهه نهٔ وی۔

زهٔ وایم : دا وجه ده چه موږ دَ الله په فضل سره دَ تقلید دَ حقیقت او ددے په وجه دَ ایمان او دَ اسلام خرابیدو نه واقف شوی یو، نو ځکه په دے باندے موږ ډیر رد کوو۔ او څوك چه په دے باندے رد نهٔ کوی نو هغه ړوند او جاهل دے۔

شیخ الاسلامؒ فرمائی : څوك چه څومره په باطل باندے ډیر علم لرونکے وی، نو هغه دَ حق ډیر تعظیم کونکے او دَ هغے قدر ډیر پیژندونکے وی، هر کله چه ورته اوخودلے شی۔ (مجموع الفتاوی : ١١٨/٥).

او فرمائی : بیماری او دَ هغے سبب پیژندل دَ بیماریٔ په علاج کښې مدد کوی، او څوك چه مقالات یعنی د مخالفینو عقیدے نهٔ پیژنی - اګرکهٔ هغه باطلے ولے نهٔ وی - نو نشی کولے چه دَ هغے دَ خاوندانو علاج اوکړی او دَ هغوئ شبهات ختم کړی۔

۲٦ - دَ باطل دَ اصل حقیقت تصور نهٔ کول :

ډیر خلق داسے دی چه دَ کومے باطلے عقیدے یا عمل اعتقاد لری، نو دَ هغے پوره تصور نهٔ کوی، کهٔ چرے دویٔ دَ هغے حقیقی تصور اوکړی نو هغه به اختیار نهٔ کړی۔

شیخ الاسلامؒ فرمائی: کله چه یو مذهب بذاتِ خود باطل وی نو دَ نقل کونکی دپاره دا ممکنه نهٔ ده چه هغه په داسے طریقه را نقل کړی چه دَ هغے حقیقی تصور اوکړے شی۔ ځکه دا خبره صرف په حق کښِ کیدے شی۔

ابن رجبؒ فرمائی: بعضِ متقدمینو فرمائیلی دی: په خپل زړهٔ کښِ تهٔ چه څهٔ غواړے تصور کوه او په هغے کښِ فکر کوه، بیا هغه په خپل ضد باندے قیاس کړه، نو کله چه تهٔ ددے دواړو ترمینځه تمییز اوکړے نو حق به دِ باطل نه جدا اوپیژنے۔ (جامع العلوم: ۲۸۵/۱).

عبد الرحمن السعدیؒ فرمائی: هر عاقل چه کله دَ مشرکانو دَ مذاهبو تصور اوکړی نو په هغے باندے دَ براهینو (دلائلو) قائمولو نه مخکښے ورته دَ هغے دَ بطلان یقین راغلے وی۔ (تفسیر السعدی: ۲٦۱).

دغه شان څوك چه دَ تقلید دَ واجب والی تصور اوکړی، نو هغهٔ ته ددے بطلان معلومیږی۔

۲۷ - دَ فاسدو اصولو التزام کول:

او په داسے لاره تلل چه مقصد ته رسونکے نهٔ وی:

دا هم دَ حق نه دَ آوریدو لوئے سبب دے۔ ځکه بعضِ خلقو دَ څهٔ اصولو او قاعدو التزام کړے وی، او هغه ئے په خپلو عباداتو، معاملاتو او سلوك کښِ پیشوا جوړ کړے وی، نو په دے وجه حق ته نهٔ رسیږی بلکه دَ هغے نه واوړی۔

او ددے نه هم لویه خبره داده چه دویٔ دغه قواعد او اصول دَ الله عز وجل په کتاب او دَ هغهٔ دَ رسول (ﷺ) په سُنت باندے حاکم او نگهبان مقرر کړے وی۔

نو (۱) بعضِ خلقو خپل ذوق حاکم مقرر کړے وی، لکه صوفیه۔ (۲) او بعضِ خلقو عقل حاکم مقرر کړے وی لکه معتزله۔ (۳) او بعضِ خلقو تبدیل شوے شرع حاکم مقرر کړے وی، لکه یهود او نصاریٰ۔ (٤) او بعضِ خلقو دَ اصولو هغه کتابونه حاکم مقرر کړی کوم چه متاخرینو لیکلی دی، لکه نور الانوار، حسامی، مسلم الثبوت وغیره۔ (۵) او بعضِ خلقو سیاست حاکم مقرر کړے وی۔ (٦) او بعضِ خلقو یوه خاصه فرقه حاکم مقرر کړے وی، لکه دیوبندیان، تبلیغیان، پنج پیریان، ماتریدیان وغیره، چه دویٔ ته فیصلے

وروړی۔
قسَم په الله ! چه دے څیزونو ډیر خلق دَ ښکاره حق نه آړولی دی۔ او دوئ په دے پرو او رَسو باندے رب العالمین ته دَ رسیدلو نه ځانونه تړلی دی۔
الله تعالیٰ فرمائی :
﴿ وأن هذا صراطي مستقيمًا فاتبعوه ولا تتبعوا السبل فتفرق بكم عن سبيله ﴾ [اعراف : ۱۵۳].
(او دا زما برابره لار ده نو دے پسے روان شئ۔ او په نورو لارو مۀ روانیږئ گنے دَ الله دَ لارے نه به مو تس نس کړی)۔
دَ ترمذی په حدیث کښ دی : « او چا چه ددے - کتاب - نه علاوه په بل شئ کښے هدایت طلب کړو، الله به ئے گمراه کړی »۔
شیخ الاسلامؒ فرمائی : څوك چه دَ کتاب او سنت نه علاوه په بل یو څیز کښ هدایت تالاش کوی، نو دے به دَ الله نه نور هم لرے کیږی۔
ابن قیم رحمه الله په دغه اصولو او قواعدو باندے - کومے چه بعضِ خلقو وضع کړی دی او هغے باندے فیصلے کوی او دَ هغے په وجه ئے نصوص پریښے دی - دَ هغے په رد کښ فرمائی :

وكفاية النصين مشروط بتحديد التلقّي عنهما لمعان
وكذاك مشروط بخلع قيودهم فقيودهم غل إلى الأذقان
وكذاك مشروط بهدم قواعد ما أنزلت ببيانها الوحيان
وكذاك مشروط بأقوال على الآراءِ إن عريت عن البرهان
بالردّ والإبطال لا تعبأ بها شيئًا إذا ما فاتها النصان
لولا القواعد والقيود و هذه الآراء لاتسعت عرى الإيمان
لكنها والله ضيقة العرى فاحتاجت الأيدى لذاك توان
وتعطلت من أجلها والله أعداد من النصين ذات بيان

(ترجمه : دَ کتاب او سنت کافی کیدل په دے خبره پورے مشروط دی چه ددے دَ معنو راخستل به صرف دَ همدے نه کولے شی۔ ★ بل شرط دادے چه دَ دغه خلقو قیدونه به پریخودلے شی، ځکه دَ دوئ قیدونه مرئ ته اچولے شوی پړی دی۔ ★ بل شرط دادے چه دَ دوئ هغه قواعد به نړولے شی دَ کومو بیان چه دَ دغه دواړو وحیو نه په یوه وحی کښے هم نۀ وی راغلے۔ ★ بل شرط دادے چه کومے رائے گانے او ویناگانے چه دَ دلیل نه خالی وی، نو

هغه به باطلولے او رد کولے شي، په دے به هيڅ باك نۀ کوے، هر کله چه په دے کښ دوه نصونه موجود نۀ وي. ★ که چرے دَ دوئ دا (جعلي او خود ساخته) قواعد، قيود او رائے گانے نۀ وے، نو دَ ايمان کرئ به فراخه شوے وے. ★ خو قسَم دے چه ددے کرئ تنگے دي، نو ځکه لاسونه طاقت ته محتاج دي. ★ او دَ همدے (قواعدو) په وجه قسَم په الله ! يو شمير ډير واضحه نصونه معطل او بيکاره گنړلے شوي دي).

(القصيدة النونية).

او دا ډير مفيد شعرونه دي، ديته تفصيلاً رجوع اوکړه، عجيبه فائده پکښے ده.

۲۸ - دَ يو قابلِ اعتماد شيخ او عالم نه باطل صادريدل :

کله يوه خطاء او باطله خبره دَ يو داسے امام نه صادره شي چه په خلقو کښ دَ هغۀ مقبوليت وي، او دَ هغۀ تابعدار، شاگردان او عام مسلمانان هغۀ سره مينه محبت لري. نو په دے وجه دغه باطله خبره دَ هغۀ په معتقدينو کښ رائجه شي. ځکه دوئ ته دَ دغه شيخ حال او دَ حق او اتباع سنت لحاظ ساتل معلوم وي، نو دوئ دَ هغۀ خبره مني، او دَ هغۀ محبت دوئ دپاره دَ هغۀ دَ خطاء کتلو نه منع کړي.

او په دے کښ شك نشته چه محبت انسان ړندوي او کنړوي. لکه حديث کښ دي : « دَ يو څيز محبت به تاله ړوند کونړ کړي ». ددے معنىٰ داده چه : تۀ يو څيز سره مينه لرے نو دَ هغے دَ عيبونو نه به تاړوند کونړ کړي، تاته به هغه نۀ ښکاري اونۀ به ئے آورے اګرکه هغه به په کښے وي.

ثعلبؒ ددے معنىٰ داسے کوي : سترګه ددے دَ عيبونو ليدلو نه ړنديږي، او غوږ په دے کښ دَ عدل کولو نه کنړيږي.

عبد الرحمن سعديؒ فرمائي : څوك چه دا غواړي چه په اقوالو کښ حق اوپيژني، نو هغۀ له مناسب دي چه ددے دَ قائل نه نظر قطع کړي، ځکه ډير کرته دَ قائل ذکر کولو سره دَ هغۀ دَ مخالفت کولو نه انسان دهوکه کيږي او دَ هغۀ دَ مخالفت کولو نه يريږي.

او همدا عدل دے. دَ هغه چا خبره صحيح نۀ ده چه هغه وائي عدل او حق دَ يو امام او شيخ دَ خبرے نه نۀ اوځي. او دے په دے کښ ددے شاعر پشان خبره کوي.

اذا قالت حذام فصدقوها   فان القول ما قالت حذام

(کله چه حذام خبره اوکړي نو تصديق ئے کوئ ځکه خبره هغه وي کومه چه حذام کړے وي).

او زهٔ وایم: علامه آلوسیؒ فرمائی:

وما انا الا من غزية ان غوت غويت وإن ترشد غزية ارشد

(اوزهٔ خو دَ غزیه قبیلے نه یو کس یم، که هغه گمراه شی نو زهٔ به هم گمراه یم او که هغه سمه لاره بیامومی نو زهٔ به هم سمه لاره مومم)۔ (تفسیر سعدی، اول جلد).

دا وجه ده، کله چه دَ باطل پرستو په خبره رد اوکړے شی نو زر دَ هغے قائل ذکر کړی۔

علامه شوکانیؒ فرمائی: پخوا زمانے نه دَ اهلِ بدعت دا عادت را روان دے: چه کله په علماؤ کښې دَ یو عالم نه یوه خبره صادره شی نو په هغے باندے دوئ خوشحالی کوی او خپلو کښې دَ هغے په مشهورولو او خورولو کښې کوشش کوی، او هغه دَ خپل بدعت دپاره حجت گرځوی او په دے سره دَ هغه چا مقابله کوی چه څوك دَ دوئ په بدعت رد کوی۔

(منتهى الطلب، ص: ۱۲۲).

۲۹ - دَ باطل پرستو خلقو یو جلیل القدر عالم ته نسبت کول، چه دَ هغهٔ نه دغه لغزش نهٔ وی سرزد شوے:

دَ باطل پرستو همیشه دا عادت وی چه دوئ خپل باطل هغه چاته منسوب کوی چه په امت کښې دَ هغهٔ ښهٔ ذکر او شهرت وی۔ لکه روافض خپل اقوال اهلِ بیتو ته منسوب کوی، حالانکه هغوئ ددے نه بیزاره دی۔ او حنفیه خپل مذهب امام ابوحنیفةؒ ته منسوب کوی، حالانکه هغه په اکثرو مسائلو کښې ددے نه بیزاره دے۔ دارنګه ډیر بدعتیان شته دے چه هغوئ خپل بدعت امامانو ته منسوب کوی، حالانکه هغوئ ددے نه بیزاره دی۔

۳۰ - دَ حق دَ دفاع او دَ نصرت کولو نه دَ حق پرستو خلقو روسته کیدل:

چه ددے په وجه باطل خورېږی او ډیر کرته بعضِ اهلِ حق دا کار بعضو نورو ته سپاری، حال دا چه هغوئ ددے کفایت نشی کولے، په دے وجه باطل رائج شی۔

ابن قتیبةؒ فرمائی: باطل هله قوی کیږی، کله چه ددے نه سکوت اوکړے شی۔

ابن تیمیةؒ فرمائی: کله چه دَ نبوت دَ رڼا اهتمام کونکے ضعیف شی نو بدعت قوی شی۔

مقبلیؒ فرمائی: یو انسان چه خپله گمراه کیږی یا بل څوك گمراه کوی نو دا صرف په دے وجه چه علماء ښکاره حق خبره نهٔ بیانوی۔

الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ يا أيها الذين آمنوا كونوا أنصار الله ﴾ [صف].

(اے ایمان والو ! تاسو دَ الله (دَ دین) مددګاران جوړ شئ)۔
او فرمائی : ﴿ فاصدع بما تؤمر ﴾ [حجر : ٩٤].
(صفا بیانوه هغه خبره چه دَ هغے حکم تاته کیږی)۔
ابن الوزیرؒ فرمائی : که چرے علماء دَ خلقو دَ خبرو دَ وجے نه دَ حق دفاع پریږدی، نو دوئ دیر څهٔ ضائع کړل او دَ معمولی شئ نه اوریدل۔
(العواصم والقواصم : ۲۲۳/۱).
شاطبیؒ فرمائی : دَ بدعاتو دَ رائج کیدو وجه، دَ هغے نه خاموشی اختیارول او په هغے رد نهٔ کول دی۔ (الاعتصام : ۱۰۱/۲).

۳۱ - حق خبره په خږ لهجے سره کول :

دَ حق په داعیانو کښې بعضِ داعیان داسے وی چه دَ هغهٔ لهجه نفرت آمیز وی۔ نبی ﷺ فرمائی : بشروا ولا تنفروا.(زیرے ورکوئ، خلق په نفرت کښې مهٔ اچوئ)۔
او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ ولا تجادلوا أهل الكتاب إلا بالتي هي أحسن ﴾ [عنكبوت : ٤٦].
(اهلِ کتابو سره بحث او مباحثه مهٔ کوئ مګر په ښے طریقے سره)۔
او نبی ﷺ دَ نرمئ ترغیب ورکړے۔ فرمائی : « په کوم شئ کښے چه نرمی وی هغے لره ښائسته کوی »۔
دے وجے نه، دَ حق په دعوت کښې نرمی او شفقت کول ضروری دی۔ غزالیؒ فرمائی : عوامو سره نرمی کول ضروری دی، دے دپاره چه حق طرفته دوئ رامائله کړے شی۔ دوئ سره دَ جنګ او تعصب په انداز کښې خبره نهٔ ده پکار، ځکه چه دا کار دَوئ لره په خپله خبره باندے دَ ټینګیدو او ضد کولو باعث ګرځی۔(إحياء العلوم : ۱۹٦/۱).
بعضِ سلفوؒ فرمائیلی دی : تهٔ چه څومره غصه کړے نو هغه تانه خبره نهٔ قبلوی۔
الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ فقولا له قولًا لينًا لعله يتذكر أو يخشىٰ ﴾ [طه : ٤٤].
او کله دَ منافقانو او معاندینو سره هم سختی کولے شی۔ لکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿واغلظ عليهم ﴾ [تحريم : ۷۳] (او سختی اوکړه دَ دوئ سره)۔

ووضع الندىٰ فی موضع السيف بالعلى | مضر كوضع السيف فى موضع الندىٰ

(دَ تورے استعمالولو په ځائے کښے سَخا کول اوچتو مرتبو ته داسے ضرر رسوی لکه دَ سَخا په ځائے توره استعمالول)۔
ابو سعد خرازیؒ فرمائی : په حقه ژبه چاسره بدی کول احسان کول دی۔

۳۲ - دَ خپلو جګړه مارو نه حق تلاش کول :

مثلًا : یو کس راشي او په یوه اختلافي مسئله کښې دَ اهلِ حقو دَ جانبِ مقابل خلقو نه حق تلاش کوي، نو هغه ورته داسې جواب ورکړي چه دَ حق سره موافق نهٔ وي۔ نو تپوس کونکې په دې وجه دَ حق نه واپس شي۔ ځکه کله مدِ مقابل دَ خپل مخالف په مذهب پوهه نهٔ وي او یا پوهه وي خو چونکه دَ حق سره ئې مینه نهٔ وي، نو دَ حق دلائلو لره صحیح طرز او ترتیب نشي ورکولې۔ او دا کار ډیر خلق کوي۔

الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ یا أیها الذین آمنوا کونوا قوامین لله شهداء بالقسط ولا یجرمنکم شنآن قوم علی أن لا تعدلوا اعدلوا هو أقرب للتقویٰ ﴾ [مائده : ۸].

(اې ایمان والو ! تاسو په انصاف سره ګواهان جوړ شئ او دَ یو قوم بُغض دې تاسو په دې باعث نهٔ کړي چه تاسو انصاف اونهٔ کړئ، انصاف کوئ ځکه دا تقویٰ ته ډیر نزدې دې)۔

الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ وإن یکن غنیا او فقیرًا فالله أولی بهما فلا تتبعوا الهویٰ أن تعدلوا وإن تلووا أو تعرضوا فإن الله کان بما تعملون خبیرًا ﴾ [نساء ۱۳۵].

(اوکه چرې دا غني یا فقیر وي نو الله په دې دواړو باندې ډیر زیات لائق دې، نو تاسو دَ خواهش تابعداري مهٔ کوئ چه عدل نهٔ کوئ، اوکه چرې تاسو آوړئ یا مخ اړوئ نو بیشکه چه الله ستاسو په عملونو خبردار دې)۔

ابن تیمیه رحمه الله فرمائي : انسان چه کله په دروغو باندې دَ خپلې ژبې تاوولو قصد اونهٔ کړي او یا دَ خپل مخالف ځینې خبره پته نهٔ کړي، لیکن هغه مذهب چه انسان دَ هغې دَ فاسدولو قصد کوي، نو ددهٔ په زړهٔ کښې هغې سره دومره مینه نهٔ وي چه هغه ئې په ښې طریقې سره ددې دلیلونو جوړولو ته را اوبلي، تردې چه هغې له داسې ترتیب ورکړي چه دَ هغې په وجه غلبه حاصله کړي، پاتې لا دا چه ددې سره بُغض لرونکې وي دَ هغهٔ به څهٔ حال وي ؟ (نقض تاسیس الجهمیة : ۲/۳٤٤).

۳۳ - مشوره نهٔ کول :

په دې کښې شك نشته چه مشوره دَ عاقلانو سره دَ هغوئ په فهم او علم کښې شرکت دې۔ او دا دَ رائې نیغوالي او برابروالي سبب دې۔ ځکه دَ یو اځې کس په نسبت، یوه ډله علماء په حق سره ډیر لائق دي۔ بله دا چه مشوره غوښتلې شوې به کله تا په یو داسې څیز خبر کړي چه ته به دَ هغې نه غافل ئې۔

بعضِ بلیغانو وئیلي دي : دَ عاقل سړي له پکار دي چه دَ خپلې رائې سره دَ علماؤ رائې ګانو

جمع کړي، او دَ خپل عقل سره دَ حکماؤ عقلونه رایو ځائے کړي. ځکه یوه رائے کله خطاء کیږي او دَ یو کس عقل کله بے لارے کیږي. (درر السلوك، ص : ٧٤).

ابو الحسن ماوردیؒ فرمائي : دَ هوښیارانو سره ډیرے ډیرے مشورے کوه خاصکر په غټو غټو کارونو کښې، لکه دَ هر عقل دپاره دَ صحت یوه ذخیره، او دَ تدبیر یو کور وي. او ډیر کم کرته داسے کیږي چه دَ ډلے نه سمه رائے ورکه شي او یا ترے صحیح خبره خطاء شي. (درر السلوك، ص : ٧٥).

ابن قیمؒ فرمائي : دا وجه ده چه رائے هله حق او صواب جوړیږي چه دَ هوښیارو خلقو ترمینځه په هغے مشوره اوکړے شي او دَ یو کس رائے نهٔ وي. (إعلام الموقعین : ١/٨٤).

عز بن عبد السلامؒ فرمائي : الله تعالیٰ ټول حق دَ یو کس دپاره نهٔ دے مقرر کړے، دَ همدے وجے نه مشوره مشروع شوے ده. ځکه حق کله یو قوم ته ښکاره شي او کله دَ نورو نه غائب شي. امام شافعيؒ ته چا اووئیل : ټول عِلم چرته دے ؟ وے فرمائیل : په ټول عالَم کښې. یعني : الله تعالیٰ دَ ټول عالَم ترمینځه ویشلے دے او په یو کس کښې ئے نهٔ دے جمع کړے. (أحکام الجهاد وفضائله، ص : ٩٥).

سفیان ثوريؒ فرمائي : پخوا به دا خبره کیده چه دَ یو جماعت رائے ګانے او عقلونه دَ ګرانو کارونو فیصله کوونکي وي. (العقل وفضله، ص : ٥٥).

او مشوره کول دَ مؤمنانو صفت دے، الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ وأمرهم شورى بينهم ﴾.
(او هر کار دَ دوئ په مشورے سره وي). (شورى : ٣٨).

او مشوره دَ نبي کریم ﷺ او دَ صحابه کرامو – رضی الله عنهم – طریقه وه.

ځوك چه مشوره بیکاره کړي نو دَ هغهٔ هلاکت یقیني شي. او مشوره صرف متکبر او جاهل سرے پریدي. او کله چه نبي کریم ﷺ مشوره کړیده – چه هغه دَ ټول مخلوق نه زیات عالم او په وحي سره ئے تائید شوے دے – دارنګه دَ هغهٔ علماء صحابه کرامؓ لکه ابوبکرؓ او هغه ځوك چه الله تعالیٰ دَ هغهٔ په ژبه حق لیکلے لکه عمرؓ وغیره مشوره کوي. نو بل ځوك دے چه دَ دوئ نه ئے علم او ذکاوت ډیر دے چه هغه دَ مشورے نه بے پرواه شي ؟

ابن قیمؒ فرمائي : کهٔ ددهٔ سره هغه ځوك وي چه دے دَ هغهٔ په علم او دین باندے اعتماد کوي نو دهٔ له مناسب دي چه دَ هغهٔ سره مشوره اوکړي او مستقل طور سره دے جواب نهٔ ورکوي، دَ وجے دَ کبر او لوئے والي دَ نفس نه. بلکه دا چه دَ نورو علماؤ دَ فتوو نه دے مدد حاصلوي، او دا کار نهٔ کول ناپوهي ده. (إعلام الموقعین : ٤/٢٥٦).

ابن عباس – رضی الله عنهما – فرمائي : مابه دَ يوے خبرے په باره کښې دَ نبی کريم ﷺ دَ ډيرشو صحابو سره مشوره کوله۔
(سير أعلام النبلاء : ۳۴۴/۳، ذهبیؒ فرمائي : ددے سند صحيح دے).
علامه عبد الرحمن سعدیؒ فرمائي : فکر او مشوره هغه دوه غټ سببونه دی چه دَ هغے په وجه انسان حق ته رسيږی او دَ تاوان او دَ جلتئ په وجه دَ ملامتيا او دَ داسے غلطئ نه چه دَ هغے تدارك نۀ کيږی، پرے بچ کيږی۔(تيسير اللطيف المنان، ص : ۱۵۰).
ياد ساته ! چه مشوره صرف په هغه کارونو کښې وی چه هغه پټ او دقيق وی۔ پاتے شو ښکاره کارونه نو دا مشورے ته محتاج نۀ وی بلکه هغه خو په تادئ سره کول پکار دی۔
علامه عبد الرحمن سعدیؒ فرمائي : مشورے ته هغه کارونه محتاج وی چه پټ وی او دَ هغے حقيقت او منفعت معلوم نۀ وی۔ (تيسير اللطيف المنان، ص : ۱۴۹).
رسول الله ﷺ باندے چه کله الله تعالیٰ دَ اختيار آيت نازل کړو، نو ام المؤمنين عائشے صديقے – رضی الله عنها – ته ئے اوفرمائيل : « پتا باندے څۀ ملامتيا نشته چه تۀ تادی اونۀ کړے تردے چه تۀ دَ خپل مور پلار سره مشوره اوکړے » نو هغے اوفرمائيل : آيا په دے کار کښے به زۀ دَ خپل مور پلار سره مشوره کوم ؟ زۀ خو الله او رسول او دَ آخرت اراده لرم))۔ (رواه البخاری، کتاب التفسير، باب : قل لأزواج إن كنتن تردن الحياة الدنيا وزينتها. الآية ﴾ : ۵۱۹/۸، رقم : ۴۷۸۵).
دَ بعضِ دعوتی جماعتونو مشرانو، علماؤ سره دَ مشورے کولو نه اعراض کړے، او په هغه څيز کښې ورننوتی، چه دَ هغے په وجه ښهرونه او دينونه خرابيږی۔
او کيدے شی چه دَ دوئ دَ رائے دَ مستقل والی سبب، دَ دوئ دا توهم وی چه دوئ سره هغه علم موجود دے کوم چه دَ دوئ دَ علماؤ سره نشته، او هغه فقه الواقع (دَ موجوده حالاتو علم) دے۔ او څوك چه دَ کارونو په انجام پو هيږی نو هغه دا پيژنی چه فقه الواقع څۀ شئ دے۔ او ما ډير داسے خلق ليدلی، چه هغوئ دَ فقه الواقع په باره کښې خبر اترے او ليکل کوی او په دے باره کښې دَ انګريزی او فرنسی مصادرو نه استفاده کوی او دۀ ته دَ انګريزئ او فرنسئ فرق هم معلوم نۀ وی۔ دا تاته دربنائی چه ددے متکلم دپاره څۀ ملګری دی چه هغوئ دغه ماده راجمع کړيده، کوم نه چه مخکنی خلق جاهل پاتے شوی دی۔ دے خلقو دَ امت نه علماء يو طرفته کړی دی، چه دا کار په منهج کښې دَ دوئ دَ انحراف دپاره کافی دے۔ ځکه دا ډير خطرناك کار دے۔ دَ دوئ په نيز علماءِ امت صرف دَ

احکامو او عقائدو دپاره دي، او هر چه دَ واقع مسائل او دَ امتونو او دولتونو مصالح او مفاسد دي، نو دَ دې خبرو دپاره نور شهسواران دي!

دَ یو سرې خطائي چه دَ یو خاص عملي کار سره تعلق لري، او دَ یو ټول امت خطائي چه هغه په دین او دنیا دواړو کښې وي، دا دواړه سره چرته برابریدلې شي؟

نو دوئ دَ احکام او عقائدو په علم کښې دَ علماؤ تعظیم کوي۔ او هر چه فقه الواقع او انکار دَ منکر دې، نو دوئ عُلماؤ ته هیڅ توجه نۀ کوي او په هغوئ باندې هیڅ باك نۀ کوي او نۀ ورته دَ هغوئ خبره څۀ قیمتي ښکاري!! دا خلق دَ هغه متکلمینو سره مشابه دي چه هغوئ په فقه کښې خو دَ مذاهبو دَ امامانو تعظیم کوي، لیکن په اصولو او عقائدو کښې دَ هغوئ هیڅ پرواه نۀ لري۔

شیخ الاسلامؒ فرمائي: دَ متکلمینو طریقه داده چه دوئ په فروعي مسائلو او عملي شریعتونو او فقهي فیصلو کښې دَ مذاهبو دَ امامانو – لکه ابوحنیفه، مالك، شافعي، احمد بن حنبل، اسحاق بن راهویه، سفیان ثوري، لیث بن سعد، اوزاعي، داود بن علي، او نورو فقهاؤ رحمهم الله – تعظیم کوي۔ او هر چه علم کلام او دَ عقیدې مسائل دي – لکه دَ توحید، صفاتو، تقدیر، نبوات، معاد وغیره مسائل دي – نو بیا دَ دغه علماؤ دَ موافقت التزام نۀ کوي، بلکه کله دوئ خپل متکلمین استاذان په دغه امامانو باندې غوره ګڼړي۔

او وائي: دغه امامانو اګرکۀ دغه مسائل پیژندلي دي لیکن دومره تحقیق او وضاحت ئې نۀ دې کړې، څومره چه دَ دوئ متکلمینو استاذانو کړیدې۔

(الرد علی المنطقیین، ص: ٤٤٣).

۳٤ – دَ باطل پرستو حیلې او چلونه:

په باطل باندې چونکه هیڅ صحیح دلیل قائم نۀ وي، دې وجې نه اهلِ باطل دا کوشش کوي چه خپل باطل په قِسما قِسم چلونو او حیلو سره رائج کړي، چه هغه چلونه په هغه خلقو باندې چلیږي چه دَ هغوئ بصیرت او علم کمزورې وي۔

شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ فرمائي: په دې کښې شك نشته چه په باطل باندې هیڅ صحیح دلیل نۀ وي، نۀ شرعي او نۀ عقلي۔ برابره خبره ده چه دا دَ اخبارو سره تعلق لري او که دَ طلبیاتو سره۔ ځکه صحیح دلیل دَ مدعیٰ په صحت باندې دلالت کوي۔ نو که په باطل باندې صحیح دلیل قائم شي نو دا خو به بیا حق شي، حال دا چه دا خو باطل وي۔ او دا دَ نقیضینو جمع ده، لکه یو شے معدوم هم وي او موجود هم۔

(الجواب الصحيح لمن بدل دين المسيح، : ۳/ ۲٦٠).

او په شریعت کښې حیلې کول منع دي، او څوك چه حیلې کوي نو په دۀ کښې دَ یهودو مشابهت دے۔ او بیا دَ خلقو دَ گمراه کولو او دَ حق نه دَ اړولو دپاره حیلې کول خو ځو مره لویه گناه او عظیم جُرم دے۔

عز بن عبد السلامؒ فرمائي : په هغه چا کښې هیڅ خیر نشته چه دَ خپل مذهب دپاره حیلې کوي، سره ددے چه هغه ضعیف او دَ هغې دلیلونه دَ حق نه لرے وي۔ لکه په سنت، اجماع او کتاب الله کښې په ناحق تاویل کوي، او دا په باطلو تاویلونو او ناشنا جوابونو سره کیږي۔ (الفوائد في اختصار المقاصد، ص : ١٤٤).

او باطل پرست خلق دَ خپلو مذهبونو دَ خورولو دپاره په خپلو لیکنو، تقریرونو او دَ حق پرستو سره دَ معارضے او مجادلے په وخت قِسما قِسم حیلې او حربے استعمالوي۔

د باطل پرستو خلقو ډیرے حیلې او حربے وي چه دَ هغې راگیرول مشکل دي، ځکه حیله کونکي خلق خپلے حیلے دَ شیطان نه زده کوي، او دَ شیطان لوے توقے خو ډیرے دي۔ دوئ ته دَ گمراهۍ او غوایت هر رنگه حیلے ورښائي۔

مونږ دلته دَ باطل پرستو خلقو غټے او اهمے حیلے ذکر کوو، چه په هغے سره دوئ خلقو لره دَ حق نه اړوي۔

أ - ردونو ته بد کتل :

هرکله چه دَ ردونو په ذریعه دَ دوئ کوته خبره ښکاره کیږي او باطل ئې څرگندیږي او خلق دَ دوئ دَ خطایئ په ځایونو خبریږي، نو تۀ به باطل پرست خلق وینے چه دوئ ددے خبرے کوشش کوي چه خلق دَ هغه کتابونو نه منع کړي چه په هغے کښې ردونه وي۔ او دوئ دا حیله کوي چه دوئ دے ردونو له داسے مرتبه ورکوي لکه دَ همزولو خبرے، چه هغے له څۀ اعتبار نۀ وي، چه دَ هغے پتول پکار وي او نقل کول ئې نۀ وي پکار۔

حال دا چه دا ښکاره تلبیس دے، ځکه په دے کښې شك نشته چه دَ همزولو خبرے غیر معتبر وي، لیکن رد ته کتل پکار وي لکه څنگه چه سلفو به دَ رد تحقیق کولو، ډیر به ئې قبلولو او دَ هغے دَ خاوند شکریه به ئې کوله چه دۀ خپله ضروري خیر خواهي صرف کړیده او دَ منکر رد ئې کړے۔ او علماؤ دَ همزولو په خبرو کښې چه تحقیق کړے نو دوئ ته په دے کښې دا راتلونکے خبرے ښکاره شوي دي :

١ - یو ځایئ والے او نقد کښې دَ باقي علماؤ متابعت نۀ کول۔

۲ - په رد کښې اټکل او انحراف کول او صحیح مستند دلیل نهٔ ذکر کول۔
۳ - دَ علم په مرتبه کښې مساوات۔ چه دا دَ همزولو دَ لفظ نه واضح دے۔
او کله چه تهٔ په ډیرو هغه ردونو باندے سوچ اوکړے دَ کومو په باره کښې چه بعضِ خلقو داسے فیصله کړے چه دا دَ همزولو خبرے دی، تهٔ به ښکاره اووینے چه دغه خبرے نشته، اودیته دَ همزولو خبرے وئیل دَ خراب تعصب او دَ یو استاذ دپاره دَ بدلے اخستلو دَ وجے نه دی۔
او بله حیله دَ دوئ داده چه دوئ خلق دَ رد والا کتابونو نه په دے بهانه منع کوی چه دغه کتابونه اجتماعیت ختموی او پراګندګی پیدا کوی او زړونه سختوی، او ددے شاته علم نهٔ وی، او په دے کښې مړو او ژوندو دواړو باندے عیب وئیل دی او دا غیبت او عیبونه لټول دی۔ حال دا چه دا خبرے کول تدلیس او تلبیس دے، ځکه دغه خطاګانے او ګمراهئ خو شخصی ګناهونه نهٔ دی۔ بلکه دا خو یو داسے خبره ده چه شریعت ته منسوب ده، حال دا چه شریعت ددے نه بیزاره دے، او دَ دغه باطلے خبرے خاوند دا حیاء نهٔ ده کړے چه دا باطله خبره ئے خوره کړیده او دیته ئے خلق رابللی او خپل دا باطل ئے دَ حق سره ټکراؤ کړے او په شریعت کښې ئے تغییر او تبدیل پیدا کړے۔
په دے کښې شك نشته چه دَ رد کتابونه مفید او دَ دین دَ حفاظت او دَ خطاګانو او لغزشونو نه دَ شریعت دَ ساتلو او دَ الله او رسول (ﷺ) او دَ مسلمانانو دپاره دَ خیر خواهی کولو دَ وجے نه کتل واجب دی۔
شوکانیؒ فرمائی : هغه تصنیف چه هغه ددے لائق وی چه هغے ته تصنیف اووئیلے شی او هغه تالیف چه دَ اهلِ علمو نه الله دَ هغے دَ بیانولو وعده اخستے ده او دَ هغے په وجوب باندے ئے مضبوط دلیل قائم کړے، هغه دادے چه دوئ په هغے کښې دَ حق تائید اوکړی او باطل پرے رسوا کړی، او دَ حق په حجتونو سره دَ بدعاتو جرړے غوڅے کړی او دَ تعصب رسئ پرے پریکړی او خلقو ته په دے کښې دَ هدایت دَ هغه خبرو وضاحت اوکړی، کومے چه الله تعالیٰ دوئ ته واضحے واضحے نازلے کړی دی، او خلقو ته په دے کښې انتهائی انصاف اوښائی او دَ دوئ زړونو ته پکښې په قرآن او سنت باندے عمل کول محبوب جوړ کړی او دَ محض رائے او کوته خبرے او دَ باطل اجتهاد نه ئے په نفرت کښې واچوی۔
(أدب الطلب ومنتهى الأرب، ص : ۸۱).
که تهٔ غواړے چه دَ رد دَ کتابونو اهمیت اوپیژنے او دَ ددے عظیم اصل دَ ضائع کولو په

وجه چه کوم مفاسد راځی هغه معلوم کړې، نو دَ علامه بکر بن عبد الله ابو زید" کتاب (الرد علی المخالف من اصول الدین) ته رجوع اوکړه۔ دا ډیر زیات نفع مند دے۔

(ب) - حق او اهلِ حقو ته بد کتل :

دَ باطل پرستو بله حیله داده چه دوئ حق او اهلِ حق ته بد ګوری، دے دپاره چه خلق دَ مجلس والو او دَ هغوئ دَ خبرو آوریدلو نه منع کړی، ځکه دوئ یریږی چه دَ دوئ باطل به راښکاره شی۔ نو په دے کار سره دوئ په خپل باطل باندے پرده راچول غواړی۔ او نفس ته چه کله دغه قباحتونه اوویلے شی او هغه ئے قبول کړی نو نفس بیا دَ هغه چانه تختی چاته چه بد او قبیح وئیلے شوی وی، او په زړونو کښ ئے ورسره بُغض پیدا کیږی۔ او کله چه دوئ ته دا کار حاصل شی نو دوئ بیا دَ هغوئ دَ خیر نه محروم او دوئ باندے دَ حق پیژندلو د دروازو نه یوه دروازه بنده شی۔

او دا بعینه هغه کار دے چه دَ انبیاء کرامو دشمنانو او قومونو دَ انبیاء کرامو سره کړے وو۔ هغوئ ئے په قبیحو صفتونو باندے موصوف کړل او خرابو نومونو باندے ئے اوویشتل او خبیث لقبونه ئے ورته ورکړل۔ لکه دَ قریشو مشرکانو زمونږ دَ نبی - محمد ﷺ - په باره کښ اوونیل : جادوګر، لیونے او دروغژن دے۔ نو دوئ په دے وئیلو کښ دَ خپلو مشرانو پسے لاړل کوم چه دَ خپلو پیغمبرانو تکذیب کونکی وو۔ ﴿ كذلك ما أتى الذين من قبلهم من رسول إلا قالوا ساحر أو مجنون ﴾. (الذاریات :۵۲).

(دغه شان نهٔ دے راغلے هغه خلقو ته چه دَ دوئ نه مخکښ دی، هیڅ رسول مګر دوئ وئیلی دی چه جادوګر او لیونے دے)۔

او دغه شان باطل پرستو خلقو دَ انبیاء کرامو دَ وارثانو سره هم کړی دی، چه دوئ ئے ته حشویه، مجسمه او مشبهه وئیلی دی۔

ابو عثمان صابونی" فرمائی : کومو بدعتیانو چه اهلِ سُنتو ته دغه لقبونه ورکړی دی - چه د الله په فضل او مهربانئ سره دوئ ته ددے هیڅ ضرر نهٔ رسیږی - دوئ دَا اهلِ حقو سره داسے سلوك کړیدے ځنګه سلوك چه مشرکانو - لعنهم الله - دَ رسول الله ﷺ سره کړے وو۔ ځکه دوئ خپله خبره دَ هغهٔ په باره کښ تقسیم کړے وه، چا ورته ساحر، چا ورته کاهن، چا ورته شاعر او چا ورته لیونے او چا ورته مفتون او چا ورته دروغ جوړونکے او چا ورته کذاب وئیلے وو۔ حال دا چه نبی اکرم ﷺ ددے ټولو عیبونو نه لرے او بیزاره وو۔ هغه خو صرف او صرف رسول او یو غوره کړے شوے نبی وو۔ الله عز وجل فرمائی : ﴿ انظر

کیف ضربوا لك الأمثال فضلوا فلا یستطیعون سبیلا ﴾. (اسراء : ٤٨).
(اوګوره څنګه دوئ تاله صفتونه بیانوی نو ګمراه شول چه په حقه لاره دَ روانیدو طاقت نهٔ لری). (عقیدة السلف أصحاب الحدیث، رقم : ١٦٩).
دغه شان مبتدعینو هم – الله دې ئې رسوا کړی – دَ نبی کریم ﷺ دَ احادیثو حاملینو او دَ هغهٔ دَ آثارو راویانو، او دَ هغهٔ دَ احادیثو نقل کونکو، او دَ هغهٔ پسې اقتداء کونکو، او دَ هغه په سنت باندې هدایت موندونکو باره کښې – چه په اصحاب الحدیث باندې مشهور دی – مختلفې خبرې کړی او دوئ ته قِسما قِسم بد نومونه وائی. لکه څوك دوئ ته حشویه، څوك ورته مشبهه، څوك ناصبه، څوك جبریه. حال دا چه اصحاب الحدیث ددې عیبونو نه بیزاره او پاك او صفا دی. او دوئ صرف او صرف اهلِ سنت او دَ ښهٔ سیرت خاوندان دی.
دغه شان صوفیه هم دَ هدایت امامانو ته بد ګوری او دَ سنت امامانو باندې تهمتونه لګوی، او دا دعویٰ کوی چه دوئ دَ دنیا په فتنه او ددې په ډول ډهال کښې ډوب شوی دی، او دَ دوئ (صوفیهٔ) امامان ددنیا نه اعراض کونکی او آخرت ته توجه کونکی دی. دا دوئ ددې دپاره کوی چه خلق دَ اهلِ سنتو دَ علماؤ نه متنفره کړی.
امام شاطبیؒ ددې خلقو په باره کښې فرمائی : کله چه دوئ یو جاهل امی سړې بیامومی نو هغهٔ ته دَ شریعت مطهره په باره کښې اشکالات وروا چوی، دې دپاره چه دوئ باندې ګډوډی راولی او دین پرې ګډوډ کړی، نو کله چه دوئ ته پته اولګی چه هغه حیران او پریشان شو، نو بیا پرې رفته رفته خپل بدعات ورا چوی. او دَ علماؤ بدی بیانوی چه دوئ دنیا دار او دنیا ته توجه کونکی خلق دی، او وائی زمونږ ډله دَ الله واله خاص خلق دی.
(الاعتصام : ٢/١٥١).

(ج) – دَ حق په قالب کښې باطل پیش کول :

په ډیرو هغه خلقو باندې باطل رائج شو چه هغوئ دَ الفاظو سره اودریږی او دَ هغې په حقیقت او په هغه څیز کښې فکر نهٔ کوی چه په هغې سره ددې نه شاته څیز ته رسیدل کیدې شی. دې وجې نه باطل پرست خلق دا حیله جوړوی چه دوئ خپل باطل دَ شریعت په قالب کښې پیش کوی. خو په محققینو او هوښیارو خلقو باندې دا چلونه نهٔ چلیږی. بلکه هغوئ ددې پس منظر ته ګوری او خلقو ته دَ هغې کوته والې ښکاره کوی.
کله چه خوارجو صحابوؓ ته دَ کفر نسبت اوکړو، او وئیلې : ان الحکم الا لله، نو په دوئ

باندے هغه چا رد اوکړو چه هغه دَ دوئ په ګمراهئ باندے پوهه وو، یعنی علی بن ابی طالب – رضی الله عنه – په خپل دے قول سره چه دا : حقه خبره ده خو مقصد ترے باطل دے۔ (مسلم)۔

ابن قیمؒ ددے خلقو په باره کښې فرمائي : جهمیه ؤ تعطیل لره دَ تنزیه په قالب کښې را اوخکلو، او منافقانو منافقت لره دَ احسان او جوړښت او معاشی هوښیارتیا په قالب کښې پیش کړو۔ او ظالمانو فاجرانو ظلم او زیاتئ لره دَ سیاست او مجرمانو له دَ عقوبت ورکولو په قالب کښې پیش کړو۔ او تیکسونو او محصلونو والو، تیکسونه او محصلونه، مجاهدینو سره دَ مدد او دَ سرحداتو دَ جوړولو او دَ قلعو جوړولو په قالب کښې پیش کړو۔

او روافضو الحاد او کفر او دَ رسول الله ﷺ دَ غوره صحابوؓ او دَ الله په اولیاؤ او انصارو باندے عیب وئیل دَ اهلِ بیتو دَ محبت او دَ دوئ دَپاره دَ دوستئ او تعصب په قالب کښې پیش کړو۔

او اباحیه ؤ او هغه فاسقانو فقیرانو چه هغوئ تصوف ته منسوب دی، هغوئ خپل بدعت او خلافِ شرع خبرے دَ فقر، زهد، احوالو، معارفو او دَ الله دَ معرفت په قالب کښې پیش کړو۔

او اتحادیه ؤ لوئے کفر او الحاد دَ توحید په قالب کښې پیش کړو۔ او دائے اووئیل چه وجود یو دے نۀ دوه، او هغه صرف دَ الله تعالیٰ وجود دے۔ نو دوئ وائي : په خارج کښې صرف دَ الله وجود دے۔ دَ خالق او مخلوق، رب او بنده هیڅ وجود نشته، بلکه وجود صرف او صرف دَ الله دے او همدا دَ رب حقیقت دے۔

او قدریه ؤ (دَ تقدیر منکرینو) په ټولو موجوداتو باندے دَ الله دَ قدرت عموم، افعال وی که اعیان وی، دَ عدل په قالب کښې پیش کړو۔ او وائي : کۀ چرے رب دَ بندګانو په کارونو قادر اوګنړلے شي نو بیا خو به په دوئ باندے ظلم کونکے وی۔ نو دَ تقدیر نۀ منل ئے دَ عدل په قالب کښې پیش کړو۔

او جهمیه ؤ دَ الله تعالیٰ دَ صفاتو نه انکار دَ توحید په قالب کښې پیش کړو۔ او وے وئیل چه : الله دپاره سمع، بصر، قدرت، حیات، اراده او داسے کلام راشي چه هغۀ پورے قائم وی۔ نو بیا خو هغه یو ذات نشو، بلکه ګنړ آلهه شو۔

او فاسقانو او خواهش پرستو خلقو، خپل فسق او فجور او ګناهونه دَ رجاء (امید) او په الله باندے دَ ښۀ ګمان کولو په قالب کښې پیش کړو۔

او خوارجو دَ بادشاهانو سره جنګیدل او په هغویٔ باندے دَ تورے په ذریعه خروج کول دَ امر بالمعروف او نهی عن المنکر په قالب کښې پیش کړو۔
او ټولو بدعتیانو خپل بدعتونه په خاص خاص قالبونو کښې پیش کړل۔ او مشرکانو خپل شرك دَ الله دَ تعظیم په قالب کښې پیش کړو۔ او دا وائی چه الله ته دَ واسطو او شفارسیانو او داسے آلهه ؤ نه بغیر رسیدل ممکن نهٔ دی چه هغویٔ خلقو لره الله ته نزدے کړی۔
نو هر باطل پرست شخص چه تر څو پورے خپل باطل دَ حق په قالب کښې پیش نهٔ کړی، تر هغے پورے دَ هغهٔ باطل په خلقو کښې نهٔ خوریږی۔ (إغاثة اللهفان : ۸۱/۲).

(د) دروغ وئیلو کښې رخصت ورکول :

دروغ دَ منافقانو په خاصو صفتونو کښې یو صفت دے، او دا کبیره ګناه ده، او شارع په دے کښې دَ درے ځایونو نه علاوه رخصت نهٔ دے ورکړے۔ (۱) په جهاد کښې (۲) دَ خاوند په خبرو کښې چه ښځے سره ئے کوی۔ (۳) دَ دوه جګړه مارو دَ اصلاح په وخت۔
نو څوك چه ددے نه علاوه په بل ځائے کښې هم په دروغو کښې رخصت ورکوی نو دا په الله باندے دروغ تړی او دَ دلیل نه بغیر فیصله کوی۔
اودا دروغ چه ددے شناعت او قباحت دَ هیچا نه پټ نهٔ دے، په دے کښې بعضِ هغه خلقو چه دعوت ته منسوب دی رخصت ورکړے او دویٔ دا دَ خپل دعوت دپاره منهج مقرر کړے په دے بهانه چه په دے کښې دَ دعوت دپاره مصلحت دے۔ دا وجه ده چه په غیر دَ ناشنا ګنړلو نه دَ دویٔ په صفونو کښې دروغ خوریږی۔ ځکه چه په دے بنیاد باندے دویٔ دَ خپل دین او منهج بنیاد ایښے دے۔
او دروغ وئیل دَ بعضِ پارټیانو والو هغه چال دے چه په دے سره هغویٔ خلق دَ حق نه اړوی، او دا دَ دویٔ نه یا خو قصدًا واقع کیږی لکه چه دا لیدلے کتلے خبره ده، چه دَ دویٔ په خبرو کښې دَ خپلو مخالفینو په باره کښې دروغ، ظلم او زیاتے وی، نو دروغ دے دپاره وائی چه دَ خپل ځانونو نه هغه سوال دفع کړی کوم چه په دویٔ باندے لازم شوے دے او دَ هغے نه دَ دویٔ خلاصے نهٔ وی۔
شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله دَ خراب جګړه مار په باره کښې فرمائی : ډیر کرته دا کار دے په قِسما قِسم دروغو، بدعت او ظلم کښې پریے باسی او په دے سره ئے نورو کارونو ته راکاږی۔

او دویٔ چه په اهلِ حقو - اهلِ سنت - باندے افتراء کوی، نو کله ئے داسے کوی چه دَ اهلِ سنتو خبره دَ خپل باطل فهم مطابق نقل کړی، او یا په هغے کښ نور الفاظ دَ ځانه زیاتی کړی، او یا پکښ تحریف اوکړی او یائے بدل کړی، او یا پرے خالص دروغ اوتړی۔
(درء تعارض العقل والنقل: ۱٦۸/۷).

اوشیخ الاسلامؒ دَ دویٔ په باره کښ فرمائی: دویٔ دَ خپل باطل فهم په اعتبار سره دَ اهلِ سنتو نه نقل کوی او یا دَ هغویٔ په الفاظو کښ زیادت کوی او یائے په قدر او وصف کښ بدل کړی، لکه چه مونږ دا خبره دَ دویٔ دَ ژبو نه آوریدلے، او دَ دویٔ په کتابونو کښ مو لیدلے۔

بیا څوك چه په دے ناقلینو باندے ښهٔ گمان لری نو هغه دا مذهب دَ هغه چانه نقل کوی دَ چانه چه دغه خلقو نقل کړیدے۔ او بدی بیانوی او بحث کوی دَ هغه چاسره چه دَ هغهٔ دَ سره وجود نهٔ وی۔ او ددهٔ ذم په داسے موصوف باندے واقع وی چه هغه موجود نهٔ وی۔ او کله بعضے خلق بغیر د قصد نه دروغ وائی، لکه چه بعضِ خلق دَ خپلو مخالفینو دَ اقوالو، مذاهبو او عقائدو په نقل کولو کښے دا کار کوی، ځکه په دے باندے ددهٔ علم او تجربه نهٔ وی۔ (التسعینیة: ۵٤۸/۲).

شیخ الاسلامؒ دا هم فرمائی: خلق چه په خپلو تاریخونو او مقالاتو او مذاهبو کښ څهٔ بیانوی نو په هغے کښ بعضِ خبرے داسے وی چه خالص دروغ وی، هیڅ حقیقت نهٔ لری، ځکه هغه مؤرخین چه په رائے گانو او دینونو باندے کلام کول دَ هغویٔ مقصد نهٔ وی، هغویٔ په دے کتابونو کښ دروغ او رشتیا دواړه لیکلی وی، او دا اکثر هغه تاریخونه دی، چه هغه په منقولاتو باندے دَ پوهه علماؤ په تمییز سره نهٔ وی تللے شوی۔ دغه شان هغه کتابونه چه په هغے کښ دَ خلقو مقالات، رائے گانے او دینونه ذکر کیږی، په هغے کښ هم هغه خبرے وی کومے چه په دروغو او رشتیا دواړو باندے مشتملے وی۔ چه دا هم دَ هغه خلقو په نقد باندے نهٔ وی تللے شوی کوم چه دَ مقالاتو نه خبر وی۔ او کوم خلق چه دَ نقلونو او دیانتونو والا دی او دَ تاریخ مصنفین دی، په هغویٔ کښ قصدًا دروغ وئیل کم وی۔ (الرد علی البکری: ۱۸۱/۱).

دَ اهلِ باطل دا عادت دے چه دویٔ کله دَ اهلِ سنتو دَ مذهب حکایت کوی نو په دے کښ دروغ وائی، ځکه چه دَ دویٔ په زړونو باندے حق بد لگی او ددے نه یریږی چه خلق به دا حق قبول کړی هر کله چه په صحیح طریقه نقل کړے شی۔ ځکه د پاکیزه نفسونو حق

خوښ وي.
شیخ الاسلام ابن تیمیه: انسان چه کله په دروغو باندې دَ خپلې ژبې تاوولو قصد اونهٔ کړي او یا دَ خپل مخالف ځینې خبره پته نهٔ کړي، لیکن هغه مذهب چه انسان دَ هغې دَ فاسدولو قصد کوي، نو ددهٔ په زړهٔ کښې هغې سره دومره مینه نهٔ وي چه هغه ئې په ښې طریقې سره ددې دلیلونو جوړولو ته را اوبلي، تردې چه هغې له داسې ترتیب ورکړي چه دَ هغې په وجه غلبه حاصله کړي، پاتې لا دا چه ددې سره بُغض لرونکې وي دَ هغهٔ به څهٔ حال وي؟ (نقض تاسیس الجهمیة: ۱/۱۸۱).
او بعضِ خلق چونکه دَ اهلِ سنتو په مذهب نهٔ پوهیږي، دې وجې نه کله چه هغه نقل کوي نو په هغې کښې ترینه دروغ واقع کیږي، او په کومه خبره چه پوهه نهٔ وي هغه نقل کوي، او دَ خپل جهالت جرم په اهلِ سنتو باندې ورتپي.
مقبلي رحمه الله فرمائي: دَ جانبِ مقابل په مذهب باندې احاطه نهٔ کول - په دې وجه چه ددهٔ همت هغې ته نهٔ ورګرځي نو په هغهٔ باندې دَ جهالت ارتکاب اوکړي - دا دَ هغه انصاف نهٔ کولو نتیجه ده چه هغه دَ اختلاف بنیاد دې.
(العلم الشامخ، ص: ۲٦۰).

(هـ) - خپل مخالف ته دَ کم فهمی نسبت کول:

دَ باطل پرستو یو چل دادې چه څوک دَ دوئ باطل نه قبلوي او دَ دوئ په خواهشاتو کښې نهٔ داخلیږي او دَ دوئ بدعت ته ځان نهٔ منسوبوي، نو دوئ هغهٔ ته دَ کم فهمئ او کم عقلئ او غباوت نسبت کوي. او خلقو ته دا ښکاره کوي چه دَ دوئ سره کوم څیز دې، که چرې دا په ذکیانو خلقو باندې پیش کړې شي نو په تادئ سره ئې قبلوي.
شیخ الاسلام دَ متکلمینو په باره کښې فرمائي: کله چه دوئ سره طالب ورداخل شي او دوئ سره هغه خبرې شروع کړي دَ کومو نه چه دَ دوئ فطرت نفرت کوي او په دوئ باندې اعتراضونه کوي، نو دوئ ورته وائي: تهٔ دا خبرې نهٔ پیژنې، دا ستا سره مناسب نهٔ دي، نو په نفسونو کښې چه کوم غیرت او حمیت دې نو هغه انسان په دې باعث کوي چه دغه خبرې تسلیم کړې شي، دَ هغې دَ تحقیق کولو او په هغې باندې دَ اعتراض کولو نه مخکښې هغه اومنلې شي. ځکه دهٔ سره دا ویره وي چه هسې نهٔ کم علمئ او کم عقلئ ته مې منسوب کړي. (درء تعارض العقل والنقل: ۱/۲۹۵).

(و) - مجملې او مبهمې خبرې استعمالول:

دا دَ بدعتیانو طریقه ده چه دویٔ مجمله خبره استعمالوی، دے دپاره چه دویٔ په خپلو مشتبه خبرو سره جاهلان خلق دهوکه کړی، نو داسے مجمل الفاظ وائی چه هغه په حقه او باطله دواړو معنو باندے حمل کول صحیح وی۔ او دویٔ واضحه خبره نهٔ کوی، ځکه چه په دے سره دَ کلام حقیقت واضح کیږی۔

شیخ الاسلام ابن تیمیة فرمائی: کله چه تفصیل او وضاحت طلب اوکړے شی نو رازونه ئے راښکاره شی او ورځ او شپه معلومه شی۔ (التسعينة: ۲۱۷/۱).

دارنگه فرمائی: دا خبره هم دَ پیژندلو وړ ده چه دَ نصاراؤ او دَ دویٔ پشان دَ غالی صوفیهٔ او شیعه وغیره ؤ دَ گمراهیٔ سبب درے خیزونه دی: (۱) مشکل، متشابه او مجمل الفاظ، چه هغه دَ انبیاء کرامو نه نقل شوی وی۔ او دویٔ دَ صریح او محکمو الفاظو نه اعراض کوی او په دغه متشابه الفاظو باندے دلیل نیسی۔ کله چه دویٔ یو مشتبه لفظ واوری نو په هغے دلیل نیسی، او په خپل مذهب ئے حمل کړی اگرکهٔ هغه په هغے دلیل نهٔ وی۔

او هر چه ددے مخالف صریح الفاظ دی، نو یا خو دویٔ دَ هغے تفویض کوی، او یا تاویل۔ لکه چه دا کار گمراهان خلق کوی، چه دویٔ په عقلی او نقلی دلائلو کښے په متشابهاتو پسے روان وی، او دَ صریح او محکم دلیلونو نه اعراض کوی۔

(الجواب الصحيح لمن بدّل دين المسيح: ۳۱٦/۱).

او دَ مجملو الفاظو استعمالول دَ حق نه دَ لرے کیدو سبب دے، او یواځے دَ الله او رسول (ﷺ) په خبرو پورے خاص نهٔ دے، بلکه دَ علماؤ دَ مجملو اقوالو په تابعداریٔ کښې هم دا دَ گمراهیٔ سبب دے۔ خاصکر کله چه دَ هغویٔ متبعین دا په فاسدو معنو باندے هم حمل کړی، او همدا دَ عیسایانو طریقه ده۔

شیخ الاسلام ابن تیمیة فرمائی: دا خلق دَ بعضِ مشائخو په کلام کښې څهٔ متشابه او مجمل کلمات بیاموُمی چه هغه په فاسدو معنو حمل کړی، لکه دا کار عیسایانو په هغه خبرو کښې کړیدے کومے چه دَ انبیاء کرامو – علیهم السلام – نه نقل شوی دی۔ نو دویٔ محکمے خبرے پریدی او دَ متشابه تابعداری کوی۔

(مجموع الفتاویٰ: ٤٧٤/٢).

دا واجب ده چه دَ یو عالم مجمله خبره دے دَ هغهٔ دَ نورو خبرو نه معلومه کړے شی، نو په یوه مسئله کښې دے دَ هغهٔ ټول اقوال راجمع کړے شی، دے دپاره چه اشکال ختم شی او دَ

دغه عالم مراد ښکاره شي۔

دارنګه شيخ الاسلام رحمه الله فرمائي : دَ متکلم دَ بعضو خبرو تفسير دے دَ هغهٔ دَ خبرو نه اوکړے شي اودَ هغهٔ هغه او دا خبرے دے دواړه را واخستے شي، او په خبرو کولو کښ دے دَ هغهٔ خاص عادت اودَ دغه خاص لفظ نه چه کومه معنىٰ هغه اخلي نو هغه دے معلومه کړے شي۔ او هغه معنے دے هم اوپيژندے شي چه په بل ځائے کښ هغهٔ اراده کړے وی، نو کله چه دا اوپيژندلے شي نو په الفاظو او معنو کښ به ددهٔ عادت اوپيژندے شي او ددهٔ دَ مراد او مطلب په پيژندلو کښ به دا کار مدد اوکړی۔

اوکله چه يو لفظ په يوه داسے معنىٰ کښ استعمال کړے شي چه دَ هغهٔ عادت په دغه معنىٰ کښ دَ استعمالولو نهٔ وی، او دَ هغے استعمال په هغه معنىٰ کښ ترک کړے شي چه دَ هغهٔ عات دا وی چه هغه ئے په دغه معنىٰ کښ استعمالوی، او دَ هغهٔ کلام دَ هغه معنىٰ په خلاف حمل کړے شي چه دَ هغهٔ نه دا معلومه وی چه هغه دغه معنىٰ دَ دغه لفظ نه مراد کوی، نو بيا دَ هغهٔ په کلام کښ تناقض راښکاره شي۔ او دَ هغهٔ کلام دَ باقی کلام سره غير مناسب واخستے شي، نو دابه دَ هغهٔ د کلام تحريف او دَ هغهٔ دَ مقاصدو تبديل او په هغهٔ باندے دروغ تړل وی۔

(الجواب الصحيح لمن بدل دين المسيح : ۲۸۸/۲).

(ز) - منسوخ نصوصو او هغه اقوالو پورے نختل چه دَ هغے نه دَ هغے خاوندانو رجوع کړے وی :

دَ باطل پرستو دا يو چال وی چه هغوئ دَ محکمو خبرو معارضه په منسوخ نصوصو سره کوی، دغه شان هغه اقوال په دليل کښ پيش کوی چه هغه دَ هغے خاوندانو، په هغے کښے دَ ضعف دَ ښکاره کيدو په وجه پريښے وی۔ نو باطل پرست دغه اقوال خلقو ته ذکر کوی په دے انداز کښ چه ګنے دا دَ دغه علماؤ برقرار ساتلے شوی اقوال دی۔

ددے مثال دادے لکه دَ التقاء الختانين دَ وجے نه غسل کول، چه ددے په باره کښ دَ شور او زوګ والو په (انما الماء من الماء) حديث پورے نښتی دی۔

حافظ ابن رجب الحنبلي رحمه الله فرمائي : دَ کومو صحابوؓ نه چه (انما الماء من الماء) روايت شوے نو په هغے کښ دَ عامو نه ددے خلاف هم روايت شوے، چه هغوئ به دَ التقاء الختانين په وجه غسل کولو۔ لکه هغه : عثمان، علی، سعد بن ابی وقاص، ابن مسعود، ابن عباس، زيد بن ثابت، ابی بن کعب، رافع بن خديج - ﷺ - او ددے نه

معلومیږي چه دویٔ دَ خپلې اولنئ خبرے نه رجوع کړیده۔ ځکه دَ (انما الماء من الماء) دَ منسوخ کیدو قول دَ علماؤ ترمینځه مشهور دے، او ددے برعکس هیچا قول نهٔ دے کړے۔ (فتح الباری : ۱/۳۸۷).

بیا حافظ فرمائی : او مخالف په هغه حدیثونو دلیل نیسی چه دَ هغے نه دَ هغے راویانو رجوع کړے او وائی : ددے سندونه صحیح دی، او کله وائی : ددے سندونه دَ هغه حدیثونو نه زیات صحیح دی کوم چه ددے مخالف دی۔ او هم په دے وجه ډیرو علماؤ دا قِسم حدیثونه ذکر کول بد ګنړلی دی، ځکه چه دا دَ ډیرو خلقو په نفسونو کښ شبهه پیدا کوی۔

(ح) - حق پټول :

حق واضح دے او کله چه دا په خپل اصلی شکل کښے پیش کړے شی او دَ باطل معارضے ختمے کړے شی نو دَ پاکیزه ؤ نفسونو والا ددے نه سیوا بل شے نهٔ غوره کوی۔

دا وجه ده، باطل پرست خلق دِ حق پټولو او دَدے نه دَ خلقو دَ اړولو کوشش کوی۔ او دَ بدعتیانو مشهور ترینه علامه داده چه دویٔ خپل باطل ذکر کوی او کوم حق چه دَ دویٔ په خلاف تمامیږی هغه پټوی۔

لکه امام العلل دارقطنی رحمه الله چه کله دَ اذا بلغ الماء قلتین لم یحمل الخبث) حدیث ذکر کوی، نو ددے پسے دَ وکیع بن جراحؒ دا خبره پیش کوی چه : علماءِ حق خپل دلیل او دَ بل دلیل دواړه لیکی، او خواهش پرست (یعنی بدعتیان) خلق صرف خپل دلیل ذکر کوی۔ (سنن دارقطنی، رقم : ۱، ۳۱، ص : ۱۳، ۲۶).

ګویاکه دا دے خبرے ته اشاره کوی چه دهٔ دَ خپل علم مطابق ددے حدیث هیڅ سند نهٔ دے پټ کړے، او دا چه کومه تصحیح او تضعیف کوی نو دا دَ دینداریٔ په بنیاد کوی، نهٔ دَ خواهش په بنیاد۔

او دا ډیر پټ مرض دے ځوك چه په مقالاتو او مذاهبو کښ تجربه لری، په هغویٔ کښ ډیر کم خلق ددے نه بچ پاتے کیږی، او دا بیماری احکام لا ځهٔ کوے چه عقائدو ته ئے هم سرایت کړے دے۔

شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ دَ حاکم په باره کښ فرمائی : حاکم تشیع ته منسوب شوے دے، ددهٔ نه دا مطالبه اوشوه چه دَ معاویهؓ په فضیلت کښ یو حدیث روایت کړی نو دهٔ اووئیل : زما دَ زړهٔ نه نهٔ راځی، زما دَ زړهٔ نه نهٔ راځی۔ خلقو په دے باندے اووهلو خو بیائے هم دا کار

اونۀ کړو۔ حال دا چه دۀ په (الاربعین) کښې داسې حدیثونه روایت کړی چه هغه دَ ائمة الحدیث په نیز ضعیف بلکه موضوع دی، لکه هغه حدیثونه چه دَ وعده ماتونکو، ظالمانو او باغیانو سره دَ جنګونو په باره کښې راغلی۔۔۔ (منهاج السنة : ۳۷۳/۷).

شیخ الاسلام دَ بیهقی او طحاوی په باره کښې فرمائی : اګرکۀ بیهقی دا روایت کړے، لیکن په دے باره کښې په دۀ باندے رد شوے، او ددۀ په باره کښې دَ اهلِ علمو رائے داده چه دے هغه آثار پوره نۀ ذکر کوی چه هغه دَ مخالف دلیل وی، لکه څنګه دَ خپل ځان دپاره پوره دلائل ذکر کوی۔ او دے په داسے آثارو باندے دلیل نیسی، که ددۀ مخالفینو په دے باندے دلیل نیولے وے نو هغه به دۀ کمزوری کړی وے او په هغے به ئے جرح کړے وے۔ او په دے کار کښې دے – سره دَ علم او دَ دین ددۀ نه – هغه شئ واقع کړے دے کوم شئ چه ددۀ پشان نور علماء په دے کار کښې واقع کړی دی، چه هغوئ دَ نبی کریم ﷺ احادیث دَ یو عالم دَ قول سره دَ برابرولو کوشش کوی۔

نو څوك چه په دے لاره روان شی نو ددۀ دلیل محوه شی او په دۀ باندے یو قِسم ناحقه تعصب راښکاره شی۔ لکه چه دا کار هغه څوك کوی چه هغه احادیث راجمع کوی او په ډیرو ځایونو کښې دَ هغے فاسد تاویلونه کوی، چه په دے سره ددۀ مقصد دَ خپل امام دَ قول تائید کول دی، لکه چه دا کار صاحب دَ (شرح معانی الآثار) ابو جعفر طحاوی کوی، سره ددے چه دا دَ بیهقی نه هم زیات احادیث روایت کوی۔ لیکن دَ طحاوی په نسبت، بیهقی دَ صحیح او ضعیف حدیثونو تمییز زیات کوی۔

(مجموع الفتاوی : ۱٥٤/۲٤).

(ط) – دَ خپل تائید دپاره داسے اجماع پیش کول چه حقیقت نۀ لری :

په باطل باندے چونکه صحیح دلیل نۀ وی، دے وجے نه بدعتیان خلق دَ خپل بدعت دَ ترویج دپاره په تادئ باندے دَ اجماع دعوئ کوی۔ ځکه دَ خلقو دپاره دا ممکنه نۀ وی چه دوئ دَ اجماعِ امت نه خروج اوکړی۔

خو دَ اجماع دا دعوئ دوئ ته فائده نۀ ورکوی، ځکه دَ اجماع دپاره دَ کتاب او سنت نه مستند (دلیل) پکار وی، نو اجماع دلیل وی په وجود دَ دلیل باندے۔ هیڅ یوه مسئله نشته چه په هغے باندے امت اجماع کړے وی، مګر هغه به په قرآن او حدیث کښې راغلے وی۔

شیخ الاسلام ابن تیمیة فرمائی : هیڅ یو حکم نشته چه په هغے باندے دَ امت اجماع

وی، مګر په هغې باندې به نص دلالت کوی، ځکه اجماع دلیل وی په دې خبره چه دلته نص موجود دې او امامانو ته معلوم دې. داسې نۀ ده چه چاته دَ هغې معلومات نۀ کیږی.
(منهاج السنة : ۳٤٤/۸).
او هر کله چه خبره داسې ده، نو ډیر مبتدعین دَ اجماع په دعوئ سره خلقو ته مغالطې ورکوی، حال دا چه دا خالصه افتراء وی.
شیخ الاسلام ابن تیمیة فرمائی : اهلِ الرأی او متکلمین په ډیرو هغه ځایونو کښې دَ اوګدو اوګدو اجماع ګانو دعوې کوی چه هغه صحیح نۀ وی، بلکه په هغې کښې اختلاف مشهور وی، او کله داسې اوشی چه دوئ په کوم ځائې کښې دَ اجماع دعوئ کړې وی، هلته دَ دوئ په خلاف اجماع موجوده وی. (النبوات : ٤٧٩/١).
بلکه ددې نه لویه خبره داده چه بدعتیان خلق اجماع ماتوی، او اجماع ماتولو ته اجماع وائی. شیخ الاسلام دَ هغه بدعتیانو په باره کښې فرمائی چه هغوئ صرف دَ قبرونو دَ زیارت دپاره سفر کول مستحب ګنړی : دې خلقو دَ دواړو ډلو اجماع ماته کړه، او په دې باندې ئې هم کفایت اونۀ کړو تردې چه دوئ ددې اجماع دَ ماتولو دَ اجماع دعوئ اوکړه. او تردې چه دوئ دَ هغه چا دَ عقوبت په باره کښې کوشش اوکړو چه هغه په دې دوو ډلو کښې دَ یوې ډلې په قول باندې قول اوکړو، یا دَ جواز او یا دَ تحریم، بلکه هغۀ ته دَ کفر نسبت کول او دَ هغۀ دَ وژلو کوشش کول ئې جائز اوګنړل. نودا خلق غټ بدعتیان او ګمراهان دی. لکه خوارج، روافض او ددې پشان نور هغه جاهل خلق چه هغوئ دَ سنت او دَ اجماع السلف مخالفت کوی، او دَ هغه چاسره عناد کوی چه هغوئ په سنت او اجماع السلف باندې قول کوی. دَ وجې دَ باطلو شبهو نه لکه دَ ځانه جوړ شوی احادیث، او داسې مجمل الفاظ چه دوئ په هغې نۀ دی پوهه شوی.

خاتمه :

دا وو دَ حق نه دَ آوریدو اسباب چه الحمد لله دا دَ علماؤ نه پټ نۀ دی. دلته مقصد زمونږ تنبیه او اشاره کول دی. او خلق دَ حقې لارې په تابعدارئ او لزوم کښې، دارنګه دَ حق نه په آوریدو او په باطل باندې په سوریدو کښې مختلف دی. بعضِ خلق په یو سبب باندې ګرفتار وی بعضِ په دوه او زیاتو باندې. او په دې تولو کښې لوئې بدبخته هغه خلق دی چه هغوئ دَ حق نه دَ آړونکو په دغه تولو اسبابو کښې دَ هر یو نه برخه اٰخستې وی. او هر انسان په خپل ځان باندې ښۀ پوهیږی. دَ خپل ځان په نقصاناتو باندې دَ بل نه ښۀ

پوهیږي۔ او دَ لوئے تاوان خبره داده چه یو کس په دے امید کښې وي چه گنے دا دَ اهلِ حقو نه دے او دَ حق داعي دے، او ددهٔ ډیر ښهٔ مقصد دے، حق تالاش کونکے دے او په خپل خواهش باندے هغه مخکښې کونکے دے۔ حال دا چه هغه ددے برعکس وي۔ نو دا سے کس به حق ته کله رجوع او انابت کوي؟

نو دَ خیر سرچشمه علم او عدل او ښهٔ مقصد دے۔ او دَ شر سرچینه ناپوهي، ظلم او خراب مقصد دے۔

نو دَ الله عز وجل نه غواړم چه ماته او زما ورونو ته دَ حق دَ پیژندلو او دَ هغے دَ تینگ نیولو او هغے طرفته دَ دعوت ورکولو اسباب مونږ ته آسان کړي۔ او دَ باطل او دَ هغے دَ اسبابو نه مو بچ کړي۔ او دَ هغه خلقو نه مو جوړ کړي چه هغوئ حق ته ډیر زیات انابت کونکي او هغه په هر څیز باندے غوره کونکي وي۔ والحمد للّٰه رب العالمین.



۲۲ - عجيبه فائده

دَ بنده كمال، سعادت او نجات په دوه څيزونو كښې دے

دَ بنده كمال په دوه څيزونو كښې دے، او سعادت حاصلول په دوه كارونو كښې دي، او دَ اور نه نجات موندل په دوه صفتونو كښې دي:

(۱) يو دَ الله دَ حكم تعظيم كول. (۲) دويم دَ الله په بندګانو باندے شفقت او رحمت كول.

نو كله چه په بنده كښې دا يو يا دواړه صفتونه نهٔ وي، نو دا تاواني دے او هيڅ نجات نشي موندلے. دے وجے نه څوك چه دَ نجات اراده لري نو هغهٔ له پكار دي چه ددے دوه صفتونو حاصلولو كوشش اوكړي.

الله تعالىٰ فرمائي: ﴿ فلا اقتحم العقبة وما أدراك ما العقبة فك رقبة أو إطعام في يوم ذي مسغبة يتيمًا ذا مقربة أو مسكيناً ذا متربة ﴾ [بلد].

(نو دے په كنډو باندے ورداخل نشو، او تهٔ څهٔ شئ پوهه كړے ئے چه كنډو څهٔ ته وائي، مرئے آزادول يا دَ لوږے په ورځ خوراك وركول خپلوان او يا داسے مسكين ته چه خاوند دَ خاورو دے)......نو دا شفقت او رحمت شو.

﴿ ثم كان من الذين آمنوا وتواصوا بالصبر وتواصوا بالمرحمة ﴾ [بلد].

(بيا دَ هغه خلقو نه شي چه ايمان لري او يو بل ته دَ صبر وصيت كوي او يو بل ته دَ شفقت وصيت كوي).

نو دا دَ الله او دَ هغهٔ دَ حكم تعظيم شو. سره دَ دوباره رحمت ذكر كولو نه اشاره ده ديته چه بنده له مناسب دي چه په خپل زړهٔ باندے صفت دَ رحمت غالب كړي، او په دے باندے به هم اكتفاء نهٔ وي بلكه بل چاته به هم ددے وصيت كوي.

الله تعالىٰ فرمائي: ﴿ إنه كان لا يؤمن بالله العظيم ولا يحض على طعام المسكين فليس له اليوم ههنا حميم ﴾ [الحاقة]

(بيشكه دهٔ به په لوئے الله باندے ايمان نهٔ لرلو او نهٔ به ئے دَ مسكين په خوراك باندے چاله تيزي وركوله، نو نن ورځ دلته دهٔ دپاره هيڅ كرم دوست نشته).

نو په دے كښې دَ مذكوره دواړو خبرو بيان دے. دَ الله دَ حكم تعظيم كول. او دَ الله په

بندګانو رِحم کول۔
او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ کلا بل لا تکرمون الیتیم ولا تحضون علی طعام المسکین ﴾ [فجر].
(خبردار ! تاسو دَ یتیم عزت نهٔ کوئ او نهٔ دَ مسکین په خوراك باندے تیزی ورکوئ)۔
او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ حریص علیکم بالمؤمنین رؤف رحیم ﴾ [توبه : ۱۲۸].
(پتاسو باندے حرص کونکے دے، په مؤمنانو باندے شفقت کونکے مهربانه دے)۔
نو دا دَ رسول اکرم ﷺ صفت دے چه په دے کښې دَ دوئ تابعداری پکار ده۔
په دے مضمون باندے ډیر زیات آیتونه دی۔ او څوك چه دَ الله په بندګانو رحم نهٔ کوی نو دَ الله په کتاب کښې هغهٔ ته ډیر زیات زجرونه ورکړے شوی دی۔
په حدیث کښې دی : « جنتیان درے قِسمه خلق دی : (۱) انصاف دار بادشاه چه صدقه کونکے وی او ورله خیر توفیق ورته ورکړے شوے وی۔ (۲) هغه سړے چه دَ هر خپلوان او مسلمان دپاره نرم خویه، نرم زړے وی۔ (۳) او هغه پاکدامن چه دَ بال بچ دار کیدو باوجود دَ پاکدامنئ کوشش کوی »۔ (رواه مسلم).
په حدیث کښې دی : « رحم کونکو باندے رحمٰن ذات رحم کوی۔ تاسو په زمکے والو رحم کوئ۔ آسمان والا به په تاسو رحم کوی »۔
(رواه أبو داود : ۴۹۴۱، وقال الترمذی : حسن صحیح).
او نبی ﷺ فرمائی : « رحم خو صرف دَ بدبخته انسان نه اوخکلے کیږی »۔
(وحسنه الألبانی فی الترمذی : ۱۹۲۳، وصحیح أبی داود).
او نبی ﷺ فرمائی : « الله په هغه چا رحم نهٔ کوی څوك چه په خلقو رحم نهٔ کوی »۔
(رواه البخاری).
ابن مسعود ﷺ دَ نبی کریم ﷺ ارشاد نقل کوی : « تاسو هغه وخته پورے مؤمنان کیدے نشئ ترڅو چه په یو بل رحم اونهٔ کړئ۔ صحابوؓ عرض اوکړو، اے د الله رسوله ! مونږ ټول رحم کونکی یو۔ وے فرمائیل : خپل ملګری باندے ستاسو رحم کول نهٔ دی مراد۔ بلکه چه په عامو خلقو باندے رحم کول مراد دِی »۔
(کذا فی الصحیحة : ۱/۲۷۰).
عبد الله بن عمرو ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « هغه څوك زمونږ نه نهٔ دے څوك چه زمونږ په ماشومانو رحم نهٔ کوی او زمونږ دَ مشرانو شرافت نهٔ پیژنی »۔ (رواه الترمذی وأحمد : ۱/۱۵۷).

په حديث کښې دي : اقرع بن حابس اووئيل : آيا تاسو خپل ماشومانو خکلوئ ؟ زما خو لس بچي دي، ما پکښې يو هم نهٔ دے ښکل کړے۔ نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « زهٔ څهٔ کولے شم چه الله ستا دَ زړهٔ نه رحم اوخکلے دے »۔ (بخاري).

دَ ابو هريرهؓ په حديث کښې دي : « څوك چه په بل رحم نهٔ کوي، په هغهٔ به هم رحم نهٔ کيږي »۔ (رواه البخاري ومسلم).

عمرو بن حبيب نه نقل دي چه دهٔ سعيد بن خالد ته اوفرمائيل : آيا تاته معلومه نهٔ ده چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي : « هغه بنده نا اميده او تاواني دے، دَ چا په زړهٔ کښې چه الله تعالیٰ دَ انسانانو دپاره رحم وانهٔ چوي »۔
(الصحيحة : ١/٤٥٦).

نو دَ چا په زړهٔ کښې چه رحم نهٔ وي نو دا تباه او برباد دے، ددے حديث دَ وجے نه۔ او دا څومره ډير زيات خلق دي ! څان به مړوي او خواته ګاونډي به ئے اوږے وي۔ خوندونه او مزے به اخلي او ملګرے به ئے په تنګسيا کښې وي۔ په کورونو کښې به مزے کوي او دَ هغه مسکينانو نه به کرايه ګانے اخلي چه هغوئ هيڅ شے نهٔ مومي، چه دَ هغوئ غريبانانو دا حالت وي چه دَ مياشتے سر راشي نو حيران وي چه ياربه ! اوس به څهٔ کيږي ! کرايه به څنګه خلاصوو ؟ حال دا چه دغه کرايه اخستونکے دا فکر نهٔ کوي چه دَ قبر غوندے تنګ ځائے کښې به ډېره لګوي۔ افسوس چه دَ خلقو زړونه څومره خراب شوي ! والله المستعان۔

او ډير خلق دي چه بهر ملکونو ته سفرے کوي او خپله ښځه او بچي پريدي او دے هلته په کلونو کلونو ديره وي، نهٔ په خپل اهل رحم کوي اونهٔ په لونړو او ځامنو۔

او ډير خلق داسے دي چه دَ يتيمانو مالونه خوري۔ بعضِ دَ مسافرو او مهاجرو نه غلا کوي۔ پوليس طبقه دَ حيران او سرګردانه خلقو نه رشوتونه اخلي، کله ئے وهي او دَ رب العالمين نه هيڅ خوف نهٔ کوي۔ نو ددے خلقو زړونه څومره سخت دي! اور هم دداسے زړونو دَ ويلي کولو دپاره پيدا شوے دے۔ مؤمن له ضروري دي چه مؤمنان خو لا څهٔ کوے چه په کافرو هم رحم اوکړي۔

لکه په صحيح حديث کښې دَ ابن عباس ﷺ نه روايت دے، دا فرمائي : «رسول الله ﷺ يوه دسته اوليږله او هغوئ فتح اوکړه، او په هغوئ کښې يوسړے وو، هغهٔ وئيلے : زهٔ ددے خلقو نه نهٔ يم۔ زهٔ خو په يوه ښځه عاشق يم او هغے پسے شوم۔ نو ما پريدئ چه زهٔ دغے ښځے ته يو نظر اوکړم، بيا چه څهٔ را باندے کوئ هغه اوکړئ۔ خلقو چه اوکتل نو څهٔ

ګوري چه یوه اوړه، سرو شوندو والا ښځه ده. نو هغې ته ئې اوویل: اے حُبیش! ماته زما دَ ژوندګئ ختمیدو نه مخکښ ځان اوسپاره. آیا په دے تاسو سوچ کړے چه که زهٔ تاسو پسے شم او تاسو پسے په چل ول در اورسیږم او یا تاسو دَ دوه غرونو ترمینځه په دَرو کښے رالاندے کړم. نو آیا دَ یو عاشق دا حق نشته چه هغهٔ ته یوه چَپه (ښکلول) ورکړے شی، داسے عاشق چه هغهٔ دَ شپے مزلونه او بارانونه برداشت کړی وی او تاسو پسے راغلے وی؟

نو هغه ښځے اوویل: ولے نه، قربان شم! نو خلقو هغه سړے را وړاندے کړو او څټ ئے ورله اووهلو. نو دغه ښځه راغله او دَ هغهٔ خواته اودریدهٔ او یوه چغه ئے اوخکله او بیا مړه شوه. نو څهٔ وخت چه خلق رسول الله ﷺ ته راغلل، نو هغوئ له ئے ددے واقعے خبر ورکړو، نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل: آیا په تاسو کښ څوك رحم کونکے نهٔ وو؟ ».

(الصحیحة: ۲۵۹٤).

مسلمان له مناسب دی چه دَ الله خویونه په خپل ځان کښ پیدا کړی. الله ارحم الراحمین دے، نو چه مؤمن هم رحم کونکے جوړ شی.

په حدیث کښ راغلی دی: « که چرے تاسو دَ الله دَ رحمت اندازه اوپیژنئ نو په هغے به تاسو توکل اوکړئ ».

(رواه البزار بإسناد حسن، عن أبی سعید الخدری مرفوعًا، کما فی المجمع: ۱۰/۲۱۳).

اوګوره، دَ بنی اسرائیلو یوه ډمه وه، هغه الله جنت ته په دے وجه داخله کړه چه هغے په یو سپی رحم اوکړو او هغهٔ له ئے دَ په خپله موزه کښے اوبهٔ ورکړے. (بخاری).

او نبی ﷺ فرمائی: « ما یو سړے اولیدلو چه په جنت کښ تللو راتللو، په دے وجه چه هغهٔ دَ خلقو دَ لارے نه یوه ضرری څانګے لرے کړے وه ». (بخاری، مسلم).

او فرمائی: « ما یوه ښځه په اور کښ اولیدله چه دَ پیشو په باره کښ اور ته داخله شوے وه، هغه ئے ترلے وه، نهٔ ئے پریخودله چه دَ زمکے نه ئے حشرات خوړلی وے، تردے چه هغه دَ لوږے نه مړه شوه ». (بخاری).

دا خبره یاد لرل پکار دی! چه اعتبار رحم او شفقت لره دے، نهٔ ډیر عمل لره!

دَ رحمت حاصلولو طریقه:

۱ – دعاء کول: یعنی دَ الله نه دا غوښتل چه ستا زړهٔ نرم کړی او په دے کښ رحمت او شفقت واچوی. ځکه هر شے دَ الله په لاس کښ دے. او نبی ﷺ به فرمائیل: « اے الله! زهٔ تانه دِ مسکینانو سره مینه کول غواړم ».

۲ – رحم او شفقت کولو ته چه په کتاب او سنت او دَ سلفو په آثارو کښې کوم ترغیبات راغلی، هغه مطالعه کول. ځکه دا دَ الله په حکم په زړهٔ کښې رحمت او شفقت پیدا کوی.

۳ – دَ بندګانو په مصیبتونو، فقیرئ، یتیم والی، کونډوالی او حاجتونو کښې فکرکول، او مرضونه، دردونه او جیلونه وغیره لیدل. نو دا زړهٔ نرموی چه په دے کښې بیا شفقت داخلیږی.

٤ – بله دا چه دَ هر چا حق پیژندل، ځکه رحم بعینه دَ حقوقو پیژندلو ته وائی : مثلاً :

(۱) په ماشوم باندے رحم کول دادی چه هغه ښکل کړی او هغه اونهٔ وهی.

(۲) په مسکینانو باندے دَ خوراك خورولو په ذریعه رحم اوکړی او هغوئ سره ښائسته خبرے اوکړے او تسلی ورکړی.

(۳) او په یتیم باندے دَ شفقت، احسان او نفقے کولو په ذریعه رحم اوکړی.

(٤) په مریض باندے دَ دعاء او درد مند کیدو په ذریعه رحم اوکړی.

(٥) په ښځه باندے دَ ښائسته ژوند تیرولو په ذریعه رحم اوکړی. دارنګه هغے له دَ ډیر غائب کیدو، او خرچے نهٔ ورکولو په ذریعه ضرر ورنهٔ کړی. بلکه هغے باندے قِسما قِسم رحم او شفقت کوی، خپلو خپلوانو کره ئے پریږدی، هغے ته مُسکا کوی، دَ هغے خدمت کوی، دَ هغے دَ طرفه چه ورته څهٔ ضرر رسی، هغه برداشت کوی وغیره.

(٦) په مقتدیانو باندے دَ مانځه په نهٔ اوږدلو سره رحم کوی، ځکه چه په دوئ کښې کمزورے، بیمار، بوډا او دَ حاجت خاوند تول موجود وی.

(۷) په مړی باندے دَ ژړا او دعاء او درد مند کیدو په ذریعه رحم اوکړی.

لکه څنګه چه نبی ﷺ دَ خپل لور د طرفه دَ نمسی په مړینه کښې اوکړل، چه وے ژړل نو چا ترینه تپوس اوکړو، دا ولے یا رسول الله ! وے فرمائیل : « دا رحمت دے چه الله دَ خپلو بندګانو په زړونو کښې اچوی، او الله خو په خپلو بندګانو کښې صرف په هغه چا رحم کوی چه هغوئ په بل چا باندے رحم کونکی وی ».

(۸) قیدی باندے دَ خوراك او نرمو خبرو په ذریعه رحم کوی.

(۹) طالبانو باندے دَ نهٔ وهلو، یا دَ درس دَ نهٔ اوږدلو او یا کورونو ته دَ ډیرے مودے دپاره دَ نهٔ لیږلو په ذریعه رحم کوی.

مالك بن حویرث ﷺ فرمائی : مونږ دَ رسول الله ﷺ سره شل شپیتے تیرے کړے، نو کله ئے چه محسوسه کړه چه مونږه خپلو کورونو ته شوق شوے – او هغه ډیر رحم کونکے او

نرم زړے وو – نو وے فرمائیل : « خپلو کورونو ته واپس لاړ شئ »۔ الحدیث۔
او دوئ بانـدے رحم کـول مـنـاسـب ځکه دی چه دوئ مسافر دی، خپل کور کلے او خپل خپلوان او دنیا ئے پریښے ده، نو دوئ دَ رحم کولو مستحق دی۔
(۱۰) او په یے واده کړو باندے رحم اوکړی چه هغوئ له دَ وادهٔ اسباب تیار کړی۔
(۱۱) ځـوك چه دَ كـورونـو كـرایـه نشـی وركولے، په هغهٔ رحم اوکړی او دَ کور دَ کرایه اداء کولو کښ ورسره مدد اوکړی۔
(۱۲) مور پلار باندے دَ خدمت او شفقت په ذریعه رحم اوکړی۔
(۱۳) کمزورو او یے وسه خلقو سره په مدد او تائید کولو سره رحم اوکړی۔
ابـن بـطـال رحـمـه الله دَ نبی ﷺ ددے قول په باره کښ چه : « ځـوك چـه رحم نهٔ کوی، په هغهٔ رحم نشی کیدے » فـرمائی : په دے حدیث کښ دَ رحمت په استعمالولو باندے تیزی ورکـړے شـوے ده چـه دابـه ټـولـو خـلـقـو دپاره استعمالولے شی، په دے کښ مؤمن او کافر، ځـنـاور، آزاد او غـلام ټـول داخـل دی۔ او په دوئ رحم کول دَ خوراك خورولو، دَ دوئ دپاره د کـوشـش کـولـو، پـه دوئ بانـدے دَ بوج سپکولو او په دوئ باندے ظلم او زیاتے نهٔ کولو سره کیږی۔ (فتح الباری : ۱۰/٤٥٥).
سـعـدیؒ فـرمـائـی : د شـریـعـت بـنـیـاد په خپلو اصولو او فروعو هر ځهٔ کښ په رحمت او شـفـقـت باندے دے۔ دارنګه دَ حقوقو په اداء کولو مبنی دے، که هغه دَ الله حقوق وی اوکه دَ بـنـدګـانـو۔ ځکه الله هیڅ یو نفس نهٔ مکلف کوی مګر په اندازه دَ استطاعت دَ هغهٔ۔ اوکه تـهٔ سوچ اوکړے په هغه معاملاتو او ازدواجی حقوقو، او دَ والدینو او خپلوانو او ګاونډیانو پـه حقونو او باقی مشروعاتو کښ نو دا هر ځهٔ به بیاموے چه دا په رحمت او شفقت باندے مبنی دی۔ (الریاض الناضرة، ص : ٦١).
نو **رحمت** یو ښائسته اخلاق دی چه انسان دَ الله دَ رحم دپاره مستحق جوړوی۔ او په دے سره بـنـدګـانو ته هم نزدے کیږی، او دا دَ زړهٔ دَ نرمئ او دَ نفس دَ اوچتوالی دلیل هم دے۔ او دا دَ نـفـس دَ اطمینان او سکون دلیل دے۔ او دا کورونه آبادوی او عمرونه زیاتوی۔ نبی ﷺ فرمائی : « چاته چه خپله حصه نرمی ورکړے شوه نو هغهٔ ته دَ دنیا او آخرت دَ خیر حصه ورکړے شوه »۔
خپلولی پالل، ښائسته اخلاق او ښائسته ګاونډ کول کورونه آبادوی او عمرونه زیاتوی۔ (کما فی الصحیحة رقم : ٥١٩).

نو تاله پکار دی چه تهٔ ددے ښائسته خوئے دپاره کوشش اوکړے۔
او دَ هغه چا پشان مهٔ جوړیږه چه هغه دَ الله عبادت کوی او دَ الله په بندګانو باندے ظلم او زیاتے کوی۔ الله تعالیٰ دَ یحییٰ بن زکریا ﷺ مدح فرمائیلے ده :
﴿ وحنانا من لدنا وزکاة وکان تقيا ﴾ [مریم : ۱۳]
(او مونږ دَ خپل طرفنه دهٔ له شفقت کونکے پرهیزګاره بچے ورکړو)۔
یعنی مونږ دوئ له داسے بچے ورکړو چه په مور پلار وغیره باندے رحم او شفقت کونکے دے۔ سورتِ مریم ټول دَ نرمئ او شفقت سورت دے۔
په طریق القویم ص : ۱۹۰، کښې دی : رحمتِ عامه چا سره مدد کول، محتاجو خلقو سره غمخوری کول، دَ تنګ دستو خلقو قرض اداء کول، ورک شوو ته لاره خودل، مسکینانو مدد کول، په ماشومانو رحم کول، دَ مشرانو عزت کول، او په فقیرانو باندے شفقت کولو طرفته دَ زړهٔ میلان ته وائی۔ دارنګه په حیواناتو رحم کول۔ ځکه دَ ابو هریره رضی الله عنه په حدیث کښې دی : « یو ځل یو سړے په لاره روان وو، او سخت تږے شو۔ – په دے حدیث کښې دی – هاؤ ! په هر لوند ځیګر کښې اجر دے »۔ (بخاری).
نو مونږ له پکار دی چه په مؤمنانو رحم اوکړو، دوئ سره مینه اولرو، دَ دوئ عزت اوکړو، نافرمانو ته وعظ او نصیحت اوکړو، دوئ سره نرمی اوکړو، ګمراهئ والا ته نیغه لاره اوښایو او دوئ ته دعوت ورکړو۔ والله المستعان۔



۲۳ – عظیمه فائده

دَ رحمٰن ذات عظمت او لوئی پیژندل

چه ددے فائدے قدر عقل مند خلق پیژنی۔
نبی ﷺ فرمائی: « تاسو دَ الله په نعمتونو کښې فکر کوئ۔ دَ الله په ذات کښې فکر مهٔ کوئ »۔ (رواه الطبرانی فی الأوسط ٦٤٥٦، والبیهقی: ٧٥/١، فی الشعب وهو فی کتاب العظمة ١، والمجمع: ٨١/١، وابن کثیر وإسناده صحیح).
دَ ابو ذر ﷺ په مرفوع حدیث کښې دی: « دَ الله په مخلوق کښې فکر کوئ او په الله کښې فکر مهٔ کوئ گنے تباه به شئ »۔
(العظمة: ٤، القرطبی: ٣١٢/٤، الدر المنثور: ١١/٢).
ابن عباس ﷺ فرمائی: په هر یو شئ کښې فکر کوئ خو د الله په ذات کښې فکر مهٔ کوئ۔ ځکه دَ اووم آسمان او کُرسی ترمینځه اووه زره کاله مزل دے۔ او الله تعالیٰ ددے نه اخوا دے۔
(رواه الأصبهانی فی العظمة: ٢، ٣٣، ٣).
په بل حدیث کښې دی: « په مخلوق کښې فکر کوئ او په خالق کښې فکر مهٔ کوئ ځکه تاسو دَ هغهٔ دَ مرتبے اندازه نشئ لګولے »۔
(ذکره فی الکنز: ٥٧٠٦، الدر المنثور: ١٠/٢، ١٣٠/٦).
سفیان رحمه الله نه دَ دے آیت په تفسیر کښې نقل دی: ﴿ وأن إلی ربك المنتهی ﴾ [نجم: ٤٢] (او بیشکه ستا رب ته پورے رسیدل دی)۔
فرمائی: په رب عز وجل کښې فکر کول نشته۔
(رواه فی العظمة ص: ١٨، بإسناد حسن).
سعید بن المسیبؒ فرمائی: دَ الله عبادت (یواځے) په مونځ او روژے سره نهٔ دے، بلکه دَ هغهٔ په دین کښې په پوهے حاصلولو او دَ هغهٔ په امر کښې په فکر کولو سره دے۔
(کتاب العظمة ص: ١٩).
سدیؒ ددے آیت په تفسیر کښې فرمائی: ﴿ سأصرف عن آیاتی الذین یتکبرون فی الأرض بغیر الحق ﴾ [اعراف: ١٤٦] (زر دے چه زهٔ به دَ آیتونو نه هغه خلق واړووم چه هغوئ په

زمکه باندے ناحقه تکبر کوی)۔
فرمائی : په دے کښې دَ فکر کولو نه به ئې واړووم۔ (رواه الطبری فی تفسیره).
حسن بصریؒ فرمائی : فکر یوه داسے شیشه ده چه تاته خپلے نیکئ او بدئ دواړه در ښائی۔ (العظمة ص : ۲۰).
ابو سلیمانؒ فرمائی : ډیر کرته په ما باندے داسے یو ساعت راشی چه زهٔ دا نهٔ خوښوم چه زما دپاره په هغے کښې فکر پرانستے شی۔
احمدؒ فرمائی : ددے خبرے مطلب دا چه فکر اوکړی نو ددے په وجه هغه څهٔ راښکاره شی چه دے دَ خلقو ترمینځه دَ هغے راښکاره کیدل نهٔ خوښوی۔ (العظمة ص : ۲۱).
عبد الرحمن بن زید بن اسلمؒ فرمائی : ددے دین سر او صلاح صرف په سوچ سره دے۔ دے ته اوګوره چه هغهٔ تهٔ دَ هغهٔ دَ حق په اندازه نهٔ ئې مکلف کړے چه بیا تهٔ ددے حق نهٔ لرے، او هغهٔ تاله دَ هغهٔ دَ مهربانئ په اندازه ورکړه کړیده۔ (العظمة : ص : ۲۰).
یونس بن میسرةؒ فرمائی : رسول الله ﷺ په خپلو صحابوؓ را اووتلو او هغوئ دَ الله عز وجل دَ عظمت تذکره کوله۔ وے فرمائیل : تاسو دَ څهٔ شئ تذکره کوله ؟ هغوئ وئیلے : مونږ دَ الله په عظمت (او لوئ) کښې فکر کولو۔ رسول الله ﷺ اوفرمائیل : خبردار ! تاسو په الله کښې فکر مهٔ کوئ۔ درے ځله ئې اوفرمائیل۔ خبردار ! تاسو دَ الله په عظیم مخلوقاتو کښې فکر کوئ۔ درے ځله ئې اوفرمائیل))۔
دا حدیث صحیح مرسل دے۔ (العظمة، ص : ۲۲).
ابو عبد الله بن شمامؒ نه تپوس اوشو، د عُتبة الغلامؒ عبادت څهٔ وو ؟ وے فرمائیل : هغهٔ به قبلے ته مخ کړو، نو دغسے به په فکر او ژړا کښې ناست وو، تردے چه صبا به شو۔ (العظمة، ص : ۲۳).
حسن بصریؒ فرمائی : عمر بن خطاب ؓ ابو موسیٰ اشعری ؓ ته اولیکل : « کله چه تهٔ اوغواړے چه خپل عمل سپك اوګڼړے، نو په هغه نعمتونو کښې فکر اوکړه کوم چه الله تعالیٰ په تا باندے کړی دی، او په هغه اندازه عملونو کښې چه ستانه مخکښې نیکانو خلقو کړی دی، او دَ هغهٔ دَ عقوبت په اندازه کښې چه په ګناهونو باندے هغهٔ ورکړی دی۔ آدم ؑ یوه نورئ کړے وه، او الله فرمائی : آدم دَ خپل رب خلاف اوکړو، نو مقصد ته اونهٔ رسیدهٔ۔ دارنګه الله په ابلیس باندے لعنت اوکړو او هغه ئې مردود شیطان اوګرځولو دَ وجے دَ یوے سجدے نه چه دهٔ دَ هغې دَ کولو نه انکار اوکړو۔ او دَ خلقو نه ئې شادوګان او خنزیران

جوړ کړل دَ وجې دَ څهٔ مهیانو نیولو نه چه دویٔ به دَ خالي په ورځ نیول. حال دا چه دویٔ ددې نه منع شوي وو. نو اوس تهٔ دَ جنت په نعمتونو کښې فکر اوکړه او دَ هغې په بادشا هئ او دَ هغې په کرامت کښې. نو کله چه تهٔ په دې هر څهٔ کښې فکر اوکړې نو خپل ځان به اوپیژنې او خپل عمل به سپك اوګنړې او تاته به معلومه شي چه ستا عمل تا نه هیڅ نشي دفع کولې مګر دا چه الله تا په خپل رحمت او عفوه کښې پټ کړي ».
(العظمة، ص : ٢٤).

بشر بن حارثؒ فرمائي : که خلق د الله په عظمت کښې فکر اوکړي نو دَ هغهٔ نافرمانی به اونهٔ کړي.

دارنګه فرمائي : د الله په عظمت کښې فکر اوکړه، تهٔ به اوپیژنې چه تهٔ په هغهٔ باندې څنګه اقدام کوې. (العظمة، ص : ٢٥).

اوس زهٔ دَ الله هغه بعضِ مخلوقات ذکر کوم، که بندګانو په هغې کښې صحیح فکر اوکړي نو دَ دویٔ زړونه به دَ الله دَ عظمت نه ډك شي. چه دا دَ زړونو دَ اصلاح او دَ څرمنو دَ نرمیدو سبب دې. او دا دَ زړهٔ دَ روغیدو علامه ده. او کله چه زړهٔ دَ الله سبحانه وتعالیٰ د عظمت نه خالي شي نو بیا ورته هیڅ دوائي فائده نهٔ ورکوي. په الله پورې پناه!

نو دَ الله په عظیمو مخلوقاتو کښې یو مخلوق :

عرش دې : په کوم باندې چه الله خپله استواء کړیده.

دا ډیر پاکیزه مخلوق دې، الله سبحانه وتعالیٰ دیته عظیم وئیلې دې. او کله چه الله یو څیز ته عظیم اووائي نو بیا دَ هغې د عظمت اندازه څوك لږولې شي ؟ دارنګه الله تعالیٰ دیته عرش مجید او عرشِ کریم وئیلې. ځان ته ئې دَ عرش خاوند وئیلې.

ابن ابي شیبه په کتاب العرش کښې دَ بعضِ سلفو نه ذکر کړي چه : عرش دَ سُور یاقوت نه جوړ دې، دَ هغهٔ دَ دوو طرفونو ترمینځه فاصله دَ پنځوس زرو کالو په اندازه ده.
(البدایة : ٩/١، العظمة، ص : ٨٥، عن سعد الطائي).

په صحیح حدیث کښې دَ ابو ذر ﷺ نه روایت دې. ما عرض اوکړو، اې دَ الله رسوله ! پتاسو باندې چه الله کوم آیتونه نازل کړي، په هغې کښې دَ تولونه لوئې آیت کوم یو دې ؟ وې فرمائیل : آیتُ الکرسي. بیا ئې اوفرمائیل : اې ابو ذر ! اووهٔ آسمانونه دَ کرسي په مقابله کښې داسې دي لکه یوه کړئ چه په شاړه زمکه واچولې شي. او عرش دَ کرسي نه داسې لوئې دې لکه څنګه چه صحراء دَ دغه کړئ نه لویه ده.

(ابو الشيخ فی العظمة ص ۸۳، وهو فی الصحيحة رقم : ۱۰۹).

ابن عباس ﷺ فرمائی : هغه کُرسی چه هغه دَ زمکې او آسمانونو نه فراخه ده، هغه دَ دواړو قدمونو ځائے دے۔ او دَ عرش اندازه خو صرف هغه ذات لګولے شی چا چه دا پیدا کړے، او آسمانونه دَ الله تبارك وتعالیٰ په مخلوقاتو کښې داسے دی لکه په صحراء کښې خیمه۔

(أخرجه الحاكم : ۲۸۲/۲، والطبری وأبو الشيخ ۸۰).

په صحیح حدیث کښې دی : « کله چه تاسو دَ الله نه جنت غوښتلو نو فردوس ترے غواړئ ځکه دا دَ ټولو نه اوچت جنت دے او دَ ټولو نه غوره جنت دے، او ددے دپاسه دَ رحمٰن ذات عرش دے »۔ (رواه البخاری).

په حدیث کښې دی : « په جنت کښې سل درجے دی، دَ هر دوه درجو ترمینځ دومره فاصله ده لکه دَ آسمان او زمکے هومره »۔

اوګوره دے ناشنا لرے والی او ناشنا عظمت ته چه عقلونه حیرانوی !

ابن کثیر رحمه الله ذکر کړی چه : دَ اوومے زمکے نه تر عرشه پورے پنځوس زره کاله مزل دے، او ددے فراخی دَ پنځوس زره کالو په اندازه ده۔

په البدایه (۹/۱) کښې فرمائی : عرش دَ پائیو والا څیز دے، او دا دَ بادشاه تخت دے، دا ملائکو پورته کړے او دا دَ عالَم دپاسه دَ قُبے (ګنبد) پشان دے، او دا دَ مخلوقاتو چت دے۔

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ ويحمل عرش ربك فوقهم يومئذٍ ثمانية ﴾ [الحاقة : ۱۷].

(او باروی به ستا دَ رب عرش لره په دغه ورځ اتهٔ ملائك)۔

او فرمائی : ﴿ الذين يحملون العرش ومن حوله يسبحون بحمد ربهم ويؤمنون به ويستغفرون للذين آمنوا ﴾ الآية [غافر : ۷]

(دا هغه ملائك دی چه عرش پورته کوی او هغه څوك چه ددے نه ګیر چاپیره دی هغوئ دَ خپل رب دَ حمد او ثناء سره دَ هغهٔ تسبیح وائی او په هغهٔ ایمان لری او دَ ایمان والو دپاره بخښنه غواړی)۔

دَ جابر ﷺ په صحیح حدیث کښې دی : « ماته اجازت راکړے شو چه زهٔ دَ الله په ملائکو کښې دَ یو ملائك په باره کښې چه هغه دَ عرش دَ پورته کونکو ملائکو نه دے څهٔ خبره بیان کړم، هغه دا چه ددهٔ دَ غوږ دَ نرمئ نه واخله تر څټه پورے دَ اووه سوه کالو مزل دے»۔ (أبو داود).

او دَ ابن ابی عاصم په روایت کښې دي: « دَ حلقه چوړونکی مارغه دَ اووه سوه کالو مزل دے ».

نو دَ الله عظمت او لویئ ته اوګوره! څومره لوئے او عظیم ذات دے!

ابو هریره ﷺ فرمائی: « مونږ رسول الله ﷺ سره ناست وو، نو په دے کښې یوه وریځ تیره شوه، رسول الله ﷺ اوفرمائیل: تاسو ته پته ده، دا څهٔ شے دے؟ خلقو وئیلے: الله او دَ هغهٔ رسول ښهٔ پوهیږی. وے فرمائیل: دا وریځ ده، دا دَ زمکے خړوبه کونکے ده چه الله عز وجل ئے یو داسے ښار والو ته لیږی چه هغوئ ئے نه عبادت کوی او نهٔ شکر. تاسو ته پته شته چه ددے دپاسه څهٔ دی؟ خلقو وئیلے: الله او رسول ښهٔ پوهیږی. وے فرمائیل: ددے دپاسه یوه بنده چپه اویو محفوظ چت دے. تاسو ته پته ده چه ددے دپاسه څهٔ دی؟ خلقو وئیلے: الله او رسول ښهٔ پوهیږی. وے فرمائیل: دے دپاسه بل آسمان دے، چه ددے دواړو ترمینځ پنځه سوه کال مزل دے. تردے چه اووه آسمانونه ئے اوشمارل. چه د هر دوو آسمانونو ترمینځ دَ اویا کالو مزل دے. تاسو ته پته ده چه دے دپاسه څهٔ دی؟ خلقو وئیلے: الله او رسول ښهٔ پوهیږی. وے فرمائیل: دے دپاسه عرش دے. تاسو ته پته ده چه ددے دواړو ترمینځ څومره فاصله ده؟ خلقو وئیلے: الله او رسول ښهٔ پوهیږی. وے فرمائیل: ددے دواړو ترمینځ دومره فاصله ده، لکه دَ هر یو دوو آسمانو ترمینځ. یائے دیته نزدے خبره اوکړه ».

(أخرجه الترمذی وأحمد والبیهقی وابن أبی عاصم ۲۵۴، واللفظ له).

په دے سند کښې یوه بیماری ده او هغه صرف دَ حسن بصری ؒ عنعنه ده.

(کما فی ظلال الجنة للألبانی رحمه الله).

او امام ترمذیؒ او بیهقیؒ په دوه نورو سندونو سره دا حدیث داسے روایت کړے: « بیائے اوفرمائیل: آیا تاسو ته پته ده چه ددے لاندے څهٔ شے دے؟ هغوئ وئیلے: الله او دَ هغهٔ رسول ته ښه پته ده! وے فرمائیل: زمکه ده. بیائے اوفرمائیل: آیا تاسو ته پته ده چه ددے لاندے څهٔ شے دے؟ خلقو وئیلے: الله او دَ هغهٔ رسول ښهٔ پوهیږی. وے فرمائیل: ددے لاندے بله زمکه ده چه ددے دواړو ترمینځه دَ پنځه سوه کالو مزل دے، تردے چه اووه زمکے ئے اوشمارلے چه دَ هر دوو زمکو ترمینځه دَ پنځه سوه کالو مزل دے. بیائے اوفرمائیل: قسم دے په هغه ذات چه دَ هغهٔ په لاس کښې زما ساه ده! کهٔ چرے تاسو دَ یو کس په خپه کښې رسئ اوترئ او لاندینئ زمکے ته ئے ورزوړند کړئ نو خامخا به په الله –

یعنی دَ هغهٔ په علم - باندے وراوغورزیږی »۔
(په دے روایت کښې دوه بیماریٔ دی، یو انقطاع او بله تدلیس)۔
سعید بن جبیرؒ فرمائی : یو سړی دَ ابن عباس ﷺ نه ددے آیت په باره کښې تپوس اوکړو :
﴿ و کان عرشه علی الماءِ ﴾ [هود : ۷].
(او دَ هغهٔ عرش دَ اوبو دپاسه وو)۔
وئیلے : دغه وخت اوبهٔ په څهٔ شیٔ پرتے وے ؟ وے فرمائیل : دَ هواء په شا باندے۔
ددے حدیث اسناد صحیح دے۔ (السنة لابن أبی عاصم ٥٨٤، العظمة للأصبهانی).
ابن عباسؓ فرمائی : کهٔ چرے اووه آسمانونه او اووه زمکے خورے شی، بیا یو بل ته اورسیږی، نو ددے ټولو فراخی به دَ کُرسی په مقابله کښې داسے وی لکه یوه کړیٔ چه په صحراء کښې پرته وی۔ (البدایة : ۱/۱۱).
ابن عباسؓ فرمائی : آسمانونه او زمکے او په دے کښې چه کوم څیزونه دی په هغے باندے سمندرونو احاطه کړے او په دے هر څهٔ بیا هیکل احاطه کړے، او په هیکل باندے - دَ بعضے خلقو دَ وینا مطابق - **کُرسی** احاطه کړے۔
وهبؒ دَ هیکل تفسیر داسے کړے : دا یو داسے شے دے چه دَ آسمانونو دَ طرفونو نه په زمکو او سمندرونو باندے داسے احاطه اچولے لکه څنګه چه دَ خیمے طنابونه وی۔ (بدایه)
ابن کثیرؒ فرمائی : کُرسی دَ عرش مخے ته لکه دَ عرش دَ پوړیٔ پشان ده۔

★ **دَ لوح محفوظ تذکره** :

امام طبرانیؒ دَ ابن عباس ﷺ نه مرفوعًا روایت کوی : « بیشکه الله تعالیٰ یوه محفوظه تخته دَ یو داسے ملغلرے نه پیدا کړے چه دَ هغے پاڼړے دَ سرو یاقوتو دی، دَ هغے قلم نور دے، دَ هغے لیکل نور دے۔ هره ورځ دَ الله دپاره درے سوه شپیتهٔ (۳۶۰) لحظے (کتنے) وی۔ پیدا کول کوی، رزق ورکوی، وژل کوی، ژوندی کول کوی، عزت ورکوی، ذلت ورکوی، او څهٔ چه اوغواړی، کوی ئے »۔
ددے حدیث په سند کښې لیث دے۔
او په البدایه کښے دا حدیث دَ ابن عباسؓ نه صحیح موقوفًا روایت کړے۔ فرمائی : « دَ لوح محفوظ په سر کښې دا لیکلی : لا اله الا الله وحده، دَ هغهٔ دین اسلام دے، او محمد (ﷺ) دَ هغهٔ بنده او رسول دے۔ څوك چه په الله ایمان اولری، دَ هغهٔ وعدے رشتینے

اوګنړی او دَ هغهٔ دَ رسولانو تابعداری اوکړی نو جنت ته به ئے داخل کړی ».

بیا فرمائی : دَ الله لوحِ محفوظ دَ سپینے ملغلرے دے چه دَ هغے اوږدوالے دَ زمکے او آسمان ترمینځ فاصلے هومره دے، او پلنوالے ئے دومره دے لکه دَ مشرق نه مغربه پورے، او دواړه طرفونه ئے دَ ملغلرو او یاقوتو دی، او دواړه ګتے ئے دَ سرو یاقوتو دی، قلم ئے دَ نور نه دے، او خبرے ئے عرشه پورے ترلے دی، او بنیاد ئے دَ یو ملائك په غیږه کښے دے.

(انظر البداية : ١٢/١).

دَ الله عز وجل په عظمت او لویئ باندے دَ ښکاره او واضح دلیلونو نه دا اووه آسمانونه او اووه زمکے دی. الله تعالیٰ په خپل کتاب کښې دَ سماء ذکر (١٢٠) ځله کړے او دَ سموات ذکر ئے (١٩٠) ځله کړے. او دَ زمکے ذکر ئے (٤٢٧) ځله کړے. ځکه دا ټول په دے عظیم الشان رب العالمین باندے ښکاره دلیل او برهان دے.

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ الحمد لله الذى خلق السموات والأرض وجعل الظلمات والنور ثم الذين كفروا بربهم يعدلون ﴾ [انعام : ١١٠].

(تمام صفتونه دَ کمال خاص الله لره دی چه آسمانونه او زمکه ئے پیدا کړے او تیارهٔ او رنړا ئے پیدا کړه، بیا ددے نه پس هم کافران خلق دَ خپل رب سره بل څوك برابروی).

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ هو الذى خلق لكم ما فى الأرض جميعًا ثم استوى الى السماءِ فسواهن سبع سموات وهو بكل شئ عليم ﴾ [بقره : ٢٩].

(هم دا هغه ذات دے چه تاسو له ئے هغه ټول څیزونه پیدا کړی کوم چه په زمکه کښې دی، بیائے آسمان ته توجه اوکړه نو هغه ئے اووه آسمانونه برابر کړل او هغه په هر یو شئ دیر زیات ښهٔ پوهیدونکے دے).

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ قل أئنكم لتكفرون بالذى خلق الأرض فى يومين وتجعلون له أندادًا ذلك رب العالمين وجعل فيها رواسى وقدر فيها أقواتها فى أربعة أيام سواء للسائلين ثم استوى الى السماءِ وهى دخان فقال لها وللأرض ائتيا طوعًا أو كرهًا قالتا أتينا طائعين فقضاهن سبع سموات فى يومين وأوحى فى كل سماءٍ أمرها وزينا السماء الدنيا بمصابيح وحفظًا ذلك تقدير العزيز العليم ﴾ [حم سجده : ١١].

(ورته اووایه ! آیا تاسو په هغه ذات باندے کفر کوئ چا چه په دوه ورځو کښې زمکه پیدا کړے، او تاسو هغهٔ له شریکان جوړوئ. دا خو دَ ټولو عالمونو رب دے، او هغهٔ په زمکه باندے مضبوط غرونه واچول او په دے کښے ئے په څلورو ورځو کښے ددے خوراکونه

کیخودل، چه دا دَ تپوس کونکو دپاره برابر دی. بیا ئے آسمان طرفته توجه اوکړه چه هغه لوګے وو، نو هغې او زمکې – دواړو – ته ئے اوفرمائیل: تاسو دواړه په خوشحالئ یا په زوره راشئ. هغه دواړو اووئیل: مونږ په خوشحالئ باندے راځو، نو هغه ئے په دوه ورځو کښې اووهٔ آسمانونه جوړ کړل، او په هر یو آسمان کښې ئے دَ هغې حکم مقرر کړو، او مونږ آسمان په ډیوو (ستورو) سره ښائسته کړے دے او ددے حفاظت مو کړے دے، دا دَ غالبه او پوهه ذات اندازه ده).

او الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ اللّٰه الذی جعل لكم الارض قرارًا والسماء بناء وصوركم فأحسن صوركم ورزقكم من الطيبات ذلكم اللّٰه ربكم فتبارك اللّٰه رب العالمين ﴾ [غافر: ٦٤].

(الله هغه ذات دے چه تاسو له ئے زمکه قرارئ والا جوړه کړے او آسمان ئے چت ګرځولے او تاسو له ئے شکلونه درکړی نو ستاسو شکلونه ئے ښائسته کړی او تاسو له ئے دَ پاکیزه څیزونو نه درکړی، دا ستاسو رب دے نو برکت والا دے هغه الله چه رب العالمین دے).

او فرمائی: ﴿ ألم نجعل الأرض مهادًا – إلى قوله – وبنينا فوقكم سبعًا شدادًا ﴾ [نبأ: ۱۲-۲].

(آیا مونږ نهٔ ده ګرځولے زمکه فرش...او مونږ ستاسو دپاسه اووه مضبوط آسمانونه جوړ کړی دی).

او الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وجعلنا السماء سقفًا محفوظًا وهم عن آياتها غافلون ﴾ [انبياء: ۳۲].

(او مونږ آسمان محفوظ چت جوړ کړے دے او دوئ دَ هغې دَ نښو نښانو نه ناخبره دی).

او، فرمائی: ﴿ أولم ير الذين كفروا أن السموات والأرض كانتا رتقًا ففتقناهما وجعلنا من الماءِ كل شئ حيّ أفلا يؤمنون ﴾ [انبياء: ۳۰].

(آیا نهٔ ګوری کافران خلق چه آسمانونه او زمکه دواړه یوځائے نښتی وو نو هغه مونږ سره جدا کړل او دَ اوبو نه مو هر ژوندے شے پیدا کړو، نو آیا دوئ ایمان نهٔ لری).

او، فرمائی: ﴿ وكأين من آيةٍ فى السموات والأرض يمرون عليها وهم عنها معرضون ﴾ [يوسف: ۱۰٦].

(او په آسمانونو او زمکه کښې ډیرے نښے شته دے چه دوئ په هغې تیریږی او دوئ دَ هغې نه اعراض کونکی دی).

او، فرمائی: ﴿ قل انظروا ماذا فى السموات والأرض وما تغنى الآيات والنذر عن قوم لا يؤمنون ﴾ [يونس: ۱۰۱].

(ورته اووایه اوګورئ چه څهٔ شے دے په آسمانونو او زمکه کښې او نښے او یرونکی هغه

قوم ته هيڅ فائده نهٔ ورکوي څوك ايمان نهٔ لري).

او، فرمائي : ﴿ أفلم ينظروا إلى السماءِ فوقهم كيف بنيناها وزيناها ومالها من فروج، والأرض مددناها وألقينا فيها رواسي وأنبتنا فيها من كل زوج بهيج ﴾ [ق : ۷].

(آيا دوئ دَ ځان دپاسه آسمان ته نهٔ ګوري چه څنګه مونږ جوړ کړے او ښائسته کړے دے او ددے دپاره هيڅ چودونه نشته، او زمکه مو خوره کړے او ددے دپاسه مو مضبوط غرونه اچولي او په دے کښې مو دَ هرے يوے جوړے نه تازه جوړه راتوکولے).

او، فرمائي : ﴿ أفلا ينظرون إلى الإبل كيف خلقت وإلى السماءِ كيف رفعت وإلى الجبال كيف نصبت وإلى الأرض كيف سطحت ﴾ [غاشيه].

(آيا دوئ اوښانو ته نهٔ ګوري چه څنګه پيدا شوي او آسمان ته نهٔ ګوري چه څنګه اوچت شوے او غرونو ته نهٔ ګوري چه څنګه اودرولے شوي، او زمکے ته نهٔ ګوري چه څنګه غورولے شوے ده).

او، فرمائي : ﴿ ومن أياته خلق السموات والأرض واختلاف ألسنتكم وألوانكم إن في ذلك لآيات للعالمين ﴾ [روم : ۲۲].

(او بعضِ دَ نښو دَ قدرت دَ الله نه پيدائش دَ آسمانونو او زمکے دے او ستاسو دَ ژبو او رنګونو مختلف والے دے، بيشکه چه په دے کښې دَ پوهه خلقو دپاره ډيرے نښے دي).

او، فرمائي : ﴿ ومن آياته أن تقوم السماء والأرض بأمره ﴾ [روم : ۲۵] .

(او بعضے دَ نښو دَ قدرت دَ الله نه دادي چه آسمان او زمکه دَ هغهٔ په حکم ولاړ دي).

او، فرمائي : ﴿ الله الذى خلق سبع سموات ومن الأرض مثلهن يتنزل الأمر بينهن لتعلموا أن الله على كل شئ قدير وأن الله قد أحاط بكل شئ علماً ﴾ [طلاق : ۱۲].

(الله هغه ذات دے چه اووه آسمانونه او دَ زمکے نه ئے هم دَ آسمانونو پشان (اووه زمکے) پيدا کړي، ددے ترمينځه دَ الله حکم نازليږي، دے دپاره چه تاسو ته پته اولګي چه الله په هر يو شئ قادر دے او الله هر يو شے په خپل علم کښې راګير کړے).

او، فرمائي : ﴿ إن في خلق السموات والأرض واختلاف الليل والنهار لآيات لأولي الألباب الذين يذكرون الله قياما وقعوداً وعلى جنوبهم ويتفكرون في خلق السموات والأرض ربنا ما خلقت هذا باطلا سبحانك فقنا عذاب النار ﴾ [آل عمران : ۱۹۱].

(بيشکه په پيدائش دَ آسمانونو او زمکه او په تللو راتللو دَ شپه او ورځ کښې خامخا نښے دي دَپاره د عقلمندو. چه دا هغه خلق دي چه په ولاړه، په ناسته او په ملاسته باندے الله

یادوی او دَ زمکے او آسمانونو په پیدائش کښے فکر کویَ، وائی : اے ربه زمونږ ! تا دا بیکاره نۀ دی پیدا کړی، پاکی تالره نو مونږ دَ اور د عذابه اوساتے)۔
او، فرمائی : ﴿ إن فی خلق السموات والأرض واختلاف اللیل والنهار والفلك ﴾ الآیة [بقره : ۱٦٤] (بیشکه په پیدائش دَ آسمانونو او زمکے او په تللو راتللو دَ شپے او ورځ او په کشتیو کښں دَ عقلمندو خلقو دپاره نښے شته دی)۔
او، فرمائی : ﴿ والسماء بنیناها بأیدٍ وإنا لموسعون والأرض فرشناها فنعم الماهدون ﴾ [داریات]. (اوآسمان مونږ په طاقت سره جوړ کړے او بیشکه مونږ فراخه قدرت والا یو، او زمکه مونږ غوړولے ده، نو څۀ ډیر ښۀ غوړونکی یو مونږ)۔
او، فرمائی : ﴿ والسماءِ ذات البروج ﴾ (او آسمانونه خاوندان دَ غټو غټو ستورو دی)۔
او، فرمائی : ﴿ والسماء والطارق ﴾.
(او گواه دے آسمان او دَ شپے راختونکے ستورے)۔
او، فرمائی : ﴿ أأنتم أشد خلقًا أم السماء بناها رفع سمکها فسواها وأغطش لیلها وأخرج ضحاها والأرض بعد ذلك دحاها ﴾ [نازعات].
(آیا تاسو په پیدائش کښں سخت یئ اوکه آسمان، هغۀ ئے جوړ کړے او دَ هغے چت ئے اوچت کړے او هغه ئے برابر کړے او دَ هغے شپه ئے تیارۀ کړے او دَ هغے چاشت ئے را اوخکلے او ددے نه پس ئے زمکه غوړولے)۔
او، فرمائی : ﴿ ولقد جعلنا فی السماءِ بروجا وزیناها للناظرین وحفظناها من کل شیطان رجیم ﴾ [نحل : ١٦] (او یقینًا مونږ په آسمان کښں غټ غټ ستوری پیدا کړی او هغه مو کتونکو دپاره ښائسته کړے او هغه مو دَ هر رټلے شوی شیطان نه محفوظ ساتلے)۔
او، فرمائی : ﴿ وما خلقنا السماء والأرض وما بینهما لاعبین ﴾ [انبیاء : ١٦].
(او مونږ آسمان او زمکه او ددے ترمینځه څیزونه عبث نۀ دی پیدا کړی)۔
او، فرمائی : ﴿ ویمسك السماء أن تقع علی الأرض إلا بإذنه ﴾ [حج : ٦٥].
(او آسمان ئے په زمکه دَ را غورزیدو نه بند کړے مگر دَ الله په حکم سره)۔
او، فرمائی : ﴿ إن الله یمسك السموات والأرض أن تزولا ولئن زالتا إن أمسکهما من أحد من بعده إنه کان حلیما غفورًا ﴾ [فاطر : ٤١].
(بیشکه الله آسمانونه او زمکه دَ زائله کیدو نه بند کړی دی اوکه دا دواړه زائله شی نو دَ هغۀ نه پس به ئے هیڅوك راتینگ نۀ کړی، بیشکه هغه صبرناك او بخونکے دے)۔

او، فرمائي: ﴿ تبارك الذي جعل في السماءِ بروجًا وجعل فيها سراجًا وقمرًا منيرًا ﴾.
(برکت والا دے هغه ذات چه هغهٔ په آسمان کښې غټ ستوري پيدا کړي او په هغې کښې ډيوه او رنړا کونکے سپوږمۍ پيدا کړے). [فرقان : ٦١]
او، فرمائي: ﴿ وما خلقنا السماء والأرض وما بينهما باطلا ﴾ [ص : ٢٧].
(او مونږ آسمان او زمکه او ددے دواړو ترمينځه څيزونه بيکاره نهٔ دي پيدا کړي).
او، فرمائي: ﴿ بديع السموات والأرض ﴾ [انعام]
(ناشنا پيدا کونکے دَ آسمانونو او زمکے دے).
او، فرمائي: ﴿ قل أغير الله أتخذ وليا فاطر السموات والأرض ﴾ [انعام].
(ورته اووايه ! آيا دَ الله نه سيوا زهٔ بل ولي اونيسم، ناشنا پيدا کونکے دَ آسمانونو او زمکے دے).
او، فرمائي: ﴿ تكاد السموات يتفطرن من فوقهن والملائكة يسبحون بحمد ربهم ﴾ [شورى : ٥]. (نزدے دي آسمانونه چه دَ دوئ دپاسه نه اوچوي او ملائك دَ خپل رب دَ حمد سره تسبيح بيانوي). يعنى د الله دَ عظمت دَ وجے نه.
او، فرمائي: ﴿ له ملك السموات والأرض وإلى الله ترجع الأمور ﴾ [حديد : ٥].
(هغهٔ دپاره بادشاهي دَ آسمونو او زمکے ده او خاص الله ته ټول کارونه ورګرځولے کيږي).
په دے مضمون باندے ډير زيات آيتونه دي، چه دَ هغې په مطالعه کولو سره دَ الله عظمت، دَ هغهٔ دَ ملك فراخي، دَ هغهٔ دَ علم، قدرت او حکمت وسعت معلوميږي.
علماء فرمائي: الله تعالیٰ زمکه او آسمانونه او هغه څيزونه چه ددے دواړو ترمينځه دي، په شپږو ورځو کښې پيدا کړي، او غوره داده چه دَ اتوار نه ئے ترجُمعے پورے پيدا کړي.
ابن عباس ﷺ فرمائي: هره ورځ دَ زرو کالو وه. ابن کثيرؒ دا په البداية کښې راجح کړې دې. (۱/۱۲).

او **ظاهره** خبره اولنۍ ده. لکه دے باندے احاديث او په تورات کښې سِفر الخلق دلالت کوي. او زمکه دَ آسمان نه مخکښے پيدا شوے، بيا دَ آسمان دَ پيدا کيدو نه پس خوره شوے، څکه آسمان لکه دَ چت غوندے دے، او دا دَ بنياد نه روستو وي. او زمکه او آسمان دواړه دَ اوبو نه پيدا دي، لکه چه ابن عباس او ابن مسعود ﷺ فرمائيلي. ﴿ هو الذي خلق لكم ما في الأرض جميعًا ثم استوى الى السماءِ فسواهن سبع سموات ﴾ [بقره : ۲۹].
فرمائي: بيشکه دَ الله عرش دَ اوبو دپاسه وو او په خپلو مخلوقاتو کښے ئے هيڅ يو

مخلوق دَ اوبو نه مخکښې نۀ دے پیدا کړے، نو کله ئے چه مخلوق پیدا کول اوغوښتل نو دَ اوبو نه ئے لوګے را اوخکلو او هغه دَ اوبو دَپاسه شو او په هغې اوچت شو نو هغې ته ئے دَ آسمان نوم کیخودۀ. بیائے اوبۀ اوچے کړے او هغې نه ئے یوه زمکه جوړه کړه، بیائے هغه اوشکوله او په دوه ورځو کښې ئے اووه زمکے پیدا کړے (اتوار او ګل). (البداية).

په **تورات** کښې راغلی : الله زمکه او آسمان پیدا کړل او دَ هغۀ عرش په اوبو پروت وو، نو الله تعالیٰ اوفرمائیل : نور دے پیدا شی نو نور پیدا شو او دَ تیرے نه ئے جدا کړو نو شپه او ورځ پیدا شوه. بیائے دَ اوبو نه زمکه او آسمان پیدا کړل چه دا دواړه ئے اوچول. بیائے په هغې کښې قوتونه او بندګانو ته نفع رسونکی څیزونه پیدا کړل.

اودا په قرآن کښې هم راغلی. ﴿ أولم یر الذین کفروا أن السموات والأرض کانتا رتقا ففتقناهما وجعلنا من الماءِ کل شئ حیّ أفلا یؤمنون ﴾ [انبیاء : ۳۰].

دَ ترمذی په مخکنی حدیث کښې تیر شو. « آیا تاسو ته پته ده چه ددے دپاسه څۀ دی ؟ خلقو وئیلے : الله او رسول ښۀ پوهیږی. وے فرمائیل : ددے دپاسه دَ اوبو یوه بنده شوے چپه ده ».

نو ددے معلومیږی چه آسمان دَ اوبو چَپَه ده.

او زمکے اووه دی : لکه دَ بخاری په حدیث کښې دی : « چا چه دَ یوے لیشتے هومره ځائے په ظلم سره لاندے کړو، نو دَ اوو زمکو پورے به ددۀ په غاړه کښې واچولے شی ».

بیا ابن کثیرؒ فرمائی : نو دا احادیث دَ اوو زمکو په اثبات کښې دَ متواترو پشان دی. او مطلب دا چه هره یوه زمکه دَ بلے زمکے دپاسه ده، او یوه ددے دواړو ترمینځه ده. لکه چه دا خبره اهلِ هیئت ذکر کړے تر اوومے زمکے پورے. او دا زمکے یو بل سره جوختے دے، ډډی پکښې نشته، او ددے په مینځ کښې مرکز دے، او دا یوه اندازه کړے شوے وهمی نقطه ده، او دا دَ اثقالو (بوجونو) دَراکوزیدو ځائے دے، دَ هر اړخ نه چه کوم شے غورزیږی نو دیته رسیږی هر کله ئے چه څۀ رکاوټ منع نۀ کړی. بیا په دے کښې اختلاف دے چه دا زمکے تَهٔ دَرتَهٔ دی جدائی پکښې نشته اوکه دَ هرے یوے نه بلے پورے ددے ترمینځه خلاء موجود ده؟ نو دا دوه قوله دی او همدا اختلاف په افلاکو کښې هم جاری دے.

ظاهره داده چه دَ هرے یوے زمکے نه بلے زمکے پورے فاصله موجوده ده، دَ وجے دَ ظاهر ددے قول دَ الله تعالیٰ :

﴿ الله الذی خلق سبع سموات ومن الأرض مثلهن یتنزل الأمر بینهن ﴾ [طلاق : ۱۲].

او دَ احمد او ترمذی په حدیث کښې دی : « تاسو پیژنئ چه ستاسو نه لاندې څۀ دی ؟ مونږ وئیلې : الله او رسول ښۀ پوهیږی. وې فرمائیل : زمکه ده. آیا تاسو ته پته ده چه دَ هغې لاندې څۀ دی ؟ مونږ وئیلې : الله او دَ هغۀ رسول ښۀ پوهیږی. وې فرمائیل : بله زمکه ده. آیا تاسو ته پته ده چه ددې دواړو ترمینځه څومره فاصله ده ؟ مونږ وئیلې : الله او رسول ښۀ پوهیږی. وې فرمائیل : دَ پنځه سوه کالو مزل، تردې چه اووۀ زمکې ئې اوشمارلې »... الحدیث. او دا مخکښې تیر شو.

ابن مسعود ﷺ فرمائی : ستاسو دَ رب سره شپه او ورځ نشته، دَ آسمانونو او زمکې نور دَ هغۀ دَ مخ دَ نور دَ وجې نه دې.

(المجمع : ٨٥/١، العظمة ص : ١١٣).

وهب بن منبهٌ فرمائی : الله دَ خپل نور نه عرش پیدا کړو، او دَ عرش سره کُرسی لګیدلې ده، او اوبۀ ټولې دَ کُرسی په خیته کښې دی، او اوبۀ دَ هواء په شا باندې دی، او دَ عرش باروونکو ملائکو اوګې دَ عرش سره لګیدلې دی، او دَ عرش نه ګیر چاپیره څلور نهرونه دی، یو دَ نور نهر دې چه پرقیږی، بل دَ بلیدونکې اور نهر دې، بل دَ سپینې واورې نهر دې چه سترګې بریښوی، او بل دَ اوبو نهر دې. او ملائك په دغه نهرونو کښې ولاړ دی دَ الله تعالیٰ تسبیح وائی، او دَ عرش دپاره دَ ټولو مخلوقاتو د ژبو هومره ژبې دی، او هغه دَ الله تعالیٰ تسبیح وائی او په دغه ژبو سره دَ هغۀ ذکر کوی.

(ذکره فی العظمة ص ١٩٢).

او دا یو اسرائیلی اثر دې، زمونږ دَ شریعت نه مخالف نۀ دې، نو ددې بیانول جائز دی.

عکرمهٌ فرمائی : نمر دَ کُرسی دَ رنړا دَ اویا برخو نه یوه برخه ده. او کُرسی یوه برخه ده دَ اویا برخو دَ رنړا دَ عرش نه. او عرش یوه برخه ده دَ اویا برخو دَ رنړا دَ پردې نه.

(ذکره فی العظمة ص ٢٥٢).

وهبٌ فرمائی : الله عز جل عرش پیدا کړو او دَ عرش دپاره اویا زره پُندیٔ دی هره پندیٔ دَ آسمان او زمکې دَ ګولائی پشان ګولائی لری. (العظمة ص : ٢٩٧).

★ آسمانونه پیژندل :

ابن عباس ﷺ فرمائی : یو سړې رسول الله ﷺ ته راغې، وې فرمائیل : دا آسمان څۀ شې دې ؟ وې فرمائیل : د اوبو یوه بنده شوې څپه.

(رواه فی العظمة ص : ٥٤١، الدر : ٤٤/١، ابن کثیر : ١٧٧/٤).

ددے حدیث په سند کښې جعفر بن ابی المغیره دے، او په دهٔ کښې خبرے شوی دی۔
ایاس بن معاویهؒ فرمائی : آسمان دَ گنبد پشان په زمکه راغوړیدلے دے۔
ابو صالح الحنفیؒ فرمائی : آسمانونه ټول یو وو، نو دَ هغې نه اووه آسمانونه جدا شول، او زمکے یو شے وو، نو دَ هغې نه اووهٔ زمکے جدا شوے۔
(الطبری : ۱۹/۱۷، الدر المنثور : ۳۱۷/٤).
کعبؒ فرمائی : آسمان دَ پیئو نه هم زیات سپین دے۔ (الدر المنثور : ٤٤/١).
او آسمان خاوند دَ سختئ او دَ ډول دے۔
الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ والسماء ذات الحبك ﴾ [ذاریات : ۷].
(او آسمان چه خاوند دَ لارو یا خاوند د حُسن او دَ جمال او د زینت او دَ رونق دے).
دارنګه فرمائی : ﴿ سبعا شدادًا ﴾ [نبأ : ۱۲].(اووه سخت).
دارنګه دا آسمانونه دَ یو بل دپاسه طبقه در طبقه پراتهٔ دی۔
ربیع بن انسؒ فرمائی : دا نزدے آسمان دَ اوبو بنده شوے چپه ده۔ دویم آسمان : کاڼړے دے۔ دریم : اوسپنه۔ څلورم : قلعی۔ پنځم : سپین زر۔ شپږم : سرهٔ زر۔ اووم : یاقوت دی۔
(الطبری : ٦٩/٢٨، الدر المنثور : ٤٤/١).
او در منثور کښې ورسره دا زیاتی دی : او ددے دپاسه دَ نور صحراګانے دی او دَ هغې دپاسه بیا دَ الله نه سیوا بل هیچاته پته نشته۔ او یو ملائك دے چه په پردو باندے مقرر شوے چه هغهٔ ته میطاطروش وائی۔
علی ﷺ فرمائی : ددے نزدے آسمان نوم رقیع دے او دَ اووم آسمان نوم ضراح دے۔
(الدر المنثور : ٤٤/١، العظمة ص : ٥٦٦).

دَ زمکے او آسمان ترمینځه فاصله :

عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائی : دَ زمکے او آسمان ترمینځ پنځه سوه کاله مزل دے۔ او دَ هر آسمان او زمکے ترمینځ پنځه سوه کاله مزل دے۔ او دَ هر آسمان او زمکے پیړوالے دَ پنځو سوو کالو په اندازه دے۔ او دَ اووم آسمان او کُرسی ترمینځ پنځه سوه کاله مزل دے۔ او دَ کُرسی او اوبو ترمینځ پنځه سوه کاله مزل دے۔ او عرش دَ اوبو دپاسه دے او الله دَ عرش دپاسه دے، او هغهٔ ته دَ هغه ټولو احوالو علم دے په کوم باندے چه تاسو ئے۔
(العظمة رقم ٥٦٧، الدر المنثور : ٤٤/١).

دَ زمکے، آسمانونو او غرونو بنیاد :

عبد الله بن عمرو ﷺ فرمائي : کله چه الله تعالیٰ دَ څیزونو پیدا کولو اراده اوکړه، او دا هغه وخت وو چه دَ الله عرش دَ اوبو دپاسه وو، او په دغه وخت نهٔ زمکه وه او نهٔ آسمان۔ نو هواء ئې پیدا کړه او هغه ئې په اوبو باندې را وارَوله، تردې چه اوبو چپې اَووهلې او دَ هغې تَهٔ دَرتَهٔ ئې روښانه کړو، نو د اوبو نه ئې لوګي او ختهه او زګ را اوخکلو، او لوګی ته ئې حکم اوکړو نو هغه پورته شو او زیات شو، نو دَ هغې نه ئې آسمانونه پیدا کړل، او دَ ختې نه ئې زمکې پیدا کړې، او دَ زګ نه ئې غرونه پیدا کړل۔

(أخرجه الدارمی فی کتاب الرد علی الجهمیة، الدر : ۴۳/۱).

عباس بن مطلب ﷺ فرمائي : مونږ دَ نبي ﷺ سره وو، نو وې فرمائیل : « څهٔ مو خیال دې، دَ آسمان او زمکې ترمینځه فاصله څومره ده ؟ خلقو وئیلې : الله او رسول ښهٔ پوهیږي۔ وې فرمائیل : ددې ترمینځه دَ پنځو سوو کالو فاصله ده، او دَ یو آسمان نه بل آسمان پورې پنځه سوه کاله مزل دې، او دَ هر یو آسمان کثافت (پلنوالې) پنځه سوه کاله دې، او دَ اووم آسمان دپاسه یو سمندر دې چه دَ هغې دَ اوچت او ښکته طرف ترمینځه دومره فاصله ده لکه دَ زمکې او آسمان هومره۔ بیا ددې دپاسه دَ ځنګلي بزو په شکل آتهٔ ملائك دي چه د هغوئ دَ سُمونو او زنګنونو ترمینځه دومره فاصله ده لکه دَ یو آسمان نه بل آسمان پورې، چه ددې دَ بره او ښکته طرف ترمینځه دومره فاصله ده لکه د یو آسمان نه بل آسمان پورې۔ بیا ددې دپاسه الله سبحانه وتعالی دې چه په هغهٔ باندې دَ انسانانو هیڅ یو عمل پټ نهٔ پاتې کیږي»۔

(أخرجه أحمد وعبد بن حمید وأبوداود والترمذی وحسنه والحاکم وصححه وأبو الشیخ والبیهقی فی الأسماءِ والصفات والطبری فی الکبیر واللالکائی فی السنة وغیرهم، کما فی الدر المنثور : ۴۳/۶).

زۀ وایم : مخکنی آثار او روایات ددې حدیث تائید کوي۔

حبة العوفيؒ فرمائي : ما دَ علي ﷺ نه یو ورځ واوریدل چه قسَم ئې خوړلو : په هغه ذات مې دې قسَم وي چه آسمان ئې دَ اوبو دَ لوګي نه پیدا کړې۔ (الدر : ۴۴/۱).

او مخکښې دَ ابن عباسؓ قول تیر شو چه : « په هر شئ کښې فکر کوئ خو دَ الله په ذات کښې فکر مهٔ کوئ ځکه دَ اووم آسمان نه کُرسی پورې اووه زره رڼړا ګانې دي، او الله ددې دپاسه دې »۔(الدر المنثور : ۴۴/۱).

او دَ هغه دلیلونو نه چه دَ الله په عظمت دلالت کوي، هغه پردې دي کومې چه دَ هغهٔ او دَ بندګانو ترمینځه دي۔ لکه په صحیح مسلم کښې حدیث دې : « دَ هغهٔ پردې دَ رڼړا نه دي،

کۀ چرې هغه ئې لرې کړې نو دَ هغۀ دَ مخ پلوشې به هغه مخلوق اوسيزي کوم ته چه دَ هغۀ نظر رسيږي ».- يعنې ټول مخلوقات.
(مسلم، مجمع الزوائد :۱۹/۹، حديث صحيح، وذكره في العظمة رقم : ۲۹۳).
ابن عباس ﷛ فرمائي : « يو ځل رسول الله ﷺ سره جبرئيل ﷤ سرگوشي کوله چه په دې کښې دَ آسمان کناره اوچاوده، نو جبرئيل ﷤ شروع شو چه زمکې ته نزدې کيدۀ او بعضې حصه ئې په بعضو نورو حصو کښې داخليدله او نرې کيدۀ، نو ناگهانه يو ملائك دَ نبي ﷺ مخامخ متشکل شو او وې فرمائيل : اې محمد ! بيشکه الله تبارك وتعالىٰ تاته امر کوي چه تاله دا اختيار دې چه تۀ بنده نبي جوړېږې، يا بادشاه نبي جوړېږې.- نو ماته جبرئيل ﷤ خپل لاس سره اشاره اوکړه، چه تواضع اوکړه.- نو ماته پته اولگيده چه دې زما خير خواهي طلب کوي، نو ما اووئيل : بنده نبي جوړېږم.- فرمائي : نو دغه ملائك اوختلو او ما اووئيلې : اې جبرئيل ! زما دا اراده وه چه تانه ددۀ په باره کښې تپوس اوکړم، ليکن ستا دا حالت چه مې اوليدۀ نو مانه ئې سوال هير کړو.- نو جبرئيله ! دا ملائك څوك دې ؟ وې فرمائيل : دا اسرافيل دې، دې چه په کومه ورځ الله پيدا کړې نو دَ هغې راسې دَ هغۀ مخامخ په خپلو قدمونو نيغ ولاړ دې، خپل نظر هم نۀ پورته کوي.- ددۀ او دَ رب عز وجل ترمينځ اويا رڼاگانې دي، په دغه رڼاگانو کښې که دې يوې رڼا ته هم نزدې شي نو اوبه سوزي.- نو کله چه الله عز وجل په يو څيز کښې اجازه اوکړي، په زمکه وي يا په آسمان کښې، نو دغه تخته اوچته شي تر دې چه دَ هغۀ تندې اووهي، نو هغه په هغې کښې اوگوري، نو که هغه کار ما سره تعلق لري، نو ماته حکم اوکړي، اوکه دَ ميکائيل دَ کار سره تعلق لري نو هغۀ ته دَ هغې امر اوکړي، او که دَ ملك الموت سره تعلق لري نو هغۀ ته دَ هغې حکم اوکړي.- (نبي ﷺ فرمائي) ما وئيلې : جبرئيله ! تۀ په څۀ شئ مقرر ئې؟ وې فرمائيل : زۀ په هواگانو او په اوچتو زمکو.- ما وئيلې : ميکائيل په څۀ شئ مقرر دې؟ وې فرمائيل : په گياه گانو او بارانونو.- ما وئيلې : ملك الموت په څۀ شئ مقرر دې ؟ وې فرمائيل : دَ ساه گانو په اخستو.- او زما خيال نۀ دې چه هغه راکوز شوې وي مگر دَ قيامت قائميدو دپاره ».-
الله اکبر ! الله څومره لوئې شان لري !
عبد الله بن عمرو ﷛ فرمائي : « په هغه ذات قسم دې چه دَ هغۀ په لاس کښې زما ساه ده، دَ قيامت په ورځ به دَ الله عز وجل مخې ته اويا زره پردې وي، ځينې پردې به دَ اور وي، ځينې دَ

رنړا، او ځینې دَ تیرې »۔ (کتاب العظمة رقم ۲۲۷، وإسناده صحیح).

عبد الله بن عمرو، او سهل بن سعد – رضی الله عنهما – دواړه فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: « دَ الله تبارك وتعالیٰ مخې ته دَ رنړا او تیرو اویا زره پردې دی، او هیڅ یو نفس داسې نشته چه دَ دغه پردو څۀ حِس واوری مګر دَ هغۀ روح به اووځی »۔

(ابن أبی عاصم فی السنة ۷۸۸، وأبو الشیخ فی العظمة رقم ۲٦۵، ورجاله ثقات کلهم غیر موسیٰ بن عبیدة الربذی ففیه مقال، ویشهد له الأثر المتقدم).

مخکنې حدیث ددې حدیث تائید کوی۔

ابن عمر ﷺ دَ الله تعالیٰ ددې قول په باره کښې فرمائی:

﴿ هل ینظرون إلا أن یأتیهم اللّٰه فی ظلل من الغمام والملائکة ﴾ [بقره: ۲۱۰].

(دوئ انتظار نۀ کوی مګر ددې چه الله او ملائك دوئ ته دَ وریځو په سورو کښې راشی)۔

فرمائی: کله چه راکوزیږی نو په داسې حال کښې راکوزیږی چه دَ هغۀ او دَ مخلوق ترمینځ به دَ نور، اوبو او دَ تیرې اویا لکهه پردې وی، نو دغه اوبۀ، رنړا او تیارۀ به داسې آواز اوباسی چه دَ هغې دَ وجې نه به زړونه راوځی۔

(طبری: ٦/۱۹، العظمة رقم: ۲۷۲، وغیرهما).

زراره بن ابی اوفیٰ نه روایت دې چه نبی ﷺ جبرئیل ﷺ نه تپوس اوکړو، آیا تا خپل رب لیدلې؟ نو جبرئیل وزرې اوخوزولې او وې فرمائیل: اې محمد! بیشکه زما او دَ هغۀ ترمینځ دَ نور اویا پردې دی، کۀ چرې دَ هغې لاندې پردې ته زۀ ورنزدې شوم نو اوبه سوزم)

(دا صحیح مرسل حدیث دې. العظمة، ص: ۲۷۳، المشکاة: ۲، ابن ابی شیبه فی کتاب العرش وهو فی المجمع: ۷۹/۱، الأسماء والصفات للبیهقی، ص: ۵۰۸).

مجاهد فرمائی: دَ ملائکو او دَ عرش ترمینځ دَ نور اویا زره پردې دی۔

(العظمة رقم ۲۷۸).

نبی ﷺ فرمائی: « په ټولو مخلوق کښې الله ته زیات نزدې جبرئیل، میکائیل او اسرافیل دې، او دوئ دَ الله تبارك وتعالیٰ نه دَ پنځه زره کالو په مزل باندې دی »۔

(رواه فی العظمة رقم: ۲۷۷).

ددې حدیث په سند کښې احوص بن حکیم دې، او په دۀ کښې کمزوری شته دې۔

د ملائکو تذکره:

دَ الله – سبحانه وتعالیٰ – په عظمت باندې بل دلالت کونکې څیز دَ ملائکو – علیهم

السلام - پيدائش دے، ځکه دوئ دَ الله په مخلوقاتو کښے دَ هر چانه زيات دی، او دَ هر چانه ئے بدنونه غټ دی او دَ هر چانه دَ الله زيات فرمانبردار دی. دوئ دَ خپل رب نه چه دَ دوئ دپاسه دے يريږی، او هغه کارونه کوی دَ کوم امر چه ورته کيږی. په هغهٔ ايمان لری، شپه او ورځ دَ هغهٔ تسبيح وائی او هغهٔ ته سجده کوی او ستړی کيږی نهٔ.

په قرآن کريم کښے الله تعالیٰ (۸۸) ځله دَ ملائکو تذکره کړے. او دَ دوئ صفت ئے په خپل دے قول سره کړے: ﴿ جاعل الملائکة رسلا أولی أجنحةٍ مثنیٰ وثلث ورباع يزيد فی الخلق ما يشاء إن الله علی کل شئ قدير ﴾ [فاطر : ۱].

(گرځونکے دَ ملائکو دے استاذی، چه خاوندان دی دَ دوه دوه، دَ درے درے او دَ څلور څلورو وزرو، زياتوی په پيدائش کښ څهٔ چه اوغواړی، بيشکه الله تعالیٰ په هر شئ قدرت لرونکے دے).

نو اول دَ دوئ کثرت ته اوگوره او بيا دَ دوئ دَ اجسامو عظمت ته اوگوره.

الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وما يعلم جنود ربك إلا هو ﴾ [مدثر : ۳۱].

(او ستا دَ رب لښکرے صرف هغهٔ ته معلومے دی).

نو دَ ملائکو شماره دَ الله نه علاوه بل هيچاته معلومه نهٔ ده. الله تعالیٰ فرمائی:

﴿ له معقبات من بين يديه ومن خلفه يحفظونه من أمر الله ﴾ [رعد : ۱۱].

(خاص دَ الله دپاره دی هغه ملائك چه دَ انسان مخے او شاته يو بل نه روستو راتلونکی دی، چه دَ الله دَ ا مر دَ وجے نه ددهٔ حفاظت کوی).

نو دَ هر يو انسان سره ډير ملائك دی.

په صحيح حديث کښ دی: « آسمان چغارے کوی او لائق دی دهٔ لره چه چغارے اوکړی، ځکه په دے کښے دَ څلورو گوتو هومره ځائے داسے نشته چه هلته يو ملائك خپل تندے په سجده ايښے نهٔ وی ».

(أحمد : ۱۷۳/۵، ترمذی :۲/، حاکم).

عائشه - رضی الله عنها - فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائيل: « په آسمان کښے دَ يو قدم هومره ځائے نشته مگر هلته يو ملائك دَ سجدے په حالت کښے وی او يا ولاړ وی. او همدا مقصد دے ددے قول دَ الله تعالیٰ: ﴿ وما منا إلا له مقام معلوم، وإنا لنحن الصافون ﴾ [صٰفّٰت : ۱٦٥].

(او په مونږ کښے هيڅوك نشته مگر دَ هغهٔ دپاره يو معلوم ځائے دے، او بيشکه مونږه

صف ترونکی یو))۔
(أبو الشيخ : ٥٨، المجمع : ٨/، ابن كثير : ٤).
جابر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : ((په آسمانونو کښې دَ قدم هومره او نهٔ دَ لیشتې او ورغوی هومره ځائے شته مگر هلته یو ملائك ولاړ وی او یا یو ملائك سجده کونکے وی۔ او کله چه دَ قیامت ورځ شی نو دوئ تول به وائی : پاکی ده تالره مونږ ستا دَ عبادت سَم حق اداء نهٔ کړو، البته مونږ تاسره څوك شریك کړے هم نهٔ دے))۔ (الطبری وابن کثیر).
امام اوزاعیؒ فرمائی : موسیٰ ﷺ اوفرمائیل : اے ربه ! تاسره په آسمان کښې نور څوك دی ؟ وے فرمائیل : زما ملائك۔ هغهٔ وئیلے : اے ربه ! دا څومره دی ؟ وے فرمائیل : دولس خاندانه۔ هغهٔ عرض اوکړو، دَ هر یو خاندان شماره څومره ده ؟ وے فرمائیل : دَ خاورو دَ شمارے هومره۔ (أبو الشيخ فی العظمة رقم ٣٢٥).
نو په دے کثرت کښې فکر اوکړه، تاته به دَ الله عجیب قدرت او عظمت معلوم شی۔
په حدیث کښې دی : ((ما بیت المعمور اولیدهٔ چه هغے ته هر ورځ اویا زره ملائك ننوځی او بیا به ورته قیامته پورے نهٔ واپس کیږی))۔ (ابن کثیر : ٣)۔
په حدیث کښې دی : ((ماته اجازه شوے چه زهٔ دَ یو ملائك باره کښې بیان اوکړم چه دَ هغهٔ خپے اووم زمکے ته وتلی دی، او عرش دَ هغهٔ په اوگو باندے ولاړ دے، او هغه وائی : پاکی تالره ! چرته به وے او چرته به ئے))۔
(رواه أبو يعلىٰ ورجاله رجال الصحيح، كما فى المجمع : ١/٨٠).

دَ جبرئیل علیه السلام عظمت :

دَ ابن مسعود ﷺ په حدیث کښې دی، رسول الله ﷺ جبرئیل ﷺ په یوه شنه جوړه کښې اولیدلو چه دَ زمکے او آسمان ترمینځه علاقه ئے ډکه کړے وه۔
(أبو الشيخ رقم : ٣٤٣، المسند : ١/٣٩٣، بإسناد صحيح).
په صحیح مسلم (١/١٥٩) کښې دی۔ عائشه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : ((ما جبرئیل ﷺ دَ راکوزیدو په حالت کښې اولیدلو چه دَ مشرق او مغرب ترمینځ کناره ئے ډکه کړے وه، په هغهٔ دَ نرو ریښمو جوړه وه چه هغے پورے ملغلرے او یاقوت نښتی وو))۔۔(أحمد : ٦/١٢٠، بإسناد صحيح).
په صحیح بخاری کښې دی، ابن مسعود ﷺ فرمائی : ((رسول الله ﷺ جبرئیل ﷺ لره دَ سدرة المنتهیٰ په خوا کښې اولیدلو چه دَ هغهٔ شپږ سوه وزرے وے))۔

ابن مسعود ﷺ فرمائي : ﴿ ولقد رآه نزلة أخرى ﴾ [النجم : ۱۳].

(او یقیناً هغه ئې په دویم ځل اولیدلو)۔ فرمائي : «نبي ﷺ دَ جبرئیل په دوارو پښو باندې ملغلرې داسې اولیدلې لکه په سبزۍ باندې دَ بارانۀ څاڅکي »۔ (أبو الشيخ : ۳٤۹).

دارنګه فرمائي : ﴿ لقد رأىٰ من آيت ربه الكبرى ﴾ [النجم : ۱۸].

(بیشکه نبي ﷺ دَ خپل رب غټې غټې نښې اولیدلې)۔ فرمائي : «محمد ﷺ جبرئیل لره په خپل شکل کښې اولیدلو چه دَ هغۀ شپږ سوه وزرې وې، په هغې کښې هرې وزرې دَ مشرق او مغرب ترمینځه علاقه بنده کړې وه »۔ (أبو الشيخ : ۳۵۷).

مجاهدؒ فرمائي : ﴿ والمؤتفكة أهوىٰ ﴾ [النجم : ۵۳].

یعنې قومِ لوط لره جبرئیل ښکته کړل، بیائې آسمان طرفته اوچت کړل او بیائې ښکته راګوذار کړل)۔(رواه الطبري بإسناد صحيح وهو في العظمة : ۳۷۱).

ابن عباس ﷺ نه روایت دې، نبي ﷺ اوفرمائیل : « دَ جبرئیل دَ دوه اوګو ترمینځه دَ تیز آلوتونکي مارغۀ پنځه سوه کاله مزل دې »۔(رواه في العظمة بإسناد رجاله ثقات).

په دې روایت کښې ابن جریج عنعنه کړې، خو هلته ددې ډیر زیات آثار تائید کوي۔ رقم : (۳۷۷)۔

عکرمهؒ فرمائي : شپیلۍ دَ اسرافیل ﷺ سره ده او په دې کښې دَ هریو ځیز روحونه پراتۀ دي، په کومه ورځ چه په دې کښې دَ قیامت دَ قائمولو پوکے اوکړې شي نو الله عز وجل به اوفرمائي : زما په عزت مې دې قسَم وي، هریو روح دې خپل بدن ته واپس شي۔او ددې نه یوه کړۍ دَ زمکې او اوو آسمانونونه لویه ده۔ او شپیلۍ ئې په اسرافیل باندې پیدا کړې، او هغۀ خپل نظر عرش ته پورته کړې چه کله به ورته دَ شپیلۍ پوکلو حکم کیږي چه په شپیلۍ کښې پوکے اوکړي۔

(الدر المنثور : ۳۳۹/۵، العظمة : ۳۹۲).

سمَاكؒ فرمائي : ما ابن عباسؓ ته عرض اوکړو، تۀ په هغه خبره کښې څۀ وائې چه زۀ ئې په غم او اهتمام کښې اچولے یم۔ هغه داچه دوه نفسونه دي چه دَ هغې دوارو مرګ دَ سترګې په رَپ کښې سمون اوخوړلو او یو په مشرق کښې دې او بل په مغرب کښې، په دې دوارو باندې ملك الموت څنګه قادریدې شي ؟ ابن عباسؓ اوفرمائیل : قسَم دې په هغه ذات چه زما نفس دَ هغۀ په لاس کښې دې ! ملك الموت په مشرق او مغرب والو، او په تیرو او رنړاګانو او سمندرونو باندې داسې قادر دې، لکه څنګه چه یو سړې په خپل دسترخوان

باندے قادر وي، چه دَ هغے نه څهٔ خوري خوړلے ئے شي. (العظمة رقم ٤٣٤).

او دَ جابر ﷺ حديث مخکښے تير شو چه نبي ﷺ اوفرمائيل : « ماته اجازه شوے چه زهٔ دَ يو ملائك باره کښے بيان اوکړم چه دَ هغهٔ خپے اوومے زمکے نه وتلي دي، او عرش ئ هغهٔ په اوګو باندے ولاړ دے، او هغه وائي : پاکي تالره ! چرته به وے او چرته به ئے ».

(أبوداود رقم : ٤٧٢٨).

عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائي : دَ عرش باروونکي ملائك داسے دي، چه په هغوئ کښے دَ يو کس دَ سترګے دَ يو ګوټ نه بل ګوټ ته پورے دَ پنځه سوه کالو مزل دے.

(العظمة رقم : ٤٨).

په دے مضمون باندے ډير آثار او روايتونه راغلي چه هغه دَ ملائکو په عظمت دلالت کوي. کله چه په دے کښے بنده فکر اوکړي نو پته ورته لګي چه الله عز وجل دَ هر يو شئ نه لوئے او عظيم دے، دَ هغهٔ دَ علم احاطه څوك نشي کولے، او نهٔ هغهٔ ته فکر او عقل رسيدے شي.

دَ جنت په عظمت کښے فکر اوکړه : « په جنت کښے سل درجے دي، دَ هر دوه درجو ترمينځه دومره فاصله ده لکه دَ آسمان او زمکے هومره ».(بخاري).

نو دا څومره عظيم مخلوق دے !

اوکهٔ دَ آسمان نه يوه پياله را خطا کړے شي نو دَ شپے راتللو نه به مخکښے را اورسيږي. اوکهٔ چرے اووه بلارے غتے اوښے دَ جهنم دَ غاړے نه را پريښودے شي، نو اويا کاله به روانے وي، او دَ هغے ژور والي ته دَ رسيدو نه به مخکښے اويا کاله تير شي. لکه چه دا دَ حاکم په حديث کښے راغلي دي.

او دَ کافريو غاښ به دَ أُحُد غرهٔ هومره غټ وي. نو ددے عظيم څيز په پيدا کولو کښے فکر اوکړه چه څومره فراخه شے الله عز وجل دَ خپلو دشمنانو دپاره تيار کړے. په الله پناه !

دَ نمر، سپوږمۍ او ستورو دَ جُثو عظمت او کثرت :

الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ هو الذى جعل الشمس ضياء والقمر نورًا وقدره منازل لتعلموا عدد السنين والحساب ما خلق الله ذلك إلا بالحق ﴾ [يونس].

(خاص الله هغه ذات دے چه نمرئے ډيرے رڼا والا جوړ کړے او سپوږمۍ ئے (هم) رڼا والا جوړه کړے، او هغه ئے په منازلو باندے اندازه کړے، دے دپاره چه تاسو دَ کلونو او حساب په شمار باندے پوهه شئ. الله تعالىٰ دا نهٔ دي پيدا کړي مګر په حق سره).

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ والشمس والقمر والنجوم مسخرات بأمره ﴾ [اعراف : ٥٤].
(او نمر او سپوږمۍ او ستوری، دا ټول تابع دی دَ الله په امر سره).
او، فرمائی : ﴿ وسخر الشمس والقمر كل يجري لأجل لمسمى ﴾ [فاطر : ١٣].
(او نمر او سپوږمۍ ټول یوې خاصې نیټې پورې روان دی).
او، فرمائی : ﴿ وسخر لكم الليل والنهار والشمس والقمر والنجوم مسخرات بأمره ﴾ [النحل : ١٢] . (او تابع کړی ئې دی ستاسو دَ فائدې دپاره شپه او ورځ او نمر او سپوږمۍ. او ستوری (هم) دَ هغهٔ په امر سره تابع دی).
په قرآن کریم کښې دَ نمر تذکره (۳۲) ځله. او دَ سپوږمۍ تذکره (۲۶) ځله او دَ ستورو تذکره (۱۳) ځله شوې.
الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ فلا أقسم بمواقع النجوم وإنه لقسم لو تعلمون عظيم ﴾ [الواقعة]
(نو زهٔ دَ ستورو دَ واقع کیدو په ځایونو قسَم خورم، او بیشکه که تاسو پو هیږئ نو دا یو لوئې قسَم دې).
نو دَ نمر یو قُطر (ارخ) (۸٦٦٥۰۰) میله دې، او دَ بعضې ماهرینو په نیز (۸٦٥۳۸۰) میله دې. او ددې حُجم دَ نهه سیاراتو نه (۷۰۰) چنده لوئې دې.
او نمر دَ دیارلس لکهه زمکو سره برابر دې. یعنی که دیارلس لکهه زمکې فرض کړې شي، نو دا به دَ نمر هومره وی. نو دا څومره لویه جُوثه ده !!
او دَ نمر گرمائش څلور وارو طرفونو ته خورېږی، او ددې گرمایش لږه شان حصه په زمکه باندې لگیږی یعنی دومره اندازه (۲۱۳۹۰۰۰۰۰۰).
علمِ هیئت والو دَ ستورو یو تخمینی شمار کړیدې چه په فضاء کښې یو لکهه ملیون (یو کرب) کهکشانه دی. او په هر یو کهکشان کښې یو کرب ستوری دی. او خلقو ددې کائناتو نه صرف دَ لږې اندازې تصور کړې دې.
دا وجه ده علامه طنطاویؒ په خپل تفسیر الجواهر (۲۱۲/۹) کښې فرمائی : نن ورځ انسان دَ یو ماشوم حیثیت لری چه دَ علمونو نه هیڅ یو شې نهٔ پیژنی.
او الله تعالیٰ کائنات ډیر زیات فراخه کړی دی، تردې چه دَ انسان تصور ددې دَ ادراك نه عاجز دې. او دَ هیئت علماء صرف ددې دَ یوې حصې نه بحث کوی.
او دَ زمکې دَ استوائی قُطر اندازه (۷۹۲۷) میله ده. او سپوږمۍ دَ زمکې نه (۲٤۰۰۰۰) دوه لکهه څلویښت زره اندازه لویه ده. او زمکه او سپوږمۍ دواړه دَ نمر نه گیر چاپیره

ګرځي او نمر ددې دواړو نه (۹۳،۰۰۰،۰۰۰) نهه کروړه دیرش لکهه ځله لرې دې. او دَ نمر حُجم دَ زمکې نه (۱۳) لکهه ځله لوئې دې. او دَ نمر دَ نظام فراخي دَ لس، یا دَ پنځلس اربه میلو په اندازه ده.

او مونږ ته دَ نمر ګرمایش په (۸) مینټو او (۱۸) سیکنډونو کښې را رسیږي. او نمر دَ نهه واړه سیاراتو نه په (۷۰۰) چنده لوئې دې.

او دَ نهه سیاراتو نه علاوه چه باقي کوم ستوري دي، چه دَ هغې شماره نشي کیدې، هغه ټول دَ نظامِ شمسي نه بهر دي.

او نمر ته نزدې ستوري رنړا مونږ ته په (۴۴/۱) کالو کښې را رسي او دَ بعضو ستورو رنړا مونږ ته په (۱۰۰) کاله کښې رارسیږي. او دَ بعضو په (۲۰۰) کالو کښې، او دَ بعضو په (۱۰۰) کالو کښې.

او زمونږ په کهکشان کښې یو کرب ستوري دي، او هر یو ستورې دَ بل ستوري نه دَ نوري کلونو په شماره سل کاله لرې دې، او دَ نوري کال مطلب دا چه رنړا په یو سیکنډ کښې دَ (۱۸۶۰۰۰) یو لکهه او شپږ اتیا کالو میلو مسافت قطع کوي.

او ددې یو کهکشان قُطر (۵۰) پنځوس زره نوري کاله دې. اوبل طرفته په لکهونو نوري کلونه دې. نو دا څومره لوئې کهکشان دې !!

او ددې کهکشان نه اخوا نورو کهکشانونه بل عالَم دې.

بعضِ ماهرینو په تلکسوب سره دیرش کروړه کهکشانونه لیدلي، او په هر یو کهکشان کښې دومره ستوري دي چه یو ارب نه زیات ته رسیږي، او په دې کښې نمر هم دې.

او دَ زمکې نه یجلان (وریځې) پورې دَ یو لکهه نوري کال مسافه ده.

او بعضِ ماهرینو وئیلي دي چه زمکې ته دَ ټولو نه نزدې کهکشان دَ زمکې نه دَ یو کروړ نوري کالو په اندازه لرې دې. او ددې قطر (۴۵) زره نوري کاله دې.

او لرې کهکشانونه چه په تلکسوب کښې راځي، هغه دَ زمکې نه دَ شلو کروړو په مسافه باندې لرې دي. نو دې عظیمې فاصلې کښې فکر اوکړه ! او دا څیزونه په هغه تلکسوب کښې راځي چه دَ هغې مقدار سل ګوتې دې، او اوس په امریکا کښې داسې تلکسوب پیدا شوې چه دَ هغې اندازه دوه سوه ګوتې دې، نو ددې دائره نوره هم فراخه ده.

په جواهر الطنطاوي (۹/۲۳۰) کښې دي : اُستاذ هویل وائي : کومه فضاء چه په اجرامِ فلکیه ؤ باندې مشغول ده، هغه دَ راجح قول مطابق دَ هغه زرو چندونو دَ مسافت نه هم

زیاتـه ده کـوم چـه زمـونږ او دَ سلام (کهـکشان) ترمینځـه ده، چـه دَ هغې لیدل پـه غټ تـلـکسوب باندې ممکن دی. نو انسان نون ورځ لکه دَ یو ماشوم غوندې په هیڅ علومو خبر نهٔ دے.
او دَ بعضِ فلکی ماهرینو په نیز دَ ټولو کائناتو حُجم زر زر میلونه زمکې دی چه په فضاء کښې دَ هغې نه گیر چاپیره خورې دی. نو زمونږ زمکه د ټولو نه زیاته وړوکی ده ! (یعنی دَ کُل جهان حُجم تقریبًا دَ یو ارب زمکو برابر دے کوم چه په فضاء کښې دی او زمونږ دَ زمکې نه گیـر چاپیره خورې دی، نو دَ کائناتو دَ وسعت په مقابله کښې زمونږ دا زمکه څومره وړه ده). (انظر الفلكيات الحديثة للبازي، ص : ۲۷۳).

هغه نهه ستوری چه دَ نمر نه چاپیره گرځي :

عطارد : او دا دَ نمر نه شل کروړه او شپیتهٔ لکهه میله لرې دے.
زهره : او دا دَ نمر نه شپږ کروړه او اویا لکهه میله لرې دے.
زمکه : او دا نهه کروړه او دیرش لکهه میله ده.
مریخ : (۱٤) کروړه او (۱۵) لکهه میله دے.
مشتری : (٤۸) کروړه او (۲۲) لکهه میله دے.
زحل : (۸۸) کروړه او (٦۰) لکهه میله دے.
یورنیس : (۱۷۸) کروړ میله دے.
نیبجون : (۲۸۰) کروړه او (۲۰) لکهه میله دے.
بلوټو : (۳٦۷) کروړ میله دے.

او د سپوږمۍ لرې والے دَ نمر نه په اندازه دَ دوه کروړه او څلویښتو زرو میلو دے.
او دا مسافتونـه کـلـه دَ مدارِ بیضوی په وجه د دغه اندازې نه په لکهونو میله زیات هم کیدے شي. (انظر الفلكيات الحديدة ص ۳۳).
او ددے ستـورو دپـاره ډیـرے سپـوږمـۍ دی. او دَ مشتـری او مـریـخ تـرمینځـه دومره ډیر ستوری دی چه دَ هغې شماره صرف الله ته معلو مه ده.
او الله تـعـالیٰ هـره شپـه دَ اوبـو دَ سمندرونو نه پنځه کهربه ټنه اندازه دَ هواء یخولو دپاره پـورتـه کـوی، اوکـه چرې دا نهٔ وې نو خلق به دَ گرمۍ نه مړهٔ وې.نو دا څومره لوئے نعمت دے.
دا وجه ده الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ فلا أقسم بمواقع النجوم وإنه لقسم لو تعلمون عظيم ﴾. (زهٔ

قَسم کوم په ځائے دَ واقع کیدو دَ ستورو باندے او دا لوئے قَسم دے که چرے تاسو پو هیږئ)۔
او دَ ستورو په خپل مدارونو کښے طلوع او غروب داسے خیزونه دی چه په دے باندے صرف او صرف الله عز وجل قدرت لری۔

د غرونو د عظمت بیان :

اوکه تهٔ مضبوطو غرونو ته اوګورے او دَ هغے کثرت او قوت او ښائسته شکلونو ته فکر اوکړے نو تاته به معلومه شی چه ددے یو عظیم رب او حکیم او علیم ذات شته دے۔
مسند احمد کښے راغلی چه «کله الله عز وجل زمکه پیدا کړه نو هغے رپیدل شروع کړل، نو غرونه ئے پیدا کړل او هغه ئے پرے واچول نو برقراره شوه، نو ملائکو دَ غرونو دَ پیدائش نه تعجب اوکړو، او عرض ئے اوکړو، اے ربه ! ستا په مخلوق کښے دَ غرونو نه هم بل مضبوط شے شته ؟ وے فرمائیل : هاؤ۔ اوسپنه۔ هغوئ عرض اوکړو، اے ربه ! ستا په مخلوق کښے دَ اوسپنے نه هم زیات مضبوط شے شته ؟ وے فرمائیل : هاؤ۔ سیلئ۔ هغوئ عرض اوکړو۔ اے ربه ! ستا په مخلوق کښے دَ سیلئ نه هم مضبوط شے شته ؟ وے فرمائیل : هاؤ۔ هغه انسان چه هغه په خپل ښی لاس سره صدقه اوکړی او دَ ګس لاس نه ئے پټه کړی »۔ (ذکره فی المشکاة : ۱).
په مشکوٰة کښے ورسره دَ اوبو تذکره هم شته۔
الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ ومن الجبال جدد بیض وحمر مختلف ألوانها وغرابیب سود﴾ [فاطر : ۲۷، ۲۸] (او د غرونو مختلفے حصے دی، سپینے او سرے چه د دوئ رنګونه هم مختلف دی او ډیر تك تور)۔

★ دَ الله سبحانه وتعالیٰ بل عظمت ته اوګوره۔ او **هغه دَ سمندرونو او نهرونو تابع** کول دی۔ دَ نهرونو په عظمت، اوږدوالی، فراخئ او عجائبو کښے فکر اوکړه، نو تهٔ به دَ الله داسے عظمت، علم، ښائسته تدبیر او حکمت اووینے چه عقلونه ورته حیرانیږی او وهمونه تعجب کوی۔

په **عالَمِ نباتات** کښے فکر اوکړه۔ علماؤ وئیلی دی چه الله عز وجل اتیا زره قِسمه بوټی پیدا کړی بلکه ددے نه هم زیات۔ او په هغے کښے ئے عجیب عجیب خواص او دَ بندګانو او څناورو دپاره فوائد ایښے دی۔

او په **عالَمِ حیوان** کښے فکر اوکړه۔ او دَ حیواناتو قسمونه زروته رسیږی او بعضِ وائی اتلس زروته رسیږی۔ په دے کښے ډیر زیات عجائب دی۔ او الله تعالیٰ په خپل کتاب

کښې تقريباً اويا (۷۰) ځله دَ حيوان ذکر کړے۔

او په **عالَمِ جن**، عالَمِ نور، عالم تراب، عالم رمل، عالم جَو، عالمِ طير، عالم افلاك، عالمِ ماء، عالم انسان، عالم جماد، عالم جواهر، عالم اعراض، عالم اجسام، عالم دنيا، عالم آخرت، عالم جنت عالمِ نار، عالم رياح، عالم هواء، عالم ليل وَنهار، عالمِ ظلمات والنور، عالم رطب ويابس، عالم ما تحت الثرىٰ او نورو عالمونو کښې فکر اوکړه۔

الله تعالىٰ فرمائي: ﴿ فلا أقسم بما تبصرون ومالا تبصرون ﴾ [الحاقة: ۳۸، ۳۹].

(نو زۀ قسَم کوم په هغه ځيزونو چه تاسو ئے وينئ او په هغه ځيزونو چه تاسو ئے نۀ وينئ)۔

او الله فرمائي: ﴿ سبحان الذى خلق الأزواج كلها مما تنبت الأرض ومن أنفسهم ومما لا يعلمون ﴾ [يس: ٣٦] (پاکي ده هغه ذات لره چه ټولے جوړئ ئے پيدا کړی دَ هغه څۀ نه چه زمکه ئے راټوکوی او دَ دوئ دَ نفسونو نه او دَ هغه ځيزونو نه چه دوئ ته پته نشته)۔

نو دا ټول عالَمونه دَ الله رب العالمين په عظمت، حکمت، علم او کبرياء باندے واضح دليلونه دی۔

﴿ فللّٰه الحمد رب السموات ورب الأرض رب العالمين، وله الكبرياء فى السموات والأرض وهو العزيز الحكيم ﴾.

(نو خاص الله لره ثناء ده چه رب دَ زمکے او آسمانونو او دَ مخلوقاتو دے، او خاص هغۀ له په زمکه او آسمانونو کښې لوئی ده او هغه غالب، حکمتونو والا دے)۔

الله تعالىٰ فرمائي: ﴿ وأشرقت الأرض بنور ربها ووضع الكتاب وجئ بالنبيين والشهداء وقضى بينهم بالحق وهم لا يظلمون ﴾ [الزمر: ٦٩]

(او زمکه به ددے دَ رب په رڼا سره روښانه شي او عملنامے به کيخودے شي او نبيان او ګواهان به راوستے شي او دَ دوئ ترمينځ به حق فيصله اوکړے شي او په دوئ به ظلم اونۀ کړے شی)۔

او فرمائي: ﴿ وما قدروا الله حق قدره والأرض جميعًا قبضته يوم القيامة والسموات مطويات بيمينه سبحانه وتعالىٰ عما يشركون ﴾ [الزمر: ٦٧]

(او دوئ دَ الله تعظيم اونۀ کړو څنګه چه دَ هغۀ سره مناسب دے، او زمکه ټوله دَ هغۀ په قبضه کښې ده او آسمانونه به دَ هغۀ په ښی لاس کښې رانغښتے شوی وی، پاکی ده هغۀ لره دَ هغه څۀ نه چه دوئ ئے ورسره شريك جوړوی)۔

او فرمائی : ﴿ وهو العلی العظیم ﴾ [بقره] (او هم دا الله اوچت او لوئے ذات دے)۔
او، فرمائی : ﴿ عالم الغیب والشهادة الکبیر المتعال سواء منکم من أسر القول ومن جهر به ومن هو مستخف باللیل وسارب بالنهار ﴾ [رعد : ۹، ۱۰]
(عالم دے په پټو او ښکاره، لوئے او اوچت ذات دے، برابر دی – دَ هغهٔ په علم کښې – هغه څوك چه ښکاره وینا کوی او هغه څوك چه پټه وینا کوی او هغه څوك چه دَ شپے پټیدونکے او دَ ورځے ګرځیدونکے دے)۔
او فرمائی : ﴿ وله الکبریاء فی السموات والأرض وهو العزیز الحکیم ﴾ [الجاثیه]
(او خاص هغهٔ دپاره لوئی ده په آسمانونو او زمکه کښې او هم هغه غالبه، حکمتونو والا دے)۔
او، فرمائی : ﴿ هو الله الذی لا إله إلا هو الملك القدوس السلام المؤمن المهیمن العزیز الجبار المتکبر سبحان الله عما یشرکون ﴾ [الحشر : ۲۳]
(او دا الله هغه ذات دے چه دَ هغهٔ نه سیوا بل هیڅوك لائق دُ عبادت نشته، بادشاه دے، سلامتیا ورکونکے، امن ورکونکے، نګهبان، غالبه، زورور او متکبر دے۔ پاکی ده الله لره دَ هغه څهٔ نه چه دوئ ئے ورسره برخه دار جوړوی)۔
او، فرمائی : ﴿ هذا خلق الله فأرونی ماذا خلق الذین من دونه بل الظالمون فی ضلال مبین ﴾ [لقمان : ۱۱] (دا دَ الله پیدائش دے، نو ماته اوښائے چه هغه خلقو څهٔ شے پیدا کړے دے کوم چه دَ هغهٔ نه سیوا دی، بلکه ظالمان خلق په ښکاره ګمراهئ کښې پراتهٔ دی)۔
او، فرمائی : ﴿ إنه علیّ حکیم ﴾.
(بیشکه چه دا اوچت، حکمتونو والا دے)۔
او، فرمائی : ﴿ ذلك بأن الله هو الحق وأن ما یدعون من دونه الباطل وأن الله هو العلی الکبیر ﴾ [لقمان : ۳۰] (دا ځکه چه الله حق ذات دے، او دوئ چه څهٔ دَ هغهٔ نه سیوا رابلی هغه باطل دی، او بیشکه چه الله اوچت او لوئے ذات دے)۔
ابو موسیٰ اشعری ﷜ فرمائی : « زمونږ مینځ کښې نبی ﷺ په پنځو خبرو سره اودریدهٔ، نو وے فرمائیل : بیشکه الله نهٔ اودهٔ کیږی او هغهٔ له اودهٔ کیدل هم مناسب نهٔ دی۔ دَ هغهٔ په لاس کښې تله ده، ښکته پورته کوی ئے۔ هغهٔ ته دَ ورځے دَ عمل نه مخکښې دَ شپے عمل، او دَ شپے دَ عمل نه مخکښې دَ ورځے عمل ور خیژولے شی۔ دَ هغهٔ پرده نور دے۔ که چرے هغه لرے کړی نو دَ هغهٔ دَ مخ پلوشے به هغه ټول مخلوق اوسیزی کوم ته

چه دَ هغهٔ نظر رسېږی»۔ (مسلم).

په حدیث کښې دی: «دَ یهودو یو مُلا رسول الله ﷺ ته راغې، وئیلې: اے محمد! بیشکه الله به دَ قیامت په ورځ آسمانونه په یوه ګوته، زمکې په بله ګوته، غرونه او ونې په بله ګوته، اوبهٔ او لونده زمکه په بله ګوته، او باقی خلق به په بله ګوته اونیسی او بیابه دا ټول اوخوزوی، او وائی به: زهٔ بادشاه یم، زهٔ الله یم! نو رسول الله ﷺ دَ دغه مُلا په خبره دَ تعجب او دَ هغهٔ دَ خبرے دَ تصدیق دَ وجے نه اوخندل۔ بیائے دا آیتِ کریمه تلاوت کړه:

﴿ وما قدروا الله حق قدره والأرض جميعًا قبضته يوم القيامة والسموات مطويات بيمينه سبحانه وتعالىٰ عما يشركون ﴾ [الزمر: ٦٧]

(او دویٔ دَ الله لائق قدر اونهٔ کړو، حال دا چه زمکه به دَ قیامت په ورځ دَ هغهٔ په قبضه کښې وی او آسمانونه به دَ هغهٔ په ښی لاس کښې راتاؤ شوی وی، پاکی ده هغهٔ لره او لوئے دے دَ هغه شریکانو نه چه دویٔ ئے ورسره جوړوی)۔ (بخاری، مسلم).

عبد الله بن عمر رضي الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: «دَ قیامت په ورځ به الله آسمانونه راتاؤ کړی او بیا به ئے په خپل ښی لاس کښې اونیسی او اوبه وائی: زهٔ بادشاه یم، زورور او متکبر کونکی څهٔ شو؟ بیابه زمکے راتاؤ کړی او په بل لاس کښې به ئے اونیسی او اوبه وائی: زهٔ بادشاه یم، زورور او متکبره خلق څهٔ شو؟»۔ (مسلم).

نو په دے عظمت کښې سوچ اوکړه، چه دَ الله لاس څومره عظیم دے چه ټول عالَم په کښې راګیروی، نو دَ هغهٔ ذاتِ کریمه به څومره لوئے وی؟

﴿ تسبح له السموات السبع والأرض ومن فيهن وإن من شئ إلا يسبح بحمده ولكن لا تفقهون تسبيحهم إنه كان حليمًا غفورًا ﴾ [اسراء: ٤٤]

(تسبیح وائی هغهٔ دپاره اووه آسمانونه او زمکه او هغه څوک چه په دے کښې دی، او هیڅ یو شے نشته مګر دَ هغهٔ دَ حمد او ثناء سره تسبیح وائی، خو تاسو دَ هغویٔ په تسبیح نهٔ پوهیږئ)۔

نو عقل ددے عظمت نه حیرانتیا او تعجب کوی!

او الله عز وجل به خپل قدم په جهنم باندے کیدی نو دَ هغے ځینې برخے به ځینې نورو ته راغونډے شی او وائی به: بس دے بس دے۔ (بخاری).

او جهنم یو ډیر لوئے عالَم دے۔

نو څوک چه په دے علم، حکمت، قوت او عظمت کښې فکر اوکړی نو دَ هغهٔ زړهٔ دَ ایمان،

سکون او هیبت نه ډکیږي. او دَ چا زړهٔ چه ددې څیزونو نه خالي وي، نو هغه دَ حقیقي ایمان نه یو طرفته دې، او ددهٔ دَ ایمان دعویٰ کول تش الفاظ دي چه هیڅ حقیقت نهٔ لري.

نو محترم لوستونکیه! تاله پکار دي چه ستا زړهٔ دَ خپل رب دَ عظمت نه ډك شي.

او آسانه طریقه ددې دپاره د الله رب العالمین په کتاب کښې سوچ کول دي، ځکه په دې کښې دا دَ زړو صریحو آیتونو نه زیات ذکر شوي دي، او په دې کښې دَ اکثرو دلالت صراحت ته نزدې دې.

اوکهٔ چرې تا ددې سره سره دَ صحیح فلکیاتو بعضِ کتابونه هم اولوستل، نو ددې کائناتو په تدبر کښې به ستا مدد اوکړي. لکه چه مونږ درته بعضِ ذکر کړل.

دَ الله سبحانه وتعالیٰ نه غوارم چه زمونږ زړونه دَ خپل محبت، عظمت او لویئ نه ډك کړي، او مونږ دَ خپل دوستانو او نیکانو بندګانو په ډله کښې راپورته کړي. آمین یارب العالمین. (۱٤۲۸/٤/۱۵هـ).



۲٤ - ناشنا عظیمه فائده

دَ الله اسم اعظم پیژندل

او دا داسې فائده ده چه شاید په دې کتاب کښې تهٔ ددې پشان فائده موندهٔ نهٔ کړې۔ خو دا اهلیت او صلاحیت غواړی، هر سړې ددې نه فائده نشی پورته کولې۔ او نهٔ یواځې ددې په لوستلو کار کیږی۔ :

یعنی دَ الله هغه **اسمِ اعظم** پیژندل چه کله دَ هغې په ذریعه دَ الله نه سوال اوکړې شی، نو ورکوی ئې، او کله چه په هغې سره دَ هغهٔ نه دعاء اوغوښتلې شی نو قبلوی ئې۔ خو ددې نه مخکښې یو څو ضروری مقدمات پکار دی :

۱ – **اوله مقدمه** : دا باب تول دَ یقین سره تعلق لری۔ ډیر انسانان دی چه د الله په اسمِ اعظم ورتیریږی لیکن دَ هغې نه فائده نهٔ اخلی، ځکه یقین ئې کمزورې وی۔

عیسیٰ ﷺ فرمائی : « کـه چرې دَ انسان دپاره دَ ذرې هومره یقین وې نو دَ اوبو دپاسه به روان وې »۔ (البداية والنهاية : ۱).

او همدا دَ تولو شرعی اذکارو او منقولو دَمونو حالت هم دې۔

۲ – **دویمه مقدمه** : په مؤمن بانـدې دا خبره پټه نهٔ ده چه دَ الله په نامهٔ کښې دومره قـوت دې چه دَ هغې سره بل هیڅ قوت هیڅ کله نشی برابریدې۔ دا وجه ده چه کلمه طیبه بـه پـه میزان کښې پـه آسمـانـونـو او زمکه او څهٔ چه په دې دواړو کښې دی، په هغې تولو درنیږی۔ او سبحان الله نیم میزان ډکوی، او الحمد لله تول میزان ډکوی۔ وغیره۔

نو آیا دَ الله په «اسمِ اعظم» کښې به دومره قوت نهٔ وی چه تول عالم تباه کړی ؟ هر کله چه الله ددې اراده اوکړی۔ آیا په «اسمِ اعظم» کښې به دَ تولو حاجتونو پوره کیدل نهٔ وی ؟

بلکه په حدیث کښې ثابت دی چه « چـه څهٔ وخت هشام بن عاص رضی الله عنه او یو بل سړې هرقل بادشاه ته په وفد کښې لاړل، او دواړو ورته «لا اله الا الله، والله اکبر» اووئیلو، نو نـو دَ هـرقـل کوټه دوه ځله اوخوزیده، تردې چه داسې شوه لکه گویا دا دَ قجورو یوه خوشه ده چه هواگانې ئې اړوی راړوی... الحدیث)۔

(المستدرك للحاكم، والبيهقي في دلائل النبوة، كما في ابن كثير :۲/۳۲٦).

نو دَ الله په ذکر کښې یو عجیب قوت دے۔ دا وجه ده چه دَ الله ذکر کونکے داسے قوت محسوسوی چه دَ هغې سره بل هیڅ یو قوت برابر نهٔ دے۔ دارنګه ډیر داسے کیږی چه دَ قرآن قاری او لوستونکے نهٔ بوډا کیږی۔ لکه چه ابن عباس رضی الله عنهما دا خبره کړیده۔ او په دے باندے مونږ هم تجربه کړیده۔

په بل حدیث کښے دی: «دَ دجال دَ راوتو په وخت کښے به مؤمنانو دپاره دَ خوراك څکاك په ځائے تسبیح او تقدیس کفایت کوی، او په دے سره به مړیږی»۔

(کما فی المشکاة: ٤٧٧/٢، الصحیحة).

او دا صحیح حدیث دے۔

او نبی ﷺ فاطمے او علی - رضی الله عنهما - دواړو ته دَ خادم په عوض کښے تسبیحات خودلی وو۔ څکه په دے کښے یو ناشنا قوت او طاقت دے۔ لکه چه دیته ئے په الکلم الطیب کښے اشاره کړے۔

غرض دا چه: دَ الله په «اسمِ اعظم» کښے قوت کیدل څهٔ ناشنا خبره نهٔ ده۔

بلکه هم ددے اسمِ اعظم په وجه (آصف بن برخیا) دَ بلقیس عرش حاضر کړے وو، لکه چه دا خبره دَ تفسیر په کتابونو کښے مشهوره ده، او ددے صحیح کیدل هم څهٔ لرے خبره نهٔ ده۔

۳ - دریمه مقدمه: بعضِ خلق وائی: دَ الله دَ «اسمِ اعظم» دپاره وجود نشته، بلکه دَ هغهٔ ټول نومونه عظیم دی۔ خو دا خبره صحیح نهٔ ده۔ څکه په دے خبره صحیح احادیث راغلی دی۔ بله دا چه دَ یو انسان دپاره ډیر اسمونه اوصفتونه وی، نو دا خبره ضروری ده چه هغهٔ ته به په دے کښے بعضِ نومونه ډیر زیات خوښ وی۔ لکهٔ هغهٔ ته نیك عمله، متقی، او زاهد اووائے، نو دا نومونه هغهٔ ته دَ عبد الله او عبد الرحمن وغیره نه ډیر محبوب دی۔ فکر اوکړه!

نو دغه شان زمونږ رب هم دے چه هغهٔ ته خپل بعضِ نومونه دَ بعضِ نورو په نسبت زیات خوښ او محبوب دی۔ لکه څنګه بعضِ آیتونه او سورتونه ډیر فضیلت لرونکی او الله ته ډیر زیات خوښ دی دَ نورو نه۔ اګرکهٔ دغه ټول محبوب او غوره دی۔ فکر اوکړه!

٤ - څلورمه مقدمه: دَ «اسمِ اعظم» په پټولو کښې حکمت:

أ - الله تعالیٰ اسمِ اعظم دے دپاره پټ ساتلے چه دے سره محبت لرونکی دے لره دَ الله په نومونو کښے اولټوی، چه دَ دوئ اجر او ثواب زیات شی۔ لکه څنګه چه لیلة القدر، او دَ

جُمعې ساعت، او په مسبحاتو سورتونو کښې یو آیت وغیره په همدې وجه پټ ساتلې شوې دې. او دا زما په نیز یو عظیم علت او حکمت دې.

ب – دارنګه دې دپاره هم پټ ساتلې شوې چه دنیا والا خلق پرې چرته خپل معمولي او پریوتي حاجتونه اونهٔ غواړي. دارنګه هسې نه چه څوك په دې سره مؤمنانو له ضرر ورنهٔ کړي. لکه چه دا کار (بلعام بن باعور) کړې وو، کله چه دهٔ موسیٰ ﷺ او دَ هغهٔ قوم ته ښیرې اوکړې. چه بیابه په خپل ځان باندې خپل دین تباه او برباد کړي.

بله دا چه : خلق دَ الله نور نومونه پرې نهٔ ږدي. چه صرف دیته توجه اوکړي او نور نومونه پریدي. حال دا چه الله تعالیٰ په خپلو ټولو نومونو کښې ډیر زیات خیر اچولې. او په هر یو نوم کښې داسې فائده او خاصیت دې چه په بل کښې نشته.

ج – دارنګه که هر چاته معلوم وې، نو هغهٔ به واجب اعمال پرینبې وې او صرف دیته به ئې توجه کړې وې، ځکه انسان حرصناك دې. دغسې نور حکمتونه هم شته.

٥ – پنځمه مقدمه : د الله إسمِ اعظم څوك پیژني ؟

زهٔ وایم : الله عز وجل چه په خپلو بندګانو کښې چاته غواړي هغهٔ ته ئې وربښائي. لیکن قرآن کریم دیته اشاره کوي چه څوك په دې کښې کوشش کوي او دَ احسان نه کار اخلي نو الله ئې ورته ان شاء الله ورکوي. الله تعالیٰ فرمائي :

﴿ والذين جاهدوا فينا لنهدينهم سبلنا وإن الله لمع المحسنين ﴾ [عنكبوت]

(او هغه خلق چه زمونږ په باره کښې کوشش کوي نو خامخا به مونږ ورته خپلې لارې اوښایو او بیشکه الله دَ نیك عمله خلقو ملګرې دې).

اوګوره چه دا آیتِ کریمه څومره عام دې !

او الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ ولما بلغ أشده آتيناه حكمًا وعلما و كذلك نجزى المحسنين ﴾.

(او هر کله چه خپلې ځوانئ ته اورسیدهٔ نو مونږ ورته فیصلې او علم ورکړو، او دغسې بدله مونږ هر احسان کونکي له ورکوو).[یوسف : ۲۲]

نو اشاره کوي چه حُکم او حقیقي علم دَ نیك عمله خلقو برخه ده. اې الله ! دَ خپل اسمِ اعظم په وسیله په دې خلقو کښې مونږ هم حساب کړې !

٦ – **شپږمه مقدمه** : یاد ساته ! چه دَ الله دَ ټولو نه لوئې کلام قرآن کریم دې. او په ټولو نومونو کښې عظیم نوم ئې اسمِ اعظم دې. نو دا خبره ضروري ده چه دابه په **قرآن کریم** کښې وي. او دا څنګه کیدې شي چه دَ الله تعالیٰ عزتمند کلام ددې مبارك اسم نه

خالي وي؟ دا ډیره لرې خبره ده۔ نو تاله پکار دي چه په قرآن کښې ئې تالاش کړې۔
دا وجه ده، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿قال الذی عنده علم من الکتاب أنا آتیك به.. الآیة﴾ [النمل: ٤٠] (اووئیلې هغه کس چه دَ هغهٔ سره دَ کتاب (تورات) علم وو، زهٔ ئې تاته راوړم)۔
نو دَ کتاب دَ علم په قوت سره ئې دَ بلقیس هغه تخت حاضر کړو۔ او په دې آیتِ کریمه کښې ئې (علم) نکره ذکرکړې۔ اشاره ده دیته چه دَ الله په کتاب کښې عجیب او غریب علم موجود دې۔
او هرکله چه په تورات کښې داسې ناشنا علم پروت وو چه دَ هغې په وجه دومره لوئې څیزونه راوړلې کیدل، نو دا علم به په قرآن کریم کښې ولې نهٔ وي؟
حالانکه الله تعالیٰ فرمائي: ﴿تبیانا لکل شیٔ﴾
(په دې قرآن کریم کښې دَ هر یو شئ وضاحت دې)۔
او، فرمائي: (وتفصیلا لکل شیٔ﴾ [النحل: ۸۹] (دا دَ هر یو شئ وضاحت کونکې دې)۔
او فرمائي: ﴿ما فرطنا فی الکتاب من شیٔ﴾ [انعام: ۳۸]
(مونږ په دې قرآن کښې هیڅ یو شې نهٔ دې پریښې)۔
او فرمائي: ﴿أولم یکفهم أنا أنزلنا علیك الکتاب یتلیٰ علیهم إن فی ذلك لرحمةً وذکری لقوم یؤمنون﴾ [عنکبوت: ۵۱]
(آیا دوئ له دا کافي نهٔ ده چه مونږ په تا کتاب رالیږلې دې چه دا په دوئ باندې لوستلې شي، بیشکه چه په دې کښې رحمت او نصیحت دې مؤمنانو دپاره)۔
نو په دې او ددې پشان نور آیتونو کښې فکر اوکړه، تهٔ به پکښې شِفاء بیاموموې۔ او تاته به پته اولګي چه دَ الله تعالیٰ «اسمِ اعظم» په قرآن کریم کښې موجود دې۔ خاصکر په هغه آیتونو کښې چه په احادیثو کښې دَ هغې فضیلت راغلې، لکه ددې بیان به ان شاء الله راشي۔

۷ – اوومه مقدمه: دَ الله دَ اسمِ اعظم فائده څه ده؟

هغه داده چه مونږ ددې په ذریعه دَ الله عبادت اوکړو، په دې خوشحاله او راضي شو۔ ځکه دَ الله عبادت دَ هغهٔ په نومونو او صفتونو سره کول، دا دَ الله دَ خواصو بندګانو کار دې۔ نو چاته چه الله اسمِ اعظم ورکړی، نو دا دَ تولو خلقو نه زیات عبادت کونکې دې، ان شاء الله۔

۲ – بله فائده داده: چه په دې سره دعاء قبلیږي او حاجتونه پوره کیږي۔ لکه په حدیث کښې دي: «چه کله ددې په ذریعه څهٔ شې اوغوښتلې شي نو ورکوي ئې، او چه ددې په

ذریعه دعاء اوغوښتلې شي نو قبلوي ئې، او چه ددې په ذریعه دَ يو مصيبت لرې كولو طلب اوكړې شي نو هغه لرې كيږي. او چه ددې په ذريعه رحمت اوغوښتلې شي نو رحمت كيږي». (ابن ماجه، أبو داود).

ليكن مناسب نۀ ده چه په دې سره معمولي دنيوي څيزونه او نفساني خواهشات اوغوښتې شي، لكه ديته دَ ابن ماجه په حديث كښې اشاره شوې ده: «كيدې شي چه تۀ پرې دنيا غواړې اې عائشې !».

ددې حديث په سند كښې كلام شته دې، خو معنیٰ ئې صحيح ده. او دا خبره مونږ دَ اسمِ اعظم دَ پتوالي په حكمت كښې ذكركړه.

۸ – اتمه مقدمه : د اسم اعظم طاقت :

الله تعالیٰ په دې قادر دې چه په خپل «اسمِ اعظم» سره دَ كانړو غرونه سرۀ زر جوړ كړي، او غرونو پرې دَ ويخه را اوباسي، او نهرونه پرې بند كړي، ليكن دا خبره ضروري ده چه بنده به ددې په ذريعه هغه څيزونه غواړي چه هغه دَ الله تعالیٰ دَ حكمت موافق او په دين او دنيا دواړو كښې مفيد وي. دارنګه داسې دعاء به پرې نۀ غواړي چه په هغې كښې اعتداء او زياتې وي.

او دا خبره هم دَ واجباتو نه ده چه دَ دُعاء كوم آداب دي، په هغې به راتګ كوي:
چه دا آداب په (فقه الاذكار) او (حصن حصين) كښې ذكر شوي دي.او هغه دادي:

دَ دعاء آداب :

۱ – په خوراك څكاك او لباس كښې دَ حرامو نه ځان ساتل.
۲ – الله تعالیٰ دپاره اخلاص كول.
۳ – دَ دعاء غوښتلونه مخكښې مونځ او صدقه كول.
٤ – په نيكو عملونو وسيله نيول.
٥ – پاكي اوصفائي اختيارول.
٦ – اودس كول.
۷ – مخ په قبله كيناستل.
۸ – دَ دعاء نه مخكښې صلاة حاجت
۹ – دَ دعاء دَپاره په ګو ډو باندې كيناستل.
۱۰ – دَ دعاء نه مخكښې او روسته دَ الله حمد او ثناء وئيل.

۱۱ – دَ دعاء نه مخکښې او روسته په نبي ﷺ درود وئيل.
۱۲ – په دعاء کښې لاسونه پورته کول.
۱۳ – لاسونه اوګو پورې اوچتول.
۱٤ – دَ دعاء په وخت دَ الله احترام او تعظيم کول.
۱۵ – دَ دعاء غوښتلو په وخت تواضع، خشوع او ډيره عاجزي کول.
۱٦ – دَ الله په نومونو او صفتونو وسيله نيول.
۱۷ – دعاء په پټه غوښتل.
۱۸ – په ګناهونو اقرار کول.
۱۹ – هغه جامعې دعاګانې غوښتل، کومې چه دَ نبي ﷺ نه نقل شوې دي.
۲۰ – نارينه او زنانه مؤمنانو دپاره دعاء غوښتل.
۲۱ – دَ قبليدو يقين لرل او په غير دَ تذبذب او تردد نه دعاء غوښتل.
۲۲ – رغبت او ويرې سره دعاء غوښتل.
۲۳ – دَ زړهٔ دَ کُومې نه او په پوره کوشش او کاملې توجه سره دعاء غوښتل.
۲٤ – په الله عز وجل ښهٔ ګمان کول.
۲۵ – درې يا زيات ځله بار بار دعاء غوښتل، دارنګه په مختلفو اوقاتو کښې.
۲٦ – په دعاء کښې زاري او کوشش کول، مګر کله چه دنيوي حاجت وي، نو داسې دې اووائي که ما دپاره پکښې خير وي نو رائې کړه!
۲۷ – داسې دعاء به نهٔ غواړي چه دَ الله عز وجل دَ حکمت نه خلاف وي، مثلًا : دَ الله نه دا غواړي چه ددهٔ نه ښځه جوړه کړي، او يا ښځه دا غواړي چه ددې نه سړې جوړ کړي. اوداسې نور.
۲۸ – په دعاء کښې به اعتداء (دَ حد نه تجاوز) نهٔ کوي، لکه داسې څيز اوغواړي چه هغهٔ نهٔ کيدونکې وي او هيڅ فائده هم پکښې نهٔ وي.
۲۹ – دَ دعاء په آخره کښې آمين وئيل.
۳۰ – دَ دعاء په قبليدو کښې به تادي نهٔ کوي.
او ددې پشان نور مهم آداب شو.

۹ – نهمه مقدمه: اسم اعظم سره د دعاء غوختلو طريقه:

دَ هرې دعاء دپاره يو خاص کيفيت وي، نو دَ الله په اسماءِ حُسنىٰ خاصکر اسمِ اعظم سره دَ

دعاء غوښتلو کیفیت څهٔ دے ؟ او څو ځله به ددے وِرد او تکرار کوی ؟ الله دے په دې باندے موږ له عمل راکړی۔ نو موږ وایو :

۱ – جائز ده چه صرف دَ الله نوم ونه ذکرکړی، لکه داسے اووائی :

هو اللّٰه الذی، لا إله إلا هو، عالمُ الغیب والشهادة الخ.

او بیا ددے نه پس چه څهٔ دعاء غوښتل غواړی هغه اوغواړی۔ لکه چه دیته په حدیث دَ ترمذی او ابن ماجه کښے اشاره شوے۔

۲ – او دا هم جائز ده چه داسے اووائی : أسأل اللّٰه الذی لا إله إلا هو الخ.

لکه چه دا په روایت دَ تحفة الذاکرین کتاب کښے راغلی۔

۳ – او دا هم جائز ده چه کوم نوم غواړی په هغے باندے حرفِ نداء داخل کړی، لکه داسے اووائی : یا حیُّ، یا قیومُ. یا داسے اووائی : یا ودود، یا ودود یا ذا العرش المجید، أسألك الخ.

یا داسے اووائی : یا حنان یامنان.

او په دے باره کښے ګڼړ حدیثونه راغلی، بلکه دَ صحابه کرامو – رضی الله عنهم – عامے دعاګانے په دے طریقه وے۔

٤ – او دا هم جائز ده چه داسے اووائی : اللهم إنی أسألك بحق اللّٰه لا إله إلا هو الحیُّ القیوم.

او یا داسے اووائی : اللهم إنی أدعوك اللّٰه الرحمن الرحیم الخ.

لکه په حدیث دَ ابن ماجه کښے دا راغلی۔

او یا داسے اووائی : اللهم إنی أسألك بأنی أشهد أنك أنت اللّٰه لا إله إلا أنت الخ.وغیره.

ځکه دا ټولے دعاګانے دی او ددے دپاره څهٔ خاص لفظ نهٔ دے معلوم، بلکه څوك چه په کوم یو لفظ سره دعاء غواړی نو منع نهٔ دی۔ لکه چه دا دَ صحابه کرامو – رضی الله عنهم – دَ عامو دعاګانو نه معلومیږی۔ کومے چه په (کنز العمال، حیاة الصحابه او مجمع الزوائد) کښے ذکر شوی دی۔ (انظر شرح الحصن الحصین).

★ تکرار دَ اسمِ اعظم :

هر چه تکرار دَ «اسمِ اعظم» دے نو په دے کښے څهٔ خاص عدد نهٔ دے راغلے۔ بلکه څوك ئے چه هر څومره ځله وائی وئیلے شی۔ سل ځله وی اوکه زر ځله اوکه ددے نه علاوه وی، دا ټول جائز دی۔ او کومو علماؤ چه په اسماءِ حُسنیٰ کښے خاصه شمیره ذکرکړے، نو دا دَ هغوئ خپله تجربه ده۔ چه په هغے عمل کول جواز لری، او دیته بدعت نهٔ وئیلے کیږی، ځکه چه په دے باره کښے نصوص مطلق راغلی (څهٔ خاصه شمیره ئے نهٔ ده ښودلے)۔ دا

وجه ده چه بعضِ صحابوؓ – لکه ابو هریرهؓ – به هره ورځ دولس زره کرته تسبیح وئیله۔ (حال دا چه دا دَ نبی ﷺ نه نقل نهٔ دهٔ)۔ او دیته بدعت نهٔ وئیلے کیږی۔ ښهٔ سوچ اوکړه۔

او ما خپله په اسمِ اعظم سره دَ الله عز وجل دَ ذکر تالاش اوکړو، نو ما ددے شماره، غیر معینه بیاموندله۔ او څوک چه وائی چه دا الفاظ:

لا إله إلا أنت سبحانك إنی كنتُ من الظالمین.

به یو لکھ او څلیرشت زره کرته لولی، نو دا ددهٔ تجربه ده، او سنت نهٔ دی۔

او زما په زړهٔ کښے دا راځی چه: یونس ؑ درے ورځے دَ ماهی په خیټه کښے تیر کړے او هغهٔ به دغه دعاء لوستله۔ نو څوک چه دغه دعاء په دغه مقدار سره اولولی نو ان شاء الله چه ددهٔ دعاء به قبوله شی۔

او صحیح داده چه انسان دغه دعاء دومره ځله اولولی څومره باندے چه ددهٔ زړهٔ خشوع کوی او زړهٔ ئے نرمیږی او نفس ئے مطمئن کیږی۔

۱۰ – لسمه مقدمه : ما دَ الله تعالیٰ نه دا دعاء اوغوښته چه ماته دَ اسمِ اعظم په باره کښے یو ښهٔ خوب را اوښائی۔ نو ما دَ اختر په ورځ (۱٤۲۳ هـ) خوب اولیدلو چه ګویا زهٔ خطبه او درسِ قرآن ورکوم، او دَ لفظِ (اخبات) تشریح کوم۔ او دا وایم چه دا دَ قرآن دَ رازونو نه یو راز دے۔ نو په دے کښے اشاره ده چه دَ الله اسمِ اعظم صرف او صرف دَ مخبت (ډیر زیات عاجزی کونکو) زړونو سره لائق دے۔ او دَ الله په هر یو نوم سره چه انسان په عاجزئ سره دعاء اوغواړی نو هغهٔ دپاره به ان شاء الله دعاء قبلیږی۔

خو صرف دَ الله دَ نومونو یواځے قرأت کول کافی نهٔ دی اګرکهٔ په دے کښے هم ډیر خیر دے۔ او دا دَ دین نه معلومه خبره ده۔

۱۱ – یولسمه مقدمه : یوځل ما په خوب کښے اولیدهٔ چه اسمِ اعظم په آیتِ کرسی کښے دے۔ او یو بل ځل ما خوب اولیدلو چه زهٔ په رب العالمین باندے قَسَم خورمه او دا وایم چه ددے دپاسه بل قَسَم نشته۔ نو په دے کښے هم اشاره ده۔

دارنګه ما دَ چارشنبے په ورځ (۱٤۲۷/۸/۲۳ هـ) دَ ماسپخین نه پس خوب اولیدلو چه زهٔ دَ بسم الله فضائل ذکر کوم، نو ددے نه یو مارغهٔ جوړ شهٔ او په یوه وُنه کښے کیناستهٔ نو یو عالم ابن تیمیهؒ یا سیوطیؒ دغه وُنه اونیوله او ما هغه اوخوړله او هغے نه پخه غوښه جوړه شوه او ماته اووئیلے شو چه دا دَ الله اسمِ اعظم دے۔ یعنی بسم الله الرحمن الرحیم۔ نو زهٔ خوشحاله شوم خو ددے شماره ماته معلومه نشوه۔

خو دا خبره ياد لره: چه دَ عباداتو په باب کښې خوبونو له هيڅ اعتبار نشته، ليکن دا اسماء په نورو شرعي دلائلو کښې را نقل شوي دي۔ خوب صرف يو زيرے وي۔

۱۲ - دولسمه مقدمه: داسم اعظم دوه قسمونه:

علامه بازيؒ (په اسم اعظم ص : ۲۲٤) کښې فرمائي: اسمِ اعظم دوه قِسمه دے: (۱) يو قِسم خاص دے چه په دے باندے صرف الله پو هيږي او په خپلو بندګانو کښې ئے چه چاته خوښه شي دَ کشف او الهام په ذريعه ئے ورته وربښائي۔ او دابه عارفينو علماؤ دَ عوامو خلقو نه پټولو۔

(۲) دويم قِسم عام دے۔ او دا هر هغه نوم دے چه انسان ئے په ډك زړهٔ سره غواړي او الله تعالىٰ ته په انابت او خشيت سره التجاء او زاري کوي نو ددهٔ دعاء په دے سره قبليږي۔ نو دا نوم ددهٔ په حق کښې اسمِ اعظم دے۔ او دَ هر يو انسان دَ الله دَ نومونو نه دَ يو نوم سره مناسبت وي، ځکه چه ددهٔ روح دَ هغے سره متعلق وي۔ نو دا نوم به نشي پټولے ځکه چه ديته صرف او صرف متقين او کاملين بندګان رسيږي او خشيت او تقوىٰ خو مطلوب ده، دے وجے نه مونږ دا نهٔ پټوو۔ آهـ

۱۳ - ديارلسمه مقدمه:

دَ الله په کتاب کښ دَ هر يو سورت نه اسماءِ حُسنىٰ را ويستل:

نو په سورتِ **فاتحه** کښې پنځه نومونه دي: يا الله، يا رب، يا رحمٰن، يا رحيم، يا ملك (يا مالك)۔ او په **بقره** کښې شپږيشت نومونه دي: او هغه دادي: يا محيط، يا قدير، يا عليم، يا حکيم، يا علىّ، يا عظيم، يا تواب، يا بصير، يا ولى، يا واسع، يا کافى، يا رؤف، يا بديع، يا شاکر، يا واحد، يا سميع، يا قابض، يا باسط، يا حى، يا قيوم، يا غنى، يا حميد، يا غفور، يا حليم، يا اله، يا قريب، يا مجيب، يا عزيز، يا نصير، يا قوى، يا شديد، يا سريع، يا خبير۔

او په سورتِ **آلعمران** کښې: يا وهاب، يا قائم، يا صادق، يا باعث، يا منعم، يا متفضل۔

او په سورتِ **نساء** کښې: يا رقيب، يا حسيب، يا شهيد، يا مقيت، يا وکيل، يا علي، يا کبير۔

او په سورتِ انعام کښې: يا فاطر، يا قاهر، يا لطيف، يا برهان۔

او په سورتِ اعراف کښې: يا محيى، يا مميت۔

او په سورتِ انفال کښې: يا نعم المولىٰ، يا فعال لما تريد۔

او په سورتِ رعد کښې : يا کبير، يا متعال۔
او په ابراهيم کښې : يا منان، يا وارث۔
او په حجر کښې : يا خلاق۔
او په مريم کښې : يا فرد۔
او په طٰه کښې : غفار۔
او په المؤمنون کښې : يا کريم۔
او په نور کښې : يا حق، يا مبين۔
او په فرقان کښې : يا هادى۔
او په سبأ کښې : يا فتاح۔
او په زمر کښې : يا عالم۔
او په غافر کښې : يا قابل التوب، يا ذا الطول، يا رفيع۔
او په ذاريات کښې : يا رزاق، يا ذا القوة، يا متين۔
او په طور کښې : يا بر۔
او په اقتربت کښې : يا مقتدر، يا مليك۔
او په الرحمن کښې : يا ذا الجلال والاكرام، يا رب المشرقين، يا رب المغربين، يا باقى، يا معين۔
او په الحديد کښې : يا اول، يا آخر، يا ظاهر، يا باطن۔
او په حشر کښې : يا ملك، يا قدوس، يا سلام، يا مؤمن، يا مهيمن، يا عزيز، يا جبار، يا متكبر، يا خالق، يا بارئ، يا مصور۔
او په البروج کښې : يا مبدئ، يا معيد۔
او په فجر کښې : يا وتر۔
او په اخلاص کښې : يا أحد، يا صمد۔ انتهىٰ۔
(ذكره السيوطى فى الفلك المشحون).

۱ - **هو الله** الذى لا إله إلا هو، عالم الغيب والشهادة، هو الرحمن الرحيم، هو الله الذى لا إله إلا هو، الملك القدوس، السلام، المؤمن، المهيمن، العزيز الجبار، المتكبر، الخالق، البارئ، المصور، الغفار، القهار، الوهاب، الرزاق، الفتاح، العليم، القابض، الباسط، الخافض، الرافع، المعز، المذل، السميع، البصير، الحكم، العدل، اللطيف، الخبير، العليم، العظيم، الغفور،

الشکور، العلی، الکبیر، الحسیب، الحلیل، الکریم، الرقیب، المحید، الباعث، الشهید، الحق، الوکیل، القوی، المتین، الحمید، المحصی، المحی، الممیت، الحی، القیوم، الواحد، الماجد، الواحد، الأحد، الصمد، القادر، المقتدر، المقدم، المؤخر، الأول، الآخر، الظاهر، الباطن، الوالی، المتعالی، البر، التواب، المنتقم، العفو، الرؤف، مالك الملك، ذو الحلال والإکرام، المقسط، الحامع، الغنی، المغنی، المانع، الضار، النافع، النور، الهادی، البدیع، الباقی، الوارث، الرشید، الصبور.

الربُّ، المولیٰ، النصیر، الفاطر، المحیط، الحمیل، الصادق، القدیم، الوتر، الحنان، المنان، الشافی، الکفیل، ذو الطول، ذو الفضل، ذو العرش، ذو المعارج، القریب، المقیت، الحفیظ، المبین، الحافظ، الشاکر، الأکرم، الأعلیٰ، الخلاق، الإله، العلام، القاهر، الغافر، الملیك، الحفی، المستعان، الرفیع، الکافی، الغالب، الرزاق، الشدید، القائم، الواقی، نعم المولیٰ، فعال، لما یرید، السریع، الولی، نور السموات والأرض، الستیر، السید، المسعّر، الطیب، الرفیق، الحکیم.

اوس زهٔ هغه اسماء ذکر کوم چه دَ هغې په باره کښې وئیلې شوی دی چه دا دَ الله ((اسمِ اعظم)) دی۔ په غیر دَ ذکر کولو دَ دلیل نه، بلکه په مرجع او حواله اکتفاء کوم۔

(١) الله عز وجل (٢) الله الرحمن الرحیم (ابن ماجه، مستدرك).

(٣) اللهم انی ادعوك الله وادعوك الرحمن وادعوك البر الرحیم، وادعوك باسمائك الحسنی کلها ما علمت منها ومالم اعلم.

(٤) الرحمن الرحیم، الحیی القیوم (الترمذی والنسائی).

(٥) الحیی القیوم (ورجحه ابن القیم والحزری وغیرهم).

(٦) اللهم انی اسألك بأنی أشهد ان لك الحمد أنت الحنان المنان، بدیع السموات والأرض یا ذا الحلال والإکرام، یا حیی یا قیوم اسئلك الحنة وأعوذ بك من النار (احمد والحاکم وابوداود والنسائی).

(٧) بدیع السموات والأرض ذا الحلال والإکرام (عن رجل من طی، ابو یعلیٰ).

(٨) ذو الحلال والإکرام (الترمذی عن معاذ).

(٩) اللهم انی اسئلك بأنی اشهد انك انت الله لا اله الا أنت الأحد الصمد الذی لم یلد ولم یولد ولم یکن له کفواً احد (ابوداود، الترمذی، ابن ماجه باسناد صحیح).

(١٠) یا رب یارب، رب رب (المستدرك عن ابن عباس).

(۱۱) لا اله الا انت سبحانك انی کنت من الظالمین (النسائی والحاکم).
(۱۲) هو الله الله الله الذی لا اله الا هو رب العرش العظیم .
(زین العابدین، فخر الرازی).
(۱۳) لا اله الا الله (القاضی عیاض).
(۱٤) بسم الله الرحمن الرحیم (المستدرك).
(۱۵) مالك الملك فی قوله : ﴿قل اللهم مالك الملك تؤتی الملك من تشاء وتنزع الملك ممن تشاء، وتعز من تشاء وتذل من تشاء بیدك الخیر انك علی کل شئ قدیر، تولج اللیل فی النهار وتولج النهار فی اللیل وتخرج الحی من المیت وتخرج المیت من الحی وترزق من تشاء بغیر حساب﴾ [آل عمران : ۲٦، ۲۷] (الطبرانی).
(۱٦) اللهم (الزرکشی).
(۱۷) آلم (ابن جریر انظر الحاوی ۱/۳۹۵، وشرح اسماء الله الحسنی، وفتح الباری، والمرعاة : ۸).
(۱۸) او ما په سنه (۲۷/۱۰/۱٤۲۳) هـ کښې په خوب کښې اولیدل چه دا آیةُ الکرسی دے، ځکه دَ هر اسم نه پس دَ الله عز وجل اسم دے۔
(۱۹) دَ سورتِ حشر په آخر کښې دے : ﴿هو الله الذی لا اله الا هو عالم الغیب والشهادة – الی قوله – ﴿وهو العزیز الحکیم﴾ [حشر] (الدیلمی عن ابن عباس) .
(۲۰) اللهم انی اسألك باسمك الطاهر الطیب المبارك الأحب الیك الذی اذا سئلت به اعطیت واذا دعیت به اجبت واذا استرحمت به رحمت واذا استفرجت به فرجت (ابن ماجه).
(۲۱) الله لا اله الا هو الحی القیوم.
(۲۲) اللهم انی اسئلك بأن لك الحمد لا اله الا انت یا حنان یا منان یا بدیع السموات والأرض یاذا الجلال والإکرام یا خیر الوارثین، یا ارحم الراحمین، یا سمیع الدعاءِ، یا الله یا الله، یا الله، یا عالم، یا سمیع، یا علیم، یا حلیم، یا ملك الملك، یا مالك، یا سلام، یا حیی ، یا قدیم، یا غنی، یا محیط، یا حکیم، یا علی یا قاهر، یا رحمن یا رحیم، یا سریع، یا کریم، یا معطی، یا مانع، یا محیی، یا مقسط، یا حیی، یا قیم، یا حمید، یا رب یارب، یارب، یارب، یارب، یا وهاب، یا غفار، یا قریب، یا لا اله الا انت سبحانك انی کنت من الظالمین، انت حسبی ونعم الوکیل. (السیوطی، شرح اسماء حسنیٰ البشتو).

(۲۳) الهنا واله كل شئ الها واحدا (أعطنى كذا). (الزهرى، روح المعانى).

(۲٤) اللهم انى عبدك وابن عبدك وابن امتك وفى قبضتك ناصيتى بيدك عدل فىّ قضائك اسألك بكل اسم هو لك سميت به نفسك او علمته احدا من خلقك او استأثرت به فى مكنون الغيب عندك ان تجعل القرآن العظيم ربيع قلبى ونور صدرى وجلاء غمى وهمى.
(صحيح رواه ابن حبان وغيره).

(۲۵) بسم الرحمن الرحيم. اللهم انى اسئلك يا مؤنس كل وحيد، وياقريبًا غير بعيد، يا شاهداً غير غائب، يا غالباً غير مغلوب، يا حيى يا قيوم يا بديع السموات والأرض، يا ذا الجلال والاكرام، اسئلك باسمك بسم الله الرحمن الرحيم الحى القيوم الذى لا تأخذه سنة ولانوم، واسئلك باسمك بسم الله الرحمن الرحيم الذى عنت له الوجوه وخشعت له الأصوات ووجلت له القلوب ان تصلى على محمد وعلى آل محمد (وان تعطينى) كذا وكذا، انك على كل شئ قدير (المستطرف ۲/۵۳۹).

(۲٦) اللهم انى اسئلك باسمك المخزون المكنون المبارك الطيب الطاهر المطهر، المقدس (دا ضرور قبليږى). (صالح المزنى منام مستطرف).

(۲۷) اللهم انى اسئلك بانك مالك وانت على كل شئ قدير وما تشاء من أمر يكون (سعيد بن المسيب) (يو غيبى آواز) استجيب لى دائمًا (مستطرف).

(۲۸) بسم الله الرحمن، اللهم انى اسئلك بالعزة التى لا ترام والملك الذى لا يضام، والعين التى لا تنام، والنور الذى لا يطفأ، وبالوجه الذى لايبلى، وبالديمومة التى لا تفنى، وبالحياة التى لا تموت، وبالصمدية التى لا تقهر، وبالربوبية التى لا تستذل : ان تجعل لنا فى أمورنا فرجا ومخرجاً حتى لا نرجو غيرك يا ارحم الراحمين. (المستطرف).

(۲۹) - لا اله الا أنت سبحانك انى كنت من الظالمين [انبياء : ۷۷] **سل ځله** او ﴿ رب انى مسنى الضر وانت ارحم الراحمين ﴾ [انبياء : ۸۳] **سل ځله،** ﴿ وافوض امرى الى الله ان الله بصير بالعباد﴾ [غافر : ٤٤] **سل ځله** . أو ﴿ حسبنا الله ونعم الوكيل ﴾ [آلعمران : ۱۷۲] : **دابه سل ځله په څلورو رکعتونو کښې یو یو آیت لولې. بیابه سل ځله :** ﴿ رب انى مغلوب فانتصر ﴾ [القمر : ۱۰] **لولې. دامجربه ده.** (ولى الله الدهلوى، القول الجميل ص ۱٤۸). او **بعضو وئيلى دى چه په دے کښې اسم اعظم دے.**
خو دا کیفیت مُحدَث (یعنی غیرِ منقول) دے.

(۳۰) **او يابه :** ﴿ لا اله الا انت سبحانك انى كنت من الظالمين ﴾ [انبياء : ۷۷] **يو لکھ او**

پنځیشت زره کرته لولي۔(القول الجميل).

(۳۱) يا موضع كل شكوى، ويا سامع كل نجوى، وشاهد كل بلوىٰ، ويا منجي موسىٰ والمصطفىٰ محمد والخليل عليهم السلام: ادعوك دعاء من اشتدت فاقته وضعفت حركته وقلت حيلته دعاء الغريب الغريق الفقير الذي لا يجد لكشف ما هو فيه الا انت يا ارحم الراحمين. لا اله الا انت سبحانك اني كنت من الظالمين ﴿ علي بن حسينؒ فرمائي: په دې دعاء سره چې مصيبت وهلې دعاء اوغواړي نو خامخا ئې مصيبت لرې کيږي)۔(المستطرف).

(۳۲) يا الله يا حيي يا قيوم، يا ذا الجلال والاكرام، يا الهنا واله كل شئ الها واحدا لا اله الا أنت، أنت الميسر لكل عسير وانت على كل شئ قدير، يا حيي ياقيوم برحمتك يا ارحم الراحمين، بسم الله ما شاء الله لا قوة الا بالله، ما شاء الله لا يصرف السوء إلا الله، ماشاء الله ما كان من نعمة فمن الله، ما شاء الله لا حول ولا قوة الا بالله. (اسم اللہ الاعظم کیا ہے ص ٥٦).

(۳۳) لا اله الا الله والله اكبر، لا اله الا الله وحده لا شريك له له الملك وله الحمد وهو على كل شئ قدير، لا اله الا الله ولا حول ولا قوة الا بالله. (دا خامخا قبليږي۔ الطبراني عن معاويةؓ باسناد حسن).

(۳٤) – يا الله، يا الله يا رحمن يارحمن، يا نور يا نور، يا ذا الطول يا ذا الجلال والاكرام. (اسم اعظم كياهے ص ٦٨. مجربه ده).

(۳٥) جعفر صادق فرمائي: سورتِ فاتحه، آيت كرسى، سورتِ اخلاص او سورتِ قدر مخ په قبله اوله، خامخا ورسره دعاء قبليږي۔ (اسم اعظم کیا ہے ص ۷۱).

(۳٦) اللهم انى اسئلك باسمائك الحسنى كلها ما علمت منها ومالم اعلم واسئلك باسمك العظيم الاعظم الكبير الاكبر. (عن انس مرفوعاً: او فرمائي: قسم دې په هغه ذات چه زۀ ئې په حقه سره نبى رالیږلے يم، دا اسمِ اعظم دے۔ (اسم اعظم كياهے ص ۷۲).

(۳۷) يافارج الغم ويا كاشف الهم ويا موفى العهد ويا حى لا اله الا انت. (غالب في النوم)، (اسم اعظم کیا ہے ۷۴).

(۳۸) يا ارحم الراحمين :درې ځله (اسم اعظم کیا ہے).

(۳۹) يا ربنا خمس مرات (نفس المصدر).

(٤٠) يا بديع السموات والارض ياذا الجلال والاكرام يا صريخ المستصرخين يا غياث المستغيثين يا كاشف السوء يا ارحمن الراحمين يا مجيب دعوات المضطرين يا اله العالمين،

بك انزل حاجتي وانت اعلم بها فاقضها.
(حواله سابقه).
(٤١) يا عليم يا حليم يا علي ياعظيم (مجابي الدعاء ابن ابی الدنيا عن العلاء).
(٤٢) بسم الرحمن الرحيم ولا حول ولا قوة الا بالله العلى العظيم يا قديم يا دائم يا قائم يا حيي يا قيوم يافرد يا احد يا صمد يا من اليه المصير يا من لم يلد ولم يولد ولم يكن له كفو احد (اسم اعظم ص :۱۳۲).
دَ سَحر مانځه نه سل پس څله، او دے سره به (۱۱) څله درود وائی۔
زهٔ وايم : دا کيفيت مُحدَث (يعنی دَ ځانه جوړ شوے) دے۔
(٤٣) يا ودود يا ودود يا ذا العرش المجيد يا فعال لماتريد اسئلك بعزك الذی لا يرام وملكك الذی لا يضام وبنور وجهك الذی ملأ اركان عرشك ان تكفيني شر كذا يا مغيث اغثني يا مغيث اغثني (ثلاث مرات) **دا دعاء به درے څله اوغواړی۔ انس رضی الله عنه فرمائی : چا چه څلور رکعته اوکړل او دا دعاء ئے اووئيله، نو دعاء به ئے قبوله شی، کهٔ مصيبت زده وی اوکه نهٔ وی۔**
(ابن ابی الدنيا ص : ۳۸) **ددے په سند کښے لږ ضعف شته۔**
(٤٤) لا اله الا الله العظيم الحليم لا اله الا الله رب العرش العظيم، لا اله الا الله رب السموات السبع ورب الارض ورب العرش الكريم. (دعاء الكرب، الصحيحان).
(٤٥) لا اله الا الله الحليم الكريم سبحان الله وتبارك الله رب العرش العظيم والحمد لله رب العالمين.
(مسند احمد والجواب الكافی ص ۱۲).
(٤٦) لا اله الا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد وهو على كل شئ قدير (مخلصاً ناطقاً مصدقاً – الا آتاه الله سؤله لأنه ينظر إليه .
(عمل اليوم والليلة للنسائی ۲۸).
(٤٧) ابن جريرؒ په خپل سند سره دَ ابن مسعودؓ نه نقل کړی دی چه دا (ن) دے۔
(الكنز الأعظم للبازی).۔
(٤٨) على رضی الله عنه فرمائی : دَ سورتِ حشر آخر او دَ سورتِ حديد اولنی شپږ آيتونه دی۔ کله چه تهٔ ددے د لوستلو نه فارغ شے نو داسے اووايه : اے هغه ذاته چه تهٔ دغه شان ئے، زما دا دا کار اوکړه۔ قسَم په الله کهٔ چرے دا دِعاء بدبختِه هم اوکړی، نو نيك بخته

کیږي۔ (البازي)۔
(٤٩) سورة الاخلاص ډیر ډیر لوستل۔ (البازي)۔
(٥٠) وفي كامل ابن عدي : قال رسول الله ﷺ : سألت اسم الله الأعظم فجائني جبرئيل مخزونا مختوما : اللهم اني اسئلك باسمك المخزون المكنون الطهر الطاهر المطهر المقدس المبارك الحي القيوم . عائشې اوویل : ماته ئې را اوښایه، وې فرمائیل : مونږ ددې نه منع شوي یو چه ښځې، ماشومان او بې وقوفان دې دا زده کړي)۔
(٥٩١/٢) ددې سند ضعیف دی، بلکه ابن عدي وائي : دا تقریباً موضوع دی۔
د ډیرې **مطالعې او تدبر** نه پس ماته په زړهٔ کښې وا چولے شو چه :
دَ الله ټول نومونه عظیم دي او په هر نوم باندې دَ اعظمیت اطلاق کیږي، لیکن بعضِ نومونه دَ بعضې نورو نومونو او بعضِ خلقو په نسبت ډیر عظیم دي۔ او هغه بل نوم به دَ نورو خلقو په نسبت ډیر عظیم وي۔ مثلًا : په بعضِ خلقو باندې دَ (رحمٰن) ذکر اثر کوي او زړهٔ ئې په دې سره نرمیږي او غونې ئې په دې سره زیګ کیږي، نو دا نوم ددهٔ په حق کښې اعظم شو۔ او په بعضو باندې دَ رب العالمین نوم ذکر کولو اثر کیږي۔ او دَ ځینو خلقو زړهٔ په (الحي القیوم) سره نرمیږي۔ او دَ چا زړهٔ په (الرؤف) یا (الودود) یا (ذا العرش العظم) سره روښانه کیږي۔اوداسې نور۔
دا وجه ده، بعضِ سلفو فرمائیلي دي : کله چه تهٔ دَ الله اسمِ اعظم پیژندل غواړې، نو دَ الله تعالیٰ هغه ټول نومونه چه په کتاب او سنت کښې راغلي، په ادب او خشوع او تضرع او خوف سره ذکرکړه، نو کوم یو نوم چه په تا باندې اثر اوکړو، او ځانته ئې راښکلې، نو دا ستا په حق کښې (اسمِ اعظم) دے۔۔۔(تفسیر السراج المنیر)۔
دارنګه : کله الله عز وجل خپلو بعضِ بندګانو ته الهام کوي چه دَ فلاني فلاني نوم په ذریعه دعاء اوغواړه، زهٔ ئې قبلومه۔ او دا الهام ددهٔ کرامت وي۔ نو ددې دا معنیٰ نهٔ وي چه ګنې هر څوك چه په دې نوم سره دعاء اوغواړي – او په دهٔ کښې هغه صفتونه نهٔ وي کوم چه په دغه نیك بنده کښې وو – نو ددهٔ دعاء دې قبوله شي۔ بلکه دې دعاء غواړي او دعاء ئې نهٔ قبلیږي، ځکه چه دې دَ هغه صفاتو نه خالي دے کوم چه په دغه نیك بنده کښې وو۔ په دې کښې فکر اوکړه ځکه چه دا مهمه خبره ده !
او هم په دې سره دَ رسول الله ﷺ ددې وینا مطلب راښکاره کیږي چه : « بیشکه دې سړي دَ الله نه دَ هغهٔ په هغه اسمِ اعظم سره دعاء اوغوښتله، چه کله دَ هغهٔ نه ددې په

ذریعه څهٔ اوغوښتے شی نو ورکوی ئے، او کله چه ددے په ذریعه دعاء اوغوښتے شی نو قبلوی ئے »۔ (أبوداود).

دا ئے دَ هغه سړی په باره کښے اوفرمائیل، چاچه په دے الفاظو سره دعاء غوښتلے وه :

اللهم إنی أسألك بأنی أشهد أنك أنت الله لا إله إلا أنت الأحد الصمد الذی لم يلد ولم يولد ولم يكن له كفوًا أحد.

او دَ یو بل سړی په باره کښے، چه هغه په دے الفاظو سره دعاء غوښتلے وه :

اللهم إنی أسألك بأنی أشهد أنك أنت الله الحنان المنان بديع السموات والأرض يا حيی ياقيوم، أسألك الجنة وأعوذ بك من النار.

ددهٔ په باره کښے فرمائی : « بیشکه دهٔ دَ الله په هغه اسمِ اعظم سره دعاء اوغوښتله دَ کوم په ذریعه چه دَ هغهٔ نه څهٔ شے اوغوښتلے شی نو ورکوی ئے، اوکه څهٔ دعاء ترے اوغوښتلے شی نو قبلوی ئے »۔ (أبوداود).

نودا او په مخکنی حدیث کښے چه کومه دعاء ذکر شوه دابه څنګه اسمِ اعظم شی ؟ مګر که دا اووئیلے شی چه : دا دَ هغه چا په حق کښے اسمِ اعظم دے چاچه ددے سړی دَ دعاء پشان دعاء او دَ دهٔ دَ عاجزئ پشان په عاجزئ سره دعاء اوغوښتله۔

دغه شان (الحی القیوم) په ګڼړو روایتونو کښے راغلے چه دا (اسمِ اعظم) دے۔ یعنی دَ هغه چا دپاره چاچه ددے په شرائطو او آدابو سره راتګ کړے وی، نو دابه ددهٔ په حق کښے (اسمِ اعظم) وی۔ نهٔ دَ هغه چا دپاره چه هغه دَ شراب خانے نه را اوځی، ګیره ئے خرئیلے وی، ګانے بجانے آوری، او بیا د دغه نوم په وسیله دعاء غواړی، نو ددهٔ دعاء دے قبلیږی ! ځکه چه دهٔ د هغه شرائطو، آدابو، عاجزئ، تضرع او ایمان باندے راتګ نهٔ دے کړے کوم چه دهٔ له پکار وو۔

ددے مثال په محسوساتو کښے دادے چه مونږ وایو : اوبهٔ یخے دی معده یخوی او تنده ختموی۔ خو دا دَ هغه چا دپاره چه مریض نهٔ وی، ګنے دابه اوڅکی او سیراب به پرے نشی۔ والله تعالیٰ اعلم۔

نو د الله عز وجل اسماء او نومونه ټول عظیم دی :

اګرکهٔ بعضِ دَ بعضو نورو په نسبت دیر عظیم دی، لیکن دَ خلقو زړونه مختلف دی۔ دارنګه شرائط او آداب مختلف دی۔ نو څوك چه په شرائطو او آدابو باندے راتګ اوکړی او بیا دَ هغه په اسماؤ کښے په یو اسم سره دعاء اوغواړی، کوم چه ددهٔ په زړهٔ باندے تاثیر

کوی، نو ددهٔ دعاء به خامخا قبلیږی۔ان شاء الله۔

اے الله ! زهٔ تانه ستا په اسمِ اعظم سره دعاء غواړم چه تهٔ مونږ ته هدایت اوکړے، زمونږ انجام ښهٔ کړے، مونږ له دَ اوره نجات راکړے، او مونږ خپل محبوبان او نیکان بندګان جوړ کړے، او مونږ او ټولو نارینه او زنانه مؤمنانو ته بخښنه اوکړے، خاصکر پلرونو او میندو اوخپلو خپلوانو ته۔ یارب العالمین !



۲۵ - فائده

الله او دَ هغهٔ په وعدو باندے یقین پیژندل

او دا داسے فائده ده، چه ډیر کم خلق ئے پیژني، او ددے طلب نهٔ کوی مګر عقلمند خلق. اکثر خلق ددے نه غافله اوپه دے کښے بے رغبته دی.

نو اوس زهٔ دَ الله په مدد سره دَ یقین لغوی او شرعی معنیٰ ذکر کوم، بیا دَ هغے فضائل او فوائد، اقسام او دَ جاری کیدو ځایونه ذکر کوم.

نو دا خبره یاده لره چه: **یقین** په لغت کښے علم او سکون ته وائی. عرب وائی: (یقن الماء) یعنی اوبهٔ اودریدے، دارنګه په معنیٰ دَ علم او زوال الشك سره راځی. (روح المعانی).

سعدیؒ فرمائی: یقین هغه پوره علم ته وائی چه په هغے کښے دَ شك شائبه هم نهٔ وی، او دَ عمل تقاضا کونکے وی. (تیسیر الکریم الرحمن).

امام راغبؒ فرمائی: یقین دَ علم صفت دے او دَ معرفت او درایت او ددے دَ ملګرو دپاسه دے. او دا سکون دَ فهم او ثبات دَ حکم ته وائی.

دَ یقین شرعی معنیٰ:

ابن مسعود ﷺ دَ یقین معنیٰ داسے کوی: «**یقین** دادے چه تهٔ دَ خلقو نه دَ الله په خفګان راضی نشے، او دَ الله په رزق باندے دَ هیچا مدح نهٔ کوے، او کوم شے چه تاته الله درنهٔ کړی نو په هغے هیڅوك ملامته نهٔ کړے. ځکه رزق لره دَ حرصناك حرص نهٔ راکاږی، اونهٔ دے لره دَ بد ګنړونکی بد ګنړل رد کوی. ځکه الله تعالیٰ په خپل انصاف سره راحت او خوشحالی په یقین او رضا کښے اچولے. او غم او خفګان ئے په شك او ناراضتیا کښے ایښے».

(موقوفاً فی تعلیق جامع بیان العلم وفضله: ۱۶۹/۱، ومرفوعًا فی مدارج السالکین: ۳۹۷/۲) بإسناد قوی).

دا حدیث مرفوعًا (دَ نبی کریم ﷺ ارشاد) او موقوفًا (دَ ابن مسعودؓ ارشاد) دواړو طریقو سره نقل شوے.

علی ﷺ فرمائی : دَ **یقین** څلور څانگې دی : (۱) انتهائی فهم۔ (۲) ژور علم۔ (۳) واضح حُکم۔ (٤) او باغچه دَ حِلم او بردباری۔ نو څوك چه پو هه شو، هغه دَ علم دَ جُملو تفسیر کولے شی۔ او څوك چه دَ علم دَ جملو تفسیر کولے شی، نو هغه د اُحکامو فیصلے پیژنی۔ او څوك چه دَ احکامو پیژنی هغه به حِلم (بردباری) کوی او په خپل کار کښے به دَ حد نه تجاوز نهٔ کوی او په خلقو کښے به ژوند تیروی۔

(ابن أبی الدنیا، کنز رقم : ۸۸۰۳).

لقمان حکیمؒ فرمائی : اے ځویه ! بیشکه په مصیبتونو صبر کول دَ ښائسته **یقین** حصه ده، او دَ هر یو عمل دپاره کمال او آخر سر شته دے، او دَ عبادت کمال، پرهیز گاری او یقین دے۔ (ابن أبی الدنیا رقم : ١٤، عن قتادة).

دارنگه یو ځل لقمانؒ خپل ځوئے ته اوفرمائیل : ایمان اووه حقیقتونه دی، او په دے کښے دَ هر یو حقیقت دپاره حقیقت شته دے : (۱) یقین (۲) خوف (۳) معرفت (٤) هدایت (٥) عمل (٦) فکر (۷) ورع (پرهیزگاری)۔

نو دَ **یقین** حقیقت صبر دے، او دَ خوف حقیقت طاعت دے، او دَ معرفت حقیقت ایمان دے، او دَ هدایت حقیقت بصیرت دے۔ او دَ عمل حقیقت نیت دے، او دَ فکر حقیقت زیرکتیا ده، او دَ پرهیزگارئ حقیقت پاکدامنی ده۔

زهٔ وایم : دا یو ډیر زیات باریك کلام دے، چه دَ لقمان حکیمؒ سره مناسب دے۔

(ذکره ابن أبی الدنیا عن عبد اللّٰه بن عون، رقم : ۲۸).

علی بن ابی طالب ﷺ خپل ځوئے حسن ﷺ ته اوفرمائیل : دَ ایمان او **یقین** ترمینځه څومره فاصله ده ؟ وئیلے : څلور گوتے۔ وے فرمائیل : بیان ئے کړه۔ هغه وئیلے : **یقین** هغه شے دے چه ستا سترگه ئے اووینی، او ایمان هغه شے دے چه ستا غوږ ئے واوری او دَ هغے تصدیق اوکړی۔

زهٔ وایم : دا ډیره ناشنا خبره ده۔ او ددے تصدیق علی ﷺ کړے دے۔

(ذکره ابن أبی الدنیا فی کتابه الیقین رقم : ٤١).

ابن مسعود – رضی اللّٰه عنه – فرمائی : یقین ټول ایمان دے۔

او دَ طبرانی په روایت کښے ورسره دا جمله زیاتی ده : او صبر نیمائی ایمان دے۔

(بخاری : ٦/١، طبرانی).

سفیان ثوریؒ فرمائی : که چرے **یقین** په زړهٔ کښے داسے واقع شو څنگه چه ددے حق دے،

نو دا زړهٔ به، جنت ته دَ شوق دَ وجې او دَ اور نه دَ تیختې دَ وجې والوزی۔
(فتح الباری : ۱/۱ ٤).

احیاء العلوم کښې دی : دَ **یقین** دوه معنې دی : اول : شك نهٔ کول، نوددې اطلاق په هر هغه شئ باندې کیږی چه په هغې کښې شك نهٔ وی، برابره خبره ده که هغه په فکر سره حاصل شوې وی اویا په حِس او یا دَ عقل په طاقت او یا په تواتر او یا په دلیل سره حاصل شوې وی۔ او په دې کښې فرق او اختلاف نهٔ راځی۔

دویم : هغه دې چه په هغې باندې فقهاؤ او صوفیه او ډیرو علماؤ تصریح کړې : او هغه، هغه شے دې چه په هغې کښې تجویز او شك ته نظر نهٔ کیږی، بلکه په زړهٔ باندې ددې غلبې کولو ته نظر کیږی۔ تردې پورې چه وئیلې کیږی چه : فلانے په مرگ باندې کمزوری یقین والا دې، او دَ رزق په اثبات باندې قوی یقین والا دې، نو هر هغه شے چه په زړهٔ غالب شی او په هغې قبضه اوکړی نو دا یقین دې۔ او ددې مختلف کیدل ظاهر دی۔
(روح المعانی : ۱۲۲/۱).

ذو النون ؒ فرمائی : درې خبرې دَ یقین غرونه دی : (۱) په معاشره کښې دَ خلقو سره کم اختلاط کول۔ (۲) په عطیه کښې دَ هغوئ مدح پریښودل۔ (۳) او په منع کولو کښې دَ هغوئ دَ بدئ وئیلو نه ځان ساتل۔

زهٔ وایم : دا معنیٰ دَ ابن مسعودؓ په حدیث کښې مخکښې تیره شوه۔

دارنگه فرمائی : درې نور څیزونه هم دَ **یقین** غرونه دی۔ (۱) په هر څهٔ کښې الله ته کتل۔ (۲) په هریو کار کښې الله ته رجوع کول۔ (۳) او په هر حالت کښې دَ هغهٔ نه مدد غوښتل۔
دا ډیره مفیده خبره ده۔ (مدارج : ۲۹۸/۲).

او **یقین** په هغه زړهٔ کښې نهٔ اوسیږی چه په هغې کښې غیر الله ته سکون وی۔ (مدارج).

ابن عطاءؒ فرمائی : تقویٰ ته دَ نزدې کیدو په اندازه خلقو یقین موندلې دې۔ ځکه تقویٰ دَ منع شوو څیزونو نه جدائی ته وائی، او دا دَ نفس جدائی ته وائی، نو څومره چه دوئ دَ نفس نه جدا کیږی، یقین ته به رسیږی۔

امام مالك رحمه الله فرمائی : یقین فکر ته وائی۔ (القرطبی : ٣١٤/٤).

جنیدؒ فرمائی : **یقین** دیته وائی چه په زړهٔ کښې علم داسې قرارې اومومی چه په هغې کښې نهٔ تغیر راځی او نهٔ اوړی۔ (مدارج).

سوال : انسان به رشتینې **یقین** ته څنګه اورسیږی ؟

جواب : په یو څو کارونو باندے چه هغه عارفینو ذکر کړی دی۔

عبد الواحد بن زید" فرمائی : زهٔ په یو راهب باندے تیر شو چه هغه په خپله عبادت خانه کښے وو۔ ما خپلو ملګرو ته اوونیل : اودرېږئ زهٔ دهٔ سره خبرے کوم۔ نو زهٔ ورنزدے شوم، نو هغهٔ ماته اوونیل : اے عبد الواحد ! کهٔ تهٔ غوارے چه علمِ الیقین اوپیژنے، نو دَ خپل ځان او دَ دنیا دَ خواهشاتو ترمینځه دَ وُسپنے دیوال اووهه۔

(أبو نعیم فی الحلیة : ١٥٥/٦، ابن أبی الدنیا فی الیقین رقم : ٣٩).

په تفسیر خازن (٢٠٥/١) کښے دی : ابراهیم ﷺ چه کله اراده اوکړه چه ددهٔ یقین زیات شی، نو وے فرمائیل : ﴿ رب أرني کیف تحیي الموتیٰ ﴾ [بقره : ٢٦٠]

(اے ربه ! ماته اوښایه چه تهٔ څنګه مړی ژوندے کوے)۔

نو الله ورته حکم اوکړو چه څلور مارغان اونیسه یعنی : طاوس، چرګ، کونتره، او کارغهٔ۔ او بعضِ وائی : نسر (طاقتور باز)۔

نو په دے کښے اشاره ده چه څوك هغه څلور خویونه پریدی کوم چه په دے مارغانو کښے دی، نو دَ **یقین** لړونکو درجه به حاصله کړی۔ او هغه (١) زینت او مرتبه (٢) شهوت (٣) غفلت۔ (٤) دَ خوراك حرص او شوق۔ نو څوك چه په دے څیزونو کښے دَ اقتصاد نه کار واخلی نو ان شاء الله یقین ته به اورسیږی۔ ملخصاً۔

او دَ الله تعالیٰ په دے قول کښے : ﴿ وکذلك نري إبراهیم ملکوت السموات والأرض ولیکون من الموقنین ﴾ [انعام : ٧٥]

(او دغه شان مونږ ابراهیم ته دَ زمکے او آسمانونو بادشاهی ورښایو، او دے دپاره چه دا دَ یقین کونکو نه جوړ شی)۔

ښکاره اشاره ده دیته چه دَ **یقین** سبب، په کائناتو کښے فکر او تدبر کول دی، دا وجه ده په حدیث کښے دی : « کله چه زهٔ دے نزدے آسمان ته راکوز شوم نو ما دَ خپل ځان لاندے اوکتل نو ناګهانه زهٔ دَ ګرد او غبار، لوګی او آوازونو سره مخامخ شوم۔ نو ما اوونیل : جبرئیله دا څهٔ دی : هغهٔ وئیلے : دا شیطانان دی چه دَ انسانانو دَ سترګو دپاسه ګیر چاپیره ګرځی، دے دپاره چه دویٔ دَ آسمان او زمکے په ملکوت (ناشنا بادشاهیٔ) کښے فکر اونهٔ کړی۔ او کهٔ چرے دا (شیطانان) نهٔ وے نو انسانانو به عجائب لیدلی وے »۔

(مسند أحمد : ٣٥٣/٢) ددے حدیث په سند کښے خبرے اترے شته۔

او زما په خیال دَ قرآن علم او دَ هغے دَ رازونو، او اشاراتو علم، په الله باندے دَ **یقین** دَ

زیاتیدلو دپاره قوی سبب دے، ځکه چه دا مبارك کتاب دے، چه دَ همدے مقصد دپاره نازل شوے۔ نو دا به څنګه دَ یقین سبب نهٔ وی ! خو دا خبره هغه څوك پیژنی چه څوك په قرآن کښے تدبر لری او دَ هغے په رازونو پو هیږی۔ او همدے خبرے ته خپله قرآن اشاره کوی :
﴿بل کذبوا بما لم یحیطوا بعلمه﴾ [۳۹]
(بلکه دوئ په دے قرآن باندے، ددے دَ علم راګیرولو نه مخکښے تکذیب اوکړو)۔
یعنی : څوك چه قرآن کریم په خپل علم کښے راګیر کړی نو دے به هیڅ کله په دے باندے تکذیب اونهٔ کړی، ځکه پاك او پو هه زړونه قرآن سره مینه محبت لری او غواړی ئے۔
او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ حتی إذا جاؤا قال أکذبتم بها ولم تحیطوا بها علمًا أما ذا کنتم تعلمون ﴾ [قصص : ۸٤]
(تردے چه کله دوئ راشی نو الله به اووائی : آیا تاسو په دے تکذیب کړے وو او دا مو په خپل علم کښے نه وو راګیر کړے، اوکه نه تاسو څه عملونه کول)۔
نو په دے آیت کریمه کښے اشاره ده چه تکذیب سبب دَ جهل بالقرآن دے، اوکه چرے دوئ په قرآن پو هیدلے او په دے کښے ئے سوچ کړے وے، نو دابه ئے نهٔ دروغژن کولے۔ په حق او انصاف باندے اقرار کول دَ یقین دَ زیاتیدو دَ غټو اسبابو نه یو سبب دے۔
صدیق حسن خانؒ ددے آیت په تفسیر کښے فرمائی : ﴿ قد بینا الآیات لقوم یوقنون ﴾ [بقره : ۱۱۸] (مونږ واضحه بیان کړی دی آیتونه دَ هغه قوم دپاره چه یقین کوی)۔
یعنی : په حق باندے اقرار کوی او په خبره کښے انصاف کوی۔ نو همدا خلق دَ آیتونو نه فائده اخستلے شی۔
★ او دَ **یقین** درے قِسمونه دی : (۱) علم الیقین (۲) عین الیقین (۳) او حق الیقین۔
علم الیقین : دَ الله اوامر او نواهی، دَ هغهٔ شرع او دین قبلول او دیته غاړه کیخودل او دَ عبودیت په غلامئ کښے داخلیدل دی۔ دغه شان هغه شیان قبلول دَ کومو خبر چه هغهٔ ورکړے دے، لکه جنت، اور، صراط (پُل)، میزان او حساب۔ په دے طریقه چه په زړهٔ کښے ئے په دے باره کښے هیڅ قِسم شك شبه تیره نشی۔ دارنګه دَ هغهٔ نو مونه، صفتونه او توحید اوپیژنی۔ (مدارج ملخصًا).
قتادهؒ فرمائی : علمِ یقین دادے چه انسان دا اوپیژنی چه الله به ئے دَ مرګ نه پس ژوندے کوی۔ (معالم).
او عین الیقین او حق الیقین دَ انبیاء او بعض اولیاؤ وی او په آخرت کښے به دَ ټولو خلقو

وی۔

ابو بکر وراقؒ فرمائی: **یقین** پـه درے طریقو سره دے: (۱) دَ خبر یقین (۲) دَ دلالت یقین (۳) او دَ مکاشفے او مشاهدے یقین۔ دَ خبر دَ یقین نه مراد سکون دَ زړهٔ دے خبر دَ مخبر ته، او پـه هغے سره دَ هغهٔ باور کول دی۔ او دَ دلالت یقین ددے دپاسه دے، او هغه دا چه په خبر ورکونکی بانـدے دَ رشتینے کیدو دَ اعتماد سره سره په خپل خبر باندے دلائل هم قائم کړی۔ ددے نـه پس دَ مشاهدے یقین دے۔ او هغه دا چه دَ کوم څیز چه خبر ورکړے شوے، هغـه دَ دوئ زړونو ته داسے اوګرځی لکه چه په سترګو ئے وینی ګوری، او دا دَ احسان درجه ده۔

او هر چه مجاری (یعنی ځایونه دَ جاری کیدو) دَ یقین دی:

نـو مونږ وایـو: مـونږ دَ آخرت دَ علماؤ په صفاتو کښے ذکر کړی دی، چه دَ یقین مجاری ډیر دی۔ بعضِ دَ هغے نه:

۱ - **توحید دے**: او هغـه دا چـه ټـول څیزونه دَ مسبب الاسباب دَ طرفه وینی۔ او ددے ثـمره داده چه دے بـه څیزونو ته غصه نهٔ کوی او دَ هغے دَ وجے نه به شکر او بد اخلاقی نهٔ کوی۔ ځکه چه دے هر څیز دَ الله تعالیٰ د طرفه وینی۔

۲ - **الله چه دَ رزق کومه ذمه واری اخستے ده، په هغے اعتماد کول**:

او ددے ثمره داده چه حرص به نهٔ کوی او کوم څیز چه ددهٔ نه فوت شی په هغے به خفګان نـهٔ کـوی، او دَ رزق پـه طـلـب کښے بـه دَ حـلالـو او حـرام فرق کوی۔ او دغسے نور ښائسته اخلاق۔

۳ - **په جزاء او سزاء یقین کول**:

څـوك چـه دَ ذرے هـومـره دَ خیر عـمـل اوکـړی دَ هغے جزاء به اووینی، او څوك چه دَ ذرے هـومـره دَ شر عمل اوکړی دَ هغے سزاء به اووینی۔ او ګناهونه به داسے وینی لکه زهرونه، او طاعات به داسے وینی لکه روټئ بلکه ددے دپاسه۔

او ددے یـقـیـن ثـمـره داده: چـه پـه حـرکـاتـو، سکناتو او خطراتو ټولو کښے به دَ الله رشتینے لـحـاظ سـاتـی، او پـه تـقـوىٰ کښے به ډیر زیات کوشش کوی، او دَ ټولو ګناهونو نه به ځان ساتی، تردے چه دَ ډیرو هغه مباحاتو نه به هم ډډه کوی چه هغے ته حاجت نهٔ وی۔

٤ - **په دے خبره یقین** کـول چـه الله سـتـا پـه هر حال خبر او ستا دَ زړهٔ په هره خطره او وسوسه پوهه دے۔

ددې ثمره داده چه انسان په خپل خِلوت او په خپلو ټولو حالاتو کښې داسې ادبناك جوړېږي لکه چه دَ يو عظيم بادشاه مخې ته ناست وي او هغه ورته ګوري.
دارنګه ددې ثمره داده : چه دا حياء، خوف، انکسار، ذلت، عاجزي، خضوع، احسان او د ښائسته اخلاقو يوه مجموعه پيدا کوي. او ددې اخلاقو نه قِسما قِسم عالي طاعات پيدا کيږي. نو يقين لکه دَ وُنې دَ بنياد حيثيت لري، او اخلاق دَ پاڼو، او کوم طاعات چه دَ اخلاقو نه صادر دي هغه دَ ميوو حيثيت لري. (انظر الإحياء بزيادة : ١٦٧/١).

فضائل او فوائد دَ يقين :

نو دا ډېر زيات دي. (۱) **يقين** الله طرفته دَ ورتلو سورلۍ ده، نو کله چه دَ انسان سورلۍ نۀ وي نو څنګه به مزل کوي ؟. (۲) لږ **يقين** دَ ډېر عمل نه غوره دې.
لقمانؑ خپل ځوئے ته اوفرمائيل : اے ځويه ! دَ عمل طاقت نۀ ملاوېږي مګر په يقين سره، او انسان عمل نۀ کوي مګر په اندازه دَ خپل يقين سره، او عمل کونکے کوتاهي نۀ کوي تردې چه دَ هغۀ يقين کم شي.
او الله سبحانه وتعالىٰ خبر ورکړے چه دَ نښې نښانو نه فائده يقين والا پورته کوي، لکه فرمائي : ﴿ إن فى السموات والأرض لآيات للمؤمنين وفى خلقكم ومايبث من دابة آيات لقوم يوقنون ﴾ [جاثيه : ۳، ٤]
(بيشکه په زمکه او آسمانونو کښې دَ مؤمنانو دپاره نښې دي او ستاسو په پيدائش کښې او هغه زنده سر چه خورېږي (په دې ټولو کښې) نښې دي دَ هغه قوم دپاره چه يقين لري).
دغه شان دَ قرآن په باره کښې فرمائي چه ددې نه هم صرف يقين والا فائده پورته کوي، لکه فرمائي : ﴿ هذا بصائر للناس وهدى ورحمة لقوم يوقنون ﴾ [انعام]
(دا دَ عقل خبرې دي خلقو دپاره او هدايت اورحمت دے دَ هغه قوم دپاره چه يقين کوي).
او په صبر او يقين سره په دين کښې امامت او مشري ملاوېږي. لکه فرمائي : ﴿ وجعلنا منهم أئمة يهدون بأمرنا لما صبروا وكانوا بآياتنا يوقنون ﴾ [الم سجده : ۲٤]
(او مونږ دَ دوئ نه امامان جوړ کړل چه زمونږ په امر سره به ئے خلقو ته هدايت کولو، هر کله چه دوئ صبر اوکړو او زمونږ په آيتونو ئے ايمان يقين لرلو).
او **يقين** صبر او وقار پيدا کوي. ﴿ ولا يستخفنك الذين لا يوقنون ﴾ [الروم]
(او اودې نۀ خوېوي تالره هغه خلق چه يقين نۀ کوي).
او څوك چه دَ **يقين** والا وي نو هغۀ لره دَ دنيا مالونه او خواهشات نشي غافل کولے.

﴿كلا لو تعلمون علم اليقين﴾ [تكاثر] (هيڅ کله داسې نۀ ده، که چرې تاسو په علمِ يقين سره پوهيدلې)۔ نو دَ دنيا ډير والی به نۀ وَمې غافله کړی۔

او يقين يوه داسې مرتبه ده چه ديته انبياء کرام – عليهم السلام – هم محتاجه دی۔

﴿و كذلك نری إبراهيم ملكوت السموات والأرض وليكون من الموقنين﴾ [انعام : ۷۵]

(او دغسې ورښايو ابراهيم ته ناشنا بادشاهت د آسمانونو او زمکې او دې دپاره چه يقين ئې زيات شی)۔

په حديث کښې دی : « تاسو رشتيا وئيل لازم اونيسئ ځکه چه دا دَ نيکئ سره ملګرې وی او دا دواړه به په جنت کښې وی۔ او د دروغو نه ځان اوساتئ ځکه چه دا دَ نافرمانئ ملګرې وی، او دا دواړه به په اور کښې وی۔ او الله نه عافيت غواړئ ځکه هيڅ يو کس ته د يقين نه پس د عافيت نه غوره شوې نۀ دې ورکړې شوئے۔ او تاسو بُغض او حسد مۀ کوئ او مۀ يو بل سره تعلق پريکوئ او مۀ يو بل نه اعراض کوئ۔ بلکه د الله بندګانو ! ورونه ورونه جوړ شئ »۔

(رواه ابن ماجه رقم : ۳۸۴۹، او دا صحيح حديث دے).

ابو بکر ﷺ نه روايت دے چه دا په منبر باندې اودريدۀ او په ژړا شو، بيائے اوفرمائيل : رسول الله ﷺ په اول کال د منبر دپاسه اودريدۀ او وې فرمائيل : (بيائے دغه حديث ذکر کړو)۔ (أحمد : ۱/۳).

حديث کښې دی : « د يقين نه پس هيڅ يو شے د خلقو ترمينځ داسې نۀ دې تقسيم شوې چه هغه دَ عافيت او جوړښت نه غوره وی »۔ (أحمد : ۱/۹).

بل حديث کښې دی : « الله نه په دنيا او آخرت دواړو کښې معافی، عافيت او يقين غواړئ»۔ (۱/۳).

په مشهوره دعاء کښې راغلی : « مونږ له دومره يقين راکړې چه دَ هغې په وجه په مونږ د دنيا مصيبتونه آسانی شی »۔

ابن مسعود ﷺ به فرمائيل : (اے الله ! زۀ تانه ايمان، يقين او په دين کښې پوهه غواړم)۔ (ترمذی : ۲/۱۷۹).

(دا دعاء په مرفوع حديث کښې هم ذکر شوې، خو دَ هغې په سند کښې خبرې اترې شته)۔

په حديث کښې دی : « زۀ په خپل امت باندې صرف دَ يقين د کمزورئ نه يريږم»۔

(رواه الطبراني في الأوسط ورجاله ثقات، كذا في المجمع : ۱/۱۰۷).

په بل حديث كښې دي : « مرګ د انسان دپاره پوره وعظ كونكے، يقين پوره مالداري، او عبادت پوره مصروفيت دے ». (الضعيفة، رقم : ۵۰۲).

دا حديث مرفوع نقل شوے، خو صحيح خبره داده چه دا د ابن مسعودؓ خبره ده.

او نبي ﷺ فرمائي : « تاسو الله نه په داسے حال كښې دعاء غواړئ چه تاسو د قبليدو پوره يقين لرئ ». او دا دَ دعاء د قبليدو په شرطونو كښې هم ده.

ابراهيم بن ادهمؒ فرمائي : زمونږ زړونه په درے پردو كښې پرده پوښ دي. څو پورے چه دا پردے ختمے شوے نهٔ وي، بنده ته **يقين** نهٔ راښكاره كيږي : (۱) په ملاؤ شوي څيز خوشحالي (۲) په ورك شوي څيز خفګان (۳) او په صفت كيدو باندے خوشحالي. نو كله چه تهٔ په ملاؤ شوي څيز خوشحاله شے، نو تهٔ حرصناك ئے. اوكله چه تهٔ په ورك شوي څيز خفه شے نو تهٔ ناراضه ئے او ناراضه په عذاب وي. او كله چه تهٔ په صفت باندے خوشحاله شے نو تهٔ ځانته غاوره ئے، او ځانته غاورتيا عمل بربادوي. (الإحياء : ۱۲۱/۵).

دا ډيره عجيبه خبره ده.



۲۶ - ناشنا عظیمه فائده

د الله عز وجل د معرفت، د هغهٔ د استحضار او دَ هغهٔ د صفاتو د استحضار طریقه

او دا یوه داسې فائده ده چې ستا سترګو به هیڅ کله نهٔ وی لیدلی۔ دا د سرو زرو په اوبو لیکل پکار دی۔او په خپل عمل کښې راوستل پکار دی۔
په دې باره کښې دَ تولو نه زیاته نزدې لاره داده چه تهٔ همیشه دپاره د خپل ځان په صفاتو کښې فکر کوې، نو هر هغه کمال چه تهٔ ئې ځانله خوښوې، نو پوهه شه چه الله عز وجل ددې ډیر زیات لائق دې۔
دا وجه ده، په یو اثر کښې راغلی «چاچه خپل ځان اوپیژندهٔ، نو هغهٔ خپل رب اوپیژنده»۔
او دا مرفوع حدیث نهٔ دې، بلکه دا دَ بعضِ عارفینو علماؤ وینا ده۔
ددې پشان وینا دَ عمار بن یاسر ﷺ هم ده، هغه فرمائی : «درې څیزونه دی، چاچه هغه په ځان کښې جمع کړل، نو ایمان ئې جمع کړو۔ (۱) د خپل ځان د طرفه انصاف (۲) تولو خلقو ته سلام کول (۳) په فقیرئ کښې خرچه کول۔
(رواه ابن أبی شیبة فی الإیمان، و ذکره البخاری فی صحیحه : ۱/۱۲).
نو «د خپل ځان دَ طرفه انصاف» نه مراد دا چه مثلاً تهٔ مدح او صفت خوښوې، نو الله تعالیٰ به ئې ستانه زیات خوښوی۔ او لکه څنګه چه تهٔ په دې خوشحالیږې، نو دغه شان الله پرې تانه زیات خوشحالیږی۔ تهٔ د خپل ځان اکرام او عزت خوښوې او دا خوښوې چه خلق ستا عزت اوکړی او ستا سره دَ ادب سلوك اوکړی، تاله لوئې لوئې لقبونه درکړی۔ اوکه چرې ستا صفتونه اونهٔ کړی نو تهٔ خفه کیږې۔ دغه شان تهٔ دا خوښوې چه خلق ستا خبره اومنی، تهٔ چه دَ کوم شئ نه منع کوې هغې نه منع شی۔ بلکه که ستا ښځې او بچو ستا دَ امر او نهی نه خلاف اوکړی، نو تهٔ په غصه کښې وائې چه : آیا زما خبره تاسو ته توقه ښکاری ؟ آیا تاسو ماڼهٔ پیژنئ ؟ زما د غصې او وهلو نه نهٔ یریږئ ؟
دارنګه تهٔ دا خوښوې چه خلق ستا ښځه او بچی او هر هغه څوك چه تهٔ ئې خوښ ګڼړې،

هغه خوښ اوګنړي۔ او هغه څوك بدے اوګنړي څوك چه تهٔ بدے ګنړے۔ نو كه چرے دوئ ددے خلاف اوكړي نو تهٔ دوئ ته غصه ئے او دوئ شړے۔ دارنګه تهٔ دا خوښوے چه خلق هغه كتابونه او رسالے خوښ اوګنړي، كومے چه تا ليكلی دی۔ كه څوك ستا ليكلی كتابونه او رسالے غتے اوګنړي نو تهٔ پرے خوشحاله ئے۔ اوكه چرے څوك دا اووائی چه ددهٔ كتاب مزيدار نهٔ دے، نو بيا تهٔ غصه ئے او دا بده ګنړے۔

دارنګه تهٔ د خپلے ښځے نه دا غواړے چه هغه ستا خبره اومنی اګركهٔ هغه بيماره هم وی، او تهٔ د هغے صفت كوے كله چه هغه په والدينو، بچو او نورو خلقو باندے تا غوره كړی۔

كه تا چاله يو وخت وركړے وی او هغه د خپل وخت نه لږ مخكښے ستا مجلس ته حاضر شی، نو تهٔ د هغهٔ نه خوشحاله ئے او تهٔ هغه خوش اخلاقه او چُس چالاكه سړے ګنړے۔ اوكه هغه ددے الټه كار اوكړی، نو هغه تهٔ سست او ناراست ګنړے او هغهٔ نه خفه كيږے۔

دغه شان ستا د غم خوشحالئ، راحت او آرام او ستو مانتيا ټول حالتونه واخله۔ په هغے كښے سوچ اوكړه، بيا په هر حال كښے الله ته رجوع اوكړه۔ حال دا چه الله تعالیٰ ډير زيات لوئے دے ددے نه چه زما او ستا پشان مخلوق سره دَ هغهٔ مثال وركړے شی۔ ليكن ديته دَ الله دَ معرفت طريقه وائی۔

نو كله چه تهٔ هغهٔ ته رجوع اوكړے نو هغه به اوپيژنے۔ دے وجے نه كله چه څوك ستا خلاف اوكړی نو ته به هغهٔ ته بيا نهٔ غصه كيږے، ځكه چه تهٔ به وائے چه ما هم د الله ډير زيات خلاف كړے۔ اوكله چه تهٔ غصه شے نو بيا په دے وخت كښے دا سوچ اوكړه چه كله د الله نافرمانی او خلاف اوشی نو هغه به څومره غصه كيږی؟

او تهٔ په مذكوره څيزونو خوشحاليږے، نو دغه شان ستا رب ستا په توبے، رجوع، خشوع او دَ هغهٔ مخامخ په انكسار او عاجزئ خوشحاليږی۔ څنګه چه تهٔ د خلقو نه دا حالتونه خوښوے۔

خو ليكن د خلقو ټول حالتونه په الله كښے نهٔ جاری كيږی، ځكه چه د خلقو دپاره جسمانی صفات دی او هغوئ محتاج دی۔ او زمونږ رب دپاره دا احتياجات نشته۔

نو په دے طريقه كښے سوچ اوكړه، تهٔ به د خپل زړهٔ شِفاء په دے كښے بيامومے، ځكه ما خپله په دے كښے سوچ اوكړو، نو ماته په دے كښے ډير زيات علم ښكاره شو۔

او كيدے شی چه هم دا تشريح په هغه حديث كښے هم مراد وی، په كوم كښے چه راغلی: إن الله خلق آدم علی صورته.

(بيشکه الله تعالىٰ آدم په خپل صورت پيدا کړے). يعنے په خپل صفت ئے پيدا کړے.
او په دے تاويل کښے هم څۀ باك نشته، هر کله چه يو انسان د الله دپاره (صورت) منی، کوم چه په نورو نصوصو کښے راغلے.
نو انسان په محبت، بغض، مدح او نورو کمالی صفاتو کښے دَ الله په صورت باندے دے. نۀ په تولو صفاتو کښے. ځکه د الله پشان هيڅوك نشی کيدے.
دارنګه د الله محبت، بغض او بدګنړل وغيره د هغه محبت او بغض او بد ګنړلو نه غير دی ګوم چه دَ انسان په صفاتو کښے وی، په دے کښے خو صرف لفظی اشتراك دے، نۀ حقيقی.
حافظ سيوطیؒ دا حديث (چا چه ځان اوپيژندۀ نو هغۀ خپل رب اوپيژندۀ) په الحاوی کښے ذکر کړے، او وئيلی ئے دی چه دا صحيح نۀ دے. بيا ئے ورله ګڼړے معنے ذکر کړی، چه د تولو نه راجحه معنىٰ هغه ده کومه چه مونږ ذکر کړه.
ابن قيمؒ فرمائی : د الله عز وجل د معرفت طريقه داده چه تۀ دا سوچ اوکړے چه د الله عز وجل صفات دَ انسان دَ صفاتو برعکس دی. ځکه انسان فقير دے، او الله غنی دے، انسان فانی دے او الله باقی دے.
انسان ذليل دے، او هغه عزتمند. انسان مری او هغه نۀ مری. هغه د تمام مخلوقاتو تدبير کونکے دے، د خپلو بندګانو په دعاء خوشحاليږی. انسان بخيل دے. او د الله دواړه لاسونه فراخه دی، څنګه چه غواړی او څۀ چه غواړی خرچ کوی ئے.
او انسان باندے نسيان او غفلت راځی او ډير شيان ترينه پټ پاتے کيږی. او الله سبحانه وتعالىٰ داسے نۀ دے. او دا هم صحيح طريقه ده. چه په دے دواړو طريقو کښے غور او فکر کول پکار دی. په رد کولو کښے ئے تادی نۀ ده پکار.
په تفسير (السراج المنير : ۱۵۰/۱) کښے دی : په اخبارو کښے راغلی چه الله داؤد ﷺ ته وحی اوليږله چه : خپل ځان اوپيژنه او ما اوپيژنه. نو هغۀ عرض اوکړو، اے ربه ! زۀ خپل ځان څنګه اوپيژنم اوتا څنګه اوپيژنم ؟ الله تعالىٰ ورته وحی اوکړه چه خپل ځان په کمزورئ، عاجزئ او فناء سره اوپيژنه. او ما په قوت او بقاء سره اوپيژنه. آ هـ
او دا دويمه معنىٰ ده ددے حديث چه « چا ځان اوپيژاندۀ هغۀ خپل رب اوپيژاندۀ ».

❁❁❁❁❁❁❁❁

۲۷ - فائده

هغه څلویښت خویونه چه بنده جنت ته رسوی

په صحیح حدیث کښې دَ عبد الله بن عمرو ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلی : أربعون خصلة أعلاهن منيحة العنز، ما من عامل يعمل بخصلة منها رجاء ثوابها وتصديق موعودها، إلا أدخله الله الجنة.

(بخاری : ۱/۳۵۸، أبوداود : ۱، أحمد : ۱).

(څلویښت خویونه دی چه په هغې کښې اعلیٰ ترین خوئ، چاله دَ پیو دپاره په عطیه کښې لنګه ګډه بزه ورکول دی. کوم انسان چه ددے خویونو نه په یو خوئ باندے، ددے دَ ثواب په امید او په دے باندے دَ شوے وعدے په تصدیق سره عمل اوکړی، نو خامخا به ئے الله جنت ته داخل کړی).

حسانؒ فرمائی : مونږ دَ لنګے ګډے بزے دَ عطیئے نه ښکته نور خویونه اوشمارل. یعنی : دَ سلام جواب ورکول، پرنجی کونکے ته جواب ورکول، لارے نه ضرری څیز لرے کول اوداسے نور، نو مونږ پنځلسو ته هم دا خویونه اونهٔ رسول.

زهٔ وایم : بعضِ علماؤ وئیلی دی چه : ددے **خویونو** شمارل مناسب نهٔ دی. ځکه نبی ﷺ په دے باندے خبر وو، لیکن بیائے هم دا نهٔ دی شمارلی، نو ددے په نهٔ شمارلو کښې فائدے دی. بله دا چه ددے شمارل تخمینی او اټکلی خبرے دی.

نور علماء فرمائی : نبی کریم ﷺ دا خویونه نهٔ دی شمارلی، خو دَ ترغیب دپاره ئے دِیته اشاره کړے. که چرے ددے پیژندل نشو کیدے او یا په دے کښې فائده نهٔ وے نو نبی ﷺ به اجمالًا هم نهٔ شمارلے. او دا الحمد لله په احادیثِ نبویه ﷺ کښې موجود دی.

حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباری کښې ددے څهٔ برخه ذکر کړے.

دارنګه حافظ عینی رحمه الله په عمدة القاری (۱۳/۱۸۷) کښې دَ هغهٔ نه هم زیات ذکر کړی. البته بعضِ روایتونه ئے ضعیف دی.

زهٔ دا خویونه دَ صحیح او حسن احادیثو نه ان شاء الله دَ عمل دپاره او دیته دَ شوق او دعوت ورکولو دپاره ذکر کوم.

براء بن عازب ﷺ نه روايت دے، دا فرمائي : « يو بانده چې رسول الله ﷺ ته راغلے، او عرض ئے اوکړو، ماته يو داسے عمل را اوښايه چه ما جنت ته داخل کړي. نبي ﷺ اوفرمائيل : خبره دے ډيره لنډه اوکړه، خو تپوس دے ډير لوئے اوکړو. (۱) روح آزادوه، او څټ آزاد کړه. هغه وئيلے : دا دواړه يو شے نهٔ دے ؟ نبي ﷺ اوفرمائيل : نه. روح آزادول دادي چه ته هغه يواځے آزاد کړے. او څټ آزادول دادي چه ته دَ هغے په پيسو کښے مدد اوکړے. (۲) لنګه ګډه بزه چاله ورکول (۳) خپل ظالم رشته دار ته ورکړه کول. که ددے طاقت نهٔ لرے نو. (٤) اوګي له خوراك ورکوه، په تږي اوبهٔ څکوه، د نيکئ حکم کوه او د بدئ نه منع کوه. که ددے طاقت نهٔ لرے. (٥) نو خپله ژبه دَ خير دَ خبرو نه علاوه دَ هر څهٔ نه بنده ساته ».

(رواه البيهقي في شعب الإيمان بإسناد جيد، رقم : ٤٣٣٥، مشكاة : ٢/٢٩٤).

نو په دے حديث کښے د دغه څلويښتو خويونو نه پنځه خويونه ذکر شوی.

ابو ذر ﷺ فرمائي : « ما عرض اوکړو، اے د الله رسوله ! بنده له دَ اور نه څهٔ شے نجات ورکوی ؟ وے فرمائيل : الله باندے ايمان لرل. ابو ذر ؓ وائي ما عرض اوکړو، آيا ايمان سره عمل هم ؟ وے فرمائيل : (٥) الله چه دهٔ له څهٔ ورکړی دی، دَ هغے نه به څهٔ خرچ کوی. ما عرض اوکړو. اے د الله رسوله ! کهٔ چرے دغه کس فقير وی، داسے څهٔ نهٔ مومی چه هغه ورکړی ؟ وے فرمائيل : (٦) د نيکئ حکم به کوی او د بدئ نه به منع کوی. ما عرض اوکړو. اے د الله رسوله ! که چرے هغه چاړا وی، د نيکئ د حکم او دَ بدئ نه د منع کولو طاقت نهٔ لری ؟ وے فرمائيل : (٧) بے تجربے کس له به کار جوړوی. ما عرض اوکړو. که چرے هغه په خپله بے تجربے وی دَ هيڅ کار کولو وس نهٔ لری نو بيا ؟ وے فرمائيل : (٨) کمزوری سره به مدد کوی. ما عرضَ اوکړو. که هغه خپله کمزورے وی، مظلوم سره دَ مدد کولو طاقت نهٔ لری نو بيا ؟ وے فرمائيل : تهٔ نهٔ غواړے چهٔ په خپل دغه ملګری کښے څهٔ خير پريدے. (٩) بيابه د خلقو نه ضرر لرے کوی. ما عرض اوکړو. اے د الله رسوله ! که دا کار اوکړی نو جنت ته به داخليږی ؟ وے فرمائيل : هيڅ يو مسلمان نشته چه دَ مذکوره خويونو نه يو خوئے اوکړی، مګر دغه خوئے به ددهٔ لاس اونيسی ترڅو چه جنت ته به ئے ننباسی ».

(الطبراني في الكبير : ١/٨٣، بإسناد صحيح، وهو في الصحيحة : ٦/٣٦٩).

په مرفوع حديث کښے دي : (١٠) « چا چه د مسلمانانو دَ لارے نه يو داسے شے لرے کړو

چه دویٔ ته ئے ضرر ورکولو، نو الله به ددے په وجه دهٔ دپاره یوه نیکی اولیکی۔ اوچاله چه الله د خپل ځان سره نیکی اولیکی، نو الله به ئے دَ هغے په وجه جنت ته داخل کړی»۔

(رواه الطبرانی وهو فی الصحیحة : ٣٨٦/٥).

ابن عمر ﷺ فرمائی : «یو سړے نبی ﷺ ته راغے او عرض ئے اوکړو : اے د الله رسوله ! کوم سړے الله ته ډیر خوښ دے، او کوم یو عمل الله ته ډیر محبوب دے ؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل : الله ته دَ ټولو نه خوښ سړے هغه څوك دے چه خلقو ته ډیره نفع ورکوی۔ او په ټولو اعمالو کښے خوښ عمل (۱۱) دادے چه یو مسلمان ته څوك خوشحالی اورسوی۔ (۱۲) یا دَ هغهٔ نه غم لرے کړی۔ (۱۳) یا دَ هغهٔ نه قرض اداء کړی۔ (۱٤) یا دَ هغهٔ نه لوږه لرے کړی۔ (۱۵) او چه زهٔ دَ یو ورور سره دَ هغهٔ دَ حاجت پوره کولو دپاره لاړ شم، دا ماته ددے نه ډیره خوښه ده چه زهٔ په دے (مسجدِ نبوی) کښے یوے میاشتے پورے اعتکاف اوکړم۔ (۱٦) او چا چه خپله غصه بنده کړه، الله به ددهٔ حیاء او پرده اوکړی۔ (۱۷) او چا چه خپله غصه اوزغمله او هغه په دے قادر وو چه دا اوچلوی، الله به دَ قیامت په ورځ ددهٔ زړهٔ د امید نه ډك کړی۔ (۱۸) او څوك چه دَ خپل ورور سره د یو حاجت پوره کولو په سلسله کښے لاړ، تردے چه دغه حاجت هغهٔ دپاره پوره شو، نو الله به په هغه ورځ ددهٔ قدم مضبوط کړی، په کومه ورځ چه به قدمونه خوئیږی۔ او بیشکه بد خوئے عمل داسے خرابوی، څنګه چه سرکه ګبین خرابوی»۔

(رواه الطبرانی : ٢٠٩/٣، وهو فی الصحیحة، رقم : ٩٠٦).

(۱۹) سلام کول۔ (۲۰) او د پرنجی جواب ورکول۔ لکه حدیث کښے دی : « چا چه : السلام علیکم اووئیلو، ددهٔ دپاره لس نیکئ دی۔ او چا چه ورحمة الله زیات اووئیلو، نو ددهٔ دپاره شل نیکئ دی۔ او چا چه ورسره وبر کاته هم اووئیلو، نو ددهٔ دپاره دیرش نیکئ دی »۔ (أبوداود).

(۲۱) مسلمان باندے پرده اچول : حدیث کښے دی : « چا چه په مسلمان پرده واچوله، الله به په دنیا او آخرت کښے په دهٔ پرده واچوی »۔

(رواه مسلم فی حدیث طویل، وهو فی المشکاة : ١).

(۲۲) دَ خیر خبره چاته ښودل : حدیث کښے دی : « شفارس کوئ ستاسو اجر به کیږی، او الله دَ خپل رسول په ژبه دَ هغه شئ فیصله کوی، څهٔ چه غواړی»۔ (أبوداود).

(۲۳) د خلقو ترمینځ جوړ جاړے کول۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ ومن یفعل ذلك ابتغاء مرضاة

الله فسوف نؤتيه أجرًا عظيمًا ﴾ [نساء : ١١٤] (چاچه دا كار دَ الله د رضا تالاش كولو دپاره اوكړو، نو زر دے چه مونږ به دهٔ ته اجرِ عظيم وركړو)۔

(٢٤) پاكيزه خبره او خوږه وينا : حديث كښے دي : « اور نه څان بچ كړئ اګركهٔ دَ كهجورے دَ ټكړے په خيرات كولو سره وي، كهٔ دا نهٔ مومي نو په خوږے خبرے سره »۔ (بخاري).

الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ وهدوا إلى الطيب من القول ﴾ [حج : ٢٤]

(او دَ دوئ رهنمائي كړے شوے وه پاكيزه خبرے طرفته)۔

(٢٥) دَ دوه كسانو ترمينځه انصاف كول دا هم صدقه ده۔ (٢٦) يو سړي سره دَ هغهٔ په سورلئ بانديے مدد كول او هغهٔ پرے كينول او يا هغے بانديے دَ هغهٔ سامان اوچتول دا هم صدقه ده۔ خوږه خبره هم صدقه ده۔ او هر يو قدم چه جومات طرفته ئے ګدی صدقه ده۔ لارے نه تكليف وركونكے شے لرے كول صدقه ده »۔ (متفق عليه).

(٢٧) مُسكا او فراخ تندي : حديث كښے دي : « هره نيكي صدقه ده »۔ او فرمائي : « هيڅ يوه نيكي سپكه مه ګڼره اګركهٔ خپل ورور سره په فراخه تندي ملاويدل ولے نهٔ وي »۔ (مسلم).

(٢٨) وُنے نالول او بوټي كرل : حديث كښے دي۔ « كوم مسلمان چه يوه وُنه اوكري او يا يو فصل اوكري او د هغے نه انسان يا مارغهٔ او يا ځناور خوراك كوي، نو دا هر څهٔ ددهٔ دپاره صدقه ده »۔ (بخاري، مسلم).

(٢٩) خپله بوقه دَ ورور په بوقه كښے اړول۔ (أحمد، ترمذي).

(٣٠) « ورك شوي سړي ته لار ګوډز خودل صدقه ده۔

(٣١) كمزوري نظر والا سره مدد كول صدقه ده »۔ (مشكاة : ١/١٦٩).

(٣٢) الله دپاره يو بل سره مينه محبت كول۔(٣٣) الله دپاره يو بل سره ملاويدل۔ (٣٤) الله دپاره يو بل سره شريك كيناستل۔ (٣٥) الله دپاره په يو بل خرچ كول۔

حديث شريف كښے دي : « زما محبت هغه چا دپاره واجب شو چه هغوئ خپلو كښے د يو بل سره زما دپاره مينه كوي، او هغه څوك چه زما دپاره يو بل سره كيني، او هغه څوك چه زما دپاره يو بل سره ملاقات كوي، او هغه څوك چه زما دپاره په يو بل خرچه كوي »۔ (مشكاة : ٢/٤٢٦).

(٣٦) مظلوم او ظالم دواړو سره مدد كول۔ حديث كښے دي : « خپل ورور سره مدد كوه،

ظالم وی که مظلوم۔ چا تپوس اوکړو۔ چه ورور مې مظلوم وی خو زهٔ به ورسره مدد اوکړم، لیکن که هغه ظالم وی نو څنګه به ئې مدد کوم؟ نبی ﷺ اوفرمائیل: هغه به د ظلم نه بچ کړې نو دا ستا هغهٔ سره مدد کول دی». (بخاری).

(۳۷) دَ منافقینو د غیبت کولو نه دَ مؤمنانو دفاع کول: حدیث کښې دی: « هیڅ یو مسلمان داسې نشته چه د خپل ورور دَ عزت دفاع اوکړی، مګر په الله بانديې حق دی چه ددهٔ نه دَ قیامت په ورځ د جهنم اور واړوی۔ بیائې دا آیت اولوستلو: ﴿ وکان حقًا علینا ننج المؤمنین ﴾ [یونس: ۱۰۳] ». (رواه فی شرح السنة، المشکاة: ۲/۴۲۴).

(۳۸) بیمار پښتنه کول: حدیث کښې دی: « چا چه د یو بیمار پښتنه اوکړه، نو آواز کونکې دَ آسمان نه آواز کوی چه: تهٔ هم پاکیزه ئې او ستا تلل هم پاکیزه دی، او تا په جنت کښې ځان دپاره کور جوړ کړو». (رواه ابن ماجه بإسناد صحیح).

(۳۹) سلام جواب ورکول۔ (۴۰) په مجلس کښې فراخی پیدا کول۔ (۴۱) مصافحه کول۔ (۴۲) دَ ضائع کیدونکی سړی مدد کول۔ (۴۳) رشته دار له رسئ ورکول، او دَ پیزار تسمه ورکول، او وحشت (ویرې) والا سره اُنس کول۔ (۴۴) ګاونډی ته هدیه لیږل۔ حدیث کښې دی: « هیڅ یوه ګاونډئ دې د خپلې ګاونډئ دپاره هیڅ شې سپك نهٔ ګنړی اګرکهٔ دَ ګډې بزې ښنګرې ولې نهٔ وی». (بخاری).

نو دا ټول څیزونه د الله په توفیق سره دَ دغه (څلویښتو خویونو والا) حدیث مصداق دې۔ که بالفرض دائې مصداق هم نشي، نو دغه مذکوره کارونه دَ نورو دلائلو دَ وجې دَ جنت اسباب دی۔ نو ددې په بیانولو کښې هیڅ حرج نشته۔



۲۸ - عظیم النفع فائده

د ګناهونو ضررونه

دا یوه ډیره عظیم النفع فائده ده، خو چاله چه پریے الله تعالیٰ دَ عمل کولو توفیق ورکړی۔
او هغه داچه په دنیا او آخرت کښے چه څۀ مصیبتونه، غمونه او خفګانونه راځی، نو ددے یواځنے سبب ګناهونه، نافرمانئ او فسق وفجور دے۔ دا یو یو کس ته هم ضرر ورکوی، معاشرے ته هم، نارینه وُ ته هم ضرر ورکوی، زنانو ته هم۔ تورو ته هم او سپینو ته هم۔

الله تعالیٰ فرمائی: ﴿من یعمل سوءً یجز به ولا یجد له من دون الله ولیًا ولا نصیرًا﴾ [نساء: ۱۲۳]

(چاچه څۀ ګناه اوکړه، دَ هغے بدله به ورته ورکولے شی او خپل ځان دپاره به دَ الله نه سیوا بل هیڅوك دوست او امدادی بیانۀ مومی)۔

نو اوګوره دے عامو الفاظو ته، سره ددے چه الله تعالیٰ په دے کښے مؤمنانو سره خطاب کړے، لکه فرمائی: ﴿لیس بأمانیکم ولا أمانی أهل الکتاب﴾ [نساء: ۱۲۳]

یعنے: عذاب نه خلاصے نۀ ستاسو په آرزوګانو سره دے او نۀ د اهلِ کتابو په آرزوګانو سره۔ بلکه چاچه څۀ ګناه اوکړه، بدله به ورته ورکولے شی۔

دَ ګناهونو ضررونه ډیر زیات دی، چه ددے شماره صرف الله عز وجل کولے شی۔

خو ضررونه دوه قسمه دی: (۱) هغه ضررونه چه دَ ټولو ګناهونو سره متعلق دی (۲) خاص ضررونه، دَ هرے یو یے ګناه خپل خپل ضرر۔

څکه دَ ګناهونو مثال لکه دَ زهرو او مرضونو او بیماریانو غوندے دے۔ چه د هرے بیمارئ دپاره دَ انسان په بدن کښے یو خاصیت وی۔ ځینے بیمارئ زړۀ کمزورے کوی، ځینے سترګه خرابوی، ځینے دماغ خرابوی، ځینے لاسونه اوخپے شلوی، ځینے غوږونه کوڼروی۔ او داسے پسے ورځه۔

بیا د خلقو عادت دادے چه دوئ مرضونو او بیماریانو طرفته ډیره زیاته توجه کوی، دَ هغے علاج کوی او څومره چه کیدے شی دَ هغے په علاج کولو او لرے کولو کښے کوشش

کوی۔ لیکن دویٔ دَ گناهونو څهٔ خاص باك نهٔ کوی، نهٔ دَ هغې نه توبه اوکاړی، نهٔ الله ته رجوع کوی، او نهٔ په دې خفه کیږی۔ مګر هغه څوك چه الله پرې رحم کړے وی۔

نو تاله پکار دی چه تهٔ ددې خلقو نه جوړ نشې۔ ځکه دَ گناهونو پرواه نهٔ ساتل منافقت دې۔ او په گناه پریشانه کیدل ایمان دې۔

مونږ دلته دَ گناهونو ضررونه او تباهئ ذکر کوو۔ کیدې شی چه په دې سره تهٔ د خپل غفلت دَ خوبه رابیدار شې، او یا دې خفه او پریشانه کړی۔

دَ گناهونو ناشنا ضررونه :

۱ - **گناهونه** ټول مصیبتونه راکاږی، برابره خبره ده که هغه په نفس کښې وی، که په مال او اولاد او ښځه کښې۔

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وما أصابكم من مصيبةٍ فبما كسبت أيديكم ويعفو عن كثير ﴾

(اوتاسو ته چه څهٔ مصیبت رسیږی نو دا په سبب دَ هغه گناهونو چه ستاسو لاسونو کړی او الله دَ ډیرو نه عفوه کوی)۔

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ ما أصابك من حسنة فمن الله، وما أصابك من سيئة فمن نفسك﴾۔ [نساء : ۷۹] (تاته چه څهٔ ښیګړه رسی نو دا دَ الله له طرفه ده، او تاته چه څهٔ مصیبت رسی نو دا ستا د گناه دَ وجې ده)۔

او فرمائی : ﴿ قل هو من عند أنفسكم ﴾ [آل عمران : ۱٦٥]

(ورته اووایه : دا تکلیف ستاسو دَ نفسونو دَ وجې راغلې)۔

۲ - **گناهونه** په زړونو زنګ راولی، هغه خرابوی او کمزوری کوی ئې، او دَ خپلو کارونو نه ئې اوباسی۔ ځکه زړونه دَ بادشاهانو حیثیت لری، نو کله چه بادشاهان خراب شی نو بیا رعیت خپله خرابیږی۔

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ كلا بل ران على قلوبهم ما كانوا يكسبون ﴾ [مطففين : ١٤]

(هیڅ کله داسې نهٔ ده ! بلکه الله دَ دویٔ دَ گناهونو په وجه دَ دویٔ په زړونو زنګ پیدا کړے دې)۔

نو زنګ دَ زړهٔ مرض دې، لکه څنګه چه اوسپنه خوری، کله چه اوسپنه زنګ واخلی نو بیا د هغې کارونه او قوت خراب شی۔ دغه شان دَ زړونو زنګ هم دې۔

۳ - **د گناهونو** په وجه زړونه توریږی او دَ هغې نورانیت ختمیږی۔ نبی ﷺ فرمائی :

«بنده چه کله گناه اوکړی نو دَ دهٔ په زړهٔ کښې یو تور داغ اوشی، نو که توبه کړی او

استغفار اوغواړي، نو زړهٔ ئې صفا شي، اوکه نهٔ وي نو دغه زنګ ددهٔ په زړهٔ غالب شي»۔
(أخرجه البيهقي وهو في المشكاة).

٤ - د ګناهونو په وجه انسان دَ قيامت په ورځ دَ الله دَ ديدار نه محروميږي۔ الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ كلا إنهم عن ربهم يومئذٍ لمحرومون ﴾ [مطففين : ١٥]
(خبردار! دوئ به په دغه ورځ دَ خپل رب دَ ديدار محرومه وي)۔
يعنې : هر کله چه دَ دوئ زړونه په دنيا کښې دَ ګناهونو په پردو کښې پرده پوښ وو، نو الله سبحانه وتعالىٰ ورته په قيامت کښې دا سزا ورکړه چه دَ خپل ديدار نه ئې په پرده کښې اوساتل۔ او دا پوره بدله ده۔ ځکه جزاء دَ جنس دَ عمل نه وي۔

٥ - ددې هر څهٔ نه لوئې ضرور دادې چه کله بنده هميشه ګناهونه کوي او ددې هيڅ باك نهٔ ساتي اونهٔ ددې نه توبه اوباسي، نو دا ګناهونه په زړهٔ باندې دَ مُهر او تاپې لګولو سبب اوګرځي۔ په الله پورې پناه۔
الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ أولم يهد للذين يرثون الأرض من بعد أهلها أن لو نشاء أصبناهم بذنوبهم ونطبع على قلوبهم فهم لا يسمعون ﴾ [اعراف : ١٠٠]
(آيا هغه خلقو ته چه هغوئ زمکه په ميراث کښې وړي روسته دَ اهل دَ هغې نه، دا خبره نهٔ ده ښکاره شوې، که مونږ اوغواړو نو مونږ به دوئ ته دَ دوئ د ګناهونو په وجه رسيدل اوکړو، او دَ دوئ په زړونو به مُهر اولګوو چه بيا به دوئ هيڅ شے نهٔ آوري)۔
نو په دې آيت کښې په ګناهونو باندې سخته زورنه او دهمکي ده چه ګناهونه دَ مصيبتونو او عذابونو سبب دې۔ يا دا چه ددې په وجه به په زړونو تاپه اولګي چه بيا به حق او هدايت نهٔ آوري۔

٦ - ګناهونه دَ ذلت او سپکاوي او دَ مرتبې دَ غورزيدو سبب دې :
هيڅ يو ذلت نشته مګر دَ هغې سبب ګناهونه دي۔ او هيڅ يو عزت او مرتبه نشته مګر دَ هغې سبب طاعت او عبادت دې۔
الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ إن الذين يحادون الله ورسوله أولئك في الأذلين ﴾ [مجادله : ٢٠]
(هغه خلق چه دَ الله او رسول خلاف کوي، دا خلق په ذليلانو کښې شمار دي)۔
او الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ من كان يريد العزة فإن العزة لله جميعًا ﴾ [فاطر : ١٠]
(څوك چه دَ عزت طلبګار وي، نو هغه دې په دې خبر شي چه عزت ټول دَ الله په لاس کښې دې)۔

يعنے : څوك چه عزت غواړی نو هغه دے د الله په طاعت سره ځان عزتمن کړی۔
او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وتعز من تشاء وتذل من تشاء بيدك الخير ﴾ [آل عمران]
(چاله چه غواړے عزت ورکوے، او چاله چه غواړے ذلت ورکوے، ستا په لاس کښے خير دے)۔ مفسرين فرمائی : يعنے ته په طاعت سره عزت ورکوے، او په ګناه سره ذلت۔
او نبی ﷺ فرمائی : « الله تعالیٰ ذلت او سپکاوے په هغه چا مقرر کړے چه هغه زما دَ حکم خلاف کوی»۔ (رواه البخاری معلقًا فی کتاب الجهاد)۔
عبد الله بن مبارك ؒ فرمائی :
رأيت الذنوب تميت القلوب o وقد يورث الذل إدمانها
(ما ګناهونه اوليدل چه زړونه مړهٔ کوی، او هميشه ګناهونو کولو سره ذلت پيدا کيږی)۔
حسن بصری ؒ فرمائی : (نافرمان خلق اګرکهٔ په قچرو په مزے سره روان وی او په ښهٔ کره کره آسونو ناست وی، او هغه په تيزه روان وی، او هَمُ هَمُ کوی، مګر دَ ګناه چه کوم ذلت دے، هغه د دوئ څټونو پورے نختے دے، الله خامخا خپل نافرمان ذليله کوی)۔
نو ګنهکار خلق ذليله دی اګرکهٔ دوئ په ډير عُمده ګاډو کښے ګرځی يا اعلیٰ ترين لباسونه آغوندی او بهترين محلونه جوړ کړی۔
٦ - د ګناهونو په وجه انسان ګمنامے کيږی او ښهٔ شُهرت ئے ختميږی۔
الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وقد خاب من دساها ﴾ [الشمس : ١٠]
(او هغه څوك مراد ته اونهٔ رسيدهٔ چا چه خپل ځان ورك کړو، او په ګناهونو کښے ئے ورداخل کړو)۔
لوئے عالِم چه کله دَ ګناهونو ارتکاب کول شروع کړی، نو هغه ګمنامے کيږی او شهرت ئے ختميږی، مرتبه ئے هيروله شی، فائده ورکول ئے ختم شی او نفع ئے زائله شی۔
دارنګه دا کارونه دَ مالدار او مرتبے والا سره هم کيږی۔ هر کله چه دوئ ګناهونه کول شروع کړی۔ والله المستعان۔
په آيتِ کريمه کښے د (خَابَ) معنیٰ داده چه (مراد ته اونهٔ رسيدهٔ) ځکه دَ هر انسان مراد دادے چه راحت، عزت، شهرت، محبت او امن حاصل کړی۔ او دا ټول دَ ګناهونو په وجه ختميږی۔
٨ - ګناهونه په علم، رزق، غَلو، ميوو او عمرونو کښے دَ بے برکتئ سبب دے۔
الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ ظهر الفساد فی البر والبحر بما کسبت أيدی الناسِ ليذيقهم بعض

الذی عملوا لعلهم یرجعون ﴾ [الروم : ٤١]
(دَ خلقو دَ گناهونو په وجه په اوچه او لمده کښې بې برکتي راښکاره شوې ده، دې دپاره چه الله په دوئ باندې دَ خپلو بعضِ اعمالو جزاء او څکوی، کیدې شي چه دوئ را اوگرځي).
دَ فساد نه مراد په يو تفسير باندې په تولو څيزونو کښې برکت کميدل دی.
تهٔ نه گورې چه بدنونه، رزقونه اوعلمونه وخت په وخت کمیږی او دَ هغې برکت ختمیږی. دَ انسان عمر بغير فائدې تيريږی. ددې هر څهٔ يواځنې سبب، اجتماعی او انفرادی گناهونه دی. یا الله ! بخښنه اوکړې.
دَ عدل او اسلام په زمانه کښې به په هريو شئ کښې برکت وو.
تردې چه امام ابوداودؒ نقل کړی چه دهٔ اوفرمائيل : په مِصر کښې ما يوه تره (بادرنگ) په لويشت کړو، نو هغه دیارلس لويشتې اوختلو.
په يو اوښ باندې به دوه ترې باروې. (کتاب الزکاة دَ أبو داود).
دَ بنو اميه په خزانه کښې دَ کهجورې دَ هډوکی هومره غنم دانه راوتلې وه، هغې سره ئې دا ليکلي وو، چه دا غنم دانه به دَ عدل په زمانه کښې کيدله.
دَ ائمه کرامو ؒ بې شماره کتابونو ته اوگوره چه په کمو عمرونو کښې ئې ليکلي دی. لکه ددې قِسم واقعاتو دپاره (کتاب المشوق الی طلب العلم والقرائة، او کتاب قیمة الزمن) مطالعه کول پکار دی.
۹ - په آیتِ کریمه کښې دَ فساد نه مراد عذابونه هم دی. لکه دَ بارانهٔ قحطونه، دَ وُنو بوټو او ميوو ختميدل. يا دَ ډيرو بارانونو او جَرو په وجه کورونه نړيدل، لارې کوڅې ضائع کيدل او ډکيدل. چه مونږ ددې نه ډير څهٔ ليدلي دی، تردې چه زهٔ اوس دا کرښې ليکم او زهٔ په کراچئ کښې يم، چه بارانونو لارې خرابې کړی او دننه کورونو ته اوبهٔ ننوتي دی، چه ددې په وجه خلق په ډير مشقت کښې دی. ددې باوجود هم دوئ نهٔ منع کيږی. مگر هغه څوك چه ستا رب په هغهٔ رحم اوکړی.
۱۰ - **گناهونه** دَ علم دَ ختميدو :
۱۱ - دَ زړهٔ دَ سختيدو :
۱۲ - او په انسان باندې دَ لعنت کيدو سبب دې.
الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ فبما نقضهم ميثاقهم لعناهم وجعلنا قلوبهم قاسيةً يحرفون الكلم عن مواضعه ونسوا حظًا مما ذكروا به ﴾. الآية [مائدة : ۱۳]

(نو د دوئ دَ وعدے ماتولو په وجه مونږ په دوئ لعنت اوکړو، او دَ دوئ زړونه مو سخت کړل، چه دوئ د الله کلمے دَ خپلو ځايونو نه بدلوی، او دوئ ته به چه په څهٔ شئ نصيحت کيدهٔ، دَ هغے پوره برخه ئے هيره کړه).

نو په دے آيت کښے درے عذابونه دی چه بعضِ دَ بعضو نه زيات سخت دی، او هغه (۱) **لعنت** دے، چه ددے معنیٰ ده : د الله دَ رحمت نه لرے والے. په بعضِ گناهونو دَ لعنت وعيد راغلے، او دا دَ څلويښتو (۴۰) نه زيات گناهونه دی.

(كتاب أسباب اللعن، و تفسير أحسن الكلام : ۱).

(۲) **دويم** : دَ زړهٔ سخت والے. او دا يو لوئے مصيبت دے. ځکه د الله په مصيبتونو کښے سخت مصيبت دادے چه دَ يو انسان زړهٔ سخت کړی چه بيا هغه الله ته انابت او رجوع نهٔ کوی. او دا دَ ټولو مصيبتونو جرړه ده.

(۳) **دريم** : علم هيرول او دَ ذکر او ښائسته وعظونو نه غفلت کول او هغه پريښودل. او ددے هر څهٔ سبب گناهونه او نافرمانئ دی.

په حديث کښے دی : « بيشکه يو سړے دَ گناه دَ ارتکابَ په وجه علم هير کړی».

(رواه أحمد وابن عبد البر في جامع بيان العلم).

امام مالکؒ امام شافعیؒ ته اوفرمائيل : زهٔ په تا باندے دَ رڼرا وينم نو تهٔ هغه دَ گناه دَ تيارے په وجه مهٔ ختموه.

امام شافعیؒ فرمائی :

شكوتُ إلى وكيع سوء حفظي فأرشدني إلى ترك المعاصي
فإن العلم نور من إله ونور الله لا يعطىٰ لعاص

(ما خپل استاذ وکيعؒ ته دَ خپلے حافظے دَ خراب والی شکايت اوکړو، هغهٔ ماته دَ گناهونو پريښودلو هدايت اوکړو. ځکه علم دَ الله دَ طرفه يوه رڼرا ده، او د الله رڼرا گنهگار له نهٔ ورکړے کيږی).

۱۳ - گناهونه بنده دَ خپل رب نه لرے کوی، او دَدهٔ او دَ رب ترمينځه وحشت راولی. نو که بنده هوښيار وی او دَ الله توفيق ورسره شاملِ حال شی، نو په توبے، انابت او تضرع سره ورته رجوع اوکړی. او که غبی او سخت وی نو پرے ئے گدی او تضرع ورته نهٔ کوی اونهٔ دَ خپلے بيمارئ علاج ترے غواړی، اونهٔ ترے دوائی طلب کوی. نو په تباه شوو کښے دے هم تباه شی. په الله پورے پناه غواړو.

هغه وحشت چه يو ګنهګارئ په ځپل زړهٔ کښې بيامومي، دے سره هيڅ يو خوند او لذت برابرېږي نهٔ اګرکهٔ دَ ټولې دنيا خوندونه هم واخلي۔

بعضِ خلقو ځينې عارفينو ته دَ وحشت شکايت اوکړو، نو هغه اوفرمائيل:

إذا أوحشتك الذنوب فدعها إذا شئتَ واستأنس

(کله چه تا ګناهونه په وحشت کښې واچوی نو کله ئے چه غواړې پريده او اُنس حاصل کړه)۔

په زړهٔ باندے دَ يوے ګناه نه پس دَ بلې ګناه په وجه دَ وحشت نه زيات بل هيڅ يو شے دومره تريخ نهٔ لړی۔ تردے چه ګنهګار دَ خپل ځان او خلقو - خاصکر په دوئ کښې دَ خير والو - ترمينځ هم وحشت مومي۔ بيا دے حد ته اورسی چه په خپل ځان کښې هم وحشت مومي، نو بيا په دهٔ باندے دنيا - سره دَ فراخئ نه - تنګه شی۔

او همدے خبرے ته په دے قول دَ الله تعالیٰ کښې اشارة شوے:

﴿ کلا بل ران على قلوبهم ما كانوا يكسبون ﴾ [مطففين: ١٤]

١٤ - **ګناهونه** دَ پاکيزه رزق نه دَ بنده دَ محرومتيا سبب ګرځی۔ الله تعالیٰ فرمائی:

﴿ ومن يتق الله يجعل له مخرجًا ويرزقه من حيث لا يحتسب ﴾ [طلاق: ٣]

(څوك چه تقویٰ اختيار کړی، الله ددهٔ دپاره لاره اوباسی او دهٔ له د داسے ځائے نه رزق ورکوی چه ددهٔ وَهم او ګمان هم نهٔ وی)۔

او همدا دَ متقينو رزق دے۔ نو څوك چه د خپل رب نه نهٔ يريږی، هغهٔ له دَ متقينو رزق نهٔ ورکوی، بلکه دَ ځناورو رزق ورته ورکوی۔

﴿ ومن دابة إلا في الأرض إلا على الله رزقها ﴾ [هود: ٦]

(هيڅ يو زنده سر په زمکه نشته مګر دَ الله په ذمه دَ هغهٔ رزق دے)۔

حديث کښې دی: «يوبنده دَ رزق نه محروميږی، او ددے سببُ هغه ګناه وی چه دے ورته راتګ کوی»۔ (مسند أحمد).

١٥ - **ګناهونه** کله نا کله نيکئ تباه کوی يا دَ هغے اثر کمزورے کوی۔ والعياذ بالله۔

الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ لا تبطلوا صدقاتكم بالمن والأذیٰ كالذی ينفق ماله رئاء الناس ﴾ [بقره: ٢٦٤] (خپلے صدقے په زباتولو او تکليف ورکولو سره مهٔ خرابوئ لکه دَ هغه چا پشان چه خلقو ته دَ ځان ښودنے دپاره مال لګوی)۔

او فرمائی: ﴿ ولا تبطلوا أعمالكم ﴾ [محمد: ٣٣] (خپل عملونه - دَ رسول الله ﷺ دَ

مخالفت او دَ رياء او كبيره گناهونو دَ وجې – مۀ بربادوئ).
او فرمائی : ﴿ أن تحبط أعمالكم وأنتم لا تشعرون ﴾ [حجرات : ۲]
(هسې نه ستاسو عملونه برباد شی او تاسو ته پته هم نۀ وی).
په دې جلد كښې مونږ دَ ايمان دَ بربادونكو اعمالو په فهرست كښې ليكلی چه دَ يو قوم عملونه به الله برباد كړی۔ او ددې وجه به په يوائې والی كښې دَ الله دَ قابلِ عزت څيزونو دَ پردې ماتول وی۔
۱۶ – **گناهونه** انسان، د الله په آيتونو باندې كفر كولو ته راكاږی۔ والعياذ بالله۔
هر كله چه گناهونه مضبوط شی او په هغې باندې بنده څۀ باك نۀ كوی۔ او دا دَ گناهونو ډير لوئې عقوبت او عذاب دې۔ الله تعالىٰ فرمائی : ﴿ ثم كان عاقبة الذين اساؤا السوىٰ أن كذبوا بآيات الله ﴾ [الروم : ۱۰] (بيا دَ هغه خلقو انجام چه هغوئ گناهونه كړی وو، داشو چه هغوئ دَ الله آيتونو ته دَ دروغو نسبت اوكړو).
په دې آيت كښې دَ يو تفسير مطابق معنىٰ داده چه : گناهونه دَ الله دَ آيتونو په تكذيب كښې سبب جوړ شول۔
۱۷ – **گناهونه** بنده لره دَ الله دَ كتاب نه دَ نفع آخستلو نه محروموی، چه په هغې نۀ پو هيږی، نۀ عبرت آخلی۔ بلكه كله نا كله دَ الله په كتاب باندې دَ ايمان لرلو نه هم محروم شی۔ بلكه كله دَ الله دَ كتاب نه خلق منع كول شروع كړی۔ او ضال او مضل جوړ شی۔
ددې هر څۀ سبب گناهونه وی۔ خاصكر كبر، سركشی او جباريت۔ الله تعالىٰ فرمائی :
﴿ سأصرفُ عن آيتي الذين يتكبرون فى الأرض بغير الحق ﴾. الآية. (زر دې چه زۀ به د خپلو آيتونو دَ پو هې نه هغه خلق واړوم چه هغوئ په ناحقه په زمكه تكبر كوی).
مفسرين فرمائی : مطلب دا چه زۀ به دَ خپلو آيتونو دَ نفع نه او په هغې باندې د عبرت آخستلو نه او په هغې دَ پو هيدلو نه او په هغې دَ ايمان راوړلو نه متكبره خلق واړوم۔
او دا ټولې معنىٰ گانې صحيح دی، او واقع هم دی۔ سبحان الله ! د تكبر څومره لوئې عقوبت او عذاب دې ؟ او دا تكبر هغه بيماری ده چه :
۱۸ – **گناهونو** خاوند جنت ته نشی تلې۔ حديث كښې دی : « جنت ته به هغه څوك داخل نشی چه د هغۀ په زړۀ كښې دَ ذرې هومره تكبر وی»۔ (مسلم : ۱).
۱۹ – يوه **گناه** بلې گناه ته انسان راكاږی۔
او دا دَ گناه لوئې عقوبت دې۔ الله تعالىٰ فرمائی :

﴿ إن الذين تولوا منكم يوم التقى الجمعان إنما استزلهم الشيطان ببعض ما كسبوا ﴾ [آل عمران : ١٥٥] (بیشکه هغه خلق چه د دوه ډلو دَ یو ځائے کیدو په وخت اوګرځیدل، دے خلقو لره شیطان د خپلو بعضِ ګناهونو په وجه اوخویول)۔

نو دَ دوئ یو بے ګناه دوئ لره بلے ګناه ته راخکل۔

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ ذلك بما عصوا و كانوا يعتدون ﴾ [بقره : ٦١]

(دا په دے وجهٔ چه دوئ نافرمانی اوکړه او دَ دوئ عادت هم دادے چه دَ حد نه تجاوز کوی)۔

یعنے : دوئ ئے په ګناه، په کفرٌ او دَ الله په آیتونو باندے په تکذیب کولو کښے واقع کړل، نو الله په دوئ باندے غصه شو۔

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ فلما أزاغوا أزاغ الله قلوبهم ﴾ [الصف : ٥]

(کله چه دوئ کاږهٔ شول نو الله د دوئ زړونه کاږهٔ کړل)۔

نو دے آیت نه معلومه شوه چه ظاهری کړیدل په زړهٔ باندے تاثیر کوی چه بیا هغه هم کږیږی۔ او دا یوه ګناه ده چه بلے ګناه ته دعوت ورکوی۔ او په دے کښے دَ بعضِ نافرمانو خلقو په خبره رد دے چه کله دوئ لره بعضِ نیکان خلق اووینی او دَ ګناه نه ئے منع کړی، نو دوئ وائی : زما زړهٔ پاکیزه دے او زما نیت صحیح دے۔

ځکه کله چه ظاهر خراب شی، نو زړهٔ ورسره خرابیږی۔ دغه شان کله چه ظاهر روغ شی نو زړهٔ هم روغیږی۔

۲۰ – **ګناهونه** دَ استدراج سبب دے : او هغه داچه په خپل ځان ښهٔ ګمان کوی، حال داچه دا دَ الله دشمن وی۔ یا داچه په نعمتونو کښے پټ وی او دَ نیکئ توفیق ورته نهٔ ملاویږی۔ حدیث کښے دی : « کله چه تاسو اولیدل چه الله بنده ته دَ هغهٔ دَ ګناهونو باوجود ورکړه کوی، نو پوهه شئ چه دا استدراج یعنے په مزه مزه رانیول دی »۔

(أخرجه أحمد : ٤/٢٤٥، وهو في الصحيحة، رقم : ٤١٤).

الله تعالیٰ فرمائی :﴿ والذين كذبوا بآياتنا سنستدرجهم من حيث لا يعلمون ﴾ [اعراف : ١٨٢]

(او هغه خلق چه زمونږ آیتونه ئے دروغژن ګنړلی دی، زر دے چه مونږ به دوئ دَ هغه ځائے نه په قلار قلار رانیسو، دَ کوم ځائے نه چه دوئ نه پوهیږی)۔

او فرمائی : ﴿ أيحسبون أنما نمدهم به من مال وبنين نسارع لهم في الخيرات بل لا يشعرون ﴾.

(آیا دَ دوئ خیال دے چه مونږ دوئ سره دَ مال او ځامنو په ذریعه مدد کوو، چه ګنے مونږ

دوئ له په نیکیو کښې تادی کوو، نه ! بلکه دوئ نۀ پو هیږی)۔
حدیث کښې دی : « کله چه الله خپل بنده ته دَ خیر اراده اوکړی نو په دنیا کښې ورله عقوبت او عذاب ورکوی »۔
۲۱ - کوم عذاب چه په دنیا کښې په اقوامِ مکذبهٔ نازل شوی وو، دَ هغې یواځې سبب هم **گناهونه** وو۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ أولم یسیروا فی الأرض فینظروا کیف کان عاقبة الذین کانوا من قبلهم هم أشد منهم قوة وآثارًا فی الأرض فأخذهم الله بذنوبهم وما کان لهم من الله من واق ﴾ [فاطر : ٤٤]
(آیا دوئ په زمکه نۀ گرځی چه اوگوری چه څنگه چه انجام دَ هغه کسانو چه دَ دوئ نه مخکښې وو، هغوئ د دوئ نه په قوت او په زمکه باندې دَ نښو نښانو په اعتبار زیات وو، الله هغوئ دَ خپلو گناهونو په وجه را اونیول او دوئ دپاره د الله د طرفه هیڅوك بچ کونکے نۀ وو)۔
عباس ﷺ فرمائی : هیڅ یو مصیبت نۀ نازلیږی مگر دَ گناه په وجه، او نۀ اوچتیږی مگر په توبې سره۔ (فتح الباری).
۲۲ - **گناهونه** انسان لره ذلیله حیواناتو سره مشابه کوی، لکه سپے، خر، خنزیر او نور ځناور۔ الله تعالیٰ فرمائی :
﴿ فمثله کمثل الکلب إن تحمل علیه یلهث أو تترکه یلهث ﴾ [اعراف : ۱۷٦]
(نو ددۀ مثال لکه دَ سپی دے، که حمله پرے کوے نو هم ژبه راوباسی اوکه پریدے ئے نو هم ژبه را اوباسی)۔
او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ کمثل الحمار یحمل أسفارًا ﴾ [الجمعة : ٥]
(دَ هغه خلقو مثال چه تورات پرے بار کړے شو، خو هغوئ بار نۀ کړو، لکه دَ خرۀ دے چه کتابونه ئے بار کړی وی)۔
په یو ضعیف حدیث کښې دی : « بے ځایه ځائے علم کیخودونکے داسے دے لکه خنزیرانو ته دَ جواهرو، ملغلرو او سرو زرو امیل اچونکے »۔ (مشکاة : ۱).
دا تهول مثالونه دَ هغه علماؤ دپاره دی چه هغوئ په خپل علم باندے عمل پرینبی دے، او په گناهونو او نافرمانیو کښې اړم دی۔ والعیاذ بالله۔
الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ إن شر الدواب عند الله الصم البکم الذین لا یعقلون ﴾ [انفال : ۲۲]
(بیشکه دَ الله په نیز په تولو ځناورو کښې بدترین ځناور هغه کانړۀ اوگونگیان خلق دی

چه دَ عقل نه كار نهٔ آخلي)۔

۲۳ - **گناهونه** په دنيا، په قبر او په آخرت تولو كښې دَ ژوند دَ تنګيدو لوئے سبب دے۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ ومن أعرض عن ذكرى فإن له معيشةً ضنكًا ونحشره يوم القيامة أعمى﴾ [طه : ۱۲۳] (څوك چه زما دَ ذكر نه مخ واړوی نو دهٔ دپاره تنګ ژوند دے، او په قيامت كښې به ئے مونږ روند را پاسوو)۔

او دا تنګ ژوند به دَ دنيا، برزخ او آخرت په تولو مراحلو كښې وی۔

۲٤ - **گناهونه** په دنيا او آخرت دواړو كښې دَ پاكيزه ژوند او مزيدارے زندګئ نه دَ محروميتيا سبب دے۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ أم حسب الذين اجترحوا السيئات أن نجعلهم كالذين آمنوا وعملوا الصالحات سواء محياهم ومماتهم ساء ما يحكمون ﴾ [جاثيه : ۲۱] (آيا هغه خلق چه هغوئ ګناهونه كړی دی، دوئ سره به دَ هغه خلقو پشان معامله كوو، چا چه ايمان راوړے او نيك عملونه ئے كړی، دَ دوئ ژوند او مرګ دواړه به برابر وی ؟ بده ده هغه فيصله كومه چه دا خلق كوی)۔

او فرمائی : ﴿ أم نجعل الذين آمنوا وعملوا الصالحات كالمفسدين فی الأرض أم نجعل المتقين كالفجار ﴾ [ص : ۲۸] (آيا مونږ به هغه خلق چه ايمان ئے راوړے او نيك عملونه ئے كړی، دَ هغه خلقو پشان ګرځوو څوك چه په زمكه فساد كونكی دی، اوكه نه مونږ به متقين خلق دَ فاجرانو پشان جوړوو ؟)۔

او فرمائی : ﴿ لا يستوی أصحاب النار وأصحاب الجنة أصحاب الجنة هم الفائزون ﴾ [الحشر : ۲۰] (اور والا او جنت والا سره برابر نهٔ دی، جنت والا خو مراد ته رسيدونكی دی)۔

يعنے : اور والا په دنيا او آخرت او حشر كښې دَ جنت والو سره برابر نهٔ دی۔ ځكه د دوئ او دَ هغوئ په زندګئ كښې ډير فرق دے۔

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ من عمل صالحًا من ذكر أو أنثیٰ وهو مؤمن فلنحيينه حياة طيبة ﴾ [النحل : ۹۷] (څوك چه نيك عمل اوكړی، نارينه وی كه زنانه او دا مؤمن وی، نو خامخا به مونږ دهٔ له پاكيزه ژوند وركړو)۔

چه دا كار دَ ګنهګارو سره نهٔ كيږی۔

۲۵ - **گناهونه** دَ شرميدو او رسوايئ سبب دے۔ دارنګه دَ نورو ګناهونو دَ آسانيدو سبب دے۔ او الله دَ ګنهګارو مدد ګار نهٔ دے۔

الله تعالیٰ دَ اصحاب سبت په باره كښې فرمائی : ﴿ كذلك نبلوهم بما كانوا يفسقون ﴾

[اعراف : ۱٦٣] یعنې دَ دوئ دَ فسق او دَ الله دَ حکم نه د وتلو په وجه الله په دوئ باندې په دې ورځ کښې په ډیرو مهیانو سره آزمائش اوکړو. نو که چرې دوئ دَ الله نه یریدلې وې او دَ هغهٔ دَ حکم لحاظ ئې ساتلې وې نو خامخا به ئې په نورو ورځو کښې هم ډیر ډیر مهیان ورکړې وې. ځکه الله تعالیٰ دَ ایمان والو نه دفاع کوي. ﴿ ومن يتق الله يجعل له مخرجًا ﴾.
(څوك چه د الله دَ حکم لحاظ ساتي الله هغهٔ دپاره لاره اوباسي). [طلاق : ۲]
او الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ وأما من بخل واستغنى وكذب بالحسنىٰ فسنيسره للعسرى ﴾ [ليل]
(او چا چه بخل اوکړو او بې پروائي اوکړه او رښتینې شې ئې دروغژن اوګڼړلو، نو زر دې چه مونږ به دهٔ ته دَ ګران ځیز توفیق ورکړو).
یعنې :په دهٔ به دَ خیر دروازې بندې کړو او دَ الله تعالیٰ په نافرمانئ کولو سره به دې رسوا کړو. او امداد به ورسره نهٔ کوو. الله پورې پناه !
نو ددې نه بل غټ عذاب کوم دې ؟ چه په بنده باندې دَ خیرونو او نیکیو لارې بندې کړې شي چه په دې کښې ددهٔ دَ سعادت دارو مدار دې ؟
۲٦ - **ګناهونه** دَ زړهٔ او مخ وغیره دَ تیارې سبب دې :
ابن عباس - رضی الله عنهما - فرمائي : إِنَّ لِلْحَسَنَةِ ضِيَاءً فِي الْوَجْهِ وَنُورًا فِي الْقَلْبِ وَسَعَةً فِي الرِّزْقِ وَقُوَّةً فِي الْبَدَنِ وَمَحَبَّةً فِيْ قُلُوْبِ الْخَلْقِ، وَالْمَعْصِيَةُ بِضِدِّ ذٰلِكَ.
(دَ نیکئ اثر په مخ باندې دَ حُسن او دَ تازګئ وي، او په زړهٔ کښې رڼرا وي، او په رزق کښې فراخي وي، او په بدن کښې طاقت وي، او خلق ورسره محبت ساتي. او ګناه کښې ددې په ضد شیان ملاوېږي. یعنې توروالې دَ مخ او تیارهٔ د زړهٔ او تنګي دَ رزق او کمزوري دَ بدن او دَ خلقو په زړونو کښې ورسره نفرت).
(ذكر ابن القيمؒ في الجواب الكافي : ۸٤).
۲۷ - **ګناه** بنده لره دَ طاعت نه محروموي.
۲۸ - دَ عمر نه برکت ختموي، لکه ځنګه چه طاعت، صله رحمي او ښهٔ ګاونډ کول عمر زیاتوي.
۲۹ - **ګناهونه** زړهٔ د خپلې ارادې نه کمزورې کوي، چه بیا دَ ګناه اراده مضبوطېږي او دَ توبې اراده په مزه مزه کمزورې کېږي تردې چه ددهٔ دَ زړهٔ نه دَ توبې اراده بیخي اووځي. تردې که چرې ددهٔ نیمائي حصه هم مړه شي نو الله ته توبه نهٔ اوکاږي، بلکه هسې په خُلهٔ استغفار غواړي او دَ په ژبه دَ دروغژنو خلقو پشان ډیرې ډیرې توبې اوکاږي. حال دا چه زړهٔ

ئې په ګناه ترلے او مضبوط ولاړ وی۔ او دا ډیر لوئے مرض دے۔

۳۰ – بله دا چه زړهٔ دَ **ګناه** سره آموخته شی۔ که بیا ورته خلق هم ګوری نو ځان ورته په دے بدے نهٔ ښکاری، بلکه فاسقانو له په دے کښے مزه ورځی چه خلق ئې په ګناه اووینی۔ او یا ئې په خپله خلقو ته یادوی۔ دا وجه ده، نبی ﷺ اوفرمائیل: « زما هر یو امتی به معاف شی خو ښکاره ګناهونه کونکی نهٔ ». (بخاری).

۳۱ – **ګناهونه** ټول دَ اقوامِ مکذبهٔ میراث دے۔ لکه لواطت دَ قومِ لوط میراث دے، ناپ تول کښے کمے کول دَ قومِ شعیب میراث دے۔ تکبر دَ قومِ فرعون میراث دے۔ او داسے نور۔ او دَ کافرانو سره تشبیه جائز نهٔ ده، ګنے تا ته به هم هغه شے اورسی کوم چه هغوئ ته رسیدلے وو۔ دا وجه ده الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وما هی من الظالمین ببعید ﴾ [هود: ۸۳]

(او دا عذاب دَ ظالمانو نه لرے نهٔ دے)۔

یعنے: هغه کانړی چه په قومِ لوط باندے را اوورېدل۔

امام احمدؒ په کتاب الزهد کښے دَ مالك بن دینارؒ نه نقل کړی۔ چه الله تعالیٰ دَ بنی اسرائیلو دَ انبیاؤ نه یو نبی ته وحی اولیږله چه: خپل قوم ته دے اووایه چه زما دَ دشمنانو د داخلیدو ځایونو ته نهٔ داخلیږی، اونهٔ دے زما دَ دشمنانو په شان لباس اچوی، نهٔ دے زما دَ دشمنانو په سورلو سوریږی، نهٔ دے زما دَ دشمنانو دَ خوراکونو پشان خوراك کوی، هسے نه چه دوئ هم زما دشمنان شی، څنګه چه هغوئ زما دشمنان وو۔

او نبی ﷺ فرمائی: « چا چه یو قوم سره ځان مشابه کړو نو دا به دَ هغهٔ نه حساب وی »۔

۳۲ – **ګناه** په الله باندے دَ بنده دَ سپکیدو او دَ هغهٔ دَ سترګو نه دَ غورزیدو سبب دے۔

حسن بصریؒ فرمائی: دوئ په هغهٔ سپك شو نو ځکه ئې دَ هغهٔ نافرمانی شروع کړه۔ که چرے هغهٔ ته ګران وے نو دوئ به ئې ددے نه ساتلی وے۔

او کله چه بنده دَ الله په نیز سپك شی نو هیڅوك ئې عزت نشی کولے۔

الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ ومن یهن الله فما له من مکرم ﴾ [الحج: ۱۸]

(چا لره چه الله بے عزته کړی نو هغهٔ له هیڅوك عزت ورکونکے نشته)۔

۳۳ – **ګناهونه** دَ ګنهګار په نیز سپکیږی او دا دَ تباه کیدو علامه ده۔ ځکه کله چه ګنهګار بنده ته ګناه وړه ښکاره شی نو د الله عز وجل په نیز غټیږی۔

ابن مسعود ﷺ فرمائی: « مؤمن خپل ګناهونه داسے ګڼری ګویا دا دَ یو یو غرهٔ ویخ ته ناست دے چه په دهٔ باندے دَ هغے دَ راپریوتو نه یریږی۔ او بد کاره سړے خپل ګناهونه داسے

وینی لکه یو مَچ چه ددهٔ په پوزه کینی او په لاس سره ئے والوزوی»۔

۳۴ - **گناهونه** دَ بنده نه طاعت قطع کوی او دَ طاعت نه ئے محروموی۔

۳۵ - گناهونه دَ عُمر د لنډیدو او دَ برکت دَ ختمیدو ذریعه ده، لکه نیکی دَ عمر دَ زیاتیدو سبب دے۔ نو بدکاریٔ په وجه عمر کښے کمے راځی۔

۳۶ - دَ **گناهونو** سپیرهٔ توب حیواناتو ته هم تجاوز کوی۔

ابو هریره ﷺ فرمائی : دَ ظالم دَ ظلم په وجه خیراړے په خپله ژاله کښے مری۔

مجاهدؒ فرمائی : کله چه قحط سالی سخته شی او باران بند شی نو ځناور گنهگارو بندگانو ته اعلان کوی او، وائی : دا دَ انسانانو دَ گناه دَ سپیرهٔ توب وجه ده۔

۳۷ - **گناهونه** ذلت پیدا کوی، ځکه عزت ټول په ټول د الله عز وجل په طاعت کښے دے۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ من كان يريد العزة فإن العزة لله جميعًا ﴾ [فاطر : ۱۰]

(څوك چه عزت غواړی - نو هغه دے د الله په طاعت کښے تالاش کړی - ځکه عزت ټول د الله تعالیٰ په لاس کښے دے)۔

بعضِ سلفو به داسے دعاء کوله : اے الله ! ماله دَ خپل طاعت په ذریعه عزت راکړے او دَ خپلے گناه په وجه مے مهٔ ذلیله کوه۔

۳۸ - **گناهونه** عقل خرابوی۔ ځکه عقل رڼرا لری او گناه دغه رڼرا ختموی۔

بعضِ سلفو به وئیلے : دَ الله خلاف هیڅوك نهٔ کوی تردے چه دَ هغهٔ عقل غائب شی۔

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ هل في ذلك قسم لذي حجر ﴾ [الفجر : ۵]

(آیا په دے کښے قسَم دے دَ عقل والو دپاره)۔

﴿ إن في ذلك لآيات لأولى النهى ﴾ [طه : ۱۲۸]

(بیشکه په دے کښے عقل والو دپاره نښے شته دے)۔

۳۹ - **گناهونه** د الله او رسول (ﷺ) دَ لعنت سبب دے۔ ځکه الله په خپلو ډیرو بندگانو باندے دَ هغویٔ دَ گناهونو په وجه لعنت فرمائیلے۔ دغه شان رسول الله ﷺ هم په ډیرو کارونو والو باندے لعنت فرمائیلے۔ لکه په سود خوړونکی او بل ته ورکونکی او دَ سود په دواړو گواهانو باندے لعنت فرمائیلے۔ او دَ حق په پټونکی باندے ئے لعنت فرمائیلے۔ او په هغه چا ئے لعنت فرمائیلے څوك چه د زمکے نښے نښانے بدلوی۔ او په مُحلِل او مُحلل له باندے ئے لعنت وئیلے۔ او په شرابو کښے ئے په لسو کسانو لعنت وئیلے۔ او په هغه چا ئے لعنت وئیلے څوك چه په خپل مور پلار لعنت وائی۔ او په هغه چا ئے لعنت وئیلے چه دَ ساه

والا حيوان نه نښه جوړه کړي. او په هغه چا ئے لعنت وئيلے چه څناور سره بدفعلي اوکړي. او په هغه چا ئے لعنت وئيلے چه په مخ باندے حيوان اوداغي. او په هغه چا ئے لعنت وئيلے چه مسلمان ته ضرر ورکړي يا ورسره چل اوکړي. او په هغه ښځو ئے لعنت وئيلے چه هغوئ ډيرے ډيرے هديرو ته روانے وي. او په هغے باندے ډيوے بلوي او د هغے خواته جوماتونه جوړوي. او په هغه نارينه ؤ باندے ئے لعنت وئيلے چه د ښځو سره مشابهت کوي، دغه شان په هغه ښځو باندے چه د نارينه ؤ سره مشابهت کوي. او په هغه چا ئے لعنت وئيلے چه ښځه د خاوند سره ورانوي. او په هغه چا ئے لعنت وئيلے چاچه ړوند د سمے لارے نه واړولو. او په هغه چائے لعنت وئيلے چه الله او رسول او مؤمنانو بندګانو ته ضرر ورکوي. او په هغه چا ئے لعنت وئيلے چه خلقو پورے تور لګوي. او په رشوت ورکونکي او آخستونکي ئے لعنت وئيلے. او په هغه چا ئے لعنت وئيلے چه ښځے سره په شا طرف کښے جماع اوکړي. او په هغه چا ئے لعنت وئيلے چه د خپل پلار نه علاوه بل چاته پلار اووائي. او په هغه چاچه خپل ورور ته د وسلے اشاره اوکړي. او په هغه چائے لعنت وئيلے چه صحابو ﷺ ته کنځل کوي.

(د لعنت د اسبابو په باره کښے مستقل کتاب ليکلے شوے).

نو که تهٔ مؤمن ئے نو په دے کښے سوچ اوکړه، دابه د د الله په توفيق سره د ټولو ګناهونو نه منع کړي.

٤٠ – بله دا چه **ګنهګار** بنده د نبي ﷺ او د ملائکو د دعاګانو نه محروميږي.

الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ الذين يحملون العرش ومن حوله يسبحون بحمد ربهم ويؤمنون به ويستغفرون للذين آمنوا ربنا وسعت كل شئ رحمة وعلمًا فاغفر للذين تابوا واتبعوا سبيلك وقهم عذا الجحيم ﴾ [غافر: ٤٠]

(عرش بارونکي او د عرش نه ګير چاپيره ملائك د خپل رب د حمد او ثناء سره د هغهٔ تسبيح وائي او په هغهٔ ايمان لري، او د ايمان والو دپاره بخښنه غواړي چه اے ربه زمونږ! تهٔ د رحمت او علم په لحاظ هريو شئ ته فراخه ئے، نو تهٔ هغه خلقو ته بخښنه اوکړے چا چه توبه اوخکله او ستا په لاره روان شو او دوئ د جهنم د عذاب نه اوساته).

او الله تعالیٰ خپل نبي ﷺ ته فرمائي: ﴿ واستغفر لذنبك وللمؤمنين والمؤمنات ﴾ [محمد: ١٥]

(اے نبي! تهٔ د خپل لغزش دپاره او د نارينه او زنانه مؤمنانو دپاره بخښنه غواړه).

نو دا دَ ملائکو دعاګانې دي چه هغه مؤمنانو دپاره ئې غواړي څوك چه توبه کونکی او دَ الله د کتاب او دَ هغهٔ د نبی ﷺ دَ سنت تابعدار وي. چه ددې دواړو نه سیوا دَ دوئ دپاره بله هیڅ لاره نهٔ شته.

۴۱ – نبی کریم ﷺ **ګناهونو** والا په مختلفو عذابونو کښې لیدلې دي. چه دَ یو کس سر چخناړه کیدهٔ. د بل کس دواړه وَخکې څیریدل. او یو بل کس دَ وینو په سمندر کښې ډوب وو. او څهٔ بربند نارینه او زنانه وو چه په تنور کښې پراتهٔ وو. او څهٔ نور سړي وو چه نیمائی حصه ئې ښائسته او نیمائی حصه ئې بدشکله وه. دا هر څهٔ دَ ګناهونو په وجه وو.

۴۲ – **ګناهونه** په زمکه قِسما قِسم فسادونه پیدا کوي، په اوبو کښې، په هواء کښې، په فصلونو او میوو او په کورونو کښې. الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ ظهر الفساد فی البر والبحر بما کسبت أیدی الناس لیذیقهم بعض الذی عملوا لعلهم یرجعون ﴾ [روم : ۳۱]

۴۳ – **ګناهونه** دَ زړهٔ نه په خپل ځان او اهل او عامو خلقو باندې دَ غیرت اور وژني.

۴۴ – **ګناهونه** دَ زړهٔ نه هغه حیاء ختموي کوم چه دَ زړهٔ ژوند دې، او کوم چه دَ هر خیر جرړه ده. او دَ حیاء فضائل دچانه پټ نهٔ دي.

۴۵ – دَ **ګناهونو** بل عقوبت دا هم دې چه دا په زړهٔ کښې د الله تعظیم کمزورې کوي، دَ بنده په زړهٔ کښې دَ هغهٔ وقار کمزورې کوي. او دا خبره ضروري ده، انسان ئې غواړي اوکه نه. کهٔ چرې دَ الله وقار او عظمت د بنده په زړهٔ کښې ځائے اونیسی نو بیاهه دَ هغهٔ په نافرمانیو باندې زورَرتیا نهٔ کوي. بلکه دَ هرې ګناه او نافرمانئ بنیاد، په زړهٔ کښې دَ الله عز وجل تعظیم ختمیدل دي.

۴۶ – نو کله چه دَ الله وقار د بنده په زړهٔ کښې کمزورې شي، نو الله سبحانه وتعالیٰ ورله دَ ذلت او سپکاوی وغیره عذاب ورکړي. الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ والله أرکسهم بما کسبوا ﴾ [نساء : ۸۸] (دَ خپلو ګناهونو په وجه الله دوئ ذلیله کړي دي).

اوفرمائی : ﴿ بل طبع الله علی قلوبهم ﴾ [محمد : ۱٦]

(بلکه الله دَ دوئ په زړونو باندې ټاپه وهلې ده).

اوفرمائی : ﴿ نسوا الله فنسیهم ﴾ [التوبة : ٦۷]

(دوئ الله هیر کړو، الله دوئ لره هیر کړل). او داسې ئې ضائع کړل لکه څنګه چه دوئ هغه ضائع کړیدې. دوئ هغه سپك اوګنړلو نو الله دوئ سپك کړل.

۴۷ – دَ **ګناه** په وجه الله خپل بنده هیروي او پریدي ئې، او خپل نفس او شیطان ته ئې

سپاري۔ چه دا ښکاره تباهي ده۔

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ ولا تكونوا كالذين نسوا الله فأنساهم أنفسهم ﴾ [الحشر : ١٩]

(دَ هغه خلقو پشان مهٔ کیږئ چه هغوئ الله هیر کړو، نو الله د دوئ نه د دوئ ځانونه هیر کړل)۔

دَ بنده دَ خپل ځان هیرولو مطلب دا چه هغه بیکاره پریدی، الله نه دَ خپل ځان دپاره برخه او حصه ضائع کړی، دَ خپل ځان دپاره دَ نجات اسباب اختیار نهٔ کړی، بلکه په رذیل قیمت سره خپل ځان خرڅ کړی۔

٤٨ – **گناه** بنده لره دَ احسان دَ دائرې نه اوباسی او دَ محسنینو دَ ثواب نه ئې محرومولی۔

٤٩ – بلکه دَ ایمان دَ دائرې نه ئې اوباسی۔ نبی ﷺ فرمائی : « زنا کار سړے دَ زنا کولو په وخت مؤمن نهٔ وی، او غل سړے دَ غلا کولو په وخت مؤمن نهٔ وی »۔ الحدیث۔

٥٠ – **گناه** بنده لره دَ مؤمنانو نه لرې کوی۔ ځکه الله تعالیٰ دَ مؤمنانو نه دفاع کوی، او دا فاسق دے، نو دهٔ ته به ایمانی فوائد نهٔ حاصلیږی۔ چه هغه سل فائدې دی، لکه په اول جلد کښې تفصیلاً ذکر شوی۔

٥١ – **گناهونه** دَ غم او خفگان دروازه ده۔

٥٢ – **گناه** الله طرفته مزل قطع کوی۔

٥٣ – **گناه** نعمتونه ختموی او عذابونه نازلوی۔

٥٤ – **گناه** دَ گناه کونکی په زړهٔ کښې خوف او رُعب ته دعوت ورکوی، دا وجه ده چه تهٔ به همیشه گنهګار دَ وېرې او رُعب په حالت کښې وینې۔

٥٥ – **گناه** زړهٔ بیماروی او دَ استقامت نه ئې اوباسی۔

٥٦ – **گناه** بصیرت ړندوی۔

٥٧ – **گناه** نفس وړوکے، ذلیله او گمنامے جوړوی۔

٥٨ – **گناه** انسان لره دَ شیطان په جیل او قید کښې ورکوی۔

٥٩ – **گناه** کرامت او مرتبه ختموی۔

٦٠ – **گناه** دَ مدح او شرافت نومونه دَ انسان نه ختموی، او دَ بدئ او ذلت نومونه پرې ږدی۔

٦١ – **گناه** دَ علم، عمل، عمر، رزق او دَ طاعت برکت ختموی۔

٦٢ – **گناه** گنهګار لره دَ پریوتو خلقو نه جوړوی، روستو ددې نه چه دا بارُعبه او دَ

اوچتو خلقو نه حساب وو. ځکه الله تعالیٰ دوه قِسمه مخلوق پیدا کړے. اوچت خلق. پریوتی خلق.

٦٣ - **گناه** شیطان زړور کوی او گنهگار کمزورے کوی، تردے چه په دهٔ باندے به ددهٔ بال بچ، حیوانات او هر شے را زړور شی.

٦٤ - **گناه** نفسِ مطمئنه کمزورے کوی، چه بیا د مصیبتونو په وخت دَ خپلے نفع څیز ته توجه نهٔ کوی.

٦٥ - **گناه** زړهٔ ړندوی.

٦٦ - **گناه** خپل دشمن سره مدد کول او هغهٔ ته وسله ورکول دی. ځکه په انسان باندے دَ شیطان وس نهٔ رسیږی مګر کله چه هغه دَ الله نافرمانی اوکړی، نو په دے وخت کښے پرے بیا قوت حاصلوی.

٦٧ - **گناه** بنده لره دَ خپل رب، پیدا کونکی او خالق نه لرے کوی.

٦٨ - **گناه** دَ زړهٔ دَ آوښتو، په هغے باندے دَ مُهر لګیدو، دَ الله دَ ذکر نه دَ غفلت سبب دے. چه بیا الله دَ بنده دَ زړهٔ پاکولو اراده نهٔ کوی، بلکه په داسے مرضونو سره ئے مبتلا کوی چه اکثر خلق ئے نهٔ پیژنی.

خلاصه دا چه : **گناهونه** په دنیا او آخرت دواړو کښے ضررونه لری.

په دین، مال، نفس، صحت، عقل، کرامت، مرتبه، علم، بیان، عمر او په هر څهٔ کښے ضرر لری.

دے وجے نه کوم عقلمند سړے چه دَ خپل ځان دَ نجات اراده لری، هغهٔ باندے واجب دی چه دَ گناهونو نه خالصه توبه اوباسی. او کله چه ترے څهٔ گناه اوشی، نو فورًا دے توبه اوکاږی. او دغسے دے تول عمر چلیږی.

دارنګه په دهٔ لازم دی چه هر وخت توبه اوکاږی. او دَ هر هغه شخص، مکان او زمان نه ځان ساتی چه په هغے کښے دے په گناه کښے پریوځی. ځکه د داسے ځایونو نه هجرت کول واجب دی. حدیث کښے دی : « نزدے ده چه دَ مسلمان سړی غوره مال به هغه ګډے بزے وی چه هغه دَ غرونو سُوکو او دَ بارانهٔ په ځایونو باندے ګرځوی، خپل دین دَ فتنو نه تختوی ». (بخاری).

ددے ضررونو دَ تفصیلی مطالعے دپاره دَ شیخ الاسلام ابن القیم رحمه الله کتاب (الجواب الکافی) اوګوره. په دے کښے ان شاء الله شِفاء ده.

ابن عباس ﷺ فرمائي : « اے ګناه والا ! دَ خپلے ګناه دَ انجام نه مهٔ بیغمه کیږه. یاد لره چه کوم شے دَ ګناه نه روستو را روان دے، هغه خپله دَ ګناه نه ډیر غټ دے. ځکه ستا دَ هغه چانه نهٔ شرمیدل څوك چه ستا ښی او ګس طرفته دی په داسے حال چه تهٔ ګناه کوے، دا دَ ګناه نه کم نهٔ دی. او دَ ګناه په وخت ستا خندل په داسے حال چه تاته پته نشته چه الله به تاسره څهٔ کوی، دا دَ ګناه نه ډیر لوئے شے دے. او په ګناه باندے ستا خوشحالی کول هر کله چه تهٔ هغه کوے، دا دَ ګناه نه لوئے جُرم دے. او په ګناه باندے ستا غم کول هر کله چه تانه فوت شی، دا دَ ګناه نه هم لوئے جُرم دے. او دَ هواء نه ستا یریدل هر کله چه هغه ستا پرده اوخوزوی او تهٔ ګناه کوے، سره ددے چه دَ الله دَ نظر نه ستا زړهٔ نهٔ خوزیږی، دا دَ ګناه نه لوئے جُرم دے. اے دَ ګناه والا ! تاته پته شته چه دَ ایوب ﷺ ګناه څهٔ وه چه الله هغه په بدنی او مالی آزمائش کښے واچولو ! دَ هغهٔ ګناه خو دا وه چه دَ هغهٔ نه یو مسکین سړی مدد اوغوښتلو دے دپاره چه دَ خپل ځان نه ظلم لرے کړی، نو هغهٔ ورسره مدد اونهٔ کړو ».

(انظر : صور من حیاة الصحابة : ۳/ ٦٠).



۲۹ - فائده

په بیان دَ اربعیناتو یعنی څلور څلور شیزونو کښ

ترڅو چه په تا کښې څلور شیزونه نهٔ وی تهٔ عالم نشې جوړیدے :
(۱) ایمان (۲) الله نه یره (۳) دَ الله عبادت (٤) او دَ زړهٔ قوت۔
لکه دَ **څلورو** پشان : (۱) په اوقاتو باندې حرص۔ (۲) دَ علم او معلومات جمع کولو شوق۔ (۳) دراسات حفظ کول۔ (٤) او تقریرونو او محاضرورته په آوریدو او خاموشئ سره حاضریدل۔
او دا کارونه نهٔ حاصلیږی مگر په **څلورو** شیزونو سره :
(۱) دَ بدن په صحت۔ (۲) دَ رزق په وسعت۔ (۳) دَ جفظ په قوت سره۔ (٤) او دَ علم په تندې سره۔ لکه دَ څلورو شیزونو پشان : (۱) فهم او تدبر (۲) غوږ کیخودل (۳) خاموشی اختیارول (٤) او په خلقو کښې ئے خورول۔
او دا مذکوره څلور شیزونه نهٔ حاصلیږی مگر په **څلورو** شیزونو سره :
(۱) دَ سُنت په اتباع (۲) دَ الله په لحاظ ساتلو (۳) خواهشاتو نه دَ نفس په کنټرول کولو، او په نظر ښکته ساتلو (٤) او په حلال خورئ سره۔
لکه دَ **څلورو** شیزونو غونته : (۱) دَ خشوع علم (۲) دَ الله په علم باندې علم حاصلول۔ (۳) دَ قرآن دَ تدبر په علم (٤) او دَ حلالو او حرامو په علم چه دیته علم الاحکام وائی۔
ددے شیزونو کمال په **څلورو** شیزونو سره راځی : (۱) په روایت (۲) په درایت (۳) په رعایت (٤) دا درے واړه جمع کولو سره۔
دَ علم ختمونکی شیزونه **څلورو** دی : (۱) طمع (۲) دَ دنیا محبت (۳) کبر (٤) خود پسندی۔ لکه څلور شیزونه : (۱) بے ادبی (۲) ډیر غم کول (۳) ډیر کتابونه (٤) عربو او عجمو کښې دَ انسان شهرت۔ (أبجد العلوم).
دَ سُرعة الفهم **څلور** لارے دی :
(۱) قوی عقل (۲) په سیاق او سباق کښې فکر کول (۳) دَ مشرانو خدمت کول (٤) او دَ عزیز او جبار الله نه دعاء غوښتل۔

حق ته رسیدل نۀ کیږی مګر په څلورو څیزونو سره:
(۱) په ښائسته قصد کولو سره (۲) په عدل سره (۳) دَ الله دَ رضا په تالاش کولو سره (٤) دَ حساب په خوف سره۔
لکه څلورو څیزونه: (۱) صحیح کتابونه جمع کول، نۀ خراب (۲) ځانله ښۀ استاذ اختیارول (۳) رسول الله ﷺ نه علاوه بل هیڅ ډلے او شخص دپاره تعصب نۀ کول (٤) په مروجه ډلو او تنظیمونو کښے په هیڅ یو کښے نۀ داخلیدل۔
او دَ عالم علم نۀ پوره کیږی مګر په څلورو څیزونو سره:
(۱) په امانت (۲) په حفاظت (۳) په سنجیدګئ (٤) او په دینداریٔ سره۔
او دۀ ته شریف علمونه نۀ حاصلیږی مګر په څلورو څیزونو سره:
(۱) په تفسیر (۲) په علم الحدیث (۳) په فقه الواقع (٤) او په علم القلوب سره۔
دا علوم مونږ اشارةً ذکر کړل، په دے کښے ډیر زیات علم دے خو چه څوك په کښے غور او فکر اوکړی۔ والله المستعان۔
او دا فائده الله ماته په زړۀ کښے هغه وخت واچوله کله چه ما دَ صحیح بخاری رباعیات لوستل۔



۳۰- عظیمه فائده

دَ الله عزّ وجلّ قَدر او مَرتبه پیژندل

دارنګه دَ هغه چا بیان چه هغه دَ الله قدر کوی، او دَ هغه چا بیان چه هغه دَ الله قدر نهٔ کوی.

یاد ساته چه اکثر خلق دَ الله عز وجل قدر نهٔ کوی، نهٔ دَ هغهٔ تعظیم اوادب کوی، سره ددے چه هغه څو مره عظمت، کبریاء، علو اوبے پرواهئ والا دے! الله سبحانه و تعالیٰ ډیرو خلقو ته په دے باندے توبیخ او رټنه ورکړے، لکه فرمائی:

﴿ مالكم لا ترجون لله وقارًا ﴾ [نوح: ۱۳]

(څهٔ وجه ده چه تاسو دَ الله دَ عظمت او لویئ عقیده نهٔ ساتئ)- (ابن عباس).

او الله تعالیٰ د شعیب ﷺ نه حکایت کوی فرمائی:

﴿ قال: يٰقوم أرهطى أعز عليكم من الله واتخذتموه ورائكم ظهريًا إن ربى بما تعملون محيط ﴾ [هود: ۹۲]

(آیا زما قوم قبیله تاسو ته دَ الله نه هم زیاته عزتمنه ده؟ او تاسو الله لره دَ خپلو شاګانو شاته اوغورزولو- بیشکه چه زما رب ستاسو په عملونو ګیره اچونکے دے)-

ظهری: هغه څیز ته وائی چه دَ هغے باك څوك نهٔ لری اونهٔ ورته توجه کیږی- (تسهیل).

الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وإذا أنعمنا على الإنسان أعرض ونأى بجانبه وإذا مسه الشر كان يؤسًا ﴾ [اسراء: ۸۳]

(اوکله چه مونږ په انسان باندے انعام اوکړو نو مخ واړوی او اړخ لرے کړی، او کله چه ورته تکلیف اورسی نو بیا نا امیده وی)-

دَ خپل رب او پیدا کونکی نه ددهٔ اعراض کول په دے دلیل دے چه دے دَ هغهٔ قدر نهٔ پیژنی، ګنے دَ هغه ذات نه به ئے مخ نهٔ اړولے چه دے ورته ډیر زیات محتاج او فقیر دے، چه دَ سترګے دَ رپ په اندازه هم دَ هغهٔ نه نشی بے پرواه کیدے-

او الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وما قدروا الله حق قدره ﴾ [انعام: ۹۱]

(دوئ د الله هیڅ قدر اونهٔ کړو)-

يعنے: دَ هغهٔ لائق تعظيم ئے اونهٔ کړو. (ابن عباسؓ).
هغه ئے داسے اونهٔ پيژندلو، څنګه چه دَ هغهٔ دَ پيژندګلو حق دے. (اخفشؒ).
دَ هغهٔ داسے صفت ئے اونهٔ کړو، څنګه چه دَ هغهٔ صفت کول پکار دی. (فراءؒ).
الله تعالىٰ دا خبره دريے ځله په دريے مختلفو سورتونو کښے کړيده. سورتِ انعام، حج او زمر کښے.

هغه څيزونه چه په هغے سره د الله قدر کيږی :

۱ – په هغهٔ ايمان لرل او انقياد کول: نو څوك چه ددے خبرے تصديق کوی چه الله عز وجل دَ عالَم خالق، مدبر او يواځنے مالك دے، نو دا دَ هغهٔ قدر کول دی.

۲ – دا يقين لرل چه الله عز وجل داسے قوی او غالب ذات دے چه هغهٔ نه هيڅ شے نهٔ فوت کيږی، اونهٔ دَ څهٔ شی نه عاجز کيږی. ناشنا عزت، حفاظت او قوت والا ذات دے. نو څوك چه دا يقين اولری او دَ الله قوت او عزت اوپيژنی او په خپل زړهٔ کښے ددے استحضار لری، نو دهٔ دَ الله قدر اوکړو.

۳ – دا ايمان لرل چه الله عز وجل دَ ملائکو نه اَستاذی جوړوی او دَ عالَم دَ تدبير دپاره ئے راليږی. دارنګه انبياء او رسولان – عليهم السلام – راليږی، دے دپاره چه خلقو ته هدايت اوکړی او دوئ ته تعليم ورکړی. او دَ رسالت او نبوت دا سلسله الله زمونږ په نبی محمد رسول الله ﷺ باندے ختمه کړه. او الله تعالىٰ خپل بندګان بيکاره نهٔ پريدی اونهٔ ئے عبث پيدا کړی.

نو څوك چه دا اوپيژنی نو دهٔ دَ الله لائق قدر اوکړو. او څوك چه دا اونهٔ پيژنی نو دهٔ دَ الله قدر اونهٔ کړو.

٤ – دا علم لرل چه الله عز وجل ټول مخلوقات پيژنی. او هريو څيز ئے په خپل علم کښے راګير کړے. دَ دوئ مخکنی او روستنی ټول حالات ورته معلوم دی، هيڅ خبره دَ هغهٔ نه نهٔ پټيږی. دَ سينو په اوهامو او وسوسو باندے پوهيږی. نو څوك چه ددے خبرے استحضار اولری نو دهٔ دَ الله قدر او تعظيم اوکړو.

۵ – دا ايمان او يقين لرل چه دوباره ژوندی کيدل حق دی، او ټول کارونه به الله سبحانه وتعالىٰ ته واپس کيږی، دَ هغهٔ ملاقات حق دے. قبرونو نه پاسيدل حق دی. نو څوك چه په آخرت ايمان او يقين لری نو دهٔ د الله لائق قدر اوکړو.

٦ - دَ الله بل قدر او تعظيم دادے چه په مانځه کښې او بهر دَ مانځه نه هغهٔ ته رکوع اوکړی او دَ عاجزئ نه سر ښکته کړی۔ لکه څنګه چه به نبی ﷺ په مانځه کښې خپل سر مبارك ښکته کولو، دارنګه دَ فتح مکه په وخت ئے سر ښکته کړو، او په ناسته کښې۔

٧ - دارنګه الله ته په مانځه او بهر دَ مانځه نه سجده کول، ځکه سجده په ډیر قِسمه ده، دا ټول دَ الله عز وجل حق دے۔ چا چه خپل تندے په زمکه کیخودهٔ او خپل مخ ئے په خاورو کښې لوغړن کړو، نو دهٔ دَ الله قدر او تعظیم اوکړو۔

٨ - په عامو باطنی او ظاهری عباداتو سره دَ الله عبادت کول، کوم چه دَ مال، بدن، روح او زړهٔ سره تعلق لری۔ او عبادت دَ محبت او ذلت نوم دے۔

نو څوك چه الله سره دَ زړهٔ نه خالص محبت کوی او هغهٔ ته دَ عبودیت او بندګئ ذلت اختیاروی، نو دهٔ دَ الله قدر او عزت اوکړو، او هغه ئے اوپيژندلو۔ اوس تهٔ اوګوره چه ستا حالت څنګه دے ؟

٩ - څومره ئے چه وس وی دَ خیر کارونه اوکړی، او څومره چه کیدے شی دَ خیر دَ کارونو کوشش اوکړے شی، او څومره چه کیدے شی دَ خیر کار پرے نهٔ ګدی، نو دا کس پوره کامیاب دے۔

ددے طریقه ذاده چه اول دَ خیر کار اوپیژنی، بیا په هغې کښې ډیر رغبت اولری۔ بیا هیڅ یوه نیکئ اګرکه وړه هم وی، سپکه اونهٔ ګنړی۔ نو دا سړے خپل رب پیژنی او دَ هغهٔ قدر پیژنی۔

١٠ - دارنګه دَ الله تعظیم دادے : چه دَ هغهٔ په باره کښې جهاد اوکړے شی څنګه چه دَ جهاد کولو حق دے۔ لکه دَ هغهٔ په طاعت کښې خپل وس خرچ کول، هغه صفا کول، هغه صحیح کول، او هغې طرفته تادی کول، په هغې کښې اخلاص کول، او بله دا چه خپله ژبه دَ خیر نه علاوه هر څهٔ نه بندول، او دَ الله په باره کښې دَ ملامتګر دَ ملامتیا پرواه نهٔ لرل۔ نو دا دَ هغهٔ قدر کول دی۔

١١ - رب العالمین ته په زړهٔ، عمل، نیت او قول سره منقاد کیدل۔ ځکه هغهٔ ته دَ اسلام او انقیاد نه سیوا بل هیڅ شے خوښ نهٔ دے، اسلام او نقیاد ته دعوت ورکول او خپل ځان ته مسلم (منقاد) وئیل او په اسلام باندے عمل کول۔ او اسلام دا نهٔ دے چه ځان ته مسلم اووائی، او دَ نورو مسلمانانو تکفیر اوکړی۔ دا خبره خودَ اسلام سره منافی ده۔

١٢ - دارنګه دَ الله قدر دادے چه : دَ مونځونو پابندی اوکړے شی، فرائض وی که نوافل،

هغې ته تادي اوکړې شي، ځکه چه دا دَ الله عز وجل خالص حق دے۔ او په دے سره به بنده پیژندلے شي چه دا دَ الله قدر او تعظیم کوی۔

۱۳ – دارنګه دَ خپل مال زکوٰة به ورکوی، او دَ فقیرانو په حق کښې به بخل نهٔ کوی او نهٔ به دَ الله په حق کښې بخل کوی۔ ځکه چه دا دَ تعظیم سره منافي خبره ده۔ تعظیم او قدر دادے چه خپل ډیر مال دَ هغهٔ دَعِزت مند مخ دپاره خرج کړے شي۔

۱٤ – دارنګه : دَ الله تعظیم دادے چه په ټولو احوالو کښې په هغهٔ باندے پناه حاصله کړے شي۔ په دین او دنیا کښې په هغهٔ توکل اوکړے شي، ځهٔ چه بنده ته راپیش کیږی په هغې کښې هغهٔ ته زاری اوکړے شي، ځهٔ چه په دهٔ نازلیږی په هغې کښې په الله پناه طلب کړے شي او هغهٔ نه سیوا بل هیڅ ته التفات اونهٔ کړے شي، بلکه یواځې الله ته خپل فقر او عاجزی ښکاره کړے شي، دَ هغهٔ په دین باندے عمل کونکے جوړ شي۔

دا ټول کارونه دَ سورتِ حج دَ آخر نه اخستے شوی دی۔ او دا ماپه مکه مکرمه کښې لیکلي دی۔ (ذی الحجة : /۱٤۲۷هـ).

دَ الله تعالیٰ بے قدری کول :

نو څوک چه دَ الله عز وجل سره شرك اوکړی – هر قِسم شرك چه وی – نو دهٔ دَ الله قدر اونهٔ کړو اونهٔ ئے هغه اوپیژندلو۔ او څوك چه وائی : الله عز وجل هیڅ کتاب نهٔ دے رالیږلے اونهٔ ئے په کوم رسول وحی رالیږلے، نو دهٔ دَ الله حق اووهلو او دَ هغهٔ لائق قدرئے اونهٔ کړو۔ بلکه رب العزت ئے عبث ته منسوب کړو۔

﴿ إذ قالوا ما أنزل الله على بشر من شئ ﴾ [انعام : ۹۱]

(او دوئ دَ الله لائق قدر اونهٔ کړو، ځکه چه دوئ اووئیل چه الله په هیڅ یو انسان باندے هیڅ شے هم نازل کړے)۔

او چا چه الله ته دَ ولد نسبت اوکړو، یائے دَ هغهٔ په صفتونو کښې دَ یو صفت نه، او یا دَ هغهٔ په ښائسته نومونو کښې دَ یو نوم نه انکار اوکړو، نو دهٔ دَ الله ناقدری اوکړه۔ او چا دَ هغهٔ دَ اوچتوالي او یا په جزئیاتو او کلیاتو باندے دَ هغهٔ دَ علم نه انکار اوکړو، او یا دَ څیزونو دَ تقدیر نه ئے انکار اوکړو، او یائے دَ هغهٔ عبادت اونهٔ کړو او هغهٔ ته ئے سجده اونهٔ کړه او دَ هغهٔ دپاره ئے صله رحمی اونهٔ کړه، او یائے دَ هغهٔ او یا دَ هغهٔ دَ رسول (ﷺ) امر سپك اوګنڼلو، او یا ئے دَ هغهٔ دَ حکم دپاسه دَ بل چا حکم اوګنړلو ځنګه چه د مقلدینو عادت

دے، او یائے دا اوویئیل : چه ددهٔ شریعت منسوخ دے، او یا په شلمه صدئ کښے فائده نهٔ کوی : نو دے کس دَ الله سره ښکاره دَ مقابلے کولو اعلان اوکړو، او دَ هغهٔ ناقدری ئے اوکړه۔ دغه شان چا چه دَ الله په باره کښے جګړه اوکړه نو دهٔ دَ هغهٔ حق اووهلو۔

او چا چه الله هیر کړو او دَ هغهٔ ذکرئے نهٔ کولو او یائے هغهٔ ته رغبت نهٔ کولو، یائے هغهٔ سره مینه محبت نهٔ لرلو، او یائے هغهٔ ته عاجزی نهٔ کوله، نو دهٔ نه ډیر لوئے خیر فوت شو او دهٔ دَ الله ناقدری اوکړه۔ والعیاذ بالله۔

او هر هغه څوك چه د الله حکم ته نهٔ تسلیمیږی نو هغهٔ دَ الله ناقدری اوکړه۔

ابن قیم رحمه الله په الجواب الکافی ص (۲۰۶) کښے دَ شرك په رد کښے فرمائی :

« ددے وضاحت دادے چه بنده کله دَ چا عبادت کوی نو هغه غټ ګنړی او دَ هغهٔ عبادت کوی۔ او دَ هغهٔ په مخکښے ښکته کیږی، دَ هغهٔ په مخ کښے عجز او انکساری کوی۔ او دَ خپل ذلت او خوارئ، انکسارئ او خاکسارئ اظهار کوی۔ او ښکاره خبره ده چه ددے تولو څیزونو حقدار صرف الله تعالیٰ دے چه هیڅ شریك نهٔ لری۔ او دا څومره قبیح ترین ظلم دے چه دَ هغهٔ حق بل چاته ورکړے شی، یا په دے کښے بل چاله هم حصه ورکړے شی۔ خاصکر داسے کس دَ هغهٔ په خاص حق کښے شریك اوګنړلے شی چه هغه دَ هغهٔ بنده او مملوك دے۔ لکه الله تعالیٰ په قرآن کریم کښے ددے مثال پیش کوی۔

﴿ ضرب لکم من أنفسکم هل لکم من ماملکت ایمانکم من شرکاء فی رزقناکم فأنتم فیه سواء تخافونهم کخیفتکم أنفسکم کذلك نفصل الآیات لقوم یعقلون ﴾ [الروم : ۲۸]

(الله تعالیٰ ستاسو دپاره ستاسو دَ ذات نه یو مثال بیان کړے چه څهٔ شے مونږه تاسو له درکړے آیا په هغے کښے ستاسو غلامان هم تاسو سره شریك دی۔ تاسو خو دَ هغوئ نه داسے یریږئ څنګه چه خپلو کښے دَ یو بل نه یریږئ، دغه شان په تفصیل سره بیانوو مونږ آیتونه دے دپاره چه تاسو دَ عقل نه کار واخلئ)۔

یعنے : کله چه په تاسو کښے څوك ددے خبرے نه انکار کوی چه کوم رزق ورله الله ورکړے وی په هغے کښے دے ورسره خپل غلام هم شریك شی۔ نو بیا زما بندګان او غلامان څنګه زما په خالص او منفرد حقِ الوهیت کښے شریکوئ او دابه څنګه صحیح وی ؟ کوم کس چه دا خیال لری هغه هیڅ کله زما قدر نهٔ کوی، زما دَ عظمت او جلال حق هیڅ کله نهٔ پیژنی۔ نو څوك چه په خپل عبادت کښے دَ الله سره شریك جوړوی، هغه قطعًا دَ الله تعالیٰ قدر نهٔ کوی۔ لکه الله تعالیٰ خپله فرمائی :

﴿ یا أیها الناس ضرب مثل فاستمعوا له إن الذین تدعون من دون اللّٰه لن یخلقوا ذبابا ولو اجتمعوا له، وإن یسلبهم الذباب شیًا لا یستنقذوه منه ضعف الطالب والمطلوب، ما قدروا اللّٰه حق قدره إن اللّٰه لقوی عزیز ﴾ [الحج : ٧٤]

(اے خلقو یو مثال بیانیږی تاسو ورته ښهٔ غوږ کیدئ۔ الله نه سیوا چه تاسو دَ کومو خلقو عبادت کوئ که هغه تول جمع شی نو هم یو مَچ قدرے نهٔ شی پیدا کولے اوکه چرے مَچ (دَ هغوئ دَ خوراك وغیره نه) څهٔ شے اوتختوی نو هغهٔ هم ترے نشی راخلاصولے۔ داسے عابد او معبود دواړه عاجزی دی، دے خلقو د الله داسے قدر اونهٔ کړو څنګه چه دَ هغهٔ قدر کول پکار وو، بیشکه الله قوت او غلبے والا دے)۔

نو څوك چه یو داسے کس دَ الله شریك او برخه دار جوړوی کوم چه دَ یو وړوکی نه وړوکے څناور هم نشی پیدا کولے، اوکه پهٔ هغهٔ باندے یو مَچ کینی نو پاسولے ئے هم نشی، نو دے کس دَ الله ناقدری اوکړه۔ الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ وما قدروا اللّٰه حق قدره والأرض جمیعًا قبضته یوم القیامة والسموات مطویات بیمینه سبحنه وتعالیٰ عما یشرکون ﴾ [الزمر : ٦٧]

(دوئ دَ الله داسے قدر اونهٔ کړو څنګه قدر چه دَ هغهٔ کول پکار وو، دَ قیامت په ورځ به زمکه ټوله دَ هغهٔ په قبضه کښے وی او آسمانونه به دَ هغهٔ په ښی لاس کښے رانغښتے شوی وی، پاکی ده هغهٔ لره اودَ هغهٔ شریك نه پورته دے چه دا خلق ئے ورسره شریك جوړوی)۔

دَ کوم الله چه دا شان او دا عظمت او جلال دے، هغهٔ سره چه چا هغه څوك شریك کړو چه په هغهٔ کښے دا قِسم کارونه نشته، بلکه هغه عاجز اوانتهائی درجه کمزورے دے، نو یقیناً چه هغهٔ دَ الله قدر او تعظیم اونهٔ کړو۔ یو ضعیف او کمزورے کس ئے دَ الله په عبادت کښے هغهٔ سره شریك کړو۔ نو یقینًا چه دهٔ دَ قوی، طاقتور او غالب ذات قدر او ادب اونهٔ کړو۔

دغه شان هغه څوك هم دَ الله قدر او تعظیم نهٔ کوی چه دا وائی : الله پیغمبران نهٔ دی رالیږلی، کتابونه ئے نهٔ دی نازل کړی۔ آیا دا خبرے دَ هغهٔ دَ شان سره لائق دی ؟ آیا هغهٔ خپل مخلوق دغسے بیکاره، عبث او بے مطلبه پریښی دی ؟ آیا هغهٔ خپل بندګان صرف دے لره پیدا کړی دی چه څناورو پشان ژوند کړی ؟

دارنګه هغه شخص هم د الله قدر او تعظیم نهٔ کوی چه هغه دَ الله دَ اسماء او صفاتو حقائق نفی کوی اودَ هغے نه انکار کوی۔ سمع او بصر، اراده او اختیار، علو او پورته والے، کلام او

تکلیم دَ الله دَ ذات نه نفی کوی۔ دارنگه عمومِ قدرت او دَ بندگانو دَ افعالو تعلق دَ هغهٔ د ذات نه نفی کوی۔ دَ هغهٔ د قدرت او مشیت نه دَ بندگانو افعال اوباسی۔ او وائی چه بندگان خپله ددیے افعالو خالق دی۔ دَ الله دَ مشیئت ددیے سره هیڅ تعلق نشته۔ چه ددیے معنیٰ دا شوه چه دَ الله په مُلك کښیے هغه څهٔ کیږی کوم چه الله نهٔ غواړی۔ او څهٔ چه هغه غواړی هغه نهٔ کیږی۔ یقیناً چه دَ الله تعالیٰ شان ددیے مجوسیانو او مجوس صفت خلقو دَ قول او خیال نه بلند او بالا دیے۔ (په دیے کښیے په قدریه ؤباندیے رد دیے، ابن قیمؒ دویٔ ته کافر وئیلی دی لکه څنگه ئے چه په خپلو ډیرو کتابونو کښیے جبریه ؤ ته کافر وئیلی دی)۔

دارنگه هغه کس هم دَ الله قدر نهٔ کوی چه دا خبره کوی چه الله تعالیٰ بنده له په هغه کارونو سزا ورکوی، چه هغه دَ بنده په اختیار کښیے نهٔ وی۔ بنده په هغیے باندیے قادر نهٔ وی۔ بلکه مجبورِ محض وی۔ په کارِ کولو کښیے بندگانو له هیڅ دخل نشته۔ کارونه ټول صرف دَ الله دی۔ هغه ئے په خپله کوی۔ او د بندگانو نه جبرًا کار آخلی۔ که مخلوق په مخلوق باندیے زور کوی نو خپله الله تعالیٰ ئے کوی۔ الله تعالیٰ ددیے قِسم وینا نه ډیر زیات بلند او بالا دیے۔ دا قِسم خلق څومره لوئے مجرمان دی۔ حال دا چه په فطرت او عقل کښیے دا خبره راسخ ده چه که یو سید او آقا خپل غلام نه په زوره یو کار واخلی او هغه په دغه کار باندیے مجبوره کړی او بیا هغهٔ له په دغه کار سزا هم ورکړی، نو دَ آقا دا عمل به بدترین عمل وی۔ نو هر کله چه د بندگانو متعلق دَ فطرت او عقل دا فیصله ده، نو بیا دا څنگه صحیح کیږی چه دَ عادلانو عادل، احکم الحاکمین، ارحم الراحمین دیے خپلو بندگانو له د داسیے عمل سزا ورکړی چه په هغیے کښیے دَ بندگانو هیڅ دخل نهٔ وی۔ دَ هغهٔ ارادیے لره دیے دَ دغه فعل او عمل سره هیڅ تعلق نهٔ وی۔ او بیا دیے هغه ورله سزا ورکوی۔ الله تعالیٰ ددیے خبرو نه پاك دیے۔ ددیے خلقو دا وینا هم بدترینه وینا ده، او دویٔ هم دَ مجوسیانو وررونه دی۔ دا او مخکښیٔ ډله دواړه دَ الله هیڅ قدر نهٔ کوی۔ (په دیے کښیے په جبریه ؤ باندیے رد دیے)۔

دارنگه هغه خلق هم دَ الله قدر او تعظیم نهٔ کوی چه هغویٔ دَ الله تعالیٰ ذات دَ بدبویه څیزونو او دَ ډکو او تشو متیازو او دَ داسیے ځایونو نه ئے محفوظ اونهٔ ساتلو، دَ کوم ذکر کول په په خُله نهٔ راځی۔ بلکه هغه ئے په هر ځائے کښیے اوگنړلو، او په خپل عرش باندیے دَ استواء کولو نه ئے اوساتلو۔ ﴿ إليه يصعد الكلم الطيب والعمل الصالح يرفعه ﴾. (فاطر ۱۰) (الله ته پاکیزه خبریے بره ورخیژی او نیك عمل هغه پورته کوی)۔

دارنگه هغهٔ طرفته ملائك او جبرئیل ؑ بره ورخیژی، او دَ هغهٔ دَ خوا نه ښکته

راکوزیږي۔ ﴿ يدبر الأمر من السماءِ إلى الأرض ثم يعرج إليه ﴾. (سجده : ٥).
(آسمان نه زمکې پورې دَ کارونو تدبير کوي او بيا ورته بره ورخيژي)۔
نو الله ئې د خپلې بادشاهئ دَ تخت نه بچ اوساتلو، او بيائې په هر هغه ځائې کښې اوګنړلو چه دَ هغې د ذکر کولو نه هر انسان څهٔ چه حيوان هم نفرت کوي۔
دارنګه هغه چا هم دَ الله لائق قدر او تعظيم اونهٔ کړو، چاچه دَ الله نه دَ هغهٔ دَ محبت، رحمت، رأفت، رضا، غضب او غصې حقيقت نفي کړو۔ دارنګه چاچه دَ هغهٔ نه دَ هغهٔ دَ هغه حکمت حقيقت نفي کړو چه هغه دَ هغهٔ دَ کارونو بهترينې نتيجې دی۔ دارنګه هغه څوك چه دَ الله نهٔ ئې حقيقةً فعل نفي کړو او هغهٔ دپاره ئې داسې اختياري فعل اونهٔ ګنړلو کوم چه هغهٔ پورې قائم وي۔ بلکه دَ هغهٔ افعال ئې داسې مفعولات اوګنړل کوم چه دَ هغهٔ نه منفصل او جدا دی۔ نو الله نه ئې حقيقةً اتيان او مجئ او استواء على العرش، او موسیٰ عليه السلام سره په کوهِ طور کښې خبرې اترې کول، او دَ قيامت په ورځ دَ خپلو بندګانو ترمينځه دَ فيصلې کولو دپاره بذاتِ خود دَ هغهٔ راتلل نفي کړل۔ دا او ددې پشان نور افعال او اوصاف دَ کمال ئې نفي کړل۔ او دَ دوئ دا خيال دې چه ددې کارونو او صفتونو په نفي کولو سره دوئ دَ الله لائق قدر اوکړو۔
دارنګه هغه چا هم دَ الله لائق قدر اونهٔ کړو، چاچه هغهٔ دپاره ولد، ښځه اوګنړله، يائې دَ هغهٔ په باره کښې دا اعتقاد اولرلو چه هغه په خپلو مخلوقاتو کښې ننوځي۔ او يائې دا عقيده اولرله چه الله بعينه دا مخلوقات دی۔ (په دې کښې دَ ابن قيمؒ غرض دَ وحدة الوجود په قائلينو رد کول دی)۔
دارنګه هغه چا هم دَ الله لائق قدر اونهٔ کړو۔ څوك چه دا خبره کوي چه : الله دَ خپل رسول (ﷺ) او دَ هغهٔ دَ اهلِ بيتو دشمنان اوچت کړل او دَ هغوئ ذکرئې خور کړو، او په هغوئ کښې ئې بادشاهي، خلافت او عزت مقرر کړو۔ او دَ رسول الله ﷺ او دَ هغوئ دَ اهلِ بيتو دوستان ئې خوار او ذليله کړل او په هغوئ ئې ذلت مقرر کړو۔ دا خبره کول دَ الله عز وجل په جناب کښې انتهائي طعن او عيب لګول دی۔ الله تعالیٰ دَ روافضو او شيعه ګانو دَ خبرو نه ډير پاك دې۔
او دا خبره دَ يهودو دَ هغه خبرو نه راخستې شويده کومه چه هغوئ دَ رب العالمين په باره کښې وئيلې ده چه : هغهٔ يو ظالم ملائك راليږلې، هغهٔ خپل ځان دپاره دَ نبوت دعویٰ اوکړه او په الله ئې دروغ جوړ کړل، او ډيره زمانه ئې پاتې شو چه په الله به ئې هر وخت دروغ تړل۔ او

وئيلے به ئے چه الله داسے وئيلی دی، او په دے ئے حکم کړے۔ او ددے څيز نه ئے منع کړے۔ هغۀ به دَ انبياؤ شرائع منسوخ کول، او دَ خپلو تابعدارو وينے، مالونه او عزتونه به ئے مباح گنړل۔ او وئيلے به ئے چه : الله ماله دا کار مباح کړے دے۔ او الله به هم دَ هغۀ تائيد کولو او هغه به ئے غالب کولو، دَ هغۀ عزت به ئے کولو او دَ هغۀ دعاگانے به ئے قبلولے۔ او په خپلو مخالفينو به ئے ورله قدرت ورکولو۔ او دَ هغۀ په رشتين والی به ئے دلائل قائمول۔ او هغۀ سره به چه چا دشمنی کوله نو دابه پرے غالب کيدۀ، نو الله به دَ هغۀ په خپل قول، فعل او تقرير سره تصديق کولو او وخت په وخت به ئے دَ هغۀ دَ تصديق دلائل پيدا کول۔

هر چاته معلومه ده چه دا خبره کول په الله رب العزت او دَ هغۀ په علم، حکمت او ربوبيت باندے ډير لوئے عيب لگول دی۔ الله تعالیٰ دَ منکرينو دَ تولو خبرو نه پاك دے۔

نو تۀ دَ ددے خلقو او د دوئ دَ شيعه گانو وررونو دَ خبرے سره موازنه اوکړه، نو تۀ به دواړه قولونه يو شان بيامومے څنگه چه شاعر وئيلی دی :

رضيعي لِبان ثدی أمٍّ تقاسما　　　　بأسحم داج عوضُ لا نتفرق

(ما او زما ممدوح دواړو دَ يوے مور دَ سينے پئ څکلی دی، او دواړو په تکه توره شپه کښے قسمونه کړی دی چه هيڅ کله به هم مونږ نۀ جدا کيږو)۔

دارنگه هغه چا هم دَ الله لائق قدر اونۀ کړو، څوك چه وائی : ممکنه ده چه الله خپلو اولياؤ او هغه چاته عذاب ورکړی چاچه هيڅ کله دَ سترگے دَ رپ په اندازه دَ هغۀ نافرمانی نۀ ده کړے۔ او هغوئ جهنم ته داخل کړی۔ او بل طرفته خپلو دشمنانو او هغه چاته نعمتونه ورکړی چاچه دَ سترگے دَ رپ په اندازه هم په هغۀ ايمان نۀ دے راوړے۔ او هغوئ دَ نعمتونو کور ته داخل کړی۔ وائی دا دواړه کارونه دَ الله په نسبت برابر دی۔ البتهَ صرف خبر ورکول ددے په خلاف راغلی دی۔ نو مونږ صرف دَ خبر ورکولو دَ وجے نه دا خبره منع کړے ده۔ نۀ په دے وجه چه گنے دا دَ هغۀ دَ عدل او حکمت نه خلاف دی۔ حال دا چه الله تعالیٰ په قرآن کښ په هغه چا انتهائی رد کړے څوك چه ددے خبرے دَ جواز قائل دے۔ الله دے نظرئے ته ډيره خرابه فيصله وئيلے ده۔ لکه فرمائی : ﴿ وما خلقنا السماء والأرض وما بينهما باطلاً، ذلك ظن الذين كفروا، فويل للذين كفروا من النار أم نجعل الذين آمنوا و عملوا الصالحات كالمفسدين فی الأرض أم نجعل المتقين كالفجار ﴾ [ص : ۲۷، ۲۸]

(مونږ آسمان او آزمکه او ددے ترمينځه مخلوقات عبث نۀ دی پيدا کړی، دا خو دَ کافرانو غلط گمان دے۔ نو کافرانو دپاره دَ اور دَ وجے تباهی ده۔ آيا مونږ ايمان او عمل

صالح والا خلق دَ هغه خلقو پشان جوړ کړو چه هغوئ په زمکه فساد کونکی دی ؟ که نه مونږ به متقین خلق دَ فاجرانو پشان جوړ کړو ؟)۔

او فرمائی : ﴿ أم حسب الذین اجترحوا السیئات ان نجعلهم کالذین آمنوا وعملوا الصالحات سواء محیاهم ومماتهم ساء ما یحکمون ﴾ [جاثیه : ۲۱]

(آیا کومو خلقو چه گناهونه کړی دی، د دوئ دا خیال دے چه مونږ به دوئ دَ ایمان او عملِ صالح والو پشان جوړ کړو، چه د دوئ مرگ او ژوند به برابر وی ؟ دا خو دوئ ډیره بده فیصله کوی)۔

او فرمائی : ﴿ أفنجعل المسلمین کالمجرمین مالکم کیف تحکمون ﴾ [القلم : ۳۵]

(آیا مونږ به مسلمانان خلق دَ مجرمانو پشان گرځوو ؟ څهٔ وجه ده چه تاسو داسے فیصله کوئ)۔

دارنگه هغه چا هم دَ الله لائق قدر اونهٔ کړو، څوك چه دا خیال لري چه الله به مړی نهٔ ژوندی کوي، او قبرونو والا به نهٔ راپاسوی، خپل مخلوق به په یو داسے ورځ کښے نهٔ راجمع کوی چه په هغے کښے نیك عملو ته دَ نیکئ او بد عملو ته دَ بدعملئ جزاء ورکړے شي۔ مظلوم دپاره په کښے دَ ظالم نه حق واخستے شي، او کومو خلقو چه په دے دنیا کښے دَ الله دَ رضا دپاره سختے تنگے برداشت کړی، دَ هغوئ بهترین عزت او اکرام اوکړے شي۔ او خلقو ته هغه شے واضح اوښائی په کوم کښے چه به دوئ اختلاف کولو، او کافرانو ته دا اوښودلے شي چه دوئ دروغژن وو۔

دارنگه هغه چا هم دَ الله لائق قدر او تعظیم اونهٔ کړو، چا چه دَ الله امر سپك اوگڼړلو او دَ هغهٔ نافرمانی ئے اوکړه، دَ هغهٔ منع کول ئے سپك اوگڼړل او دَ هغے ارتکاب ئے اوکړو۔ دَ هغهٔ حق ئے سپك اوگڼړلو نو هغه ئے ضائع کړو، دَ هغهٔ ذکر ئے سپك اوگڼړلو نو هغه ئے پریخودلو۔ او خپل زړهٔ ئے دَ هغهٔ نه غافل کړو۔ او خپل خواهش ئے دَ هغهٔ په رضا تالاش کولو باندے مخکښے کړو۔ دَ مخلوق طاعت ئے دَ هغهٔ دَ طاعت نه اهم اوگڼړلو۔ الله دپاره ئے دَ خپل قول او عمل او زړهٔ نه زیاتی څیز مقرر کړو۔ خپل خواهش ئے په دے باره کښے مخکښے کړو ځکه چه دا ددهٔ په نیز مهم دے۔ دَ الله کتل او په دهٔ باندے دَ هغهٔ خبریدل دهٔ سپك اوگڼړل حال دا چه دے دَ هغهٔ په قبضه کښے دے، ددهٔ تندے دَ هغهٔ په لاس کښے دے۔ او مخلوق چه ددهٔ ته نظر کوی او په دهٔ باندے خبریږی نو دے په خپل زړهٔ او اندامونو هر څهٔ سره ددوی تعظیم کوی۔ خلقو نه شرمیږی او الله نه نهٔ شرمیږی۔ خلقو نه یریږی او الله نه نهٔ

يريږي. څو مره ئې چه وس وي مخلوق سره بهترينه معامله کوي. ليکن که الله سره معامله کوي نو په هغه څيز سره چه هغه دده په نيز ډير سپك او حقير وي. په مخلوق کښې چه دده چاسره محبت دے، که دے دَ هغهٔ خدمت کوي نو په دے کښې دَ ډير کوشش او خير خواهئ نه کار آخلي. او خپل زړهٔ او اندامونه ئې ورته فارغ کړي وي. او دا ئې په خپلو ډيرو ښينګړو باندے مخکښې کړے وي. ليکن که دے چرے د خپل رب په حق کښې اودريږي نو داسے اودريدل کوي چه يو مخلوق به ئې هم دَبل مخلوق نه خوښ نهٔ کړي. او دَ هغهٔ دپاره خپل داسے مال لګوي چه هغه مخلوق ته مخامخ کول هم قابلِ شرم خبره وي. نو آيا څوك چه دا صفت لري، هغه دَ الله لائق قدر کوي ؟

دارنګه هغه چا هم دَ الله لائق قدر اونهٔ کړو، چا چه دَ هغهٔ او دَ هغهٔ دَ دشمن ترمينځه دَ هغهٔ په خالص حق کښې شرکت پيدا کړو. لکه قدر، عزت، طاعت، ذلت، خضوع، خوف، اميد. نو په دے کارونو کښې چه څوك دَ الله سره الله ته دَ تولو نه نزدے شخص شريك جوړ کړي، نو دا به دَ هغهٔ په خالص حق کښې ډير جرأت، غصب او سپکاوے وي. او په يو داسے څيز کښې به دَ هغهٔ شريکول وي کوم چه صرف الله دپاره ښائيږي. نو بيا که هغهٔ سره هغه څوك شريك اوګنړلے شي چه هغهٔ په تول مخلوق کښې دَ هغهٔ مبغوض او سپك وي، او هغه دَ هغهٔ واقعي دشمن وي. ځکه څوك چه دَ الله نه سيوا دَ بل چا عبادت کوي نو دا په اصل کښې دَ شيطان عبادت کوي.

الله تعالىٰ فرمائي :

﴿ ألـم أعهـد إليكـم يـا بـنـي آدم أن لا تعبدوا الشيطان إنه لكم عدو مبين وأن اعبدوني هذا صراط مستقيم ﴾ [يس : ٦٠، ٦١]

(اے انسانانو ! آيا ما تاسو ته دا حکم نهٔ وو کړے چه دَ شيطان عبادت مهٔ کوئ ځکه چه هغه خو ستاسو ښکاره دشمن دے، بلکه زما عبادت اوکړئ همدا نيغه لاره ده).

او کله چه مشرکانو په خپل ګمان دَ ملائکو عبادت کولو، نو د دوئ عبادت په حقيقت کښې دَ شيطانانو دپاره واقع شو. حال دا چه مشرکانو به ګمان کولو چه دوئ دَ ملائکو عبادت کوي. لکه الله تعالىٰ فرمائي :

﴿ ويوم يحشرهم جميعًا ثم يقول للملائكة أهؤلاءِ إياكم كانوا يعبدون قالوا : سبحانك أنت ولينا من دونهم، بل كانوا يعبدون الجن أكثرهم بهم مؤمنون ﴾ [سبأ : ٤١])).

(په کومه ورځ چه دوئ ټول راپورته کړي بيا به ملائکو ته اووائي : آيا دے خلقو به

ستاسو عبادت کولو ؟ ملائك به اووائي : پاكي ده تا لره ته زمونږ دوست ئې نهٔ دوئ۔ بلکه دوئ خو به دَ پيريانو (شيطانانو) عبادت کولو، په دوئ کښې اکثر خلق په دوئ يقين کونکي وو)۔اهـ

(التاريخ : ١٤٢٧هـ ذى الحجة مكة المكرمة الشامية، يوم الأحد : ١٢/٣).

❁❁❁❁❁❁❁❁

۳۱ - فائده

الله ته د قُرب او نزدیکت حاصلولو اسباب

بنده بانديے واجب دی چه الله ته وسيله او قُرب حاصل کړی. بلکه بنده دپاره دا کار دَ تولو کارونو نه ډير مهم او ضروری دے. ځکه کله چه بنده دَ الله نه لرے وی نو ددهٔ په ښکاره تاوان اوتباهئ کښے هيڅ شك نشته. چاسره چه ادنیٰ علم او عقل وی هغه به په دے خبره کښے شك نهٔ کوی. خو په زړونو باندے پردے را غوړيدلے دی.

دلته زهٔ تاته څهٔ اعمال درښايم چه دَ هغے په وجه تهٔ خپل رب ته نزدے شے، او دَ هغهٔ په اولياؤ کښے حساب شے. نو دے کار کښے تادی اوکړه. الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ يا أيها الذين آمنوا اتقوا الله وابتغوا إليه الوسيلة وجاهدوا في سبيله لعلكم تفلحون ﴾ [مائده : ۳۵] (اے ايمان والو ! الله نه اويريږئ او هغهٔ ته قُرب او نزديکت حاصل کړئ او دَ هغهٔ په لاره کښے جهاد اوکړئ دے دپاره چه کامياب شئ).

نو دے آيت کښې الله مونږ ته حکم کوی چه ماته تقرب حاصل کړئ. ځکه وسيله وئيلے کيږی قربت او نزديکت حاصلولو ته. او دَ انسان دپاره پوره کاميابی داده چه خپل رب ته نزدے شی. او پوره تباهی داده چه دَ الله سبحانه وتعالیٰ نه لرے شی.

نو الله ته دَ قُرب او نزديکت حاصلولو اسباب دادی :

۱ - **نبی کريم ﷺ** فرمائی : « الله چه بنده ته په کوم وخت کښے ډير نزدے وی نو هغه دَ شپے آخری حصه ده، نو کهٔ تهٔ وس لرے چه دَ هغه خلقو نه حساب شے چه هغوئ په دے ساعت کښے الله يادوی نو دا کار اوکړه ».

(رواه الترمذی وابن خزيمة بإسناد صحيح).

۲ - **يو سړی حسن بصریؒ نه تپوس اوکړو،** هغه بهترين شے چه په هغے سره بنده الله عز وجل ته نزديکت حاصل کړی، کوم يو دے ؟ هغهٔ اوفرمائيل : ماته دَ تهجدو دَ مونځ نه سيوا بل داسے بهتر شے نهٔ دے معلوم چه په هغے سره بنده الله ته ځان نزدے کړی.

(کتاب التهجد لابن أبی الدنيا : ۱۲۷).

۳ - **الله تعالیٰ فرمائی** : ﴿ واسجد واقترب ﴾ [العلق : ۱۹]

(سجده کوه او دَ الله نزدیکت حاصلوه).

نو الله تعالیٰ اشاره کوی چه الله ته دَ نزدیکت حاصلولو سبب سجده کول دی۔ دا وجه ده، حدیث کښې راغلی: « بنده چه خپل رب ته په کوم حالت کښې ډیر زیات نزدې وی، نو هغه دَ سجدې حالت دے، نو تاسو په دے کښې ډیرے ډیرے دعاګانے کوئ ځکه لائقه ده چه ستاسو دعاګانے قبولے شي »۔ (مسلم).

٤ – **فرائض اداء کول** او ډیر ډیر نفلونه کول:

په صحیح حدیث کښې دَ ابوذر ﷺ نه روایت دے۔ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل:

« الله تعالیٰ فرمائی: چا چه زما دَ یو دوست سره دشمنی اوکړه، نو زهٔ هغهٔ سره دَ جنګ اعلان کوم۔ او یو بنده چه ماته ځان رانزدے کوی نو په هغه شئ سره چه هغه پرے ما فرض کړے دے۔ او بنده همیشه لګیا وی دَ نوافلو په ذریعه ماته ځان رانزدے کوی تردے چه زهٔ دَدهٔ غوږ شم چه آوریدل پرے کوی، او ددهٔ سترګه شم چه لیدل پرے کوی، او ددهٔ لاس شم چه نیول پرے کوی، او ددهٔ خپه شم چه مزل پرے کوی۔ که چرے مانه څهٔ غواړی نو خامخا ئے ورکوم۔ اوکه چرے ما پورے پناه غواړم نو خامخا پناه ورکوم »۔ (بخاری).

نو تاله پکار دی چه فرائض پوره طور سره اداء کوے، او بیا دَ نفلی عباداتو اهتمام هم ډیر کوه، دے دپاره چه تهٔ خپل خالق او مالك ته نزدے شے۔

٥ – **دَ الله عز وجل کتاب لوستل**:

دا دَ بنده او دَ رب ترمینځه دَ تولو نه زیاته نزدے واسطه ده۔ نبی ﷺ فرمائی: « بیشکه دا قرآن یوه رسئ ده چه یو طرف ئے ستاسو په لاسونو کښې دے، او بل طرف ئے دَ الله په لاس کښې دے، نو دا مضبوط اونیسئ ځکه چه ددے دَ نیولو نه پس تاسو هیچرے ګمراه کیدے او تباه کیدے نشئ »۔ (صحیح الجامع).

نو قرآن کریم یوه داسے رسئ ده چه په دے سره بنده خپل رب ته رسیږی او همدا حقیقی واسطه ده۔

په حدیث کښې دی: ابو امامه ﷺ فرمائی: « الله تعالیٰ په هیڅ یو شئ کښې اجازت نهٔ دے ورکړے چه هغه دَ هغه دوو رکعتونو نه بهتروی کوم چه بنده کوی، او بیشکه چه نیکی دَ بنده دَ سر دپاسه رادوریږی ترڅو پورے چه دا په مانځه کښې وی۔ او بندګانو په هیڅ یو شئ باندے الله ته نزدیکت نهٔ دے حاصل کړے چه هغه دَ هغهٔ شی پشان وی کوم چه دَ الله نه اوتے دے۔ یعنی قرآن »۔ (رواه أحمد).

۶ - رب العالمین دپاره مالونه خرچ کول :

دا یو عظیم سبب دے الله ته دَ نزدے کیدو۔ حدیث کښے راځی۔

ابو هریره ﷺ فرمائی : « یو ورځ رسول الله ﷺ دَ سَحر مانځه نه واپس شو، نو په جومات کښے زنانو ته راغے، په هغوئ باندے اودریدۀ او وے فرمائیل : «اے دَ ښځو تولګیه ! ما تاسو نه سیوا هیڅ داسے زنانه نۀ دی لیدلی چه دَ هغوئ دین او عقلونه ناقص وی، چه هغوئ دَ عقلمندو خلقو زړونه ډیر زیات دهوکۀ کونکی وی۔ ځکه ما تاسو په قیامت کښے په اور کښے ډیرے اولیدئ، نو څومره چه ستاسو وس رسی، الله ته ځانَ نزدے کوئ۔ په دغه ښځو کښے دَ عبد الله بن مسعود ﷺ ښځه هم وه، نو هغه عبد الله ته راغله او هغۀ له ئے دَ رسول الله ﷺ دا خبره اوکړه، او هغے خپله ګانړه واخسته۔ ابن مسعودؓ ترے تپوس اوکړو، دا کالی دے چرته روان کړی دی ؟ هغے وئیلے : ددے په ذریعه زۀ دَ الله او رسول قُرب او نزدیکت حاصلوم »۔ الحدیث۔

او په دے حدیث کښے دی : « ما کالی را واخستل چه په دے سره زۀ الله ته او تاته ځان نزدے کړم۔ او زما امید دے چه الله به ما دَ اور والو نه نۀ ګرځوی »۔

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ ألا إنها قربة لهم ﴾ [التوبة : ۹۹]

(خبردار ! دا دَ دوئ دپاره – رب ته – دَ نزدے کیدو سبب دے)۔

او فرمائی : ﴿ إذ قربا قربانًا ﴾ [مائده : ۲۷]

(کله چه دَ آدم ﷺ دواړو ځامنو هابیل او قابیل یوه قربانی پیش کړه)۔

۷ - دَ الله په لار کښې جهاد کول :

دا یوه عظیمه وسیله ده الله عز وجل ته۔ او ولے به دا لویه وسیله نۀ وی حال دا چه مؤمن خپل ځان او مال دَ الله دپاره په تلی کښے ایښے دے۔

﴿ ومن الناس من يشرى نفسه ابتغاء مرضات الله والله رؤف بالعباد ﴾ [بقره : ۲۰۷]۔

(او داسے خلق هم شته چه دَ الله دَ رضامندئ طلب کولو دپاره ئے خپل ځان خرڅ کړے دے، او الله په بندګانو ډیر زیات شفقت کونکے دے)۔

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ يـا أيها الذين آمنوا اتقوا الله وابتغوا إليه الوسيلة وجاهدوا فى سبيله لعلكم تفلحون ﴾ [مائده : ۳۵] (اے ایمان والو ! الله نه اویریږئ او هغۀ ته قُرب او نزدیکت حاصل کړئ او دَ هغۀ په لاره کښے جهاد اوکړئ دے دپاره چه کامیاب شئ)۔

نو په دے کښے اشاره ده چه جهاد الله ته دَ نزدے کیدو ذریعه ده۔ دَ جهاد فضائل په قرآن او

حدیث کښې معلوم دی، دلته ددې ذکر کولو ته حاجت نشته.

۸ – تقویٰ او احسان دَ الله عز وجل دَ قُرب سبب دی:

لکه الله تعالیٰ فرمائی: ﴿إن الله مع الذين اتقوا والذين هم محسنون﴾ [النحل: ۱۲۸]

(بیشکه الله دَ متقیانو ملګرې دې او دَ هغه خلقو چه هغوئ احسان کونکی دی).

او فرمائی: ﴿واتقوا الله واعلموا أن الله مع المتقين﴾ [بقره: ۱۹٤]

(او الله نه یرېږئ او پوهه شئ چه الله دَ پرهیزګارو ملګرې دې).

او فرمائی: ﴿والذين جاهدوا فينا لنهدينهم سبلنا وإن الله لمع المحسنين﴾ [عنکبوت: ٦۹]

(او هغه خلق چه زمونږ په باره کښې جهاد کوی نو خامخا به مونږ ورته خپلې لارې اوښایو او بیشکه چه الله دَ نیکانو ملګرې دې).

او فرمائی: ﴿إن رحمت الله قريب من المحسنين﴾ [اعراف: ٥٦]

(بیشکه د الله رحمت نیکو کارو ته نزدې دې).

۹ – صبر کول: الله تعالیٰ فرمائی: ﴿إن الله مع الصابرين﴾ [بقره: ۱٥۳]

(الله دَ صبر کونکو ملګرې دې).

۱۰ – دعاء غوختل: الله تعالیٰ فرمائی: ﴿وإذا سألك عبادي عني فإني قريب أجيب دعوة الداع إذا دعان﴾ [بقره: ۱۸٦]

(اوکله چه زما بندګان تا نه زما باره کښې تپوس اوکړی نو زۀ نزدې یم، دَ دعاء کونکی دعاء قبلوم کله چه ما را بلی).

نو دا عجیبه قربت او نزدیکت دې دَ طرفه دَ دعاء غوښتونکی.

۱۱ – مونځ کول.

۱۲ – زکاة ورکول.

۱۳ – په رسولانو ایمان لرل.

۱٤ – صدقه ورکول. الله تعالیٰ فرمائی: ﴿وقال الله إني معكم لئن أقمتم الصلاة وآتيتم الزكوٰة وآمنتم برسلي وعزرتموه وأقرضتموا الله قرضًا حسنًا﴾ [مائده: ۱۲]

(الله اوفرمائیل: زۀ ستاسو ملګرې یم که چرې تاسو دَ مونځ پابندی کوله، زکات مو ورکولو او زما په رسولانو مو ایمان لرلو او دَ هغوئ تائید مو کولو او الله له مو ښائسته قرض ورکولو).

۱٥ – هر نیک، عمل الله ته دَ نزدې کیدو ذریعه ده:

الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ إليه يصعد الكلم الطيب والعمل الصالح يرفعه ﴾ [فاطر : ١٠]
او فرمائي : ﴿ والباقيات الصالحات خير عند ربك ثوابًا وخير أملا ﴾ [كهف : ٤٦]
دَ وسيلې معنیٰ : هغه شے چه دَ هغې په ذريعه الله تعالیٰ قرب او نزديکت حاصل کړے شي، په علم او عبادت سره، او په خيال ساتلو دَ مکارمو دَ شريعت سره۔ (مفردات دَ امام راغب، ص : ۵۲۳).

ابن تيميه رحمه الله فرمائي : وسيله هر هغه شئ ته وائي چه دَ هغې په ذريعه الله ته نزديکت حاصليږي، واجبات وي که مستحبات۔

قتادهؒ فرمائي : الله ته دَ هغهٔ په طاعت سره او په هغه څهٔ سره په عمل کولو ځان نزدے کړئ کوم شے چه الله لره خوشحالوي۔ (ابن کثيرؒ).

دارنګه دَ الله دَ وسيلې حاصلولو بله ذريعه محبت دے۔ چه دا هم يوه عظيمه ذريعه ده۔ لکه علامه ابن قيمؒ ديته دَ سورت الاسراء په آيت ﴿ وابتغوا إليه الوسيلة ﴾ کښې اشاره کړيده۔ (فتح المجيد ص ۹۷).

علامه شنقيطيؒ فرمائي : دَ وسيلې معنیٰ عامو علماؤ داسے کړے چه : الله دپاره په عبادت کښې دَ نبي ﷺ دَ سنت موافق اخلاص کولو۔ (أضواء البيان ۲/۸۲).



۳۲- فائده

زهد او ددې دَ حاصلیدو طریقه پیژندنه

دا فائده په خیر باندې مدد کونکې ده.(زهد : دنیا کښې بې رغبتي).
شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمائی : زهد، هغه څیز پریښودل چه په آخرت کښې نفع نهٔ ورکوی. او ورع، هغه شے پریښودل چه په آخرت کښې ضرر ورکوی.
او دا ډیر ښهٔ تعریف دې.
امام احمدؒ فرمائی : زهد په درې قِسمه دې :
۱ – حرام پریښودل. او دا دَ عوامو زهد دې.
۲ – فضول حلال څیزونه پریښودل. او دا دَ خواصو زهد دې.
۳ – هر هغه شے پریښودل چه انسان دَ الله نه مشغولوی. او دا دَ عارفینو زهد دې.
(الآداب الشرعية لابن مفلح).
دَ امام احمدؒ دا خبره دَ هغه چا دپاره ډیره مفیده ده چه سوچ پکښې اوکړی.
ابن قیمؒ فرمائی : دَ عارفینو په دې خبره اجماع ده : چه زهد، دَ دنیا دَ وطن نه دَ زړهٔ سفر کولو او دَ آخرت په منازلو کښې ددهٔ شروع کیدلو ته وائی.
ابو ادریس خولانیؒ فرمائی : زهد (دنیا کښې بې رغبتي) دَ حلالو په حرامولو سره نهٔ ده، او نهٔ دَ مال په ضائع کولو سره. زهد دادې چه ستا په هغه شئ باندې ډیر زیات اعتماد وی کوم چه دَ الله په لاس کښې وی، دَ هغه شئ په نسبت کوم چه ستا په لاس کښې دې. او دا چه کله تاته مصیبت اورسیږی نو ددې په ثواب کښې تهٔ ډیر رغبت لرې ددې نه چه تاته دا نهٔ وې رسیدلې.
دَ زهد په باره کښې دا ډیر جامع او مزیدار کلام دې. په ترمذی کښې دا مرفوع هم روایت شوې، خو هغه صحیح نهٔ دې.
۲ – په دنیا کښې زهد کول یواځې په مال کښې نهٔ وی څنګه چه دَ بعض خلقو خیال دې.
بلکه زهد شپږو څیزونو سره تعلق لری :

(۱) مال (۲) ریاست (۳) دَ نارینه او زنانه وغیره ؤ صورتونه (٤) نفس. یعنې ددې راحت اوخدمت (٥) خلق (٦) او هر هغه شي چه الله نه سیوا وي.

۱ - **نو په مال** کښې دَ زهد معنیٰ : داده چه تا دَ الله دَ ذکر نه مشغوله نۀ کړي اونۀ دې حرامو ته راکاږي. نۀ دې اخلاق خراب کړي، نۀ درنه فرض او مستحب فوت کړي، اونۀ درنه تهول وخت واخلي.

په دې خبره کښې فکر اوکړه ځکه چه دا مهمه خبره ده. مال نعمت دې او دَ نیك سړي دپاره نیك مال ډیر ښۀ دې، او ددې ډیر والې هم څۀ ضرر نۀ لري خو چه دَ مذکوره شرطونو لحاظ پکښې اوساتلې شي. لیکن عام طور سره مال زړونه او وختونه مشغولوي او خواهشاتو، صله رحمئ پریکولو، بد اخلاقئ او الله نه غفلت کولو او مرگ له دَ تیاری نۀ کولو طرفته انسان راکاږي. دا وجه ده چه په کتاب او سنت او اقوالو دَ سلفو کښې ددې ډیره بدي راغلې. گنې که دا نۀ وي نو بذاتِ خود په دې کښې څۀ بدي نشته.

نبي کریم ﷺ فرمائي : « دَ هر یو امت دپاره یوفتنه وي او زما دَ امت فتنه مال دې ».
(رواه أهل السنن).

الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ زين للناس حب الشهوات من النساءِ والبنين والقناطير المقنطرة من الذهب والفضة والخيل المسومة والأنعام والحرث ذلك متاع الحياة الدنيا والله عنده حسن المآب ﴾ [آل عمران : ۱۲]

(ښائسته شوې دې خلقو ته مینه دَ خواهشاتو، لکه دَ ښځو، ځامنو او دَ سرو او سپینو زرو جمع کړې شوې خزانې او نښه دار آسونه او فصلونه، دا دَ دنیوی ژوند سامان دې او الله سره ښائسته انجام دې).

نو دَ مال دَ محبت دَ وجې بعضِ خلقو خپل دین پریښودلو او دَ اسلام نه مرتد شو – والعياذ بالله – او نصرانیت او کمیونستي ئې اختیار کړه. او د همدې په سبب بعضِ خلق دَ مسلمانانو، او دَ بهترینو مجاهدینو په خلاف دَ کافرو جاسوسان جوړ شول، لکه چه ددې خبرې مشاهدې شوې ده.

نو که چرې دَ روپئ او اشرفئ محبت نۀ وې نو دوئ به دا کار نۀ وې کړې. دَ مال دَ محبت په وجه عزتونه لوټ کړې شول، شرمگاهونه خرڅ کړې شو، صله رحمي قطع کړې شوه او گنړ گناهونه اختیار کړې شو. او اکثر خلق حرامو ته مائله شول، حقونه ضائع کړې شو، مخالفتونه ډیر شو، ښځې، یتیمانان، مظلومان دَ میراثونو نه محروم کړې شول. دَ

مال دَ محبت په وجه غوره غوره مؤمنان قتل کړے شول۔

خلاصه دا چه: دَ مال محبت ډيرو مفاسدو او غټو ګناهونو طرفته انسان راکاږی۔ دَ مال محبت دَ هرے ګناه جرړه ده۔

خو کله چه مال په حلاله طريقه پيدا کړے شی، او په حق کښے اولګولے شی، او په دے سره هيڅ حق او وخت ضائع نهٔ کړے شی، نو دا انسان سره په نيکئ باندے ډير ښهٔ مددګار دے۔ او دا دَ الله فضل دے چاتهٔ ئے چه غواړی ورکوی ئے۔

۲ - رياست او مشرئ سره محبت:

مشرئ سره محبت کول نهٔ رغيدونکے بيماری ده، دين او دنيا دواړه تباه کوی۔ ددے محبت تول ګناهونه راجمع کوی او سړے دَ خپل رب نه جدا کوی۔

نبی کريم ﷺ فرمائی: « دوه اوږکی شرمخان چه په ګډو بزو باندے راپريښودے شی، نو دومره به ئے خراب نهٔ کړی، څومره چه دَ انسان دين لره دَ مال او شرافت حرص خرابوی »۔

(رواه أهل السنن وهو في المشكاة، وجامع بيان العلم وفضله).

په دے مثال کښے فکر اوکړه! دَ شرافت نه مراد دَ رياست او مشرئ سره محبت دے۔ رسول الله ﷺ دَ حقيقتِ حال نه خبر وو نو ځکه ئے دا فرمائيلی۔ ځکه دَ مشرئ سره محبت انسان په کبر، حسد، کينے او دَ مال او وخت په ضائع کيدو کښے پريباسی۔ دارنګه بد اخلاقئ، منافقت، حرام خورئ او ظلم ته ئے راکاږی۔ دارنګه دے دا خوبښ ګڼړی چه خلق دهٔ ته لاس په نامهٔ ولاړ وی۔

نو تاله پکار دی چه ددے نه ځان اوساتے! زمونږ سلفِ صالحينو به ددے کارونو نه ډيره سخته ډډه کوله او ددے سخته مقابله به ئے کوله۔

عثمان رضی الله عنه ابن عمرؓ ته اوفرمائيل: زهٔ تا قاضی جوړوم۔ نو هغهٔ الله پورے پناه اوغوښته۔

دارنګه عامو سلفو به درباری علماؤ سره بُغض لرلو۔ سره ددے چه دَ هغوئ حکومتونه اسلامی وو۔ په هغے کښے به پوره طور سره اسلامی قوانين جاری وو۔ او هرچه زمونږ اوسنی حکومتونه دی: نو په دے کښے اکثر يا تول دَ الله دَ قانون نه سيوا په بل قانون فيصله کوی۔ نو بيا مسلمان له څنګه جائز کيدے شی چه په دے کښے داخل شی او ددے تنخواګانے واخلی؟

په يو صحيح حديث کښے راغلی۔ ابو هريره او ابو سعيد - رضی الله عنهما - فرمائی:

رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلي : « خامخا به پتاسو داسې مشران مقرر شي چه شریر خلق به ځنته رانزدې کوي او مونځونه به دَ خپلو وختونو نه روستو کوي، نو پتاسو کښې چه چا دا کار بیا موندلو نو هغه دې دَ دوئ دپاره نهٔ قبائلي مشر جوړیږي، نهٔ پولیس، نهٔ تیکس تولونکې او نهٔ خزانچي »۔

(رواه ابن حبان في صحيحه والمنذري في الترغيب : ۱/۵۷۱).

نو هر کله چه په یو اسلامي حکومت کښې چه دائې حال وي، داخلیدل جائز نشو، نو بیا په هغه حکومتونو کښې داخلیدل به څنګه جائز وي، چه هغوئ دَ الله دَ شریعت نه علاوه نور قوانین نافذ کړي وي ؟ دوئ سره خو نهٔ قضاء جائز ده، نهٔ ګورنري، نهٔ قبائلي مشري او نهٔ بل شې۔

پاتې شوه دا خبره چه کافرو سره کار کول جائز دي که نه ؟ نو ددې تفصیل مونږ په «فتاوی الدین الخالص دویم جلد» کښې کړې دې۔

دَ بعض جاهله خلقو خیال دې چه ددې خلقو سره په پارلمینټ او اسمبلۍ کښې داخلیدل دَ اسلام او مسلمانانو په ګټه تمامیږي۔ لیکن دا خبره خالص دروغ او واضحه دهوکه ده۔

۲ - دَ مشرئ په خوښولو کښې دا هم داخل دي : چه انسان دَ علمي پَخلي نه مخکښې خپل ځان فتوې ورکولو ته پیش کړي۔ دارنګه وعظونو او منبرونو ختلو ته ځان پیش پیش کوي حال دا چه مشران او لوئې علماء موجود وي۔ دا کس په دې دهوکه کښې پروت دې چه ګڼې دې الله عز وجل ته دعوت ورکوي، سره ددې چه دا خپل نفس او دَ هغې شهرت ته دعوت ورکوي۔ دا په یو میدان کښې دې او دعوت الی الله په بل میدان کښې۔

۳ - دارنګه په دې کښې حُبِ جاه هم داخل ده، یعنې دَ خلقو زړونه ځان طرفته مائله کول او تابع کول۔ په علم یا په عبادت یا په نسب یا په ښائسته اخلاقو یا په فصاحت یا په جمالِ صورت یا ولایت یا بدني قوت یا ددې نه علاوه په بل هر هغه شئ سره چه خلق ئې کمال ګڼړي۔

ددې علاج دادې : چه ګمنامي خوښه اوګڼړي او ددې کوشش اوکړي۔

څکه نبي ﷺ فرمائي : « بیشکه الله هغه بنده خوښوي چه هغه پرهیزګار، دَ زړهٔ مالداره او ګمنامې وي »۔ (مسلم).

او فرمائي : « دَ سړي دپاره دا شر هم کافي دې چه دهٔ ته په دین یا دنیا کښې په ګوتو سره اشاره اوکړې شي، مګر چالره چه الله بچ اوساتي »۔

علي رضی الله عنه فرمائی : ځان معمولي جوړ کړه، او ځان مهٔ مشهوروه، او خپل ځان دے دپاره مهٔ اوچتوه چه ستا ذکر کیږی، زده کړه کوه، او خپل ځان پټ ساته، تهٔ به په داسے حال کښے صبا کړے چه بیچ به ساتلے شوے ئے، نیکان به خوشحالوے او فاجران به غصه کوے۔

ابراهیم بن ادهمؒ فرمائی : دَ هغه چا معامله دَ الله سره رشتینے نهٔ ده چه هغه شهرت خوښوی۔

ایوب سختیانیؒ فرمائی : قسَم په الله ! دَ کوم بنده معامله چه دَ الله سره رشتینے وی، نو هغه به خامخا دا خبره خوښوی چه ددهٔ ځائے دے معلوم نهٔ وی۔

حسن بصریؒ فرمائی : یو ځل ابن مسعودؓ دَ کوره اووتلو نو څهٔ خلق ورپسے شو، وے فرمائیل : تاسو ماپسے ولے را روان ئے ؟ قسَم په الله ! که چرے تاسو ته هغه څهٔ معلوم شی کوم چه زهٔ دَ خپل کور دروازے دننه کوم، نو پتاسو کښے به دوه کسان هم ماپسے روان نشی۔

بشرؒ فرمائی : زهٔ هیڅ داسے سړے نهٔ پیژنم چه هغه شهرت خوښوی، مگر ددهٔ دین ختمیږی او دے رسوا کیږی۔

اوفرمائی : دَ آخرت خوند هغه سړے نشی موندلے چه شهرت خوښوی۔

نبی کریم ﷺ فرمائی : « ډیر کرته داسے کس چه ګډوډ ویښتو والا، او ګرد او غبار والا او دوه زړو څادرونو والا وی، چه هیڅ توجه ورته نشی کیدے، که چرے دے په الله قسَم اوکړی نو خامخا به الله ددهٔ قسَم پوره کړی، په دے قِسم خلقو کښے یو براء بن مالكؓ هم دے »۔ (رواه مسلم).

په صحیح حدیث کښے راځی : « بیشکه زما په دوستانو کښے زما په نیز هغه مؤمن ډیر دَ پسخیدو قابل دے، چه مال او عیال ئے کم وی، دَ مانځه ورته پوره برخه ورکړے شوے وی، د خپل رب ښائسته عبادت کوی، او په پټه باندے دَ هغهٔ خبره منی، په خلقو کښے پټ وی چه په ګوتو ورته اشارے نهٔ کیږی۔ او په دے صبر کوی۔ بیا رسول الله ﷺ خپل لاس زمکے سره اووهلو، او وے فرمائیل : مرګ ورته په تادئ راشی، میراث ئے کم وی او په دهٔ باندے ژړا کونکے ښځے کمے وی »۔ (رواه الترمذی).

ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی : تاسو دَ علم چینے، دَ هدایت ډیوے، دَ کورونو تراتونه، دَ شپے ډیوے، تازه زړونو والا او زړو جامو والا جوړ شئ۔ چه آسمان والا مو پیژنی او

زمکې والو نه پټ ئې۔
فضیل بن عیاض ؒ فرمائي : که په دې قادر ئې چه اونهٔ پیژندلې شې نو دا کار اوکړه، اوکه تهٔ اونهٔ پیژندې شې نو تاته څهٔ تکلیف دې ؟ اوکه ستا صفت اوکړې شي نو تاته څهٔ فائده ؟ اوکه دَخلقو په نیز بد ئې نوتاته څهٔ تکلیف دې ؟ هر کله چه دَ الله په نیز ښهٔ ئې۔
سوال : انبیاء کرام علیهم السلام، صحابه کرام ؓ او صالحین خلق خو مشهور دی ؟
جواب : دا دَ الله دَ طرفه نعمت دې چه دوئ ته ئې دَ دوئ دَ نفسونو دَ تزکیئې دَ وجې ورکړې۔ دا شهرت بد تهٔ دې ځکه دا غیر اختیاري دې۔ بد شهرت خو هغه دې چه انسان دَ شهرت او ریاست سره مینه لري او ددې دپاره کوشش کوي۔ بله دا چه هغوئ قوي خلق وو چه دَ هغوئ په دینداري باندې شهرت څهٔ اثر نهٔ کولو۔ (انظر الإحياء : ٥/٧٨).
٣ - او هرچه په صورتونو کښې زهد دے :
نو دا اکثر خلق نهٔ پیژني۔ ددې مطلب دا چه : ټول صورتونه دَ الله دپاره پریدي، چه هیڅ یو صورت، یا مخ یا سرې یا ښځه دَ الله په محبت، دَ هغهٔ په ذکر او دَ هغهٔ په نزدیکت باندې نهٔ غوره کوي۔
لکه ډیر خلق داسې دی چه ښځو سره عشق او هغوئ سره خبرې اترې خوښې گڼري، تردې چه دوئ دَ شرعي حدودو په مخالفت کښې پریوځي۔
حال دا چه الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ زين للناس حب الشهوات من النساء ﴾ [آل عمران : ١٢]
(ښائسته شوې دې خلقو ته محبت دَ خواهشاتو یعنې زنانو)۔
نو په دې آیت کښې دَ دوئ په محبت کښې زهد ته اشاره ده۔
او نبي ﷺ فرمائي : « ما د خپل ځان نه روستو دَ سړو په حق کښې ډیره ضرري فتنه، صرف ښځې پریخودې »۔
او فرمائي : « دَ الله دَ حدودو لحاظ ساتئ او دَ ښځو نه ځان ساتئ »۔ چه ددې نه مخکښې ئې فرمائیلي وو۔ « بیشکه دنیا خوږه او شنه ده، او الله تعالیٰ تاسو په دې کښې جانشین مقرر کړي یئ »۔ (مسلم).
بعضِ خلقو باندې دومره عشق غلبه کړې وي چه پردو ښځو یا بې گیرې هلکانو او ځوانانو سره عشق او محبت کوي۔ والله المستعان۔
★ خو په ښځو کښې دَ زهد کولو مطلب دانهٔ دې چه :
یو سړې به د خپلې ښځې یا وینځې سره مینه نهٔ کوي او یابه دوئ ته میلان نهٔ کوي۔ ځکه

چه دا خو یو فطري څیز دے چه دَ سړي په ختمه کښې دا اخلے شوے دے. لیکن ددے مطلب دا چه: دَ الله دَ محبت په مقابله کښې به دوئ نهٔ غوره کوي اونهٔ به ئې د الله په حکم مخکښې کوي. اونهٔ به دَ دوئ په وجه دَ الله حکم پریدی، اونهٔ به د دوئ په وجه دَ الله دَ ذکر نه غفلت کوي. اونهٔ به د دوئ په سبب په فتنه کښې پریوځي. والله المستعان.

٤ - او هر چه په نفس کښې زهد دے :

نو دا دَ الله دَ خاصو بندګانو زهد دے: او ددے مطلب دا چه انسان دَ خپل نفس په راحت او خدمت او دَ خلقو په ثناء صفت کښې بے رغبته شي. او خپل نفس په هغه عبادت، طاعت، خشیت او دَ الله دَ حکم په تابعداریٔ کښې اولګوي، دَ کوم دپاره چه دا پیدا شوے.

نو چا چه دَ سستیٔ په وجه یو واجب حکم پریخودلو نو دا په خپل نفس کښې رغبت لرونکے دے، زاهد نهٔ دے. دارنګه چا چه یو غیر واجب عمل دَ نفس دَ راحت دَ وجے پریخودلو، نو دا کس دَ آخرت په مقابله کښې دنیا غوره کونکے دے.

لکه دیته په دے قول د الله تعالیٰ کښې اشاره شوے:

﴿ واذكر اسم ربك بكرة وأصيلًا ومن الليل فاسجد له وسبحه ليلا طويلًا، إن هؤلاءِ يحبون العاجلة ويذرون ورائهم يومًا ثقيلًا ﴾ [دهر: ۲۷]

(او یادوه نوم دَ رب خپل صبا بیګاه، او د شپے نه هم هغهٔ دپاره سجده کوه او اوږده شپه دَ هغهٔ تسبیح وایه، بیشکه دا خلق دنیا خوښوي او خپلے مخے ته درنه ورځ پریدی).

یعنے: کافران خلق په دے اوقاتو کښې دَ الله دَ ذکر نه غافله وي، نو دوئ دنیا خوښوي او درنه ورځ پریدی. نو څوك چه دا کار کوي نو دا دنیا خوښونکے دے.

او الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ فاصبر على ما يقولون وسبح بحمد ربك قبل طلوع الشمس وقبل غروبها ومن آناء الليل فسبح وأطراف النهار لعلك ترضىٰ ولا تمدن عينيك إلى ما متعنا به أزواجًا منهم زهرة الحياة الدنيا لنفتنهم فيه ﴾ [طه: ۱۳۱]

(نو دا خلق چه څهٔ وائي په دے تهٔ صبر کوه او دَ خپل رب دَ حمد سره تسبیح وایه مخکښې دَ نمر خاتهٔ او مخکښې د نمر پریواتهٔ نه، او دَ شپے په څهٔ اوقاتو کښې تسبیح وایه او دَ ورځے په طرفونو کښې. کیدے شي چه تهٔ خوشحاله شے. او خپلے سترګے هغه څیزونو ته مهٔ اوګدوه چه مونږ ددے خلقو جوړو ته ورکړي دي، چه دا دَ دنیوي ژوندون تازګي ده، دے دپاره چه مونږ په دوئ باندے په دے کښې آزمائش اوکړو).

نو په دے آیت کښې ئے اول په بهترینو اوقاتو کښې دَ عبادت تذکره کړے او بیائے دَ سترګو

اوږد والے ذکر کړے، نو په دے کښے اشاره ده دیته چه عبادات پریخودل دنیا سره محبت دے۔
نـو دَ انسـان خـوب او ډیـر آرام کـول، سیـاحت او تفریح کول او په خوراك څکاك، لباس او ګپ شپ کښے خپـل وختـونـه ضائع کول، دا ټول په دنیا کښے رغبت دے۔ او ددے څیزونو کمول او په دے کښے بعضے پریخودل، په نفس کښے زهد او بے رغبتی کول دی۔
په نفس کښے زهد دا هم دے : چه تهٔ دَ خلقو مدح او ثناء یا بدئ له هیڅ اعتبار نهٔ ورکوے۔
دارنګه په نفس کښے زهد دا دے : چه تهٔ دا دَ خپل رب په طاعت کښے ستړے کړے۔ روژے نیسے، تهجد کوے، جهاد کوے۔ او دَ خواهشاتو نه نفس پریکړے۔

۵ - او هرچه په خلقو کښې زهد دے :

نـو ددے معنیٰ دا نهٔ ده چه ګنے دوئ نه به نفرت کوے، بلکه الله دپاره دوئ پریخودل او دَ الله دَ وجے نه دوئ نه تریدل او دَ الله دَ حکم په مقابله کښے دَ دوئ پرواه نهٔ کول۔ او دَ الله په کتاب او دَ نبی ﷺ په سنت باندے دوئ له ترجیح نهٔ ورکول۔

واهجر ولو کلُّ الوریٰ فی ذاته لا فی هواك ونخوة الشیطان

(الله دپاره کـه ټول خلق پریخودل وی نو هم ئے پریده، نهٔ دَ خپل خواهش او شیطانی کبر دَ وجے نه)۔

٦ - او هرچه دَ الله نه سیوا په نورو خلقو کښې زهد دے :

نو هغه په الله کښے دَ رغبت کولو دَ وجے هر څهٔ پریخودل دی۔ ﴿ وتبتل إلیه تبتیلا ﴾ [مزمل : ۸] (او دَ هر چانه الله طرفته انقطاع اختیار کړه په پوره انقطاع اختیارولو سره)۔
﴿ ففروا إلى الله ﴾ [ذاریات : ۵۰] (پس الله ته ور اوتختئ)۔
دارنـګه دَ زړهٔ نظر اومشاهده دَ الله په ذات او صفاتو او افعالو باندے لګول پکار دی۔ خپل فـکر دَ ټولو څیزونو نه کټ کول او الله سره لګول۔ همیشه دپاره په احسان او دَ الله په لحاظ ساتلو کښے اوسیدل۔ او کله چه ددے نه څهٔ ساعت دپاره غفلت راشی نو الله ته خالصه توبه او رجـوع کـول۔ هـر شے فـانی او زوال پذیر ګنړل، او دَ رب دَ بقاء، دوام السلطنت او قیومت تصور کول۔
او دا یوه داسے درجه ده چه دَ الله په بندګانو کښے صرف خواصو ته ملاویدے شی۔
الله تعالیٰ نه غواړو چه ددے نه پوره پوره برخه مونږ له راکړے۔ آمین۔



۳۳- فائده

دَ دنیا دَ حقارت او ختمیدو، او دَ آخرت دَ همیش والي او زر راتلو مثالونه

اوس دلته زهٔ داسې مثالونه بیانوم چه په هغې کښې دَ دنیا حقیقت، دَ هغې حقارت او زر فاني کیدل، او دَ آخرت دوام او زر راتلل واضحه شوی دی۔

دَ بنده په زړهٔ کښې زهد هله داخلیږی چه کله په دې مثالونو کښې صحیح فکر اوکړی۔

۱ - اول مثال: دَ بنده دپاره درې حالتونه دی:

(۱) دَ پیدا کیدو نه مخکښې حالت۔

(۲) دَ مرګ نه پس ترنهٔ ختمیدو حالت۔

(۳) په دُنیا کښې دَ وجود او دَ زندګیٔ یو څو ورځې۔

نو که انسان دَ خپل دنیوی ژوند نسبت دغه دواړو حالتونو ته واخلی، نو دهٔ ته به پته اولګی چه دَ دنیا عمر دَ سترګې دَ رَپ هومره دې۔ اوس چه څوك دنیا په دې سترګه وینی، نو هغه دنیا ته مائله کیږی نهٔ اونهٔ ورسره دا پرواه وی چه دَ دنیا ورځې شپې ددهٔ په تنګسیا او ضرر کښې تیریږی اوکه په فراخئ او آرام کښې۔ دا وجه ده، رسول الله ﷺ هیڅ یوه خخته په بله خخته نهٔ ده ایښې، اونهٔ ئې یوه دُرمه په بله دُرمه ایښې۔ نوعقلمند له دَ خپل عمر په باره کښې فکر کول پکار دی چه ددهٔ عمر دَ آخرت په نسبت څهٔ حیثیت لری؟

ددې وضاحت په دویم مثال سره کیږی۔

۲ - دویم مثال: هغه دې کوم چه دَ زاهدینو سردار یعنې نبی کریم ﷺ فرمائیلی دې:

«زما دَ دنیا سره څهٔ کار دې! زما او دَ دنیا مثال خو دَ هغه سور سړی دې چه دَ یوې وُنې لاندې آرام اوکړی، بیا روان شی او هغه پریدی»۔ (بخاری، مسلم).

نو سور (مسافر) سړې دَ آرام په وخت نهٔ دَ بسترې اهتمام کوی او نهٔ دَ ځائے دَ مزیدار والی اونهٔ دَ پړاؤ دپاره دلته مکان جوړوی۔ بلکه دَ لږ ساعت دپاره آرام کولو نه پس دَ سفر تیارې کوی۔

۳ - **دريم مثال** : نبي كريم ﷺ فرمائي : « دَ آخرت په مقابله كښې دَ دنيا مثال داسې دې لكه پتاسو كښې يو كس خپله گوته په سمندر كښې غوپه كړي، نو بيا دې اوگوري چه څومره اوبۀ ئې ورپورې را واخستې ». (رواه مسلم).

نو تولـه دنيا دومره حيثيت لري لكه په سمندر كښې غوپه شوې گوتې پورې چه څومره اوبۀ نښتې وي. نو هر كله چه دَ تولې دنيا عمر دومره شو، نو بيا يوازې ستا دَ عمر اندازه به دَ آخرت په مقابله كښې څومره وي ؟ دا خو هيڅ شې نۀ دې ؟

٤ - **څلورم مثال** : عيسىٰ ﷺ فرمائي : « دنيا پُل دې، په دې تيريږئ آبادئ په كښې مۀ كوئ ».

نو ژوند آخرت طرفته پُل دې. او ځانگو دَ دې پُل اولنئ ستن ده، او لحد ددې پُل آخرنئ ستن ده. بعضِ خلقو نيم پُل وهلې، ځينو دوه حصې، ځينو ته صرف يو قدم پاتې دې. حال دا چه دې دَ هغې نه غافل دې. هر څنگه چه وي نو ورتيريږي به. نو اوس چه څوك دلته په دې پُل باندې اودريږي او په هغې كښې كورونه جوړوي او هغه ښائسته كوي او په هغې كښې غتې بنگلې آبادوي، نو دا كس ډير جاهل او كم عقل دې. او دا قِسم خلق ډير زيات دي. نو تۀ اوگوره چه تۀ دَ پُل په كوم ځائې كښې ئې ؟

۵ - **پينځم مثال** : په زړۀ كښې دَ دنيا دَ خواهشاتو مثال لكه په معده كښې دَ مزيدار طعامونو دې. چه ددې انجام ډكې اوتشې متيازې، بدبوئې او هغه څيز دې چه طبيعت ئې بدې گنړې.

نو دغه شان بنده به دَ دنيا خواهشات دَ مرگ په وخت بدبويه بياموومي او په دې سره به ډير تكليف ورته رسيږي. څومره چه دَ خوراك په وخت دَ طعام خوند زيات وي، هغومره دَ وتلو په وخت ډير بوئې كوي. نو دغه شان په دنيا كښې چه كوم خواهشات بنده ډير خوښ گنړي، نو دَ مرگ په وخت به ئې بدې گنړي، او دَ هغې وركيدل به ورته ډير گران وي.

دې مثال ته نبي كريم ﷺ اشاره فرمائيلې. لكه ضحاك بن سفيان ؓ ته ئې اوفرمائيل :

« آيا تاتـه ستا خوراك په داسې حال كښې نۀ راوړې كيږي چه هغې كښې مالگه او مساله اچولې شوې وي. بيا تۀ هغې پسې اوبۀ او پئ څكې ؟ هغۀ وئيلې : هاؤ. وې فرمائيل : نو بيا ددې نه څۀ جوړيږي ؟ هغۀ وئيلې : هغه شې چه تاته معلوم دې ؟ نبي ﷺ اوفرمائيل : نو بيشكه الله عز وجل دَ دنيا مثال دَ بنيادم هغه خوراك بيان كړې چه دَ هغې نه دغه شې جوړيږي ». (مسند أحمد).

بعض سلفو به خپلو ملګرو ته فرمائیل : راځئ چه تاسو ته دنیا اوښایم، نو هغوئ به ئے ډیران ته بوتلل او فرمائیل به ئے : اوګورئ دَ دوئ میوو، چرګانو، ګبینونو او غوړو ته۔
نو د خپلے دنیا حقیقت ته دے اوګوره چه څۀ شے دے ؟
٦ - شپږم مثال : د دُنیا، او دنیا والا چه په دنیا سره دَ آخرت دَ نعمتونو نه مشغولیږی او دوئ ته چه روستو کوم آفسوسونه رسیږی، دَ دوئ مثال :
دَ دُنیا والو دَ غفلت مثال لکه دَ هغه خلقو دے چه په کشتئ کښے سوارۀ شی، نو دوئ یو جزیرے (ټاپو) ته اورسیږی۔ نو مانړکے (کشتی بان) دوئ ته حکم اوکړی چه قضائے حاجت دپاره لاړ شئ۔ خو دَ ډیر ساعت تیرولو او دَ کشتئ دَ روانیدلو نه ئے اویروی۔ خلق دَ جزیرے په اطرافو کښے خوارۀ شی۔ په دوئ کښے بعض خلق خپل حاجتونه پوره کړی او په تادئ سره کشتئ ته راشی او په هغے کښے خالی ځائے بیامومی، نو په فراخه او نرم او زړۀ پورے ځائے کښے کینی۔
او ځینے خلق په ټاپو کښے اودریږی، دَ هغے ګلانو او عجیبو غوټو ته ګوری، دَ هغے دَ مارغانو چغارے آوری، دَ هغے وُنے ترے زړۀ یوسی۔ بیا ئے زر په زړۀ کښے دَ کشتئ دَ روانیدو خطره راشی، نو کله چه کشتئ ته را اورسیږی، چه اوګوری هغه ډکه شوے وی، نو په تنګ ځائے کښے کینی۔
او ځینے نور خلق دَ جزیرے دَ دغه ښائسته کاڼو او عجیبه ګلانو خواته ولاړ وی، او دَ هغے نه ځان سره څۀ شے هم راوړی۔ نو کله چه دے کشتئ ته را اورسیږی، نو هغه ډکه شوے وی، په هغے کښے لږ شان ځائے وی۔ دۀ دَ ځان سره دغه بار هم راوړے وی، نو ځائے هم تنګ دے او بار هم ورسره وی او دَ هغے په غورزولو باندے قادر نۀ وی، بلکه دَ هغے بارول ضروری وی، او په کشتئ کښے هم دَ هغے دپاره ځائے نۀ وی، نو هغه بار په خپل څټ باندے کیدی او دَ هغے په راخستلو خپیمانه وی خو دا خپیمانتیا ورته نفع نۀ ورکوی۔ بیا دغه ګلان غړند شی او دَ هغے بوئے بدل شی او دۀ ته دَ هغے بوئے تکلیف رسوی۔
او ځینے خلق دَ جزیرے په دغه باغچو کښے دننه ورننوځی او کشتئ ترے هیره شی او ډیر لرے لاړ شی، تردے چه دَ کشتئ روانیدو په وخت مانړکے دَ روانیدو چغه اووهی لیکن دغه کسانو ته دَ هغۀ آواز اونۀ رسیږی، ځکه چه دوئ دَ باغچو ګلانو سره مشغول دی۔ کله دَ هغے میوے خوری، کله دغه ګلان بوئے کوی۔ بیا په همدے کسانو کښے ځینے هغه وی چه کشتئ کښے ورته ځائے ملاؤ شی او ځینے هغه وی چه هیڅ ځائے ورته ملاؤ نشی۔ دَ

کشتۍ نه پاتے شی او په جزیره کښے مړهٔ شی. او ځینے هغه وی چه دَ باغچے په تماشه کښے مصروف وی، نو درنده ګان ئے مات کړی.

نو دا دَ دنیا والو مثال دے چه دویٔ دَ دنیا دَ خوندونو پورے نښتی وی.

۷ - **اوم مثال** : ابن ابی الدنیا دَ حسن بصری نه نقل کړے، دا وائی : ماته رارسیدلے ده چه رسول الله ﷺ خپلو ملګروته اوفرمائیل : « ستاسو او دَ دنیا مثال، دَ هغه قوم دے چه هغوی په یو شاړ بیابان روان وی، تردے چه دویٔ ته پته اونهٔ لګی چه مونږ کوم مزل اوکړو دا ډیر دے اوکهٔ پاتے مزل ډیر دے ؟ نو په دے کښے دویٔ سره توښه ختمه شی او دَ دویٔ سورلیٔ ستومانه شی. نو دویٔ دَ بیابان په مینځ کښے بغیر دَ توښے او سورلیٔ نه پاتے شی. او دَ هلاکت یقین ئے راشی. نو دویٔ په دے حالت کښے وی چه ناګهانه دویٔ ته په یوه ښائسته جوړه کښے یو سړے را اووځی چهٔ دَ هغهٔ دَ سر نه اوبهٔ بهیږی، نو دویٔ اووائی : دا کس تازه دَ کوم چمن نه نزدے تاسو ته راغے. نو کله چه دغه کس دویٔ ته ور اورسیږی نو اووائی : خلقو ! ولے ؟ هغویٔ وائی : زمونږ حالت داسے دے کوم چه تهٔ وینے ! هغه وائی : په دے مے خبر کړیٔ که چرے ما تاسو ته اوبهٔ او شنے باغچے اوښودلے نو تاسو به ماله څهٔ راکویٔ ؟ خلق اووائی : مونږ به ستا هیڅ خلاف نهٔ کوو. هغه اووائی : ماسره تاسو په الله باندے لوظ او وعده اوکړیٔ. خلق ورسره دا لوظ او وعده اوکړی. نو دغه سړے دغه خلق اوبو او شنو باغچو ته بوځی. بیا دغه سړے دویٔ سره څهٔ وخت پاتے شی څو مره چهٔ دَ الله خوښه وی. بیا اووائی : اے خلقو ! ځیٔ اوس روان شیٔ ! خلق وائی : چرته ؟ وائی : داسے اوبو ته چه ستاسو دَ اوبو پشان نهٔ دی، او داسے باغچو ته چه ستاسو ددے باغچو پشان نهٔ دی. نو په دے خلقو کښے اکثر خلق اووائی : قسم په الله ! مونږ خو دا ګمان نهٔ کاوهٔ چه مونږ ته به دا ملاویږی، او مونږ په هغه عیش باندے څهٔ کوو چه هغه ددے نه غوره وی ؟ نبی ﷺ فرمائی : په دغه قوم کښے کم خلق اووائی : آیا تاسو دے سړی سره دَ الله په نوم لوظونه او وعدے نهٔ وے کړے چه تاسو به په هیڅ شیٔ کښے ددهٔ نافرمانی نهٔ کویٔ، او دهٔ خو تاسو ته په خپلے اولنیٔ خبره کښے رشتیا وئیلی وو، نو قسم په الله چه تاسو ته به ددے په آخره کښے هم رشتیا وائی. نو دغه سړے دَ خپل ځان سره هغه څوک روان کړی څوک چه ددهٔ تابعداری اوکړی او باقی خلق روستو پاتے شی. په دے کښے دویٔ ته په تادیٔ سره دُشمن راشی او په دویٔ کښے څوک قتل کړی او څوک قیدیان جوړ کړی ». آهـ

۸ - **اتم مثال** : بخاری اومسلم کښے حدیث دے : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « بیشکه

سپرلے چه څۀ راټوکوی نو په هغے کښے بعضِ هغه شے وی چه هغه څاروے هلاك کړی (وے بهیوی) او یائے هلاکت ته نزدے کړی، البته هغه څاروے چه هغه شینکے اوخوری، بیا سوَتے او متیازے اوکړی او بیا دَ لړی نه خوراك بیرته راکاږی او شخوند پرے وهی ».
الحدیث.

او دا ډیر ښائسته مثال دے چه په دے سره دَ دنیا نه دارنګه په هغے کښے دَ ورننوتلو نه او په هغے دَ خوشحالیدلو نه انسان ویروی. چه بعضِ خلقو لره دنیا قتل کړی او ځینے هلاکت ته نزدے کړی. خو چا چه دَ ګذارے په اندازه دَ دنیا نه څۀ واخستل او دَ الله بندګی ئے کوله او مسکین او مسافر سره ئے مدد کولو، نو بیا دا ډیر ښۀ مدد کونکے مال دے.
په دے مثال کښے فکر او سوچ پکار دے، دا ډیر عجیب مثال دے.

۹ - **نهم مثال** : دَ عبد الله بن مسعود رضی الله عنه په صحیح حدیث کښے دی. رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے : « بیشکه الله تعالیٰ دنیا توله کمه پیدا کړے. او ددے نه نۀ ده پاتے شوے مګر کمه حصه. لکه حوض چه دَ هغے صفا اوبۀ اوڅکلے شی او خیرنے پاتے شی ».
(رواه الحاکم ورواه البخاری موقوفًا فی کتاب الجهاد : ۱، انظر صحیح الجامع : ۱/۳۵۸، رقم : ۱۷۳۷، الصحیحة رقم : ۱۶۲۵).

۱۰ - **لسم مثال** : امام ترمذیؒ دَ مستورد بن شداد رضی الله عنه نه روایت کوی چه زۀ دَ هغه جماعت سره ووم چه هغوئ دَ رسول الله ﷺ سره په یوه مړه ګډه بزه باندے اودریدل. رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « تاسو ته پته ده چه دا بزه په خپلو مالکانو باندے سپکه شوه تردے چه دوئ اوغورزوله ؟ خلقو ووئیلے : یا رسول الله ! دَ سپکوالی دَ وجے نه خو دوئ غورزولے ده. وے فرمائیل : په هغه الله مے دے قسَم وی چه دَ محمد (ﷺ) ساه دَ هغۀ په لاس کښے ده ! دا چه څومره په خپلو مالکانو سپکه ده، دُنیا دَ الله په نیز ددے نه زیاته سپکه ده ».

نو دا یو عجیب مثال دے. چاله چه الله دنیا ورکړی نو ګویا دۀ له ئے یوه مړه بزه ورکړه، دے وجے نه په دے خوشحالیدل نۀ دی پکار.

۱۱ - **یوولسم مثال** : دَ دنیا مثال دَ هغه سمندر دے چه دَ خلقو دپاره په هغے تیریدل او غاړے ته وتل ضروری وی، څکه هلته دَ دوئ وطن او کورونه وی. او ددے قطع کول هله کیږی چه کله دَ نجات په کشتئ کښے کینی. نو الله پیغمبران علیهم السلام رالیږلی دی چه خلقو ته دَ کشتئ جوړولو او په هغے کښے دَ سوریدو طریقه اوښائی. او هغه دَ الله او دَ

هغهٔ دَ رسولانو طاعت او دَ هغهٔ یوائے عبادت او هغهٔ دپاره په عمل کښے اخلاص کول او آخرت دپاره تیارے کول او منډے ترړے وهل دي۔ نو چاله چه الله توفیق ورکړو هغوئ په کشتئ کښے سوارهٔ شو او سمندر ته دَ دنګلو نه ئے اعراض اوکړو۔ څکه دوئ ته پته ده چه دا سمندر په لامبو وهلو سره نهٔ قطع کیږي۔ او هر چه کم عقل دي، نو هغوئ کشتئ جوړول او بیا په هغے کښے سوریدل ګران اوګنړل۔ او وئیلے : مونږ سمندر دغسے په وردنګلو او لامبو وهلو قطع کوو۔ او دا په دنیا والو کښے اکثریت دے۔ نو دوئ سمندر ته داخل شو، او هر کله چه عاجز شول نو لامبو ئے شروع کړه تردے چه په اوبو کښے ډوب شو۔ او کشتئ والو نجات بیامونده۔

نو دا مثال دَ واقع موافق دے، او سمندر تقدیر دے، او کشتئ امر دے۔

۱۲ - **دولسم مثال** : دَ دنیا مثال لکه دَ لوښي دے چه دَ شاتو نه ډك وي، مَچان ئے اووینی نو دے طرفته را مخامخ شي۔ څینے دَ لوښي په غاړه باندے کیني او دَ شاتو نه خوراك شروع کړي تردے چه خپل حاجت پوره کړي او والوزي۔ او څینے مچان چه دا لوښے اووینی نو لالچ کښے راشي او دَ لوښي په مینځ کښے ور اودانګي، نو کله چه په هغے کښے غوپه شي نو دا غوپه کیدل ئے خوراك ته هم نهٔ پریدي مګر لږ شان، تردے چه دَ هغے په مینځ کښے مړ شي۔

۱۳ - **دیارلسم مثال** : دَ دنیا مثال لکه دَ دانو دے چه په زمکه خورے شي او هره دانه په دام کښے واچولے شي او ددے دانو نه ګیر چاپیره نورے دانے پرتے وي، چه هغه په دامونو کښے نهٔ وي۔ نو مرغئ راشي۔ نو په دے کښے څینے داسے وي چه په غاړو باندے قناعت اوکړي او خپل ځان دَ دانو مینځ ته نه ګوذاري، نو هغے نه خپل حاجت پوره کړي او والوزي۔ او څینے مرغئ لالچ کښے راشي او ډیرو دانو ته ځان ور اوولي، نو دانے ئے لا پوره کړي نهٔ وي چه په دام کښے دَ نختلو په وجه چنګ چنګ کوي۔

۱٤ - **خوارلسم مثال** : دَ دنیا مثال لکه دَ هغه سړي دے چه یو غټ اور بل کړي۔ نو پتنګان دَ هغے رنړا اووینی او هغوئ دے طرفته را والوزي او په دغه اور کښے پریوځي۔ او چاته چه دا معلوم نهٔ وي نو هغه په دے سره دَ لرے نه رنړا حاصلوي او په دے سره ځان ګرموي۔

دے مثال ته نبي کریم ﷺ په یو صحیح حدیث کښے اشاره کړے : « زما او ستاسو مثال دَ هغه سړي پشان دے چه هغه اور بل کړي او پتنګان او وُور وُرکي راشي او په هغے کښے

پریوځي۔۔ » الحدیث۔

۱۵ - **پنځلسم مثال** : دَ دنیا مثال دَ هغه قوم دے چه هغوئ دَ خپل مال او اهل سره په یو سفر اووتل، او یو داسے درے ته ورغلل چه په هغے کښے ډیرے اوبۀ، شینکی او میوے وی۔ هلته ئے پړاؤ واچولو، خیمے ئے اوودهلے او کورونه او بنګلے ئے جوړے کړے۔ په دوئ باندے یو سړے تیر شو چه دوئ دَ هغۀ خیر خواهي، رشتیا او امانت پیژني نو هغۀ ورته اووئیل : ما په خپلو سترګو دَ دشمن لښکر اولیدلو چه ددے میدان نه اخوا را روان دے او تاسو تباه کول غواړي، نو تاسو ماپسے راشئ زۀ تاسو دَ دشمن دَ لارے نه علاوه په بله لاره بوځم، دے دپاره چه تاسو نجات بیامومئ۔ نوددے سړي خبره ځینے خلق اومني۔ او هغه سړے په دوئ کښے دا آواز اوکړي چه تاسو نجات بیاموندۀ، نو دوئ لاړ شي او خپل نفس او اهل خلاص کړي۔ او دَ دغه خلقو نه اکثریت اووائي : مونږ خو دلته کورونه او بنګلے جوړے کړي، او مالونه او ځناورو مو ساتلي۔ دلته دَ ناستو خلقو چه څۀ حال وی، هغه به زمونږ هم وی ځکه چه دَ دوئ مالونه هم زمونږ نه ډیر دی او اهل هم۔ څۀ چه دوئ ته رسیږي هغه به مونږ ته هم رسیږي۔ نو دے کښے دشمن راشي او دَ دوئ بیخ او بنیاد اوباسي۔ دا مثال دَ بخاري او مسلم په حدیث کښے راغلے۔ ابو موسیٰ اشعري رضی الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائیل :

« بیشکه زما مثال او دَ هغه هدایت مثال چه په هغے باندے الله زۀ رالیږلے یم، دَ هغه سړي پشان دے چه هغه خپل قوم ته راشي او ورته اووائي : اے زما قومه ! ما په خپلو دے سترګو لښکر اولیدۀ او زۀ ستاسو دپاره بربنډ (مخلص) یرونکے یم۔ نو تاسو ځان خلاص کړئ۔ نو په قوم کښے یوه ډله دَ دۀ خبره اومني، هغوئ دَ شپے په ابتداء کښے سفر شروع کړي او په خپله مخه روان وی۔ او په دغه قوم کښے بله ډله دے دروغژن اوګنړي، او په خپلو ځایونو پاتے شي، سَحر له لښکر حمله اوکړي او دوئ تباه کړي او بنیاد ئے اوباسي۔ نو دا مثال دَ هغه چا دے چه هغۀ زما تابعداري اوکړه، او هغه دین پسے روان شۀ کوم چه ما را راوړے۔ او دَ هغه چا مثال دے چه زما نافرماني اوکړي، او ما چه کوم حق راوړے، هغه دروغژن اوګنړي »۔

۱۶ - **شپاړسم مثال** : یو سړے دے چه یو کورئے تیار کړو، او هغه ئے ښائسته جوړ کړو، په هغے کښے ئے ټول سامانونه کیخودل۔ او هغے طرفته ئے خلقو ته دعوت ورکړو۔ څۀ وخت چه څوک را داخل شي نو په یو نرمه بستره ئے کینوی او دَ سرو زرو پلیټ ورته را مخے ته

کړی چه په هغې کښې غوښنه پرته وی، او ددهٔ مخې ته ډیر عُمده لوښی پلیتونه کیدی، او خپل خادمان ددهٔ په خدمت کښې اولګوی۔ نو عقلمند ته پته وی چه دا هر څهٔ دَ کور والا ملکیت، سامانونه او خادمان دی۔ نو په دے سامانونو باندے یو مودے پورے فائده آخلی څو پورے چه دے په دغه کور کښې وی، او خپل زړهٔ دَ هغې په هیڅ څیز پورے نهٔ نښلوی او نهٔ دا په زړهٔ کښې راولی، بلکه دا خو یو میلمه دے، هغه ځائے به کینی کوم ځائے چه دهٔ لره کور والا کینوی، او هغه خوراك به کوی کوم چه کور والا دهٔ ته وړاندے کوی، او ددے نه اخوا به تپوس نهٔ کوی۔ ځکه ددے خبرو نه دهٔ لره کوربه خاطر جمع کړے دے، ځکه چه هغه دَ میلمنو ډیر قدر او عزت کوی۔ نو دغه کس عزتمند داخل شی، او په دغه کور کښې مزے واخلی او دَ هغې نه په قدر او عزت سره را اووځی، چه کوربه ددهٔ بدی نهٔ بیانوی۔

او هرچه کم عقل سړے دے، نو هغه دَ دغه کور دَ اوسیدو سوچونه کوی، او دَ کور په یو قونج کښې دَ دغه سامانونو دَ جمع کولو کوشش کوی، او په خپله طبع په یو ځائے کښې کینی، او دَ خپل خواهش او ارادے مطابق په دغه کور کښې تصرف کوی۔ او څهٔ وخت چه کور والا څهٔ شے وړاندے کړی، نو دے ځان سره سوچونه کوی چه دا شے به زهٔ څنګه خپل ملکیت جوړ کړم او دَ نورو میلمنو نه به ئے ځانته کړم۔ او په دے حالتونو کښې کور والا هم ددهٔ دا هر څهٔ وینی ګوری۔ لیکن هغه چونکه عزتمند سړے وی، نو دَ هغهٔ سخاوت او عزت ددے خبرے اجازت نهٔ ورکوی چه هغه دغه میلمه دَ کوره اوباسی۔ تردے چه کله کوربه دا ګمان اوکړی چه میلمه خو دغه ټول سامانونه دَ خپل ځان کړل او په کور او دَ هغې په سامانونو کښې ئے دَ خپل ملکیت پشان تصرفات شروع کړل۔ نو کور والا دغه میلمه ته خپل خادمان را اولیږی او په زوره ئے دَ کوره اوباسی، او هر هغه شے ترے واخلی کوم چه دهٔ دَ ځان کړے وو۔ کوربه ورته غصه وی او دَ خادمانو په مخکښې ئے رسوا کړی۔

نو عاقل دے په دے مثال سوچ اوکړی، ځکه چه دا دَ واقع او حقیقت مطابق دے۔ والله المستعان۔

ابن مسعود ﷺ فرمائی : هر څوك په دے دنیا کښې میلمه دے، مال ئے په سوال غوښتلے شوے شے دے۔ میلمه به کوچ کوی او په سوال غوښتلے شوے شے به واپس کولے شی۔

ام سلیم – رضی الله عنها – فرمائی : که چرے یو قوم یو کور والو ته په سوال باندے څهٔ شے ورکړی، او بیائے ترے اوغواړی نو آیا دغه کور والا دا منع کولے شی ؟ (بخاری).

۱۷ – **اولسم مثال** : یو قوم دے چه په بیابان کښې روان دے۔ دوئ تږی شول نو یو سمندر

ته اورسیدل خو دَ هغې اوبۀ ډیر ترخې او مالګیجنې دی، خو دغه خلق دَ خپلې سختې تندې په وجه د دغه اوبو تریخوالے او ترېو والے نۀ محسوسوی۔ څومره چه هغوئ څکل کوی، هغومره زیات تږی کیږی۔ تردے چه دَ دوئ کولمے پریکړے شی او دَ تندے نه مړۀ شی۔ په دوئ کښې چه کوم هوښیارخلق دی هغوئ پیژنی چه دا تروے ترخې اوبۀ دی، دے سره څوك نۀ خروبیږی۔ نو دوئ دَ دغه اوبو نه څۀ مسافت لرے لاړ شی او یوه خوږه زمکه بیامومی او په هغې کښې کوهے اوکنی، او په هغې کښې دَ دوئ دپاره خوږے اوبۀ را اوخیژی۔ نو هغه اوڅکی، ځان خروبه کړی، وړۀ واغړی او خپلو هغه ملګرو ته آواز اوکړی چه هغوئ دَ سمندر په غاړه ناست دی۔ هلکه راشئ خوږے اوبۀ دی۔ خو په هغوئ کښې څوك دا خبره په ګپ واروی، څوك مخ واړوی او په خپلو ترخو اوبو څکلو راضی وی، او په دوئ کښې څوك دا خبره قبوله کړی او راشی، خو دا راتلونکی کسان کم خلق وی۔

او دا مثال بعینه عیسیٰ ﷺ بیان کړے۔ هغه فرمائی: « دَ دنیا دَ طلبګار مثال لکه دَ سمندر دَ تروو ترخو اوبو څکونکے دے، چه څومره ئے څکی هغومره تنده زیاتیږی تردے چه مړ شی »۔ (البداية و النهاية: ۱).

۱۸ - **اتلسم مثال**: دَ انسان او ددۀ دَ مال، قبیلے او عمل مثال دَ هغه سړی دے چه دَ هغۀ درے ورونه وی۔ نو دے سړی دپاره یو اوږد سفر مقرر شی چه ددے نه ددۀ خلاصے نۀ وی۔ نو دے خپل درے واړه ورونه را اوغواړی او ورته اووائی: تاسو وینئ چه اوس زۀ په دے اوږد سفر روان یم، او تاسو ته زما دَ ډیر احتیاج همدا اوس وخت دے۔ نو په دوئ کښې یو کس اووائی: زۀ خو ستا دے حالته پورے ورور ووم۔ دے نه پس زۀ نه ستا ورور یم اونۀ ملګرے او ماسره ددے نه علاوه بل هیڅ نشته۔ نو دے اووائی: تا ماته هیڅ فائده رانکړه۔

دویم ورور اووائی: زۀ ستا دے وخته پورے ورور یم او تاسره دَ سفر کولو پورے ولاړ یم، تردے چه تۀ سفر شروع کړے نو بیا زۀ نه ستا ورور یم او نۀ ملګرے۔ نو سفر کونکے ورور اووائی: زۀ ستا ملګرتیا ته محتاج یم۔ وروړ ئے ورته اووائی: دا نشی کیدے۔ نو هغه دریم ورور ته اووائی: وایه کنه تاسره څۀ دی؟ هغه وائی: زۀ ستا په صحت او مرض دواړو کښې ملګرے یم، زۀ ستا اوس هم ملګرے یم، او کله چه تۀ سفر کوے نو هم دے ملګرے یم، او کله چه په سفر روان شے نو هم درسره ملګرے یم۔ که تۀ روان ئے نو زۀ به در سره روان یم، اوکه تۀ چرته پړاؤ اچوے نو زۀ به درسره پړاؤ اچوم۔ او کله چه تۀ خپل مطلوبه ښار ته اورسیږے نو زۀ به تانه نۀ جدا کیږم، زۀ به ستا غمخوار یم۔ نو سفر کونکے ورور اووائی:

هلکه تهٔ خو په ټولو ملګرو کښې ما معمولي ګڼړلې، مابه ستا دغه نور ملګري په تا باندې غوره کول. نو آرمان دې چه ما ستا حق پیژندلې وې او تهٔ مې په دغه دواړو باندې غوره ګڼړلې وې.

دا مثال په یو مرفوع حدیث کښې هم راغلې. (ابن أبي الدنیا).

۱۹ - **نولسم مثال** : او دا ډېر ښائسته مثال دې :

یو بادشاه دې چه داسې عالیشان کورئې جوړ کړو، چه ددې پشان ښائسته او فراخه کور نهٔ چا لیدلې او نهٔ آوریدلې. په دې کور کښې هر قِسم خوندونه مقرر شوی. ددې کور دپاره ئې یوه لاره مقرر کړې. او یو داعي ئې لیږلې چه دې طرفته خلقو ته دعوت ورکوی. او په دغه لار باندې ئې یوه ښائسته جینئ کینولې. چه هغې ډېر ښائسته ډول او سنګار کړې. او دَ دغه جینئ دپاره ئې خادمان مقرر کړی. ټول خلق په دغه جینئ باندې ورتیریږی. دغه بادشاه په لاره باندې دَ تیریدونکو او بادشاه ته دَ تلونکو خلقو دپاره دَ دغه جینئ دَ لاس لاندې یوه توښه مقرر کړې. او دغه جینئ او دَ هغې خادمانو ته ئې وئیلي دی : چاچه ستا نه نظر ښکته کړو، او په تا باندې مانه مشغول نهٔ شو، او تانه ئې توښه اوغوښتله چه دَ هغې په ذریعه ماته را اورسیږی، نو تهٔ دَ هغهٔ خدمت اوکړه او توښه ورته ورکړه او زما طرفته دَ سفر کولو نه ئې مه منع کوه. بلکه دَ هر هغه څیز په ورکولو کښې ورسره مدد اوکړه، دَ کوم په ذریعه چه هغه ماته را رسیږی.

او چاچه ستا طرفته سترګې اوږدې کړې، او په تا خوشحاله شو، او تاله ئې په ما باندې ترجیح درکړه، نو هغهٔ له سخت عذاب ورکړه او دَ سخت سپکاوی سره ئې مخامخ کړه. بلکه دَ هغهٔ نه خدمت واخله او داسې منډې ورکړه لکه څنګه چه وحشي څناور منډې وهی. او څوك چه تانه خوراك کوی، نو هغه په دې سره لږ شان دهوکه کړه او بیا ئې ترې واپس واخله، او خپل تابعدار او خادمان پرې مسلط کړه. او څومره چه ستا په محبت او تعظیم او اکرام کښې مبالغه کوی، نو هغومره ورته تهٔ مصیبت، سپکاوې او هجران رسوه. تردې چه دَ هغهٔ زړه ستا دَ حاصلولو په آفسوس کښې ټق اوچوی.

دا مثال دَ دنیا او آخرت دَ طلبګارو دې. او دَ یو اثر نه اخستې شوې دې. چه په هغې کښې الله تعالیٰ فرمائی : « اې دنیا! تهٔ دَ هغه چا خدمت کوه څوك چه زما خدمت کوی. او دَ هغه چانه خدمت اخله څوك چه ستا خدمت کوی ».

۲۰ - **شلم مثال** : یو بادشاه دَ آب وهواء په لحاظ په یو ښائسته علاقه کښې یو ښاریه

جوړه کړه، هلته ئې نهرونه اوخکل، وُنې ئې نالې کړې، په هغې کښې ئې قِسما قِسم بوټی او میوې اوکرلې۔ او خلقو ته ئې امر اوکړو چه په دې کښې کوم ښائسته ځایونه دی، نو هغې ته دې دَ یو بل نه په تادئ سره ورشی۔ څوك چه کوم ځائې ته مخکښې ورغې، هغه دَ هغهٔ شو۔ او څوك چه پاتې شو، نو هغه برباد او محروم دې۔ او ددې خلقو دپاره ئې دَ مسابقې میدان مقرر کړو، او په میدان باندې ئې یو غټه وُنه اوګرځوله چه هغه اوږد سورې لری، دَ هغې لاندې اوبهٔ روانې دی، او په وُنو کښې قِسما قِسم میوې دی۔ په وُنه کښې عجیبه آوازونو والامرغئ دی۔ دغه بادشاه اووائی : تاسو په دې وُنه مهٔ دهوکه کیږئ ځکه ډیر زر به دا دَ وېخه اوخکلې شی، سورې به ئې ختم شی، میوه به ئې بنده شی، مرغئ به ئې مړې شی۔ او هرچه دَ بادشاه ښاریه ده، نو دَ هغې سوری او خوراکونه همیشه دی۔ خلقو دا واوریدل او دَ هغې په تالاش کښې اووتل۔ نو دوئ په دغه وُنه باندې ورتیر شو، تولو دَ هغې لاندې پړاؤ واچولو او دَ هغې سورې ئې حاصل کړو، او دَ هغې خوندئې اوڅکلو۔ نو دوئ ته اووئیلې شو: تاسو خو ددې لاندې پړاؤ دې دپاره اچولې چه خپل ځانونه او خپلې سورلئ دَ مسابقې او یو بل نه مخکښې کیدلو دپاره تیار کړئ۔ نو راځئ ځانونه تیار کړئ او دغه ښار ته دَ سفر کولو دپاره بډې اووهئ۔ نو په دوئ کښې اکثر خلق اووائی : دا څنګه کیدې شی چه مونږ دا اوږد سورې، راحت او آرام او نغد نعمتونه پریدو، او په ګرمئ کښې په بیابانونو کښې دَ یو داسې شئ په تالاش کښې روان شو، چه هغه مونږ نهٔ دې لیدلې۔ نو تهٔ هغه شې آخله کوم چه وینې، او هغه شې پریده کوم چه دې آوریدلې۔ او خلق وائی : مونږ دا حاضر معاشونه دَ یو داسې معاش دپاره نشو پریښودلې چه نهٔ ده معلومه، مونږ به هغې ته کله رسیږو۔ نو په دوئ کښې دَ هرو زرو کسانو نه یو کس اودریدهٔ او وې وئیل : مونږ په هغه سوری څهٔ کوو چه هغه ختمیږی، اوپه هغه وُنه څهٔ کوو چه دَ هغې نړیدل او فناء کیدل رانزدې شوی۔ آیا یو هوښیار مسافر سره دا لائق دی چه کله دې دَ یوې وُنې سوری لاندې دمه اوکړی، نو هلته دې آبادی کوی او کورونه دې جوړوی او خپل کور او بال بچ دې په خپل ښار کښې پریدی ؟ دا کار خو رذالت او کم عقلی ده۔ نو زر زر تیار شئ او دَ مخکښې تللو کوشش اوکړئ۔

حکم المنية فی البرية جاری ... ماهذه الدنيا بدار قرار
اقضوا مآربکم سراعا إنما ... اعمارکم سفر من الأسفار
وتراکضوا خيل السباق وبادروا ... ان تسترد فانهن عواری

ودعـوا الاقـامة تـحـت ظـل زائـل انتـم عـلـى سـفـر بهـذا الـدار
مـن يـرجـو طيـب الـعيـش فيهـا إنـمـا يبـنـى الـرجـاء علـى شفيـر هـار
والـعيـش كـل الـعيـش بعـد فـراقهـا فـى دار أهـل السبـق أكـرم دار

(ترجمه : دَ مرګ فیصله په مخلوق کښې نافذه ده، دا دنیا دَ پاتے کیدو کور نهٔ دے۔ ★ خپل حاجتونه مو زر پوره کړئ۔ ولے چه ستاسو عمرونه خو دَ سفرونو نه یو سفر دے۔ ★ دَ زغلولو آسونو له لَته ورکړئ او تادِي اوکړئ هسے نه چه روستو پاتے شی، ځکه دا خو دَ شرم خبره ده۔ ★ او دَ یو داسے سوری لاندے اوسیدل پریدئ چه هغه ختمیدونکے دے، تاسو خو په دے کور کښې په سفر روان یئ۔ ★ څوك چه په دے کور کښې دَ خوش عیشئ امید لری، نو دے دَ خپل امید کور دَ یو پریوتونکی پاندِ په سر آبادوی۔ ★ پوره ژوند او معاشونه خو به ددے کور نه روستو وی۔ چه هغه په مسابقے کښې دَ مخکښې کیدونکو خلقو دپاره بهترین کور دے)۔

نو څوك چه هوښیار وو، هغوئ دَ مسابقے په کړئ کښې ورننوتل او دَ ملګرو دَ کموالی دَ وجے اونهٔ یریدل۔ بلکه په خپلو ارادو کلك شو او دَ ملامتګرو ملامتیا په دوئ څهٔ اثر اونهٔ کړو۔ او څوك چه دَ دغه وُنے لاندے روستو اودهٔ پاتے شهٔ۔ نو دَ دغه وُنے څانګے مراوے شوے، پاڼړے ئے اوغورزیدلے، مارغان ئے مړهٔ شو، میوے ئے ختمے شوے، او مالك ئے راغے او دَ ستے نه ئے اوخکله، نو دَ هغے سوری لاندے ناست خلق په ګرمو شګو باندے پاتے شول، او دَ هغے دَ سورے لاندے چه کوم عیش عشرت وو، دَ هغے په ختمیدوئے آفسوسونه اوکړل۔ مالك ئے دغه وُنه اوسیزله نو دَ هغے نه یو بلیدونکے اور جوړ شو۔ نو د دغه وُنے لاندے ناستو خلقو دا طاقت اونهٔ لرلو چه دَ هغے نه را اووځی۔ نو هغوئ اوویل : هغه ډله څهٔ شوه چه هغوئ زمونږ سره شریك دلته پراؤ واچولو اوبیا روان شول۔ نو دوئ ته اوویلے شو چه : خپل نظرونه پورته کړئ۔ دوئ چه اوکتل نو هغوئ دَ بادشاه په ښاریه کښې په عالیشان بنګلو او عجیبو خوندونو کښې ناست وو۔ نو د دوئ آفسوس نور هم زیات شو۔ او دوئ ته اوویلے شو چه : دا دَ روستو پاتے کیدونکو خلقو جزاء ده۔ مونږ په دے خلقو ظلم نهٔ دے کړے، بلکه دوئ په خپله په خپل ځانونو ظلم اوکړو۔ والله المستعان۔

۲۱ - **یویشتم مثال** : په حدیث کښې راځی : « ددے دنیا مثال دَ هغه جامے دے چه هغه دَ اول نه واخله آخره پوره اوشلیږی، او دَ یو نری تار دَ وجے نه چه په آخره کښې وی زوړنده وی۔ او دغه نرے تار هم نزدے دے چه اوشلیږی »۔ (رواه ابن ابی الدنیا)۔

۲۲ - **دو ویشتم مثال** : امام احمد دَ ابن عمر ﷺ نه حدیث نقل کړے۔ فرمائی : « رسول الله ﷺ مونږ ته په داسے وخت کښے را اووتلو چه نمر دَ کهجورو دَ څانګو په طرفونو ولاړ وو۔ وے فرمائیل : دَ دنیا دَ تیر شوی عُمر دَ اندازے په نسبت دومره پاتے ده، لکه څنګه چه زمونږ دَ ننئ ورځے نه څومره حصه پاتے ده »۔

نو دنیا ټوله یوه ورځ ده، رسول الله ﷺ دَدے په آخره کښے دَ نمر ډوبیدونه لږ مخکښے رالیږلے شوے۔ او نبی ﷺ فرمائی : « زهٔ او قیامت داسے رالیږلے شوی یو۔ او مسواکئ او مینځنئ ګوته ئے پیوسته کړه او اشاره ئے اوکړه »۔ (مسلم)۔

۲۳ - **دریشتم مثال** : دَ دنیا مثال لکه دَ غټ حوض دے چه د اوبو نه ډک وی، او هغه دَ خلقو او ځناورو دپاره ګودر وی۔ نو دَ خلقو دَ ډیر ورتګ په وجه حوض کمیدلو تردے چه دَ ډیر کمیدو په وجه په کښے لاندے خړے اوبهٔ پاتے شوے۔ چه په دے کښے ځناور متیازے کوی او خلق او ځناور دواړه په کښے ورګډیږی۔

امام مسلم په خپل صحیح کښے دَ عتبه بن غزوان ﷺ نه روایت کوی، دا فرمائی : « دنیا دَ ختمیدو اعلان کړے او په جلتئ سره شا کړے روانه ده، او ددے نه چه څومره حصه باقی پاتے ده نو دومره ده څومره اوبهٔ چه په یو لوښی کښے پاتے وی، چه هغے لره دَ هغے خاوند څکی۔ او بیشکه چه تاسو به ددے نه یو داسے کور ته نقل کیږئ چه هغه هیڅ زوال نهٔ لری، نو تاسو سره چه څهٔ دی، دَ هغے په غوره شئ سره ددے نه نقل شئ »۔

ابن مسعود ﷺ فرمائی : « بیشکه الله تعالیٰ ټوله دنیا لرے ګرځولے ده، نو څومره چه پاتے ده نو هغه دَ لګے نه لګه ده۔ او دَ پاتے حصے مثال ئے داسے دے لکه دَ غرهٔ په سوری کښے یو حوض چه صفا اوبهٔ ئے اوڅکلے شی او خیرنے اوبهٔ ئے پاتے شی »۔ (رواه البخاری فی کتاب الجهاد)۔

۲۴ - **څلیرشتم مثال** : یو قوم په یوه ښاریه کښے څهٔ وخت آباد دے۔ په هغے کښے پیښیے، آفتونه او مصیبتونه ډیر شول۔ نو د دوئ بادشاه یوه ښاریه جوړه کړه، چه هغه ددے هر څهٔ مصیبت نه محفوظ ده۔ او خلقو ته ئے حکم اوکړو چه هغے ته نقل شئ۔ او بادشاه په خپله دَ اولنئ ښاریئے نړولو اراده اوکړه، هغوئ ته ئے یو بل نه روستو استاذی اولیږل چه هغوئ له ئے په دے تیزی ورکوله۔ نو دغه خلق څو ډلے شول۔ په دوئ کښے کمو خلقو ته پته اولګیده چه دَ دوئ دَ ایساریدو موده کمه ده۔ نو دوئ غوره غوره شے حاصل کړو۔ او فضول څیزونه ئے پریخودل۔ نو دوئ تپوس اوکړو چه بادشاه ته ډیر نفع مند او خوښ څیز

کوم یو دے؟ نو کله چه دوئ اوپیژاندهٔ نو ددے نه علاوه بل ښکته څیز ته ئے اونهٔ کتل۔ او وئیلے: کله چه مونږ بادشاه سره دَ یو ے ملغلرے په ذریعه وفاداری اوکړه، نو دا مونږ ته دَ ډیرو بوجونو نه غوره ده۔ په دوئ کښے بعضو خلقو دَ خپلو همتونو مطابق ګنړ بوجونه بار کړل۔ او یو ے بلے ډلے په دے ښاریه کښے بنګلے آبادول شروع کړل۔ او کوم خلق چه دَ بادشاه ښاریئے ته روان وو، هغوئ سره ئے جنګ شروع کړو۔ او څومره چه دَ هغوئ نه کیدے شو، دَ هغوئ مالونه ئے اوخوړل او اهل ئے ترے واخستل۔ دَ دوئ ګناه صرف دا وه چه دوئ دَ بادشاه ښار ته ځی او دَ هغهٔ په رضا کښے رغبت لری۔

او یوه بله ډله چکرو، اوزګارتیا او راحت او آرام طرفته متوجه شوه۔ او وئیلے: مونږ ددے په آبادولو خپل ځانونه نهٔ ستړی کوو، او نهٔ مونږ ددے ښار نه نقل کیږو، او نهٔ مونږ دَ هغه چا مقابله کوو، څوك چه ددے نه دَ نقل کیدو اراده لری۔ نهٔ ورسره جنګ او دشمنی کوو۔ دَ بادشاه دپاره یوه بنګله وی چه په هغے کښے دَ هغهٔ حریم (علاقه ممنوعه) وی، دَ هغے نه ئے ګیر چاپیره دیوال تاؤ کړے وی، او په هغے ئے یو څوکیدار اودرولے وی۔ او ښار والا ئے هغے ته دَ رانزدے کیدو نه منع کړی وی۔ نو دا خلق لاړل او دَ هغے دیوالونه ئے سوری کړل او دَ هغهٔ ممنوعے علاقے ته اورسیدل۔ هغه ئے خراب کړل او هغه کارونه ئے اوکړل چه دَ هغے په وجه ئے بادشاه په غصه کښے را وستلو۔ په دے ئے هم اکتفاء اونهٔ کړه، بلکه نورو خلقو ته ئے هم ددے دَ خرابولو دعوت ورکړو۔ نو په دے مینځ کښے دوئ په دے حالت کښے وی چه ناګهانه دوئ دَ یو لښکر سره مخامخ شو۔ چه هغوئ په دوئ باندے چغه کړه۔ په دوئ کښے یو کس پاتے نهٔ شو۔ نو دوئ په دے حالت کښے دَ بادشاه مخامخ حاضر کړے شو۔ بادشاه هر یو له دَ هغهٔ دَ کردار مطابق سزا ورکړه۔ او په اولنئ ښاریه باندے ئے دا تاپه اووهله چه ددے نه پس به هیڅ کله هغه نهٔ آبادیږی۔ نو څوك چه ددے مجرمانو نه واپسی غواړی نو دَ دے هیڅ امکان نشته۔

نو دا ډیر عجیب مثال دے۔ فکر غواړی۔

۲۵ – **پنځیشتم مثال**: دَ دنیا مثال دَ خوب سره ورکړے شوے دے چه په هغے کښے انسان په عیش عشرت کښے وی۔ او دَ مرګ مثال دَ ویښیدلو سره ورکړے شوے۔

۲۶ – دارنګ دَ دنیا **مثال** لکه پټے دے، او عمل په دے کښے تخم دے۔ او ریبل ئے قیامت دے۔

۲۷ – دارنګه دَ دنیا **مثال** دَ یو کور دے چه دَ هغے دوه دروازے وی، په یوه دروازه خلق

داخلیږی، او په بله دروازه ترے اوځی۔

۲۸ - دارنګه دَ دنیا **مثال** دَ هغه زهرو دے چه دَ هغے خوند مزیدار او بوئے ئے خوشبویه وی، څوك چه هغه دَ خپل حاجت مطابق اوخوری نو په دے کښے دَ هغهٔ دپاره شِفاء وی، او څوك چه دَ ضرورت نه زیات اوخوری نو په دے کښے دَ هغهٔ مرګ وی۔

۲۹ - دارنګه ددے **مثال** دَ هغه مار پشان دے چه دَ هغهٔ څرمن نرمه او رنګ ئے ښائسته وی۔ چه مرګ هغے لره وهلے وی۔

۳۰ - دارنګه ددے **مثال** لکه په معده کښے دَ خوراك دے۔ کله چه اندامونه ددے نه حاجت واخلی نو ددے ساتل تکلیف او ضرر دے۔ چه دَ څو پورے ددے خاوند دا اونهٔ باسی هغه وخته پورے آرام نهٔ ورځی۔ لکه چه دیته نبی ﷺ دَ شینکو په مخکنی مثال کښے اشاره اوکړه۔

۳۱ - دارنګه ددے **مثال** ډیرے زیاتے بدرنګه ښځے دے، چه وربوز ئے وهلے، صرف سترګے ئے ښکاره کړی، خلق ئے په دے دواړو سترګو په فتنه کښے اچولی۔ خلقو ته دعوت ورکوی چه زما کور ته راشه، نو کله چه خلق ورشی او هغه ورته خپل مخ ښکاره کړی۔ نو هغوئ په چړو باندے ذبح کړی، او په کنده کښے ئے اوغورزوی۔ دنیا هم په خپلو عاشقانو مسلطه شوے ده، دا کارونه پرے دَ پخوا راسے کوی۔

او عجیبه خبره داده چه د دنیا عاشقان خپل ورونه وینی چه مړهٔ پراتهٔ دی، په دوئ آفتونه نازل شوی، حال دا چه دوئ په هغے کښے رغبت لری۔ ﴿وسكنتم في مساكن الذين ظلموا أنفسهم وتبين لكم كيف فعلنا بهم وضربنا لكم الأمثال﴾ [ابراهيم : ٤٥]

(او تاسو دَ هغه خلقو په ځایونو کښے اوسیدلی وئ چه هغوئ په خپلو ځانونو ظلم کړے وو، او تاسو ته دا هم معلومه شوے وه چه مونږ دَ هغوئ سره څهٔ کارونه اوکړل ؟ او مونږ تاسو ته مثالونه هم بیان کړی وو)۔

۳۲ - دارنګه دَ دنیا **مثال** لکه دَ خوب دے۔

۳۳ - دارنګه ددے **مثال** دَ ختمیدونکی سوری دے۔

څکه ددے ختمیدل په نظر نهٔ راځی، بلکه په بصیرت او عقل سره معلومیږی۔

دَ حسن بصریؒ په خوا کښے دَ دنیا تذکره اوشوه، وے فرمائیل : دا خو دَ اودهٔ سړی خوبونه لیدل دی، یا لکه دَ روان سوری **مثال** لری، چه هوښیار سړے په دے نهٔ دهوکه کیږی۔

یونس بن عبیدؒ فرمائی : ما خپل ځان په دنیا کښے نهٔ دے مشابه کړے مګر دَ هغه سړی

پشان چه هغه اوده شی او په خوب کښې هغه څۀ اووينی چه بدے ئے ګنړي، دارنګه هغه ځيزونه اووينی چه خوښ ئے ګنړی، دا په دے حالت کښې وی چه راويښ شی۔

۳۴ – دارنګه د دنيا **مثال** لکه دَ دهوکه بازے ښځے دے۔

نقل شوی دی چه عيسیٰ ﷺ تـه دنيا دَ يوے کنداسے بوډئ په شکل پيش کړے شوه چه په هغې هر قِسم ګاڼړه پرته وه۔ وے فرمائيل : تا څومره مړونه کړی دی ؟ هغې وئيلے : ماته ئے شماره نۀ ده معلومه۔ ورته ئے اوفرمائيل : هغه ټول مړونه تانه مړۀ شوی دی اوکه نه ټولو تاله طلاق درکړے ؟ هغې وئيلے : بلکه ټول ما وژلی دی۔ وے فرمائيل : تعجب دے ستا په باقی مړونو، چه هغوئ ستا دَ تير شوو مړونو نه څنګه عبرت نۀ آخلی۔

۳۵ – دارنګه دَ دنيا **مثال** دَ هغه بوډئ ښځے دے، چه ظاهری ډول او سينګار ئے کړے وی، خلق په هغې دهوکه شی، او کله چه دَ هغې دَ مخ نه پرده لرے کړی، نو دَ هغې بدرنګی ورته ښکاره شی، نو دوئ دَ هغې پسے په لګيدلو خپيمانه شی او دَ خپلو عقلونو دَ کمزورئ په وجه خجالته شی۔ چه ولے مونږ ددے په ظاهر دهوکه اوخوړله۔

۳۶ – دارنګه دَ دنيا **مثال** : دَ سمندر دَ تروو اوبو سره ورکړے شوے دے، چه څومره ئے انسان څکی هغومره ترږے کيږی۔

۳۷ – دارنګه دَ دنيا **مثال** : لکه دروغژن اميدونه دی، چه کله انسان په هوش کښې راشی نو هيڅ شے ئے په لاس کښې نۀ وی۔

ابن قيم رحمه الله په (القصيدة النونية ص : ۲۷۲) کښې فرمائی :

لكن ذا الإيمان يعلم أن هذا ❁ كالظلال وكل هذا فان

۳۸ – كخيال طيف ما استتم زيارة ❁ إلا وصبح رحيله بأذان

۳۹ – وسحابة طلعت بيوم صائف ❁ فالظل منسوخ بقرب زمان

۴۰ – وكزهرة وافى الربيع بحسنها ❁ ۴۱ – أولامعا فكلاهما أخوان

۴۲ – أو كالسراب يلوح للظلمآن فى ❁ وسط الهجير بمستوى القيعان

أو كالأمانى طاب منها ذكرها ❁ بالقول واستحضارها بجنان

وهى الغرور روؤس أموال المفا ❁ ليس الالى اتجروا بلا أثمان

او كالطعام يلذ عند مساغه ❁ لكن عقباه كما تجدان

هذا هو المثل الذى ضرب الرسول ❁ لها وذا فى غاية التبيان

واذا أردت ترى حقيقتها فخذ ❁ منه مثالا واحدا ذا شان

أدخل بجهدك اصبعا في اليم * وانظر ما تعلقه إذا بعيان
هذا هو الدنيا كذا قال الرسو * ل منمثلا والحق ذو تبيان
٤٣ - وكذاك مثلها بظل الدوح في * وقت الحرور لقائل الركبان
٤٤ - هذا ولو عدلت جناح بعوضة * عند الإله الحق في الميزان
لم يسق منها كافرا من شربة * ماء وكان احق بالحرمان
تالله ما عقل امرئ قد باع ما * يبقى بما هو مضمحل فان
هذا ويفتي ثم يقضي حاكماً * بالحجر من سفهٍ لذا الانسان
إذ باع شيئا قدره فوق الذي * يعتاضه من هذه الأثمان
فمن السفيه حقيقة ان كنت ذا * عقل وأنى العقل للسكران
والله لو أن القلوب شهدن منّا * كان شأن غير هذا الشان
نفس من الأنفاس هذا العيش ان * قسناه بالعيش الطويل الثاني

تر آخره پورې۔ چه دا ډير کره او پاخهٔ شعرونه دی۔



۳٤- فائده

دَ الله سُنت او طریقه نهٔ بدلیږی

﴿ ولا تجد لسنتنا تحویلاً ﴾ [اسرا: ۷۷]

(او تهٔ به زمونږ دَ طریقې دپاره بدلیدل اونهٔ مومې).

ددې راز دادې : چه الله عز وجل نهٔ بدلیږی نهٔ په کښې تغیر راځی او نهٔ ورته آفات راپیښیږی. نوکوم شے چه دَ آدم او نوح علیهما السلام وغیره په زمانه کښې دَ الله د رحمت سبب وو، هغه اوس په دې زمانه کښې هم دَ الله دَ رحمت سبب دے.

او کوم شے چه په دغه زمانه کښې دَ الله دَ غضب، غصې، لعنت او عذاب سبب وو، هغه په همدې زمانه کښې هم دَ هغهٔ دَ غضب، غصې، لعنت او عذاب سبب دے. ځکه دَ الله صفاتو کښې تغیر او تبدیل نهٔ راځی. نهٔ دَ هغهٔ په طریقه کښې بدلون راځی. هاؤ ! دَ رحمت او عذاب قِسمونه دَیو داسې حکمتونو په وجه کله مختلف کیږی، چه هغې ته عقلونه نهٔ رسیږی.

دا وجه ده، الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ و کذلك نجزی القوم المجرمین ﴾ [احقاف : ۲۵].

(او دغه شان مونږ مجرمانو خلقو ته سزا ورکوو).

او فرمائی : ﴿ إنا کذلك نفعل بالمجرمین ﴾ [مرسلات : ۱۸]

(مونږ دغسې جزاء مجرمانو ته ورکوو).

نو کله چه دَ مثال په طور مونږ په یو ځیز کښې دَ الله رحمت اونهٔ مندلو، نو دابه زمونږ دَ ظلم دَ وجې نه وی.

****

۳۵- فائده

ناشنا وعظونه

مالك بن دينار رحمه الله فرمائي: کله چه ته په خپل زړهٔ کښې سختي، په خپل بدن کښې کمزوري، او په خپل رزق کښې محرومتيا اووينې، نو پوهه شه چه تا داسې خبرې کړې دي چه تاله مناسب نهٔ وې. (النية: ۱/۲۳۸).

تفسير السراج المنير (۲/۲۲۷) کښې راځي: يوه ډله په مکه کښې فضيل بن عياض ؒ ته راغله. هغهٔ ترې تپوس اوکړو، تاسو دَ کوم ځائے يئ؟ هغوئ وئيلې: دَ خراسان. فضيل ؒ ورته اوفرمائيل: دَ الله نه يريږئ نور که دَ هر ځائے سره تعلق لرئ. او ياد ساتئ: کهٔ بنده پوره احسان اختيار کړي او هغهٔ دپاره يوه چرگه وي او هغې سره بدي کوي، نو دا به دَ محسنينو نه شمار نهٔ وي. (عجيبه خبره ده).

ابو محمد وائي: په خلقو کښې ډير جاهل هغه څوك دے چه تجارت او دَ هغې گټه او ځائے ئے اوپيژندهٔ او بيا دَ هغې نه غافل شو، يائے سستي اختيار کړه. تردے چه تجارت او گټه ختمه شوه نو بيا په خپلو لاسونو چکونه لړوي او خپيمانه وي، خو خپيمانتيا ورته فائده نهٔ ورکوي.

دارنگه چا چه دَ الله سبحانه وتعالىٰ کمال اوپيژندهٔ او دَ اعمالو مرتبې ئے هم اوپيژندې، دارنگه احسان، اشفاق، يره، محبت، انابت، خشوع، خوف، خشيت، توکل، يقين، اخلاص، اخبات (ډيره عاجزي)، تزکيه او باقي مقامات دَ ايمان ئے اوپيژندل. بيا دَ هغې نه غافل شو يائے سستي اختيار کړه، او دَ هغې په حاصلولو کښې ئے کوشش اونهٔ کړو. نو آيا ددهٔ پشان جاهل او تاواني څوك شته دے؟ بيا ددے هر څهٔ باوجود دَ علم او عقل دعوىٰ کوي، او خلقو ته فتوے ورکوي او پند او نصيحت ورته کوي؟

محترم لوستونکيه!

فکر اوکړه چه هسې نهٔ تهٔ خو چرته په دوئ کښې داخل نهٔ ئې؟ او يا ددے حروفو ليکونکيه! کيدے شي چه تهٔ هم دَ ناپوهانو نه ئې؟

اے ربه! بخښنه اوکړے، اے کريمه ذاته! مونږ معاف کړے!

زهٔ وايم : ډيره دَ تعجب او خندا خبره ده چه مشركان دَ خالق او مالك او رازق قائل وو، دارنګه ددے قائل وو چه ژوند او مرګ دَ الله په اختيار کښے دے. او دَ دوئ تندی دَ هغهٔ په لاس کښے دی، څنګه چه غواړی هغه په کښے تصرف کوی. دَ دوئ زړونه دَ هغهٔ په لاس کښے دی، هغه په هر څهٔ قادر او په هر څيز پوهه دے. بيا هم هغوئ دَ الله توحيد اونهٔ منلو بلکه هغهٔ سره ئے شريکان جوړ کړل. دَ بل چا عبادت ئے کولو، غيرُ الله ته ئے توجه کوله. هغهٔ نه ئے دعاګانے غوښتلے. حال دا چه هغوئ دَ غير الله دَ فقيرئ او عاجزئ اقرار کولو. او دا ورته معلومه وه چه دا دَ دوئ نه سخت مصيبتونه نشی لرے کولے. نو دَ دوئ معامله څومره ناشنا ده ؟ دوئ څنګه دا دواړه ضدی عقيدے جمع کړے وے ؟

ليکن ددے نه هم زيات قابلِ تعجب خبره دَ عامو مسلمانانو معامله ده : هغه دا چه دوئ دا اقرار کوی چه خالق حق دے، هغه يواځے په عالَم کښے تصرف کوی، هر شے دَ هغهٔ په لاس کښے دے. دَ هغهٔ دَ عبادت اقرار کوی او شرك بد ګڼړی او دَ خالق دَ توحيد اعلان کوی. او ددے باوجود دَ دوئ په اکثريت کښے به تهٔ اونهٔ وينے چه الله سره محبت کوی، دَ هغهٔ تعظيم کوی، هغهٔ نه يريږی. نهٔ خپل معبود او پيداکونکی ته شوق کوی. حال دا چه دوئ هغهٔ ته څومره محتاج دی او هغه دَ دوئ نه څومره غنی او بے پرواه دے. دارنګه تهٔ به په دوئ کښے نهٔ خشيت اووينے، نهٔ دَ خپل رب وقار، نهٔ ښائسته طاعت، نهٔ حياء او ادب. تهٔ به وائے چه دوئ په خُلهٔ اقرار خو کړے ليکن دا خبره ئے زړهٔ ته نهٔ ده کوزه شوے ! يا کيدے شی چه دوئ ګمان قدرے کوی، يقين ئے لا نهٔ دے راغلے !!

الله تعالىٰ فرمائی : ﴿ قل من يرزقكم من السماءِ والأرض أمن يملك السمع والأبصار ومن يخرج الحيّ من الميت ويخرج الميت من الحيّ ومن يدبر الأمر فسيقولون اللّٰه قل أفلا تتقون فذلكم اللّٰه ربكم الحق فماذا بعد الحق إلا الضلال فأنى تصرفون ﴾ [يونس : ٣٢]

(ورته اووايه ! دَ آسمان او زمکے نه تاسو له څوك رزق درکوی، او دَ غوږونو او سترګو مالك څوك دے ؟ او څوك دے چه دَ ژوندی نه مړے او مړی نه ژوندے را اوباسی ؟ او څوك دَ ټولو کارونو تدبير کوی ؟ زر دے چه دوئ به اووائی : الله. ورته اووايه ! نو بيا تاسو دَ الله نه ولے نهٔ يريږئ ؟ دا خو ستاسو حق رب دے نو دَ حق نه پس خو بس صرف ګمراهی وی، نو تاسو کوم طرفته ګرځولے شئ).

نو اوګوره څنګه ئے دوئ ته اوفرمائيل چه : « آيا تاسو دَ الله نه نهٔ يريږئ ».

نو څوك چه دَ ربوبيت اقرار کوی او الله عز وجل نه نهٔ يريږی، نو ددهٔ اقرار نقصانی دے، او

أعتراف ئے دَ خُلے دے۔

الله تعالىٰ فرمائی : ﴿ يا أيها الناس اذكروا نعمة اللّٰه عليكم هل من خالق غير اللّٰه يرزقكم من السماءِ والأرض لا إله إلا هو فأنى تؤفكون ﴾ [فاطر : ٣]

(اے خلقو ! په خپلو ځانونو باندے دَ الله نعمت راياد کړئ آيا دَ الله نه سيوا بل څوك پيدا کونکے شته چه تاسو له دَ آسمان او زمکے نه رزق درکړی؟ نشته بل څوك لائق دَ عبادت سيوا دَ هغهٔ نه نو تاسو کوم طرفته اړولے شئ)۔

الله اکبر ! څومره عالمان، طالبان او اميان خلق په دے مصيبت کښے واقع دی ! اقرار کوی او عمل نهٔ کوی بلکه باك هم نهٔ کوی۔ دَ الله نه داسے بے پرواه شوی دی ځنګه چه کافران بے پرواه دی۔ نو دَ الله په دے کښے څومره حکمتونه دی ؟ ﴿ حكمة بالغة فما تغن النذر ﴾.

اے رب العالمينه ! مونږ الله والا جوړ کړے !

٣٦- فائده

موسىٰ عليه السلام دَ خپل ځان نه ښکته بل څوك اونهٔ موندهٔ – يعنے خضر عليه السلام – تردے چه دَدهٔ نه علاوه بل هر څوك ئے پريښودلو۔ نو دغه شان بنده هم دَ خپل مولىٰ قُرب او محبت هغه وخته پورے نشی بياموندے تردے چه دَ خپل مولىٰ نه علاوه بل هر چانه ځان فارغ کړی۔ (حياة الحيوان : ١/٣٨٥).



۳۷- ډیره مهمه او ضروري فائده

د الله د رضامندئ علامات

مونږ به څنګه پیژنو چه الله عز وجل مونږ نه راضي دے؟
که چرے الله زمونږ نه راضي وي، نو دا خو زمونږ آخري آرمان او لویه کامیابي ده، چه یقینًا ددے نه غټه نیك بختي بله نشته۔
اوکه چرے مونږ نه راضي نهٔ وي -- والعیاذ بالله - نو دا خو بیا واقعي محرومتیا او همیشه تباهي، ښکاره تاوان او دردناك عذاب دے۔ دا وجه ده ددے پیژندل او ددے اهتمام کول دَ هر څهٔ نه زیات واجب او ضروري خبره ده۔
نو مونږ وایو : ددے دَ پیژندلو څهٔ علامات دي چه ځینې اجتماعي او ځینې انفرادي دي :
۱ - **په بعض** آثارو کښې راغلي چه بني اسرائیلو دَ موسیٰ ؈ نه تپوس اوکړو، خپل رب نه تپوس اوکړه چه هغه زمونږ نه کله راضي کیږي او کله رانه خفه کیږي، او ددے به علامه څهٔ وي ؟ نو الله ورته وحي اوکړه چه : کله زهٔ په خپل وخت باران کووم، او په تاسو باندے ستاسو غوره خلق مشران مقرر کړم، او ستاسو مال ستاسو سخیانو سره وي، نو (پوهه شئ) چه زهٔ تاسو نه راضي یم۔ او کله چه زهٔ بے وخته بارانونه ورووم، او ستاسو شریان خلق په تاسو مشران مقرر کړم، او ستاسو مالونه ستاسو دَ بخیلانو سره وي، نو زهٔ تاسو نه خفه یم۔(قوت القلوب ص ۱۳۷).
۲ - **په بعض** آثارو کښې راغلي : الله تعالیٰ فرمائي : « کله چه زما خبره منلے کیږي، نو زهٔ راضي شم، اوکله چه زهٔ راضي شم نو برکت اچوم۔ او زما برکت د انسان اووم پُشته پورے رسي۔ او کله چه زما نافرماني کیږي نو زهٔ غصه کیږم۔ اوکله چه غصه شم نو لعنت کوم، او زما لعنت اووم نمسي پورے رسي »۔
(ذکره الإمام أحمد في الزهد وهو في الجواب الکافي).
۳ - دارنګه کله چه الله خپل بنده په خپل طاعت کښې استعمالوي نو دا دَ رضا علامه ده، اوکله ئے چه دَ الله په نافرمانئ کښې استعمالولو، نو دا دَ ناراضتیا نښه ده، لکه دے خبرے ته الله تعالیٰ په سورتِ فجر کښې اشاره فرمائیلے ده :

﴿ كلا بلا تكرمون اليتيم ﴾ الآية [فجر : ١٧]
(هیڅ کله داسې نهٔ ده ! تاسو دَ یتیم عزت نهٔ کوئ).
دارنګه په دې قولِ دَ الله تعالیٰ کښې ورته اشاره شوې : ﴿ ألم تر أن اللّٰه یسجد له من فی السموات ومن فی الأرض والشمس والقمر والنجوم والجبال والشجر والدواب وکثیر من الناس وکثیر حق علیه العذاب ومن یهن اللّٰه فماله من مکرم إن اللّٰه یفعل ما یشاء ﴾ [حج : ١٨]
(آیا تهٔ نهٔ ګورې چه الله ته سجده کوی هغه څوك چه په آسمانونو او زمکه دی، او غرونه، ونې، څناور او ډیر خلق. او نور ډیر خلق دی چه په هغوئ دَ عذاب فیصله شوې، او چالره چه الله ذلیله کړی نو هغهٔ دپاره څوك عزت ورکونکے نشته، بیشکه الله چه څهٔ اوغواړی کوی ئې).
نو الله ته سجده کونکے عزتمند دې، الله ترې راضی دې، ځکه خو، ئې خپل ځان ته په سجده کولو توفیق ورکړے دې.
دا وجه ده، په بعضِ آثارو کښې راغلی چه : دَ عطاء بن ابی رباح ؒ وینځې دَ شپې مونځ اوکړو او بیائې دَ الله نه دا دعاء غوښتله چه : اې ربه ! زهٔ تانه دَ خپل هغه محبت په وسیله، کوم چه ستا ما سره دې دا غواړم چه زما حاجت پوره کړه. نو عطاء ؒ ورته اوونیل : داسې مهٔ وایه ! بلکه داسې وایه : اې الله ! زهٔ تانه دَ هغه محبت په وسیله سوال کوم، کوم چه زما تا سره دې. چه زما حاجت پوره کړه. نو هغه وینځې اوونیل : که چرې الله ما سره مینه نهٔ کولے نو زهٔ به ئې خپلې مخې ته نهٔ اودرولے. نو عطاء ؒ دَ هغې دَ فهم نه تعجب اوکړو.
دې وجې نه بعضِ سلفو نه به چه کله دَ شپې څهٔ وظیفه یا دَ جماعت مونځ فوت شو، نو سخت به خپه کیدلو چه دا چرته عذاب نهٔ وی ؟ یا دا چرته ناراضتیا نهٔ وی ؟ الله ولې ماله دَ خپل طاعت توفیق رانکړو ؟ دَ خپلو احوالو تالاش به ئې کولو.
او همدا کار په هر هغه چا لازم دې څوك چه دَ الله تعالیٰ او دَ آخرت اراده لری.
په حدیث کښې دی : « الله چه کله خپل بنده ته دَ خیر اراده اوکړی، نو هغه استعمال کړی. چا اوونیل : څنګه ئې استعمال کړی ؟ وې فرمائیل : دَ مرګ نه مخکښې ورله دَ نیك عمل توفیق ورکړی »۔ (رواه الترمذی وغیره).
٤ – **بله علامه** داده : چه کله ستا زړهٔ دَ الله دَ محبت نه ډك وی، نو تهٔ پو هه شه چه الله تانه راضی دې. الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ یحبهم ویحبونه ﴾ [مائده : ٥٤]
(الله دوئ سره مینه کوی او دوئ الله سره مینه کوی).

دلته الله خپل محبت دَ دوئ دَ محبت دپاره سبب اوګرځولو۔ نو کله چه ستا په زړهٔ کښې دَ الله محبت وی نو پو هه شه چه ستا محبت دَ الله دَ طرفه دَ دوه محبتونو ترمینځه دے۔ (۱) یو خو ستا دَ محبت نه مخکښې محبت (۲) او بل ستا دَ محبت نه روسته محبت۔ او زما په خیال اکثر خلق ددے نه غافله او په خپل کارونو کښې مشغوله دی۔ والله المستعان۔

۵ - بله علامه : قبولیت دے : څوك چه په مؤمنانو کښې قبول وی، هغوئ ددهٔ مدح او صفتونه کوی، ددهٔ اکرام او تعظیم کوی، نو دا ددے نښه ده چه ددے بنده نه الله تعالیٰ راضی دے۔ الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ إن الذين آمنوا وعملوا الصالحات يسجعل لهم الرحمن ودًا ﴾ [مريم : ۹٦]

(کومو خلقو چه ایمان راوړے او نیك عملونه ئے کړی خامخا به رحمن ذات – دَ مؤمنانو په زړونو کښې – دَ دوئ سره مینه محبت پیدا کوی)۔

په حدیث کښې راځی : « بیا دَ دے کس دپاره په زمکه باندے مقبولیت کیخودے شی »۔

په اول جلد (۱/۱۱۱) او (۱/۱۲۳) کښې دے فائدے ته نزدے فائده تیره شویده۔

٦ - دَ الله دَ کتاب سره تعلق لرل :

دا هم دَ الله دَ راضی کیدو نښه ده۔ لکه دیته په دے حدیث کښې هم اشاره شوے : ابو هریره رضی الله عنه نه موقوفاً او مرفوعًا روایت دے۔ نبی ﷺ ارشاد اوفرمایه : « تاسو قرآن لولئ ځکه چه دابه په قیامت کښې دیر ښهٔ سفارش کونکے وی، دابه دَ قیامت په ورځ وائی : اے ربه ! دهٔ ته دَ کرامت او عزت جوړه واغوندوه ! نو دَ کرامت جوړه به ورته واغوستولے شی۔ اے ربه ! دهٔ ته دَ کرامت لباس واغوندوه ! نو دَ کرامت لباس به ورته واچولے شی۔ اے ربه ! دهٔ ته دَ عزت او کرامت تاج په سَر کړه ! اے ربه ! دهٔ نه راضی شه، ځکه چه ستا دَ رضا نه پس بل هیڅ شے نشته »۔

(رواه الدارمي : ۲/۳۰۹) وإسناده حسن بل صحيح).

۷ - اخلاص کول، مونځ کول او زکوٰة ورکول :

انس بن مالك ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « څوك چه دَ دنیا نه په داسے حالت کښې جدا شئ چه دَ الله وحده لا شریك په عبادت کښې ئے اخلاص کولو، هیڅ شرك ئے نهٔ کولو، دَ مانځه پابندی ئے کوله او زکات ئے ورکولو، نو په داسے حال کښې به مړ شی چه الله به ددهٔ نه راضی وی »۔ (ابن ماجه رقم : ۷۰، وإسناده حسن).

۸ - دارنګه : بنده نه دَ الله راضی کیدل په دے سره پیژندلے کیږی چه بنده په هغه اعمالو

باندے مشغول وی، کوم چه دَ الله دَ رضا سبب دے۔ لکه دا شل (۲۰) اسباب دی چه مونږ په اول جلد (۱/ ۳۹۰) کښے په فائده نمبر (۵۸) کښے ذکر کړی دی۔

۹ - په حدیث کښے راځی: ابن مسعود ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: «بیشکه الله ستاسو اخلاق داسے تقسیم کړی څنګه ئے چه ستاسو رزقونه تقسیم کړی، او بیشکه الله دنیا خپلو خوښو او ناخوښو ټولو ته ورکوی۔ خو دین صرف خپلو محبوبانو ته ورکوی۔ نو چاله چه الله دین ورکړی نو یقیناً چه دا ورته خوښ دے۔ او په هغه ذات مے دے قسَم وی چه دَ هغهٔ په لاس کښے زما ساه ده! هیڅ یو بنده تر هغے نشی مسلمان کیدے تردے چه دَ هغهٔ زړهٔ او ژبه مسلمانه نشی، او تر هغه وخته پورے مؤمن کیدے نشی تر څو چه ددهٔ ګاونډی ددهٔ دَ تکلیف نه په امن نشی»۔

(رواه أحمد والبيهقي في الشعب وهو في المشكاة: ٢/٤٢٥).

۱۰ - بنده نه دَ الله دَ راضی کیدو **بله علامه** داده چه:

دهٔ ته دَ اتباع سُنت توفیق ورکړی او دَ هغے محبت ورته نصیب کړی۔ الله تعالیٰ فرمائی:

﴿قل إن كنتم تحبون الله فاتبعوني يحببكم الله ويغفر لكم ذنوبكم و الله غفور رحيم﴾ [آل عمران: ۳۱]

(ورته اووایه! که چرے تاسو الله سره مینه کول غواړئ نو ما پسے روان شئ الله به تاسو سره مینه اوکړی او ګناه به درته اوبخښی او الله بخښونکے مهربان دے)۔

نو څوك چه دَ الله محبوب جوړ شی، هغهٔ نه به خپل مولیٰ ولے راضی نهٔ وی؟

۱۱ - **بله نښه** دَ الله دَراضی کیدو داده چه:

الله بنده په هغه کارونو کښے اولګوی چه هغه دَ الله دَ محبت راښکلو سبب جوړیږی۔ چه ددے مونږ په اول جلد (۱/ ۱۳۰) فائده نمبر(۱۹) کښے نورلس (۱۹) اسباب ذکر کړی دی۔ هغے ته رجوع اوکړه او فکر په کښے اوکړه ځکه چه دا ډیر مهم دی۔

* * * * * * * * *

٣٨- ناشنا فائده

نفع منډ علم

هغه علم چه بنده له په دنيا او آخرت دواړو کښې فائده ورکوی او نور خلق دهٔ نه نفع آخلی، هغه په يو څو کارونو سره حاصليږی.

١ - په دے کښې دَ ټولو نه اهم او قوی شے احسان دے :

او هغه دا چه بنده په خپلو ټولو احوالو کښې په خپل زړهٔ سره الله عز وجل ته ګوری، دَ هغهٔ دَ زړهٔ نه د الله رب العزت عظمت نهٔ غائبيږی. او په خپل عبادت کښې داسے کيفيت لری چه ګويا الله تعالیٰ ته ګوری، که دا نهٔ وی نو الله خو دهٔ ته ګوری. لکه چه دا خبره دَ جبرئيل په حديث کښې راغلے. او کله چه دهٔ ته څهٔ ګناه راښکاره شی نو خپل خالق او مالك ته اوګوری او دَ هغهٔ دَ نظر نه ورله حياء ورشی او هغه ګناه دَ هغهٔ دَ وجے پريدی.

الله سبحانه وتعالیٰ دا په سورتِ يوسف کښې ذکر کړے، لکه فرمائی :

﴿ ولما بلغ أشده آتيناه حكمًا وعلمًا و كذلك نجزى المحسنين ﴾ [يوسف : ٢٢]

(او هر کله چه يوسف ﷺ ځوانئ ته اورسيدهٔ نو مونږ ورته فيصلے او دَ نبوت علم ورکړو، او دغسے مونږ نيك عملو ته بدله ورکوو).

معلومه شوه چه الله محسنينو له دَ هغوئ دَ احسان د وجے نه حکمت او علمِ نافع ورکوی. نو څوك چه په خپل احسان کښې کامل وی، نو دابه په خپل علم کښې کامل وی. او څوك چه په احسان کښې کامل نهٔ وی هغه به په خپل علم کښې کامل نهٔ وی.

بيا الله تعالیٰ دَ يوسف ﷺ احسان په خپل دے قول سره ذکر کړے :

﴿ وراودته التى هو فى بيتها عن نفسه وغلقت الأبواب وقالت : هيت لك قال : معاذ الله إنه ربى أحسن مثواى إنه لا يفلح الظالمون ﴾ [يوسف : ٢٣]

(او په چَل وَل باندے مطالبه اوکړه دهٔ نه هغه ښځے چه دے دَ هغے په کور کښے وو دهٔ دَ نفس په باره کښے او دروازے ئے بندے کړے او، وئيلے : دلته راشه، هغه وئيلے : په الله پورے پناه ! دا خو زما رب دے چه ماله ئے دَ استوګنے دپاره ښه ځائے راکړے، بيشکه ظالمان نشی کاميابيدلے).

نو اوګوره دَ یوسف ﷺ پوره احسان ته، دَ ښځې سره یواځې شوے دے او دے دَ ځوانئ په حالت کښې دے، او ښځه هم دَ منصب او جمال والا ښځه ده، او هغه په دهٔ باندے حاکمه هم ده، او دے مسافر هم دے، نهٔ ئے ښځه شته او نهٔ وینځه !

دغه ښځې هغهٔ نه قِسما قِسم طریقو سره مطالبه اوکړه۔ او دَ هغهٔ شهوت هم پوره طور سره سخت او کامل وو۔ وجه داده چه څوك دَ الله نه ډیر یریږی نو دَ هغهٔ شهوت هم ډیر زیات وی !!

ددے هر څهٔ باوجود یوسف ﷺ خپل خالق او مالك ته اوکتل او وے فرمائیل :

﴿ إنه ربی أحسن مثوای ﴾.

او دَ ګناه انجام ته ئے اوکتل، نو وے فرمائیل : ﴿ إنه لا یفلح الظالمون ﴾.

نو دیته احسان وائی۔ نو اے زما عزت منده وروره ! که چرے تهٔ ددے احسان والا جوړ شوے، نو الله سبحانه وتعالیٰ هیڅ کله ستا کوشش او ستا علم نهٔ ضائع کوی، تاله به دَ خپل علم نه ناشنا علمونه درکړی۔ لکه هغهٔ داسے وعده فرمائیلے ده :

﴿ ومن أوفی بعهده من الله ﴾ [توبه : ۱۱۱]

(او څوك دے چه دَ الله نه ډیر دَ خپلے وعدے پوره کونکے وی)۔

دارنګه په سورتِ قصص کښے دَ موسیٰ ﷺ په قیصه کښے راځی :

﴿ ولما بلغ أشده واستویٰ آتیناه حکمًا وعلمًا و کذلك نجزی المحسنین ﴾ [قصص : ۱٤]

(او کله چه خپلے ځوانئ ته اورسیدهٔ او برابر شهٔ نو مونږ ورته حکم او علم ورکړو او دغسے بدله مونږ نیك عمله خلقو ته ورکوو)۔

نو ارشاد مبارك نه معلومه شوه چه الله تعالیٰ داسے معامله دَ ټولو نیك عمله خلقو سره کوی۔ او دغه علم نبوت هم نهٔ وو، ځکه دغه وخت لا موسیٰ ﷺ نبی نهٔ وو جوړ شوے۔ نبی خو هله جوړ شو کله ئے چه مدین ته هجرت اوکړو او بیا واپس راتللو، نو په لاره کښے نبی جوړ شو۔

نو که چرے تهٔ هغه علمونه غواړے چه هغه ستا سترګے یخے کړی، نو دَ احسان نه کار واخله۔

۲ - **دویم** : د حق خیال دے ساتی او چرته ئے چه بیامومی دَ هغے تابعداری دے کوی۔ لکه دا اصل دے دَ اصولو دَ اهل سنت والجماعت نه۔ دَ حکمت کلمه دَ حکیم ورك شوے شے دے چرته چه حکیم موندهٔ کړه نو دا پرے ډیر لائق دے۔ او څوك چه دَ رسول الله ﷺ نه

علاوه بل یو کس یا یوې خاصې ډلې یا په مجتهدینو کښې یو خاص مجتهد ته ځان منسوب کوي، او صرف دَ هغهٔ خواته حق ګوري، نو دا کس دَ حقیقي علم نه ډیر جدا دې، بلکه دا خو دَ خپل بصیرت مړ کونکے دې. ځکه دَ یو کس یا دَ یوې معینې ډلې دپاره تعصب کول، انسان ړندوي او کڼروي ئې، نو دا څنګه بیا دَ علم حقیقي دپاره سبب جوړ شي؟

دې باره کښې دَ صحابه کرامو او تابعینو ﷺ سیرت نظر واچوه. هغوئ دَ حق تابعداري کوله، هیڅ یوې ډلې یا یو خاص امام ته به نهٔ مائله کیدل. نو ځکه هغوئ له دَ صحیح علم او عمل صالح توفیق ورکړې شوې وو.

۳ - **دریم** : په سیاق او سباق کښې سوچ او فکر کول، دارنګه دَ احوالو په قرائنو او دَ مطلوبه مسائلو سره چه کوم مسائل مشابه وي په هغې کښې فکر کول:

دارنګه دَ اسلام په اصولو کښې فکر کول، ځکه دې سره په بنده قِسما قِسم علمونه او په دین کښې فهم نصیب کیږي. که څوك په دې تجربه اوکړي نو رشتیا به ئې بیامومي.

٤ - **څلورم** : تقسیم کول، او په مسائلو کښې تفصیل او وضاحت کول هم دَ صحیح علم سبب دې. او هرچه په بغیر دَ تقسیم او تفصیل نه په جنس حکم کول دي، نو دا غالباً دَ غلطئ سبب ګرځي. لکه یو کس په هغه چا دَ کفر فیصله اوکړي څوك چه حکم بغیر ما انزل الله کوي، او په دې کښې دَ اکراه او زبردستئ تفصیل اونهٔ کړي، او نهٔ په دې کښې دَ یوې مسئلې او دَ قانون جوړولو تفصیل اوکړي.

۵ - **پنځم** : پکار دي چه دَ یو کتاب بار بار مطالعه اوکړي تردې چه هغه حفظ کړي. یائې خپلو شاګردانو ته درس کړي، ځکه چه په دې کښې ډیره زیاته فائده وي. انسان ته مسائل شرعیه او علومِ اسلامیه مستحضر شي. لکه چه دا دَ سلفو عادت وو. یو کتاب به ئې دَ مؤلف نه لوستلو. لکه الجامع الصحیح دَ امام بخاریؒ، چه مؤلف به دا خپلو طالبانو ته درس کولو او هغوئ به لیکلو او یادولو. نو ټول هغه علمونه چه په صحیح بخاري کښې موجود دي، هغه به هغوئ یاد کړل او په خپلو کاپیانو کتابچو کښې به ئې اولیکل.

اوس خو طالب په دې باندې په جلتئ سره ورتیریږي او پوره ئې لولي هم نهٔ. نو کله چه بخاري ختمه شي نو طالب ته هیڅ یاد نهٔ وي.

دې کښې فکر کول پکار دي، دا ډیره مهمه خبره ده.

۶ - **شپږم** : دَ شرعي علومو په حاصلولو کښې بله مهمه خبره داده چه :
کوم شے طالب دَ علماؤ دَ خُلے نه حاصلوي، هغه اوليکي او يا دَ فائدے خبرے او نکتے ترے په کاپئ وغيره کښے راجمع کړي، او بار بار پرے نظر اچوي۔

۷ - شوق دَ علم حاصلولو سبب دے۔

۸ - مجاهده کول۔

۹ - دعاګانے غوښتل۔

۱۰ - او په دے کښے اخلاصِ کول دَ علم نافع په اسبابو کښے اهم ترين سبب دے۔

والله المستعان۔ وهو نعم المولى ونعم النصير۔

****

۳۹- فائده

اقوالو، اعمالو او احوالو کښې اخلاص پیژندل

په خپلو تولو اقوالو، اعمالو او احوالو کښې الله رب العالمین دپاره اخلاص پیژندل دَ هر مؤمن دپاره انتهائی ضروری دی، ددې فائدې مطالعه کول، یادول، او په دې عمل کول ضروری دی۔

نو اول مونږ (۱) دَ اخلاص فضائل بیانوو۔ (۲) بیا دَ اخلاص معنیٰ (۳) بیا هغه حظوظِ نفسانیه چه دَ اخلاص مخالف دی بیانوو۔ (٤) بیا دَ اخلاص حاصلولو طریقه او وسائل بیانوو، دَ الله په مدد او ښائسته توفیق سره۔

۱- هر چه دَ اخلاص فضائل او ضرورت دے : نو مونږ وایو :

اللّٰه تعالیٰ فرمائی : ﴿ وما أمروا إلا ليعبدوا اللّٰه مخلصين له الدين حنفاء ويقيموا الصلاة ويؤتوا الزكاة وذلك دين القيمة ﴾ [البينة : ٥]

(او دوئ ته حکم نهٔ وو شوے مگر ددے چه دوئ دَ الله عبادت اوکړی چه خالص کونکی وی هغهٔ لره دین،، کلك ولاړ وی په توحید او پابندی دَ مانځه اوکړی او زکوٰة ورکړی او همدا مضبوط دین دے)۔

نو دَ اخلاص حکم الله په تولو شریعتونو کښې کړے وو۔

او اللّٰه تعالیٰ فرمائي : ﴿ حنفاء للّٰه غير مشركين ﴾ [حج : ۳]

(کلك شئ په توحید په داسې حال کښې چه دَ هغهٔ سره شرك کونکی نهٔ ئے)۔

او فرمائی : ﴿ قل إن صلاتي ونسكي ومحياي ومماتي للّٰه رب العالمين لا شريك له وبذلك أمرت وأنا أول المسلمين ﴾ [انعام : ١٦٣]

(ورته اووایه ! زما مونځ، زما قربانی، زما مرگ او ژوند تول دَ الله رب العالمین دپاره دی، هیڅ شریك نهٔ لری۔ په دې ماته حکم شوے او زهٔ دَ تولو نه اول غاړه کیخودونکے یم)۔

او فرمائی : ﴿ ألا للّٰه الدين الخالص ﴾ [الزمر : ۳] (خبردار ! الله دپاره خالص دین دے)۔

او فرمائی : ﴿ فاعبد اللّٰه مخلصًا له الدين ﴾ [الزمر : ۳]

(نو دَ الله عبادت کوه په داسې حال کښې چه خالص کونکے ئے هغهٔ دپاره دین)۔

او فرمائي : ﴿ قل الله أعبد مخلصًا له ديني ﴾ [الزمر : ١٤]
(ورته اووایه ! زهٔ خاص دَ الله عبادت کوم چه خالص کونکے یم هغهٔ دپاره خپل دین)۔
او فرمائي : ﴿ فادعوا الله مخلصين له الدين ولو كره الكافرون ﴾ [مؤمن : ١٤]
(نو تاسو الله رابلئ چه خالص کونکي ئے هغهٔ دپاره بلنه، اگرکه کافران ئے بد گنړي)۔
او فرمائي : ﴿ إلا الذين تابوا وأصلحوا واعتصموا بالله وأخلصوا دينهم لله فأولئك مع المؤمنين وسوف يؤت الله المؤمنين أجرًا عظيمًا ﴾ [النساء : ١٤٦]
(مگر چاچه توبه کړه او خپل عمل ئے ښهٔ کړو او په الله ئے منگولے اولگولے او خپل دین ئے الله دپاره خالص کړو، نو دا خلق دَ مؤمنانو سره دی، او زر دے چه الله به مؤمنانو له اجرِ عظیم ورکړی)۔
او فرمائي : ﴿ فمن كان يرجو لقاء ربه فليعمل عملًا صالحًا ولا يشرك بعبادة ربه أحدًا ﴾ [الكهف : ١١٠]
(نو څوك چه دَ خپل رب سره دَ ملاقات امید لری، هغهٔ له پکار دی چه نیك عمل اوکړی او دَ خپل رب په عبادت کښے دے هیڅوك نهٔ شریکوی)۔
ابو امامه باهلی رضی الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ ته یو سړے راغے او عرض ئے اوکړو: ماله دَ هغه سړی باره کښے خبر راکړه چه هغه دے دپاره جهاد کوی چه غنیمت ورته ملاؤ شی او خلق دَ هغهٔ ذکر اوکړی، نو ددهٔ دپاره څهٔ ملاویږی ؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « ددهٔ هیڅ شے نشته۔ هغه سړی درے ځله دا خبره اوکړه، نو رسول الله ﷺ هم ورته درے ځله دا اوفرمائیل : چه هیڅ شے ورله نشته۔ بیا ئے اوفرمائیل : الله خو صرف هغه عمل قبلوی کوم چه دَ هغهٔ دپاره خالص وی او په هغے سره دَ هغهٔ مخ تالاش کړے شی »۔
(رواه النسائي : ٦/٢٥).
او نبی کریم ﷺ فرمائي : « درے شیان دی چه دَ مسلمان زړهٔ په هغے بخل (یا کینه) نهٔ کوی : (١) الله دپاره خالص عمل کول (٢) دَ مسلمانانو دَ مشرانو دپاره خیر خواهی طلب کول۔ (٣) او دَ هغوئ جماعت لازم نیول »۔ (رواه ابن ماجه : ٢٣٠، وأحمد : ٥/١٨٣).
ابو بکر ﷺ فرمائي : ما دَ رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه فرمائیلے : «تاسو ته دَ اخلاص دَ کلمے نه پس دَ عافیت پشان بل هیڅ یو شے نهٔ دے درکړے شوے، نو تاسو دَ الله نه عافیت او جوړښت غواړئ »۔
(رواه أحمد : ١/١٥٨، وصححه أحمد شاكر).

او **نبي** کریم ﷺ فرمائي: «کوم بنده چه: لا اله الا الله په اخلاص سره اووئیله، نو دے دپاره خامخا دَ آسمان دروازے پرانستے شي تردے چه دا کلمه عرشه پورے اورسیږي، په دے شرط چه دَ کبائرو نه ځان اوساتلے شي»۔

(رواه الترمذي عن أبي هريرة، بإسناد حسن: ۲/۳۵۹۰).

او نبي ﷺ فرمائي: «بیشکه الله ستاسو شکلونو او مالونو ته نهٔ گوري۔ هغه خو ستاسو زړونو او عملونو ته گوري»۔ (رواه مسلم).

او **نبي** ﷺ فرمائي: «الله تعالیٰ فرمائیلي دي: زهٔ دَ برخه دارانو نه په برخه کښې زیات بے پرواه یم، چاچه یو عمل اوکړو او په هغے کښې ئے ما سره بل څوك برخه دار جوړ کړو، نو زهٔ به هغه دَ خپلے برخے سره پریګدم»۔ (رواه مسلم).

عتبان بن مالك ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ ما کره صبا وخت کښې راغے، او وے فرمائیل: «کوم بنده چه دَ قیامت په ورځ پوره طور سره دا کلمه: لا اله الا الله: راوړي چه په دے سره صرف دَ الله مخ تالاش کوي، نو خامخا به الله تعالیٰ په دهٔ اور حرام کړي»۔

(رواه البخاري).

ضحاک بن قیس ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: «بیشکه الله تعالیٰ فرمائي: زهٔ غوره برخه داریم، چاچه ما سره څوك برخه دار جوړ کړو، نو دغه برخه زما دَ برخه دار ده۔ اے خلقو! تاسو خالص الله دپاره عملونه کوئ ځکه الله تعالیٰ صرف او صرف هغه عمل قبلوي کوم چه صرف هغهٔ دپاره شوے وي، او داسے مهٔ وائے چه دا دَ الله دپاره دے، او دا دَ خپلولئ دپاره۔ حال دا چه ددے هیڅ شے دَ الله دپاره نهٔ وي۔ او داسے مهٔ وائے چه: دا دَ الله دپاره دے او ستاسو دَ مخ دَ وجے دے۔ ځکه چه دا ستاسو دَ مخ دپاره خو دے، لیکن دَ الله دپاره ددے نه هیڅ شے نهٔ دے»۔

(رواه عبد الباقي بن قانع والبیهقي: ۲/۳۳۰، والبزار کما في المجمع: ۱۰/۲۲۱، وهو حدیث صحیح، کما في الصحیحة: ٦/۲۷٦٤).

انس ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: «دَ قیامت په ورځ به څهٔ مُهر شوے صحیفے راوړے شي، او دَ الله مخے ته به اودرولے شي، الله به ملائکو ته اوفرمائي: دا ګذار کړئ او دا نورے قبولے کړئ۔ نو ملائك به عرض اوکړي: ستا په عزت قسَم دے! مونږ ته خو دا غوره ښکاري! نو الله به اوفرمائي – حال دا چه هغه ډیر ښهٔ پوهه دے – بیشکه دا مانه سیوا دَ بل چا دپاره وے۔ او نن ورځ زهٔ صرف هغه عمل قبلوم، په کوم سره چه صرف

زما مخ طلب شوے وی »۔
(رواه ابن عساكر والدارقطني كما في الكنز : ٤٧٧/٣، وله شواهد).
شفي بن ماتع" فرمائی : زهٔ دَ ابو هریره ﷺ سره مخامخ شوم، او عرض مے ورته اوکړو، ماته یو داسے حدیث بیان کړه، چه هغه تا دَ رسول الله ﷺ نه آوریدلے وی۔ هغه اوفرمائیل : کینه چه داسے حدیث درته بیان کړم چه هغه دَ رسول الله ﷺ نه آوریدلے دے، چه صرف ماته ئے بیان کړیدے۔ بیا ابو هریرهؓ یوه کریکه اوخکله او بیخوده شو، لږ ساعت راپاسیدهٔ او خپل مخ ئے باندے ئے لاس راخکلو، بیائے اوفرمائیل : زهٔ به تاته یو داسے حدیث بیان کړم چه ماته رسول الله ﷺ بیان کړیدے، بیا ئے یوه کریکه کړه او دا کارئے درے ځله اوکړو۔ بیائے اوفرمائیل : رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : « الله تبارك وتعالی به دَ قیامت په ورځ د خپلو بندګانو ترمینځ فیصله کوی۔ هر امت به په ګوډو پروت وی۔ نو اولنے چه څوك دَ حساب دپاره را غوښتلے شی، نو دابه هغه سړے وی۔۔۔ » تر آخره پورے۔ چه په دے حدیث کښے ئے شهید، عالم او خرچ کونکے ذکر کړیدے۔ بیائے فرمائیلی دی چه دا هغه درے کسان دی چه په دوئ باندے به دقیامت په ورځ دَ ټولو نه مخکښے د جهنم اور بلیږی»۔
شفی" وائی : زهٔ په شام کښے معاویهؓ ته ورغلم او دا حدیث مے ورته بیان کړو، نو معاویه ﷺ ډیر زیات اوژړل، او وے فرمائیل : الله او رسول رشتیا وئیلی دی۔ بیائے دا آیت کریمه تلاوت کړه : ﴿ من كان يريد الحياة الدنيا وزينتها نوف إليهم أعمالهم وهم فيها لا يبخسون، أولئك الذين ليس لهم في الآخرة إلا النار، وحبط ما صنعوا فيها وباطل ما كانوا يعملون ﴾ [هود : ١٦]
(څوك چه - په خپل عمل سره - دنیوی ژوندون او دَدے ډول ډال غواړی نو دوئ ته به مونږ په دے کښے دَ دوئ دَ عملونو پوره بدله ورکړو چه کمے به ورسره نشی کیدے، دا هغه خلق دی چه نشته دوئ دپاره په آخرت کښے مګر اور، او برباد دے هغه (نیك) عمل چه دوئ په دے دنیا کښے کړے دے، او بیکاره دی هغه (بد) عملونه چه دوئ به کول)۔
نو دَ معاویهؓ بعضِ حاضرینو اووئیل : دے سړی (شفی) خو شر راوړو، زمونږ امیرئے اوژړولو »۔ (كذا في الترغيب وإسناده صحيح).
او دا ډیر زیات عجیبه حدیث دے، چه فکر او سوچ غواړی۔
مکحول رحمه الله فرمائی : هیڅ یو بنده څلویښت ورځے الله دپاره اخلاص نهٔ دے کړے، مګر ددهٔ دَ زړهٔ او ژبے نه دَ حکمت چینے راښکاره کیږی۔ (مدارج : ٩٦/٢).
ابو سلیمان دارانی" فرمائی : کله چه بنده اخلاص اوکړی نو ددهٔ نه ډیرے وسوسے او ریاء

ختمه شي- (مدارج).

یوسف بن حسینؒ فرمائي: په دنیا کښې ډیر عزتمن شے اخلاص دے، او زۀ دَ خپل زړۀ نه په ریاء غورزولو کښې ډیر زیات کوشش کوم- لیکن بیا هم دا په بل رنګ کښې راښکاره کیږي- (حواله سابقه).

فضیل بن عیاضؒ فرمائي: ښائسته عمل دادے چه ډیر خالص او ډیر صحیح وي- عرض اوشو، اے ابو علي! ډیر خالص او ډیر صحیح څۀ معنیٰ؟ وې فرمائیل: کله چه عمل کښې اخلاص وي او په صحیح طریقه نۀ وي نو نۀ قبلیږي- او کله چه په صحیح طریقه اوشي او اخلاص په کښې نۀ وي نو هم نۀ قبلیږي، ترڅو چه اخلاص او صحیح طریقه دواړه په کښې راجمع نشي- او خالص داﷺ معنیٰ چه صرف الله دپاره وي- او صحیح دا معنیٰ چه دَ سنت موافق وي- بیا ئے دا قول د الله تعالیٰ اولوستلو: ﴿ فمن كان يرجو لقاء ربه فليعمل عملًا صالحًا ولا يشرك بعبادة ربه أحدًا ﴾ [کهف: ١١٠]

(نو څوك چه دَ خپل رب سره دَ ملاقات امیدٔ لري، هغۀ له پکار دي چه نیك عمل اوکړي او دَ خپل رب په عبادت کښې دے هیڅوك نۀ شریکوي)- (مدارج).

شهر بن حوشبؒ فرمائي: یو سړے عباده بن صامت – رضی الله عنه – ته راغے، وئیلے: ماته ددے مسئلے جواب راکړه- هغه دا چه یو سړے دَ الله دپاره مونځ کوي، خو دا خوښ ګنړي چه ددۀ صفت دے اوشي؟ عبادهؓ اوفرمائیل: ددۀ هیڅ ثواب نشته- الله تعالیٰ فرمائي: زۀ غوره برخه داریم، چاچه په یو عمل کښې ما سره څوك برخه دار جوړ کړو، نو دغه عمل ټول دَ هغۀ شو، ماته د هغے هیڅ ضرورت نشته- (ابن کثیر: ٢/١١٤).

امام ابن القیم رحمه الله فرمائي: دَ اخلاص او دَ سنتِ نبوی دَ تابعدارئ نه بغیر عمل کول داسے دي لکه مسافر خپل توشه دان دَ شګو نه ډك کړي- چه ځان سره ئے اغستے خو وي، لیکن هیڅ فائده ورته نۀ ورکوي- (الفوائد ص ٦٧، نضرة النعيم: ٢/١٤٩).

دَ بعضِ پوهانو وینا ده: **اوولۀ څیزونه** دي چه صرف دَ **اوولۀ څیزونو** سره نفع رسوي: (زۀ وایم دا ټول الحمد لله په قرآن کښې موجود دي)-

١ – ویره دَ ځان ساتلو نه بغیر فائده نۀ ورکوي- یو سړے وائي: زۀ الله نه یریږم لیکن بیا هم دَ ګناهونو نه ځان نۀ ساتي- الله تعالیٰ فرمائي:

﴿ وأطيعوا الله وأطيعوا الرسول واحذروا ﴾. (الله نه یریږئ او ځان ساتئ)-

٢ – امید دَ طلب نه بغیر فائده نۀ ورکوي- الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ فمن كان يرجو لقاء ربه

فلیعمل عملًا صالحًا ﴾ [کهف : ۱۱۰]
(نو څوك چه دَ خپل سره رب دَ ملاقات امید لری نو هغه دے نیك عمل اوکړی)۔
۳ – دَ قصد نه بغیر نیت کول : یعنے په خپل زړهٔ سره دا نیت کوی چه طاعات به کوی او خپل ځان سره دَ عمل قصد نهٔ کوی۔ نو دهٔ ته ددهٔ دا نیت فائده نهٔ ورکوی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ ویقولون طاعة فإذا برزوا من عندك بیت طائفة منهم غیر الذی تقول ﴾ [النساء : ۸۰]
(او وائی دویٔ چه زمونږ کار خبره منل دی، خو کله چه ستا دَ خوا نه اووځی نو په دویٔ کښے یوه ډله دَ هغه خبرے نه سیوا په بله خبره کښے شپه تیروی کومه چه تهٔ وائے)۔
او فرمائی : ﴿ ویقول الذین آمنوا لولا أنزلت سورة ﴾. الآیة [محمد : ۲۰]
(او وائی مؤمنان چه ولے نهٔ نازلیږی یو سورت)۔
او فرمائی : ﴿ فلو صدقوا الله لكان خیرًا لهم ﴾ [محمد : ۲۱]
(نو که چرے دویٔ الله ته رشتیا وئیلی وے نو دا به دویٔ له بهتره وه)۔
٤ – دَ کوشش کولو نه بغیر دعاګانے غوښتل : یعنے الله نه دا دعا غواړی چه دهٔ له دَ نیك عمل توفیق ورکړی خو کوشش نهٔ کوی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ والذین جاهدوا فینا لنهدینهم سبلنا ﴾ [عنکبوت : ٦٩] (او کوم خلق چه زمونږ باره کښے کوشش کوی نو خامخا به مونږ دویٔ ته خپلے لارے پرانیزو)۔
٥ – دَ خپیمانتیا نه بغیر استغفار کول : یعنے دَ خپل رب نه استغفار غواړی خو خپیمانه کیږی نهٔ، نو دهٔ ته دَ خپیمانتیا نه بغیر استغفار فائده نهٔ رسوی۔
الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ أفلا یتوبون إلی الله ویستغفرونه ﴾ [مائده : ۷٤]
(آیا دویٔ الله ته توبه نهٔ اویاسی او استغفار ترے نهٔ غواړی)۔
٦ – ښکاره عمل کول، نهٔ پټ : یعنے ظاهری طور سره خپل کارونه سموی، نهٔ پټهٔ۔ نو دهٔ ته ددهٔ ظاهر هم فائده نهٔ ورکوی۔
الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ یستخفون من الناس ولا یستخفون من الله ﴾ [النساء : ۱۰۸]
(خلقو نه شرمیږی او الله نه نهٔ شرمیږی)۔
۷ – کوشش کوی خو اخلاص په کښے نهٔ وی : یعنے طاعاتو کښے کوشش کوی خو اعمال ئے خالص دَ الله دپاره نهٔ وی۔ نو دَ اخلاص نه بغیر دهٔ ته ددهٔ عملونه نفع نهٔ ورکوی۔ بلکه دا ځانله دهوکه ورکول دی۔ الله تعالیٰ فرمائی :
﴿ وسعی لها سعیها فأولئك كان سعیهم مشكورًا ﴾ [اسراء : ۱۹]

(او دَ هغې دپاره موافق کوشش کوی نو ددے خلقو دَ کوشش قدر به کیږی)۔
او دا په واقع کښې ډیر مفید حکمت دے۔
ابن عباس ﷺ فرمائی : ددے نه ځان اوساتئ چه تاسو دَ الله طاعت دَ خلقو دَ صفت خوښولو سره ګډ کړئ۔ ګنې عملونه به مو برباد شی۔(کنز العمال : ۳/۱۱).
بعض هوښیارانو ته اووئیلے شو : مخلص څوك دے ؟ وئیلے : مخلص هغه څوك دے چه خپلے نیکئ داسے پټوی څنګه چه بدئ پټوی۔
دَ **بعض** هوښیارانو نه تپوس اوشو : دَ اخلاص آخری سر څۀ دے ؟ وے فرمائیل : چه تۀ دَ خلقو صفت خوښ اونۀ ګنړے۔
ذو النون مصری ؒ نه تپوس اوشو : انسان ته به دا پته څنګه اولګی چه دا دَ الله په مخلوق کښې غوره شخص دے ؟ وے فرمائیل : په څلورو څیزونو سره (۱) چه آرام ختم کړی (۲) څۀ چه ورسره وی هغه ورکوی (۳) دَ مرتبے دَ غورزیدو نه یریږی (٤) او دَ خلقو صفت او بدی دواړه ددۀ په نیز برابر شی۔
علی ﷺ فرمائی : دَ ریاء کاری **څلور** نښے دی : (۱) چه یواځے وی نو سستی کوی (۲) چه خلقو سره وی نو په شوق کار کوی (۳) چه صفت ئے اوشی نو عمل زیاتوی (٤) او چه بدی ئے بیان شی نو عمل کموی۔
شقیق بن ابراهیم زاهد ؒ فرمائی : دَ عمل محفوظ ساتل په درے څیزونو سره وی (۱) چه عمل دَ الله دَ طرفه اوګنړی، دے دپاره چه په دے سره خود پسندی ماته کړی (۲) چه په دے سره صرف دَ الله مخ غواړی، دے دپاره چه په دے سره خواهش مات کړی (۳) چه دَ عمل دَ ثواب امید صرف الله نه اولری، طمع او ریاء اونۀ کړی۔ په دے کارونو سره به اعمال خالص دَ الله عز وجل دپاره جوړیږی۔
بعض نیکانو فرمائیلی : عمل کونکی له پکار دی چه دَ شپونکی نه ادب زده کړی۔ چا عرض اوکړو، دا څنګه ده ؟ وے فرمائیل : ځکه چه شپونکے کله دَ ګډو بزو په خوا کښې مونځ کوی نو دَ خپل ګډو بزو نه څۀ صفت نه طلب کوی۔ دغه شان عمل کونکی له هم پکار دی چه دے دَ خلقو کتلو له هیڅ اعتبار ورنۀ کړی۔ بلکه صرف الله دپاره عمل کوی، یواځے وی او که دَ خلقو سره وی، دا دواړه حالتونه ددۀ یو شان وی او دَ خلقو نه صفت نه غواړی۔
حامد لفاف ؒ فرمائی : الله تعالیٰ چه یو سړے تباه کول غواړی، نو په درے څیزونو ورته

عذاب ورکوي:

۱ - علم ورته ورکړي او دَ علماؤ دَ عمل نه ئې محروم کړي۔

۲ - دَ نیکانو ملګرتیا ور نصیب کړي، خو دَ هغویٔ دَ حقونو پیژندلو نه ئې محروم کړي۔

۳ - دَ طاعت دروازه پرے را پرانیزي، خو په عمل کښے ئې دَ اخلاص نه محروم کړي۔

دا ډیره مفیده خبره ده، فکر غواړي۔

ابو بکر واسطی ؒ فرمائی: دَ عمل مثال لکه دَ شیشے دے چه ډیره زر ماتیږي او چه ماته شی نو جوړیږي نهٔ۔ دغه شان عمل ته چه ریاء اورسی ماتوي ئې او که خود پسندي ورته اورسی نو ماتوي ئې۔ (التنبیه: ۱/۲۳).

سلیمان ؒ فرمائی: دَ هغه چا دپاره خوشحالی ده چه دَ هغهٔ یو قدم هم صحیح وي، چه په دے سره صرف دَ الله رضا غواړي۔

عمر بن خطاب رضی الله عنه ابو موسیٰ اشعری ؓ ته اولیکل: دَ چاچه نیت خالص شی نو الله به ددهٔ او دَ خلقو ترمینځه معامله درسته کړي۔

بعضِ نیکانو خپل یو ورور ته اولیکل: په خپل عملونو کښے دے نیت خالص کړه، لږ عمل به درله کافی شی۔

ایوب سختیانی ؒ فرمائی: په عمل کونکو باندے نیت خالص کول، دویٔ ته دَ ټولو اعمالو نه ګران دي۔

مطرف ؒ فرمائی: څوک چه صفا معامله کوي هغهٔ سره به صفا معامله کیدے شی، او څوک چه ګډون کوي هغهٔ سره به ګډون کیدے شی۔

بعضِ نیکان فرمائی: دَ یو ساعت په اخلاص کښے ابدي نجات دے، خو اخلاص ډیر ګران شے دے۔

وئیلے کیږي چه: علم تخم دے، عمل فصل دے او اخلاص دَ دهٔ اوبهٔ دي۔

بعضِ هوښیارانو وئیلی دي: کله چه الله یو بنده سره بُغض اوکړي نو درے څیزونه ورکړي او درے ترے منع کړي۔ (۱) دَ نیکانو ملګرتیا ورکړي، خو دَ دویٔ خبره منل ترے منع کړي۔ (۲) نیک عملونه ورنصیب کړي، خو په هغے کښے اخلاص کول ترے منع کړي۔ (۳) حکمت ورله ورکړي، خو په هغے کښے ورته رشتیا منع کړي۔

سوسی ؒ فرمائی: دَ ټولو خلقو دَ عمل نه مقصد صرف، دَ الله اخلاص کول دي۔

جنید ؒ فرمائی: دَ الله تعالیٰ څهٔ بندګان دي چه هغویٔ پوهه شو، او کله چه پوهه شو نو

عمل ئې شروع کړو، او کله ئې چه عمل شروع کړو، نو اخلاص ئې شروع کړو۔ نو اخلاص دوئ لره دَ خير ټولو دروازو ته راښکل۔

محمد بن سعيد المروزيؒ فرمائي : دَ ټولو کارونو بنياد دوه څيزونه دي : (۱) دَ الله دَ طرفه هغه کار چه تا سره ئې کوي۔ (۲) ستا دَ طرفه هغه کار چه هغهٔ سره ئې کوې۔ نو هغهٔ چه څهٔ تاسره اوکړو، په هغې به تهٔ راضي ئې، او تهٔ چه څهٔ عمل کوې په هغې کښې به اخلاص کوې۔ نو کله چه دا کار تا اوکړو، نو په دنيا او آخرت کښې به کامياب شې۔
(إحياء العلوم : ۲/۱۸۰).

ابو علي دقاقؒ فرمائي : اخلاص ديته وائي چه انسان ځان دَ خلقو دَ کتلو نه اوساتي، او صدق ديته وائي چه دَ نفس دَ کتلو نه پاك شي۔ نو دَ مخلص سړي رياء نه وي، او دَ صادق سړي خود پسندي نهٔ وي۔

ابو يعقوب سوسيؒ فرمائي : څوك چه خپل اخلاص دَ رياء نه خلاص ګڼړي نو د دوئ اخلاص هم، اخلاص ته محتاج دے۔

سهلؒ فرمائي : رياء نهٔ پيژني مګر مخلص۔

حذيفه مرعشيؒ فرمائي : اخلاص دادے چه په پټ او ښکاره دواړه کارونه دَ بنده برابر شي۔ او بعضِ وائي : دَ عملونو ليدلو نه چشم پوشئ ته وائي۔

سريؒ فرمائي : چا چه په هغه شئ ځان ښائسته کړو، چه هغهٔ په دهٔ کښې نهٔ وو، نو دَ الله دَ سترګو نه به پريوځي۔

سهلؒ ته اوويلے شو : کوم شے نفس ته ډير سخت دے ؟ وے فرمائيل : اخلاص۔ ځکه په دے کښې دَ نفس هيڅ برخه نهٔ وي۔ (القشيرية ص : ۱٤۲).

۲ - دَ اخلاص معنٰى : اخلاص هر هغه شئ ته وائي چه په هغې سره بل شے معلوميږي۔ نو کله چه دَ هغې دَ ګډونه پاك او خلاص شي، نو هغې ته خالص وائي۔ الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ بين فرث ودم لبنًا خالصًا ﴾ [النحل : ٦٦]
(دَ غوشائي او دَ وينو ترمينځه خالص پئ راوځي)۔

نو اخلاص، دَ هر قِسم ګډون نه عمل صفا کولو ته وائي۔

سهلؒ فرمائي : اخلاص ديته وائي چه دَ بنده حرکت او سکون خالص الله دپاره وي۔
او دا ډيره جامعه خبره ده چه مقصد پوره کوي۔

بعضِ وائي : اخلاص، دَ الله هميشه لحاظ ساتلو او دَ خپلو ټولو برخو هيرولو ته وائي۔

(إحياء : ۲/۱۸۸).

صاحب المنازل فرمائي : دَ اخلاص درې مرتبې دي :

۱ – دَ عمل ليدل دَ عمل نه ويستل، او په عمل باندې دَ عوض طلب کولو نه خلاصيدل، او په عمل باندې دَ راضي کيدلو نه راښکته کيدل.

۲ – دَ کوشش خرچ کولو باوجود دَ عمل نه خجالته کيدل، او دَ خپل عمل دَ کتلو نه پوره پرهيز کول، او خپل دَ الله دَ توفيق په وجه ګنړل.

۳ – دَ علمِ شرعي مطابق عمل کول، او تقديري حکم ته کتل، او دَ قضاء او قدر په مشاهدې سره په امر او نهي اودريدل. او دا دَ ددې دوه آيتونو عبوديت دې :

﴿لمن شاء منكم أن يستقيم وما تشاؤون إلا أن يشاء الله رب العالمين﴾ [كورت : ۲۹]

(پتاسو کښې چه دَ چا خوښه وي چه استقامت اوکړي، او تاسو نۀ غواړئ مګر که الله رب العالمين ئې اوغواړي).

ددې نه مخکښې ئې فرمائيلي دي : ﴿إن هذه تذكرة فمن شاء اتخذ إلى ربه سبيلًا وما تشاؤون إلا أن يشاء الله، إن الله كان عليماً حكيمًا﴾ [المرسلات : ۳۰]

(بيشکه دا قرآن نصيحت دې نو څوك چه غواړي نو خپل رب ته دې لاره اونيسي، او تاسو نۀ غواړئ مګر که الله ئې اوغواړي، بيشکه الله پو هه حکمت والا دې).

او دَ مخلوق نه به آزاد وي، نۀ به مقام غواړي نۀ حال، نۀ مکاشفه او نۀ ددې نه سيوا بل څۀ. (انظر المدارج بالتفصيل : ۲/۹۲).

۳ – پاتې شو هغه نفساني حظوظ (برخې) چه دَ اخلاص منافي وي:

نو دا ډيرې دي چه صرف الله ته معلومې دي. په انسان باندې واجب دي چه دَ خپل وس مطابق هغه دَ خپل ځان نه اوباسي. او هغه دادي :

۱ – رياء : او دا کار عملونه بربادوي بلکه ددې خاوند دَ قيامت په ورځ دَ الله غصې او عذاب ته پيش کوي، بلکه په دنيا کښې هم. دَ رياء په باره کښې روستو مونږ ان شاء الله تفصيل کوو.

۲ – بله دا چه په انسان باندې باعث الله ته ځان نزدې کول وي. ليکن دې باعث پورې يو باعث هم يو ځائې کيږي، چه هغه رياء وي او يا ددې نه علاوه نور نفساني حظوظ. لکه يو سړې په دې نيت روژه نيسي چه په دې سره پرهيز حاصل کړي خو ددې سره سره ئې الله ته ځان نزدې کول مقصد هم وي. او يا لکه څوك غلام آزادوي دې دپاره چه دَ هغۀ دَ خرچې او

بد اخلاقۍ نه ځان خلاص کړي. يا دے دپاره حج کوي چه دَ سفر په وجه ددهٔ مزاج صحيح شي، يا دَ يو شر نه ځان بچ کوي چه هغه ورته په خپل ښار کښے رسيږي، او يا په خپل کور کښے دَ يو دشمن نه تختي، او يا دَ خپل اهل او اولاد نه تنگ شوے وي، او يا دَ خپل يو کور نه تنگ شوے وي، نو دا غواړي چه ددے نه يو څو ورځے آرام حاصل کړي.

او دا کار دَ دعوت بعضِ دعويدار کوي، په اوړي کښے يخو علاقو ته سفر کوي دَ دعوت په نيت او يا دَ خپلو کارونو نه تنگ شي. او يا دے دپاره غزا کوي چه جنگ سره آموخته شي او دَ هغے اسباب زده کړي او په دے سره په فوجونو تيارولو قادر شي. او يا دَ شپے مونځ دے دپاره کوي چه په دے سره دَ خپل ځان نه خوب دفع کړي، دے دپاره چه دَ خپل اهل او سامان حفاظت کوي. او يا علم دے دپاره زده کوي چه ددهٔ سره کوم مال دے هغه ورله کافي شي. او يا دَ قوم او قبيلے خلقو کښے عزتمند شي، او يا ددهٔ مال اوجائيداد محفوظ شي.

او يا په وعظ او نصيحت او تدريس باندے دے دپاره مشغوليږي چه دَ خاموشۍ دَ مصيبت نه خلاص شي او دَ خبرو خوند واخلي. او يا دَ علماؤ خدمت په دے وجه کوي چه هغوئ او نور خلق ددهٔ دَ عزت خيال اوساتي. او يا په دے سره په دنيا کښے ملگرتيا حاصله کړي. او په دے نيت قرآن کريم ليکي چه بار بار ليکلو سره ددهٔ خط ښهٔ شي. او يا دے دپاره پيدل حج کوي چه ځانته کرائے بچت کړي. او يا اودس دے دپاره کوي چه خپل ځان صفا کړي او يا يخ شي. او غسل دے دپاره کوي چه بد بوئے ختم شي. او يا حديث دے دپاره روايت کوي چه دَ سند په عالي کيدو مشهور شي.

او يا په جومات کښے دے دپاره اعتکاف کوي چه دَ کور کرائے کمه کړي. يا روژه دے دپاره نيسي چه بار بار خوراك پخولو نه خلاص شي او يا نورو کارونو ته فارغ شي. ★ صدقه دے دپاره ورکوي چه دَ سائل دَ سؤال نه ځان خلاص کړي. ★ بيمار پښتنه دے دپاره کوي چه بيا بل څوك ددهٔ بيمار پښتنه اوکړي. ★ يا جنازے له دے دپاره ځي چه ددهٔ دَ اهل جنازو له بيا خلق راځي. ډير خلق دا کارونه دے دپاره کوي چه بيابه خلق وائي چه: فلانے زمونږ جنازے له راغلے وو. او يا پورتني کارونو کښے يو کار دے دپاره کوي چه په خير سره مشهور شي او په دے سره بيا ياديږي او دهٔ ته دَ صلاح او وقار په نظر اوکتلے شي. نو که هر څومره په دهٔ باندے باعث دَ الله تقرب وي، ليکن کله چه دے سره ددے خطرو نه يوه خطره يو ځائے شوه، نو ددے کارونو په وجه په دهٔ دپاره عمل کول آسان شو: نو ددے کس عمل دَ اخلاص نه اووتلو، دارنگه ددے نه اووتلو چه دا دے دَ الله دَ مخ تالاش کولو دپاره شي. بلکه

دیته څۀ نا څۀ شرك لاره اوکړه.

خلاصه داچه: دَ دنیوی برخو نه هر هغه برخه چه دَ هغې په وجه نفس ته آرام رسیږی او زړۀ ورته مائله کیږی، لږه وی اوکه ډیره، کله چه دا په عمل کښې راشي، نو په دې سره صفا عمل خیرن شي او اخلاص ئې ختم شي. انسان دَ خپلو برخو سره تړلے او په خپلو خواهشاتو کښې ډوب دے. ډیر کم کوز ددۀ فعل او عبادت دَ دې مذکوره برخو نه خالی کیدے شي. دا وجه ده، بعضِ علماء فرمائي: د چا دَ عُمر یوه لحظه هم چه خالص دَ الله دپاره جوړه شوه، نو دے به نجات مومي. وجه داده چه اخلاص ډیر نایاب شوے، او ددے مذکوره خیرو نه زړۀ صفا کول ډیر گران دی.

او دا هم هله چه کله ددۀ قصد دا وی چه الله ته ځان نزدے کړی. او کله چه په دۀ باندے یواځې باعث دغه پورتنی کارونه وی، نو بیا ددے کس معامله خو نوره هم سخته ده.

٤ – دَ اخلاص خرابوونکو خِیرو او آفتونو مرتبې :

او دا آفتونه ډیر دی، ځینے ښکاره دی او ځینے پټ. خو دَ اخلاص خرابوونکو څیزونو کښې دَ ټولو نه ښکاره څیز: ریاء کاری ده. چه مونږ ددے دپاره مثال بیانوو:

۱ – شیطان په مونځ کونکی باندے آفت ورداخلوی، اگرکه په دے کښې د اخلاص قصد هم اوکړی، څکه کله چه ده ته یو جماعت گوری یا څوك ورته ورداخل شي نو شیطان ورته وائي: خپل مونځ ښائسته کړه دے دپاره چه دا حاضر شخص تاته د وقار او د صلاح په سترگه اوگوری او ستا عیب نه بیانوی اونه دے غیبت اوکړی، نو دده اندامونه خشوع شروع کړی او لاس او خپے ئې په سکون کښې شي او خپل مونځ ښائسته کړی. همدے ته ښکاره ریاء وائي. او دا **اوله درجه** ده.

دویمه درجه: داچه بنده دا آفت اوپیژنی او دیته هوښیار اوسیږی او په دے کښې د شیطان اطاعت نه کوی. اونه ورته گوری، بلکه په خپل مونځ کښې د مخکښې پشان لگیا وی، نو دۀ ته د خیر په قالب کښې راشي او ورته وائي: ته خو متبوع او مقتدیٰ ئې او د خلقو سترگے تاته متوجه دی، تۀ چه څه کوے تانه دا نقل کیږی او نور خلق ستا د عمل اقتداء کوی، که تا ښۀ عمل اوکړو نو د هغوئ د عملونو ثواب به هم تاته ملاویږی، او که بدی دے اوکړه نو په تا باندے به د هغوئ گناه هم وی، نو تۀ خپل عمل ددے لیدونکی شخص مخے ته ښۀ کړه، کیدے شي چه خشوع او ښائسته عبادت کښې هغه ستا اقتداء اوکړی.

او دا د اول نه ډیرے خطرے والا دے، اوکله په دے هغه څوك دهوکه کیږی کوم چه په اول

نـهٔ دهوکـه کـیږي. او دا هم بعینه ریاء ده چه د اخلاص باطلونکے ده. ځکه که چرے ده په خشـوع او ښائسته عبادت کښے خیر لیدلے چه د بل چا دپاره ددے پریخودل نه خوښوي، نو بیا دهٔ په خِلوت کښے ولے پریخودلو ؟ آیا دا ممکنه ده چه د بل چا نفس دهٔ ته د خپل ځان نه زیات عزت مند دے ؟ نو دا خالص تلبیس دے.

دریمه درجه : چـه دا دَ مـخـکـینـئ نـه زیاته باریکه ده، هغه دا چه بنده په دے کښے په خپـل نـفس تجربه اوکړي او د شیطان مکر او فریب ته بیدار اوسیږي، او دهٔ ته پته وي چه د خِلوت او د چا د کتلو ترمینځه دده مخالفت محض ریاء ده. او دا ورته هم معلومه وي چه اخـلاص پـه دے کښے دے چه په خلوت کښے ددهٔ مونځ داسے وي څنګه چه د خلقو د لیدلو پـه وخت وي، او د خپل رب نه حیاء کوي چه د خلقو د لیدلو په وخت د خپل عادي خشوع نـه زیاته خشوع اوکړي، او په خِلوت کښے هم داسے ښائسته مونځ کوي څنګه مونځ چه د خـلـقو ترمینځه کوي. او د خلقو په مینځ کښے هم دغه شان مونځ کوي. نو دا هم پټه ریاء ده، ځـکـه دهٔ پـه خِـلـوت کښے خپـل مـونـځ دے دپاره ښائسـتـه کـړو چه د خلقو ترمینځه ښائسـتـه شي، نـو ددے دواړو ترمینځه دهٔ فرق اونه کړو، او په خِلوت او جلوت دواړو حالاتو کښے ددهٔ نظر خلقو طرفته وي

بـلکه اخلاص دادے چه ددهٔ مونځ لره د حیواناتو لیدل او د خلقو لیدل په یوه طریقه وي، نو ګویا ددے سړي نفس په دے سَخا نهٔ کوي چه د خلقو ترمینځه مونځ خراب کړي او بیا د خپـل نفس نه حیاء اوکړي چه دے په صورت د ریاکارو کښے شي. او دا ګمان کوي چه دا په دے سره زائـلـه کـیږي چه ددهٔ مونځ په خلوت اوجلوت دواړو کښے برابر شي. اودا ډیره لرے ده چـه ددے د زوال نه پس دے خلقو ته نهٔ ګوري لکه څنګه چه خلوت اوجلوت دواړو کښے حیـواناتو طرفتهٔ نه ګوري. اودا د هغه شخص نه صادریږي کوم چه خلوت اوجلوت دواړو کښے د خلقو په غم کښے مشغول وي. او دا د شیطان پټ مکر او فریب دے.

څلورمه درجه : چـه دا ډیره باریکه او ډیره پټه ده، اوهغه دا چه خلق دهٔ ته ګوري اودے پـه خپـل مـانـځه کښے مشغول وي، نو شیطان ددے نه عاجز وي چه دهٔ ته اووائي : د دوئ د وجے نه خشوع اوکړه، ځکه دهٔ ته پته ده چه دے په دے خبر دے. نو شیطان دهٔ ته وائي : د الله پـه عـظـمـت او جلال کښے فکر اوکړه او د هغه چا باره کښے چه تهٔ د هغه مخامخ ولاړ یے او ددے نـه حیاء اوکړه چه الله ستا زړهٔ ته په داسے حال کښے اوګوري چه دا د هغه نه غافل وي. نـو پـه دے سره ددهٔ زړه حاضریږي او اندامونه ئے خشوع اختیار کړي او ددهٔ دا خیال وي چه

ګنــے دا عیــنِ اخــلاص دے حــال دا چــه دا عیــنِ مکر او دهوکه ده ځکه که ددهٔ خشوع د الله جــلال تــه د نــظر کــولــو د وجــے نــه وي نو دا خبره به ده سره په خِلوت کښے لازم وي، او ددے حضور به د بل چا د حضور سره خاص نهٔ وي۔

اوددے آفت نه د خلاصیدو علامه داده چه دے خبرے سره دے په خلوت کښے هم داسے آشنا وي ځکه چه ورسره په جلوت کښے آشنا دے او د غېر حضور د زړهٔ د حضور سبب نه وي لکه څنګه چه د څناور حضور سبب نه وي. نو بر څو پورے چه دے په خپلو احوالو کښے د انسان او د څناور د مشاهدے ترمینځه فرق کوي نو دا لا اوسه پورے د اخلاص د صفٰيئ نه خارج دے، او خپل باطن لره په شرك خفي یعنی ریاء باندے خیرن کونکے دے، اودا شرك د انسان په زړهٔ کښے د تور میږي نه چه په توره شپه کښے په تور کاڼري باندے کشار کوي روان وي ددے نه هم زیات پټ وي۔ او د شیطان نه هیڅوك بچ نشي پاتے کیدے مګر هغه څوك چه باریك نظر والا وي، او د الله په عصمت او دٔ هغهٔ په توفیق او هدایت سره نیك بخته شوے وي۔

ورنه شیطان دَ هغه خلقو سره ډیر لازم وي، څوك چه عبادت ته بدے را اووهي، دَ دوئ نه یوه لحظه هم نهٔ غائبیږي، تردے چه دوئ په هریو حرکت کښے په ریاء او شرك خفي کښے آخته کړي، تردے چه سترګو کښے رانجهٔ لګول، بریتونه وارهٔ کول، دَ جُمعے په ورځ خوشبوئے لګول، پګړئ پسرول، او جامے آغوستل۔ په دے اعمالو کښے هم په ریاء کښے دَ مبتلا کولو کوشش کوي۔ ځکه دا په خاصو اوقاتو کښے سنن دي، او دَ نفس په دے کښے پټه برخه ده، ځکه چه دے سره دَ خلقو نظرونه تړلي دي، او طبیعت هم دا ښهٔ ګڼړي، نو شیطان دهٔ لره ددے کولو ته مائله کړي۔ او وائي : دا خو سُنت عمل دے، ددے پریخودل پکار نهٔ دي۔ خو باعث په دهٔ باندے پټ خواهش وي چه ددهٔ دا عمل دَ اخلاص نه اوباسی۔

بلکه څوك چه په یو آباد، ښائسته، پاکیزه او زړهٔ راخکونکي مسجد کښے اعتکاف کوي، نو شیطان دهٔ ته په دے کښے رغبت ورکوي او دهٔ ته دَ اعتکاف فضائل بیانوي۔ او کله دَ اعتکاف کولو دپاره محرك او باعث، دَ مسجد ښائست او دَ طبیعت استراحت وي۔ ددے نښه داده چه په دوه جوماتونو کښے چه کوم یو جومات ډیر ښائسته وي یا دغه علاقه ډیره ښه وي، نو اعتکاف کونکے هغے ته مائله کیږي۔ دا هر څهٔ دَ طبیعت ګډون او دَ نفس خیري، اودَ عمل باطلونکي څیزونه دي۔

او قسَم دے چه هغه ګډون چه سروزرو سره لګیدلے وي، دَ هغے درجات مختلف دي، بیا

هم دَ هغې موندل آسان دی۔ خو په کوم باب کښې چه مونږ لګیا یو، دا دَ هغې نه هم زیات پټ او باریك دے۔ دا وجه ده بعضِ علماء فرمائی : دَ جاهل دَ تول کال دَ عبادت نه دَ عالِم دوه رکعته افضل دی۔ دلته دَ عالم نه مراد ناقد او بصیر دے۔ (الإحیاء : ۵/۱۸۸).

★ **په دے باب کښې تجربے :**

۱ – **یو** سړے چه دَ سر درد ختمولو او دَ ډیرو خطبو په وجه دَ سر درد دفع کولو دپاره پټکے پسروی، او ددهٔ په زړهٔ کښې دَ اتباع سُنت خیال هم نهٔ راځی۔

۲ – **یو** سړے په دے وجه دَ کتابونو تالیف او تصنیف کوی چه دا دَددهٔ کار کسب دے او دا مقصد ئے نهٔ وی چه په دې سره اسلام ژوندے کړی او مسلمانانو ته نفع ورکړی۔

۳ – زمونږ په دے وخت کښې **یو** سړے په حج او عمره کښې رغبت لری، خو مونځ سَم نشی کولے۔ اونهٔ ګیره پریدی، اونهٔ یو سل روپۍ خیرات کوی۔ خو په دے وجه په حج کښې راغبت لری چه په دے کښې سیاحت او چکر دے چه په دے کښې نفس رغبت لری، او دَ رب رضا په دے کښې یو طرفته ده۔

٤ – **یو** سړے جهاد کوی او کافرو سره جنګیږی، خو دا طاقت نهٔ لری چه دَ حرامو نه ځان بچ کړی بلکه دَ جهاد مالونه پټوی، نو جهاد ددهٔ کار کسب ګرځیدلے، دے په دے کښې دَ الله دَ رضا خیال نهٔ ساتی او نهٔ ددهٔ په زړهٔ کښې دَ الله او رسول او اعلاءِ کلمة الله مینه شته۔ لکه ددے خلقو مشاهده مونږ کړیده۔

۵ – **یو** سړے خطبو او تقریرونو ته پیش کیږی، اوکه دَ مشرانو دَ موجودګئ په وجه روستو کړے شی نو بیا خفه وی او دوباره دغه مجلس له نهٔ راځی، نو آیا دا اخلاص دے ؟

٦ – ډیر اسلامی تنظیمونه دی، که دَ الله عز وجل دین دَ دوئ دَ لاسونو نه بغیر دَ بل چا په لاس راځی، نو دوئ ئے نهٔ برداشت کوی۔ بلکه هغه خلقو سره جنګ کوی چه هغوئ اسلامی خلافت قائموی۔ نو که چرے دَ دوئ بنیاد په اخلاص باندے وے نو خامخا به په اسلامی دولت قائمولو خوشحاله وے اګرکه دَ بل چا په لاس باندے ولے نهٔ قائمیږی۔ ځکه مقصد خو اسلامی حکومت دے او تنظیم خو ددے دپاره وسیله او ذریعه ده۔ خو دے خلقو وسیله او ذریعه مقصد اوګرځوله او کوم چه اصل مقصد وو، هغه پریخودلو۔ دا وجه ده چه کافران دَ دوئ په څټونو سوارهٔ شو۔ الله پورے پناه !

۷ – **یو** سړے خپل ځان انتخاباتو ته مخکښې کوی په دے ګمان چه دے به دَ اسلام او مسلمانانو خدمت کوی، سره ددے چه ددهٔ نیت دا وی چه شهرت حاصل کړی او مال

اوګټي۔ او په ګوتو سره ورته خلق اشارے اوکړي۔ سره ددے چه دا کار صحیح نهٔ دے۔ ځکه انتخابات کول حرام او دَ غیر دینو خلقو طریقه ده، او صحیح نیت کولو سره دَ حرام څیز نه حلال نهٔ جوړیږي۔

۸ – **یو سړے** په تراویحو وغیره مونځونو کښے دے دپاره ژاړي یا ژړغونے کیږي، چه ددهٔ څومات ته ډیر خلق راشي او یا په خیر سره ددهٔ تذکره اوشي او یا په دے سره دَ خلقو زړونه نرم شي۔

۹ – **یو سړے** دَ چکر اراده لري او وائي : مونږ دعوت الی الله دپاره اوځو۔ حال دا چه په زړهٔ کښے دَ دعوت دپاره هیڅ خبره نهٔ وي۔

نو دا ټول کارونه دَ اخلاص سره ضد او منافي دي۔ او بچ کیدونکے صرف هغه څوك دے چه الله ئے حفاظت اوکړي۔

دے نه علاوه دَ (شهوتِ خفیه) په فائده کښے نور کارونه عنقریب را روان دي، ان شاء الله۔

۱۰ – **یو** داعي سړے دے، خلق دَ دهٔ په علاقه کښے دهٔ ته محتاج دي۔ لیکن دے دا غواړي چه مثلًا په سعودي یا طائف وغیره کښے دے مقرر شي، ځکه چه هلته تنخواګانے ډیرے دي، او دلته تنخواګانے کمے دي۔ نو ددهٔ رغبت هلته وي، حال دا چه هلته فائده کمه وي۔ او دے دَ خپلے علاقے نه اعراض کوي، حال دا چه فائده دلته ډیره وي۔ نو ددهٔ دا کار دَ اخلاص سره ښکاره منافي دے۔ دا خو مزدور دے چه په خپل دین ګټه کوي۔

۱۱ – دارنګه ډیر **قاریان** دي چه خپلے علاقے ئے پریښي دي او سعودي عربستان ته ددے دپاره ځي چه ډیر مالونه اوګټي۔ او په لږه تنخواه ګذاره نهٔ کوي۔ نو دا خبره دَ اخلاص سره منافي ده۔ دَ دوئ زړونه او واقع دواړه په دے ګواه دي۔ او دا باب عاقل انسان په خپل ځان او په بل کښےویني۔

اخلاص زړهٔ یخوي او خوشحالوي ئے او دَ انسان تعظیم او اکرام کوي۔ او کله چه تهٔ په خپل زړهٔ کښے دَ عمل تاثیر او په خپله سینه کښے انشراح او فراخي اونهٔ وینے، نو پوهه شه چه دا بے اخلاصه عمل دے۔

او توفیق ورکونکے صرف الله عز وجل دے۔

۵ – دَ اخلاص حاصلیدو طریقه او وسائل :

دا الحمد لله ډیر زیات دي۔ او دا کوم اسباب چه مونږ ذکر کوو، نو په دے باب کښے چه چا خبرے اترے کړي، دَ هغوئ اکثریت دے اسبابو ته تعرض نهٔ دے کړے۔

نو مونږ دَ الله په توفيق سره وايو :

۱ - اول سبب په اخلاص حاصلولو کښې :

په الله عز وجل باندے قوی ايمان دے۔ چه دا رياء، ښکاره او پټ ټول شرکونه ختموی، او دَ الله سره بل هيڅ شے نهٔ پريدی۔

۲ - دويم سبب : په آخرت قوی ايمان لرل او دَ هغے استحضار۔ که په دغه ورځ يو بنده دَ اويا پيغمبرانو هومره ايمان راوړی، نو سپك به ئے اوګنړی۔ په دے باندے دليل دا قول دَ الله تعالیٰ دے : ﴿ يا أيها الذين آمنوا لا تبطلوا صدقاتكم بالمن و الأذیٰ، كالذی ينفق ماله رئاء الناس ولا يؤمن باللّٰه واليوم الآخر ﴾ [البقره : ٢٦٤]

(اے ايمان والو ! تاسو خپلے صدقے دَ هغه سړی پشان په زباتنے او تکليف ورکولو سره مهٔ باطلوئ چه هغه خپل مال دَ ځان ښودئ دپاره لګوی، او په الله او په ورځ دَ آخرت ايمان نهٔ لری)۔

نو په دے کښے اشاره ده چه څوك په الله او په ورځ دَ آخرت صحيح ايمان لری، نو هغه به دَ الله په فضل سره په رياء کښے نهٔ پريوځی۔ رياء خو دَ هغه چانه واقع کيږی چه دَ هغهٔ دَ زړهٔ نه ايمان غائب شوے وی۔

۳ - دريم سبب : دَ الله عز وجل دَ عظمت استحضار کول۔ او دا په زړهٔ کښے را وستل، چه الله تعالیٰ ددے لائق دے چه بنده دَ خپل پيدائش دَ ورځے نه واخله مرګه پورے الله ته په سجده پريوځی۔ او الله ددے لائق دے چه دَ انسان دپاره دَ غرهٔ هومره زړهٔ وے او دَ دهٔ دَ سترګو نه دَ نهرونو پشان اوبهٔ دَ الله دَ ويرے دَ وجے بهيدلے، او دغه زړهٔ دَ الله دَ محبت نه ډك وے۔ او دے بنده خپل مملوك ټول څيزونه الله دپاره قربان کړی وے۔ حال دا چه دهٔ خو په دے کارونو کښے يو کار هم نهٔ دے کړے، بلکه دے خو په غفلتونو، خواهشاتو او نافرمانيو کښے بوخت دے۔

نو څوك چه دَ الله دَ عظمت استحضار اوکړی، نو خامخا ددهٔ نه رياء او شرك خفی ختميږی دَ الله په توفيق سره۔

٤ - څلورم سبب : دَ خلقو مدح او ذم هيڅ شے نهٔ ګنړل۔ ځکه دَ دوئ مدح تاته هيڅ فائده نهٔ رسوی هر کله چه ستا اعمال دَ الله په نيز مقبول وی۔ او دَ دوئ ذم تاته هيڅ نقصان نشی درکولے، هر کله چه درنه الله راضی وی۔ بلکه خلق دَ څناورو او جماداتو پشان ګنړل پکار دی چه انسان ددے څيزونو دپاره رياء نهٔ کوی۔ نو دغه شان خلق هم بے نفع او بے

ضرره ګنړل پکار دي۔
او څوك چه خلقو ته ځان ښائي او يا دَ هغوئ مدح طلب کوي، نو ددهٔ مثال دَ هغه کس دے چه په يو پليته کنده کښے پريواتهٔ او نزدے ده چه قتل ئے کړي۔ او خلق په دهٔ ګمان کوي چه ګنے دے په يو باغچه کښے دے، او دا صفت ئے کوي چه دغه سړي په دغه باغچه کښے خپل ټول خواهشات حاصل کړل۔ حال دا چه دے مسکينانو ته پته نهٔ وي چه دا سړے خو په پليته کنده کښے پروت دے چه دَ هغے نه دَ راوتلو طاقت نهٔ لري۔
دارنګه ددے رياکارۍ مثال دَ هغه سړي دے چه دشمنانو قيد کړو او سخت عذاب ئے ورته ورکړو۔او خلق دا ګمان کوي چه دا سړے خو په بنګله کښے اودهٔ دے او يا دَ خپلے ښځے نه فائده اخلي، حال دا چه دے په سخت عذاب کښے آخته وي۔
يا دَدے رياکارۍ مثال دَ هغه سړي پشان دے چه هغه دَ لوږے او فقيرئ نه مري او خلق دا ګمان کوي چه ګنے دے مالدار دے، قِسما قِسم خوراکونه خوري۔
نو په دے مثالونو کښے فکر اوکړه، کيدے شي چه الله ستا دَ زړهٔ نه شرکِ خفي (پټ شرك) او رياء په خپل توفيق سره لرے کړي۔
نو تاله پکار دي چه ټول خلق لکه دَ څناورو او جماداتو پشان اوګنړے۔ چه دَ هغوئ صفت او بدي بيانول دواړه تاته هيڅ شے نهٔ ښکاري۔ او دا اعتقاد جوړ کړے چه الله څهٔ غواړي هغه به کيږي او هغه چه څهٔ نهٔ غواړي، هغه به نهٔ کيږي۔ او عزت ټول دَ الله تعالیٰ په لاس کښے دے۔
۵ – **پنځم سبب** : چه دا فکر اوکړي چه دَ عملِ صالح قبليدو دپاره مهم او ضروري شرطونه دي، چه دا دَ (۱۵) شرطونو نه زيات دي۔ کوم چه په ابتداء دَ اولني جلد (۲۰/۱) کښے تير شوي دي۔ او دا تر اوسه پورے زما په عمل کښے نهٔ دي راغلي۔ نو زهٔ څنګه خپل عمل ته غره شم او يا په دے ځان اوښايم، بلکه مونږ له په خپل عمل باندے خجالته کيدل او ددے نه پس استغفار کول پکار دي۔ چه ددے وضاحت دا راتلونکے سبب کوي :
٦ – **شپږم سبب** : دا فکر کول چه زما په عمل کښے که نقصان او پټ آفت وي چه زهٔ په هغے خبر نهٔ يم، نو الله عز وجل باندے خو هيڅ شے پټ نهٔ پاتے کيږي، کيدے شي چه هغه زما عمل رد کړي او قبول ئے نهٔ کړي۔ او دا دَ هر مؤمن صفت دے۔ الله تعالیٰ فرمائي :
﴿ والذين يؤتون ما آتوا وقلوبهم وجلة أنهم إلى ربهم راجعون أولئك يسارعون في الخيرات وهم لها سابقون ولا نكلف نفسًا إلا وسعها ﴾ الآية [المؤمنون : ٦٢]

(او هغه خلق چه دوئ ورکوی هغه شے چه ورکوی په داسے حال کښے چه د دوئ زړونه یریدونکی وی چه دوئ به خپل رب ته واپس کیږی، دا خلق دَ نیکئ په کارونو کښے تادی کوی او هم دوئ دیته منډه وهونکی دی، او مونږ هیڅ یو نفس له تکلیف نهٔ ورکوو مګر دَ هغے دَ وس مطابق)۔

۷ - اووم سبب : او دا ډیر عجیب سبب دے : هغه دا چه ددهٔ په زړهٔ کښے دَ الله تعالیٰ سره رشتینے محبت وی، چه دَ هغے نه ددهٔ زړهٔ ډك وی او په دے کښے دَ بل چا دپاره هیڅ ځائے نهٔ وی۔ بلکه محبت ددهٔ ټول زړهٔ قبضه کړے وی۔ دے دَ خپل حبیب نه سیوا بل څوك نهٔ وینی او دَ خپل محبوب نه سیوا په بل چا کښے سوچ نهٔ کوی، او دَ خپل محبوب نه علاوه بل څوك نهٔ خوښوی، دَ خپل محبوب نه سیوا دَ بل چا په رضا کښے منډے تړے نهٔ وهی۔ نو ددے سړی په زړهٔ کښے اخلاص داخل شوے، او ددهٔ نه شرك، ریاء او پټ خواهش داسے لرے دے څنګه چه مشرق دَ مغرب نه لرے دے۔ او همدے سړی دَ خپل محبوب په رضا کښے هر قِسم ذلت برداشت کړے۔ خلقو ددهٔ بدی بیان کړے لیکن دے دَ خپل محبوب نه سیوا بل څوك نهٔ وینی نو څکه دَ خلقو په بدی او مدح بیانولو باندے هیڅ باك نهٔ کوی۔

الله تعالیٰ نه غواړو چه مونږ هم ددے خلقو نه جوړ کړی۔ اے الله ! مونږ تانه ستا په اسمِ اعظم سره دا سوال کوو، چه تهٔ مونږ ته خپل محبت را نصیب کړے، لکه څنګه چه تا مونږ ته ددے علم را نصیب کړے۔ آمین !

۸ - اتم سبب : دَ اخلاص په مدح او دَ ریاء، خود پسندئ او پټ خواهش په بدئ کښے قرآن، سنت او دَ نیکانو خلقواقوال مطالعه کول : څکه دَ زړهٔ په اصلاح او صفا کولو کښے ددے ډیر تاثیر دے۔ الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ وذكر فإن الذكر تنفع المؤمنين ﴾ [ذاريات : ٥٥]

(او نصیحت کوه څکه نصیحت مؤمنانو ته فائده ورکوی)۔

۹ - نهم سبب : دَ مخلصینو او رشتینے خلقو سره ملګرتیا کول، څکه دَ دوئ دَ صحبت ډیر لوئے اثر وی۔

۱۰ - لسم سبب : که چرے دَ زړهٔ نه دَ دنیا محبت بیخی اوباسی، نو اخلاص کول به ورته آسان شی، او چاله چه الله توفیق ورکړی نو دا کار کول ډیر آسان دی۔ دَ دنیا محبت خو دَ هرے ګناه بنیا دے۔ او مخکښے تیر شو چه دنیا نه مراد : ریاست، مدح، مال او شهرت

وغيره دي۔ والله المستعان۔

۱۱ - يولسم سبب: کوم کس چه دَ اخلاص اراده لري، هغه به دَ خپلو اعمالو سخت لحاظ ساتي، دَ خپلو احوالو تالاش به کوي۔ خپل نفس او شيطان سره به جهاد کوي۔ او دې قِسم خلقو سره الله دَ خپل مدد وعده فرمائيلې ده۔ الله تعالىٰ فرمائي:

﴿ والذين جاهدوا فينا لنهدينهم سبلنا وإن الله لمع المحسنين ﴾ [عنکبوت : ٦٩]

۱۲ - دولسم سبب: دَ اخلاص حاصليدو دپاره ډيرې ډيرې دعاگانې غوښتل۔ او داسې وئيل: اې الله! زما ټول اعمال خالص دَ خپل ځان دپاره اوگرځوه، او په دې کښې دَ بل هيڅ برخه مۀ پيدا کوه۔ لکه چه دا دعاء به عمر رضي الله عنه غوښتله۔ دارنګه دا دعاء کول: اې الله! ما سره په خپل ذکر، شکر او ښائسته عبادت کولو مدد اوکړې۔ دارنګه دا دعاء: اې الله! ماته په قول او عمل دواړو کښې اخلاص را نصيب کړې۔

په دې باب کښې ډيرې دعاگانې راغلي۔ چا باندې چه دَ دعاء دروازه پرانستې شوه، نو په دۀ باندې دَ رحمت دروازه پرانستې شوه۔

۱۳ - ديارلسم سبب: دَ خپل عمل پټولو کوشش کول، او په خپل قول او حال او اشارې سره دا نۀ راښکاره کول۔ بلکه ضروري ده چه خپلې نيکئ داسې پټې کړي څنګه چه خپلې بدئ پټوي۔

په حديث کښې راځي: « بيشکه الله هغه پرهيزگاره بنده خوښوي چه هغه دَ زړۀ مالداره او گمنامې وي »۔ (رواه مسلم).

دا کار دَ الله په فضل سره په اخلاص کولو کښې مدد کوي۔ او کله چه عمل پټول ممکن نۀ وي، نو بيا څومره چه کيدې شي، دَ هغې په صفا کولو کښې دې کوشش کوي۔ او کله چه دَ اعمالو پټولو په وخت نفس سستي کوي، نو پوهه شه چه دا نفس خراب شوې دې، ددې تزکيه پتا لازم ده۔

۱٤ - څوارلسم سبب: دَ هر عمل شروع کولو په وخت نيت حاضرول۔ چه په دې سره به خالص دَ الله مخ طلب کوي او هغۀ طرفته به نزديکت غواړي۔ او مناسب دي چه په يو عملِ صالح کښې ډير زيات نيتونه اوکړي۔ کيدې شي چه الله ورله دا ټول اُوليکي۔

نبي کريم ﷺ فرمائي: « د عملونو دارو مدار په نيتونو باندې دې۔ هريو کس ته به دده (د ښه يا بد) نيت مطابق (ښه يا بده) بدله ملاويږي، نو د چا هجرت چه د الله او د هغه د رسول دپاره وي، نو دده هجرت به دوئ طرفته گڼلې کيږي۔ او چا چه د دُنيا حاصلولو دپاره

یا د یوې ښځې سره د نکاح کولو په غرض هجرت اوکړو، نو دده هجرت به ددغه مقاصدو دپاره وي» .

په هر نیك عمل کښې نیت کول واجب دي. او دَ مقربینو او مخلصینو کار دادې چه دوئ په مباح څیزونو کښې ښهٔ نیت کوي چه په دې سره دَ الله په توفیق دا عبادات جوړیږي. لکه یو سړې دې دپاره خوراك کوي چه قیام اللیل ته قوي شي او ددهٔ غرض صرف دا وي. یا لکه څوك غوښه دې دپاره خوري چه دَ خپلې ښځې حاجت پوره کړي، ځکه چه هغه دهٔ ته محتاجه وي. نهٔ دې دپاره چه صرف خپل شهوت پوره کړي. البته که په دې سره خپل شهوت دې دپاره پوره کوي چه په دې سره جنت رایاد کړي او یا دَ الله دَ نعمت نه فائده واخلي ځکه چه الله دا خوښ ګنړي چه دَ هغهٔ په رخصتونو باندې راتګ اوکړې شي، نو کیدې شي چه الله تعالیٰ ورله په دې اجر ورکړي.

خو په دې باره کښې دې دَ یې ځایه تاویلونو نه ځان اوساتي، ځکه الله نه خو هیڅ شې پټ نهٔ دې.

او ددې اسبابو **الهام** ماته خپل رب کړې دې. نو دِ هغهٔ دپاره حمد او شکر دې. او هغهٔ نه زهٔ مزید توفیق او دَ هغهٔ د رضا کولو والا عمل غواړم.

٦ – دَ اخلاص دَ ښکاره کیدو ځایونه، او هغه اعمال چه په هغې کښې اخلاص ضروري دې :

١ – په توحید کښې اخلاص کول.

٢ – په نیت او قصد کښې اخلاص کول.

٣ – په عباداتو کښې اخلاص کول : لکه مونځ، روژه، زکات، حج، جهاد، توبه، او جو ماتونو سره په محبت کښې دارنګه په ذکر، دعاء، استغفار، قرآن تلاوت، شرعي علم طلب کولو او باقي عباداتو کښې اخلاص کول.

٤ – په ټولو اقوالو کښې اخلاص کول.

٥ – دَ ښائسته اخلاقو په اختیارولو کښې اخلاص کول : لکه رشتیا وئیل، صبر، زهد او تواضع وغیره کښې.

٦ – الله باندې په توکل کولو کښې اخلاص کول.

٧ – په ټولو اعمالو کښې اخلاص کول.

٧ – **دَ اخلاص فوائد :** ډیر زیات دي.

١ - اخلاص دَ اعمالو او اقوالو قبليدو اساس او بنياد دے۔

٢ - اخلاص سره بنده په دنيا او آخرت کښے پورته کيږی۔

٣ - اخلاص دَ انسان نه وسوسے او وهمونه ختموی۔

٤ - اخلاص بنده لره دَ غير الله دَ غلامئ نه آزادوی۔

٥ - اخلاص اجتماعی علاقات مضبوطوی او ددے په وجه الله امت سره مدد کوی۔

٦ - اخلاص سره الله دَ انسان نه دَ دنيا مصيبتونه ختموی۔

٧ - اخلاص په وجه دَ انسان زړهٔ ته اطمينان رسی او انسان خپله نيك بختيا محسوسوی۔

٨ - اخلاص په وجه ايمان مضبوطيږی او انسان ته فسق او گناه بدے ښکاری۔

٩ - اخلاص دَ انسان عزم او اراده مضبوطوی، چه ددے په وجه انسان دَ سختيو مقاومت کولے شی او په دنيا او آخرت کښے کامل امن او هدايت حاصلولے شی۔

(نظرة النعيم : ٣/١٤٠).



۴۰ - عمده فائده

شهوتِ خفیه (پټ خواهش)

پیژندل او دَ هغې علاج

دا فائده دَ مخکښې فائدې سره تعلق لري.

دې باره کښې زمونږ يو ورور صالح عبد الرحمن مدنی حفظه الله يوه وړوکې شان رساله ليکلې، دَ هغې دَ ډيرې فائدې دَ وجې نه زهٔ هغه رانقل کول غواړم. ځکه چه هغه دَ اکثرو لوستونکو سره نشته. نو دَ نفع عام کولو دپاره ئې زهٔ په خپله دې رساله کښې نقل کوم. الله تعالیٰ دې ددې مؤلف، ناقل، کاتب او لوستونکی له جزائے خير ورکړي.

مقدمه : الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على أشرف المرسلين نبينا محمد وعلى آله وأصحابه أجمعين. وبعد :

څوك چه دَ الله دَ حدودو سره اودريدهٔ او دَ هغې نه ئې دَ خپل نفس خواهشاتو او مرادونو ته تجاوز اونهٔ کړو، نو واقعي چه الله تعالیٰ ددې کس عزت او اکرام اوکړو. الله تعالیٰ فرمائی

﴿ وأما من خاف مقام ربه ونهى النفس عن الهوى فإن الجنة هي المأوى ﴾ [نازعات ۴۰، ۴۱]

(او څوك چه دَ خپل رب په مخکښې دَ اودريدو نه اويريدهٔ او خپل نفس ئې دَ خواهش نه بچ کړو، نو بيشکه چه جنت ددهٔ دَ ورتلو ځائے دے).

او انسانی نفس که خپل خاوند ددې لحاظ اونهٔ ساتی او دَ هغې ګريبان اونهٔ نيسی نو هلاکتونو طرفته به ئې بوځی.

﴿ إن النفس لأمارة بالسوء إلا ما رحم ربي إن ربي غفور رحيم ﴾ [يوسف : ۵۳]

(بيشکه چه نفس دَ بدئ ډير زيات حکم کونکے دے مګر هغه څوك چه زما رب پرې رحم اوکړي، بيشکه چه زما رب بخښونکے مهربانه دے).

نو کله چه انسان ديته واګے ورسست کړي نو انسان لره دَ شر دروازو ته رسوی. او په تباهيو کښې ئې غورزوی. نو بيا نفس دا کار مزيدار ګڼړي او دَ خير خواه او تجربه کارو هوښيارانو په اقوالو پرواه نهٔ کوی. نو بيا په دنيا کښې روان وی او په خطاګانو، غلطيو

کښيږي وخت تيروي او دَ ابليس مکر ورله خوراك ورکوي۔

او واقعي عاقل او زيرکه شخص هغه دے چه هغه دَ خپل نفس سرکشي جوتي کړي او دَ خير خواهانو د ارشاد او رهنمايئ نه فائده واخلي۔ او که څوك ورله صفت کوي نو دَ هغے پرواه اونۀ ساتي، اوکه څوك ئے بدي بيانوي نو خفه نشي۔

وجه داده چه اکثر خلق چه تباه شوي دي نو په دے وجه چه دوئ دَ خلقو نه يريږي او دَ دوئ دَ مدح او صفت سره محبت کوي۔ نو دَ دوئ ټول حرکات دَ خلقو دَ رضا موافق وي، ځکه چه دَ هغوئ دَ صفت اميد لري او دَ بدئ بيانولو نه ئے يريږي، حال دا چه دا د تباهئ خبره ده۔

زما وروره ! دا کم عقلي ده چه خلق ستا دَ سترګو دَ ښائست صفت اوکړي حال دا چه تۀ روند ئے هيڅ ښے نۀ وينے، او تۀ په دے صفت دهوکه شے۔ دارنګه دَ خپل جمال په صفت باندے دهوکه شے حال دا چه تۀ کانړے ئے۔ دَ خپل لاس په قوت باندے دهوکه شے حال دا چه هغه شل وي۔ دَ خپلے خپے په قوت باندے دهوکه شے حال دا چه هغه کړه وي۔ دَ خپل بدن دَ خرمن په ښائست باندے دهوکه شے حال دا چه تۀ برګے ئے۔ دَ خپل غوږ په حُسن باندے دهوکه شے حال دا چه تۀ کونړ ئے۔ په خپله ژبه دهوکه شے حال دا چه تۀ چاړا ئے۔

دا پوره کم عقل توب او غفلت دے : چه څوك ستا په زهد او تقوىٰ سره صفت اوکړي، او تۀ په هغے خوشحاله شے، حال دا چه تۀ ددے برعکس ئے۔ دارنګه په تقوىٰ، عبادت او کوشش سره ستا صفت کولو باندے خوشحاله شے حال دا چه تۀ سست او کوتاه ئے۔ په فصاحت او بلاغت سره په خپل صفت باندے خوشحاله شے حال دا چه تۀ غلطي کونکے او خطاء کيدونکے ئے۔ په علم سره ستا صفت اوشي حال دا چه تۀ جاهل يا جاهلانو سره مشابه ئے۔

دا ستا خپل نفس له دهوکه ورکول دي چه تۀ داسے جامه اغوندے چه هغه ستا نۀ وي۔ تۀ دَ زهد، تقوىٰ، ذکاوت، زيرکتيا، فصاحت او مريدو او هر هغه ښۀ صفت چه خلقو ته محبوب وي دَ هغے جامه اغوندے، حال دا چه حقيقت کښے تاںۀ ده اغوستے۔ يا خلق په تا دهوکه شي او دا جامه تاته واغوندوي او يا تاله دهوکه درکوي او تۀ په دے خوشحاليږے، تکبر او فخر او لوئي کوے او ځان غټ ګڼړے۔ حال دا چه تاته ښۀ پته ده که ستا حالت خلقو ته ښکاره شو، نو دا به دروغ او وَهم وي۔ او کومه خبره چه خلق ستا په باره کښے کوي دَ هغے هيڅ حقيقت نشته۔

خپل نفس سره حساب اوکړه او په خپلو اقوالو او افعالو کښې فکر اوکړه او دَ خپل خير تالاش اوکړه، او دَ خپل دشمن ابليس دَ چلونو او مکرونو دپاره بيدار اوسيږه، او په دې ښهٔ پوهه شه چه هغهٔ ستا په خلاف جنگ اعلان کړې او ستا دَ جنگ دپاره ئې چَل او منصوبه جوړه کړې، دَ هغهٔ په خبرو مهٔ دهوکه کيږه، بلکه دَ هغهٔ دَ وسوسو او وهمونو نه اويريږه، او دَ خپل ځان سره خپله فيصله اوکړه. دَ خلقو په ثناء صفت مهٔ دهوکه کيږه اومهٔ دَ خلقو مذمت او بدئ له اعتبار ورکوه.

مالك بن دينار رحمه الله فرمائي : د کوم وخت راسې چه ما خلق پيژندلی دی، زهٔ دَ دوئ په مدح نهٔ خوشحاليږم، او نهٔ دَ دوئ بدی بده گنړم. ځکه دَ دوئ ثناء ويونکې دَ حد نه تجاوز کونکې دې، او بدی ويونکې ئې دَ حد نه تيريدونکې دې کله چه عالِم دَ عمل دپاره علم زده کړی نو هغه ئې مات کړی، اوکه دَ عمل نه سيوا بل څهٔ دپاره ئې زده کړی نو فخر ورله نور زيات کړی. (سير أعلام النبلاء : ٥/٣٦٢).

فضيل بن عياض به فرمائيل : کله چه تهٔ کينې او دَ خبرو اراده اوکړې، او دا پرواه اونهٔ ساتې چه څوك ستا بدی بيانوی او څوك ستا مدح، نو بيا خبرې اوکړه.
(سير أعلام النبلاء : ٨/٣٨٢).

محترم لوستونکيه !

تهٔ که نارينه ئې اوکه زنانه، عالم ئې که جاهل، فقيه ئې که محدث، اصولی ئې که مؤرخ اوکه نحوی، طب او علاج باندې پوهيږې اوکه په فلك او حساب باندې، مالدار ئې که فقير، زميندار ئې که تاجر که کاريگر، مدرس ئې که طالب. که تهٔ هر څوك ئې، تاله پکار دی چه زهٔ کوم شې ليکمه، په هغې پوره سوچ اوکړه، او په دې ښهٔ پوهه شهٔ چه تهٔ دَ شهوتِ خفيه (پټ خواهش) نه خلاص نهٔ ئې.

ډير خلق يو سړې دَ حق خبره اوکړی، دَ نيکئ حکم اوکړی، نو الله په دهٔ هغه څوك مقرر کړی چه هغه ورله تکليف ورکوی، ځکه چه ددهٔ مقصد خراب وی او دې دينی مشری غواړی. نو دا يو پټ مرض دې چه دَ فقهاؤ په نفسونو کښې ئې سرايت کړې. دارنگه دَ مالدارو انفاق کونکو په نفسونو کښې ئې سرايت کړې. دارنگه دا يوه پټه بيماری ده چه دَ اميرانو، فوجيانو او مجاهدينو په زړونو کښې ئې سرايت کړې. نو څوك چه علم دَ عمل دپاره طلب کړی، نو علم به دهٔ لره مات کړی او دې به په خپل نفس باندې ژاړی. او څوك چه دَ مدرسو، افتاء، فخر او رياء دپاره علم زده کړی، نو هغه حمله او تکبر کوی او خلق

سپك ګڼري، چه خود پسندي ده لره تباه کړي او د خلقو په زړونو کښې ده سره بُغض پیدا شي۔ ﴿قد أفلح من زكها، وقد خاب من دساها﴾ [الشمس : ۱۰]
(هغه څوك کامیاب شو چه خپل نفس ئې پاك کړو، او هغه څوك نا امیده شو چه خپل نفس ئې ګمنامې او تباه کړو)۔

ددې رسالې د لیکلو باعث په ما باندې دا وو چه ما خپل ځان او زما پشان د ډیرو خلقو حالت اولیدلو چه هغوئ د شیطان د وسوسو نه پوره حصه حاصله کړیده، او ابلیس لعین ورته شهوتِ خفیه طرفته هزار لارې یرانستی دی۔ نو دوئ شهرت خوښوي او د خلقو ثناء صفت ښه ګڼري۔ نو زه غواړم چه په دې خبره تنبیه ورکړم او د شهوتِ خفیه د بدئ او هغې نه د یرولو په باره کښې څه تفصیل اوکړم۔ او دا رساله ما یو څو فصلونه کړیده :

اول فصل : د پټ خواهش د راښکاره کیدو ځایونه۔

دویم فصل : د شهرت او د ثناء صفت خوښولو بدی۔

دریم فصل : د شهرت او ثناء صفت خوښولو نه د سلفو لرې والې۔

څلورم فصل : د شهرت اوثناء صفت خوښولو علاج۔

الله تعالیٰ نه غوړم چه د سمې خبرې کولو توفیق راکړي۔ هغه ماله کافي او ډیر ښهٔ ذمه وار دې۔ والحمد لله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سید الغر المحجلین محمد بن عبد الله وعلی آله وأصحابه أجمعین.

اول فصل : د پټ خواهش راښکاره کیدو ځایونه

شهرت ته خپل ځان اوچت اوچت کول او د خلقو د ثناء صفت سره مینه کول، همدا شهوتِ خفیه (پټ خواهش) دې چه دلته ئې بیانول مقصود دی۔

ددې د راښکاره کیدو ځایونه ډیر زیات دی۔ په دې فصل کښې زهٔ د هغې څهٔ برخه ذکر کوم، کوم چه په وضاحت سره طالب علم او دیندارو ته ښکاره کیږي۔ او د دوئ نه علاوه چه بلې طبقې ته راښکاره کیږي نو زهٔ هغې ته تعرض نهٔ کوم۔

۱ - په اقوالو او افعالو کښې تکلف او بناوټ کول :

دې دپاره چه خلق ئې صفت اوکړي او د بدئ نه لرې شي۔ ددې څیز نه سلف ډیر زیات نرې وو۔ علي بن بکار رحمه الله فرمائي : کهٔ زهٔ د شیطان سره ملاقات اوکړم، دا ماته ډیره غوره

ده چه زهٔ دَ حذیفة المرعشی سره مخامخ شم۔ زهٔ یریږم چه زهٔ به هغهٔ دپاره بناوټ اوکړم او دَ الله دَ سترگے نه به اوغورزیږم۔ (سیر أعلام النبلاء : ۹/۵۸۵).

۴ - بعض خلق تالیف او تصنیف کوی، حال دا چه علمی سرمایه (پنگه) ئے کمه وی۔ او بیا دَ هغه شئ په لیکلو هم اکتفاء نهٔ کوی کوم چه ورته زده وی یا ترینه قبلولے شی، بلکه هغه غټو مسائلو ته گوتے اچوی چه په هغے کښے لوئے لوئے علماؤ توقف کړے۔ بیا چه کتاب اولیکی نو په هغے یواځے نوم لیکلو باندے اکتفاء نهٔ کوی، بلکه ورسره کُنیه هم لیکی او خپل ځان او والدینو او مشائخو دپاره دعاء هم لیکی۔ حالانکه کله دَدهٔ مشائخ هم نهٔ وی۔ مثلاً داسے لیکی چه دا کتاب : فقیر بنده ابو فلان لیکلے، الله دے دهٔ ته او ددهٔ والدینو او غائبو او حاضرو، مړو او ژوندو تولو استاذانو ددهٔ ته مغفرت اوکړی۔

بیا په دے هم اکتفاء نهٔ کوی بلکه په کتاب کښے دننه دا لیکی چه دهٔ ددے کتاب په لیکلو ډیر تکلیف برداشت کړے او ډیره موده کښے ئے لیکلے، ددے په لیکلو ډیرے خوبه شوے او گرځیدلے۔ چه ددے اجر دَ لوئے الله نه غواړی۔ ددے نه علاوه نور داسے عبارتونه لیکی چه هغه په رفعت او تکبر باندے دلالت کوی۔ مثلاً داسے وائی : چه زهٔ وایم۔ زما رائے داده۔ زمونږ په نیز غوره مسئله دا ده۔ زما په نیز راجحه داده۔ اوداسے نور۔

دا خبره اگر کهٔ دَ لویو لویو محققینو علماؤ نه مقبوله ده، دے دپاره چه دَ هغوئ رائے دَ بل چا دَ رائے نه جدا معلومه شی۔ لیکن دَ هغه طالب گوتی نه چه لا بنړکے پرے نهٔ دی راختلی۔ نو ددهٔ نه مقبوله نهٔ ده۔

اوددے خلقو حال علامه ابن الجوزی رحمه الله داسے بیانوی : ابلیس په هغه علماؤ چه هغوئ کامل علمونو والا دی داسے تلبیس او گډوډی راوستے ده چه دوئ دَ شپے ځان بے خوبه کوئ او دَ ورځے ځان ستړے کوی او علمی کتابونه لیکی، او ابلیس دوئ ته دا ورښائی چه دَ دوئ مقصد دَ دین نشر او اشاعت دے۔ حال دا چه دَ دوئ پټ مقصد تذکره، شهرت، مشری او مصنف ته دَ مختلفو اطرافو نه دَ خلقو سفرونه وی۔ او دا تلبیس هغه وخت را ښکاره کیږی چه که خلقو ددهٔ په تصنیفاتو نفع حاصل کړے وے، بغیر ددے نه چه دهٔ ته بار بار راشی۔ او یا ددهٔ پښان په بل عالم باندے دا لوستلے کیږی، نو دے پرے خوشحالیږی۔ که چرے ددهٔ مقصد دَ علم نشر او اشاعت وی۔

(تلبیس إبلیس ص : ۱۳۱).

٣ - بعض خلق دے دپاره ناشنا علمی مسئلے کوی چه دَ خلقو نظرونه ورته متوجه شی، هغوئ دهٔ وینا نقل کړی او هغے باره کښے خبرے اترے کیږی. څینے خلق دهٔ د خبرے دپاره بدله اخلی او دهٔ دپاره تعصب کوی، دهٔ مدح او تعظیم کوی. او نور خلق په دهٔ بدی بیانوی او دهٔ د مقابلے دپاره را وړاندے کیږی او یا ورسره مناظرے کوی. په دے دواړو حالتونو کښے دے خپل مقصد ته رسیږی، دهٔ آوازه خوریږی او خلق دهٔ خبره نقل کوی او په مجلسونو کښے دهٔ نوم بار بار یادیږی، نو دے سره دا مشهور شی. او همدا دهٔ مقصد وی.

ابن جوزی رحمه الله ذکر کړی چه : څهٔ خلقو ډیر حدیثونه راجمع کړل او دَ دوئ مقصد صحیح نهٔ وو، اونهٔ ئے دا اراده وه چه په ګڼرو طریقو سره دَ روایتونو راجمع کولو په وجه صحیح دَ غیر صحیح نه جدا کړی. بلکه د دوئ مراد داوو چه زمونږ سره اوچت او ناشنا سندونه دی. دوئ به په ښهرونو ګرځیدل او داسے به ئے وئیلے : چه ما دَ فلانی سره ملاقات کړے او ما سره دومره سندونه دی چه بل هیچا سره نشته، ماسره دومره حدیثونه دی چه هیچا سره نشته. دا تولے خبرے دَ اخلاص نه بیخی جدا دی. دَ دوئ مقصد ریاست او فخر کول دی. دا وجه ده چه دوئ شاذ او غریب حدیثونو پسے لګیدلی دی.

(تلبيس إبليس ص : ١١٦).

٤ - دَ پټ خواهش دَ راښکاره کیدو دَ ځایونو نه یو ځائے دا هم دے چه : دَ خپل ځان دپاره دَ حافظے دَ قوت دعوٰی اوکړے شی. لکه بعضِ خلق کله درس یا تقریر کوی او ځان سره کتاب یا هغه ورقه چه په هغے کښے دَ موضوع بنیادی مواد موجود وی، نهٔ راوړی. نو نتیجه داشی چه په خپله خبره کښے ګډوډ شی او ډیرے غلطئ اوکړی. په دے کار کولو کښے په دهٔ باعث صرف دا خبره وی چه خلق زما دَ قوتِ حافظے صفت اوکړی.

امام حافظ عبد الغنی مقدسیؒ نه تپوس اوشو، تهٔ په کتاب کښے دَ کتلو نه بغیر ولے مسئلے نهٔ بیانوے؟ وئیلے : زهٔ دَ خود پسندئ نه یریږم.

(سير أعلام النبلاء : ٢١/٤٤٩).

٥ - په علماؤ رد او نقد کول :

بعضِ خلق په لویو او وړو علماؤ باندے دے دپاره رد کوی چه خلقو کښے دا مشهوره شی چه دهٔ د فلانی خطائی راښکاره کړه، په فلانی باندے ئے رَد اوکړو او هغه ئے خاموش کړو، فلانی له ئے قناعت ورکړو، فلانی ورسره خبره اومنله. چه ددے په وجه دے مشهور شی او

آوازه ئې خوره شي. او همدا ددهٔ آخري مقصد وي.
عبد الملك جوعي رحمه الله فرمائي: كله چه تهٔ يو سړے اووينے چه جګړے او مناظرے کوي نو دا مشري خوښوي. (سير أعلام النبلاء: ۱۲/۷۹).
٦ - **دَ كتابونو راجمع كولو** او دَ مخطوط او مطبوع راجمع كولو اهتمام كول. دے دپاره نهٔ چه ګنے علم اواستفادے سره ئې شوق دے، بلكه دے دپاره چه په دے سره فخر او مباهات اوكړي او خلق اووائي چه: فلانے كتاب دَ فلاني سره موجود دے، او فلانئ ناشنا مخطوطه دَ فلاني په مكتبه كښے پرته ده. نو خلق ددهٔ او ددهٔ دَ مكتبے تذكره ډيره كوي، دَ هغے زيارت له ورځي او هغهٔ سره رابطه كوي او دَ هغهٔ نوم بار بار آخلي. سره ددے، كه دهٔ نه يو كتاب اوغوښتے شي نو بيا عذر كوي اوبه ددهٔ دَ مكتبے نه دَ استفادے مطالبه اوكړے شي نو بيا تنګيږي.
۷ - **ځينے خلق كتابونه** په دے نيت ګوري چه بعضِ ناشنا مسائل په كښے ياد كړي او بيا دَ طالب علمانو په مجمع كښے هغه پيش كړي، او يا دَ هغے نه يو شمير مسئلے دَ دلائلو سره يادے كړي او هغه بيا په هر مجلس كښے پيش كوي، او دَ خلقو سره په هغے كښے مناقشه (مقابله) كوي، دے دپاره چه خلقو ته ددهٔ علميت معلوم شي او دَ علم په پخلي سره خلق ددهٔ صفت اوكړي.
۸ - **بعضِ خلق** په دے وجه كتابونه راجمع كوي چه دَ علماؤ په جامه باندے ځان ډولي كړي، نو ځغه او پټكے آغوندي او دَ علماؤ عبارتونه تكراروي، دے دپاره چه دوئ ته اشاره اوكړے شي. ددے خلقو حالت دَ شاعر ددے وينا مطابق دے:

أما الخيام فإنها كخيامهم وأرى نساء الحيّ غير نسائهم

(خيمے راته همغه ښكاري، خو دَ قبيلے ښځے راته بدلے ښكاري).
۹ - **بعضِ خلق** ځان سره هر ځائے كتابونه ګرځوي، خلقوته ئې ښكاره كوي. ګاډو كښے ئې ګرځوي او كله چه دَ چا ملاقات له ځي نو ځان سره ئې آخستي وي، بلكه جوماتونو ته ئې هم وړي او دَ مونځ په وخت ئې خپلے مخے ته ګدي. حال دا چه توله ورځ تيره شي او دَ هغے نه يو حرف هم اونهٔ لولي. بلكه دے دپاره ئې ګرځوي چه خلق ورته اوګوري او دوئ ته علماء يا طالب علم اووائي. چه په دے سره دوئ په طبيعت كښے شي.
۱۰ - **ډير خلق** داسے دي چه دَ زهد دعوىٰ كوي او په لباس كښے دَ زاهدانو پينښے كوي. او يا دَ شهرت لباس دے دپاره آغوندي چه خلق ورته اشاره اوكړي چه دا زاهد دے.

ابن جوزي رحمه الله فرمائي : دا پیوندي جامې ډیرو خلقو ته دَ ریښمو آغوستلو نه هم زیاتې ښې ښکاري، ځکه چه په دې سره ددې خاوند په زهد مشهوریږي۔ دا وجه ده چه دَ روغې جامې نه دوئ پیوندي جوړوي دې دپاره چه زاهدان معلوم شي۔
(تلبیس ابلیس ص : ١٨٧).

حال دا چه دَ رسول الله ﷺ په ژبه دَ شهرت دَ لباس نه منع راغلې۔لکه فرمائي : « چا چه دَ شهرت جامه واغوستله، الله به ورته دَ ذلت جامه واغوندوي، بیا به ئې په دې کښې اور اوسوزوي»۔
(أحمد : ٩٢/٢، ابن ماجه : ١١٩٢/٢، رقم : ٣٦٠٧، أبوداود : ٤٣/٤، رقم : ٤٠٢٩، وحسنه الألباني في صحیح ابن ماجه : ٢٨٤/٢).

ابن عمر رضی الله عنه په خپل یو بچي باندې قبیحه او کمزورې جامه اولیدله، نو وې فرمائیل : دا مهٔ آغونده۔ ځکه چه دا دَ شهرت جامه ده۔
(تلبیس إبلیس ص : ١٩٣).

ذو النون په محمد بن زید بن ریان باندې زیړه موزه اولیدله، نو وې فرمائیل : ځویه ! دا اوباسه ځکه چه دا دَ شهرت جامه ده۔ (تلبیس ابلیس ص : ١٧).

ابو خلدة فرمائي : ما ابو العالیة نه واوریدل چه فرمائیل ئې : ابو امیه عبد الکریم زما زیارت له راغې او هغهٔ دَ وړئ جامې آغوستې وې، نو ما ورته اووئیل : دا دَ راهبانو (پیرانو) جامې دي۔ او مسلمانان خو چه کله خپلو کښې ملاقات کوي نو ښائسته جامې آغوندي۔
(سیر أعلام النبلاء : ٢١٣/٤).

١١ - بعضِ خلق په خپلو خبرو کښې ځان ژړغونې کړي او په خپل مزل کښې ځان مړ کړي، دې دپاره چه خلق ورته نیك او پرهیزګاره اووائي۔

ابو سلمه بن عبد الرحمن فرمائي : دَ رسول الله ﷺ صحابه نهٔ کاږهٔ روان وو اونهٔ ځان مړهٔ کونکي وو۔ هغوئ به په خپلو مجلسونو کښې شعرونه وئیل او دَ خپل جاهلیت دَ وخت کارونه به ئې را یادول، او کله به چه په دوئ کښې دَ یو کس دَ دین په مقابله کښې څهٔ خبره اوکړې شوه، نو دَ سترګو کاڅې به ئې داسې تاویدلې لکه تهٔ به وائې چه دا لیونې دې۔
(تلبیس إبلیس ص : ٢٩١).

عمر ﷺ یو ځلمي ته اوکتل چه سرئې ښکته کړې وو۔ ورته ئې اوفرمائیل: اې هلکه ! سر دې پورته کړه ځکه خشوع دَ هغه شئ نه نهٔ زیاتیږي کوم چه په زړهٔ کښې وي۔ او څوك

چه خلقو ته دَ هغه خشوع نه زیاته خشوع ښکاره کړی کومه ئې چه په زړهٔ کښې ده، نو دا کس دَ نفاق دپاسه نفاق را ښکاره کوی.
(تلبیس إبلیس ص : ۲۹۱).
دَ امام شافعی رحمه الله په دیوان کښې دی :

ودع الذين إذا أتوك تنسكوا وإذا خلوا فهم ذئاب خراف

(هغه خلق پریده چه کله تاته راشی نو ځان نه بزرگانو جوړ کړی، او کله چه یواځې شی نو دوئ دَ ګډو بزو ماتونکی شرمخانِ وی). (ديوان الشافعي : ٦٢).
۱۲ - ځینې خلق به تاته ځان داسې ښکاره کوی چه تهٔ به وائې دا ستومانه دې ځکه چه دَ شپې ئې خوب نهٔ دې کړې، او په څهٔ طریقه به درته دربنائی چه دې تهجد کوی.
ابن جوزی رحمه الله فرمائی : ډیره عجیبه خبره چه ما اولیدله هغه دا ده چه یو سړی به خلقو ته دَ جُمعې په ورځ سَحر مونځ کولو، بیابه ئې اوکتل او آخری دوه سورتونه به ئې اولوستل او دَ ختمِ قرآن دعاء به ئې لوستله. خلقو ته به ئې دا وربنودل چه ګنې ما قرآن ختم کړو. حال دا چه دا طریقه دَ سلفو نهٔ وه، سلفو خو به خپل عبادات پټ ساتل.
دَ ربیع بن خثیم ؒ ټول عبادات به پټ وو. کله به چه هغهٔ تلاوت کولو او څوك به ورغې او دَ هغې مخې ته به قرآن پروت وو، نو هغه به ئې په کپړه پټ کړو.
امام احمد ؒ به ډیر زیات قرآن لوستلو او پته به ورته نهٔ لګیدله چه کله به ئې ختموی.
(تلبیس إبلیس ص : ١٤٣).
۱۳ - ځینې خلق دا کوشش کوی چه تاته خپله روژه در اوښائی، تاته به وائی : زهٔ دَ ګل او زیارت په ورځ دَ ماښام نه لږ مخکښې په خپل کور کښې یم. یا وائی : زهٔ دَ ګل او زیارت په ورځ دَ ماښام نه روسته روټۍ خورم. یابه ځان سره روژه ماتې واخلی او په جومات کښې به ئې کوی، او خلقو ته دا وربنائی چه ګنې دې دَ تکبیرِ اولیٰ ډیر حریص دې. اوکه چرې په خپل کور کښې ئې روژه ماتوله نو دَ تکبیرِ اولیٰ ثواب ترې فوت کیدهٔ. دا کار دې دپاره کوی چه خلقو ته ور اوښائی چه دا په مونځ او روژو ډیر حریص دې. نو خلق به ددهٔ صفت اوکړی او په دوئ کښې به په مونځ او روژې سره مشهور شی.
۱٤ - او ځینې خلق دا کوشش کوی چه په اعتکاف کولو سره دَ خلقو صفت حاصل کړی. وائی : زهٔ به دَ رمضان په آخری عشره کښې په کور کښې نهٔ یم. یا وائی : څوك چه ما سره ملاویدل غواړی نو ما دې په جومات کښې اولټوی. او یا خلقو ته وربنائی چه دَ

رمضان په آخري لسو ورځو کښې دا په مکه مکرمه کښې وي. او که اعتکاف هم کوي نو داسې تصرفات کوي چه دده مقصد دا وي چه خلقو ته ورا وښائي چه دے اعتکاف کونکے دے. چه بیا خلق دده ثناء صفت او کړي. حال دا چه که دا کار ئې دَ خلقو نه پټ کړے وے، نو دا به ورله غوره وه.

١٥ - بعض خلق په عبارتونو کښې شقونه را اوباسي او دَ خطبیانو په لغوي غلطیو پسې لګیدلے وي، او که شاعر وي نو په خپل شعر او نظم باندے فخر کوي. دے دپاره چه په خلقو کښې شهرت او مدح حاصله کړي.

١٦ - ځینے خلق دَ ریاء او ځان ښودنے دپاره فراخه خرچے کوي، دے دپاره چه خلق ئې صفت اوکړي. کله دا په اشاره او کله په صراحت سره راښکاره کوي. او کله یُو کتاب په خپلو پیسو چاپ کړي او دَ هغې دپاسه اولیکي: دا کتاب دَ یو لوئې مُحسن په نفقه چاپ شوے، او یا یو جومات جوړ کړي او په هغې خپل نوم کیدي.

١٧ - دَ تکبر دَ راښکاره کیدو دَ ځایونو نه یو ځائے دا هم دے: چه انسان هغه کارونه او اعمال کوي چه په هغې سره خپل ځان را ښکاره کړي. لکه خپل صفتونه په خپله کوي او ځان ته غره وي. کله په ډاګه او کله په اشارے سره.

١٨ - دارنګه فتوے ورکولو کښې تادي کوي او ځان نۀ ساتي، دے دپاره چه هسې نۀ څوك ورته کمزورے او کم علمه اونۀ وائي. او که ځان بچ کوي نو داسې نۀ وائي چه زۀ نۀ پوهیږم. بلکه وائي: په دے کښې دَ علماؤ اختلاف دے. او هر یو سره دلیل شته دے. او یا په یوه عجیبه طریقه سره دَ جواب ورکولو نه ځان خلاصوي چه سائل او تپوس کونکي ته دا پته اونۀ لګي چه ګنے دے په جواب نۀ پو هیږي.

حال دا چه سلفِ صالحین ددے کار نه څومره لرے وو!

ابن جوزي رحمه الله فرمائي: عبد الرحمن بن ابي لیلیٰ" فرمائي: ما یو سل او شپیتۀ صحابه کرام" اوموندل چه په هغوئ کښې به دَ چانه دَ یوے مسئلے تپوس اوشو، نو یو کس به بل ته حواله کوله، او هغه بل به بل ته، او دۀ به هغۀ ته، تردے چه اولنی کس ته به واپس شوه.

یو سړي ابراهیم نخعي" نه دَ یوے مسئلے تپوس اوکړو. ورته ئې اوفرمائیل: تاته مانه سیوا بل څوك ملاؤ نشو چه هغۀ نه دے تپوس کړے وے!

مالك بن انس رحمه الله فرمائي: ما فتوے ورکول نۀ دي شروع کړي تردے چه ما دَ اویا

استاذانو نه تپوس اوکړو، چه آيا تاسو ما دپاره جائز ګنړئ چه زۀ فتوئ ورکړم؟ نو هغوئ وئيلې: هاؤ! خلقو ورته اووئيل: کۀ چرې دغه استاذانو تۀ منع کړې وې نو بيا؟ وې فرمائيل: کۀ دوئ زۀ منع کړې وې، نو خامخا به زۀ منع شوې وې.
يو سړي احمد بن حنبلؒ نه تپوس اوکړو، ما قسَم کړې او دا پته راته نشته چه څنګه قسَم مې کړې. وې فرمائيل: آرمان دې چه تاته پته وې چه تا څنګه قسَم کړې. آرمان دې چه زۀ پو هيدلې چه زۀ تاته څنګه فتوئ درکړم.
دا دَ سلفِ صالحينوؒ خوئې او عادت وو. څکه چه دوئ الله نه يريدل. څوك چه دَ دوئ په سيرت نظر واچوي نو ادب به زده کړي. (تلبيس إبليس ص: ١٢١).
١٩ - دَ تکبر بل مظهر دادې چه يو سړې هلکانو او وړو طالبانو سره ملګرتيا کوي او هغوئ تـه نـاشنـا مسئلې وراچوي، دې دپاره چه هغوئ دَ خپل علمي پنګې دَ کم والي په وجه او دَ عقلونو دَ کمزورئ په وجه ددۀ نه متاثره شي او دۀ پسې روان شي او دۀ دپاره تعصب کوي، نو دې به دَ خپلو ملګرو او تائيد کونکو په کثرت باندې خوشحاله وي.
او دا شيطاني تلبيس دې. لکه ابن جوزي رحمه الله فرمائي: بعضِ علماء او طلباء دَ تابعدارو په کثرت باندې خوشحاليږي. او په دوئ باندې ابليس دا تلبيس کوي چه دا خوشحالي دَ طالبانو په ډير والي ده. حال دا چه ددۀ مطلب دَ ملګرو ډير والې او شهرت وي. ددې پته هله لګيږي چه کله بعضِ طالبان ددۀ نه علاوه بل چاله لاړ شي چه هغه ددۀ نه لوئې عالم وي، نو دا خبره په دۀ ګرانيږي. نو دا دَ هغه چا صفت نۀ دې څوك چه په تعليم کښې مخلص وي. (تلبيس إبليس ص: ١٣١).
٢٠ - دارنګه دا هم کبر دې چه څوك څانله يو عمل کوي او دَ نورو شرکت نۀ غواړي، بلکه کۀ څوك ورسره په دغه کار کښې شريك شي يا ورسره مقابله کوي نو دې دغه عمل پريدي.
٢١ - دارنګه دا هم کبر دې چه کله څوك دَ يو ضروري ملاقات يا يو ضروري کار چه دۀ ته حواله شوې وي، دَ هغې په پريخودلو ملامته کړې شي، نو دا دَ مصروفتيا او رابطو دَ ډير والي بهانه کوي. دې دپاره چه خلقو ته دا ښکاره کړي چه دا خو نا اوزګاره دې او دۀ سره هيڅ وخت نشته. او دا په دعوت او دَ علم په طلب کښې ډوب دې. حال دا چه کله ددۀ ټول وخت په خوب يا دنيوي کارونو کښې تيريږي.
دارنګه ددې نه سيوا نور څايونه هم شته چه په هغې کښې پټ خواهش را ښکاره کيږي.

خو بعضِ ځايونه ډير ناشنا وي.
لکه بغداديؒ ذکر کړي دي چه زعفراني (يو گمراه سړی) اراده اوکړه چه مشهور شي نو يو سړي ئې په کرائې اونيولو، ورته ئې اووئيل چه ته مکې ته لاړ شه او دَ حج په موسم کښې ماته کنځل کوه او لعنت راباندې وايه. دې دپاره چه دَ ټولې دنيا په حاجيانو صاحبو کښې مشهور شم. (الفرق بين الفرق ص : ٢١٠).
نو محترم لوستونکيه ! الله دې په تا رحم اوکړي، فکر اوکړه او په الله پناه غواړه !

دويم فصل

دَ شهرت او دَ ثنا صفت خوخولو مذمت او بدی

الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ تلك الدار الآخرة نجعلها للذين لا يريدون علوًا في الأرض ولا فسادًا والعاقبة للمتقين ﴾ (القصص : ٨٣).
(دَ آخرت دا کور مونږ هغه خلقو دپاره گرځوو چه هغوئ په زمکه نۀ اوچت والے غواړي اونۀ فساد، او آخري انجام خو دَ متقينو خلقو دے).
ابن کثير رحمه الله فرمائي : (په زمکه اوچت والے نۀ غواړي) مطلب دا چه په خلقو پورته والے نۀ غواړي او نۀ ځان لوئے گڼړي. (تفسير ابن كثير : ٦/٢٦٨).
سيد قطب رحمه الله فرمائي : يعني دَ دوئ په نفسونو کښې دا نۀ تيريږي چه خپل ځان لوئے اوگڼړي، او نۀ دَ دوئ په زړونو کښې دا راځي چه دَ دوئ ذوات او اشخاص دے عزتمند شي. (في ظلال القرآن : ٥/٢٧١٤).
رسول الله ﷺ فرمائي : « دوه اوږي شرمخان چه په گلو بزو را پريخودلے شي، نو دوئ به دومره خرابي اونۀ کړي څومره چه دَ انسان دين لره دَ مال او جاه حرص خرابوي ».
(أحمد : ٣/٤٥٦، ترمذي : ٤/٥٨٨، سنن دارمي : ٢/٣٠٤).
او نبي ﷺ فرمائي : « چا چه هغه علم زده کړو چه په هغې سره دَ الله مخ تالاش کيږي، او صرف دے دپاره ئې زده کوي چه په دے سره دَ دنيا سامان حاصل کړي، نو دے به دَ قيامت په ورځ دَ جنت خوشبوئې محسوس نۀ کړي ».
(سنن ابن ماجه : ١/٩٣، او دا حديث صحيح دے، صحيح ابن ماجه : ١/٤٨).

او نبي ﷺ فرمائي: « چا چه دے دپاره علم طلب کړو چه يے وقوفانو سره پرے جکړے اوکړي، يا په دے سره په علماؤ باندے فخر اوکړي، او دے دپاره چه دَ خلقو مخونه خپل ځانته را اوګرځوي، نو دا کس به په اور کښے وي »۔

(ترمذی : ٣٢/٥، ابن ماجه : ٩٣/١، والـلفظ له، دے حديث ته شيخ البانی حسن وئيلے. صحيح ابن ماجه : ٤٨/١).

او نبي ﷺ فرمائي: « علم دے دپاره مهٔ زده کوئ چه په دے سره په علماؤ فخر اوکړئ او يا ناپوهو سره پرے جکړے اوکړئ، او يا په دے سره پرے ښهٔ مجلسونه حاصل کړئ۔ چا چه دا کار اوکړو، نو دهٔ دپاره اور دے »۔

(ابن ماجه : ٩٣/١، دا حديث صحيح دے، صحيح ابن ماجه : ٤٨/١).

عامر بن سعدؒ فرمائي: سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه په خپلو اوښانو کښے وو، نو دهٔ ته ددهٔ ځوئے عمر راغے، نو کله چه سعدؓ اوليدلو، وے فرمائيل: زهٔ ددے سور دَ شر نه په الله پناه غواړم! نو هغه دَ اس نه را کوز شو او ورته ئے اووئيل: تا په خپلو اوښانو کښے پراؤ اچولے دے او خلق دے پريښي دي چه هغوئ په خپلو کښے په مشرئ او اقتدار کښے جکړے کوي! نو سعد رضی الله عنه هغهٔ له په سينه کښے ګذار ورکړو، وئيلے: غلے شه! ما د رسول الله ﷺ نه آوريدلي دي چه فرمائيل ئے: (الله هغه پرهيز ګاره بنده خوښوي چه دَ زړهٔ مالداره او ګمنامے وي)۔

(مسلم : ٢٢٧٧/٤، کتاب الزهد والرقاق).

او نبي ﷺ فرمائي: « زما په دوستانو کښے دير دَ پسخيدو قابل زما په نيز هغه مؤمن دے چه مال او عيال ئے کم وي، دَ مانځه پوره برخه لري، دَ خپل رب ښائسته عبادت کوي، په پټه دَ هغهٔ فرمانبرداري کوي۔ او په خلقو کښے پټ وي چه په ګوتو ورته اشاره نهٔ کيږي۔ او رزق ئے ګذارے والا وي او په دے صبر کوي »۔

(أحمد : ٢٥٢/٥، ترمذی : ٥٧٥/٤، وقال : حديث حسن، ابن ماجه : ١٣٧٨/٢).

او نبي ﷺ فرمائي: « دير پراګنده ويختو والا، چه په دروازو باندے هغهٔ له دهکے ورکولے کيږي، که چرے دا په الله قسَم اوکړي نو خامخا به ورله قسَم پوره کړي »۔

(مسند أحمد : ١٢٨/٣، صحيح مسلم).

ابن حجر رحمه الله فرمائي: دے نه دا فائده معلومه شوه چه رياست او شهرت پريخودل پکار دي۔ (فتح الباری : ٨٣/٦).

★ **سلفو دَ شهرت ډيره بدي بيان کړيده:**

امام زهري ؒ فرمائي: خلق په هر څهٔ کښې زهد (بې رغبتي) کوي، خو په رياست او مشرئ کښې ډير کم زهد کوي. مونږ يو سړے وينو چه په خوراك څكاك او مال کښې بے رغبته وي. خو کله چه ورسره په مشرئ کښې مقابله اوکړے شي نو په هغے گرم وي او دشمني کوي. (مختصر منهاج القاصدين ص: ۱۰۹، سير أعلام النبلاء: ۷/۲۶۲).

عبيد الله بن ابي جعفر ؒ فرمائي: کله چه يو سړے په يو مجلس کښې خبرے کوي، او خبرو ورله خوند ورکړو، نو پکار دي چه خاموش شي. او کله چه خاموش وي او خاموشئ ورله خوند ورکړو، نو خبرے دے شروع کړي.
(سير أعلام النبلاء: ۶/۱۰).

سفيان ثوري رحمه الله فرمائي: ستا سلامتيا په دے کښے ده چه شهرت خوښ نهٔ کړے.
(سير أعلام النبلاء: ۷/۲۵۸).

بشر بن الحارث رحمه الله فرمائي: هغه څوك الله نه نهٔ يريږي چه شهرت خوښوي.
(سير أعلام النبلاء: ۱۰/۴۷۶).

شيخ المالکيه سعيد بن محمد بن الحداد ؒ به فرمائيل: دَ صفت تالاش کول او اوچت والے تالاش کول چه انسان څومره دَ الله نه اړوي، دومره ئے بل شے نهٔ اړوي.
(سير أعلام النبلاء: ۱۴/۲۱۴).

ايوب سختياني ؒ فرمائي: هغه بنده رشتينے معاملے والا نهٔ دے، چه شهرت خوښوي.
(سير أعلام النبلاء: ۶/۲۰).

دارنگه فرمائي: انسان له پکار دي چه الله نه يره کوي. که چرے زهد کوي نو خپل زهد دے په خلقو عذاب نهٔ جوړوي. څکه چه سړے خپل زهد پټ اوساتي دا ددے نه غوره دے چه ښکاره ئے کړي. (سير أعلام النبلاء: ۶/۱۹).

ابراهيم بن ادهم ؒ فرمائي: کوم بنده چه شهرت خوښوي، دَ هغهٔ معامله دَ الله سره رشتينے نهٔ ده. (سير أعلام النبلاء: ۷/۳۹۳).

ابن المبارك ؒ فرمائي: ماته سفيان ثوري ؒ اوفرمائيل: ځان دَ شهرت نه اوساته، څکه زهٔ چه چاته هم ورغلے يم، نو هغهٔ دَ شهرت نه منع کړيده.
(سير أعلام النبلاء: ۷/۲۶۰).

امام مالك ؒ فرمائي: سړے چه کله دَ خپل ځان مدح شروع کړي نو رونق ئے ختم شي.

(سير أعلام النبلاء : ٨/٩٧).

امام ذهبيؒ فرمائي : شهر بن حوشبؒ فرمائي : څوك چه په مشهوره سورلئ سورلي کوي او مشهورے جامے آغوندي، نو الله به ددهٔ نه مخ واړوي اګرکه دا عزتمند وي.

زهٔ (ذهبيؒ) وايم : چاچه دا کار دے دپاره اوکړو چه دين عزتمند کړي او منافقان ذليله کړي او دے سره سره مؤمنانو سره تواضع کوي، او دَ رب العالمين حمد او ثناء کوي، نو دا کار ښهٔ دے. او چا چه دا کار دَ فخر او تکبر دَ وجے اوکړو، نو الله به ئے ذليله کړي او مخ به ترے واړوي. نو که چرے دے ملامته کړے شو او وعظ ورته اوکړے شو او دهٔ ځان لوئے اوګڼړلو او دا دعوئ ئے اوکړه چه دے متکبر نهٔ دے او نهٔ فخر کونکے دے. او دَ وعظ کونکي نه ئے مخ واړولو، نو دا کس کم عقل او خپل ځانته غاوره دے.

(سير أعلام النبلاء : ٤/٣٧٥).

فضاله بن عبيد ﷺ ابن محيريزؒ ته په خپل نصيحت کښے اوفرمائيل : يو څو خويونه دي چه الله به تاله په دے سره نفع درکړي. (١) که دا وس دے کيږي چه تهٔ خلق اوپيژنے اوتهٔ اونهٔ پيژندے شے، نو دا کار اوکړه. (٢) او که طاقت دے وي چه تهٔ واورے او خبرے اونهٔ کړے، نو دا کار اوکړه. (٣) اوکه کولے شے چه تهٔ چاسره کينے او خلق تاته راغونډ نشي نو دا کار اوکړه. (سير أعلام النبلاء : ٤/٥٣٩).

يوسف بن اسباطؒ فرمائي : خواهشات نهٔ ختموي مګر داسے ويره چه تنګونکے ده، او يا داسے شوق چه پريشانه کونکے دے. دَ دنيا په نسبت په مشرئ کښے بے رغبتي کول ډير ګران وي. (سير أعلام النبلاء : ٩/١٧٠).

يحيي بن معاذ رحمه الله فرمائي : هغه څوك نهٔ کاميابيږي چه دَ هغهٔ نه دَ رياست او مشرئ بوئے راځي. (سير أعلام النبلاء : ١٣/١٥).

امام ذهبيؒ فرمائي : عالم له پکار دي چه په ښهٔ نيت او ارادے سره خبرے اوکړي. که خپلو خبرو ورله خوند ورکړو، نو خاموش دے شي. اوکه خاموشئ ورله خوند ورکړو، نو خبرے دے اوکړي. او دَ خپل نفس دَ محاسبے نه دے نهٔ ستومانه کيږي ځکه چه نفس ثناء او شهرت خوښوي. (سير أعلام النبلاء : ٤/٤٩٤).

ابن رجب رحمه الله فرمائي : په مال باندے دَ حرص په نسبت په مشرئ باندے حرص کول انسان لره ډير تباه کوي. ځکه دَ دنيا شرافت اوپه دے کښے رفعت او په خلقو مشري کول او په زمکه لوئي کول، دا دَ انسان په حق کښے دَ مال طلب کولو نه ډير ضرري دے. او ددے

ضرر لوئے دے او په دے کښې يې رغبتي ډېره ګرانه ده. ځکه دَ مشرئ او شرافت په تالاش کولو کښې خلق مالونه خرچ کوي. (الرسائل المنيرية : ٢/٥).

سفيان ثوري رحمه الله عباد بن عبادؒ ته اوليکل : دے نه ځان اوساته چه ته دَ هغه خلقو نه شے چه هغوئ دا خوښوي چه زمونږ په خبره دے عمل اوکړے شي او يا دے زمونږ خبره خوره شي او يا دے زمونږ خبرے ته څوك غوږ کيدي. او کله چه دا کارونه ددهٔ نه پريخودلے شي نو دا ښکاره په دهٔ کښې معلوميږي. او دَ مشرئ خوښولو نه ځان اوساته ځکه سرئ ته دَ سرو او سپينو زرو نه مشري زياته خوښه وي. او دا ډير ګران باب دے چه په دے صرف او صرف هوښيار او دلالان علماء پو هيږي. نو تهٔ دَ خپل زړهٔ حال اخله او په نيت سره عمل کوه. (الرسائل المنيرية : ٢/١٣).

ابن القيم رحمه الله فرمائي : دا خبره ياد لره چه کله دَ بنده قدم دَ اخبات (ډيرے عاجزئ) په مرتبه کښې قرارے اونيولو او په دے کښې مضبوط شو، نو دَ مدح او ذم دَ وسوسو نه ددهٔ همت اوچتيږي او زړهٔ يے پورته کيږي. نو بيا دَ خلقو په مدح نهٔ خوشحاليږي، او نهٔ دَ دوئ په ذم خفه کيږي. دا دَ هغه چا صفت دے چه څوك دَ خپل نفس دَ برخے نه اووتلو، او دَ ايمان او يقين خوند يے زړهٔ ته کوز شو. او دَ خلقو مدح او ذم له اعتبار ورکول ددے علامه ده چه زړهٔ دَ الله نه خالي او منقطع دے. او دَ هغهٔ دَ محبت او معرفت روح، او دَ هغهٔ دَ تعلق او په هغهٔ باندے دَ خاطر جمعئ خوند يے نهٔ دے څکلے.

(مدارج السالکين : ٢/٦).

دريم فصل

دَ شهرت او ثناء صفت خوښولو نه دَ سلفو پرهيز کول

سليمان بن حنظلةؒ فرمائي : مونږ اُبي بن کعب ﷺ ته ورغلو دے دپاره چه هغهٔ سره خبرے اترے اوکړو. کله چه هغه پاسيدهٔ نو مونږ هم ورسره پاسيدو چه دَ هغهٔ نه روستو روان وو. په دے کښې عمر ﷺ مونږ اوليدلو او هغهٔ پسے روان شو او هغه يے په دُره اووهلو. نو هغهٔ ترے په خپلو ليچو سره ځان بچ کړو. او عرض يے اوکړو، اے امير المؤمنين ! ته څهٔ کوے ؟ عمر فاروقؓ اوفرمائيل : آيا تهٔ نهٔ ګورے چه دا کار کول (چا پسے روستو تلل) دَ متبوع دپاره په فتنه کښې دَ غورزيدو، او دَ تابع دپاره دَ ذلت سبب دے.

(سنن الدارمی : ١/١٣٢).

علی ﷺ پسے خلق روستو تلل نو هغهٔ اوفرمائيل : دَ څپلو کشارے مانه بند کړئ ځکه چه دا دَ بيوقوفه خلقو زړونه خرابوی.(سنن الدارمی : ١/١٣٤).

ابو وازعؒ فرمائی : ما ابن عمرؓ ته اووئيل : خلق به هميشه دپاره په خير وی، څو پورے چه الله تالره دَ دوئ دپاره ژوندے ساتی. نو هغه غصه شو او وے فرمائيل : زما په خيال تهٔ عراقی ئے، او تاته څهٔ پته ده چه ستا دَ مور څوئے دَ دروازے شاته څهٔ کوی.

(سير أعلام النبلاء : ٣/٢٢٠).

يو سړی ابن عمرؓ ته اووئيل : اے په خلقو کښے غوره سړيه ! او دَ هغه چا څويه چه هغه په خلقو کښے غوره سړے وو! نو هغهٔ اوفرمائيل : نهٔ خو زهٔ په خلقو کښے غوره يم، او نهٔ زهٔ دَ خلقو نه دَ غوره سړی څوئے يم. زهٔ خو دَ الله يو بنده يم. الله نه اميد ساتم او هغهٔ نه يريږم. خو قسَم په الله ! چه تاسو څوك تباه کړے نهٔ وی هغه وخته ورپورے نښتی يئ.

(سير أعلام النبلاء : ٣/٢٣٦).

يو سړی دَ مجاهدؒ څوئے ته اووئيل : تهٔ دَ خپل ځان دپاره ولے کار کسب نهٔ اختياروے ؟ هغهٔ وئيلے : مونږ دَ اختيار په نسبت ديته ډير محتاج يو چه زمونږ نفسونه دَ هغه څيزونو حفاظت اوکړی په کوم باندے چه زمونږ مشران تير شوی دی.

(سير أعلام النبلاء : ١٥/٢٧٣).

امام ثعلبؒ دَ نحوِ امام او محدث او علامه وو، هغهٔ به خپل ځان سپك گڼړلو او دا به ئے په هيڅ کښے نهٔ حسابولو، او نهٔ به ئے دَ خبرو په وخت دَ فصاحت نه کار اخستلو.

(سير أعلام النبلاء : ١٤/٦).

محدث محمد بن ابی المنظور انصاریؒ چه کله قاضی شو، نو په خپل ځان ئے دا شرط اولګولو چه نهٔ به اجرت آخلی اونهٔ به په څناور سوريږی.

(سير أعلام النبلاء : ١٥/١٥٧).

معمر رحمه الله فرمائی : دَ ايوب سختيانیؒ په قميص کښے لږ اوږدوالے وو. نو دے باره کښے ورته خبره اوشوه. نو هغهٔ اوفرمائيل : نن صبا شهرت په لنډولو کښے دے.

(سير أعلام النبلاء : ٦/٢٢).

دارنګه ايوب سختيانیؒ به فرمائيل : زهٔ ياديږم خو زهٔ دا نهٔ خوښوم چه ياد شم.

(سير أعلام النبلاء : ٦/٢٢).

امام ذهبيؒ فرمائي : ايوب سختيانيؒ دَ هغه خلقو نه حساب دے چه هغوئ به خپل زهد اوبے رغبتي پټوله. (سير أعلام النبلاء : ١٩/٦).

ابراهيم حربيؒ ته چا اورسوله چه کوم خلق دهٔ سره کيني په هغوئ کښے بعضِ خلق دهٔ لره په امام احمد بن حنبلؒ باندے غوره ګڼړي. نو ابراهيمؒ دَ هغوئ نه ددے تپوس اوکړو، نو هغوئ اقرار اوکړو. نو ابراهيمؒ اوفرمائيل : تاسو ماسره ظلم اوکړو، ځکه چه تاسو زهٔ په هغه سړي غوره اوګنړلم چه هغهٔ سره زهٔ مشابه نهٔ يم، او نهٔ دَ هغهٔ دَ احوالو نه يو حال ته رسيدے شم. نو زهٔ په الله قسم خورم چه دے نه پس به زهٔ تاسو ته هيڅ علمي خبره نهٔ کوم، نن نه پس تاسو زما خواله مهٔ راځئ. (سير أعلام النبلاء : ١٣/٣٦٤).

يو محدث دَ امام حافظ ابراهيم بن سعيد الحبال رحمه الله نه حديث لوستلو، نو هغه محدث ورته اووئيل : الله دے دَ (الشيخ الحافظ) نه راضي شي. نو ابراهيمؒ اوفرمائيل : داسے وايه ! الله دے تا نه راضي شي. دَ حديث حافظ خو (دارقطني) او (عبد الغني) دے. (سير أعلام النبلاء : ١٨/٤٩٨).

مروزيؒ امام احمد رحمه الله ته اووئيل : زهٔ ستا باره کښے دا اميد لرم چه په ټولو ښهرونو کښے به تاله دعاګانے غوښتلے شي ! امام احمدؒ اوفرمائيل : اے ابو بکر! کله چه يو سړے خپل ځان پيژني نو دَ خلقو خبرے هغهٔ له فائده نهٔ ورکوي. (سير أعلام النبلاء : ١١/٢١١).

امام احمد بن حنبلؒ کره ترهٔ ورغے، وئيلے : اے ورارهٔ ! دا دومره غم ولے کوے ؟ دا دومره خفګان ولے کوے ؟ نو هغهٔ سر را پورته کړو او وئيلے : اے ترهٔ ! هغه چا دپاره خوشحالي ده چه الله مشهور کړے نهٔ وي. (سير أعلام النبلاء : ١١/٢٠٧).

ابن محيريز رحمه الله به فرمائيل : اے الله ! زهٔ تا نه غواړم چه ما ګمنامے کړے ! (سير أعلام النبلاء : ٤/٤٩٦).

امام ذهبيؒ دَ حافظ عبد الرحمن بن محمد بن مهرانؒ په حالاتو کښے ذکر کړي چه دهٔ به خپل ځان پټولو، او دا کوشش به ئے کولو چه په حديث يا په غير حديث باندے مشهور نشي. (سير أعلام النبلاء : ١٦/٣٣٧).

سعيد المؤدبؒ فرمائي : زهٔ چه کله ابو بکر خطيبؒ ته راغلم نو تپوس مے ترينه اوکړو. آيا تهٔ حافظ ابو بکر ئے ؟ هغهٔ اوفرمائيل : دَ حديث حفظ خو دارقطنيؒ باندے پوره شو. (سير أعلام النبلاء : ١٨/٢٨١).

ابـو وائـل رحمه الله به چه كله په خپل كور كښې مونځ كولو، نو په چغو چغو به ئې ژړل۔ خـو كـه تـوله دنيا ورتـه وركړې شوې وې او يو كس ورتـه كتلې او بيا ورتـه وښيلې شوى وې چه دا اوكړه نو دا كار به ئې نۀ وې كړې۔ (تلبيس إبليس ص : ١٤٢).

په ايوب سختيانى رحمه الله به چه كله ژړا غالبه شوه نو اويه دريدۀ۔

ابـن جـوزى رحمه الله ذكركړى دى چه عبده بن سليمان ؒ فرمائى : مونږ دَ روم په ښار كښې پـه يـو لښـكـر كښې دَ عبد الله بن مباركؒ سره وو۔ نو مونږ دَ دشمن سره مخامخ شو، نو كله چـه دواړه صـفـونـه سره مخامخ شو، نو يو سړے دَ دشمن نه را اووتلو او دَ مقابلې دعوت ئې وركـړو۔ نـو دۀ تـه زمونږ نه يو سړے را اووتلو او يو ساعت ئې ورسره مقابله اوكړو، او هغه ئې پـه نيـزه اووهـلـو او قـتـل ئې كړو۔ بيا ورتـه بل را اووتلو، هغه ئې هم قـتـل كړو۔ بيا ورتـه بل را اووتـلـو، هـغـه ئې هم قـتـل كړو۔ بيا ورتـه بل را اووتلو، هغـه ئې هم قـتـل كړو۔ بيا ئې دشمن تـه چلينـج وركـړو۔ نـو يو سړے دۀ تـه را اووتلو او يو ساعت مقابله ئې ورسره اوكړه۔ نو زمونږ هـغـه مـلـګرى دغـه كـس هم قـتـل كړو۔ په دے كښې زمونږ په دغه ملګرى باندې خلق را جـمـع شو، او زۀ هم په دغه ګڼړه جوړونكو خلقو كښې ووم۔ نو ناګهانه دغه سړى خپل مخ پـه خـپـل نسـتـونـړى سره پټ كـړو۔ مـا دَ هـغـۀ دَ نستونړى يو طرف اونيولو او څانته مے راښـكـلـو، نو ناګهانه هغه عبد الله بن مباركؒ وو۔ نو وے فرمائيل : او تۀ هم اے ابو عمرو ! دَ هغه چانه ځان حسابوې چه هغوئ زمونږ عيب ښكاره كوى۔

ابـن جوزىؒ فرمائى : الله دے پټاسو رحم اوكړى ! اوګورئ دے مخلص سردار ته، چه څنګه پـه خـپـل اخـلاص بـانـدے دَ خـلـقـو دَ ليدلو او دَ هغوئ دَ صفتونو نه يريږى ؟ خپل ځان ئې څنګه پټ كړے دے !

(تلبيس إبليس ص : ١٤٧).

دَ اُويس قرنىؒ خبر چه كله خور شو، او خلقو ته پته اولګيده چه نبى ﷺ دۀ صفت كړے دے، نـو دے پټ شو او په عامو خلقو كښې داخل شو۔ تردے چه دا پته اونۀ لګيده چه چرته لاړو۔ (سير أعلام النبلاء : ٤ / ٢٠).

حـافـظ ابـو مـوسىٰ مـدينـىؒ كښې دومره تواضع وه چه دۀ به هلكانو او مشرانو تولو ته حـديثـونـه آورول۔ او مبتدى (نوى شروع كونكى) ته به ئې رهنمائى كوله۔ او چه څوك به ورسره تلل نو هغه به ئې منع كول۔۔۔(سير أعلام النبلاء : ٢١ / ١٥٦).

ابن مسعود ﷺ يو ځل دَ كوره اووتلو نو يوه ډله ورپسے روانه شوه۔ نو هغۀ شاته اوكتل

او ورته ئے اوفرمائيل : تاسو ما پسے ولے روان ئے ؟ قسم په الله ! كه چرے تاسو ته هغه څۀ معلوم شي په كوم باندے چه زۀ خپله دروازه بندوم، نو په تاسو كښے به هيڅوك ماپسے روان نشي۔ په بل روايت كښے دي : واپس شئ ځكه چه دا كار دَ تابع دپاره دَ ذلت او دَ متبوع دپاره دَ فتنے باعث دے۔ (مختصر منهاج القاصدين ص : ٢٠٩).

ابو العاليه رحمه الله سره به چه كله دَ څلورو كسانو نه زيات كيناستل نو هغه به اودريدۀ۔ (مختصر منهاج القاصدين ص : ١٠٩، سير أعلام النبلاء : ٤/٢١٠).

دَ خالد بن معدان رحمه الله حلقه به چه غټه شوه نو اوبه دريدۀ او واپس به شو۔ ځكه شهرت ئے بدے گنړلو۔ (مختصر منهاج القاصدين ص : ٢٠٩).

عبد الرحمن بن مهدي ؒ دَ مجلس نه پاسيدۀ نو خلق ورپسے شو، وے فرمائيل : اے خلقو ! مۀ زما په ښت خفه كدئ او مۀ ما نه روستو ځئ۔ ماته ابو اشهب ؒ دَ حسن بصري ؒ نه حديث بيان كړے چه عمران ؓ فرمائيلي دي : كم عقل سري پسے روستو څپلئ كشولو سره دَ هغۀ دين ډير كم پاتے كيږي۔ (سير أعلام النبلاء : ٩/٢٠٧).

شعبه ؒ فرمائي : كله به زۀ څۀ كار دپاره دَ ايوب سختياني ؒ سره روان ووم، نو هغۀ به زۀ نۀ پريښودم چه ورسره شريك روان شم۔ بلكه اخوا دي خوا به تللو، دے دپاره چه خلق پرے خبر نشي۔ (سير أعلام النبلاء : ٦/٢٢).

كله چه امام عبد الرحمن بن بندار عجلي ؒ كرمان علاقے ته داخل شۀ نو خلقو رخصتولو، نو دۀ هغوئ لره واپس كړلو او په لاره باندے يواځے روان شۀ۔ او دا شعر ئے وئيلو :

إذا نحن أدلجنا وأنت أمامنا كفى لمطايانا بذكراك حاديًا

(كله چه مونږ دَ شپے مزل كوو او تۀ زمونږ مخے ته ئے، نو زمونږ دَ سورلو دپاره ستا ذكر پوره حُدي خواني كونكے دے)۔ (سير أعلام النبلاء : ١٨/١٣٧).

امام محمد بن عمر مديني ؒ به هغه څوك منع كول چه دۀ سره به روان وو۔ (سير أعلام النبلاء : ٢١/١٥٦).

دارنګه امام احمد رحمه الله به چه كله په لاره روان وو، نو دا به ئے بدے گنړله چه څوك پسے روان شي، او فرمائيل به ئے : زۀ يو داسے ځائے غوارم چه هلته هيڅوك نۀ وي. (سير أعلام النبلاء : ١١/٢٢٦).

فضيل رحمه الله فرمائي : كه زۀ يو سړے اووينم چه خلق ترے گير چاپيره را غونډ شوي وي، نو زۀ وايم چه دا ليونے دے۔ دا څوك دے چه خلق ورته راجمع شي او دا نۀ خوښوي چه

هغوئ ته دے مزيدارے خبرے اوكړی۔۔۔(سير أعلام النبلاء : ٨/٣٨٣).

ابن جوزی رحمه الله فرمائی : سلفو به دَ خپل ځانونو نه هر هغه خبره دفع كوله چه په هغے كښے به دوئ ته اشاره كيدله، او هغوئ به دَ هر هغه ځائے نه تختيدل چه هغوئ ته به په هغے كښے گوته نيول كيدله۔

يوسف بن اسباطؒ فرمائی : زهٔ دَ سبج علاقے نه اووتلم تردے چه مصيصے ته راغلم او زما توشه دان زما په څټ پروت وو۔ نو دَ دوكان دا كس را پاسيږی او په ما سلام اچوی، بيا دغه بل يو كس را پاسيږی او په ما سلام اچوی۔ نو ما خپل توشه دان وارتولو او جومات ته ننوتم دوه ركعته مے كول۔ نو خلق مانه راتاؤ شول او يو سړی زما مخ ته ډير په توجه سره كتل۔ نو ما خپل ځان سره اووئيل چه : زما زړهٔ به په دے كار باندے څومره پاتے وی۔ نو ما خپل توشه دان را واخستهٔ او سترے ستوړے سبج ته راغلم، نو ماته زما دَ زړهٔ كيفيت دوه كالو پورے را واپس نشو۔ (تلبيس إبليس ص : ١٥٦).

اعمش رحمه الله فرمائی : مونږ په ابراهيمؒ باندے ډير كوشش اوكړو چه يو يے ستنے ته ئے كينوو، خو هغهٔ انكار اوكړو۔(سنن الدارمی : ١/١٣٢).

حارث بن قيس جُعفیؒ سره به يو سړے، دوه سړی كيناستل او خبرے به ئے ورسره كولے، او كله به چه خلق ډير شو، نو پابه سيدهٔ او هغوئ به ئے پريښودل۔ (سنن الدارمی : ١/١٣٢).

محمد بن سيرين رحمه الله سره به چه كله يو سړے په لاره روان شهٔ، نو ورته اوبه دريدهٔ او اوبه ئے فرمايل : آيا ستا ماسره څهٔ كار شته ؟ نو كه دَ هغهٔ به ورسره څهٔ كار وو، هغه به پوره كړو۔ اوكه هغه به بيا هم ورسره روان وو، نو ورته اوبه دريدهٔ او اوبه ئے فرمائيل : آيا ستا ماسره څهٔ كار شته ؟ (سنن الدارمی : ١/١٣٣).

ابراهيمؒ فرمائی : دے نه ځان اوساتئ چه تاسو پسے څوك روستو روستو روان وی۔ (سنن الدارمی : ١/١٣٣).

حسن بصریؒ فرمائی : دَ سړو نه گير چاپيره څپلئ خوزولو سره كم عقل خلق دَ كم عقلئ نه ډيركم پاتے كيږی۔ (سنن الدارمی : ١/١٣٤).

عبد الرحمن بن يزيد رحمه الله فرمائی : مونږ علقمهؒ ته عرض اوكړو، كه چرے تهٔ په جومات كښے مونځ اوكړے او مونږ تاسره كينو تپوسونه درنه كوو، نو دابه ښه وی ! وے فرمايل : زهٔ دا خبره بده گنړم چه خلق اووائی : دا علقمه دے۔
(سير أعلام النبلاء : ٤/٥٨).

عبد الرحمن بن مهدي رحمه الله فرمائي: زۀ به دَ جُمعې په ورځ ناست ووم، کله به چه خلق ډير شو نو زۀ به خوشحاله ووم، او کله به چه کم وو، نو خفه به ووم. نو ما دې باره کښې د بشر بن منصورؒ نه تپوس اوکړو. هغۀ اوفرمائيل: دا خراب مجلس دے، دوباره ئې مۀ کوه. نو ما بيا دوباره اونۀ کړو (أعلام النبلاء ٩/١٩٦).

يحيى بن معين رحمه الله فرمائي: ما د امام احمدؒ پشان سړے نۀ دے ليدلے. پنځوس کاله ورسره مونږ ملګرتيا اوکړه. نيکن په دۀ کښې چه کوم خير وو، دَ هغې دَ هيڅ يو شي په باره کښې ئې په مونږ فخر اونۀ کړو. (سير أعلام النبلاء: ١١/٢١٤).

ثابتؒ فرمائي: ماته محمد بن سيرينؒ اوفرمائيل: اے ابو محمد! ما ستاسو دَ مجلسونو نه صرف دا خبره منع کوي چه زۀ دَ شهرت نه يريږم.

(سير أعلام النبلاء: ٤/٦٠٩).

ابراهيم نخعي رحمه الله فرمائي: زۀ خبرې کوم خو که ما دَ خبرو نه خلاصے موندلے نو ما به خبرې نۀ وې کړې. او هغه زمانه چه په هغې کښې زۀ فقيه يم، دا خو به خوشې زمانه وي. (سير أعلام النبلاء: ٤/٥٢٦).

يحيى شيباني فرمائي: مونږ ته ابن محيريزؒ اوفرمائيل: زۀ تاسو ته حديث بيانوم خو تاسو به دا سې نۀ وائې چه مونږ ته ابن محيريزؒ حديث بيان کړے. ځکه ماسره دا ويره ده چه دا وينا به ما په خرابو راپرزولو سره را اوپرزوي.

(سير أعلام النبلاء: ٤/٤٩٦).

تۀ اوګوره حافظ احمد بن الحسين بن خيرون بغداديؒ ته چه خلق ورته يو ځل (الحافظ) اوليکلو. نو هغه غصه شو او په دے باندې ئې وهل اوکړل. او وئيلے: مونږ دے دپاره لوستل کړي دي چه خلق مونږ ته حافظ اوليکي؟

(سير أعلام النبلاء: ١٩/١٠٧).

الشيخ الامام الحافظ محمد بن احمد البغدادي ابن الخاضبةؒ ته چه کله معلومه شوه چه ابن عقيل حنبليؒ دۀ لره دَ الله دَ اولياؤ نه ګرځوي. نو دۀ اوفرمائيل: شيخ دهوکه شو.

(سير أعلام النبلاء: ١٩/١١١).

حماد بن زيد رحمه الله فرمائي: زۀ به دَ ايوب سختيانيؒ سره روان ووم، نو هغه به په ګنړو لارو تللو، ما به په هغۀ تعجب کولو چه ځنګه ورته معلومې دي. دا کار به هغۀ دے دپاره کولو چه هسې نه خلق دا اونۀ وائي چه دا ايوبؒ دے.

(سير أعلام النبلاء : ٦/٢٢).

فضيل بن عياض" فرمائي : آرمان دے چه خلقو کښے دا خوره شي چه زهٔ مړ شوے يم، دے دپاره چه زما تذکره نهٔ کيږي۔ زهٔ چه دَ اصحاب الحديث آواز واورم نو دَ هغوئ نه دَ ويرے په وجه ماله تشے متيازے راشي۔ او فضيل" به دوئ ته فرمائيلے : تاسو ما په يو داسے شئ ولے مجبوروئ چه تاسو ته پته ده چه زهٔ هغه بد ګنړم - يعنے روايت کول - ؟ که چرے زهٔ ستاسو غلام وے او ما تاسو بدے ګنړلے نو زما عطيه به داوے چه تاسو ما خرڅ کړئ۔ که چرے ماته معلومه شي چه زهٔ خپل دا څادر تاسو له درکړم او تاسو مانه څئ نو خامخا به ما دا کار کړے وے۔ (سير أعلام النبلاء : ٨/٣٨٥).

محمد بن اسماعيل (امام بخاري) رحمه الله په يو سړي باندے صدقه اوکړه، نو هغه اراده اوکړه چه دعاء ورته اوکړي۔ نو امام بخاري" ورته اوفرمائيل : څان سره نرمي اوکړه او په بله خبره کښے مشغول شه، هسے نهٔ په دے صدقه څوك خبر شي۔
(سير أعلام النبلاء : ١٢/٤٥٠).

ابن قيم رحمه الله فرمائي : دَ رشتينے سړي دپاره ددے نه بل نفع مند شے نشته چه په خپل څان کښے مسکنت، لوږه او ذلت ثابت کړي۔ او خپل څان هيڅ شے اونهٔ ګنړي۔ او څان ته دا اووائي چه تا خو لا اوسه پورے اسلام هم سَم نهٔ دے راوړے، نو بياپه دے کښے دَ شرافت دعوے څنګه کوے !

دے باره کښے ما دَ شيخ الاسلام ابن تيميه - الله دے ددهٔ روح پاکيزه لري - نه داسے کار اوليدلو چه هغه مے په هيچا کښے نهٔ دے ليدلے۔ هغه ډير کرته دا وئيل : زما خو هيڅ شے نشته، اونهٔ زما دَ طرفه څهٔ شے شته، اونهٔ زهٔ په څهٔ شئ کښے يم۔ او ډيرکرته به ئے دا شعر لوستلو :

أنا المُكدي وابن المكدي ○ وهكذا كان أبي وجدي

(زهٔ مشقت کونکے او دَ مشقت اوچتونکي سړي څوئے يم، او زما پلار اونيکه دغسے وو)۔ او کله به چه دَ هغهٔ مخامخ صفت اوکړے شو، نو فرمائيل به ئے : قَسَم په الله ! زهٔ خو اوسه پورے هر وخت خپل اسلام تازه کوم۔ او ما اوسه پورے پوره او مزيدار اسلام نهٔ دے راوړے۔ (مدارج السالکين : ١/٥٦٢).

څلورم فصل : دَ شهوتِ خفیه یعنی پټ خواهش علاج

کله چه تاته بیماری معلومه شوه نو ددے په علاج کولو تادی اوکړه، ځکه بیماری چه کله مضبوطه شی نو بیا هغے دپاره قوی علاج پکار وی۔ او بیماری چه کله قوی شی نو بیماری دهٔ لرهٔ اکاری او دا بیماریٔ لره راکاری تردے چه عمر په دے رابنکلو کښے تیر شی۔ ددے مثال دَ هغه سړی پشان دے چه هغهٔ دَ یوے وُنے لاندے وی او دا اراده لری چه په آرام باندے اودهٔ شی۔ خو دَ چنچنړو آوازونه ئے په تشویش کښے اچوی۔ او ددهٔ په لاس کښے لرگے وی چه په هغے سره ئے آلوزوی۔ خو هغه بیا راځی او شور کوی، نو دے بیا په هغے باندے مشغوله وی۔ نو دهٔ ته اووئیلے شی : دا کار تهٔ نشے بندولے خو کله چه ددے شور نه ځان خلاصے نو وُنه پریکړه۔

نو دغه شان دَ شهوت او خواهش وُنه هم ده چه کله لویه شی او څانگے ئے خورے شی نو دیته فکرونه داسے رابنکلے کیږی لکه څنگه چه چنچړے وُنو ته او مَچان گندگیو ته رابنکلے کیږی۔ او یو قیمتی عمر دَ هغه شیٔ په دفع کولو کښے تیر شی کوم چه نهٔ دفع کیږی۔ او ددے شهوت او خواهش سبب چه دا فکرونه ئے پیدا کړی، دَ دنیا سره محبت دے۔ (مختصر منهاج القاصدین ص : ۳۱)۔

نو زما وروره ! تاله پکار دی چه دَ ستے نه دَ خپلو خواهشاتو او شهواتو وُنے اوخکلو کښے تادی اوکړے، دے دپاره چه زندگی دے صفا شی او دَ کمال په پوړیٔ باندے اوخیژے۔

او په دے کار کښے ستا مدد دا راتلونکی څیزونه کوی۔

۱ – **الله سبحانه** وتعالیٰ ته زاری کول او دَ هغهٔ نه مدد او توفیق غوښتل، ډیره عاجزی او تضرع او دَ هغهٔ مخامخ انکسار کول۔ هغهٔ نه په ټولو اقوالو او افعالو کښے اخلاص او تجرد غوښتل۔

۲ – **دَ قرآن تلاوت** ډیر ډیر کول او په هغے کښے فکر کول، ځکه چه دا کامیابه دوائی ده۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وننزل من القرآن ما هو شفاء ورحمة للمؤمنين ﴾ [اسراء : ۸۲]

(او نازلوو مونږ دَ قرآن نه هغه څهٔ چه هغه شفاء او رحمت وی دپاره دَ مؤمنانو)۔

ابن قیم رحمه الله فرمائی : دَ زړونو مرکزی بیماریانے دَ شبهاتو او شهواتو مرضونه دی۔ او قرآن ددے دواړو قسمونو دپاره شفاء ده۔ په دے کښے دومره ښکاره او قطعی واضح دلائل

دي چه حق دَ باطل نه جدا کوی۔ چه دے سره دَ هغه شبهاتو بیماریٔ ختمیږی، کومے چه علم او تصور او ادراك خرابوی۔ او هرچه دا خبره چه قرآن دَ شهواتو دَ بیماریٔ علاج دے، نو دا ځکه چه په دے کښے حکمت، او په دنیا کښے دَ بے رغبتیٔ او په آخرت کښے دَ ترغیب ښائسته وعظونه دارنګه هغه مثالونه او قیصے دی چه په هغے کښے قِسما قِسم عبرتونه دی۔ نو قرآن هغه بیماریٔ ختموی چه هغه فاسدو ارادو طرفته متوجه کیږی، چه دے سره زړهٔ جوړیږی او ددے جوړیدو په وجه بیا دَ زړهٔ اراده جوړه شی، نو خپل هغه اصلی فطرت ته واپس شی په کوم باندے چه پیدا شوے دے۔ چه ددهٔ افعالِ اختیاریه او کسبیه درست شی۔ (إغاثة اللهفان : ١/٤٤).

٣ - دا احساس لول چه زړهٔ بیمار دے او ددے په تادیٔ سره علاج پکار دے۔ ځکه چه بیماری اونهٔ پیژنی نو بیا علاج نشی تالاش کولے۔ او دَ زړهٔ مرض کله پټ وی چه طلب اوتالاش او مراقبے ته محتاج وی۔

ابن قیم رحمه الله فرمائی : دَ بدن هریو اندام دَ خپل خاص کار دپاره پیدا دے۔ ددهٔ کمال دادے چه دغه کار ترینه حاصل شی۔ او بیماری ئے داده چه دَ خپل دغه کار دپاره چه پیدا شوے، هغه کول ورته مشکل شی۔ تردے چه دغه کار ترینه نهٔ کیږی اویا کیږی خو یو قِسم ګډوډیٔ سره۔ او کله زړهٔ بیمار شی او بیماری ئے سخته شی او خاوند ته ئے پته نهٔ وی ځکه چه دے ددے دَ صحت او دَ هغے دَ اسبابو نه په بل شیٔ باندے مشغول او مصروف شوے دے۔ بلکه کله زړهٔ مړ شی او خاوند ته ددے پته هم نهٔ لګی۔(إغاثة اللهفان : ١/٦٨).

٤ - نفس سره مجاهده کول او دَ الله طاعت او په دے باندے صبر کول په نفس باندے لازمول۔ ځکه صبر نه بغیر مراد نهٔ حاصلیږی۔

ابن قیم رحمه الله فرمائی : کله انسان دَ زړهٔ په مرض پو هه شی خو ددے دپاره ترخه دوائی استعمالولو باندے صبر کول ګران وی۔ نو دے دَ دوائی دَ مشقت په نسبت دَ زړهٔ په تکلیف پاتے کیدلو باندے راضی وی۔ ځکه دَ زړهٔ دوائی دَ خواهش په خلاف کولو کښے ده او دا په نفس باندے ډیر ګران شے دے۔ خو دَ نفس دپاره ددے نه بل نفع مند شے هم نشته۔ اوکله خپل نفس په صبر باندے ټینګ کړی خو بیا ئے عزم ختمیږی او جاری نهٔ پاتے کیږی ځکه چه ددهٔ علم او بصیرت او صبر کمزورے وی۔

(إغاثة اللهفان : ١/٦٨).

دارنګه فرمائی : دَ شبهاتو فتنه په یقین سره او دَ خواهشاتو فتنه په صبر سره دفع

کیږی۔ دا وجه ده چه الله تعالیٰ په دین کښې امامت او مشری حاصلول په دوه خبرو پورې تړلې دی، هغه فرمائی : ﴿ وجعلنا منهم أئمة يهدون بأمرنا لما صبروا و كانوا بآياتنا يوقنون﴾ (او مونږ دَ دوئ نه امامان جوړ کړل چه زمونږ دَ دین دعوت به ئے کولو، هر کله چه دوئ صبر اوکړو او زمونږ په آیتونو باندې دوئ یقین کونکی وو)۔

دے نه معلومه شوه چه په صبر او یقین سره په دین کښې امامت او مشری ملاویږی۔

دارنګه دا دواړه ځیزونه ئے په خپله دے وینا کښې هم جمع کړی دی :

﴿ وتواصوا بالحق وتواصوا بالصبر ﴾ [عصر] (دوئ یو بل ته دَ حق او صبر وصیت کوی)۔

٥ – دَ کوتاهئ اقرار کول او نقد او نصیحت قبلول او ضد او عناد نهٔ کول :

امام ذهبی رحمه الله فرمائی : دَ هغه مخلص علامه چه هغه کله غیر شعوری طریقے سره شهرت هم خوښوی، دا ده چه کله دے په دے باره کښې ملامته کړے شی، نو غصه کیږی نهٔ او نهٔ خپل نفس پاکوی۔ بلکه اقرار کوی او وائی : الله دے په هغه چا رحم اوکړی چه ماته ئے خپل عیبونه را اوښودل۔ او ځانته غره نهٔ وی چه خپل عیبونه نهٔ پیژنی، بلکه په خپل نهٔ پو هیدلو هم نهٔ پو هیږی، ځکه چه دا سخته بیماری ده۔

(سير أعلام النبلاء : ٧/٣٩٣)۔

٦ – **هغه تولے لارے بندول** چه شهرت ته رسول کوی، مثلاً :

أ – **څوك** چه ستا مخامخ صفت کوی هغه چپ کړه۔

ب – بحث او مباحثے او جګړے او مناظرے مهٔ کوه۔

ج – خپل ځان عیبژن ګڼره او خود پسندی مهٔ کوه۔

د – دَ سلفِ صالحینو حالت رایادوه او دَ هغوئ اقتداء کوه۔

ه – په فتویٰ کښې تادی مهٔ کوه او بغیر دَ علم نه خبره مهٔ کوه۔

امام ذهبیؒ دَ تویے او په طلب دَ علم کښې دَ اخلاص کولو په باره کښې فرمائی :

کله دَ چا نیت خراب وی لیکن هغه توبه کړی او په دے کار باندے خپیمانه شی۔ ددے علامه داده چه دے دَ دعوو او دَ مناظرے دَ محبت نه کوتاه کیږی، دارنګه دَ خپل علم دَ ډیر ښکاره کولو نه کوتاه کیږی او په خپل ځان باندے عیب لګوی۔ که خپل علم ډیر ښکاره کوی او یا وائی : زهٔ دَ فلانی نه ښهٔ پو هیږم۔ نو دا دَ تباهئ خبره ده۔

(سير أعلام النبلاء : ٧/١٧)۔

٧ – **دا زیاده کړه** چه یو ورځ به حقیقت خامخا را ښکاره کیږی، نو غبی به دغسے پاتے

کیږی اگرکه دهٔ ذکاوت ښکاره کړے وی۔ او بخیل به دغسے پاتے کیږی اگرکه دهٔ دَ سَخا ښناوت کړے وی، او جاهل به دغسے پاتے وی اگرکه دهٔ دَ علم دعویٰ کړے وی۔ او بُزدله به دغسے بُزدله پاتے کیږی اگرکهٔ دهٔ بهادری څرگنده کړے وی۔ او دغسے نور۔

ومهما تکن عند امرئ من خلیقة ○ وإن خالها تخفی علی الناس تعلم

(او کله چه په یو سړی کښے یو خوئے وی، نو که دے هر څومره گمانونه کوی چه دا به په خلقو باندے پټ پاتے شی لیکن هغه ضرور را ښکاره کیږی)۔
(سیر أعلام النبلاء : ٨/٣٦).

فضیل بن عیاضؒ فرمائی : څوك چه شهرت غواړی هغه نهٔ مشهوریږی، او څوك چه شهرت بد گنړی هغه مشهوریږی۔(سیر أعلام النبلاء : ٨/٣٨١).

٨ – **په دنیا** کښے زهد اختیارول او ددے په حقارت کښے فکر کول چه دا دَ الله په نیز څومره سپکه ده۔ که چرے الله ته دا دَ ماشی دَ وزر هومره هم ښکاریدے نو هیڅ یو کافر له به ئے دَ اوبو یو گوټ هم نهٔ وے ورکړے۔ خو دا دَ دهوکے هسے یو پړق او دَ صحراء شگوگل دے۔

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ إعلموا أنما الحیاة الدنیا لعب ولهو وزینة وتفاخر بینکم وتکاثر فی الأموال والأولاد کمثل غیث أعجب الکفار نباته ثم یهیج فتراه مصفرًا ثم یکون حطاما وفی الآخرة عذاب شدید ومغفرة من الله ورضوان وما الحیاة الدنیا إلا متاع الغرور ﴾.
[الحدید : ٢٠].

٩ – **په هغه** څیزونو کښے طمع کول چه الله تعالیٰ دَ رشتینے مخلصینو دپاره دَ خپل عزت په کور کښے تیار کړی دی، یعنے همیشه نعمتونه۔

١٠ – **دَ عقل احترام کول** او دَ کم عقلئ نه ځان بچ کول۔ ځکه څوك چه دَ هغه خلقو تصدیق کوی چه هغوئ په دهٔ دروغ وائی او هغوئ ته غوږ گدی کله چه هغوئ ددهٔ هغه صفتونه کوی کوم چه په دهٔ کښے نهٔ وی نو دهٔ خپل عقل سپك او حقیر کړو۔

خاتمه

دَ چا په زړهٔ کښې چه دَ مرتبې شوق راشي نو دَ هغهٔ همت دَ خلقو لحاظ ساتل وي۔ او په خپلو اقوالو او افعالو کښې دَ هغه خبرو لحاظ ساتي په کومو سره چه دَ خلقو په نيز ددهٔ مرتبه غتيږي۔ او همدا دَ منافقت تخم او دَ فساد جرړه ده۔ ځکه څوك چه دَ خلقو په زړونو کښې خپله مرتبه تالاش کوي نو دے به ديته مجبوريږي چه هغوئ سره به دے دَ منافقت معامله کوي، هغوئ ته به هغه شے ظاهروي دَ کوم نه چه دے خالي وي۔ او ددهٔ دا کار به دهٔ لره په عباداتو کښې رياء او نورو ممنوع څيزونو طرفته راکاږي۔ دے دپاره چه دَ خلقو زړونه په دے سره ښکار کړي۔

(مختصر منهاج القاصدين ص ٢١١).

ابن قيم رحمه الله فرمائي : دَ زړهٔ سلامتيا هيڅ کله نشي راتلے مگر کله چه دَ پنځو څيزونو نه بچ پاتے شي۔ (١) دَ شرك نه چه توحيد خرابوي۔ (٢) دَ بدعت نه چه دَ سنت مخالف دے۔ (٣) دَ شهوت نه چه دَ الله دَ امر خلاف وي۔ (٤) دَ غفلت نه چه دَ ذکر مخالف دے۔ (٤) او دَ داسے خواهش نه چه دَ اخلاص او للهيّت منافي دے۔

(الداء والدواء ص : ٢١٩).

زما گرانه وروره ! په خپلو اقوالو او افعالو کښې خپل خالق دپاره اخلاص کوه، او په دے پوهه شه چه نفس په نورو خلقو باندے رفعت او علو خوښوي۔ چه په همدے وجه کبر اوحسد پيدا کيږي۔ ليکن عاقل سړے په هغه هميشه او لازواله علو او اوچتوالي کښې رغبت لري چه په هغے کښې دَ الله رضامندي، قربت او گاونډي توب دے۔

او په هغه فاني عُلُو او پورته والي کښې بے رغبته وي چه دَ هغے په نتيجه کښې دَ الله غضب، خفگان او دَ بنده پريوتل او دَ الله نه لرے کيدل راځي۔

(الرسائل المنيرية : ٢/١٤١).

زما عزتمنده وروره ! کله به تهٔ په دے خوشحاليږے چه خلق ستا صفت کوي او په دے به په طبيعت کښې شے، خو په دے کښې ستا تباهي ده۔

کم شارب عسلًا فيه منيته ○ وكم تقلّد سيفًا من به ذبحا

(ډير داسے گبين څکونکي شته دے چه په هغے کښې ددهٔ مرگ وي، او ډير داسے توره

غاړے ته اچونکی شته دے چه په همدے باندے ذبح کړے شی)۔
(سير أعلام النبلاء : ١٨/٢٩٦).

تـا سره چه کوم نعمت دے، دَ هغے نه مخکښے تهٔ فائده واخله۔ او دَ هغه چا پشان مهٔ کیږه چه دَ هغه تذکره ابن البل دوریؔ کړے ده، فرمائی :

کأني شمعة ما بين قوم ○ تضئ لهم ويحرقها اللهيب
كأني مخيط يكسو أناسًا ○ وجسمي من ملابسه سليب

(گـویـاکه زهٔ شمع یم چه دَ خلقو ترمینځ رنړا کوم لیکن خپله سوزوم۔ گویاکه زهٔ دَ گنډلو ستن یم چه خلقو ته جامے آغوندوم، خو زما خپل جسم دَ جامے نه خالی دے)۔
(سير أعلام النبلاء : ٢٢/٧٦).

دَ هـغـه حقیقی رفعت او پورته والی کوشش اوکړه چه په جنت کښے انسان ته ملاویږی۔ او په هره لحظه کښے دَ بستیؔ دا خبره یادلره :

أمران مفترقان لست تراهما ○ يتشوقان لخلطة و تلاقي
طلب المعاد مع الرئاسة والعلى ○ فدع الذي يغني لماهو باقي

(دوه شیـان دی چه تهٔ هغه نهٔ وینے چه دَ اختلاط او ملاقات شوق لری۔ چه هغه دَ مشریٔ او اوچت والی سره آخرت طلب کول دی، نو تهٔ فانی شے پریده او باقی شے واخله)۔

والحمد لله رب العالمين.

(شهوتِ خفیه رساله ختمه شوه)۔



٤١ - ښائسته فائده

دَ صحيح نيت معنىٰ او فضائل

ټول عملونه دَ نيتونو سره تړلي دی، نو ددے پيژندل او صحيح کول ضروری دی، دے دپاره چه هيڅ يو عمل بغير دَ نيت نه واقع نشي. او دَ الله په نيز قبول شي. په ټولو اعمالو، احوالو، حرکاتو، سکناتو بلکه په کائناتو کښے دَ نيتونو ډير عجيب تاثيرات دی.

نو مونږ وايو : الله سبحانه وتعالى فرمائی :

﴿ وسيجنبها الأتقى الذی يؤتی ماله يتزكى وما لأحد عنده من نعمة تجزى إلا ابتغاء وجه ربه الأعلى ولسوف يرضى ﴾ [الليل : ٢١]

(او خامخا به ددے اور نه هغه لوئے متقى بچ شی چه هغه خپل مال خرچ کوی په دے سره ځان پاکوی او ددهٔ سره دَ هيچا څهٔ نعمت نهٔ وی چه دَ هغے بدله ورته ورکړے شی، سيوا دَ لوئے الله دَ مخ تالاش کولو نه او زر دے چه دے به خوشحاله شی).

او فرمائی : ﴿ وما تنفقون إلا ابتغاء وجه الله ﴾ [بقره : ٢٧٢]

(او تاسو خرچ نهٔ کوی مگر دَ تالاش کولو دَ مخ دَ الله دپاره).

او فرمائی : ﴿ والذين صبروا ابتغاء وجه ربهم ﴾ [رعد : ٢٢]

(او هغه خلق چه هغوئ دَ خپل رب دَ مخ تالاش کولو دپاره صبر کړے).

او فرمائی : ﴿ ذلك خير للذين يريدون وجه الله ﴾ [روم : ٣٨]

(دا دَ هغه خلقو دپاره بهتر دے چه دَ الله مخ غواړی).

او فرمائی : ﴿ وما آتيتم من زكاة تريدون وجه الله فأولئك هم المضعفون ﴾ [روم : ٣٩]

(او تاسو چه کوم زکات دَ الله دَ مخ تالاش کولو دپاره ورکوئ نو همدا خلق خپل ثواب دوچند کونکی دی).

او فرمائی : ﴿ إنما نطعمكم لوجه الله لا نريد منكم جزاءً ولا شكورًا ﴾ [دهر : ٩]

(دا مؤمنان وائی : بيشکه مونږ تاسو (فقيرانو) ته دَ الله دَ مخ تالاش کولو دپاره خوراك درکوو، مونږ تاسو نه بدله او شکريه نهٔ غواړو).

او نبی کريم ﷺ فرمائی : « د عملونو دارو مدار په نيتونو باندے دے. هر يو کس ته به

دده (د ښـه یـا بد) نیت مطابق (ښه یا بده) بدله ملاویږي، نو د چا هجرت چه الله او د هغه د رسول (ﷺ) دپـاره وي، نـو دده هـجـرت بـه دوئ طرفتـه گنړلے کیـږي۔ او چا چه د دُنیـا حـاصلولو دپاره یا د یوے ښځے سره د نکاح کولو په غرض هجرت اوکړو، نو دده هجرت به ددغه مقاصدو دپاره وي» (بخاري، مسلم).

نو **صحیح نیت** دیتـه وائي چه انسان دَ الله دَ مخ تالاش کولو دپاره عمل اوکړي، ځکه دَ اعـمالو دارو مدار او صحت او قبلیدل په **نیت** بـانـدے دي۔ الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ إن يريدا إصلاحًا يوفق الله بينهما ﴾ [نساء: ٣٥] (کـه چرے دا دواړه – ښځـه او خاوند – جوړښت راوستل غواړي نو الله به دَ دوئ ترمینځه جوړښت راولي)۔

نو په دے آیت کښے ئے **نیت** دَ توفیق او جوړښت سبب گرځولے۔

او نبي ﷺ فرمائي: «الله ستاسو شکلونو او مالونو ته نۀ گوري، هغه خو ستاسو زړونو او عملونو ته گوري»۔ (مسلم عن أبي هريرة).

او زړونو ته ځکه گوري چه دا دَ **نیت** کولو ځایونه دي۔

او **نبي** ﷺ فرمائي: «بیشـکه یو بنده ښۀ عملونه کوي نو ملائك ددۀ دا نیك عملونه پـه مُهر شوو صحیفو کښے بره اوخیژوي او دَ الله تعالیٰ مخامخ ئے واچوي، نو الله فرمائي: دا صحیـفـه گذار کړئ ځکه په دے کښے چه کوم اعمال لیکلے شوي دي نو په دے سره زما مخ نـۀ دے اراده شوے۔ بیا ملائکو ته آواز اوکړي چه دے بل بنده دپاره دا ځیز اولیکئ۔ دوه ځـله داسے اووائي۔ نو ملائك وائي: اے زمونږ ربه! دے بنده خو ددینه هیڅ یو عمل نۀ دے کړے۔ نو الله تعالیٰ فرمائي: دۀ ددے نیت کړے دے»۔

(رواه الدارقطني من طريق أنس بإسناد حسن).

او **نبي** ﷺ فـرمائي: «دنیـا خـو دَ څـلـورو کسانو دپاره ده۔ (١) یو هغه سړے چه الله عز وجـل ورتـه عـلـم او مـال دواړه ورکړي وي، نو دے په خپل مال کښے په خپل علم سره عمل کـوي۔ (٢) نـو یـو کس دا آرمان کوي چه که الله ماله هم داسے شے راکړے وے کوم ئے چه دۀ لـه ورکـړے دے، نـو مـابـه هـم دَ فـلاني پشان عمل کړے وے۔ نو دا دواړه کسان په اجر کښے بـرابر دي۔ (٣) بل هغه کس دے چه الله ورته مال ورکړے وي خو علم ئے ورته نۀ وي ورکړے، نو دے په خپل مال کښے گډوډ روان وي۔ (٤) نو یو بل سړے دا آرمان اوکړي چه که الله ماله هـم دَ فلاني پشان مال راکړے وے، نو مابه هم د هغۀ پشان کار په دے کښے کړے وے۔ نو دا دواړه په گناه کښے برابر دي»۔

(رواه الترمذي وابن ماجه بإسناد صحيح).

نو اوګوره ! دلته ئې په نیت سره په ښۀ او بد عمل کښې دغه آرمان کونکے کس شریك کړو !! نو دے نه دَ نیت قدر او مرتبه معلومیږي !

او نبي ﷺ غزوه تبوك کښې فرمائیلي وو : « په مدینه کښې څۀ خلق دي چه تاسو په هیڅ یو ځائې باندے نۀ ئې ورغلي اونۀ مو یو کنده او میدان وهلے دے مګر هغوئ تاسو سره (په اجر کښې) ملګري دي. صحابو عرض اوکړو، هغوئ خو په مدینه کښې دي ؟ وے فرمائیل : هغوئ په مدینه کښې دي خو دَ مرض دَ وجے نۀ دي راغلي. (په بل روایت کښې دي دَ عذر دَ وجے نۀ دي راغلي ».

په حدیث دَ نسائي کښې دي : « چا چه غزا اوکړه او صرف دَ اوښ دَ پړي نیت ئې اوکړو، نو دۀ ته به خپل نیت ملاویږي ».

ابو یعلی ؓ دَ جهاد دپاره یو مزدور په مزدورئ اونیولو، او هغۀ ته ئې درے اشرفئ اومنلے. نو نبي ﷺ اوفرمائیل : زۀ دَ دغه مزدور دپاره دۀ په جهاد کښې په دنیا او آخرت کښې دَ دغه درے اشرفیو نه سیوا چه دۀ ته ئې منلي دي، بل هیڅ شے نۀ مومم.

په **حدیث** کښې دي : « چا چه دَ نیکئ قصد اوکړو او بیا ئې هغه اونۀ کړه نو دۀ دپاره یوه نیکي لیکلے کیږي ». (بخاري، مسلم).

په بل **حدیث** کښې دي : « څوك چه په خپل عمل سره دَ دنیا اراده لري نو الله به دۀ فقیري دۀ دَ سترګو ترمینځه کړي، او راغونډ شوي کارونه به ئې تیتو پره کړي، او دنیا به هم ورته دومره ملاویږي څومره چه ورله لیکلے شوے وي. او څوك چه دَ آخرت نیت لري، نو الله به دۀ خوارۀ وارۀ کارونه راجمع کړي، او په زړۀ کښې به ورله مالداري واچوي، او دنیا به ذلیله شي او دۀ ته به راځي ».

دا حدیث ابن ماجه روایت کړے، او صحیح حدیث دے.

بل **حدیث** کښې دَ هغه خلقو په باره کښې دي چه هغوئ به دَ کعبے ورانولو دپاره را روان وي، نو « دَ فوج اوله او آخره حصه ټول به په زمکه ننباسلے شي، بیا به دوئ دَ خپلو نیتونو مطابق را پاسولے شي ». (مسلم).

ابن مسعود ؓ فرمائي : « کله چه دوه صفونه خپلو کښې یو بل سره یو ځائې شي، نو ملائك راکوز شي او وائي : فلانے دنیا دپاره جنګ کوي، او فلانے دَ غیرت دپاره جنګ کوي، او فلانے دَ قام قبیلے دپاره جنګ کوي. نو خبردار ! تاسو دا مۀ وائے چه فلانے دَ الله په

لاره کښې شهيد شو. ځکه دَ الله په لاره کښې شهيد صرف هغه څوك دے چه هغه دَ الله دَ کلمے دَ سربلندئ دپاره جنګيږی »۔

(رواه ابن المبارك فی الزهد).

په بخاری او مسلم کښې دَ ابو بکره ﷺ په **حدیث** کښې دی : « کله چه دوه مسلمانان دَ خپلو تورو سره ملاؤ شی، نو قاتل او مقتول دواړه په اور کښې دی »۔

په مسند احمد کښې دَ صهیب – رضی الله عنه – په حدیث کښې دی : « چاچه یوه ښځه په مَهر سره په نکاح واخسته، خو دے دَ هغے دَ اداء کولو اراده نهٔ لری. نو دے زنا کار دے۔ او چاچه چانه څهٔ قرض واخستهٔ او دے دَ هغے دَ اداء کولو اراده نهٔ لری، نو دے غَل دے »۔

(ورواه ابن ماجه مختصرًا).

اسحاق بن ابی طلحه ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « چاچه دَ الله دپاره خوشبوئے اولګوله نو دَ قیامت په ورځ به راشی او ددهٔ خوشبوئے به دَ مشکو نه هم زیاته خوشبویه وی. او چاچه دَ غیر الله دپاره خوشبوئے اولګوله، نو دَ قیامت په ورځ به راشی او ددهٔ بوئے به دَ مُردارے نه هم زیات بدبویه وی »۔

(مصنف عبد الرزاق : ٤/٣١٩).

ددے حدیث راویان ثقه دی، خو دا مرسل حدیث دے. او ډیر تعجب والا حدیث دے۔

عمر ﷺ فرمائی : « په ټولو عملونو کښې بهترین عملونه دادی : (١) هغه څیزونه اداء کول چه الله فرض کړی دی. (٢) دَ هغه څیزونو نه ځان ساتل چه الله حرام کړی دی. (٣) او په هغه څیزونو کښې رشتینے نیت کول کوم چه دَ الله تعالیٰ سره دی »۔

سالمؒ بن عبد الله، عُمر بن عبد العزیزؒ ته اوفرمائیل : دا خبره یاد ساته چه دَ الله مدد دَ بنده سره ددهٔ دَ نیت په اندازه وی. نو دَ چاچه نیت پوره وی نو الله به ورسره پوره مدد کوی. او که ددهٔ نیت ناقص وی نو دَ الله مدد به هم ددے په اندازه ناقص کیږی۔

بعضِ سلفوؒ به فرمائیل : ډیر کرته یو وړوکے عمل وی خو نیت ئے غټ کړی. او ډیر کرته لوئے عمل وی خو نیت ئے وړوکے کړی۔

سفیان ثوریؒ فرمائی : سلفوؒ به دَ عمل دپاره نیت داسے زده کولو څنګه چه تاسو عمل زده کوئ۔

بعض سلفؒ فرمائی : دَ عمل کولو نه مخکښې دَ عمل دپاره نیت طلب کړه. او ترڅو چه تهٔ دَ خیر نیت کوے نو تهٔ په خیر باندے ئے۔

بعض نيکان خلق به په علماؤ گرځيدل او دا به ئې فرمائيل : څوك به ماته داسې عمل را اوښائي چه په هغې کښې زۀ همېشه الله دپاره عمل کوم. ځکه زۀ نۀ خوښوم چه په ما باندې په ورځ يا شپه کښې يو ساعت راشي مگر په داسې حالت کښې چه زۀ دَ الله دَ مزدورانو نه يو مزدور يم. نو دۀ ته اووئيلې شو : تا خپل حاجت بيامونډلو، څومره چه دې وس وي، نو دَ خير عمل کوه، اوکله چه تۀ ستومانه يا کمزورې شې نو دَ خير دَ کولو قصد کوه، ځکه دَ نيکئ قصد کونکې دَ هغې دَ کونکي پشان دې.

بعض سلفو به فرمائيل : دَ الله نعمتونه خو پتاسو باندې دَ شمار نه بهر دي، او ستاسو گناهونه تاسو ته دَ معلوميدو نه پټ دي، خو تاسو دَ توبې په حالت صبا کوئ او دَ توبې په حالت بيگاه کوئ، نو ددې دواړو وختونو ترمينځه به درته هغه بخښنه کوي.

حسن بصري‌ؒ فرمائي : جنتيان او جهنميان خو صرف دَ خپلو نيتونو په وجه په جنت او جهنم کښې همېشه شوي دي.

ابو هريره ﷺ فرمائي : تورات کښې ئې ليکلي وو. « په کوم عمل سره چه زما مخ تالاش کړې شوې وي، نو که هغه کم هم وي زيات دې. او په کوم عمل سره چه دَ بل چا اراده شوې وي نو که زيات هم وي هغه کم دې ».

بلال بن سعيدؒ فرمائي : يو بنده به دَ مؤمن پشان وينا کوي، نو الله ئې تر هغه وخته پورې نۀ پريدي تر څو چه دَ هغۀ عمل ته اوگوري، او کله چه عمل اوکړي، نو الله ئې هغه وخته پورې نۀ پريدي تر څو چه دَ هغۀ پرهيزگارئ ته اوگوري. که هغه پرهيزگاره وي نو الله ئې تر هغه وخته پورې نۀ پريدي تر څو چه دَ هغۀ نيت ته اوگوري. نو که ددۀ نيت صحيح وي نو بيا ددې نه سيوا دَ نورو څيزونو صحيح کيدل خو ډير لائق دي.

دې وجې نه دَ عملونو آبادونکې څيز نيتونه دي. عمل نيت ته محتاج دې چه ددې په وجه خير اوگرځي. او نيت بذاتِ خود خير او نيکي ده اگرکه څۀ مانع دَ وجې نه عمل اونۀ کړې شي. (انظر الإحياء : ٥/١٥٧).

په تفسير قرطبي (١٤/٣٣٠) کښې دي : حديث کښې راځي : « الله هيڅ قول نۀ قبلوي مگر په عمل سره، او هيڅ قول او عمل نۀ قبلوي مگر په نيت سره. او هيڅ قول او عمل او نيت نۀ قبلوي مگر کله چه دَ سنت سره برابر وي ».

زۀ وايم : دا حديث نۀ دې، بلکه دا دَ بعضِ سلفو وينا ده. خو ډيره زياته مفيده ده.

دَ نيت حقيقت :

نیت، قصد او اراده الفاظِ مترادفه دی (یو شان معنیٰ لری)۔ یعنی نیت دَ زړهٔ هغه حالت او صفت ته وائی چه هغې سره دوه څیزونه ملګری وی (۱) علم (۲) او عمل۔ علم ترې مخکښې وی ځکه چه دا ئې اصل او بنیاد او شرط دے۔ او عمل ورپسے وی ځکه چه دا تے څانګه او میوه وی۔

وجه داده چه هر یو اختیاری عمل یعنی حرکت او سکون نۀ پوره کیږی مګر په درے کارونو سره : (۱) علم (۲) اراده (۳) قدرت۔

ځکه انسان دَ هغه شئ اراده نۀ کوی چه ورته معلوم نۀ وی۔ نو علم ضروری دے۔ دارنګه عمل نۀ کوی مګر کله چه اراده اوکړی۔ نو اراده ضروری ده۔ او دَ ارادے معنیٰ داده چه زړهٔ هغه شئ طرفته متوجه شی کوم څیز چه دے دَ خپل غرض سره فی الحال او یا راتلونکی وخت کښې موافق وینی۔ نونیت ارادے او دَ زړهٔ را پورته کیدو ته وائی چه دا پورته کیدل دَرغبت دَ وجے وی او هغه څیز طرفته وی چه هغې لره دے دَ خپل غرض فی الحال او یا په راتلونکی وخت کښې موافق ګنړی۔ او دغه غرض هغه شے دے چه په دهٔ باندے باعث وی، او هغه په زړهٔ کښې راغلے څیز دے۔ چه دا کله یو شے وی او کله ډیر څیزونه وی۔

دے وجے نه په نیت کښې یو څیز طرفته میلان او رغبت ضروری دے۔ ورنه صرف دَ ارادے په وجه نیت نۀ پیدا کیږی۔ بلکه ددے مثال به داسے وی لکه یو موړ سړے اووائی : زهٔ دا نیت کوم چه زما خوراك ته زړهٔ کیږی او یا ورته مائله یم۔ دارنګه دَ غیر عاشق دا قول شو چه زهٔ دَ عشق نیت کوم۔ نه ! بلکه یو څیز طرفته دَ میلان او رغبت پیدا کولو دپاره دَ میلان او رغبت اسباب پکار دی۔ او په دے اسبابو کله انسان قادر وی او کله قادر نۀ وی۔

ددے مثال دادے : یو سړی باندے دَ نکاح شهوت غالب دے او ولد پیدا کیدل ئے غرض نۀ دے۔ نو دَ ولد په نیت سره دا کور والے نۀ کوی، بلکه دَ قضائے شهوت په نیت سره کور والے کوی۔ ځکه نیت دَ باعث اجابت کول دی۔ او په دهٔ باندے باعث صرف شهوت دے۔ نو دے به دَ ولد یا په نکاح کښې دَ اتباع سنت نیت څنګه اوکړی ؟ بلکه اکثر خلق ودونه کوی او په زړهٔ کښې ئے چرته دَ سنت اتباع یا دَ سنت سره محبت تیریږی هم نۀ۔ بلکه صرف دَ دنیوی عیش دپاره وَدونه کوی۔ او په دے باره کښې یواځے دَ خُلے وینا کافی نۀ ده چه انسان داسے اووائی : زهٔ دَ اتباع سنت نیت کوم۔ ځکه دا خو نیت نۀ دے، دا خو محض الفاظ دی۔

سبحان الله ! په عملونو کښې الله دپاره اخلاص کول څومره ګران څیز دے !!

او مونږ ددے نه خومره لرے یو !! والله المستعان۔

سوال : نو مونږ به صحیح **نیت** څنګه پیدا کوو ؟ دے دپاره چه دَ الله په دربار کښے زمونږ اعمال قبول شی ؟

جواب : مونږ ته – الحمد لله – شریعتِ مطهره ددے دَ پیدا کولو طریقه را خودلے ده۔ او هغه داده چه :

١ – **اول** : دَ الله عز وجل په عظمت او لوئے باندے قوی ایمان اولرلے شی۔ کله چه دا قوی شی نو بیا :

٢ – **په شریعت** مطهره باندے قوی ایمان لرل پکار دی۔ چه دا دَ الله عز وجل دین دے چه خپلو بندګانو دپاره ئے مقرر کړے دے، دے دپاره چه بندګان په دے سره دَ هغهٔ رضا حاصله کړی۔

٣ – **بیابه** خپل زړهٔ له دَ دغه عمل په فضائلو او ترغیباتو سره حرکت ورکړی۔ او دَ دغه عمل په اخروی او دنیوی فائدو کښے به فکر اوکړی۔ نو ډیر کرته به په دے کار سره دغه زړهٔ دَ دغه کار په کولو کښے رغبت اوکړی۔ داوجه ده چه په کتاب اوسنت کښے فضائل او ترغیبات ډیر زیات ذکر کیږی۔ دے دپاره چه صحیح نیت پیدا شی او په عمل کښے انسان دَ ثواب نیت اوکړی۔

٤ – **بیا دے** دَ الله په رضامندئ کښے فکر اوکړی۔ چه ددے نه بل عظیم شے نشته۔ (ستا دَ رضا نه سیوا بل هیڅ شے نشته)۔ او دا عقیده دے اوساتی چه الله دهٔ لره په دے عمل کښے رغبت ورکړے۔ نو کله چه دا کار اوکړی نو په دے سره به دهٔ ته خامخا دَ الله رضا مندی حاصلیږی۔

٥ – **که چرے** دَ یو بنده زړهٔ دَ الله دَ محبت نه ډك شی او دَ هغهٔ محبوباتو له په خپلو محبوبو څیزونو اوخواهشاتو باندے غوره کوی۔ نو ان شاء الله چه صحیح نیت به ددهٔ په برخه کښے راشی۔

٦ – او **که چرے** رَغبَت او خوف ډیر لری او دَ ښهٔ نیت حاضرولو دپاره دَ الله نه دعاګانے غواړی نو ان شاء الله چه په دهٔ به دا کار آسان شی۔

خو ددے کارونو دَ ګرانئ او په هر وخت کښے دَ عدم وجود په وجه به ډیرو سلفو" بعضِ نیك اعمال هم پریښودل۔ څکه چه په هغے کښے به دَ هغوئ نیت مستحضر نهٔ وو۔ هغوئ به وئیلے : مونږ دا فلانے عمل څکه نهٔ کوو، چه مونږ ته ددے نیت حاضر نهٔ دے۔

دا وجه ده، کله چه یو والي (ګورنر) دَ سعید بن المسیبؒ دَ وژلو اراده اوکړه، نو بعضِ علماؤ سعیدؒ ته اووئیل: عُمرې له لاړ شه. نو هغهٔ اوفرمائیل: په عُمره کولو کښې زما نیت مستحضر نهٔ دے.

بعضِ سلفو نه به چه کله دَ نیکئ دَ یو عمل کولو په باره کښې تپوس اوشو، نو هغوئ به فرمائیل: که الله ماته نیت را نصیب کړو، نو زهٔ به ئې اوکړم.

طاؤس رحمه الله به نیت نه بغیر حدیثونه نهٔ بیانول. او کله به دَ هغهٔ نه دَ حدیث بیانولو تپوس اوکړے شو، نو هغه به حدیث نهٔ بیانولو. او نهٔ به ئې بغیر دَ تپوس نه حدیث بیانولو. نو دهٔ نه ددے وجه اوتپوسلے شوه. وے فرمائیل: آیا تاسو دا خوښوئ چه زهٔ دَ نیت نه بغیر حدیث بیان کړم؟ کله چه ماته نیت مستحضر شي نو دا کار به اوکړم.

دارنګه دهٔ ته اووئیلے شو: مونږ ته دعاء اوکړه. وے فرمائیل: صحیح ده خو کله چه ددے نیت زهٔ بیاموم.

بعضِ نیکانو به فرمائیل: زهٔ دَ یو سړی دَ بیمار پُښتنې دپاره دَ یوے میاشتے راسے په نیت تالاش کولو کښې یم، خو اوسه پورے ماته دغه نیت تیار نشو.

داؤد بن محبرؒ په فضائلو کښې یو کتاب لیکلے وو. او بیا ئې امام احمدؒ ته پیش کړو. نو هغهٔ اوفرمائیلّ: په دے کښې ضعیف سندونه دي. نو داؤد اووئیل: دَ عمل په نیت ئې اوګوره. نو کله چه امام احمدؒ دوباره په دے نیت اولوستلو، نو وے فرمائیل: جزاك الله خیرًا، ماته ئې فائده راکړه.

او دا ډیره قابلِ غور خبره ده.

یحییٰ بن کثیرؒ وایم: زهٔ دَ میمون بن مهرانؒ سره دَ هغه دَ کور دروازے پورے روان ووم، نو زهٔ ترے واپس شوم. نو دَ هغهٔ ځوئے اووئیل: آیا تهٔ دهٔ ته دَ ماښام روټئ نهٔ پیش کوے؟ هغهٔ اوفرمائیل: ددے نیت زما نهٔ وو.

دا خبره دَ یادولو وړ ده: چه نیت دَ عمل روح دے، نو کله چه نیت رشتینے نهٔ وي نو دا ریاء او تکلف دے، چه دا دَ الله دَ غضب سبب دے نهٔ دَ قرب او نزدیکت سبب.

په نیت کښې دَ خلقو ترمینځه فرق:

○ ځینې خلق دَ اور نه دَ ویرے په وجه عمل کوي. ○ او په ځینو باندے باعث دَ الله نه امید لرل وي. او دا دواړه صحیح نیتونه دي. ○ خو ددے نه اوچته خبره داده چه دَ الله دَ اجلال او

تعظیم په نیت سره عمل اوکړې شي. او په دې نیت عمل اوکړې شي چه هغه ذاتي طور سره دَ غلامۍ، محبت او طاعت لائق دے. ﴿ له دعوة الحق ﴾ [الرعد : ١٤]
دارنګه دَ هغهٔ دَ جمال، کبریاء اوعظمت په نیت سره عمل کول پکار دي.
بیا یاد لره : چه کله بنده ته په مفضول یا مباح عمل کښې نیت حاضر وي، لیکن په اعلیٰ او افضل عمل کښې ورته نیت حاضر نهٔ وي. نو په دې وخت کښې په مفضول یا مباح عمل باندې مشغولیدل ددهٔ په حق کښې په افضل عمل باندې دَ مشغولیدو نه بهتر دي.
ددې مثال دادې : چه معافي کول دَ بدلې اخستلو نه بهتر دي، لیکن کله دهٔ ته په بدله اخستلو کښې نیت حاضر وي، نهٔ په معافئ کولو کښې، نو بدل اخستل افضل دي.
یا لکه په خوراك څکاك او خوب کښې ددهٔ نیت دا وي چه خپل ځانله راحت ورکړي او په راتلونکي وخت کښې په عبادت کولو باندې ځان قوي کړي، لیکن په دې وخت کښې په مونځ او روژه کښې ددهٔ نیت نهٔ وي. نو دا مباح څیزونه ددهٔ په حق کښې په دې وخت کښې افضل دي. بلکه که دَ عبادت نه ستړې شو او دَ خپل ځان دَ تازه کولو په اراده په یو مباحه لوبه کښې مشغول شو او زړهٔ ته ئې راحت رسولو، نو دا کار به هم مفید وي.
علي ﷺ فرمائي : « زړونو ته راحت ورکوئ ځکه چه کله په دې باندې زبردستي کیږي نو ړندیږي ».
ابودرداء ﷺ فرمائي : « زهٔ خپل نفس په څهٔ مشغله کښې لګوم، نو دا زما دپاره په عبادت باندې دَ مدد سبب جوړ شي ».
نو مناسب دي چه په اعمالو او احوالو کښې فکر اوکړې شي، ځکه چه دا مجاهده او دَ شیطان سره جګړه کول دي. او جنګ خو د چَل وَل نوم دے. کله مجاهد دَ خپل دشمن نه دې دپاره تختي چه چَل پرې اوکړي او تنګ ځائے ته ئې راکاږي او بیا پرې حمله اوکړي.
بیا اعمال او افعال او فکرونه اګرکه ډیر او دَ شمار نه بهر دي، خو دا دَ درې قِسمونو نه نهٔ اوځي (١) ګناهونه (٢) طاعات (٣) مباحات.
○ نو ګناهونه په نیت سره دَ خپل ځائے نه نهٔ اوځي او نهٔ په نیت سره ددې نه مباحات او طاعات جوړیږي. نو یو جاهل سړے دے دَ خپل خواهش ثابتولو دپاره دَ نبي ﷺ ددې حدیث په عموم باندې ګمان نهٔ کوي چه : « بیشکه دارو مدار دَ اعمالو په نیتونو باندې دے ».
لکه یو سړے دَ چا غیبت دې دپاره کوي چه دَ بل چا دَ زړهٔ لحاظ اوکړي. او یا فقیر ته دَ بل

چا دَ مال نه حرامه روټئ ورکړي۔ او یا په حرام مال سره جومات، مدرسه او یا سرائے جوړه کړي او مقصد ئے ښهٔ وي۔
نو دا ټول داسے جهالت او ناپوهي ده چه دهٔ ته فائده نهٔ ورکوي۔ او نهٔ په نیت سره دا څیزونه دَ ظلم او ګناه کیدو نه خارجیږي۔ بلکه دَ شریعت دَ تقاضا په خلاف چه دے په شر کښے دَ خیر قصد کوي، نو دا هم شر دے۔ که چرے دے په دے پوهیږي نو دے دَ شریعت سره عناد کونکے دے، او که نهٔ پوهیږي نو دے دَ خپل جهالت په وجه ګنهګار دے او علم ورله فرض دے۔
○ او هرچه طاعات دي : نو دا په خپل اصل صحت او دَ فضیلت په دوچند کیدو کښے دَ نیتونو سره تړلی دي۔ اصلِ صحت سره ئے تړل دادي چه : په دے سره دَ الله عز وجل دَ عبادت نیت اوکړي۔ که دَ ریاء او ځان ښودئ نیت ئے اوکړو نو ددے نه ګناه جوړیږي۔
او دَ فضیلت دوچند کیدل دادي چه په یو عمل کښے ډیر نیتونه اوکړے شي۔ ځکه په یوه نیکئ کښے دَ ډیرو خیرونو نیت کیدلے شي چه په دے هر نیت به دهٔ ته ثواب ملاویږي۔
ددے **مثال** په مسجد کښے کیناستل دي : چه دا طاعت دے خو په دے کښے ډیر نیتونه کیدے شي، چه دا دَ متقینو او پرهیزګارو خلقو دَ غوره اعمالو نه اوګرځي او په دے سره بنده دَ مقربینو درجو ته اورسیږي۔ هغه نیتونه دادي :
١ - دا نیت دے اوکړي چه دا دَ الله کور دے او ددے زیارت کونکے داسے دے لکه دَ الله عز وجل زیارت کونکے۔
٢ - دَ یو مونځ نه پس دَ بل مونځ انتظار کول۔
٣ - دَ سترګو، غوږونو او باقي اندامونو حفاظت کولو په ذریعه پرهیزګاري حاصلول۔
٤ - الله سره تعلق لرل او په هغهٔ باندے زړهٔ راجمع کول۔
٥ - دَ الله ذکر دپاره یواځے کیدل یا دَ هغهٔ ذکر آوریدل۔
٦ - دَ نیکئ دَ حکم او دَ بدئ نه دَ منع علم چاته ښودل۔
٧ - دَ یو مسلمان ورور نه فائده اخستل، ځکه مسجد ته نیکان خلق راځي۔
٨ - الله نه دَ شرمیدو په وجه ګناهونه پریښودل۔
٩ - یا دَ قرآن کریم درس او تدریس او یا تلاوت کول۔
١٠ - یا علم زده کول۔
١١ - یا دَ علماؤ او نیکانو خلقو سره ملاقات کول، ځکه دوئ ته کتل هم عبادت دے۔

۱۲ – یا دَ ملائکو دعاء حاصلول، ترڅو پورې چه یې اودسه شوې نهٔ وي او یا په مسجد کښې چاته ضرر ورکړې نهٔ وي۔ دارنګه ددې پشان نور مقصودونه شو۔

دارنګه په نورو تولو عباداتو کښې هم مختلف نیتونه کول، لکه جهاد، دعوت، طلب دَ علم، دَ ملګرو ملاقات او دَ بیمار په تپوس کولو کښې۔ خو دا هله کیدې شي چه کله په عمل کښې دَ انسان سخت رغبت وي۔

الله تعالیٰ دې مونږ ته ددې نه پوره پوره حصه رانصیبه کړي !!

○ هر چه **مباحات** دي: نو دا په یو یا ډیرو نیتونو سره قربات (ثوابونه) جوړیږي او په دې سره بهتر درجات حاصلیږي۔ نو په هغه چا آفسوس دې چه هغه ددې نه غافله وي او یا دا مباح څیزونه دَ څناورو پشان په سهو او غفلت سره کوي۔ هیڅ یو بنده له پکار نهٔ دي چه دَ خطراتو، خطواتو، لحظاتو او لَفظاتو نه یو څیز سپك اوګڼړي۔ ځکه قیامت کښې به دې باره کښې تپوس کیږي۔

ددې **مثال**: دَ جُمعې وغیره په ورځ خوشبوئې لګول دي، دا کـه دَ دنیوی خوند دپاره استعمال کړې شي نو دا مباح دې۔ اوکه په دې نیت ئې استعمال کړل چه په دې سره دَ پردو ښځو نظر ځانته را واړوي او یا پرې فخر اوکړي او یا په خوشبوئې سره ددهٔ تذکره اوکړې شي او یا دَ خلقو په زړونو کښې ددهٔ مرتبه کیوزي: نو دا بیا ګناه ده۔ اوکه دَ سنت د اتباع دپاره ئې استعمال کړي، دارنګه دَ مسجد دَ تعظیم دپاره او دَ ګاونډیانو دَ راحت دپاره، دارنګه دې دپاره چه ددهٔ ګاونډیانو په بدبوئې سره ددهٔ غیبت اونهٔ کړي، او یا دَ الله دَ تعظیم او ادب دپاره ئې استعمال کړي ځکه الله دا خوښوي چه هغهٔ دپاره ځان ښائسته کړې شي، نو دا بیا عبادت او قُربت دې۔

دَ سلفِ صالحینو" دا معمول وو چه کله به دوئ تهجد کولو نو هغې دپاره به ئې قیمتي خوشبوئې لګوله۔ لکه ددې تفصیل مونږ په (فتاویٰ الدین الخالص باب التهجد) کښې کړیدې۔

بعضِ سلفو به هره شپه جامې بدلولې دې دپاره چه رب العالمین ته ځان ښائسته کړې شي۔ تهٔ په دې کښې فکر اوکړه که چرې تهٔ دِ آخرت دَ تاجرانو نه نه ئې !!

په دې باندې باقي مباحات قیاس کړه۔

معاذ بن جبل ﷺ فرمائي: «زهٔ خپل خوب داسې ثواب ګڼړم لکه څنګه چه خپل تهجد کول ثواب ګڼړم». (رواه البخاري).

ابن قیم رحمه الله دَ مقربینو په صفاتو کښې فرمائي: « دَ دوئ په حق کښې مباح څیزونه طاعات او عبادات ګرځیدلی دی ». اهـ یعنی په صحیح نیت سره. لکه ددې تذکره مونږ په اول جلد فوائد کښې دَ مقربینو او مقتصدینو او ظالمینو په باب کښې کړیده.

بلکه نبی ﷺ فرمائي: « ستاسو په کور والي کولو کښې هم صدقه ده. صحابو ؓ عرض اوکړو، اې د الله رسوله! په مونږ کښې یو کس خپل شهوت پوره کوی او په دې کښې دَ هغهٔ دپاره اجر وی؟ وې فرمائیل: په دې مې پوهه کړئ، که دا عورت ئې په حرامو کښې ایښې وې نو دې به ګنهګار وې اوکه نه؟ نو دغه شان چه په حلال ځائې کښې ئې کیښودلو، نو دهٔ دپاره اجر دې ». (مسلم).

نو په جماع او کور والي کښې هم اجر دې هر کله چه په صحیح نیت سره اوکړې شي نو دَ نورو څیزونو په باره کښې دې څهٔ خیال دې؟ دَ الله عز وجل حمد او ثناء وئیل پکار دی چه هغهٔ خپلو بندګانو ته دَ خیر او هغهٔ ته دَ رسیدلو لارې آسانې کړی دی.

اې الله! تالره ټول حمدونه او شکرونه دی، او ستا طرفته دَ ټولو کارونو ګرځیدل دی.

الحمد لله حمدًا كثيرًا طيبا مباركًا فيه، كما يحبُّ ربُّنا ويرضىٰ.

نو تاله پکار دی چه تهٔ د خپل نفس سره پوره پوره حساب اوکړې او دَ خپلو احوالو څارنه اوکړې. اوکه څهٔ حرکت یا سکون هم کوې نو دا سوچ کوه چه تهٔ ولې حرکت کوې؟ ستا څهٔ مقصد دې؟ په دې کښې تهٔ دَ دنیا نه څهٔ حاصلوې او دَ آخرت نه تانه څهٔ فوت کیږی؟ نو کله چه تاته پته اولګی چه په حرکت یا سکون کښې په تا باندې باعث صرف دین دې، نو بیا خپله اراده پوره کړه. که دا نهٔ وی نو بیا بند شه. بیا دَ خپل زړهٔ څارنه هم کوه چه آیا ددې کار نه بندیدلو کښې صحیح نیت شته اوکه نه په دې باندې باعث پټ ضمنی خواهش دې چه تهٔ په هغې باندې خبر نهٔ ئې؟ والله المستعان.

ددې وړو وړو کارونو غم صرف هغه چا سره وی چه هغهٔ په الله ایمان راوړې وی او دَ آخرت نه یریږی او دَ نیکو اعمالو شوق لری او دهٔ سره دَ هغې قدر او مرتبه وی. ګنې اکثر خلق بلکه خواص هم ددې کارونو نه غافله دی.

نو **قدرمند** لوستونکیه! تاله پکار دی چه خپل نفس سره حساب اوکړې او بار بار دَ خپلو عملونو او نیتونو خیال ساتې. او توفیق ورکونکې خو صرف الله دې.

ooooooooo

٤٢ - فائده

دَ توحيد قِسمونه پيژندل

او دا يوه ناپايه فائده ده چه دَدے اهتمام هغه څوك كوى چه هغهٔ ته ايمان او دَ اور نه نجات او دَ رحمٰن ذات رضامندى محبوب څيز ونه ښكاره شوى وى.

توحيد په پنځه قسمه دے :

١ - **اول : توحيد الذات** : دا عقيده لرل چه دَ رب پشان ذات بل هيڅوك نشته. هغهٔ سره په ذات كښے هيڅوك شريك او برخه دار نشته.

٢ - **دويم : توحيد علمى خبرى** : او ديته توحيد الربوبيت هم وائى : دا عقيده لرل چه الله تعالىٰ ددے كائناتو په پيدا كولو، رزق وركولو، تصرف كولو، ژوندى كولو، مړهٔ كولو او تولو كارونو كښے يواځے دے.

او دا توحيد اولنئ مرتبه ده دَ باقى قِسمونو دَ توحيد دپاره. او دا ډير زيات مهم توحيد دے. مشركان هم په دے توحيد باندے قائل وو. خو دا توحيد دَ هغوئ په زړونو كښے څنگه چه مناسب وو نهٔ وو داخل شوے. گنے دَ چا په زړهٔ كښے چه دَ رب عظمت او دا عقيده داخله شى چه هغه يواځے خالق، يواځے رازق، يواځے ژوندے كونكے او وژونكے، يواځے په هر شئ قادر، يواځے په تولو څيزونو كښے څنگه چه غوارى تصرف كونكے، عزت وركونكے، ذلت وركونكے، ښكته كونكے پورته كونكے دے : نو هغه بيا دَ توحيد دَ باقى قِسمونو نه انكار نهٔ كوى. ليكن هغوئ دا توحيد داسے اونهٔ پيژندهٔ څنگه چه ددے دَ پيژندگلو حق وو. دا وجه ده، الله تعالىٰ فرمائى :

﴿ قل من يرزقكم من السماءِ والأرض أم من يملك السمع والأبصار ومن يخرج الحيّ من الميت ويخرج الميت من الحيّ ومن يدبر الأمر فسيقولون الله قل أفلا تتقون ﴾ [يونس : ٣١]

(ورته اووايه ! څوك دے چه تاسو له دَ زمكے او آسمان نه روزى دركوى او څوك دے چه دَ غوږونو او سترگو مالك دے، او څوك دے چه ژوندے دَ مړى نه او مړے دَ ژوندى نه را اوباسى، او څوك دے چه دَ تولو كارونو تدبير كوى ؟ نو دوئ به اووائى : الله. ورته اووايه ! نو بيا تاسو ولے ځان دَ شرك نه نهٔ بچ كوئ).

نو بيا تاسو ولې ځان دَ شرك نه نۀ بچ کوئ)۔
يعنې : کله چه تاسو دَ هغۀ په تصرفاتو باندې اقرار کوئ نو بيا تاسو ولې دَ هغۀ نه نۀ يريږئ۔ معلوميږي چه دا خبره دَ هغوئ په زړونو کښې پوره طور سره نۀ وه داخله شوې۔ ګنې تقوئ دَ توحيد علمي – يعنې توحيد الربوبيت – سره لازمه ده چه دَ زړۀ ژور والي ته داخل شي۔

○ ځينې خلق دې توحيد ته توجه نۀ کوي۔ او ځينې خلق بس همدا آخري مقصد ګرځوي چه ددينه پورته نۀ خيژي۔ دا دواړه قِسمه خلق په خطاء باندې دي۔ بلکه واجبه داده چه دا توحيد هم اوپيژندلې شي او ددې نه پورته چه کوم توحيدونه راځي هغه هم اوپيژني۔

۳ – دريم : توحيد الاسماء والصفات :

چه دا هم په توحيد علمي خبري کښې داخل دې :

ددې مطلب دا چه کوم نومونه او صفتونه چه په قرآن او حديث کښې الله دپاره راغلي دي، هغه په غير دَ تعطيل او دَ تاويل، په غير دَ تحريف او دَ تمثيل او دَ کيفيت نه الله عز وجل دپاره ثابت کړې شي۔ نو څوك چه الله تعالى دَ خپلو ټولو يا بعضِ صفاتو نه خالي کوي، نو دا جُهَمِي دې۔ او څوك چه دَ الله دَ نومونو او صفتونو تشبيه دَ مخلوق سره ورکوي، نو دا مُشبِّه دې۔ او څوك چه دَ الله په نومونو او صفتونو کښې تاويل کوي، نو دا بِدعتي دې۔ او څوك چه دَ الله دَ شان مطابق ددې اثبات کوي نو دا مؤمن موحد دې۔

او دا توحيد دَ خاصو مؤمنانو توحيد دې، ځکه دوئ ددې اهتمام کوي او خپل حالات ددې نومونو او صفتونو موافق جوړوي۔ او دې سره ډير زيات محبت ساتي۔ او ددې توحيد مطلب دائۀ دې چه يوازې په اسماء او صفاتو باندې علم حاصل کړې شي۔ بلکه ددې مطلب علم، عمل او حال دې۔ دارنګه خپل حال دَ الله ددې اسماء او صفاتو مطابق جوړول۔ چه دا کار ډير سخت دې، دَ الله صرف خواص بندګان ددې طلبګار دي۔

○ دَ دې اسماء او صفاتو مطابق دَ خپل حال جوړولو دپاره مونږ يو **مثال** پيش کوو :

او هغه دا چه الله سبحانه وتعالىٰ رحمٰن دې۔ نو اول به په تمام مخلوق باندې دَ هغۀ دَ رحمت قِسمونه اوپيژني۔ بيا به په زړۀ سره هغې طرفته مائله شي او يو ناشنا امېد به ئې پيدا شي۔ دې نه پس به دۀ په زړۀ کښې دَ خپل رب سره محبت پيدا شي۔ دې نه پس به په دۀ کښې شکر پيدا شي۔

په دې طریقه دَ الله نوږ نومونه اوصفتونه هم واخله. او دا هغه خوندور او مزیدار توحید دې چه ددې خوند او مزه دَ هر شیٔ دَ خوند او مزې نه پورته ده. ددې خوند دَ خواصو مؤمنانو په نیز دَ خوراك څکاك، نکاح او چکړو دَ خوند نه هم زیات دې.

الله عز وجل نه غواړو چه مونږ هم په دې مؤمنانو کښې داخل کړي. آمین !

ډیر موحدین خلق شته چه ددې توحید کوشش او اهتمام نهٔ کوي.

○ او هر چه **تأویل** او تعطیل والا دی: نو دا بیچاره ګان دَ ډیر افضل او خوندور شیٔ نه محروم دی. والله المستعان.

نبي ﷺ فرمائي: « الله دپاره نهه نوی (۹۹) نومونه دی، چاچه یاد کړل نو جنت ته به داخل شي ». (بخاري).

٤ – څلورم: توحید العبادت:

او دیته توحیدِ الوهیت او توحیدِ طلبي هم وائي. او ددې مطلب دا چه الله په عبودیت (غلامیٔ) تعظیم، محبت، خوف، رجاء، انابت، توکل، صبر، ذلت، تواضع، خشوع، سجدې او په باقي اقسامو دَ عبادت سره خاص کړې شي. او همدا هغه توحید دې چه رسولانو او نیکانو دیته دعوت ورکړې. او همدا هغه توحید دې چه الله تعالیٰ دَ خپلو بندګانو نه طلب کړې. او دا نتیجه ده دَ مخکنو اقسامو دَ توحید. په دې سره موحد سړې دَ مشرك نه او مؤمن دَ کافر نه جدا کیږي. او خپلو کښې په مؤمنانو بندګانو کښې هم په دې کښې ډیر فرق دې. څینې مؤمنان ددې توحید په اعلیٰ درجه کښې دی. او څینې مؤمنان ددې نه ښکته دی. آن تردې چه دا توحید دَ څینو په زړهٔ کښې دَ وړې دَ دانې او دَ جوار دَ دانې اندازې ته را اورسي.

نو څوك چه دَ خپل رب سره سخت محبت کونکې وي او قوي ایمان والا او ډیر عبادت او انابت او توکل والا وي. او الله نه ډیر سخت خوف اوخشیت کونکې او ډیر صبر کونکې وي، نو دا حقیقي موحد دې. ددهٔ حالت اوګوره، دې ډیر زیات مزیدار، نیك بخته او پاکیزه ژوند والا وي. دې دَ هغه جنت نه مخکښې په دنیا کښې په جنت کښې وي. خلق دې په غمونو او شرونو کښې ویني لیکن دې په سرور او خوشحالیٔ کښې وي. څومره چه دې ډیر او صفا عبادت کوي نو دا توحید غټیږي. او څومره چه دَ انسان انابت او توکل وي، هغومره ددې توحید فائدې زیاتیږي.

○ او زما په خیال **څینې** خلق دا دعویٰ لري چه دوئ موحدین دی. خو دوئ پوره طور

سره توحید نهٔ دے پیژندلے۔ دا وجه ده چه دَ دوئ مونځونه حنفی، ارکان ئے خلفی، او اوقات ئے نفاقی وی. په دوئ کښې به تاته څوك خشوع کونکے ښکاره نشی۔ دَ دوئ په مسجد کښې به داسے څوك اونهٔ وینے چه په عاجزئ او تضرع سره رکوع سجده او ذکر کونکے وی۔ اونهٔ به څوك اووینے چه دَ الله کتاب په تدبر سره لولی۔ مگر ډیر کم کوز خلق۔

زهٔ په یو **رمضان** کښې دَ توحید دَ دعویدارو په یوه مدرسه کښې ووم۔ نو هغوئ به شل رکعته تراویح تقریبًا په شل مینټه کښې کولے۔او دَ توحید پوره دعویٰ به ئے کوله !!

نو په دے باب کښې تهٔ فکر اوکړه، کیدے شی چه الله په تا باندے دَ توحید دروازے را پرانیزی۔

۵ - پنځم : توحید الحاکمیة :

او دیته توحید التشریع (دَ قانون سازئ توحید) هم وائی۔او هغه دیته وائی چه یواځے الله تعالیٰ حاکم او قانون ساز اوګنړلے شی۔ دَ قانون جوړولو او فیصلے کولو حق صرف او صرف دَ هغهٔ دپاره اومنلے شی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ إن الحكم إلا لله ﴾ [یوسف : ٤٠] (فیصله خو صرف دَ الله ده)۔

او فرمائی : ﴿ أم لهم شركاء شرعوا لهم من الدين ما لم يأذن به الله ﴾ [شوری : ٢١] (آیا دوئ دپاره برخه داران دی چه دوئ دپاره ئے هغه دین جوړ کړے په کوم باندے چه الله اجازت نهٔ دے کړے)۔

او فرمائی : ﴿ وما اختلفتم فيه من شئ فحكمه إلى الله ﴾ [شوری : ١٠] (او تاسو چه په کوم شئ کښې اختلاف اوکړئ نو ددے فیصله الله ته سپارلے شویده)۔

او فرمائی : ﴿ ومن لم يحكم بماأنزل الله فأولئك هم الكافرون ﴾ [مائده : ٤٤] ﴿ فأولئك هم الظالمون﴾ [مائده : ٤٥] (﴿ فاؤلئك هم الفاسقون ﴾ [مائده : ٤٧] (او څوك چه دَ الله په نازل کړی حکم باندے فیصله نهٔ کوی نو همدا خلق کافران دی، ظالمان دی، فاسقان دی)۔

نو دَ الله نه سیوا بل هیڅوك شارع او قانون ساز نشته۔ او هیڅ دپاره جائز نهٔ دی چه دَ الله دَ اجازت نه بغیر یو عمل مشروع او جائز کړی۔ او هیچا دپاره دَ قانون سازئ، حدودو او احکامو جوړولو حق او اختیار نشته۔

نو چاچه دا حق غیر الله ته ورکړو، نو دا مشرك دے۔ چه ددهٔ په کفر کښې شك نشته۔

نو چاچه بادشاهان یا مُلیان او پیران، یا عوام شارعان او قانون ساز جوړ کړل چه دَ الله نه

سيوا په خپل قانون جوړوي. نو دا په اتفاق سره مشرك دے. دا وجه ده چه جمهوريت دَ اسلام سره ښکاره خلاف دے. ځکه دَ جمهوريت (ډيموکراسئ) معنیٰ ده: دَ عوامو حاکميت. او دا صريح کفر دے.

نو په دے باب کښے فکر اوکړه او دَ کوتاهي کونکو او متساهلينو نه مهٔ جوړيږه.

او دَ توحيد دا څلور اقسام دَ اول نه بغير عقلًا دوه قِسمونو ته تقسيميږي: نفي او اثبات. يعنې غير الله نه دَ ددے کارونو نفي کول. او الله له ئے ثابتول واجب دي.

او دا دواړه قِسمونه (نفي او اثبات) دوه قِسمونه لري: (۱) توحيد علمي (۲) توحيد عملي. نو دا ټول (۱۷) اولس قِسمونه شول. او دَ اکثرو دپاره مثالونه موجود دي، او دَ بعضو دپاره مثال نهٔ دے موجود، بلکه دا يو عقلي تقسيم دے.

په توحيد کښے دَ مؤمنانو سره دوستي ساتل او دَ کافرانو او مجرمانو نه بيزاري اختيارول داخل دي. بلکه دا دوه کارونه دَ توحيد افضل قِسمونه دي. نبي ﷺ فرمائي: ((په ټولو اعمالو کښے بهترين عمل، الله دپاره مينه کول، الله دپاره بغض لرل، الله دپاره دوستي کول او الله دپاره دشمني کول دي)).

(رواه أحمد بإسناد صحيح).

دارنګه په توحيد کښے دا خبره هم داخله ده چه کافرانو سره به په لباس، شکل، اعمالو او اخلاقو کښے مشابهت نهٔ کوي. څوك چه کافرانو سره مشابهت پريدي هغه موحد دے. او څوك چه په سُنت طريقه باندے دَ دوئ سره مشابهت غوره کړي نو دلبه دَ دوئ نه حساب وي. ځنګه چه نبي ﷺ فرمائيلي دي. نو دَ توحيد ټول شل قِسمونه شو.

○ او دا تقسيم دَ الله په فضل سره ما خپله ايجاد کړے.

ابن قيم رحمه الله په (القصيدة) کښے توحيد الاسماء والصفات، متصل او منفصل ته تقسيم کړے. دارنګه سلب او ايجاب ته. چه دا ټول دَ اسماء او صفاتو دَ توحيد قِسمونه دي.

دَ الله عزوجل نه غواړم چه مونږ ته دَ خپل توحيد ټول قِسمونه را نصيب کړي. او په دے مرګ او په همدے دَ هغهٔ مخامخ اودريدل را نصيب کړي. او دا کار په الله باندے هيڅ ګران نهٔ دے!

○ **دَ توحيد فوائد:**

د توحيد ډير زيات فوائد دي:

فائدے هم دي، چه دا دَ قرآن کريم نه اخستے شوي دي. (الفوائد : ١/١٧٩).

٢ - توحيد دَ سينے دَ فراخئ په اسبابو کښے يو عظيم سبب دے. ځکه دا دَ الله ﷻ ادب او احترام په درجاتو کښے عظيم ترينه درجه ده.

٣ - څوك چه حقيقي توحيد اختيار کړي نو دا به بغير دَ حساب او عذاب نه جنت ته داخليږي.

٤ - توحيد په اور کښے انسان لره دَ هميش والي نه بندوي، هر کله چه ددهٔ په زړهٔ کښے دَ ذرے هومره توحيد هم وي. او کله چه په زړهٔ کښے توحيد کامل شي نو بيا خو انسان بيخي دَ اوره بچ کوي.

٥ - توحيد ګناهونه بخښي او بدئ رژوي.

٦ - توحيد دَ دنيا او آخرت دَ مصيبتونو لرے کولو دپاره عظيم ترين سبب دے.

٧ - توحيد سره انسان دَ شيطان نه بچ کيږي.

٨ - توحيد سره دَ حسدګر شر دفع کولے شي.

٩ - موحدينو له به رسول الله ﷺ شفاعت کوي.

١٠ - موحدين به دَ قيامت په ورځ نورو موحدينو له شفاعت کوي، چه دا دَ الله په نيز دَ دوئ دَ مرتبے اوچت والي ته اشاره ده.

١١ - دَ توحيد خاوند دپاره هدايت او په دنيا او آخرت کښے کامل امن ملاويږي.

١٢ - توحيد دَ الله دَ رضا او ثواب حاصلولو دپاره بنيادي سبب دے.

١٣ - ټول ښکاره او پټ اعمال او اقوال په قبوليت، کمال او په دے باندے په ثواب ملاويدو کښے توحيد پورے اړه لري.

١٤ - توحيد په بنده باندے دَ خير کار کول او خراب کارونه پريښودل آسانوي، او دَ مصيبتونو نه ورله تسليه ورکوي.

١٥ - توحيد سره دَ موحد مال او وينه حراميږي.

١٦ - توحيد چه کله په زړهٔ کښے کامل شي، نو الله ددے خاوند دپاره ايمان محبوب جوړوي. او ددهٔ په زړهٔ کښے ئے ښائسته کوي، او کفر، نافرماني او ګناهونه ورته بدے ښکاره کوي.

١٧ - توحيد په بنده باندے سختئ مصيبتونه سپکوي او دردونه پرے آسانوي.

١٨ - توحيد بنده لره دَ بندګانو دَ غلامئ، دوئ پورے دَ نښتلو، دوئ نه دَ خوف او اميد

کولو او دَ دوئ د وجې نه دَ عمل کولو نه آزادوي. او همدا حقیقي عزت او اوچت شرافت دے.

۱۹ - توحید چه کله پوره طور سره کامل شي، نو ددے په وجه عملونه دوچنده کیږي.

۲۰ - توحید والو دپاره الله په دنیا کښې دَ فتح او نصرت، عزت او شرافت، حصولِ هدایت، توفیقِ طاعت او اصلاحِ حالت ذمه واري اخستے ده.

۲۱ - توحید په وجه الله دَ موحدینو نه دَ دنیا او آخرت شرونه لرے کوي، او دَ پاکیزګئ او خاطر جَمعئ زندګي ورته نصیب کوي.

۲۲ - خالص توحید، ریاء او کینه اوداسے نور کبیره ګناهونه ختموي.

۲۳ - دعاء او صدقه دَ ځامنو دَ طرفه صرف موحدینو ته نفع ورکوي.

(بدائع الفوائد : ۲/۲٤٥، نضرة النعيم : ۱۳٤۲، زاد المعاد : ۲/۲۳).

۲٤ - توحید دَ نیکیو بنیاد او جرړه ده. ددے فائدے دَ شمار نه بهر دي.

۲۵ - دَ توحید لویه فائده دَ الله رضامندي او موحد سره محبت کول دي.

۲٦ - الله سره چه دَ بنده ولایت او دوستي حاصلیږي نو دا صرف په حقیقي توحید سره. والله المستعان، وعليه التكلان.



٤٣ - فائده

إزدياد الإيقان بحفظ شعب الإيمان

دَ شُعَب الايمان يعنى دَ ايمان دَ څانګو بيان

١٢٧ - سوال : مانه بعضو ملګرو سوال اوکړو، چه شُعَب الايمان (دَ ايمان څانګې) څو مره دى ؟ آيا دا ټولې په يو ځائے په يو حديث کښې راغلى ؟ او دے باره کښې داسے رساله شته چه دا ټولې پکښې ذکر وى ؟

جواب : نو ما ورته په دے راتلونکے پاکيزه رسالے سره جواب ورکړو، چه ددے په مطالعے او په دے کښې په فکر کولو سره دَ انسان ايمان زياتيږى، دَ زړونو يقين قوى کيږى، او ددے په آوريدو غوږونه خوند محسوسوى۔

بسم الله الرحمن الرحيم

إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادى له، وأشهد أن لا اله إلا الله وأشهد أن محمداً عبده ورسوله. يا ايها الذين آمنوا اتقوا الله حق تقاته ولا تموتن إلا وأنتم مسلمون.

اما بعد : په چا کښې چه معمولى شان عقل هم وى نو هغه په دے کښې شك نۀ کوى چه دَ دنيا او آخرت نجات صرف هغه څوك حاصلولے شى څوك چه دَ ايمان صفتونه اختيار کړى، او دَ يقين کړئ ته مضبوط لاس واچوى۔ دے وجے نه عقلمندو باندے واجب دى چه ددے دَ حاصلولو دپاره جد وجُهد اوکړى۔

اوس مونږ تاته په مختصر بيان سره دَ ايمان هغه شعبے ذکر کوو، کومے چه په قرآن او سنت کښې راغلى۔ او په رمضان کښې ددے رسالے په ليکلو نيك فالى کوو۔ (١٤١٣/١٢ هـ او دا هغه وخت دے چه زۀ په کښې دَ ديرشتو کالو يم۔ الله تعالىٰ دے مونږ ته افضل ايمان راکړى، او په مونږه دے دَ دينِ اسلام نعمت پوره کړى۔ آمين۔

نبى کريم ﷺ فرمائى : الإيمان بضع وسبعون شعبةً، فأفضلها قول لا إله إلا الله، وأدناها

إماطة الأذىٰ عن الطريق، والحياء شعبة من الإيمان.

(البخاري بشرح الفتح : ٤٤/١، ومسلم : ٤٧/١، ألمشكاة : ١٢/١، عن أبي هريرة).

(ايمان څه دپاسه اويا څانگې دې، په دې کښې بهترينه څانگه کلمه طيبه وئيل دي، او دَ تولو نه ښکته څانگه دَ لارې نه ضرري شے لرے کول دي، او حياء دَ ايمان يوه څانگه ده).

نو څوك چه په خپل ځان کښې دا راټلونکې څانگې پوره راولي، نو دا به کامل مؤمن اوّ په کائناتو کښې غوره انسان وي. او څوك چه ددې هيڅ پرواه اونهٔ لري، نو دا به لوئے جاهل او په کائناتو کښې فسادي شخص وي. او څوك چه ددې څانگو نه څو مره څانگې کمې کړي، نو هغو مره به ئے په ايمان کښې کمے وي.

دې وجې نه کله چه مونږ دا شعبې په يوه رساله کښې راجمع کړو، او خلقو ته ئے اوښايو، نو الله تعالىٰ به مونږ ته په دې باندې عمل کول آسان کړي. او مونږ د الله په توفيق سره نمبروار ددې تفصيل کوو، او دَ قرآن او صحيح احاديثو نه ددې شعبو دلائل ذکر کوو.

١ - اوله شعبه : ايمان لرل :

په دې خبره چه الله ددې کائناتو رب او ناشنا پيدا کونکے او معبود دے. دَ هغهٔ نه سيوا بل هيڅوك دَ عبادت لائق نشته، يواځے دے، هيڅ قِسم شريك نهٔ لري نهٔ په پيدائش کښې او نهٔ په امر چليدلو کښې. او همدا الله دَ زمکے او آسمان تدبيرونه کوي، او همدا الله دَ سينو په رازونو پوهه دے. په دهٔ باندې نهٔ په زمکه کښې څهٔ شے پټيږي او نهٔ په آسمان کښې، او هغه هر شے آوريدونکے او په هر شئ پوهيدونکے دے.

٢ - شعبه : ايمان لرل:

په دې چه الله سبحانهٔ وتعالىٰ دَ کمال، عزت، جلال، کبرياء او جمال په صفتونو موصوف دے. او د الله عز وجل دپاره ښائسته نومونه او اوچت صفتونه دي. نهٔ دَ هغهٔ ذات دَ چا دَ ذات سره مشابه دے، او نهٔ ئے کوم صفت دَ چا دَ صفت سره مشابه دے. هغهٔ دپاره ټول هغه نومونه او صفتونه ثابت دي، کوم ئے چه د خپل ځان دپاره بيان کړي، يا ورله دَ هغهٔ رسول (ﷺ) بيان کړي. دا صفتونه به دَ هغهٔ نه هيڅ کله نهٔ نشي نفي کولے. او نهٔ به په دې کښې تحريف، تبديل او تأويل کولے شي. بلکه دَ هغهٔ په ټولو ښائسته نومونو او پاکيزه صفتونو به ايمان لرلے شي. دارنگه دا ايمان به لرلے شي چه دَ هغهٔ پشان هيڅوك نشته. او هغه هر څيز آوريدونکے او ليدونکے دے.

٣ - شعبه : دا عقيده لرل چه دا ټول کائنات او عالمونه حادث او ممکن او دَ هغهٔ ذات

تـه ذاتـي طـور سـره مـحتـاج دي۔ او هـغـه پـه خپل ذات سره بې پرواه دے، او هغه هيڅ ته احتيـاج نـهٔ لـري۔ او هغه داسې بې پرواه دے چه ددے سره سره ستائيلے شوے هم دے۔ په دے باندے دليل دا قول د الله تعالیٰ دے :

﴿ هو الأول والآخر والظاهر والباطن وهو بكل شئ عليم ﴾ [حديد]

(همدا الله اول هم دے او آخر هم۔ ښكاره هم دے او پټ هم، او دا په هر څيز پوهه دے)۔

او نبي ﷺ فرمائي : « بيشكه اولنے شے چه الله پيدا كړو، هغه قلم دے »۔

(الترمذي : ۳۸/۲، المشكاة : ۲۱/۱).

٤ - شعبه : دَ هغهٔ په ملائكو ايمان لرل۔

٥ - شعبه : دَ هغهٔ په كتابونو ايمان لرل۔

٦ - شعبه : دَ هغهٔ په رسولانو ايمان لرل۔

٧ - شعبه : دَ خير او شر په تقدير ايمان لرل۔

٨ - شعبه : په ورځ دَ آخرت ايمان لرل۔

په دے ټولو باندے دليل دا قول دَ الله تعالیٰ دے :

﴿ ولكن البر من آمن بالله واليوم الآخر والملائكة والكتاب والنبيين ﴾ [بقره : ۱۷۷]

(نيـكـي خـو صَرف داده چـه پـه الله، پـه ورځ دَ آخـرت، پـه ملائكو، پـه كتـابونو او پـه پيغمبرانو باندے ايمان اولري)۔

او نبي ﷺ فرمائي : « ايمان دادے چه تهٔ په الله، دَ هغهٔ په ملائكو، دَ هغهٔ په كتابونو، دَ هغهٔ په رسولانو، په ورځ دَ آخرت، او دَ خير او شر په تقدير باندے ايمان اولرے »۔

(البخاري : ۱۲/۱، مسلم : ۲۷/۱، المشكاة : ۱۲/۱).

٩ - شعبه : قبر كښے دَ دوه مـلائكو په سوال باندے ايمان لرل، دارنگه په دے خبره ايمان لـرل چه حشر، نشر، حساب، ميزان، پُلِ صراط، جنت او جهنم حق دے۔ او دا ټولے خبرے په ايـمـان بـالآخـرة كښے داخـلے دي۔ نـو مؤمن سړے په دے خبره تصديق كوي چه الله به دوه ملائك قبر ته را ليږي چه مړے به كينوي او دَ هغهٔ نه به دَ هغهٔ دَ رب، دين، او رسول په باره كښے تپوس كوي۔ نو مؤمن به جواب وركوي چه : رب زما الله دے، دين زما اسلام دے، او نبي زمـا مـحمد ﷺ دے۔ دارنگه ددے خبرے تصديق به كوي چه الله به قبرونو والا دوباره پيدا كوي۔ مؤمن سړے به دَ بد حساب نه يريږي، لكه چه قرآن دا ذكركړي۔

دارنگه دَ اعمالو په وزن (تللو) به ايمان لري۔ الله فرمائي :

﴿ فأما من ثقلت موازينه فهو في عيشة راضية، وأما من خفت موازينه فأمه هاوية ﴾ [قارعه]
(نو دَ چا دَ اعمالو تلې چه درنې شوې، نو دابه په خوشحاله ژوند کښې وي، او دَ چا د اعمالو تلې چه سپکې شوې نو ددهٔ دَ ورتلو ځائې هاويه - جهنم - دې).
دارنګه مؤمن به دا خبره رشتينې ګڼړي چه پُلِ صراط دَ جهنم په شا باندې ولاړ يو پُل دې. لکه چه دا مضمون په متواترو حديثونو کښې راغلې. او مؤمنان به په دې باندې دَ خپلو اعمالو مطابق ورتيرېږي، ځينې به دَ بريښنا پشان، ځينې به دَ هواء پشان، ځينې به دَ کره آسونو دَ مزل پشان. او ظالمان خَلق به په اور کښې ورګذار کړې شي. (نعوذ بالله من ذلك).

١٠ - شعبه : د الله عز وجل سره ډير زيات محبت کول :
الله تعالىٰ فرمائي :
﴿ ومن الناس من يتخذ من دون الله أندادًا يحبونهم كحب الله والذين آمنوا أشد حبًا لله ﴾ [بقره : ١٦٥]
(او بعضِ دَ خلقو نه هغه دي چه د الله نه سيوا معبودان نيسي، دوئ سره داسې محبت کوي لکه دَ الله د محبت پشان، او مؤمنان خلق خو د الله سره سخت محبت کونکي دي).
او الله فرمائي : ﴿ قل إن كنتم تحبون الله فاتبعوني يحببكم الله ويغفر لكم ذنوبكم ﴾ [آل عمران : ٣١]
(ورته اووايه ! کهٔ چرې تاسو د الله سره مينه کول غواړئ نو زما تابعداري اوکړئ الله به تاسو سره مينه اوکړي او ګناهونه به درته معاف کړي).
په حديث کښې دي :
ثلاث من كن فيه وجد بهن حلاوة الايمان : ان يكون الله و رسوله احب اليه مما سواهما، و ان يحب العبد لا يحبه الا لله، و ان يكره ان يعود في الكفر كما يكره ان يُقذفَ في النار.
(درې خويونه داسې دي چه په چا کښې دا وي، هغه به ددې په وجه د ايمان خوند او لذت بيامومي : (١) چه الله او د هغه رسول ورته ددې دواړو نه سيوا د هر شئ (پوره کائناتو) نه زيات محبوب وي. (٢) او چه د يو کس سره صرف د الله دپاره محبت اولري. (٣) او دا چه دا دوباره کفر ته واپس کيدل داسې بد ګڼړي، څنګه چه اور ته غورزيدل بد ګڼړي).
(البخاري : ٧/١، مسلم : ٤٩/١، المشكاة : ١٣/١).
نو چا سره چه د الله عز وجل محبت نهٔ وي، نو هغه مؤمن نهٔ دې، او نهٔ د عبادت کونکو

نه دي۔ ځکه عبادت خو الله سره محبت او هغهٔ ته ذلت ته وائي۔

۱۱ - شعبه : الله دپاره محبت ساتل۔ نهٔ دَ عوض، نهٔ دَ غرض او نهٔ دَ خوبصورتئ دَ وجې نه۔ بلکه خاص د الله دپاره، او د الله په باره کښې محبت لرل۔ او دَ رسول الله ﷺ د تصریح مطابق دا دَ ټولو نه بهترین عمل دے۔

۱۲ - شعبه : الله دپاره بغض لرل : مؤمن به د الله دشمنانو او هر هغه چا سره بغض لري چه هغه دَ شریعتِ مطهره خلاف کونکے وي دارنګه دَ هر هغه شئ سره به بغض کوي، چه هغه دَ الله د رضامندئ خلاف وي۔ په دے خبره دلیل دا قول دَ رسول الله ﷺ دے :

من أحب للّٰه وأبغض للّٰه وأعطیٰ للّٰه ومنع للّٰه، فقد استکمل الإیمان.

(رواه الترمذی : ۳۰۹/۲، أبوداود : ۲۸۷/۲، أحمد : ٤٤٠/۳، المشکاة : ١٤/١).

(چا چه د الله دَ وجې نه محبت اولرلو، دَ الله دَ وجې نه ئې بُغض اولرلو، د الله دَ وجې نه ئې ورکړه اوکړه، او دَ الله دَ وجې نه ئې څهٔ شے منع کړو، نو دے کس ایمان پوره کړو)۔

نو مؤمن به خاص د الله دپاره محبت کوي او خاص دَ الله دپاره به دشمني کوي، نهٔ دَ بل غرض دپاره۔ او همدے سره ایمان پوره کیږي۔

۱۳ - شعبه : نبي ﷺ سره داسے محبت ساتل چه هغه دَ پلار، نفس او ټولو خلقو دَ محبت نه زیات وي۔ لکه نبي ﷺ فرمائي :

لا یؤمن أحدکم حتی أکون أحب إلیه من والده وولده والناس أجمعین. وفي روایة ومن نفسه. (البخاری : ۷/۱، مسلم : ٤۹/۱، المشکاة : ۱۲/۱).

(پتاسو کښې څوك تر هغه وخته پورے مؤمن کیدے نشي تر څو چه زهٔ هغهٔ ته دَ هغهٔ د پلار، بچو او ټولو خلقو نه زیات محبوب نشم- او په یو روایت کښې خپل ځان هم ذکر شوے)۔

نو مؤمن به دَ نبي ﷺ امر ددے خلقو په امرونو باندے مخکښے کوي، دارنګه دَ نبي ﷺ سره طبعي محبت لرل به هم ددے خُلقو په محبت باندے مقدم کوي۔ ځکه دا حدیث شریف مطلق دے، هر محبت ته شامل دے۔ بله دا چه نبي ﷺ په دے امت باندے دومره ډیر احسانات کړي چه هغه په شمیر کښې نهٔ راګیریږي، او دَ احسان کونکي سره محبت کول لازم دي۔

١٤ - شعبه : دَ نبي ﷺ تعظیم اوتوقیر کول :

لکه الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ إنا أرسلناك شاهدًا ومبشرًا ونذیرًا لتؤمنوا باللّٰه ورسوله وتعزروه

وتوقروه وتسبحوه بكرةً وأصيلًا ﴾ [فتح : ٩]

(بیشکه مونږ ته ګواه او زیرے ورکونکے او یره ورکونکے جوړولو سره لیږلے ئے، دے دپاره چه تاسو په الله او دَ هغهٔ په رسول باندے ایمان اولرئ او دَ هغهٔ عزت او توقیر اوکړئ او صبا بیګاه دَ الله پاکی بیان کړئ)۔

او الله فرمائی : ﴿ لا ترفعوا أصواتكم فوق صوت النبي ولا تجهروا له بالقول كجهر بعضكم لبعض أن تحبط أعمالكم وأنتم لا تشعرون ﴾ [حجرات : ٢]

(تاسو خپل آوازونه دَ نبی (ﷺ) دَ آواز دپاسه مهٔ اوچتوئ او مهٔ ورته په زوره وینا کوئ څنګه چه خپلو کښے یو بل ته په زوره وینا کوئ، هسے نه چه ستاسو اعمال برباد شی او تاسو به پو هه هم نشئ)۔

او فرمائی : ﴿ لا تجعلوا دعاء الرسول بينكم كدعاءِ بعضكم بعضًا ﴾ [النور : ٦٣]

(تاسو دَ رسول (ﷺ) دعاء (یا آواز) خپلو کښے داسے مهٔ ګرځوئ څنګه چه پتاسو کښے ځینے ځینو نورو ته دعاء (یا آواز) کوئ)۔

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ إن الذين ينادونك من وراءِ الحجرات اكثرهم لا يعقلون ﴾ [حجرات : ٤] (بیشکه هغه خلق چه تاته دَ پردو نه اخوا آوازونه کوی، نو په دوئ کښے اکثر خلق عقل نهٔ لری)۔

١٥ – شعبه : په نبی کریم ﷺ باندے په مانځه کښے او بهر دَ مانځه نه او دَ هغه دَ نوم ذکر کیدو په وخت درود وئیل۔ لکه چه الله تعالیٰ په دے باندے امر فرمائیلے :

﴿ إن الله وملائكته يصلون على النبي يا أيها الذين آمنوا صلوا عليه وسلموا تسليمًا ﴾ [احزاب : ٥٦]

(بیشکه الله او دَ هغهٔ ملائك په نبی (ﷺ) باندے درود وائی، اے ایمان والو! تاسو هم په هغهٔ درود او ښهٔ سلام لیږئ)۔

او نبی ﷺ فرمائی : « دَ هغه سړی پوزه دے په خاورو ککړه شی چه زهٔ دَ هغهٔ خواته یاد شوم او په مائے درود اونهٔ وئیلو »۔

(رواه الترمذی، كما في المشكاة : ٨٦/١، وذكره المنذری فی الترغيب : ٥١٠/٢، ورواه النسائی وابن حبان والحاكم والترمذی وصححه)۔

١٦ – شعبه : دَ نبی کریم ﷺ دَ سنتو تابعداری کول۔

نو مؤمن به دَ هغهٔ دَ اقوالو، افعالو او دَ هغهٔ دَ شریعت تابعداری کوی، لکه څنګه چه الله

تعالیٰ دَ قرآن کریم په ډیرو ځایونو کښې په دے امر کړے۔ الله تعالیٰ فرمائی:

﴿ قل إن كنتم تحبون الله فاتبعوني يحببكم الله ويغفر لكم ذنوبكم والله غفور رحيم ﴾ [آل عمران]

(ورته اووایه ! کۀ چرے تاسو د الله سره مینه کول غواړئ نو زما تابعداری اوکړئ الله به تاسو سره مینه اوکړی او گناهونه به درته معاف کړی)۔

او فرمائی : ﴿ فليحذر الذين يخالفون عن أمره أن تصيبهم فتنة أو يصيبهم عذاب أليم ﴾ [النور : ٦٣] (کوم خلق چه دَ نبی ﷺ دَ حکم خلاف ورزی کوی، هغوئ دے ددے نه اوویریږی چه (په دنیا کښے) دوئ ته فتنه اورسی او (په آخرت کښے) دردناك عذاب)۔

او فرمائی : ﴿ وإن تطيعوه تهتدوا ﴾ [النور : ٥٤]

(اوکۀ چرے تاسو دَ هغۀ تابعداری اوکړه نو سمه لار به بیامومئ)۔

او فرمائیل : ﴿ فلا وربك لا يؤمنون حتى يحكموك فيما شجر بينهم ﴾ [النساء ٦٥]

(داسے نۀ ده، ستا په رب مے دے قسَم وی چه دوئ تر هغه وخته پورے مؤمنان کیدے نشی تر څو چه تا په خپلو اختلافی خبرو کښے فیصله کُن مقرر نۀ کړی)۔

او آیتونه په دے باره کښے ډیر زیات دی او معلوم هم دی۔

او نبی کریم ﷺ فرمائی : « زما هر امتی به جنت ته داخلیږی مګر هغه څوك چه (دَ جنت داخلیدو نه) انکار اوکړی۔ چا عرض اوکړو، انکار به څوك اوکړی ؟ وے فرمائیل : چا چه زما اطاعت اوکړو، هغه به جنت ته ځی او څوك چه زما خلاف ورزی کوی نو هغۀ (دَ جنت داخلیدو نه) انکار اوکړو »۔

(البخاری : ١٠٨١/٢، المشكاة : ٢٧/١).

نو دَ هدایت ټولے لارے بندے دی، سیوا دَ هغۀ دَ لارے نه۔ او هغه څوك په الله باندے هم ایمان لرونکے نۀ دے، څوك چه دَ رسول الله ﷺ دَ اوامرو او نواهی خلاف کوی۔

والله المستعان۔

۱۷ – شعبه : په ټولو **عباداتو** کښے ددے کائناتو رب او خالق دپاره **اخلاص کول**۔ دَ کوم ذات نه سیوا چه بل هیڅوك د عبادت لائق نشته۔ دَ هغه چا ایمان اوعبادت له هیڅ اعتبار نشته چه هغۀ په دے ټولو اعمالو کښے الله دپاره اخلاص اونۀ کړی او په دے سره د هغۀ دَ مخ اورضا تالاش اونۀ کړی۔ او په همدے خبره الله تعالیٰ مونږ ته په خپل لوئے کتاب کښے حکم فرمائیلے، لکه فرمائی :

﴿ فادعوا الله مخلصين له الدين ولو كره الكافرون ﴾ [مؤمن : ١٤]
(نو تاسو رابلئ الله په داسې حال کښې چه خالص کونکی ئې هغهٔ دپاره دین، اګرکهٔ کافران خلق ئې بدې ګنړی)۔
او فرمائی : ﴿ فاعبد الله مخلصا له الدين الا لله الدين الخالص ﴾ [الزمر : ٣]
(نو تهٔ د الله عبادت کوه چه خالص کونکې ئې هغهٔ دپاره خپل دین، خبردار ! هغهٔ دپاره خالص دین دې)۔
او فرمائی : ﴿ وما أمروا إلا ليعبدوا الله مخلصين له الدين حنفاء ويقيموا الصلوة ويؤتوا الزكوة وذلك دين القيمة ﴾ [البينة : ٥]
(او دوئ ته حکم نهٔ وو شوې مګر صرف ددې خبرې چه دوئ د الله عبادت اوکړی چه خالص کونکی وی هغهٔ دپاره دین او کلك ولاړ وی په توحید، او پابندی دَ مانځه اوکړی او زکوٰة ورکړی او همدا مضبوط دین)۔
په دې باره کښې آیتونه ډیر زیات دی۔
دَ معاذ – رضی الله عنه – په حدیث کښې دی : رأس الأمر الإسلام.
« دَ ټولو کارونو سر اسلام دې »۔ یعنی دَ دین سر په ټولو عبادتونو کښې رب العالمین ته اخلاص کول دی۔ (رواه أحمد كما في المشكاة : ١٦/١)۔
نو مؤمن به یواځې د الله عبادت کوی او په خپل عمل سره به صرف د الله او دَ ورځې دَ آخرت اراده لری۔ او کوم خلق چه دَ رِیا او ځان ښودنې دپاره عملونه کوی او خپلو عملونو سرهٔ دَ دُنیا اراده لری، نو دَ دوئ حالت ډیر زیات خطرناك دې۔ ددې نه په الله پورې پناه !
نو څوك چه دَ خپل ځان نجات او خلاص غواړی، هغهٔ باندې ضروری دی چه اخلاص زده کړی، او دا کار هر هغه چا دپاره آسان دې، چاته ئې چه الله آسان کړی۔
۱۸ – شعبه : په ټولو اعمالو کښې ریاء او ځان ښودنه پریخودل :
الله تعالیٰ دَ منافقانو په بدئ کښې فرمائی : ﴿ يراؤون الناس ولا يذكرون الله إلا قليلًا ﴾ [النساء : ١٤٢]
(خلقو ته ځان ښودنه کوی او الله نهٔ یادوی مګر لږ شان) ---- او فرمائی :
﴿ فويل للمصلين الذين هم عن صلاتهم ساهون الذين هم يراؤن ويمنعون الماعون ﴾ [ماعون]
(نو هلاکت دې دَ هغه مونځ کونکو دپاره چه د خپل مانځه نه غافله دی، هغه خلق دی

چه دوئ رياء کوی او معمولی ځيزونه منع کوی).

او نبی کريم ﷺ فرمائی :

من صلی يرائی فقد أشرك، ومن صام يرائی فقد أشرك، ومن تصدق يرائی فقد أشرك.

(رواه أحمد : ١٣٦/٤، المشكاة : ٤٥٥/٢).

(چا چه دَ ځان خودئ دپاره مونځ اوکړو نو دهٔ شرك اوكړو، چا چه دَ ځان خودئ دپاره روژه اونيوله نو دهٔ شرك اوكړو، او چا چه دَ ځان خودئ دپاره صدقه اوكړه نو دهٔ شرك اوكړو).

نو رياکار خو يا منافق دے او يا مشرك. او نفاق او شرك دَ ايمان مخالف ځيزونه دی. نو مؤمن به دَ رياء او دَدے دَ اسبابو نه ځان ساتی او دَ خپلو عملونو پټولو کوشش به کوی، ځکه الله تعالیٰ د داسے مؤمن سره مينه لری چه هغه پرهيزګار، پټ او (دَ خلقو نه) بيزاره وی. او په ډيرو آيتونو او ګڼړو حديثونو کښے دَ رياء قباحت راغلے او دَ ايمان نه جدا خوئے خودلے شوے.

١٩ - شعبه : منافقت پريخودل : برابره خبره ده كه اعتقادی منافقت وی اوكهٔ عملی. مؤمن به دَ نفاق نه خوف کوی. لکه نبی ﷺ فرمائی :

آية المنافق ثلث (زاد مسلم : وإن صام وصلی وزعم أنه مسلم) : إذا حدث كذب، وإذا وعد أخلف، وإذا أوتمن خان – وفي رواية : وإذا خاصم فجر. (رواه البخاری : ١٠/١).

(دَ منافق درے نښے دی – دَ مسلم په روايت کښے ورسره دا هم دی چه اګرکهٔ مونځ کوی او روژه نيسی او دا ئے خيال وی چه زهٔ مسلمان يم – (١) کله چه خبرے کوی نو دروغ وائی. (٢) کله چه وعده اوکړی نو خلاف ورزی کوی. (٣) او کله چه ورسره امانت کيخودے شی نو خيانت پکښے کوی. په يو روايت کښے دی : او کله چه جګړه کوی نو کنځل کوی».

صحابه کرام ؓ به په خپلو ځانونو باندے دَ منافقت نه يريدل. حسن بصری ؒ فرمائی : دَ منافقت نه نهٔ يريږی مګر مؤمن، او ددے نه نهٔ ے غمه کيږی مګر منافق.

(أخرجه البخاری عنه فی صحيحه).

٢٠ - شعبه : الله تعالیٰ ته توبه اوخكل :

برابره خبره ده كه دَ ګناه نه وی اوكهٔ بغير د ګناه نه. ځکه توبه دَ ايمان په شعبو کښے يوه شعبه ده. الله تعالیٰ دَ رشتينے مؤمنانو په صفت کښے فرمائی : ﴿ التائبون العابدون الحامدون السائحون الراكعون الساجدون الآمرون بالمعروف والناهون عن المنكر ﴾ [توبه : ١١٢]

(توبه ويستونكي، عبادت كونكي، حمد او ثناء ويونكي، روژه نيونكي، ركوع او سجده كونكي، دَ نيكئ حكم كونكي اودَ بدئ نه منع كونكي).

او فرمائي: ﴿ لقد تاب الله على النبي والمهاجرين والأنصار الذين اتبعوه في ساعة العسرة ﴾ [توبه: ١١٧] (يقيناً الله په نبي - ﷺ - په او هغه مهاجرينو او انصارو مهرباني اوكړه چا چه په تنگ ساعت كښې دَ هغهٔ تابعداري اوكړه).

او دا توبه دَ گناه په وجه نهٔ وه.

په يو حديث كښې دي: يا أيها الناس توبوا إلى الله فإني أتوب إليه في اليوم مائة مرة.

(اے خلقو! تاسو الله ته توبې اوباسئ ځكه زهٔ هغهٔ ته دَ ورځے سل ځله توبه اوباسم).

(مسلم: ٢/٢٥٠، المشكاة: ١/٢٠٣).

او الله فرمائي: ﴿ يا أيها الذين آمنوا توبوا إلى الله توبة نصوحًا ﴾ [تحريم: ٨]

(اے ايمان والو! الله ته خالصه توبه اوباسئ).

نو مؤمن سړے به په خپل زړهٔ، په خپلے ژبے سره هر وخت الله ته توبه اوباسي، برابره خبره ده كهٔ گناه ئے كړے وي اوكهٔ نه. بلكه دَ عبادت كولو نه پس به هم هغهٔ ته توبه اوباسي او استغفار به غواړي، ځكه چه دے دَ خپل رب دَ حق اداء كولو نه عاجز دے كهٔ چرے هغهٔ ئے په خپل رحمت كښې اونهٔ نغاړي.

نو توبه يوه عظيمه ايماني شعبه ده، چه په دے سره الله تعالىٰ ډير زيات خوشحاليږي، لكه چه ددے بيان په احاديثو كښې راغلے.

٢١ - شعبه : الله عز وجل نه يريدل :

هغه يره كومه چه په زړهٔ كښې وي او په باطن او ظاهر دواړو باندے اثر اوكړي. او كله چه داسے يره وي چه نهٔ په ظاهر اثر كوي اونهٔ په باطن، نو ددے موجوديدل او نهٔ موجوديدل دواړه برابر دي. الله تعالىٰ فرمائي:

﴿ فلا تخافوهم وخافون إن كنتم مؤمنين ﴾ [آل عمران: ١٧٥]

(نو تاسو دَ دوئ نه مهٔ يريږئ بلكه مانه اويريږئ كهٔ مؤمنان يئ).

او فرمائي: ﴿ فلا تخشوا الناس واخشوني ﴾ [مائده: ٤٤]

(نو تاسو دَ خلقو نه مهٔ يريږئ بلكه مانه اويريږئ).

او فرمائي: ﴿ ذلك يخوف الله به عباده يا عبادِ فاتقون ﴾ [الزمر: ١٦]

(دا هغه شے دے چه په دے سره الله خپل بندگان يروي، اے زما بندگانو! نو تاسو مانه يره

اوكړئ). - او فرمائي : ﴿ إن الذين يخشون ربهم بالغيب لهم مغفرة وأجر كبير ﴾ [ملك : ١٢]
(بيشكه هغه خلق چه دَ خپل رب نه پټي شا يريږي، دوئ دپاره مغفرت او لوئے اجر دے). او فرمائي : ﴿ ولمن خاف مقام ربه جنتان ﴾ [رحمن : ٤٦]
(او څوك چه د خپل رب مخے ته دَ اودريدو نه يريږي نو ددهٔ دپاره دوه جنته دی).
او فرمائي: ﴿ وأقبل بعضهم على بعض يتسائلون قالوا إنا كنا قبل فى أهلنا مشفقين ﴾ [طور: ٢٦]
(او ځينے به ځينو نورو ته را مخامخ شي او دَ يو بل نه به تپوس كوي، وائي به : مونږ مخكښے په دنيا كښے په خپل اهل كښے يريدونكي وو).
نو مؤمن به دَ خپل رب دَ عذاب نه يريږي او دَ بد حساب نه به يريږي، او دَ ايمان دَ زائله كيدو نه به يريږي، او دَ رحمٰن او جبار او قهار ذات مخے ته دَ اودريدو نه به يريږي، او دَ خپلو مخكنو ګناهونو نه به يريږي، او په راتلونكي وخت كښے به هم نهٔ بيغمه كيږي، او دَ عزيز او حكيم ذات دَ هيبت نه به يريږي. نو چاچه خپل ځان ددے نه بيغمه كړے دے، نو دا خلق تاوانيان دی. او په الله پورے دَ هغهٔ دَ ناراضتيا او ټول ګناهونه پناه غواړو.

٢٢ - شعبه : صرف الله نه اميد او طمع ساتل : نهٔ دَ بل چانه.

الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ إن الذين آمنوا والذين هاجروا وجاهدوا فى سبيل الله أولئك يرجون رحمت الله والله غفور رحيم ﴾ [بقره : ٢١٨]
(بيشكه هغه څوك چه ايمان لري او هغه خلق چه هجرت او دَ الله په لار كښے جهاد ئے كړے، نو دا خلق دَ الله دَ رحمت اميد لري، او الله بخښونكے مهربان دے).
او فرمائي : ﴿ إن الذين يتلون كتاب الله وأقاموا الصلوة وأنفقوا مما رزقناهم سرًا وعلانيةً يرجون تجارة لن تبور ﴾ [فاطر : ٣٩] (هغه خلق چه دَ الله كتاب لولي او دَ مانځه پابندي كوي او زكوٰة وركوي او مونږ چه دوئ ته څهٔ وركړي دَ هغے نه پټ او ښكاره خرچ كوي، نو دا خلق د داسے تجارت اميد لري چه هغه به هيڅ كله برباد نشي).
په حديث كښے نبي كريم ﷺ فرمائي :
لو يعلم المؤمن ما عند الله من العقوبة ما طمع بجنته أحد، ولو يعلم الكافر ما عند الله من الرحمة ما قنط من جنته أحد.
(كهٔ چرے مؤمن ته هغه عذاب معلوم شي كوم چه د الله سره دے، نو دَ هغهٔ دَ جنت طمع به هيڅوك اونهٔ لري. اوكهٔ چرے كافر ته دَ هغه رحمت پته اولګي كوم چه د الله سره دے، نو دَ هغهٔ د جنت نه به هيڅوك نا اميده نشي). •

(متفق علیه، کما فی المشکاة : ۲۰۷/۱، أحمد : ۳۳٤/۲، مسلم : ۳۳٦/۲).
او الله فرمائی : ﴿ الرحمن الرحیم ﴾.
(بیخی ډیر زیات رحم کونکے او انتهائی مهربانه ذات).
او فرمائی : ﴿ ورحمتی وسعت کل شئ ﴾ [اعراف : ۱۵٦]
(زما رحمت هر شئ ته فراخه دے).
او فرمائی : ﴿ إن ربك واسع المغفرة ﴾ [نجم : ۳۷]
(واقعی چه ستا رب فراخه بخښنے والا دے).
نو مؤمن به ښهٔ گمان لری او دَ هغهٔ د رحمت او مغفرت امید به لری، دَ هغهٔ دَ رضامَندئ او ثـواب طمع به لری، او ددے دپاره به دَ نیکو عملونو په ذریعه کوشش کوی۔ او امید لرل اصـل کښے همدا دی۔ دغه شان ددے امید به لری چه الله تعالیٰ به ددهٔ سره په دنیا او آخرت کښے دَ آسـانـئ معـامـلـه کـوی۔ او دابه وائی چه : الله تعالیٰ دے کمزوری بنده له دَ عذاب ورکولو نه غنی او بے پرواه دے، دهٔ له په عذاب ورکولو کښے دَ الله څهٔ حاجت دے!
په خوف او رجاء او محبت سره ایمان او عبادات پوره کیږی۔
﴿ إنه لاییأس من روح الله إلا القوم الکافرون ﴾ [۸۷]
(او دَ الله دَ رحمت نه خو صرف کافران خلق نااامیده کیږی).
﴿ ومن یقنط من رحمة ربه إلا الضالون ﴾ [حجر : ٥٦]
(او دَ الله دَ رحمت نه نهٔ نا امیده کیږی مگر گمراهان خلق).

۴۳ – شعبه : دَ الله تـعـالـیٰ پـه ظـاهـری او بـاطـنـی، دینی او دنیوی ټولو نعمتونو باندے همیشه دپاره شکر کول :

او انسـان تـر هـغه وخته پورے دَ مؤمنانو نه نهٔ حسابیږی تر څو پورے چه شکرگذار جوړ نشی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ فاذکرونی أذکرکم واشکروا لی ولا تکفرون ﴾ [بقره : ۱۵۲]
(نو تاسو ما یادوئ زهٔ به تاسو یادووم، او تاسو زما شکر کوئ او ناشکری مهٔ کوئ).
او الله تعالیٰ مونږ ته دَ خپل شکر کولو په باره کښے بار بار امر فرمائیلے :
﴿ لئن شکرتم لأزیدنکم ولئن کفرتم إن عذابی لشدید ﴾ [ابراهیم : ۷]
(کـهٔ تـاسو شکر اوکړو نو زهٔ به نور زیاتی درکړم، او کهٔ ناشکری مو اوکړه نو یقیناً چه زما عذاب سخت دے).
او نبی کریم ﷺ فرمائی : لا یشکر الله من لا یشکر الناس.

(څوك چه د خلقو شكر نهٔ كوي، هغه دَ الله شكر هم نشي كولے)۔
(أبوداود : ٣١٤/٢، أحمد : ٢٥٨/٢، الترمذي).
او نبي كريم ﷺ فرمائي :
عجبًا لأمر المؤمن إن أصابته سراء شكر فكان خيرًا له، وإن أصابته ضراءُ صبر فكان خيرًا له.
(دَ مؤمن حالت څهٔ عجيبه دے ! كهٔ دهٔ ته خوشحالي اورسي نو شكر كوي، نو دا ددهٔ دپاره غوره ده۔ اوكهٔ تكليف ورته اورسي نو صبر كوي، نو دا ورله هم غوره ده)۔
(مسلم، المشكاة : ٤٥٤/٢).
نو شكر نيمائي ايمان دے او صبر نيمائي ايمان دے، او ددے دواړو نه ايمان مركب دے۔
نو مؤمن دَ الله ښكاره او پټ دواړه احسانات رايادوي او دا گمان كوي چه زهٔ خو ددے نعمتونو لائق نهٔ ووم، خو الله په خپل فضل سره دا نعمتونه ماته راكړل۔ نو دا دَ الله نه راضي وي، او دَ هغهٔ په رضا كښے كوشش كوي۔ الله تعالىٰ دے مونږ له دَ هغهٔ دَ رضامندئ حاصلولو توفيق راكړي۔ آمين !

٢٤ – شعبه : لوظ پوره كول :

الله تعالىٰ فرمائي :
﴿ وأوفوا بالعهد إن العهد كان مسؤلاً ﴾ [اسراء : ٣٤]
(او لوظ پوره كوئ ځكه د لوظ په باره كښے به تپوس كولے شي)۔
﴿ الذين يوفون بعهد الله ولا ينقضون الميثاق ﴾ [الرعد : ٢٠]
(هغه خلق چه دَ الله لوظ پوره كوي او وعده نهٔ ماتوي)۔
او فرمائي : ﴿ يوفون بالنذر ويخافون يومًا كان شره مستطيرًا ﴾ [دهر :]
(خپلے منختے پوره كوي او دَ هغه ورځے دَ شر نه يريږي چه دَ هغے شر به خور وُور وي)۔
او نبي ﷺ دَ منافقانو دَ صفت په باره كښے فرمائي :
« كله چه وعده اوكړي نو تيكي كوي »۔ الحديث۔
نو مؤمن به د الله لوظ او وعدے پوره كوي، دغه شان دَ خلقو لوظونه به پوره كوي۔ دَ مؤمن صفت به وفاء وي، نهٔ جفاء۔

٢٥ – شعبه : په طاعاتو صبر كول، دَ گناهونو نه صبريدل، او په تقدير باندے صبر كول : الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ إنما يوفى الصابرون أجرهم بغير حساب ﴾ [الزمر : ١٠]
(بيشكه صبرناكو خلقو ته به د دوئ اجر بے حسابه وركولے شي)۔

او فرمائی : ﴿ والذين صبروا ابتغاء وجه ربهم ﴾ [الرعد : ٢٢]
(او هغه خلق چه دویٔ دَ خپل رب دَ مخ طلب کولو دپاره صبر کړے)۔
په حدیث کښے دی : الصبر ضياء. (صبر ډیره رنړا ده)۔ (مسلم : ١١٨، المشكاة : ٣٨/١).
نو مؤمن به د خپل رب دَ حکم دَ وجے نه صبر کوی، دارنګه دَ خلقو په تکلیفونو به صبر کوی، دارنګه دَ خپل رب په طاعتونو او عبادتونو به صبر کوی، او په خپلو ټولو کارونو به صبر کوی۔ او مخکښے تیر شو چه ایمان دَ شکر او صبر نه جوړ شوے دے۔

٢٦٠ – شعبه : په تقدیر باندے راضی کیدل :

نو هر هغه شے چه الله بنده ته لیکلے وی، مرض وی یا دَ بچی یا رشته دار مړ کیدل، یا فقیری وی۔ نو مؤمن به پدے باندے دَ خپل رب نه خفه کیږی نه۔ بلکه وائی چه : کیدے شی چه پدے کښے زما دپاره خیر وی، ځکه دَ مؤمن سړی هر څیز، نعمت وی کهٔ ضرر، ددهٔ دپاره خیر وی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ ومن يؤمن بالله يهد قلبه ﴾ [تغابن : ١١]
(څوك چه په الله ایمان اولری نو زړهٔ ته به ئے هدایت اوکړی)۔
ډیرو مفسرینو وئیلی دی چه ددے معنیٰ داده چه : په خپله فیصله به ئے راضی کړی۔
په حدیث کښے دی :
اللّٰهم إني أسألك نعيمًا لا ينفد، وقرة عينٍ لا تنقطع، وأسألك الرضا بعد القضاء.
(أحمد : ٢٦٤/٤، النسائي رقم : ١٢٣٧، المشكاة : ٢٣٠/١).
(اے الله ! زهٔ تاته داسے نعمتونه غواړم چه نهٔ ختمیږی، او دَ سترګو داسے یخوالے چه نهٔ بندیږی، او زهٔ تانه په تقدیر باندے رضامندی غواړم)۔
او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ لكيلا تأسوا على ما فاتكم ولا تفرحوا بما آتاكم ﴾ [حديد : ٢٣]
(دے دپاره چه تاسو په هغه شئ غمژن نشئ کوم چه تاسو نه فوت شو، او نهٔ په هغه شئ خوشحاله شئ کوم ئے چه درکړو)۔

٢٧ – شعبه : په ټولو کارونو کښے په الله باندے توکل کول :

برابره خبره ده کهٔ دینی کارونه وی او کهٔ دنیوی۔ په داسے حال کښے چه دا عقیده به لری چه الله دَ نفع او ضرر مالك دے، او رزق دَ الله په لاس کښے دے، او الله په هر شئ پوهه دے۔ چه دا دَ توکل عقیدے ده۔ او دَ توکل معنیٰ ده : ټول کارونه الله تعالیٰ ته په دے اعتماد باندے سپارل چه هغه ډیر ښهٔ تدبیر کونکے او رحمت او کرم کونکے دے۔ او الله تعالیٰ په توکل باندے په خپل کتاب کښے په ډیرو ځایونو کښے امر فرمائیلے۔ لکه فرمائی :

﴿ وعلى الله فليتوكل المؤمنون ﴾ [آل عمران : ١٦٠]
(او خاص په الله دے مؤمنان توکل اوکړی)۔
او فرمائی : ﴿ وعلى الله فتوكلوا إن كنتم مؤمنين ﴾ [مائده : ١٦٠]
(او خاص په الله ځان اوسپارئ کۀ مؤمنان يئ)۔
﴿ ومن يتوكل على الله فهو حسبه ﴾ [طلاق : ٣]
(او څوك چه په الله ځان اوسپاری نو هغه ورله کافی دے)۔

او نبی کريم ﷺ فرمائی : « کۀ چرے تاسو په الله باندے هغه شان توکل اوکړئ څنګه چه دَ توکل حق دے، نو تاسو له به داسے رزق درکړی څنګه چه مرغانو له رزق ورکوی، چه صبا وخت کښے په تشه خيټه اوځی او بيګاه وخت کښے ډکه خيټه واپس شی »۔

په يو صحيح حديث کښے دَ هغه اويا زرو خلقو چه بغير دَ حساب نه به جنت ته ځی، دَ هغوئ په صفت کښے راغلی دی : « دا هغه خلق دی چه نۀ بدفالی نيسی، نۀ داغونه لګوی اونۀ دَ چانه دَ دَم مطالبے کوی، بلکه خاص په خپل رب باندے خپل ځانونه سپاری»۔ (مسلم : ١١٧/١، المشکاة : ٤٥٢/٢).

نو مؤمن به په خپلو ټولو کارونو کښے په الله بهروسه کوی ، دَ الله نه سيوا بل هيچانه به نۀ يريږی۔ د الله سبحانه و تعالیٰ په وعدو به باور لری۔

بهر حال توکل يو ډير ښائسته ايمانی خوئے دے۔

۴۸ - شعبه : دَ الله په مخلوق باندے رحمت او شفقت کول :

مؤمن سړے به خامخا دَ الله په بندګانو باندے رحمت او شفقت کونکے وی۔ رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلے :

الراحمون يرحمهم الرحمن، ارحموا من فى الأرض يرحمكم من فى السماءِ.

(رحم کونکو باندے الله هم رحمت کوی، تاسو په زمکے والو رحم کوئ۔ آسمان والا به په تاسو رحم کوی)۔ (أبوداود، المشكاة : ٤٢٣/٢).

او نبی کريم ﷺ فرمائی : أهل الجنة ثلاثة : ذو سلطان مقسط متصدق موفق، ورجل رحيم رقيق القلب لكل ذى قربىٰ ومسلم، وعفيف متعفف ذو عيالٍ.

(درے قِسمه خلق جنتيان دی : (١) هغه بادشاه چه انصاف دار، صدقه کونکے او دَ نيکئ توفيق ورکړے شوے وی۔ (٢) او هغه سړے چه دَ هر رشته دار او هر مسلمان دپاره رحمدله، نرم زړے وی۔(٣) او هغه پاکدامن چه ځان دَ سوال نه بچ کونکے وی او بال بچ داره هم وی»۔

(مسلم : ٣٨٥/٢، المشکاة : ٤٢٢/٢، أحمد : ٦٢/٤).

په یو بل حدیث کښې دي : «رحمت خو صرف دَ بد بخته سړي نه اوخکلے شي».

نو مؤمن به صرف د الله دپاره دَ الله په بندګانو او مخلوقاتو باندې رحم کوي.

۲۹ – شعبه : الله تعالیٰ او خلقو ته تواضع او عاجزي کول :

په یو صحیح حدیث کښې دي : من تواضع لله رفعه الله.

(شعب الإیمان، المشکاة : ٤٣٤/٢).

(چا چه الله دپاره عاجزي اوکړه، الله به ئې عزتمن کړي).

په یو بل حدیث کښې دي : إن الله أوحیٰ إلیّ أن تواضعوا حتی لا یبغی أحد علی أحد، ولا یفخر أحد علی أحدٍ. (أبوداود بسند صحیح : ١٢٥/٣).

(الله ماته وحي کړې چه تاسو یو بل سره تواضع اختیار کړئ تردې چه هیڅوك په چا باندې زیاتے اونۀ کړي او نۀ څوك په یو بل فخر اوکړي).

نو مؤمن به په خپل رب باندې تکبر نۀ کوي، او نۀ به دَ هغه په کوم مخلوق باندې ځان لوئې ګڼړي. بلکه په خپل ځان باندې به دا ګمان کوي چه دا ډیر سپك شے دے، تردې چه کۀ چا دۀ ته څۀ ردې بدې اوویلې، نو معافي به کوي، اوکۀ چا دۀ نافرماني اوکړه نو غصه کیږي به نۀ، ځکه چه خپل ځان به حقیر ګڼړي. او تواضع یواځې په ظاهره پورې نۀ ده، بلکه دَ حق سره به عناد هم نۀ کوي اونۀ به څوك سپك ګڼړي او نۀ به خود پسندي کوي.

۳۰ – دَ مشرانو عزت کول :

۳۱ – په کشرانو شفقت کول :

نبي کریم ﷺ فرمائي : لیس منا من لم یرحم صغیرنا ولم یوقر کبیرنا.

(هغه څوك زمونږ نه نۀ دے چه هغه زمونږ په ماشومانو شفقت نۀ کوي، او نۀ زمونږ دَ مشرانو عزت کوي). (رواه الترمذي کما في المشکاة : ٤٢٣/٢).

دے وجې نه مؤمن به دَ مشرانو عزت کوي ځکه چه هغۀ دَ خپل رب ډیر طاعات کړي او دَ هغۀ عزت به هم په دې وجه کوي چه دَ خپل رب دَ امر طاعت اوکړي. او په ماشوم به شفقت کوي. سخت او کلك زړے به نۀ وي.

۳۲ – تکبر او خود پسندي پریخودل :

د نبي کریم ﷺ نه دَ تکبر تعریف داسې ثابت دے چه تکبر «حق له دیکه ورکولو او خلق سپك ګڼړلو ته وائي». په بل روایت کښې دي : خلق حقیر ګڼړل.

او نبی ﷺ فرمائی : لا يدخل الجنة من كان فی قلبه مثقال ذرةٍ من كبر. (مسلم : ٦٥/١).
(هغه څوك به جنت ته داخل نشی چه دَ هغهٔ په زړهٔ کښې دَ ذرے هومره تکبر وی)۔
په بل حديث کښې دی : ثلاث منجيات وثلاث مهلكات. فأما المنجيات فتقوى الله فی السر والعلانية والقول الحق فی الرضاءِ والسخط والقصد فی الغنی والفقر. وأما المهلكات فهوی متبع وشح مطاع وإعجاب المرءِ بنفسه وهی أشدهن.
(أخرجه البيهقی فی الشعب، كما فی المشكاة : ٤٣٤/٢).
(درے څيزونه نجات ورکونکی او درے څيزونه تباه کونکی دی : درے نجات ورکونکی څيزونه دادی : (١) په پټه اوښکاره دَ الله نه ويره (٢) په رضا او ناراضتيا دواړو حالتونو کښې حقه خبره کول۔ (٣) په مالدارئ اوغريبئ دواړو کښې درميانه چليدل۔ اوتباه کونکی څيزونه دادی : (١) داسے خواهش چه دَ هغے پيروی کيږی۔ (٢) داسے کنجوسی چه دَ هغے تابعداری کيږی۔ (٣) او دَ سړی خپل ځانته غره کيدل۔ او دا په کښې دَ ټولو نه سخت دے)۔
دے وجے نه مؤمن به تکبر نهٔ کوی او نهٔ به دَ حق سره عناد کوی، او نهٔ به خود پسندی کوی۔ بلکه دا عقيده به لری چه کوم نعمت ماته راکړے شوے، نو دا دَ الله د طرفه دے او دا دَ الله د طرفه ابتلاء او آزمائش دے، دے دپاره چه په ما آزمائش اوکړی چه آيا زهٔ شکر کوم اوکهٔ ناشکری ؟ او مدد کونکے خو صرف الله تعالیٰ دے۔
٣٣ - کينه او حسَد نه کول : چه دَ يو کس نه دَ نعمت ختميدو آرزو اونهٔ کړی۔ بلکه هغهٔ دپاره دَ برکت دعاء اوکړی هر کله چه ورته څهٔ شے راپيښ شی۔ او حسَد دَ يهوديانو بيماری ده لکه چه په دے باندے قرآن تصريح کړيده۔ او نبی ﷺ فرمائی :
لا تباغضوا ولا تحاسدوا ولا تدابروا وكونوا عباد الله إخوانًا .
(يو بل سره بغض مهٔ کوئ اومهٔ حسَد کوئ او مهٔ يو بل نه اعراض کوئ بلکه دَ الله بندګانو ! ورونه ورونه جوړ شئ)۔
(أبوداود : ٩٢٧/٣، وأخرجه الشيخان).
نو حسَد ايمان خرابوی او دا دَ ايمان نه لرے خوئے دے۔
٣٤ - غصه خوړل : برابره خبره ده کهٔ په دنيوی کار کښې وی اوکهٔ دَ نفس دپاره وی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ والكاظمين الغيظ والعافين عن الناس ﴾ [آل عمران : ١٣٤]
(او غصه خوړونکی اوخلقو ته معافی کونکی)۔
او نبی ﷺ يو سړی ته وصيت کولو، ورته ئے اوفرمائيل : « مهٔ غصه کيږه » او دا خبره ئے

ورته بار بار اوکړه. (بخاري).

په بل حدیث کښې دي: «غصه ټول شرونه راجمع کوي». (ابن كثير عن المسند).

نو مؤمن به دَ خپل ځان دپاره نهٔ غصه کیږي اونهٔ به په داسې خبره غصه کیږي چه ددهٔ نه فوت شوه. او کله چه غصه شي نو خپله غصه به زغمي. الله تعالیٰ فرمائي:

﴿ وإذا ما غضبوا هم يغفرون ﴾ [شورى: ٣٤]

(او کله چه دوئ غصه شي نو بخښنه کوي).

او هرچه د الله دپاره غصه کول دي کله چه د الله دَ حرام کړو څیزونو بے حرمتي کیږي، نو دا بیا دَ کامل ایمان نه پیدا کیږي. او توفیق ورکونکے صرف الله دے.

٣٥ - دَ توحید په کلمه تلفظ کول:

یعنی لا اله الا الله وئیل - یا أشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله - وئیل.

او دا دَ ایمان دَ ارکانو نه یو رکن دے. نبي ﷺ فرمائي:

الإيمان بضع وسبعون شعبةً، فأفضلها قول لا إله إلا الله، وأدناها إماطة الأذىٰ عن الطريق، والحياء شعبة من الإيمان.

(البخاري بشرح الفتح: ٤٤/١، ومسلم: ٤٧/١، المشكاة: ١٢/١، عن أبي هريرة).

(ایمان څهٔ دپاسه اویا څانګې دے، په دے کښې بهترینه څانګه کلمه طیبه وئیل دي، او دَ ټولو نه ښکته څانګه دَ لارے نه ضرري شے لرے کول دي، او حیاء دَ ایمان یوه څانګه ده).

نو مؤمن به په دے کلمه طیبه اقرار کوي او بار بار به ئے لولي او دابه دَ خپل ځان دپاره وِرد او وظیفه ګرځوي، ځکه چه په دے کښې خوند، رڼا او نعمتونه او خوشحالئ پرتے دي. حدیث کښې دي:

جددوا إيمانكم قالوا: وكيف نجدد إيماننا يا رسول الله؟ قال: بكثرة قول لا إله إلا الله.

(تاسو خپل ایمانونه نوي کړئ. صحابوٌ عرض اوکړو، اے د الله رسوله! مونږ خپل ایمانونه څنګه نوي کړو؟ وے فرمائیل: په لا اله الا الله ډیر ډیر لوستلو سره).

(ذكره في حياة الصحابة: ١٤/٣، ورواه أحمد وقال الهيثمي: ٨٢/١: رجاله ثقات وحسنه المنذري في الترغيب: ٧٥/٣).

٣٦ - شعبه: دَ الله تعالیٰ دَ کتاب تلاوت کول:

الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ إن الذين يتلون كتاب الله وأقاموا الصلوة وأنفقوا مما رزقناهم سرًا وعلانيةً يرجون تجارة لن تبور ﴾ [فاطر: ٢٩] (هغه خلق چه دَ الله کتاب لولي او دَ مانځه

پابندي کوي او زکوٰة ورکوي او مونږ چه دوئ ته څۀ ورکړي دَ هغې نه پټ او ښکاره خرچ کوي، نو دا خلق د داسې تجارت اميد لري چه هغه به هيڅ کله برباد نشي)۔

او فرمائي : ﴿ أتل ما أوحي إليك من الكتاب ﴾ [کهف : ۲۷]

(لوله هغه کتاب کوم چه تاته وحی کيږي)۔

او فرمائي : ﴿ إنما المؤمنون الذين إذا ذكر الله وجلت قلوبهم وإذا تليت عليهمْ آياته زادتهم إيمانا وعلى ربهم يتوكلون ﴾ [انفال : ۲]

(بيشکه مؤمنانو خو هغه خلق دي چه کله الله راياد شي نو زړونه ئې يريږي او کله چه په دوئ باندې دَ هغۀ آيتونه لوستې کيږي نو دَ دوئ ايمان زياتوي، او په خپل رب باندې ځانونه سپاري)۔

په حديث کښې دي : ومثل المؤمن الذى يقرأ القرآن كمثل الأترجة.

(دَ هغه مؤمن مثال چه قرآن لولي لکه دَ سنگترې دې)۔ (بخاری، مسلم).

او دَ الله تعالىٰ د کتاب تلاوت، درس او تدريس، تعليم او تعلم او تفهم کول دَ ايمان دَ مضبوطولو په اسباب کښې ډير قوي ترين سبب دې۔ او دا يوه عظيمه شعبه ده دَ ايمان دَ شعبو نه۔ او دا به تاته نورې شعبې او ځانګې هم اوښائي۔

نو مؤمن سړې به قرآن لولي او عمل به پرې کوي او ايمان به پرې لري او په دې کښې به سوچ او تدبر کوي، او ددې نه به اثر اخلي، او بيکاره او مهمل به ئې نۀ پريدي۔ بهرحال قرآن سره تعلق لرل دَ ايمان دَ مضبوطيدو ذريعه ده۔ نو اوس ستا خوښه ده چه ددې اهتمام کوې او که دا ضائع کوې !!

۳۷ - شعبه : علم زده کول :

۳۸ - شعبه : علم خودل : عِلم يوه رڼا ده ايمان هم رڼا ده، او دواړه يو بل سره لازم دي۔

الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ إنما يخشى الله من عباده العلماء ﴾ [فاطر : ۲۸]

(بيشکه د الله نه دَ هغۀ په بندګانو کښې صرف علماء يريږي)۔

او فرمائي : ﴿ قل هل يستوي الذين يعلمون والذين لا يعلمون ﴾ [الزمر : ۹]

(ورته اووايه ! آيا علم والا او بې علمه خلق سره برابر دي ؟)۔

او فرمائي : ﴿ يرفع الله الذينَ آمنوا منكم والذين أوتوا العلم درجات ﴾ [مجادله : ۱۱]

(اوچتوي الله هغه خلق چه ايمان لري ستاسو نه او هغه خلق چه علم ورته ورکړې شوې دې په ډيرو درجاتو سره)۔

او نبي كريم ﷺ فرمائي : من يرد الله به خيرًا يفقهه في الدين.
(چاته چه الله دَ خير ارداه اوكړي نو په دين كښې ورله پوهه وركړي).
او دَ مسلم په حديث كښې دي :
من سلك طريقًا يلتمس فيه علمًا سهل الله له به طريقًا إلى الجنة.
(څوك چه په يو داسې لاره روان شو چه په هغې كښې ئې علم طلب كولو، الله به ورته ددې په وجه جنت طرفته لاره آسانه كړي).
او دَ ترمذي په يو ضعيف حديث كښې دي : « دوه صفتونه دي چه په منافق كښې نشي جمع كيدې : يو ښائسته وضع رفع او بل په دين كښې پوهه».
(ترمذي : ۱۱٤/۲، المشكاة : ۳٤/۱).
علي رضي الله عنه نه موقوفًا ثابت دي چه هغهٔ فرمائيلي دي : « په هغه عبادت كښې خير نشته چه په هغې كښې تفقه نهٔ وي، او په هغه فقه كښې خير نشته چه په هغې كښې تفهم نهٔ وي، او په هغه قرأت كښې خير نشته چه په هغې كښې تدبر نهٔ وي».
(كما فيِ مفتاح دار السعادة).
نو مؤمن سړے به دَ علم نه نهٔ مړيږي تر څو چه دَ خپل علم سره دَ خلقو علمونه هم جمع كړي او په دے كښې به كوشش كوي او په خپل دين كښې به بصيرت طلب كوي او څومره ئې چه وس رسيږي ددے نشر او اشاعت به كوي. او څوك چه ددے هيڅ پرواه نهٔ كوي نو دا دَ مؤمنانو نه نهٔ دے، ځكه مؤمن چه دَ خپل رب سره مينه لري نو دَ هغهٔ مينه ئې دَ هغهٔ دَ رضا دَ كارونو تالاش كولو دپاره په علم باندے باعث كوي. او دا صرف په هغه علمِ نافع سره حاصليږي چه دَ قرآن او سنت نه اخستے شوے وي. نو څوك چه دَ خپل دين په باره كښې هر وخت تپوسونه كوي، نو دا مؤمن دے، او څوك چه دَ خپل دين نه غافل دے نو همدا خلق تاوانيان دي.
۳۹ - شعبه : دعاء غوختل : نو مؤمن به په خپلوټولو ديني او دنيوي حاجتونو كښې دَ خپل رب نه هغه دعاگانے غواړي كومے چه په قرآن او سنت كښې راغلي. لكه چه الله تعالىٰ د مؤمنانو په صفت كښې دَ سورتِ آل عمران په آخر كښې ډير دعاگانے ذكر كړي.
او الله فرمائي : ﴿ وقال ربكم ادعوني استجب لكم إن الذين يستكبرون عن عبادتي سيدخلون جهنم داخرين ﴾ [مؤمن : ٦۰]
(او ستاسو رب وئيلي چه مانه دعاء غواړئ زهٔ به ستاسو دعاگانے قبلووم، بيشكه هغه

خلق چه زما دَ عبادت نه ځان لوئے ګنړی زر دے چه دوئ به جهنم ته ذلیله داخل کړے شی)۔

او فرمائی: ﴿ وسئلوا الله من فضله ﴾ [نساء: ٢٣] (او دَ الله نه دَ هغهٔ فضل غواړئ)۔

او نبی کریم ﷺ فرمائی: من لم یسأل الله یغضب علیه.

(څوك چه د الله نه سوال نهٔ کوی، نو الله پرے غصه کیږی)۔

(الترمذی: ١٢٨/٣، المشکاة: ١٩٥/١، بسند حسن)۔

نو مؤمن به دَ خپل رب نه دعاګانے غواړی، او دَ هغهٔ نه سیوا بل هیچانه به هیڅ کله غوښتل نهٔ کوی، نهٔ په خولے او نهٔ په زړهٔ سره۔ او نهٔ به په سختیو کښے دَ الله نه سیوا بل څوك رابلی، بلکه دَ هغهٔ نه به دعاء غواړی او هغهٔ ته به تضرع او عاجزی کوی، او هغهٔ نه به خوف او طمع لری، او د دعاء په اوقاتو، الفاظو او کیفیتونو کښے به دَ هغهٔ دَ نبی ﷺ دَ سنت اقتداء کوی۔ دعاء یو عظیم خالص عبادت دے، چه یواځے ئے دَ الله عز وجل نه غوښتل پکار دی۔ دعاء سره ایمان مضبوطیږی او دَ زړهٔ حرکت الله ته پیدا کیږی، دارنګه دَ زړهٔ سختوالے په دے سره ختمیږی۔ او دَ ایمان مقصد هم دادے۔

نو د الله عز وجل نه په عاجزئ سره دا سوال کوو، چه مونږ خپل طاعت ګذار او فرمانبردار جوړ کړی۔ آمین!

٤٠ - شعبه: د الله عز وجل ذکر کول: دَ الله سبحانه وتعالیٰ په ذکر به دَ مؤمن هر وخت ژبه لمده وی۔ الله سبحانه وتعالیٰ دَ هغه رشتینے مؤمنانو په صفت کښے چه هغوئ سره ئے دَ جنت او مغفرت وعده کړے، فرمائی:

﴿ والذاکرین الله کثیرًا والذاکرات أعد الله لهم مغفرة وأجرًا عظیمًا ﴾ [احزاب: ٣٥]

(او دَ الله ذکر کونکی نارینه او ذکر کونکے زنانه، الله دوئ له مغفرت او لوئے ثواب تیار کړے)۔

او فرمائی: ﴿ فاذکرونی أذکرکم واشکروا لی ولا تکفرون ﴾ [بقره: ١٥٢]

(نو تاسو مایادوئ زهٔ به تاسو یادووم، او زما شکر کوئ او ناشکری مهٔ کوئ)۔

او فرمائی: ﴿ ولذکر الله أکبر ﴾ [عنکبوت: ٤٥]

(او خامخا دَ الله ذکر ډیر لوئے شے دے)۔

او الله تعالیٰ دَ منافقانو په صفت کښے فرمائی:

﴿ ولا یذکرون الله إلا قلیلًا ﴾ [النساء: ١٤٣] (او نهٔ یادوی الله لره مګر لږ شان)۔

ذکر په ټولو عباداتو کښې مرکزي حيثيت لري۔ جهاد، حج، مونځ او نور ټول عبادات صرف ددې مقصد دپاره اداء کولې شي چه د الله ذکر قائم کړې شي۔

بيا په ذکر کښې دَ خاص وختونو او ځايونو دعاګانې وئيل داخل دي، لکه جومات ته د داخليدو په وخت، کور ته د داخليدو په وخت او ددې پشان نور ځايونه۔

دَ ذکر دپاره ډير زيات فوائد دي چه امام ابن قيم رحمه الله په (الوابل الصيب) کښې تقريبًا سل فائدې ذکر کړي۔

دا خبره ياد لره: چه په کوم ذکر باندې امر شوې، دا هغه ذکر دې چه د الله نه ويره او هغهٔ طرفته انابت پيدا کړي، او په زړهٔ کښې دَ الله معرفت او قِسما قِسم نفع مند علمونه او رشتينې محبت پيدا کړي۔ او په بنده کښې خشوع راولي۔ ؛و دا هغه ذکر دې چه الله تعالىٰ دَ خپلو شرطونو سره ذکر کړې۔ او هغه دا چه: ذکر کونکے به خوف او رهبت لرونکے وي، د خپل رب تعظيم او ادب کونکے به وي۔ څهٔ چه په ژبه لولي دَ هغې په معنىٰ به پوهيدونکے وي، او هغه به د نبي ﷺ نه منقول وي۔

پاتې شو هغه ذکر چه په هغې کښې مقصد رياء او ځان خودي وي دارنګه چغو او سورو سره وي، يا ترې مقصد په تادئ سره صرف شماره پوره کول وي، نو په دې ذکر سره دَ ستړي والي نه علاوه بل هيڅ فائده نشته۔ او نهٔ دې ذکر کونکي ته هغه ثواب ملاويږي، دَ کوم وعده چه دَ ذکر کونکو سره شويده۔ دغه شان مفرد ذکرونه کول لکه دا قول د دوئ: (الله، الله) يا (هُو، هُو)، نو دا بدعت دې، په دې باندې خپل ځان نهٔ دي ستړي کول پکار۔

نو مؤمن به خپل ځان سره دَ خپل رب ذکر په عاجزئ او ويرې سره کوي۔ او په ذکر کولو کښې به رياکاري نهٔ کوي۔ الله تعالىٰ نه مونږ ددې توفيق غواړو۔ او استغفار هم دَ الله په ذکر کښې داخل دې، ددې هم ډيرې فائدې دي۔

٤١ - شعبه : دَ لغو نه ځان ساتل :

الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ والذين هم عن اللغو معرضون ﴾ [مؤمنون : ٣]

(او مؤمنان هغه خلق دي چه دَ لغوې نه اعراض کوي)۔

او فرمائي : ﴿ وإذا مروا باللغو مروا كرامًا ﴾ [فرقان : ٧٢]

(او کله چه دوئ په لغوه کارونو تيريږي نو عزتمن تيريږي)۔

او نبي کريم ﷺ فرمائي : من كان يؤمن بالله واليوم الآخر فليقل خيرًا أو ليصمت.

(څوک چه په الله او په ورځ د آخرت ايمان لري، نو هغهٔ له پکار دي چه دَ خير خبره اوکړي

او یا خاموش پاتې شي)۔ (مسلم: ۱/ ۵۰).

او لغوه هر هغه خبرې او کار ته وائي چه نهٔ په دنیا کښې فائده ورکوي اونهٔ په آخرت کښې۔

نو مؤمن به خپله ژبه دَ هر قِسم لغوې نه بچه ساتي، ځکه لغوې سره ایماني نور زائله کیږي او دَ عباداتو انوار ورسره ختمیږي۔ دا وجه ده چه نبي ﷺ معاذ – رضي الله عنه – ته دَ خیر دَ دروازو ذکر کولو په وخت اوفرمائیل: « آیا زهٔ تاته ددې ټولو څیزونو پړې او تسمه اونهٔ ښایم؟ هغهٔ وئیلې: ولې نه۔ نو نبي ﷺ خپله ژبه اونیوله او وې فرمائیل: په خپل ځان باندې دا بنده ساته »۔

(أحمد، أبو داود بسند صحیح مفصلًا کما في المشکاة: ۱/ ۱٤).

په ګڼړو حدیثونو کښې دَ لغوه کارونو او خبرو ضررونه او خرابیانې ذکر شوي، چه مؤمن سړې دیته مجبوره کوي چه ددې نه ځان اوساتي او څومره چه کیدې شي ددې نه لرې شي او نفرت ترې اوکړي۔

٤٢ – شعبه: خپل ظاهر او باطن دَ هر قِسم نجاستونو، ګندګیو او خِیرو نه پاکول:

نو مؤمن به پاکیزه زړهٔ والا، پاك بدن والا او پاکو جامو والا وي۔

الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ وثیابك فطهر ﴾ [مدثر: ٤] (او جامې دې پاکې ساته)۔

په یو صحیح حدیث کښې راغلي: الطهور شطر الإیمان.

(پاکيَ دَ ایمان نیمائي حصه ده)۔ (مسلم: ۱/ ۱۲۸، المشکاة: ۱/ ۳۸).

په یو حدیث کښې دَ نبي کریم ﷺ دا ارشاد نقل شوې چه:

إن الله طیب یحب الطیب، نظیف یحب النظافة، کریم یحب الکرم، جواد یحب الجود، فنظفوا أفنیتکم ولا تشبهوا بالیهود.

(بیشکه الله پاکیزه دې پاکیزګي خوښوي، صفا دې صفائي خوښوي، کریم دې کرَم خوښوي، سَخي دې سخاوت خوښوي، نو تاسو خپل صحنونه صفا ساتئ او دَ یهودو سره مشابهت مهٔ کوئ)۔ (الترمذي بسند حسن، المشکاة: ۲/ ۳۸۵).

په بې شماره حدیثونو کښې دَ پاکئ حاصلولو امر راغلې۔

او الله تعالیٰ دَ رشتینې مؤمنانو په صفت کښې فرمائي:

﴿ فیه رجال یحبون أن یتطهروا والله یحب المطهرین ﴾ [توبه: ۱۰۸] **(په دې جومات کښې څهٔ سړي دي چه پاکي خوښوي او الله هم دَ پاکي خوښوونکو سره مینه کوي)۔**

او مؤمن چونکه دَ الله سره تعلق لري، دے وجے نه دا به همیشه پاك وي او په ظاهر او باطن دواړو کښیے به دَ پاکئ حاصلولو کوشش کوي.

۴۳ - شعبه : عورت پټول : چه دَ سړي عورت دَ نامۂ نه زنګون پورے او دَ ښځے ټول بدن عورت دے سیوا دَ مخ او ورغوو نه. دے وجے نه مؤمن به دَ ډیر حیاء دَ وجے نه خپل عورت هیڅ کله نۂ ښکاره کوي، مګر په هغه ځائے کښیے چرته چه ورله عورت ښکاره کول جائز وي. الله تعالیٰ فرمائي :

﴿قل للمؤمنين يغضوا من أبصارهم ويحفظوا فروجهم ذلك أزكى لهم﴾. الآية [النور : ۳۰]

(مؤمنانو ته اووایه چه خپل بعضِ نظرونه ښکته ساتي او دَ خپلو شرمګاهونو حفاظت کوي، دا کار دوئ دپاره ډیر پاکیزه دے).

په حدیث کښیے دي : « د خپل عورت حفاظت کوه، مګر دَ خپلے ښځے او وینځے نه. (راوي وائي) ما عرض اوکړو، په دے مے خبر کړه چه کۀ سړے ځانله وي نو بیا ؟ وے فرمائیل : الله خو زیات لائق دے ددے چه دَ هغۀ نه حیاء اوکړے شي ».

(الترمذی وأبوداود وابن ماجه).

نو څوك چه خلقو ته خپل عورتونه ښکاره کوي نو دوئ حیاء دَ لاسه ورکړیده، او دوئ سره دومره ایمان هم نشته چه ددے ئے نه منع کړي. والله المستعان.

۴۴ - فرض مونځ کول :

او دا یو عظیم خوئے دے چه ددے پابندي واجب ده. ځکه چه دَ کلمے طیبے دَ اقرار نه پس دَ مانځه مرتبه ده. او ددے قصدًا پریخودونکے هیڅ کله مؤمن نشي کیدے اګرکۀ د ایمان دعویٰ لري، بلکه دَ راجح قول مطابق دا کافر دے، لکه چه مونږ په خپله دے فتاویٰ کښیے په دے مسئله باندے تفصیلي دلائل ذکرکړي دي. مونځ دَ ایمان هغه شعبه ده چه ددے په وجه دَ انسان تعلق دَ الله سره قائمیږي او هغۀ سره اُنس حاصلیږي، دَ بے حیایئ او ناروا کارونو نه انسان منع کوي. او دَ ډیر زیات غټو فوائدو سبب ګرځي. او ددے فوائد او ثمرات هر مؤمن ته معلوم دي.

په حدیث کښیے دي : والصلاة نور. (او مونځ یوه رڼړاه ده).

او ددے حفاظت کونکے مؤمن مسلمان دے. او دا یوه داسے عظیمه شعبه ده چه اسلام په دے ولاړ دے.

۴۵ - نفلي مونځونه کول :

مؤمن به لکه څنګه چه دَ فرض مونځونو اهتمام کوي نو سنن او نوافل به هم نهٔ هیروي. په قرآن کښې الله تعالیٰ دَ کاملو مؤمنانو په صفت کښې فرمائي :

﴿ الذين يبيتون لربهم سجدًا وقيامًا ﴾ [فرقان : ٦٤]

(او هغه خلق چه دَ خپل رب دپاره شپه تیروي سجده او قیام کونکي).

او الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ تتجافیٰ جنوبهم عن المضاجع ﴾ [الم سجده : ١٦]

(دَ دوئ اړخونه دَ بسترونه جدا وي).

او فرمائي : ﴿ كانوا قليلًا من الليل مايهجعون ﴾ [ذاريات : ١٧]

(دوئ به وو چه ډیر کم (توله) شپه اودهٔ پاتې کېدل).

نو دَ شپې مونځ دَ ایمان په خویونو کښې غټ خوئې دې. لکه په دې باندې قرآن دلالت کوي. او الله تعالیٰ په دوه داسې رکعتونو باندې دَ جنت وعده کړې چه انسان ئې دَ اودس نه پس کوي. لکه دَ عثمان رضی الله عنه او دَ عقبه بن عامر رضی الله عنه په حدیث کښې دي، چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل :

ما من مسلم يتوضأ فيحسن وضوئه ثم يقوم يصلي ركعتين مقبلاً عليهما بقلبه ووجهه إلا وجبت له الجنة (هیڅ یو مسلمان داسې نشته چه اودس اوکړي او ښائسته اودس اوکړي، بیا اودریږي او دوه داسې رکعتونه اوکړي چه په دې کښې په خپل زړهٔ او مخ دواړو سره متوجه وي، مګر ددهٔ دپاره جنت واجب دې). (مسلم : ١/ ١٢٠، المشكاة : ١/ ٣٩).

٤٦ – فرض زكوٰة اداء كول :

او دا د اسلام په ارکانو کښې یو رکن او دَ مانځه ملګرې دې. او په دې سره نفسونه پاکیږي، لکه په هغه حدیث کښې چه ابن کثیر په اول دَ سورت حدید کښې او ابوداود په کتاب الزكاة کښې ذکر کړې چه : « زكوٰة دَ نفسونو دَ تزکیئې سبب دې».

او ددې فضائل معلوم دي.

٤٧ – نفلي صدقې ورکول :

خرچه کول دَ مخلص مؤمن صفت دې. یواځې دَ مالدارو صفت نهٔ دې، لکه چه دَ ډیرو خلقو خیال دې، بلکه هر مؤمن به په فقیرئ او مالدارئ دواړو کښې خرچ کوي. لکه چه الله تعالیٰ ددې تذکره بار بار کړې. الله تعالیٰ فرمائي :

﴿ أعدت للمتقين الذين ينفقون في السراءِ والضراءِ ﴾ [آل عمران : ١٣٤]

(جنت دَ هغه پرهیزګارو دپاره تیار شوې چه په خوشحالئ او سختئ دواړو کښې مالونه

خرج کوی)۔او الله فرمائی :

﴿ يا أيها الذين آمنوا أنفقوا من طيبات ما كسبتم ومما أخرجنا لكم من الأرض﴾ [بقره : ٢٦٧]

(اے ایمان والو ! خرج اوکړئ دَ هغه پاکیزه مالونو نه کوم چه مونږ درکړی دی)۔

او دَ مؤمن په صفت کښے فرمائی :

﴿ ولكن البر من آمن بالله واليوم الآخر والملائكة والكتاب والنبيي وآتى المال على حبه ذوى القربى واليتمى والمساكين ﴾ [بقره : ١٧٧]

(ليکن نيکی دَ هغه چاده چه ايمان لري په الله او په ورځ دَ آخرت او په ملائکو او په کتابونو او په نبيانو، او مال سره دَ مينے، رشته دارو، يتيمانو او مسکينانو ته ورکوی)۔

نو مؤمن به بخل نۀ کوی بلکه خپل مال به دَ الله دَ رضا تالاش کولو دپاره خرج کوی، په هغه شرطونو باندے کوم چه په قرآن او سنت کښے ذکر شوی۔ او په خپل اهل او عيال باندے چه خرج کوی نو په دے کښے به دَ ثواب نيت کوی، ولے چه دا هم صدقه ده۔

٤٨ - څټونه (مرئيان) خلاصول :

او دا خلاصول خو يا په آزادولو سره وی، او يا دَ هغے نه په قرض اداء کولو سره وی۔

څټونه خلاصول دَ مؤمنانو صفت دے۔ لکه الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ وآتى المال على حبه ذوى القربى واليتامى والمساكين و ابن السبيل والسائلين وفى الرقاب ﴾. الآية [بقره : ١٧٧]

(او مال سره دَ محبت نه خپلوانو، يتيمانو، مسکينانو، مسافر او سوال کونکو او په څټونو آزادولو کښے ورکوی)۔

٤٩ - سَخا کول :

٥٠ - دَ ميلمه عزت کول۔

په حديث کښے دی : « يو سړی د نبی کريم ﷺ نه تپوس اوکړو، دَ اسلام کوم خويونه غوره دی ؟ وے فرمائيل : خلقو باندے خوراك خورول، اوکۀ څوك پيژنے اوکۀ نۀ په هغۀ سلام کول»۔ (البخاری : ٤٧/١، مع الفتح).

په صحيح مسلم (٥٠/١) کښے دی : « څوك چه په الله او په ورځ دَ آخرت ايمان لري نو هغۀ دے د خپل ميلمه عزت کوی »۔

نو مؤمن به سَخی وی، په خلقو به خوراك خوروی او په شوق او رغبت سره به ميلمه له ميلمستيا ورکوی۔ دَ هغۀ په راتګ سره به تندے نۀ تريووی او نۀ به درے ورځو پورے دَ

هغهٔ په پاتے کيدو باندے تنگيږي۔

٥١ - فرضي روژے نيول :

او دا دَ اسلام په ارکانو کښے هغه رکن دے چه په دے باندے اسلام ولاړ دے۔ او ددے دليلونه په کتاب اوسنت کښے معلوم دي۔

الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ يا أيها الذين آمنوا كتب عليكم الصيام كما كتب على الذين من قبلكم لعلكم تتقون ﴾ [بقره : ١٨٣].

(اے ايمان والو ! پتاسو باندے روژے فرض دي لکه څنگه چه په هغه خلقو فرض شوے وے چه تاسو نه مخکښے وو، دے دپاره چه تاسو کښے تقویٰ پيدا شي)۔

او الله تعالیٰ دَ مؤمنانو په صفت کښے فرمائي : ﴿ والصائمين والصائمات ﴾ [احزاب : ٣٥]

(او روژه دار سړي او روژه دارے ښځے)۔

نو مؤمن به روژے په ايمان او ثواب گنړلو سره نيسي۔ امام بخاريؒ په (باب صوم رمضان) کښے دَ ابو هريره رضي الله عنه نه روايت کوي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل :

من صام رمضان ايمانًا واحتسابًا غفر له ما تقدم من ذنبه.

(چاچه دَ رمضان روژه دَ ايمان او ثواب گنړلو دَ وجے نه اونيوله نو ددهٔ مخکني گناهونه به معاف کړے شي)۔(البخاري : ٧٧/١، مع الفتح).

روژه دَ تقویٰ پيدا کيدو سبب دے۔ دے وجے نه تا باندے لازم دي چه دَ رمضان روژے په مينه محبت او ډير شوق سره اونيسے۔

٥٢ - نفلي روژے نيول :

مؤمن سړے به يواځے په فرضي روژو باندے اکتفاء نهٔ کوي بلکه ددے سره سره به نفلي روژے هم نيسي۔الله تعالیٰ فرمائي :

﴿ والصائمين والصائمات ﴾ [احزاب : ٣٥] (او روژه دار سړي او روژه دارے ښځے)۔

او دا فرضي او نفلي دواړو روژو ته شامل دے۔

په حديث کښے دي چه دَ جنت ډير دروازے دي :

فمن كان من أهل الصلاة دُعِيَ من باب الصلاة، ومن كان من أهل الجهاد دعى من باب الجهاد، ومن كان من أهل الصدقة دعى من باب الصدقة، ومن كان من أهل الصيام دعى من باب الريان – الحديث). متفق عليه، المشكاة : ١٦٢/١).

(نو څوك چه ډيرو مونځونو والا وي هغهٔ ته به دَ مانځه دَ دروازے نه آواز کيږي، او

څوك چه دَ جهاد والا وي، هغهٔ ته به دَ جهاد د دروازے نه آواز كيږي، او څوك چه صدقے والا وي، هغهٔ ته به دَ صدقے د دروازے نه آواز كيږي، او څوك چه روژو والا وي، هغهٔ ته به دَ ريان دروازے نه آواز كيږي).

٥٣ - فرضي حج كول :

چه الله تعالىٰ په هغه خلقو واجب كړے څوك دَ سورلۍ او خرچے وس لري.

په صحيح حديث كښے دي : وأن الحج يهدم ما كان قبله.

(او حج هغه گناهونه ختموي كوم چه ددے نه مخكښے شوي وي).

(مسلم : ١/٦٠، مشكاة : ١٤/١).

او دَ بخاري او مسلم په حديث كښے دي :

والعمرة إلى العمرة كفارة لما بينهما، والحج المبرور ليس له جزاء إلا الجنة.

(عُمره بلے عُمرے پورے دَ هغه گناهونو رژونكے ده چه ددے نړاړو ترمينځه شوي وي، او دَ مقبول حج بدله خو دَ جنت نه سيوا بل هيڅ نهٔ ده). (المشكاه : ٢٢١/١).

دارنگه حديث كښے دي :

من حج لله فلم يرفث ولم يفسق رجع كيوم ولدته أمه. (متفق عليه).

(چا چه خاص د الله دپاره حج اوكړو، او په هغے كښے ئے نهٔ دَ ښځو خبرے اوكړے او نهٔ ئے نافرماني اوكړه نو دا به دَ گناهونو نه داسے پاك واپس شي لكه په كومه ورځ چه دے دمور نه پيدا شوے وو).

حج هم دَ اسلامي اركانو نه يو ركن دے. مؤمن به ددے كوشش كوي چه خاص د الله دپاره حج اوكړي دے دپاره چه دا عظيم ثواب حاصل كړي. او حج كول ددے خبرے دليل دے چه بنده دَ خپل رب سره مينه لري، ځكه چه دے د الله ملاقات دپاره دَ هغهٔ خاص كور ته ورځي. دے وجے نه كوم خلق چه مالونه جمع كوي او سره دَ قدرت نه حج نهٔ كوي، دوئ به يا يهوديان مري او يا نصارىٰ. په الله پورے ددے نه پناه غواړو. دَ سلفو عادت داوو چه دوئ به په هغه چا باندے انفاق كولو چه هغهٔ به حج نهٔ وو كړے دے دپاره چه حج اوكړي او دَ حج دَ نعمت نه محروم پاتے نشي.

٥٤ - عُمره كول : او دا هم دَ ايمان يوه حصه ده. الله تعالىٰ فرمائي :

﴿ وأتموا الحج والعمرة لله ﴾ [بقره : ١٩٦] (او حج او عُمره خاص د الله دپاره پوره كړئ).

په حديث دَ جبرئيل كښے دي : الإسلام أن تشهد أن لا إله إلا الله، وأن محمدًا رسول الله

وأن تقيم الصلاة وتؤتي الزكاة وتحج وتعتمر وتغتسل من الجنابة، وأن تتم الوضوء وتصوم رمضان. قال : فإذا فعلتُ ذلك فأنا مسلم ؟ قال : نعم. قال : صدقت.

(اسلام دادے چه تۀ گواهی اوکړے چه د الله نه سيوا بل څوك د عبادت لائق نشته، او محمد ﷺ د الله رسول دے، او پابندی دَ مانځه اوکړے، او زكوٰة وركړے، او حج اوكړے، او عمره اوكړے، او دَ جنابت غسل اوكړے، او پوره اودس اوكړے، او دَ رمضان روژے اونيسی. جبرئيل وئيلے : كه چرے زۀ دا كارونه اوكړم نو آيا زۀ به مسلمان يم ؟ ورته ئے اوفرمائيل : هاؤ. هغۀ وئيلے : رشتيا دے اووئيل).

(صحيح ابن خزيمة، الترغيب : ١٦٤/٢).

نو مؤمن به صرف او صرف دَ الله دپاره او دَ خپلو گناهونو دَ رژيدلو دپاره - لكه څنگه چه الله او رسول ﷺ وعده كړے - حج او عُمره كوی. دَ چكرو او سيل سياحت وغيره دپاره به دا كارونه نۀ كوی.

٥٥ - دَ بيت الله شريف طواف كول :

مؤمن به صرف د بيت الله شريف طواف كوی، ددے نه سيوا به دَ نورو ځايونو طواف نۀ كوی، ځكه دَ بيت الله نه علاوه دَ بل ځائے طواف كول شرك دے.

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وليطوفوا بالبيت العتيق ﴾ [الحج : ٢٩]

(او خامخا دے دوئ دَ پخوانی كور نه طواف اوكړی).

دَ طواف په فضيلت كښے ګڼړ حديثونه راغلی، كوم چه په ترغيب (١٩١/٢) كښے كتلے شی. نو مؤمن به ډير ډير طوافونه كوی هر كله چه په مكه كښے وی او خپل قيمتی اوقات به نۀ ضائع كوی. الله تعالیٰ دے مونږ له توفيق راكړی.

٥٦ - اعتكاف كول :

او دا هم يو عظيم عبادت دے. نبی كريم ﷺ په خپل عمر كښے په دے هميش والے فرمائيلے. او ددے فوائد ډير زيات دی، بعضِ دَ هغے نه دادی چه په دے سره په الله باندے زړۀ راجمع كيږی. دارنګه په دے سره دَ سنتِ نبويه تابعداری حاصليږی. دَ الله سره تعلق جوړيږی. دَ معتكف نه گناهونه رژيږی. اعتكاف كونكے دَ الله دَ كور گاونډی وی. او الله سبحانه وتعالیٰ ډير ښۀ گاونډی او ډير ښۀ اجر وركونكے ذات دے.

نو مؤمن به ددے ايمانی شعبے دَ فضيلت حاصلولو كوشش كوی، كوم چه دَ ټولو عباداتو راجمع كونكے دے. او دا به بيكاره نۀ پريدی. اوزۀ الحمد لله ددے كرخو دَ ليكلو په

وخت دَ اعتکاف په خيمه کښې ناست يم. چه دَ رمضان (۲۲) دے.

٥٧ - ليلة القدر شپه تالاش کول :

چه دا يوه مبارکه شپه ده او محروم او سپيرۀ شخص هغه دے چه ددے دَ خير نه محرومه شي. لکه چه دا په يو حديث کښې هم راغلي.

(أحمد : ۲۳۰/۲، النسائي : ٤٥٦/۲، المشكاة : ۱۷۳/۱).

او امام بخاري رحمه الله دَ ابو هريره – رضي الله عنه – نه روايت کوي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : من يقم ليلة القدر إيمانًا واحتسابًا غفر له ما تقدم من ذنبه.

(څوك چه دَ ليلة القدر په شپه دَ ايمان او ثواب ګنړلو په وجه عبادت اوکړي نو ددهٔ مخکني ګناهونه به معاف کړے شي).

(بخاري : ۷٦/۱، باب قيام ليلة القدر من الإيمان).

نو مؤمن به ليلة القدر تالاش کوي او ددے دپاره به کوشش کوي، ځکه چه دابه دَ مغفرت او دَ زرو مياشتو ثواب حاصلولو حرص لري. چه دا څلور آتيا کاله شو.

او مؤمن به دَ الله د رضامندئ کوشش کوي. او الله عز وجل مؤمن ته ددے مبارکے پاکيزه شپے دَ عبادت ترغيب ورکړے، نو ځکه به ددے کوشش کوي.

دَ لوئے الله نه غواړو چه په دے کال او دَ عُمر په باقي ورځو کښے راته ليلة القدر اوښائي، او په دے کښې د عبادت کولو توفيق راکړي.

٥٨ - دَ فتنو نه خپل دين تختول :

او د داسے ځايونو نه چرته چه ايمان خرابيږي او دَ الله معرفت کميږي، او يا په کښې انسان په سرکشئ کښے مبتلا کيږي.

امام بخاري رحمه الله په خپل صحيح (۱٥/۱) کښې فرمائي : باب دے په بيان دَ تختولو د دين کښے دَ فتنو نه. بيائے دَ ابو سعيد خدري رضي الله عنه حديث ذکر کړے چه دا وائي : رسول الله ارشاد فرمائيلے :

يوشك أن يكون خير مال المسلم غنم يتبع بها شعف الجبال ومواقع القطر، يفر بدينه من الفتن. الحديث. (نزدے ده چه دَ مسلمان سرې غوره مال به هغه ګډے بزے وي چه هغه دَ غرونو په څوکو او دَ باران په ځايونو کښے ګرځوي. چه په دے سره به خپل دين دَ فتنو نه ساتي).

دَ عقبه بن عامر ﷺ په حديث کښے دي، دا وائي :

قلتُ : ما النجاة ؟ قال : أملك عليك لسانك، وليسعك بيتك وابك على خطيئتك.

(ما عرض اوكړو، يا رسول الله ! نجات به څنګه حاصليږي ؟ وې فرمائيل : خپله ژبه په ځان رابنده كړه، او ستا كور دې تاله ځائے دركړي، او په خپلو ګناهونو ژاړه).

(ترمذی : ٢/٢٨٧، المشكاة : ٢/٤١٣، احمد : ٤/١٤٨).

په يو حديث كښې دي : عبادة في الهرج كهجرة إلىّ.

(دَ فتنو او قتلونو په وخت كښې عبادت كول دومره اجري لكه ماته هجرت كول).

(مسلم، مشكوٰة : ٢/٤٦٢).

٥٩ - دَ دار الكفر نه دارِ اسلام يا دارِ امن ته هجرت كول :

دغه شان دَ ګناهونو نه هجرت كول. په حديث كښې دي : إن الهجرة تهدم ما كان قبلها.

(دَ هجرت په وجه هغه ګناهونه ختميږي كوم چه دَ هجرت نه مخكښې شوي وي).

(المشكاة : ١/١٤).

په بخاري شريف كښې دي : والمهاجر من هجر ما نهى الله عنه.

(اصل مهاجر هغه دے چه الله كوم څيزونه منع كړي وي، هغه پريدی).

په يو بل حديث كښې دي : والمهاجر من هجر الخطايا والذنوب.

(مهاجر هغه دے چه هغه غټ او واړهٔ ګناهونه پريدی).

نو مؤمن به خپل كور، كلے، زمكه فصل او ملك په دين او آخرت باندے نهٔ غوره كوی، بلكه دا هر څهٔ به دَ خپل دين دَ حفاظت دپاره پريدی، ځكه چه په دے دين كښې ددهٔ سعادتِ ابدي پروت دے، او په دے كښې ددهٔ دَ تل لپاره نجات او كاميابي ده. او مؤمن له مناسب دي چه دَ لغوے، شرك او بدعت او بے حيايئ هر مجلس پريدی. ځكه چه دا هم دَ هجرت يو قِسم دے. هجرت يو عظيم خوئے دے چه دَ مؤمن دَ ايمان په رشتين والي باندے دلالت كوي، ځكه چه دے په خپلو مرغوب څيزونو باندے د الله رضامندئ له ترجيح وركوي.

الله تعالىٰ دے مونږ ته په خپل فضل او مهربانئ سره دَ تولو ګناهونو نه دَ هجرت كولو توفيق راكړي.

٦٠ - نذر او منخته پوره كول :

الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ يوفون بالنذر ويخافون يومًا كان شره مستطيرًا ﴾ [دهر : ٧]

(دوئ منختے پوره كوی او د داسے ورځے نه يريږي چه دَ هغے شر به خور اور وي).

په حديث كښې دي : من نذر أن يطيع الله فليطعه، ومن نذر أن يعصيه فلا يعصه.

(چا چه د الله دَ فرمانبردارئ منخته اوکړه نو دَ الله فرمانبرداری دے اوکړی، او چا چه دا نذر اوکړو چه دَ الله نافرمانی به کوی، نو دَ الله نافرمانی دے نهٔ کوی)۔
(بخاری، مشکاة : ٢/٢٩٧)۔

نو مؤمن به خپله هغه منخته پوره کوی په کومه کښے چه ددهٔ د رب طاعت وی، او دَ شرطونه به نهٔ لګوی۔ لکه چه داسے اووائی : کهٔ الله زما مریض له شِفاء ورکړه نو زهٔ به دومره دومره روپئ خرچ کوم۔ ځکه چه دا دَ بخیلانو نذر دے۔ بلکه د الله په بندګانو باندے دَ صدقے او احسان کولو نذر به کوی۔ او دا نذر دَ ایمان شعبه ځکه ده چه دا په وفادارئ او احسان اودَ سنت او شریعتِ مطهره په تابعدارئ باندے مشتمله ده۔

٦١ - د قسمونو خیال ساتل :

هغه داسے چه دَ الله دَ نوم نه سیوا په بل هیچا قسَم اونهٔ کړی۔ نهٔ په پلرونو او نهٔ په بُتانو او نه په بل څیز باندے قسَم اوکړی۔ ځکه نبی ﷺ فرمائی :

من حلف بغير الله فقد أشرك.

(چا چه دَ الله نه سیوا په بل چا قسَم اوکړو، نو دهٔ شرك اوکړو)۔

په یو صحیح حدیث کښے دی : احلفوا بالله وبروا، واصدقوا فإن الله يحب أن يحلف به.

وفي رواية : يحب أن لا يحلف إلا به.

(تاسو د الله په نوم قسَم کوئ او خپل قسَم پوره کوئ او رشتیا وائے۔ ځکه الله دا خوښوی چه دَ هغهٔ په نوم قسَم اوکړے شی)۔ په بل روایت کښے دی : (الله دا خوښوی چه صرف او صرف دَ هغهٔ په نوم قسَم اوکړے شی)۔

(صحيح الجامع الصغير : ١/١٠٢، رقم : ٢١١، راجع الصحيحة : ١١١٩)۔

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ واحفظوا أيمانكم ﴾ [مائده : ٨٩]

(تاسو دَ خپلو قسَمونو حفاظت کوئ)۔

نو مؤمن به خپل ځان دَ دروغژنو قسَمونو، خاصکر دَ یمینِ غموس (په تیره شوے زمانه کښے په دروغه قسَم خوړلو) نه ساتی۔

٦٢ - کفارے اداء کول : برابره خبره ده چه دَ قسَم کفاره وی، کهٔ دَ ظهار کفاره وی او کهٔ دَ قتل وغیره کفاره وی۔ نو مؤمن به کفارے اداء کوی او دا به نهٔ پریدی، ځکه کفارے بیکاره پریخودل دَ منافقانو نښه ده۔

الله تعالیٰ دَ ظهار دَ کفارے ذکر کولو نه پس فرمائی :

﴿ ذلك لتؤمنوا بالله ورسوله ﴾[مجادله : ٤]
(دا کفارې ددې دپاره مشروع شوی چه تاسو په الله او دَ هغهٔ په رسول (ﷺ) باندې ایمان اولرئ)۔
نو کفارې اداء کول ایمان دې۔ الله تعالیٰ نه توفیق غواړو۔

٦٣ - په نکاح سره ځان پاکدامن جوړول :

یعنې مؤمن به د خپلې نکاح په ذریعه خپل ځان پاکدامن جوړوی، او دَ نکاح نه پس به فحش کارونه نهٔ کوی، بلکه دِ پاکیزګئ حاصلولو دپاره به نکاح کوی۔ په حدیث کښې دی : ثلاثة حق على الله عونهم : المكاتب الذى يريد الأداء، والناكح الذى يريد العفاف، والمجاهد فى سبيل الله.
(درې کسان دی چه په الله باندې د دوئ مدد کول واجب دی : (١) هغه مکاتب چه دَ خپل ځان آزادولو دپاره مال اداء کوی۔ (٢) هغه نکاح کونکې چه پاکدامنی غواړی۔ (٣) او دَ الله په لاره کښې جهاد کونکې)۔
(الترمذی : ١٣٠/١، النسائی : ٦٧٧/٢، المشكاة : ٢٦٧/٢).
او دَ منافق سړی کار دادې چه دا دَ خپل خواهش پسې روان وی، اګرکهٔ څلور ښځې هم اولری۔

٦٤ - دَ اهل او عیال حقونه اداء کول او دَ بال بچ تربیت کول :

نو مؤمن به د خپلې ښځې او اولاد حق اداء کوی، برابره خبره ده چه دینی حقونه وی اوکهٔ دنیوی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ يا أيها الذين آمنوا قوا أنفسكم وأهليكم نارًا ﴾ [تحریم : ٧]
(اې ایمان والو ! خپل ځانونه او خپل او اهل او عیال دَ اوره بچ کړئ)۔
علی - رضی الله عنه - فرمائی : علموا أنفسكم وأهليكم الخير.
(خپل ځانونو او اهل و عیال ته دَ خیر خبرې اوښائې)۔
په حدیث کښې دی : ولا ترفع عصاك عنهم أدبًا.
(او دَ ادب دپاره د دوئ نه خپله امسا مهٔ اوچتوه)۔(أحمد : ٢٣٨/٤، المشكاة : ١٨/١).

٦٥ - مور پلار سره احسان کول :

او دا هغه عظیمه نیکی ده چه الله او رسول په دې باندې امر فرمائیلې۔ دې وجې نه مؤمن به مور پلار سره دینی او دنیوی نیکی کوی۔ د دوئ خدمت به کوی، په دوئ به شفقت کوی۔ په حدیث کښې دی : الوالد أوسط باب الجنة فإن شئتَ فحافظ عليه، وإن شئتَ

فضیعه. (پلار دَ جنت مینځنۍ (غوره) دروازه ده، نو اوس ستا خوښه ده چه ددې حفاظت کوې اوکهٔ دا ضائع کوې)۔(المشکاة : ٤٢٠/٢).

په مشهور حدیث کښې دی : رغم أنف رجل أدرك عنده أبواه الكبر أو أحدهما فلم يدخلاه الجنة. المشكاة : ٨٦/١، ٤١٨/٢).

(دَ هغه سړی پوزه دې په خاورو ککړه شی – یعنی هغه دې ذلیله شی – چه هغهٔ خپل دواړه مور پلار یا په دوئ کښې یو تن ددهٔ سره بوډا والی ته اورسیدهٔ او دے ئې جنت ته داخل نهٔ کړو)۔

په حدیث کښې دی : من الكبائر شتم الرجل والديه، قالوا : يا رسول الله ! وهل يشتم الرجل والديه ؟ قال : نعم، يسب أبا الرجل فيسبُّ أباه، ويسبُّ أمه، فيسب أمه.

(دَ سړی خپل مور پلار ته کنځل کول کبیره گناه ده، صحابوٌ عرض اوکړو، اے د الله رسوله ! آیا څوك خپل مور پلار ته هم کنځل کوی ؟ وې فرمائیل : هاؤ، دَ بل چا پلار ته کنځل اوکړی نو هغه ددهٔ پلار ته کنځل اوکړی، او دَ هغهٔ مور ته کنځل اوکړی، نو هغه ددهٔ مور ته کنځل اوکړی)۔ (متفق علیه).

مؤمن سړے به د خپل مور پلار نافرمانی نهٔ کوی، ځکه دَ مور پلارِ نافرمانی ایمانی خوئے خصلت نهٔ دے۔ او نهٔ الله تعالیٰ نافرمانی خوښوی۔

په دے باره کښې ډیر احادیث راغلی۔

٦٦ – خپلولی او رشته داری پالل :

په خپلولئ پاللو باندې الله تعالیٰ په خپل کتاب کښې په ډیرو ځایونو کښې امر کړے۔ او رشته کټ کونکے دَ مؤمنانو نه نهٔ دے۔ بلکه الله تعالی دَ منافقانو په صفت کښې ذکر کړی چه دوئ خپلولی پریکوی او ددے هیڅ خیال نهٔ ساتی۔ او نبی ﷺ فرمائی :

قال الله تبارك وتعالىٰ : أنا الله، وأنا الرحمن، خلقت الرحم وشققت لها من اسمى، فمن وصلها وصلته، ومن قطعها بتته.

(الله تعالیٰ فرمائی : زهٔ الله یم، او زهٔ رحمٰن یم، ما رَحِم (خپلولی) پیدا کړه او ددے دپاره مے دَ خپل نوم (رحمٰن) نه لفظ جوړ کړو۔ نو څوك چه دا یو ځائے کړی زهٔ به ئے (د خپل رحمت سره) یو ځائے کړم۔ او څوك چه دا پریکړی، نو زهٔ به ئے (دَ خپل رحمت نه) پریکړم)۔

(أبوداود : ٣١٨/١، المشكاة : ٤٢٠/٢).

دے وجے نه مؤمن به هغه شے یو ځائے کوی، دَ کوم دَ یو ځائے کولو حکم چه الله کړے، او

خپلولی به پالی، اگرکۀ ددۀ خپلوان رشته داران دۀ لره پريدی. او صله رحمی پالل په ملاقات کولو، په هغوئ باندے په خرچ کولو او هغوئ ته په نرمئ سره دعوت ورکولو وغيره تولو سره کيږی.

٦٧ - دَ آقا خبره منل، او مرئيانو سره نرمی كول :

نو مؤمن سړے کۀ آقا او سردار دے نو خپل مرئی سره به نرمی کوی. اوکۀ مرئے دے نو دَ خپل آقا او سردار خبره به منی. لکه حديث کښے دی :

ثلاثة لهم أجران... والعبد المملوك الذى أدى حق الله وحق مواليه. (متفق عليه).

(درے کسان دی چه دَ دوئ دوه اجره دی. يو پکښے هغه مملوك مرئے دے چه د الله او دَ خپلو سردارانو حقونه اداء کړی).

په حديث کښے دی : لا يدخل الجنة سئ الملكة.

(بدخويه - يا بد ملکيت والا - سړے به جنت ته نۀ داخليږی).

(ابن ماجه رقم : ٣٦٩١). ددے حديث سند ضعيف دے.

٦٨ - دَ عدل او انصاف اهتمام كول :

الله تعالىٰ فرمائی : ﴿ إن الله يأمركم أن تؤدوا الأمانات إلى أهلها وإذا حكمتم بين الناس أن تحكموا بالعدل ﴾. الآية [النساء : ٥٨]

(الله تاسو ته حکم کوی چه تاسو آماناتونه خپل حقدارو ته حواله کړئ او کله چه دَ خلقو ترمينځه فيصله کوئ نو انصاف سره فيصله کوئ).

دَ بخاری او مسلم په حديث کښے دی :

سبعة يظلهم الله فى ظله يوم لا ظل إلا ظله : الإمام العادل، وشاب نشأ فى عبادة الله.. الحديث. (اووه کسان دی چه الله به ورله په هغه ورځ خپل (دَ عرش) سورے ورکړی په کومه ورځ چه به دَ هغۀ دَ سوری نه سيوا بل هيڅ سورے نۀ وی. يو انصاف دار بادشاه. دويم هغه ځوان چه دَ الله په عبادت کښے را توکيدلے وی---).

نو مؤمن ته چه کله دَ څۀ څيز ذمه واری حواله شی نو په هغے کښے به دَ عدل او انصاف نه کار اخلی، او دَ الله او بندگانو حقونه به پکښے اداء کوی، او په خپله مشرئ کښے به دَ خواهشاتو او خوندونو تابعداری نۀ کوی. او توفيق ورکونکے صرف الله دے.

٦٩ - دَ مسلمانانو - يعنی دَ صحابه کرامؓ او د دوئ نه دَ روستنو مؤمنانو - **دَ جماعت تابعداری كول :** الله تعالىٰ فرمائی :

﴿ ومن يشاق الرسول من بعد ما تبين له الهدى ويتبع غير سبيل المؤمنين نوله ما تولى ونصله جهنم وسائت مصيرًا ﴾ [النساء : ١١٥]

(او څوك چه دَ رسول الله ﷺ خلاف اوكړي روسته ددے نه چه دهٔ ته هدايت ښكاره شو او دَ مؤمنانو دَ لارے نه سيوا دَ بلے لارے تابعداري كوي، نو كوم طرفته چه آوړي مونږ به دهٔ لره واړوو، او جهنم ته به ئے داخل كړو، او دا دَ ورتللو دپاره ډير بد ځائے دے)

په حديث كښے دي : ثلاث لا يغل عليهن قلب مسلم : إخلاص العمل لله، والنصيحة للمسلمين، ولزوم جماعتهم، فإن دعوتهم تحيط من ورائهم.

(درے څيزونه دي چه دَ مسلمان سړي زړهٔ په هغے باندے بخل او خيانت نهٔ كوي : (١) الله تعالىٰ دَپاره په خپل عمل كښے اخلاص پيدا كول۔ (٢) مسلمانانو دپاره خير خواهي كول۔ (٣) او د دوئ دَ جماعت لازم نيول۔ ځكه د دوئ دعوت (يا دعاګانے) دَ هغه چانه ګيره اچوي كوم چه د دوئ شاته دي)۔ المشكاة : ٣٥/١.

دَ جماعت دَ تابعدارئ مقصد دا چه په دين كښے به بدعت نهٔ پيدا كوي، اونهٔ به يوه داسے بده طريقه راؤباسي چه په هغے كښے نهٔ قرآن او حديث وي او نهٔ اجماع دَ مسلمانانو۔ بلكه دَ شريعت په ټولو احكامو او اخبارو كښے به دَ سلفو يعني مخكنو مسلمانانو تابعداري كوي۔

٧٠ - دَ اولي الامر - مسلمانانو مشرانو - تابعداري كول :

الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ يا أيها الذين آمنوا أطيعوا الله وأطيعوا الرسول وأولى الأمر منكم، فإن تنازعتم في شئ فردوه إلى الله والرسول ﴾. الآية (النساء : ٥٩)

(اے ايمان والو! د الله خبره منئ او دَ رسول خبره منئ او دَ خپلو مشرانو (خبره منئ)۔ نو كهٔ چرے ستاسو په يو شئ كښے اختلاف راغے نو هغه الله او رسول ﷺ ته واپس كړئ)۔

په حديث كښے دي :

من أطاع أميري فقد أطاعني ومن عصىٰ أميري فقد عصاني. (بخاري).

(چا چه زما دَ امير خبره اومنله دهٔ زما خبره اومنله، او چا چه زما د امير نافرماني اوكړه نو هغهٔ زما نافرماني اوكړه)۔

په بل حديث كښے دي : « زهٔ تاسو ته په سمع او طاعت باندے حكم كوم اګركهٔ پتاسو باندے يو حبشي غلام مشر شي - نو بيا به ئے هم سمع او طاعت كوئ »۔

(المشكاة : ٢٩/١).

٧١ - دَ خلقو ترمينځ اصلاح اوجوړ جاړے كول :

الله تعالىٰ فرمائى : ﴿ وأصلحوا ذات بينكم إن كنتم مؤمنين ﴾ [انفال : ١]

(كۀ تاسو مؤمنان ئے نو دَ خپل مينځى حالت اصلاح اوكړئ)۔

او فرمائى : ﴿ وإن طائفتان من المؤمنين اقتتلوا فأصلحوا بينهما ﴾ [حجرات : ٩]

(كۀ دَ مؤمنانو دوه ډلے خپلو كښے په جنگ شى نو ددے دواړو ترمينځ اصلاح اوكړئ)۔

او فرمائى : ﴿ لاخير فى كثير من نجواهم إلا من أمر بصدقة أو معروفٍ او إصلاح بين الناس، ومن يفعل ذلك ابتغاء مرضات الله فسوف نؤتيه أجرًا عظيماً ﴾ [النساء : ١٤٤]

(دَ دوئ په ډيرو جرگو كښے هيڅ خير نشته، مگر چا چه دَ صدقے وركولو حكم اوكړو، يائے دَ يو بلے نيكئ حكم اوكړو يا ئے دَ خلقو ترمينځ دَ جوړ جاړى حكم اوكړو۔ او چا چه دا كارونه دَ الله دَ رضا طلب كولو دپاره اوكړل، نو زر دے چه دۀ ته به مونږ اجرِ عظيم وركړو)۔

په دے كښے دَ خوارجو او باغيانو سره - چه دوئ دَ مسلمانانو په حق بادشاه باندے بغاوت كړے وى چه هغه دَ مسلمانانو قيادت په كتاب الله سره كوى - دوئ سره جهاد كول هم داخليږى۔ لكه چه دا مضمون په گڼرو حديثونو او اخبارو كښے راغلے۔

٧٣ - امر بالمعروف او نهى عن المنكر : (دَ نيكئ حكم او دَ بدئ نه منع) كول۔

او دا يوه عظيمه شعبه ده۔ چه دا په مخكنئ شعبه كښے داخله ده، ليكن دا مونږ مستقله شعبه په دے وجه حساب كړه چه دا ډيره عظيم الشان او عظيم الفوائد شعبه ده۔ ځكه چه ديته ام الحسنات (د نيكيو مور) وئيلے كيږى۔

الله تعالىٰ فرمائى :

﴿ ولتكن منكم أمة يدعون إلى الخير ويأمرون بالمعروف وينهون عن المنكر وأولئك هم المفلحون ﴾ [آل عمران : ١١٤]

(خامخا دے وى پتاسو كښے يوه ډله داسے وى چه خير طرفته رابلل كوى او دَ نيكئ حكم كوى او دَ بدئ نه خلق منع كوى او همدا خلق كامياب دى)۔

او فرمائى : ﴿ والمؤمنون والمؤمنات بعضهم أولياء بعض يأمرون بالمعروف وينهون عن المنكر ويقيمون الصلوٰة ويؤتون الزكوة ويطيعون الله ورسوله ﴾ الآية [توبه : ٧١]

(مؤمنان سړى او مؤمنانے ښځے، دا خپلو كښے يو دى، چه دوئ دَ نيكئ حكم كوى او د بدئ نه منع كوى او دَ الله او رسول فرمانبردارى كوى)۔

په حديث كښے دى : ليس منا من لم يرحم صغيرنا ولم يوقر كبيرنا ويأمر بالمعروف وينهى

عن المنكر. (المشكاة : ٤٢٢/٢).

(هغه څوك زمونږ نه نهٔ دے چه زمونږ په ماشوم رحم نهٔ كوی، زمونږ دَ مشر قدر نهٔ كوی او دَ نیكئ حكم او دَ بدئ نه منع نهٔ كوی).

بیا امر بالمعروف او نهی عن المنكر كله په لاس سره وی، كله په ژبے سره، كله په زړهٔ سره، او كله په خط او كتابت وغیره سره. نو مؤمن به دا حكم نهٔ پریدی ځكه چه ددے پریخودلو سره جهان خرابیږی.

٧٤ - حدود قائمول او جهاد كول :

مسلمانانو باندے واجب دی چه دوئ اسلامی حكومت قائم كړی چه هغه شرعی حدود په خلقو قائموی، چه ددے سره خلق دَ فساد، ظلم او عناد نه منع كیږی. ځكه شرعی حدود قائمولو سره فساد، ظلم، بے حیائی او ټول هغه څیزونه ختمیږی كوم چه مسلمانانو ته د دوئ په دنیا او آخرت كښے ضرر رسوی.

او دَ الله دَ حدودو نه دَ یو حد جاری كول ددے نه غوره دی چه څلویښت ورځے باران په خلقو اوشی.

﴿ ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الكافرون ﴾ [مائده : ٤٤]

﴿ ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الظالمون ﴾ [مائده : ٤٥]

﴿ ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الفاسقون ﴾ [مائده : ٤٧]

(چا چه دَ الله په رالیږلے قانون فیصله اونهٔ كړه هم دا خلق كافران دی. ظالمان دی او فاسقان دی).

او دَ شرعی حدودو قائمولو نه جهاد فی سبیل الله هم دے. او ددے ډیر زیات فضائل دی. او دا شعبه دَ ایمان دَ لویو شعبو نه ده. چه ددے اهتمام پكار دے. ځكه چه دین عامیږی نو دا په جهاد سره عامیږی. او كهٔ دَ جهان نه فساد لرے كیږی نو دا صرف په جهاد سره لرے كیږی. لكه چه الله تعالىٰ دا په خپل كتاب كښے بار بار ذكر كړے. امام بخاری رحمه الله فرمائی : باب الجهاد من الایمان (باب دے په بیان ددے كښے چه جهاد دَ ایمان یوه برخه ده) بیائے حدیث ذكر كړے. (٧٦/١).

٧٥ - الله په لاره كښې مرابطه كول (سرحدات ساتل) :

مُرابِط هغه چاته وائی چه هغهٔ دَ مسلمانانو دَ ځانونو او مالونو دَ حفاظت او دَ الله دشمنانو دَ ذلیله كولو دپاره خپل ځان دَ مسلمانانو سرحداتو دپاره بند كړے وی. په حدیثد

کښې دی : رباط يوم وليلة فى سبيل الله خير من صيام شهر وقيامه وإن مات أجرى عليه عمله الذى كان يعمله وأجرى عليه رزقه وأمن الفتان.

(يو شواروز دَ الله په لاره (جهاد) کښې تيرول دَ يو ے مياشتے دَ روژو او تهجدو نه غوره دی، اوکۀ چرے دا کس مړ شو نو ددۀ هغه عمل به جاری وی کوم به چه دۀ کولو، او دۀ ته به رزق جاری وی او دَ عذابِ قبر نه به محفوظ وی)۔

(مسلم : ١٦١/٢، المشكاة : ٣٢٩/٢).

دَ بخاری او مسلم په حديث کښې دی :

رباط يوم فى سبيل الله خير من الدنيا وما فيها.

(په جهاد کښې دَ يو ے ورځے دپاره سرحدات ساتل دَ دُنيا او دَ هغے دَ څيزونو نه غوره دی)۔

او په مُرابطه کښې دَ مونځونو په انتظار باندے په جوماتونو کښې ناسته هم داخل ده۔ لکه چه دا په حديث کښې راغلی۔

٧٦ – امانت اداء کول : او امانت عام دے دَ بندګانو او دَ الله دواړو امانتونو ته شامل دے۔ الله تعالیٰ په قرآن کريم کښې دَ امانتونو په اداء کولو حکم فرمائيلے۔ لکه فرمائی :

﴿ إن الله يأمر كم أن تؤدوا الأمانات إلى أهلها ﴾ [النساء : ٥٨]

(بيشکه الله تاسو ته حکم کوی چه امانتونه خپلو حقدارو ته اداء کړئ)۔

په حديث کښې دی : آية المنافق ثلاث : إذا حدث كذب، وإذا أوتمن خان وإذا عاهد غدر.

(د منافق درے نښه دی : (١) کله چه خبرے کوی، دروغ وائی۔ (٢) کله چه امانتګر اوګنړلے شی، خيانت کوی۔ (٣) او کله چه وعده اوکړی نو دهوکه کوی)۔

نو مؤمن به دَ امانتونو دَ اداء کولو ډير زيات خيال ساتی، برابره خبره که امانت دَ خبرو وی، کۀ د کار وی، کۀ دَ مال وی، کۀ دَ عزت، کۀ دَ درس، کۀ دَ فتوے اوکۀ دَ نفس وی۔ او دا اهتمام به صرف دَ خپل رب دپاره کوی۔ او په دے امانت کښې پنځه وخته مونځونه هم داخليږی، لکه په صحيح بخاری (١٣/١، او مسلم (٣٣/١) کښې دی۔

دارنګه په دے کښې قرض اداء کول او پوره ورکول هم داخل دی۔ څکه رسول الله ﷺ فرمائی : فإن خير الناس أحسنكم قضاءً.

(پتاسو کښې غوره کس هغه دے چه دَ هر چانه ښۀ اداء کونکے وی)۔

(مسلم : ٣٠/٢، المشكاة : ٢٥١/١، بخارى : ٣٢٢/١).

دَ وفد عبد القيس په حديث کښې دی :

أتدرون ما الإيمان بالله وحده ؟ قالوا : الله ورسوله أعلم. قال : شهادة أن لا إله إلا الله وأن محمدًا رسول الله وإقام الصلاة وإيتاءِ الزكاة وصيام رمضان وأن تعطوا من المغنم الخمس. الحديث.

(آيا تاسو ته پته ده چه دَ الله په توحيد باندے راوړل څهٔ دی ؟ خلقو وئيلے : الله او رسول ته ښه پته ده۔ وے فرمائيل : دَ توحيد او رسالت گواهی کول، دَ مانځه پابندی کول، زکوٰة ورکول، دَ رمضان روژے نيول او داچه تاسو دَ غنيمت نه پنځمه برخه ورکړئ)۔

٧٧ - دَ گاونډی عزت کول : الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ والجار ذی القربیٰ والجار الجنب والصاحب بالجنب وابن السبيل ﴾. الآية [النساء : ٣٦]

(او نزدے گاونډی او لرے گاونډی او دَ اړخ ملگری او مسافر سره احسان کوئ)۔

دَ صحيح مسلم په حديث کښے دی : من كان يؤمن بالله واليوم الآخر فلا يؤذ جاره.

(څوك چه په الله او په ورځ دَ آخرت ايمان لری نو هغه دے خپل گاونډی ته ضرر نهٔ ورکوی)۔ (٥٠/١).

بل حديث کښے دی : وما زال جبرئيلُ يوصيني بالجار حتى ظننت أنه سيورثه. ليس بالمؤمن من يشبع وجاره جائع إلى جنبه.

(جبرئيل ماته هميشه دپاره گاونډی سره دَ ښهٔ سلوك کولو حکم کوی تردے چه زما دا خيال راغے چه دابه مير خور جوړ کړی)۔ (أحمد : ٥٥/١، وغيره، وسنده صحيح).

مؤمن سړے دَ گاونډی حق اداء کوی، ځکه چه دا بخيل او فخر کونکے نهٔ وی، بلکه دَ تواضع او ښائسته اخلاقو خاوند وی۔

٧٨ - خائسته معامله کول : په دے کښے حلال مال جمع کول او په حق کښے خرچ کول دواړه داخل دی۔ حديث کښے دی :

رحم الله رجلًا سمحًا إذا باع وإذا اشترى وإذا اقتضىٰ.

(الله دے په هغه سړی رحم اوکړی چه دَ خرڅولو په وخت هم نرمی کوی، دَ اخستلو په وخت هم نرمی کوی او دَ ورکولو په وخت هم نرمی کوی)۔

(البخاری : ٢٧٨/١، المشكاة : ٢٤٣/١).

په بل حديث کښے دی : التاجر الصادق الأمين مع النبيين والصديقين والشهداءِ.

(ترمذی : ٢٢٩/١). **خو ددے سند ضعيف دے.**

(رشتينے امانتگر تاجر به دَ نبيانو، صديقينو او شهيدانو سره ملگرے وی)۔

په يو بل حديث کښې دي : لا تزول قدما عبدٍ حتى يسئل عن خمسٍ : عن عمره فيما أفناه وعن شبابه فيما أبلاه، وعن علمه ماذا عمل به وعن ماله من أين اكتسبه وفيما أنفقه.
(رواه الترمذي : ٢٨٩/٢، بسند صحيح، المشكاة : ٤٤٣/٢).
(دَ قيامت په ورځ به يو بنده دَ خپل ځائے نه قدم وانخلي تر څو چه ددهٔ نه دَ پنځو خبرو تپوس اونهٔ کړے شي : (١) ددهٔ د عمر په باره کښې چه دا دے په څهٔ کښې ختم کړے وو. (٢) ددهٔ دَ ځوانئ په باره کښې چه دا دے په څهٔ کښې زړَه کړے وه. (٣) ددهٔ دَ علم په باره کښې چه په دے ئے څومره عمل کړے وو. (٤) ددهٔ دَ مال په باره کښې چه دائے دَ کوم ځائے نه ګټلے وو او په څهٔ کښې ئے خرچ کړے وو؟).

٧٩ - تبذير او اسراف پريښودل :

يعني په ناحقه ځايونو کښې مال نهٔ لګول : الله تعالىٰ فرمائي :
﴿ ولا تبذر تبذيرًا إن المبذرين إخوان الشياطين و كان الشيطان لربه كفورًا ﴾ [اسراء : ٢٧]
(او فضول خرچي مهٔ کوه ځکه فضول خرچي کونکي دَ شيطانانو ملګري دي، او شيطان دَ خپل رب ډير ناشکره دے).

او الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ ولا تسرفوا إنه لا يحب المسرفين ﴾ [اعراف : ٣١]
(او اسراف مهٔ کوئ ځکه الله تعالىٰ اسراف کونکي نهٔ خوښوي).

اسراف او بخل دواړه دَ ايمان والو صفتونه نهٔ دي. الله تعالىٰ فرمائي :
﴿ والذين إذا أنفقوا لم يسرفوا ولم يقتروا و كان بين ذلك قوامًا ﴾ [فرقان : ٥٨]
(او دا هغه خلق دي چه کله خرچ کوي نو نهٔ اسراف کوي او نهٔ بخل، بلکه ددے خرچه کول ددے دواړو ترمينځه وي).

نو مؤمن به نهٔ په خوراك کښې اسراف کوي، نهٔ په خرچه کولو کښې او نهٔ په اوداسهٔ کښې او نهٔ په غسل کښې، او نهٔ په جامو کښې او نهٔ په کور والي کښې، بلکه په خپلو ټولو حالاتو کښې به دَ درميانه روئ نه کار اخلي.

٨٠ - دَ سلام جواب ورکول : حديث کښې دي :

حق المسلم على المسلم ست. قيل : وما هن يا رسول اللّٰه ! قال : إذا لقيته فسلم عليه، وإذا دعاك فأجبه، وإذا استنصحك فانصح له، وإذا عطس فحمد اللّٰه فشمته، وإذا مرض فعدهٗ، وإذا مات فاتبعه.

(دَ يو مسلمان په بل مسلمان شپږ حقونه دي. چا عرض اوکړو، اے د الله رسوله ! دا کوم

کوم دي ؟ وي فرمائيل : (۱) کله چه ورسره ملاقات اوکړې نو سلام پرې اچوه۔ (۲) کله چه درته دعوت اوکړي نو قبول ئې کړه۔ (۳) کله چه دَرنه نصيحت اوغواړي نو نصيحت ورته اوکړه۔ (٤) کله چه پرنجې اوکړي او دَ الله حمد او ثناء اووائي نو دَ پرنجي جواب ورکړه۔ (٥) کله چه بيمار شي نو پښتنه ئې کوه۔ (٦) او کله چه مړ شي نو جنازې پسې ئې روان شه)۔

نو مؤمن به په سلام کولو کښې بخل نۀ کوي او نۀ به ددې په جواب ورکولو کښې بخل کوي۔ دې باره کښې يو څو حديثونه مخکښې تير شو۔

عمار بن ياسر ﷺ فرمائي : ثلاث من جمعهن فقد جمع الإيمان : الإنصاف من نفسك وبذل السلام للعالم والإنفاق من الإقتار.

(أخرجه البخاري تعليقًا : ٦٩/١، بشرح الفتح).

(درې څيزونه دي چه چا جمع کړل نو ايمان ئې جمع کړو۔ (۱) خپل ځان نه دَ انصاف طلب کول۔ (۲) ټولو خلقو ته سلام کول۔ (۳) او دَ فقيرئ باوجود انفاق کول۔

۸۱ – پرنجي کونکي ته جواب ورکول :

۸۲ – دَ مسلمان جنازې پسې تلل :

دې دواړو باره کښې مخکښې حديث تير شو۔ امام بخاري رحمه الله فرمائي : باب اتباع الجنائز من الإيمان. (جنازو پسې تلل دَ ايمان حصه ده)۔ بيائې حديث ذکر کړې :

من اتبع جنازة مسلم إيمانًا واحتسابًا وكان معه حتى يصلي عليها ويفرغ من دفنها فإنه يرجع من الأجر بقيراطين، كل قيراط مثل أحد. ومن صلى عليها ثم رجع قبل أن تدفن فإنه يرجع بقيراطٍ.

(څوک چه دَ يو مسلمان په جنازه پسې په ايمان سره او د ثواب په نيت روان شو، او دَ هغۀ سره هغه وخته پورې ووتړدې چه په هغۀ جنازه اوشوه او دَ هغۀ دَ خښولو نه خلق فارغ شي، نو دا کس به دوه قيراطه اجر سره را واپس شي۔ چه هر يو قيراط دَ اُحُد دَ غرۀ هومره دې۔ او چا چه په هغۀ مونځ اوکړو، او بيا دَ خښولو نه مخکښې واپس شو، نو دابه دَ يو قيراط سره واپس شي)۔

۸۳ – خلقو ته ضرر نه ورکول :

ځکه دَ (الأبرار) يعني دَ اوچتو نيکانو خلقو په تفسير کښې راغلي چه دا هغه خلق دي چه هيچاته ضرر نۀ ورکوي۔ الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ والذين يؤذون المؤمنين والمؤمنات بغير ما اكتسبوا فقد احتملوا بهتانا واثما مبينا ﴾ [احزاب ٥٨]

(او هغه خلق چه مؤمنانو سړو او مؤمنانو ښځو له بغير دَ څهٔ کار کولو نه ضرر ورکوی، نو دویٔ دَ بهتان او ښکاره گناه بوج اوچت کړو)۔

په حديث کښې دی : من أذاهم – أی الصحابة – فقد أذانی ومن أذانی فقد أذی اللّٰه، ومن أذی اللّٰه فيوشك أن يأخذه. (المشكاة : ٥٥٤/٢).

(چا چه زما صحابوٌ ته تکليف ورکړو، نو دهٔ ماته تکليف راکړو، او چا چه ماته تکليف راکړو، نو دهٔ الله ته تکليف ورکړو، او چا چه الله ته تکليف ورکړو، نو نزدې ده چه راوبه نيسی)۔

دَ ابو ذر ﷛ په حديث کښې دی : سألت رسول اللّٰه ﷺ أی العمل أفضل ؟ قال : إيمان باللّٰه وجهاد فی سبيله. قال : قلت : أی الرقاب أفضل ؟ قال : أغلاها ثمنًا وأنفسها عند أهلها. قلت : فإن لم أفعل قال : تعين صانعًا أو تصنع لأخرق. قلت : فإن لم أفعل ؟ قال : تدع الناس من الشر فإنها صدقة تصدق بها علی نفسك. (متفق عليه، المشكاة : ٢٩٣/٢).

(ما دَ رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو، کوم عمل ډير غوره دے ؟ وې فرمائيل: په الله ايمان لرل او دَ هغهٔ په لار کښې جهاد کول۔ وائی : ما عرض اوکړو، کوم يو غلام آزادول ډير غوره دی ؟ وې فرمائيل : چه دَ خپل آقا په نيز ډير قيمتی او عُمده وی۔ ما وئيلے : کهٔ دا کار اونهٔ کړم نو بيا ؟ وې فرمائيل : يو کار کونکی سره مدد اوکړه يا دَ يو ناتجربه کار دپاره کار روان کړه۔ ما وئيلے : کهٔ دا کار هم اونهٔ کړم ؟ وې فرمائيل : خلق دَ خپل شر نه بچ ساته، ځکه دا هم ستا دپاره يوه صدقه ده چه په دې سره تهٔ په خپل ځان باندې صدقه کوې)۔

په بخاری او مسلم کښې دَ عبد الله بن عمرو ﷛ نه د رسول الله ﷺ دا ارشاد مبارك نقل دے چه : المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده.

(مسلمان هغه څوك دے چه نور مسلمانان ددهٔ دَ ژبې او لاس نه محفوظ پاتې وی)۔

(راجع فتح الباری : ٤٥/١، المشكاة : ١٢/١).

٨٤ – دَ لهوې (ټنك ټكور) نه ځان ساتل :

دَ لهوې او لغوې ترمينځ فرق دادے چه لغوه ژبې سره تعلق لری لکه مخکښې تير شو۔ او لهوه عامه ده، هر هغه شئ ته وائی چه تا دَ الله تعالیٰ د طاعت او ذکر نه مشغوله کوی، لکه قيصه گوئی، سرودونه او داسې نور څيزونه۔

الله تعالیٰ د اهلِ نفاق په صفت کښې فرمائی :

﴿ ومن الناس من يشری لهو الحديث ليضل عن سبيل اللّٰه ﴾ [لقمان : ٦] (او ځينې خلق

داسے دی چه لهوے، مشغلے غوره کوی دے دپاره چه دَ الله دَ لارے خلق واړوی۔
په حدیث کښے دی : ویل لمن یحدث فیکذب لیضحك به القوم ویل له ویل له.
(هغه چا دپاره تباهی ده چه ددے دپاره خبرے کوی چه خلق پرے اوخندوی، تباهی ده ددهٔ دپاره، تباهی ده ددهٔ دپاره)۔
(أحمد : ٥/٥، الترمذی : ٢٦٨/٢، المشكاة : ٤١٣/٢، بسند صحيح).
نو مؤمن به خلقو ته، خاصکر مسلمانانو ته، دَ ضرر ورکولو نه ځان ساتی، او دَ تهنګ تهکور دَ تولو آلاتو نه به ځان ساتی لکه رباب، باجه، سُرنئ، سینما، تیلویژن، ریډیو، وی، سی آر او نور دَ لعنت او تباهئ اسباب شو۔ دارنګه دَ خپلو اوقاتو، حرکاتو او سکناتو حفاظت به کوی، او په خبرو او کلماتو کښے به احتیاط کوی۔

٨٥ - لارے نه تکلیف ورکونکے شے لرے کول :

نبی کریم ﷺ فرمائی : الإيمان بضع وسبعون شعبةً، فأفضلها قول لا إله إلا الله، وأدناها إماطة الأذیٰ عن الطریق، والحیاء شعبة من الإیمان.
(البخاری بشرح الفتح : ٤٤/١، ومسلم : ٤٧/١، المشكاة : ١٢/١، عن أبی هريرة).
(ایمان څهٔ دپاسه اویا څانګے دے، په دے کښے بهترینه څانګه کلمه طیبه وئیل دی، او دَ تولو نه ښکته څانګه دَ لارے نه ضروری شے لرے کول دی، او حیاء دَ ایمان یوه څانګه ده)۔
او دا شعبه په نسبت سره پورتنئ شعبے ته ادنیٰ ده، ورنه دا بذاتِ خود لویه شعبه ده۔ ولے چه ددے په سبب یو سړے جنت ته تلے دے۔ لکه حدیث کښے دی :
مرّ رجل بغصن شجرة علی ظهر طریق فقال : لأنحین هذا عن طریق المسلمین لا یؤذیهم، فأدخل الجنة. (رواه الشیخان، المشكاة : ١٦٨/١).
(یو سړے دَ یوے وُنے په څانګه باندے تیر شو چه دَ لارے دپاسه وه، نو دهٔ اووئیل : زهٔ به دا خامخا دَ مسلمانانو دَ لارے نه لرے کووم، هسے نهٔ چه دوئ ته تکلیف ورکړی ! نو دا کس جنت ته داخل کړے شو)۔
په بل حدیث کښے دی : لقد رأیتُ رجلًا یتقلب فی الجنة فی شجرةٍ قطعها من ظهر الطریق کانت تؤذی الناس. (روه مسلم، المشكاة : ١٦٨/١).
(یقینًا ما یو سړے اولیدهٔ چه په جنت کښے آوړیدو راوړیدو، په دے وجه چه دهٔ یوه اونه دَ لارے نه پریکړے وه چه هغے به خلقو له تکلیف ورکولو)۔
نو مؤمن چونکه دَ الله په بندګانو شفقت کونکے وی، هر هغه شے دَ مسلمانانو دَ لارے نه

اخوا کوي چه خلقو ته ضرر ورکوي، لکه وُنه، کانړے، گندگي وغيره۔

٨٦ - شرم او حياء کول :

او دا يو لوئے اخلاق دي چه په دے سره انسان دَ تمامو قبيح څيزونو نه منع کيږي۔ کهٔ چرے شرم او حياء نهٔ وے نو هيڅ يو انسان به نيکي نهٔ وے کړے او نهٔ به دَ يوے بدئ نه منع شوے وے۔ دا وجه ده چه نبي کريم ﷺ په دغه مذکوره حديث کښے په ډير خصوصيت سره ذکرکړے۔ او په بل صحيح حديث کښے دي :

إذا لم تستحي فاصنع ما شئتَ. (کله چه تهٔ حياء نهٔ کوے نو څهٔ چه دے زړهٔ غواړي کوه ئے)۔(بخاري، كتاب الإيمان : ٦٢/١، باب الحياءِ من الإيمان).

بيا امام بخاريؒ دَ ابن عمر ﷺ نه روايت کوي چه :

إن رسول الله ﷺ مرّعلى رحل من الأنصار وهو يعظ أخاه في الحياءِ، فقال رسول الله ﷺ : دعه، فإن الحياء من الإيمان.

(رسول الله ﷺ په يو انصاري سړي ورتير شو او هغهٔ خپل ورور دَ حياء کولو نه منع کولو۔ نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل : دا پريږده ! ځکه حياء دَ ايمان حصه ده)۔

او ښه حياء هغه ده چه تا دَ قبيح کارونو نه اوساتي۔ پاتے شو هغه حياء او شرم چه انسان ددے په وجه ديني کارونه نشي کولے، نو دا قصور او کمزوري ده، حياء نهٔ ده۔

نو مؤمن به دَ خپل رب نه هم حياء کوي او دَ خلقو نه به هم حياء کوي، چه په دے سره به دَ تولو فحش کارونو او گناهونو نه منع کيږي۔

الله تعالیٰ نه غواړو چه ډيره حياء را نصيب کړي۔

٨٧ - خپل ورور دپاره هغه شے خوښول، کوم چه دَ ځان دپاره خوښوي.

امام بخاري رحمه الله دَ انس رضي الله عنه نه روايت کوي چه نبي کريم ﷺ اوفرمائيل :۔

لا يؤمن أحدكم حتى يحب لأخيه ما يحب لنفسه.

(په تاسو کښے هيڅوك ترهغه وخته پورے مؤمن کيدے نشي ترڅو چه د خپل ورور دپاره هغه شے خوښ نهٔ کړي کوم چه دَ خپل ځان دپاره خوښوي)۔

(البخاري، باب من الإيمان أن يحب لأخيه ما يحب لنفسه : ٤٨/١).

دے وجے نه مؤمن به لکه څنگه چه د خپل ځان دپاره په دنيا او آخرت کښے نجات غواړي نو دغه شان دَ خپل مؤمن ورور دپاره به ئے هم غواړي۔ شُح او بخل به نهٔ کوي بلکه خير خواهي به کوي، ځکه دين ټول دَ خير خواهئ نوم دے۔

۸۸ - خائسته اخلاق کول : عائشه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل :
إن من أكمل المؤمنين إيمانًا أحسنهم خلقًا وألطفهم بأهله.

(په تولو مؤمنانو کښې کامل ترین ایمان دَ هغه چا دے چه دَ تولو نه ښائسته اخلاقو والا وی او دَ هرچانه زیات دَ خپل اهل سره نرمی کونکے وی).(الترمذی، المشكاة : ٢٨٢/٢).

دَ عمرو بن عبسه ؓ په حدیث کښې دی :

أتيتُ رسول الله ﷺ فقلت : يا رسول الله ! من معك على هذا الأمر؟ قال : حُرّ وعبد. قلتُ : ما الإسلام؟ قال : طيب الكلام وإطعام الطعام قلت : ما الإيمان؟ قال : الصبر والسماحة. قال : قلتُ : أيُّ الإسلام أفضل؟ قال : من سلم المسلمون من لسانه ويده. قال : قلتُ : أي الإيمان أفضل؟ قال : خلق حسن. قال : قلتُ : أي الصلاة أفضل؟ قال : طول القنوت. قال : قلتُ : أيُّ الهجرة أفضل؟ قال : أن تهجر ما كره ربك. قال : قلتُ : فأي الجهاد أفضل؟ قال : من عقر جواده وأهريق دمه. قال : قلتُ : أي الساعاتِ أفضل؟ قال : جوف الليل الآخر.
(أخرجه الإمام أحمد : ٣١٩/٥، ٢٨٥/٤، كما في المشكاة : ١٦/١).

(عمرو بن عبسهؓ وائی : زۀ رسول الله ﷺ ته راغلم او عرض مے اوکړو، اے د الله رسوله ! په دے اسلام باندے تاسره څوك ملګری دی؟ وے فرمائیل : آزاد او مریَے. ما عرض اوکړو، اسلام څۀ ته وائی؟ وے فرمائیل : خوږے خبرے کول او په خلقو باندے خوراك خوړول. ما وئیلے : ایمان څۀ ته وائی؟ وے فرمائیل : صبر او سَخا. ما اووئیل : کوم یو اسلام ډیر غوره دے؟ وے فرمائیل : دَ هغه چا اسلام چه دَ هغۀ دَ ژبے او دَ لاس دَ ضرر نه نور مسلمانان په امن وی. ما اووئیل : کوم یو ایمان ډیر غوره دے؟ وے فرمائیل : ښائسته خویَے. ما وئیلے : کوم یو مونځ ډیر افضل دے؟ وے فرمائیل : اوږد قیام والا. ما وئیلے : کوم یو هجرت ډیر بهتر دے؟ وے فرمائیل : داچه تۀ هغه شے پریږدے کوم چه ستا رب بد ګنړی. ما وئیلے : کوم یو جهاد ډیر افضل دے؟ وے فرمائیل : دَ هغه چا جهاد چه اس ئے زخمی شی او دَ هغۀ وینه توئے شی. ماوئیلے : کوم وختونه ډیر غوره دی؟ وے فرمائیل : دَ شپے آخره حصه).

دے حدیث کښې ډیر زیات فوائد دی.

نو ښائسته اخلاق بعینه ایمان دے. دَ ښائسته اخلاقو تعریف بعضِ علماؤ داسے کړے : چاته دَ تکلیف ورکولو نه ځان ساتل. سَخا کول. او فراخ تندی اختیارول.

دے وجے نه مؤمن به هر چا سره ښۀ اخلاق استعمالوی. رسول الله ﷺ دَ هغه چا دپاره په جنت کښې دَ کور جوړولو ضمانت اخستے، څوك چه خپل اخلاق ښائسته کړی. لکه

چه دا په حديث کښې راغلي۔

په ښائسته اخلاقو سره په ايمان کښې زيادت پيدا کيږي، او دَ مؤمن په تله کښې چه دَ قيامت په ورځ کوم شے دروند ثابتيږي نو هغه ښائسته اخلاق دي۔

الله تعالىٰ نه غواړو چه مونږ ته ښائسته اخلاق را نصيب کړي۔ آمين!

نو دا دَ ايمان شعبے او څانګے وے چه مونږ ستا دپاره راجمع کړے۔

نو اوس کۀ تا دا ټولے په ځان کښې راوستے، نو ستا ايمان به کامل شي۔ اوکۀ نه وي نو ستا ايمان به هغومره کم وي څومره چه تا په دے شعبو کښې کموالے راوستے وي۔

په هر انسان باندے واجب دي چه خپل ايمان زيات کړي، پاك ئے کړي، او ښائسته ئے کړي۔ او ايمان په نيکو اعمالو کولو سره زياتيږي او په بدو اعمالو او غفلتونو سره کميږي۔

او الله تعالىٰ مونږ ته حکم کړے چه مونږ ايمان زيات کړو۔ لکه فرمائي :

﴿ يا أيها الذين آمنوا آمِنوا ﴾ [النساء : ١٣٦].

(اے ايمان والو ! ايمان راوړئ)۔

دے وجے نه زمونږ حاجت دے رسالے ته ډير زيات دے، دے دپاره چه دا مونږ سره وي، او مونږ ددے مطالعه کوو، چه دا زمونږ دپاره پند او نصيحت او يو يادګار شي، او پند او نصيحت مؤمنانو ته فائده ورکوي۔

اودا مذکوره شعبے اګرکه مؤمنان پيژني، ليکن مونږ ددے دپاره راجمع کړے چه دَ نيکئ او تقوىٰ په کارونو کښې مونږ يو بل سره مدد اوکړو۔

نو الله تعالىٰ دے ددے رسالے په ليکونکي، چاپ کونکي او خورونکي باندے رحم اوکړي، او په هغه چا دے هم رحم اوکړي چاچه دا مطالعه کړه او ددے نه ئے فائده واخسته۔

دَ مهربان الله نه په ډيرے عاجزئ او تضرع سره سوال کوم چه زمونږ ايمانونه زيات او پاکيزه کړي، او مونږ تر هغه وخته پورے په دے باندے ثابت قدم اولري، ترڅو چه مونږ دَ هغۀ سره په داسے ورځ ملاقات اوکړو، په کومه ورځ چه به نۀ مال نفع ورکوي اونۀ ځامن۔ بلکه نجات به صرف هغه چاته ملاويږي چه الله ته په روغ زړۀ سره راغلے وي۔

الله تعالىٰ نه دا دعاء دَ خپل ځان او دَ خپلو ټولو مؤمنانو ورونو دپاره غواړم۔ نو تاسو هم دَ هغۀ نه سوال کوئ ځکه چه ستاسو رب دعاګانے قبلونکے دے۔ او توفيق ورکونکے خاص الله تعالىٰ دے۔

نکته : محترم لوستونکيه!

مونږ دَ شُعبو تعداد (۸۸) ذکر کړو، او په حديث کښې څهٔ دَپاسه اويا (۷۰) ذکر دی۔ نو داپه دے وجه چه مونږ دَ تفصيل نه کار واخستو۔ ګنے دا شعبے په يو بل کښې داخليږی، نو تهٔ کولے شے چه ددے نه نهه شپيتهٔ (٦٩) جوړے کړے، يا تر ے اووه اويا (۷۷) جوړے کړے۔ لکه چه ابن حجرؒ په فتح البارى (۱/٤٥) کښې مجملاً ذکر کړی، دارنګه ملا علی قاریؒ په المرقاة (۱/۷۱) کښې فرمائی : مونږ دا مجمل طور سره ذکر کړے، دے دپاره چه تهٔ په کښې تفصيلی طور سره سوچ اوکړے۔

نو په دے کښې چه څومره شعبے تا په خپل ځان کښې اوليدے نو په دے د الله شکر اوکړه۔ او کهٔ ددے نه علاوه بل صورت وو، نو الله نه دَ توفيق سوال اوکړه چه دا درته حاصل کړی۔ ځکه په چا کښې چه دا شعبے بياموندے شی نو دا کامل مؤمن دے۔ او څوك چه ددے نه کم والے اوکړی نو دا ناقص مؤمن دے۔ (ختم شو شعب الايمان)۔

وسبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.

وصلى الله على محمد وعلى آله وأصحابه أجمعين.



الفوائد دويم جلد

پښتو ترجمه پوره شوه



فهرست دَ الفوائد پښتو دويم جلد

oooooooooo

